روضة الصالحين

پښتو شرح د

رياض الصالحين

۴

شارح

مولانا محمد حسين صديقي
د احاديثو استاذ جامعه بنوريه
سائټ كراچي

د كتاب
خصوصيات

- مكمل احاديث
- د راويانو حالات
- احاديثو باندې اعراب
- د احاديثو لفظي ترجمه
- د احاديثو تشريح
- د احاديثو لغوي تحقيق
- د احاديثو فوائد
- د احاديثو نمبر
- د پښتو ژبې درسم الخط لحاظ

پښتو ترجمه

مفتي محمد يعقوب كابلي
د دار العلوم حقانيې فاضل او متخصص

جديد مكتبه رشيديه
جاده ميوند سرچوک كابل | محله جنگي قصه خواني پشاور
0782690850 | 091-2580074

دکتاب نوم: روضة الصالحين پښتو شرح د رياض الصالحين (څلورم جلد)

شارح: مولانا محمد حسين صديقي

پښتوترجمه: مولانا محمد يعقوب نائل

مخونه: ۴۴۸

دچاپ زيار: مولانا سيد محمد پرواني

دچاپ کال: جولائی ۲۰۲۰ء بمطابق ۱۳۹۸

ناشر

جديد مكتبهٔ رشيديه

محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور 091-2580074

دکتاب ترلاسه کولو ځایونه

(۱) پشاور	(۷) غزني	(۱۳) لوګر
(۲) اکوړه خټک	(۸) مزارشریف	(۱۴) خوست
(۳) کویټه	(۹) جلال آباد	(۱۵) کابل
(۴) فارياب	(۱۰) قندهار	(۱۲) جاده سرچوک
(۵) پروان	(۱۱) بغلان	(۱۷) ګرديز پکتيا
(۲) کندوز	(۱۲) لشکرګاه	(۱۸) هرات

(۱۹) تخار (۲۰) پکتیکا

دمضامينو فهرست

مضمون | صفحه

كتاب الدعوات: ۹۲

كتاب المنثورات والملح: ۳۶۷

كتاب الإستغفار: ۴۲۰

كتاب حمد الله تعالى وشكره

د الله تعالى شكر ادا كولو په بيان

باب وجوب الشكر

"قَالَ اللهُ تعالى" الله ﷻ فرمايي: "فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ" تاسو ما ياد كړئ زه به تاسو ياد كړم. [البقرة:۱۵۲]

تشريح: ابن عباس رضي الله عنهما او سعيد بن جبير رحمه الله فرمايي: ددې آيت مطلب دا دى چې تاسو زما اطاعت كوئ، زه به ستاسو بخښنه وكړم، سعيد بن جبير رحمه الله دا هم فرمايي چې مطلب يې دا دى: تاسو ما يادوئ (اطاعت مې وكړئ) زه به تاسو يادوم، (ستاسو مغفرت به كوم)، ثواب به هم دركوم، بل دا چې د ذكر نه مراد اطاعت دى، اگر چې هغوى په ژبه ذكر نه كوي او كوم كس چې صرف په ژبه ذكر كوي، ليكن اطاعت نه كوي، نو داسې كس ته هم ذكر كوونكى نه ويل كيږي.

ابو عثمان نهدي رحمه الله فرمايي: ماته معلوميږي چې زما رب ما كله يادوي، خلكو پوښتنه وكړه: هغه څنگه؟ په جواب كې يې خلكو ته وويل: كله زه چې خپل رب يادوم، نو زما رب هم ما يادوي، د ذكر كولو فضيلتونه په ګڼ شمېر احاديثو كې راغلي دي.

واشكروا لي ولا تكفرون: مطلب دا چې د منعم حقيقي چې الله ﷻ دى، د هغه د نعمتونو اعتراف بايد وكړل شي، د هغه شكر بايد ادا شي، علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: د شكر حقيقت دا دى چې بنده د الله ﷻ د نعمتونو شكر په خوله هم ادا كړي او په زړه يې اقرار هم وكړي او د بدن په اعضاوو د خپل رب اطاعت هم وكړي.

د نعمتونو د اضافې ذريعه

" وقَالَ تعالى" الله ﷻ فرمايي: "لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ" كه تاسو شكر وويستلو، نو زه به درته نور هم زياتي كړم. [ابراهيم:۷]

تشريح: قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله فرمايي: د نعمت د شكر ادا كولو نه مراد ايمان راوړل دي، د پيغمبر عليه السلام په طريقه باندې تلل، په يو روايت كې دي چې چاته په نعمت باندې د شكر ويستلو توفيق وركړل شي، نو هغه به د نعمت د زياتوالي څخه محرومه نه شي.

د څينو اولياوو قول دي: كه په ايمان او اسلام دې شكر وويستلو، نو په دې كې به درته الله ﷻ نوره اضافه هم وكړي او هغه دا چې د احسان مرتبې ته به دې ورسوي، شيخ عطار رحمه الله وايي:

شكر نعمت نعمت افزون كند ..... كفر نعمت نعمت بيرون كند

د ثناء او صفت ویلو حکم

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ" اې پېغمبره ﷺ ورته ووايه چې صفتونه خاص الله ﷻ لره دي. [الإسراء:۱۱۱]

تشريح: په دنيا کې چې چېرته هم د چا تعريف کېږي هغه په حقيقت کې د الله ﷻ تعريف دی، په ظاهره د هر شيان انسان خپل ځان ته راکاږي او په خپل تعريف يې مجبور کړي، ليکن که ژر عميق نظر وکړل شي، نو ددې ټولو شانه د الله ﷻ د قدرت لاس په نظر راځي، نو ټول تعريفونه په حقيقت کې د الله ﷻ لره دي

حمد را با تو نسبتے ست درست .... بر درِ ہر کہ رفت بر درِ تست

علماوو فرمايلي دي چې دا جمله تر ټولو اول خل آدم علیه السلام استعمال کړې وه، کله چې هغه ته پرنجي ورغلو، په الحمد کې الف لام يا جنسي يا استغراقي يا تعريفي دی، مطلب دا چې هر رنګ تعريفونه خاص الله ﷻ لره دي، ځکه چې الله ﷻ همېش ژوندی دی او همېش به ژوندی وي، په هر شي باندې قادر ذات دی، د هر قسم صفاتو مرجع دی، نو ځکه د هر قسم تعريف مستحق دی

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ" د دوی اخرينی دعاء به دا وي چې صفتونه خاص الله ﷻ لره دي، هغه ذات چې د ټول عالم تربيت کوونکی دی [يونس:۱۰].

تشريح: قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله فرمايي: ددې معنی دا هم کېدلی شي چې کله جنتيان جنت ته داخل شي او د الله ﷻ د نعمتونو نه خوند واخلي، نو د الله ﷻ لويي به بيان کړي، د جلالي صفاتو اظهار به وکړي، بيا به د الله ﷻ له لورې يوه پرښته راشي او جنتيانو ته به زېرې واوروي چې تاسو د هر قسم تکليف او مصيبت څخه خلاص يئ، علامه بغوي رحمه الله فرمايي: د جنتيانو خبرې به د تسبيح نه شروع کېږي او په الحمد لله باندې به يې خاتمه وي، ددې دواړو ترمينځ چې دوی کومه خبره کول غواړي کولی به يې شي

نبي کريم ﷺ شيدې خوښې کړې

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أُتِيَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ بِقَدَحَيْنِ مِنْ خَمْرٍ وَلَبَنٍ، فَنَظَرَ إِلَيْهِمَا فَأَخَذَ اللَّبَنَ" د ابو هريره نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته د معراج په شپه دوه لوښي راوړل شوه: په يو لوښي کې شراب او په بل کې شيدې وې، نبي کريم ﷺ په هغې کې نظر وکړو، بيا يې د شيدو والا لوښی راواخيستو، "فَقَالَ جِبْرِيلُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَاكَ لِلْفِطْرَةِ لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ" جبرئيل علیه السلام دعاء وکړه چې صفتونه هغه ذات لره دي کوم چې تاسو ته د فطرت په طرف هدايت وکړو، که چېرته تاسو شراب اخيستي وای، نو ټول امت به دې ګمراه شوی وو. رواه مسلم.

تشريح: أتي ليلة أسري به بقدحين: دلته دا روايت په (يا) سره دی او په ځينو رواياتو کې د (يا) ځخه

بغير دی، ليکن بغير د (يا) زيات صحيح دی، دلته عبارت محذوف دی: "إختر أيهما شئت" په دې دوو پيالو کې چې دې کومه خوښه شي، ځانته يې خوښه کړه: "فأخذ اللبن" نبي کريم ﷺ د شيدو پياله راواخيسته، الله ﷻ په دې امت باندې رحم او شفقت وفرمايلو چې د رسول الله ﷺ په زړه مبارک کې يې دا واچول چې شيدې خوښې کړه.

للفطرة: ددې لغوي معنی ده: پيدايشي طاقت، طبعيت، صلاحيت، جبلت، عادت، ليکن اصطلاحي معنی يې: د دين اسلام استقامت ده، دلته يې ظاهري معنی دا ده چې رسول الله ﷺ خپل امت ته دين او استقامت خوښ کړو، په شيدو کې غذا هم شته او شفا هم موجوده ده، د اوبو او دوډۍ قائم مقام هم ده، ډېر زيات د فايدې او خوږ شی دی، په دې انتخاب باندې جبرئيل عليه السلام د الله ﷻ ثناء او صفت بيان کړو، رسول الله ﷺ شراب خوښ نه کړل، ځکه چې شراب ام الخبائث دی، د شرابو په وجه ټول گناهونه په وجود کې راځي، که خدای مه کړه! رسول الله ﷺ شراب خوښ کړي وای، نو ټول امت به اوس په گمراهی کې اخته وو.

د کار په شروع کې بسم الله ويل

"وعنه، عن رسول الله ﷺ قال: كُلُّ أمرٍ ذِي بَالٍ لَا يُبْدأُ فِيهِ بِالْحَمْدُ لِلّهِ فَهُوَ أَقْطَعُ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر هغه اهم کار چې د (الحمد لله) ويلو څخه بغير شروع شي، نو داسې کار لنډی او بې برکته وي. حديث حسن، رواه أبوداود وغيره.

لغوي تحقيق:

ذي بال: بال په اصل کې زړه ته وايي، مراد ترې مهتم بالشان، اهم او شرافت والا کار دی.

تشريح: دا حديث په گڼ شمېر الفاظو سره نقل دی، په يو بل روايت کې دي چې: "كل كلام لم يبدأ فيه بحمد اللّـه فهو أجزم" هر هغه خبره چې (الحمد لله) پرته شروع شي، نو هغه ناقص وي، په يو بل روايت کې دي چې: "كل كلام لا يبدأ فيه بالشهادة فهو أجزم" او ځينو رواياتو کې دي چې: "كل أمر ذي بال لا يبدأ فيه بسم الله ويذكر الله فهو اقطع" خلاصه دا چې په ځينو رواياتو کې په بسم الله سره شروع کول ذکر شوي دي، په ځينو کې په حمد سره شروع ذکر شوې ده، په دې وجه علماء فرمايي: بسم الله او الحمد لله دواړه ويل پکار دي.

ليکن دا به هله وايي کله چې هغه کار يا خبره د شريعت سره سمون خوري، هر هغه کار چې مکروه وي، نو بسم الله يا الحمد لله ويل به مکروه وي، که هغه کار په شريعت کې حرام وي، نو په داسې صورت کې به بسم الله يا الحمد لله ويل هم حرام وي، علامه شمس الدين سخاوي رحمه الله په دې مسئله کې پوره يوه رساله ليکلې ده.

د ماشوم په مرګ باندې صبر کول

"وعن أبي موسى الأشعري ﷺ: أنّ رسول الله ﷺ قال: إذا مات ولد العبد قال الله تعالى لملائكته: قبضتم ولد عبدي؟" د أبو موسى اشعري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې د يو بنده ماشوم مړ شي، نو الله ﷻ خپلو پرښتو ته فرمايي چې تاسو زما د بنده د بچي روح قبض کړه؟ "فيقولون: نعم، فيقول: قبضتم ثمرة فؤاده؟ فيقولون: نعم" هغوى ورته ووايي: هو! الله ﷻ ورته وفرمايي: زما د بنده د زړه ميوه مو قبض کړه؟ هغوى ورته ووايي: هو! "فيقول: ماذا قال عبدي؟ فيقولون: حمدك واسترجع، فيقول الله تعالى" الله ﷻ ورته فرمايي: زما بنده څه وويل؟ هغوى ورته ووايي: ستا حمد او صفتونه يې بيان کړل او (انا لله وإنا إليه راجعون) يې وويل، الله تعالى به ورته وفرمايي: "ابنوا لعبدي بيتاً في الجنة، وسموه بيت الحمد" زما بنده ته په جنت کې يو کور جوړ کړئ او هغه ته د بيت الحمد نوم کېږدئ! رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: معلومه شوه چې په تکليف او مصيبت باندې صبر کول څومره لوى اجر ملاويږي، د بې صبرۍ نه هيڅ نه جوړيږي او بل ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې هر څه درباندې کيږي، دا ټول د الله ﷻ له لورې وي او ستا په تقدير کې يې ليکلي وي، نو د الله ﷻ په تقدير باندې راضي کېدل پکار دي چې هم دې ته اصل بندګي ويل کيږي.

سوال: الله ﷻ علام الغيوب ذات دى، نو بيا د پرښتو څخه د پوښتنې څه ضرورت دى؟

جواب: کله چې الله ﷻ د انسان پيدا کولو اراده وفرمايل، نو د پرښتو نه يې مشوره واخسته، پرښتو د انسان په باره کې وويل چې "أتجعل فيها من يفسد فيها الخ:" ايا تاسو داسې مخلوق پيدا کوئ چې ډېر فساد به کوي او وينې به تويوي؟ اوس الله ﷻ په پرښتو باندې د حقيقت راز ښکاره کوي، ورته فرمايي: تاسو چې په کوم مخلوق باندې د خونرېزۍ او فساد الزام لګولى وو، اوس يې وګورئ چې هغوى په هر حال کې زما تعريف کوي، لکه څرنګه چې دغه کس په دنيا کې په هر حال زما تعريفونه کول، دغه شان په آخرت کې به زه ده ته ددې په بدله کې (بيت الحمد) ورکړم ددې لپاره چې ټولو ته معلومه شي چې ده به په هر حال کې زما تعريفونه کول.

په هره مړۍ او داوبو په غړپ باندې الحمد لله ويل

"وعن أنس ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: إن الله ليرضى عن العبد يأكل الأكلة، فيحمده عليها" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ په دې خبره باندې ډېر زيات خوشحاليږي چې يو بنده خوراك وکړي او بيا په دې باندې د الله ﷻ حمد او صفتونه ووايي، "ويشرب الشربة، فيحمده عليها" يا اوبه وڅښي او په هغې باندې د الله ﷻ شکر او ثناء بيان کړي. رواه مسلم

تشريح: د الله ﷻ نعمتونه او ښيګنې په انسان باندې دومره دي که انسان يې وغواړي چې شمار يې کړي، نو شمار به يې نه کړى شي، که ددې نعمتونو شکر ادا کول وغواړي، نو هم يې نه شي

ادا کولی، د الله ﷻ له لورې ددې نعمتونو د استعمالولو حکم هم دی او انسان دې ته محتاج هم دی، مثلاً: يو نعمت چې د هغې ذکر په حديث کې هم راغلی دی، هغه دوه دی او اوبه دي، الله ﷻ خوړو اسانی سره د انسان په خېټه کې اوبه او خوراک داخلوي، که دغه اوبه او خوراک په مرۍ کې ودرېږي نو د انسان د مرګ خطره پکې وي، بيا چې همدغه خوراک خېټې ته لاړ شي، نو بيا انسان هيڅ نه شي کولی، الله ﷻ خپله يو داسې نظام جوړ کړی دی چې الله ﷻ يې چلوي، يو طرفته اوبه لاړې شي او بل طرف ته دوه‌ی لاړه شي، بيا ددې خوراک نه وينه جوړه کړي کومه چې د انسان په رګونو کې چلېږي او کوم خوراک چې فضله (زياتي) وي، هغه په يوه بله لار وځي، که هم دغه خوراک د انسان په خېټه کې راېند کړي، نو انسان بيا دومره کمزوری دی چې بيا به نه مزل کولی شي او نه به کېښنستی شي او نه ويده کېدی شي، دا ټول نعمتونه چې انسان ووينې، نو بې اختياره يې د خولې نه ووځي چې: الحمدلله

كتاب الصَّلاة على رَسُول الله ﷺ

په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې درود شريف ويل

باب الأمر بالصلاة عَلَيْه وفضلها وبعض صيغها

په دې باب کې يو قرآني آيت او يوولس احاديث دي، د درود شريف فضايل او فوايد د شمار نه بهر دي، که د ظاهر والا علماء دي او که د باطن والا علماء دي، ټول بالاتفاق د درود شريف ورد او وظيفې کوي:

"قَالَ اللهُ تعالى: إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ" الله ﷻ فرمايي: الله ﷻ په خپله او د هغه پرښتې په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې درود شريف ليږي، "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيماً" اې مؤمنانو! تاسو هم په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې درود شريف ولېږئ! [الأحزاب:۵۶].

تشريح: لفظ د (صلوة) په عربي ژبه کې په ګڼ شمېر معناګانو کې استعمال شوی دی، که ددې نسبت پرښتو ته وشي، نو معنی يې دعاء ده، مطلب به دا شي چې پرښتې رسول الله ﷺ ته دعاګانې کوي، که الله ﷻ ته يې نسبت وشي، نو معنی يې رحمت راځي، که مارغانو او څارويو ته يې نسبت وشي، نو معنی يې تسبيح او تحليل کېږي، په دې آيت کې هم الله ﷻ مؤمنانو ته خاص خطاب کوي چې تاسو هم په رسول الله ﷺ باندې درود ووايئ! هغه رسول په کوم باندې چې د الله ﷻ خاص الخاص رحمتونه او برکتونه د باران په څېر نازلېږي.

د امت له طرفه د هغه پيغمبر د احساناتو بدله نه شي جوړېدی، کوم احسانات چې رسول الله ﷺ په خپل امت باندې کړي دي، دا زموږ درود ويل خو يوه فقيرانه ډالۍ ده چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې وړاندې کولی شي.

علامه ابن همام رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: دلته د امر صيغه ذکر شوې ده کومه چې د تکرار تقاضا نه

کوي، په دې وجه احناف او امام مالك رحمه الله فرمايي: په ټول ژوند کې که يو ځل هم چا درود شريف وويلو، نو په آيت به عمل راشي، البته دا خاتنه خبره ده چې کله هم د رسول الله ﷺ نوم مبارك ذکر کيږي، نو په هر ځل درود بايد درود وويل شي: "اللهم صل على سيدنا محمد وعلى آل سيدنا محمد وبارك وصل وسلم عليه".

لس رحمتونه

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص، رضي الله عنهما: أنه سمع رسول الله ﷺ يقول: مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا" د عبد الله بن عمر بن العاص رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: كوم كس چې په ما باندې يو ځل درود شريف ووايي، الله ﷻ به په هغه باندې لس ځله رحمتونه رانازل کړي. رواه مسلم

تشريح: علامه سخاوي رحمه الله د عامر بن ربيعه رضي الله عنه څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا ارشاد نقل کړی دی چې: کوم کس په ما باندې يو ځل درود ووايي، نو الله ﷻ په هغه باندې لس ځله رحمتونه نازلوي، اوس ستا په اختيار کې ده چې که زيات يې وايې او که کم، په دې مضمون کې نور ګڼ شمېر روايات نقل دي.

سوال: د عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی: کوم کس چې په رسول الله ﷺ باندې يو ځل درود ووايي، الله ﷻ او د هغه پرښتې په ده باندې اويا ځله رحمتونه نازلوي او په وړاندې حديث کې ذکر شو چې لس ځله رحمتونه پرې نازلوي؟

جواب: د الله ﷻ رحمتونه د رسول الله ﷺ په امت باندې ورځ په ورځ زياتيږي، په کومو رواياتو کې چې د لس ځله رحمتونو ذکر دی، هغه په شروع کې وو، بيا وروسته د اويا ځله رحمت وعده وشوه، بل جواب دا دی چې دا تفاوت د اشخاصو د احوالو او اوقاتو په لحاظ سره دی. بل جواب دا دی چې د اويا ځله رحمتونو تعلق د جمعې د ورځې سره دی او باقي لس ځله رحمت د نورو ورځو سره تعلق ساتي، دا ځکه چې په ځينو رواياتو کې دي چې د جمعې په ورځ د نېك اعمالو ثواب اويا درجې زياتيږي

زيات درود ويل د رسول الله ﷺ سره د قربت ذريعه ده

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه: أنَّ رسول الله ﷺ قال: أَوْلَى النَّاسِ بِي يَوْمَ القِيَامَةِ أَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به زما سره ډېر نژدې هغه کس وي چې په ما باندې ډېر زيات درود وايي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: په يو بل روايت کې دي چې د انس رضي الله عنه څخه روايت دی، رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به په هره موقع کې زما سره ډېر نژدې هغه کس وي چې په کثرت سره په ما باندې درود وايي، په يو بل روايت کې هم د انس رضي الله عنه څخه روايت دی: چې د قيامت په سخته ورځ به هغه کس محفوظ پاتې شي چې په ما باندې زيات درود وايي

د جمعې په ورځ درود ويل

"وعن أوس بن أوس ﷺ، قَالَ: قَالَ رسولُ اللّٰـه ﷺ: إنَّ مِنْ أفْضَلِ أيَّامِكُمْ يَوْمَ الجُمُعَةِ، فَأكْثِرُوا عليَّ مِنَ الصَّلاةِ فِيهِ
اوس بن اوس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره ورځ د جمعې ورځ ده، په دې ورځ په ما باندې ډېر په کثرت سره درود وايئ! "فَإنَّ صَلاتَكُمْ مَعْرُوضَةٌ عليَّ. قَالَ: قالوا: يَارسولَ اللّٰـه وكيفَ تُعْرَضُ صَلاتُنَا عَلَيْكَ وَقَدْ أرَمْتَ؟" ځکه چې ستاسو درود په ما باندې پېش کولی شي، صحابه وو پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ! زموږ درود به څنګه په تاسو پېش کولی شي او حال دا چې تاسو خو به په خمکه کې لاندې آرام کوئ؟! "قَالَ: يقولُ بَلِيتَ. قَالَ: إنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلى الأرْضِ أجْسَادَ الأنْبِيَاءِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: بې شکه الله ﷻ په خمکه باندې د انبياوو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ بدنونه حرام کړي دي چې ويې خوري (يعنې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ خپل اصلي جسد سره ژوندي دي). رواه أبوداود بإسنادٍ صحيحٍ.

لغوي تحقيق:

معروضة: عرض يعرض عرضاً، معنی يې ده: وړاندې کول.

تشريح: ددې حديث سره نور ګڼ شمېر احاديث سمون خوري، مثلاً: ابو امامه ﷺ فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په ما باندې د جمعې په ورځ زيات درود وايئ! ځکه چې د امت درود د جمعې په ورځ په ما باندې وړاندې کيږي.

د ابو مسعود ﷺ په حديث کې هم دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د جمعې په ورځ په ما باندې درود وايئ! ځکه چې د جمعې په ورځ په ما باندې درود وړاندې کيږي، علامه سخاوي رحمه الله فرمايي: د جمعې په ورځ د درود فضيلت د ډېرو صحابه وو څخه نقل دی، ددې حضراتو نومونه دا دي: اوس بن اوس ﷺ، ابوهريره ﷺ، انس ﷺ، ابوامامه ﷺ، ابودرداء ﷺ، ابو مسعود ﷺ، عمر ﷺ، عبد الله بن عمر رضي الله عنهما.

ولې د جمعې په ورځ درود زيات فضيلت لري؟

علامه ابن القيم رحمه الله ددې جواب ورکړی دی، هغه فرمايي چې په نورو ورځو باندې د جمعې د ورځې فضيلت زيات دی، ځکه چې د جمعې ورځ د نورو ورځو سرداره ده، نبي کريم ﷺ د ټولو مخلوقاتو سردار دی، نو ځکه دا خصوصيت وشو، ددې حديث نه علماء استدلال کوي چې ټول انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ په خپلو قبرونو کې ژوندي دي، لکه څنګه چې د مسلم په يو روايت سره ددې تائيد کيږي چې ټول انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ په خپلو قبرونو کې ژوندي دي او لمونځونه کوي، نبي کريم ﷺ موسی عليه السلام د معراج په شپه په قبر کې وليد چې لمونځ يې کولو، دغه شان ابراهيم عليه السلام يې هم وليد چې لمونځ کوي، بهر حال ددې حديث نه معلومه شوه چې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ په خپلو قبرونو کې ژوندي دي.

د درود نه ويونکي مخ دې خړ شي

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل هغه سړی ډېر بدبخته دی چې د هغه په وړاندې زما نوم واخيستل شي او په ما باندې درود ونه وايي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق:

رغم أنف: دا په عربو کې محاوره ده، لغوي معنی يې دا ده چې ستا پوزه دې په خاورو خړه شي، ليکن د دې نه مراد حقارت او ذلت دی.

تشريح: يقيناً د دې نه به بل زيات بد مرغه انسان بل څېرته نه وي چې د ده په وړاندې د رسول الله ﷺ نوم ياد کړل شي او دی بيا هم پرې درود ونه وايي، ځکه چې د رسول الله ﷺ څومره زيات احسانات په امت باندې دي، که د رسول الله ﷺ احساناتو ته يو نظر وکتل شي، نو بايد چې خپل ټول ژوند په ټولو ساعتونو په درود ويلو کې تېر کړي، رسول الله ﷺ د خپل امت د کاميابۍ او نجات لپاره خپل کور او کلی پرېښودلو، خپلوان يې پرېښودل، د طائف په ميدان کې په کاڼو وويشتل شو، د احد په مقام کې د رسول الله ﷺ غاښونه مبارک شهيدان شوي دي، کله چې د قيامت ورځ شي، نو ټول مخلوق تردې چې انبياء عليهم السلام به هم وايي چې نفسي نفسي، په دې وخت کې به رسول الله ﷺ خپل امت يادوي، وايي به چې رب امتي امتي، نو د داسې شفيق مهربان او محسن نبي په منونکو باندې واجب دي چې خپل ټول ژوند په ټولو ساعتونو په درود کې تېر کړي، د دې په ذريعه د الله ﷻ رضا حاصله کړي

علامه سخاوي رحمه الله ټول هغه عذابونه چې د درود نه ويلو له وجې راځي، ډېر په مختصر الفاظو کې بيان کړي دي هغه دا دي: د داسې کس لپاره هلاکت دی، داسې کس بدبخت دی، بدمرغه دی، د جنت لار ترې ورکه ده، په جهنم کې داخلېدونکی دی، ظالم دی، بخيل دی، د ده دين ناقص دی، داسې کس به د قيامت په ورځ د رسول الله ﷺ د مخ مبارک زيارت ونه کړی شي

د علامه ابن عبدالبر رحمه الله وغيره عالمانو رايه دا ده چې کله هم د رسول الله ﷺ نوم ياد کړل شي، په هر ځل درود ويل واجب دي، ليکن د جمهورو علماوو رايه دا ده چې که په مجلس کې يو ځل هم ووېل شي، نو کافي کيږي، باقي په هر ځل درود ويل د برکت او رحمت ذريعه ده.

زما د قبر څخه ميله مه جوړوئ!

"وعنه ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لَا تَجْعَلُوا قَبْرِي عِيداً، وَصَلُّوا عَلَيَّ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د قبر نه د اختر ميلې مه جوړوئ او په ما باندې درود راليږئ "فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي حَيْثُ كُنْتُمْ" ځکه چې ستاسو درود ماته پېش کولی شي، چېرته چې تاسو يئ! رواه أبو داود بإسناد صحيح.

تشريح: لاتجعلوا قبري عيداً: د دې حديث مضمون مطابق نور زيات روايات نقل دي، د اسلام نه

وړاندې اهل کتابو د خپلو پېغمبرانو د زيارتونو نه ميلې جوړې کړې، مشرکانو به پکې بت پرستي کول، قبر ته به يې سجدې لګولې، طوافونه به يې کول، مالګې به يې پکې ښخولې، د قبرونو خاورې به يې خوړلې، د حديث مطلب دا دی: لکه څرنګه چې خلك د اختر په ورځ ښې ښې جامې اغوندي، ډول او سنګار کوي، ښې لوبې او تماشې کوي، دغه شان زما قبر ته مه راځئ البته د عبرت لپاره د خپل خوړېنې د جدايې په غم کې که وي، نو بيا راتلی شئ.

ملا علي قاري رحمه الله ددې يو مطلب دا هم ليکلی دی چې زما قبر ته وخت په وخت راځئ د اختر په شان په کال کې يو ځل مه راځئ، "تبلغني حيث كنتم" ماته ستاسو درود رارسولی شي چېرته چې تاسو يئ، په يو بل روايت کې دي چې څوك زما د قبر خواته نږدې درود ووايي، نو زه يې خپله اورم او د لرې نه يې پرښتې ماته رارسوي، ليکن په يو بل روايت کې دا هم دي چې رسول الله ﷺ ته د الله ﷻ په امر پرښتې دا هم وايي چې دا درود د فلانکي سړي له طرفه دی کوم چې د فلانکي زوی دی، په يو بل روايت کې دي چې د يو درود په بدله کې په درود ويونکي باندې لس څله رحمت نازليږي، په يو بل روايت کې انس رضي الله عنه فرمايي: کوم کس چې په ما باندې درود ووايي نو ماته دغه درود رارسولی شي، ددې درود په بدله کې په ده باندې زه درود ووايم او ددې نه علاوه الله ﷻ په عملنامه کې ورته لس نېکۍ هم وليکي.

رسول الله ﷺ د سلام جواب ورکوي

"وعنه: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: مَامِنْ أَحَدٍ يُسَلِّمُ عَلَيَّ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې څوك په ما باندې درود وايي، "إِلَّا رَدَّ اللهُ عَلَى رُوحِي حَتَّى أَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ" نو الله ﷻ زما روح ماته واپس کړي، تر دې چې زه د هغه د سلام ځواب ورکوم. رواه أبوداود بإسناد صحيح.

لغوي تحقيق:

يسلم: ددې معنی ده: السلام عليکم

تشريح: د اهل سنت والجماعت عقيده دا ده چې رسول الله ﷺ په خپله روضه کې ژوندی دی، ليکن د وړاندې حديث نه علوميږي چې رسول الله ﷺ په خپله روضه کې (نعوذ بالله) ژوندی نه دی، بلکې څوك چې هم په رسول الله ﷺ باندې درود ووايي، نو په دې وخت کې د رسول الله ﷺ بدن مبارك ته روح واپس کړل شي، په دې بنياد رسول الله ﷺ د هغه د سلام جواب ورکوي.

جواب: د روح واپس کېدو مطلب دا نه دی چې د رسول الله ﷺ روح مبارك نه وي، بلکې مطلب دا دی چې د رسول الله ﷺ روح مبارك مستقل د الله ﷻ په مشاهده کې مستغرق وي، نو کله چې څوك درود ووايي، نو رسول الله ﷺ هغه ته متوجه کړي، دا مفهوم په دې الفاظو سره تعبير کړی شو چې الله ﷻ د خپل پېغمبر روح مبارك واپس کړي، يعنې هغه طرفته يې متوجه کړي

علماء فرمايي: ددې حديث تعلق عام دی: برابره خبره ده چې هغه خلك په روضه اقدس کې

حاضر وي او درود وايي يا يې د لرې نه وايي، البته فرق صرف دومره دی چې کوم کس د رسول الله ﷺ قبر سره نژدې درود وايي، نو رسول الله ﷺ يې خپله اوري او کوم څوک چې يې د لرې نه وايي، نو رسول الله ﷺ ته يې پرښتې رسوي.

د ټولو نه زيات بخيل

"وعن علي ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: البَخِيلُ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ، فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ" د علي ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بخيل سړی هغه دی چې د هغه په وړاندې زما نوم ياد کړی شي او هغه په ما باندې درود ونه وايي. رواه الترمذي وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: په يو بل روايت کې د ابو هريره ﷺ څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بخيل دی هغه کس او پوره بخيل دی د چا په وړاندې چې زما نوم ذکر شي او هغه په ما درود ونه وايي، انس ﷺ هم د رسول الله ﷺ دا ارشاد نقل کړی دی چې بخيل دی هغه کس د چا په مخکې چې زما نوم ياد شي او هغه په ما باندې درود ونه وايي، په يو بل روايت کې دا هم دي چې هلاکت دې وي هغه کس ته چې د قيامت په ورځ ما ونه ويني، عايشې ﷺ پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ هغه به کوم کس وي چې ستاسو زيارت ونه کړي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه بخيل کس دی، عائشې ﷺ بيا پوښتنه وکړه چې بخيل څوک دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: بخيل هغه کس دی چې د چا په مخکې زما نوم ياد شي او هغه په ما باندې درود ونه وايي

د حسن ﷺ او حسين ﷺ دواړو څخه روايت دی هغوی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو انسان د بخيل توب لپاره دا خبره کافي ده چې د هغه په مخکې زما نوم واخيستل شي او هغه په ما باندې درود ونه وايي.

ابو ذر غفاري ﷺ فرمايي: يو ځل زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، رسول الله ﷺ د صحابه وو څخه پوښتنه وکړه چې ايا زه تاسو ته په ټولو خلکو کې زيات بخيل انسان ونښيم؟ صحابه وو عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ ضرور يې ونښيئ! نبي کريم ﷺ وفرمايل: د چا په مخکې چې زما نوم واخيستل شي او هغه په ما باندې درود ونه وايي، علامه سخاوي ﷺ فرمايي: دا سې انسان په ټول مخلوق کې تر ټولو ستر بخيل دی.

من لم يصل عليه أن ذكر اسمه .... فهو البخيل وزده وصف جبان

د چا په وړاندې چې د رسول الله ﷺ نوم مبارك ذکر شي او هغه په رسول الله ﷺ باندې درود ونه وايي، دا تر ټولو ستر بخيل دی او بيا زياتي لا دا چې بې زړه او ډارن هم دی.

مرحباے پیک مشتاقاں بدہ پیغام دوست ..... تا کنم جاں از سر رغبت فدائے نام دوست

د دعاء غوښتلو طريقه

"وعن فضالة بن عبيد ﷺ، قال: سمع رسول الله ﷺ، رجلا يدعو في صلاته لم يمجد الله تعالى، ولم يصل على النبي ﷺ فقال رسول الله ﷺ عجل هذا" د فضاله بن عبيد ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ په لمونځ کې د دعاء اواز واورېدو چې په دې دعاء کې يې د الله ﷻ ثناء او په نبي کريم ﷺ باندې يې درود نه ويلو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: دې سړي تيزي وکړه، "ثم دعاه فقال له أو لغيره: إذا صلى أحدكم فليبدأ بتحميد ربه سبحانه، والثناء عليه" بيا نبي کريم ﷺ هغه کس راوغوښتلو او ده ته يې وويل او يا يې بل کس ته (د راوي شك دى) چې کله تاسو لمونځ شروع کوئ نو د ټولو نه اول د الله ﷻ ثناء او پاکي بيانوئ! "ثم يصلي على النبي ﷺ، ثم يدعو بعد بما شاء" بيا په نبي کريم ﷺ باندې درود رالېږئ، ددې نه وروسته چې دې بيا څنګه خوښه وي هغسې دعاء کوئ! رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: دا مضمون هم په ګڼ شمېر رواياتو کې ذکر دى، د دعاء په آدابو کې دا هم داخل دي چې اول او آخر درود ولوستل شي، بيا دعاء وکړل شي، ځينې علماء فرمايي: تر هرڅه اول د الله ﷻ حمد او ثناء بايد ولوستل شي، بيا په نبي کريم ﷺ باندې درود ولوستل شي، بيا درود په مينځ او آخر کې ولوستل شي، نو داسې دعاء بيا نه رد کېږي.

دغه شان د عبد الله بن يسر ﷺ څخه روايت دى فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ټولې دعاګانې ځوړندې وي تردې چې په شروع کې د الله ﷻ حمد او ثناء او په رسول الله ﷺ باندې درود نه وي لوستل شوى او څوك چې کومه دعاء ددې دواړو ترمينځ وغواړي هغه نه رد کېږي.

دغه شان د عمر ﷺ څخه روايت دى هغه فرمايي چې ماته دا وښودل شوه چې دعاء د آسمان او د ځمکې ترمينځ معلق (ځوړنده) وي پورته نه خيژي، تر څو چې يې په رسول الله ﷺ باندې درود نه وي ويلى.

علي ﷺ فرمايي: يوه دعاء داسې نشته چې د دعاء او د الله ﷻ ترمنځ پرده او حجاب نه وي تر څو يې چې په رسول الله ﷺ درود نه وي ويلى، کله چې درود ووايي نو هغه پرده کاږ شي او دعاء د قبوليت مقام ته ورسېږي، کنه نو واپس بېرته راځي، ځکه چې درود يو داسې عبادت دى چې کله هم نه رد کېږي، ددې برعکس نورو عباداتو کې د قبوليت شك وي چې قبول به شي او که نه، نو کوم کس چې د دعاء په اول او آخر کې درود ووايي، نو دا خبره د الله ﷻ د شان خلاف ده چې اول او آخر خو دې قبول کړي او په مينځ کې دعاء رد کړي.

کوم درود ويل غوره دي؟

"وعن أبي محمد كعب بن عجرة ﷺ، قال: خرج علينا النبي ﷺ، فقلنا: يا رسول الله قد علمنا كيف نسلم عليك، فكيف نصلي عليك؟" د أبو محمد کعب بن عجرة ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ موږ ته تشريف راوړو، نو موږ ورته وويل: يارسول الله ﷺ! موږ خو په دې پوهېږو چې په تاسو باندې سلام

ښکه ووایو، لیکن په تاسو باندې درود څنګه ووایو؟ د هغې طریقه څه ده؟ "قَالَ: قُولُوا: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ، وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ، إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ، وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ، إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ" نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: داسې وایئ: **ترجمه**: اې الله! درود ولېږئ په محمد ﷺ باندې او په آل د محمد ﷺ باندې، لکه څنګه چې تاسو درود لېږلی دی په ابراهیم علیه السلام باندې او په آل د ابراهیم علیه السلام باندې، بې شکه ته د صفتونو او بزرګۍ لائق ذات یې، اې الله! برکت ولېږې په محمد ﷺ باندې او په آل د محمد ﷺ باندې، لکه څنګه چې تاسو برکت لېږلی دی په ابراهیم علیه السلام باندې او په آل د ابراهیم علیه السلام باندې، بې شکه تاسو د صفتونو او بزرګۍ ذات یئ! متفق علیه

تشریح: قد علمنا کیف نسلم علیك: موږ ته پته ده چې موږ به په تاسو باندې څرنګه سلام ووایو، علماء لیکي چې ددې نه مراد د تشهد (التحیات) والا سلام دی، یعنې: "السلام علیکم أیها النبی ورحمة الله وبرکاته" په دې الفاظو سره درود ویل غوره دي، ځکه چې د درود الفاظ په ګڼ شمېر احادیثو کې مختلف راغلي دي، لیکن په دې حدیث کې چې کوم درود ذکر شوی دی، دا غوره دی، ځکه چې دا رسول الله ﷺ خپله صحابه کرامو ته ښودلی دی، کله چې هغوی ترې پوښتنه وکړه چې موږ ته د سلام طریقه راځي، لیکن د درود ویلو چل راته وښیئ؟ نبي کریم ﷺ ورته هغه پورتنی درود ذکر کړو.

علامه ابن عابدین شامي رحمه الله د امام محمد رحمه الله قول هم نقل کړی دی، فرمایي چې د امام محمد رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه چې په کومو الفاظو سره درود ویل غوره دي؟ هغوی ورته د حدیث مطابق جواب ورکړو، یعنې کوم درود چې په حدیث کې ذکر دی د هغې باره کې یې ورته وویل، ددې درود ویلو فضیلت وجه یوه بله هم ده، هغه دا چې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله په دې الفاظو باندې اتفاق کړی دی، علماء فرمایي: همدغه درود ویل غوره دي، د همدې درود وظیفه کول یا په لمانځه کې یې د ویلو اهتمام پکار دی.

درود ابراهیمي تر ټولو غوره درود دی

"وعن أبي مسعودِ البدري رضي الله عنه، قَالَ: أَتَانَا رَسُولُ اللهِ ﷺ، وَنَحْنُ فِي مَجْلِسِ سَعدِ بنِ عُبَادَةَ رضي الله عنه، فَقَالَ لَهُ بَشِيْرُ بْنُ سَعدٍ: أَمَرَنَا اللهُ تَعَالَى أَنْ نُصَلِّيَ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ، فَكَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ؟" د ابو مسعود بدري رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې یوه ورځ نبي کریم ﷺ موږ کره تشریف راوړو، په دې وخت کې موږ د سعد بن عبادة رضي الله عنه سره په مجلس کې ناست وو، بشیر بن سعد رضي الله عنه وفرمایل: یارسول الله ﷺ! موږ ته الله ﷻ امر کړی دی چې موږ په تاسو باندې درود ووایو، لیکن که تاسو موږ ته د درود طریقه وښیئ! "فَسَكَتَ رَسُولُ اللهِ ﷺ، حَتّٰى تَمَنَّيْنَا أَنَّهُ لَمْ يَسْأَلْهُ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: قُولُوا: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ، وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ، وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ" نبي کریم ﷺ چوپ شو، موږ ارمان وکړو چې کاش! موږ د رسول الله ﷺ نه په دې باره کې پوښتنه نه وای کړې، نبي کریم ﷺ بیا وفرمایل: داسې ووایئ! نبي کریم ﷺ ورته ټول درود ذکر کړو، "وَالسَّلَامُ كَمَا قَدْ عَلِمْتُمْ" او د سلام طریقه خو تاسو ته هسې هم درځي. رواه مسلم.

تشريح: أمرنا الله أن نصلي عليك: الله ﷻ موږ ته امر کړی دی چې په تاسو درود شريف ووايو، ددې نه مراد د قرآن شريف آيت مبارکه دی: يا أيها الذين آمنوا صلوا عليه وسلموا تسليماً.

حتى تمنينا أنه لم يسأله: تر دې چې موږ ارمان وکړو چې کاش موږ د رسول الله ﷺ نه ددې باره کې پوښتنه نه وای کړې، ځکه چې د پوښتنې وروسته نبي کريم ﷺ چوپ پاتې شو، صحابه کرام وویریدل، هسې نه چې زموږ پوښتنه د نبوت د منشا خلاف وي، هسې نه په دې پوښتنه رسول الله ﷺ چېرته خفه شوی نه وي، يا دا چې ددې جواب به رسول الله ﷺ ته چېرته معلوم نه وي، ځکه خو چوپ پاتې شو وغيره، په ځينو نورو رواياتو کې دي چې ددې نه وروسته په رسول الله ﷺ باندې وحي نازله شوه بيا رسول الله ﷺ هغه جواب ورکړو کوم چې په حديث کې ذکر دی.

په يو بل روايت کې دي چې يو صحابي پوښتنه وکړه چې د سلام طريقه خو موږ ته راغې ليکن کله چې موږ لمونځ کوو، نو په تاسو باندې څنګه درود ووايو؟ رسول الله ﷺ چې دا پوښتنه واورېده نو تر ډېره وخته پورې چوپ ؤ، موږ ارمان وکړو چې کاش! پوښتنه مو نه وای کړې، بيا وروسته رسول الله ﷺ ته وحي راغله او وې فرمايل: دا درود ووايئ! اللهم صل على محمد الخ:

مختصر درود ابراهيمي (عَلَيْهِ السَّلَامُ)

"وعن أبي حُمَيدٍ السَّاعِدِيِّ ، قَالَ: قالوا: يَارسولَ الله كَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ؟ قَالَ: قُولُوا: اللَّهُمَّ صَلِّ على مُحَمَّدٍ، وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ" د أبو حميد ساعدي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې صحابه کرامو وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! موږ په تاسو باندې څنګه درود ووايو؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: داسې وايئ! اې الله ﷻ! درود ولېږئ په محمد ﷺ او د هغوی په مېرمنو باندې او په اولادې باندې، "كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ" لکه څنګه چې تاسو په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې درود لېږلی دی او برکت ولېږئ په محمد ﷺ باندې او په مېرمنو باندې يې او په اولادې باندې، لکه څنګه چې تاسو په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې برکت لېږلی دی، بې شکه اې الله ﷻ! تاسو د صفتونو او بزرګی ذات يئ! مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

تشريح: په دې روايت کې د ازواج مطهرات (رضي الله تعالى عنهن) ذکر هم دی، ورسره د ذريات (بچيانو) ذکر هم دی، ذريت بچيانو ته وايي، په دې کې نارينه او ښځينه ټول بچيان داخل دي او دا قانون دی چې په اولاد کې د لور اولاد داخل نه وي، لکه يو شاعر چې وايي:

بنونا بنو أبنائنا وبناتنا ...... بنوهن أبناء الرجال الأباعد.

ليکن د رسول الله ﷺ د لورګانو اولاد د رسول الله ﷺ په اولاد کې داخل بولي، د لورګانو په بچو کې صرف د فاطمې رضي الله عنها بچي ژوندي پاتې دي، د نورو نشته، ځينې وايي چې د رسول الله ﷺ په اولاد کې هر هغه کس داخل دی په چا چې زکاة اخيستل حرام وي، هغه بنو عبد المطلب، بنو هاشم، علي رضي الله عنه، جعفر رضي الله عنه، عقيل رضي الله عنه، عباس رضي الله عنه، حارث رضي الله عنه، حمزه رضي الله عنه، حسن رضي الله عنه او حسين رضي الله عنه او د دوی اولاد دي

ځيني وايي: په اولاد کې هر نېك سړی داخل دی، لکه څنګه چې په يو روايت کې دي: هر مؤمن سړی زما آل دی، همدغه خبره امام مالك رحمه الله هم فرمايلې ده.

سوال: په درود کې د ابراهيم عليه السلام تخصيص ولې وشو، نور پېغمبران عليهم السلام ولې ذکر نه شول؟

جواب: ابراهيم عليه السلام د رسول الله ﷺ جد امجد (غور نيکه) او په نيکه ګانو کې راځي.

كتاب الأذكار

باب فَضلِ الذِّكرِ وَالحَثِّ عليه

د ذکر فضيلت او ددې ترغيب

"قَالَ اللهُ تعالى: وَلَذِكْرُ اللهِ أَكْبَرُ" الله جل جلاله فرمايي: د الله جل جلاله ذکر ډېر لوی شی دی. [العنكبوت:۴۵]

تشريح: مجاهد رحمه الله، عکرمه رحمه الله، سعيد بن جبير رحمه الله او په يو روايت کې د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی، دوی فرمايي چې په دې آيت کې د الله جل جلاله ذکر ته لوی شي وويل شو، ددې وجه دا ده چې انسان کله د الله جل جلاله ذکر کوي، نو الله جل جلاله هم دده ذکر کوي، نو د الله جل جلاله ذکر ددې سړي د ذکر نه غوره او بهتر دی.

صاحب د تفسير مظهري رحمه الله د موسی بن عقبه رحمه الله په حواله د نافع رحمه الله څخه دا روايت نقل کوي چې عبد الله بن عمر رضي الله عنهما يو ځل ددې آيت تفسير د رسول الله ﷺ نه نقل کړو، وايي: تاسو د الله جل جلاله په ياد کې کمی مه کوئ ځکه چې تاسو الله جل جلاله يادوئ، نو الله جل جلاله به تاسو يادوي او کله چې تاسو الله جل جلاله يادوئ، ددې درجه او فضيلت ډېر زيات دی د هغې نه چې تاسو الله جل جلاله ياد کړي.

په يو بل روايت کې دي چې صحابه کرامو د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې د الله جل جلاله په نزد په ټولو خلکو کې زياتې اوچتې درجې والا څوك دي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: کوم کس چې د الله جل جلاله ذکر په کثرت سره کوي، پوښتنه وشوه چې د مجاهد في سبيل الله نه هم زيات دی؟ وې فرمايل مجاهد چې په خپلو تورو باندې دومره کفار ووهي چې توره يې ماته شي، بيا هم ذکر غوره دی.

"وقَالَ تعالى: فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ" بل ځای الله جل جلاله فرمايي: تاسو ما ياد کړئ، زه به تاسو ياد کړم. [البقرة:۱۵۲]

تشريح: په يو روايت کې دي چې الله جل جلاله فرمايي: زه د بنده د هغه د ګومان مطابق هغه سره معامله کوم، کله چې ما يادوي، نو زه يې يادوم، که ما په زړه کې پټ يادوي، نو زه يې هم پټ په زړه کې يادوم، که ما په مجلس کې ښکاره يادوي، نو زه يې هم په مجلس کې ښکاره يادوم، که زما طرف ته يوه لوېشت رانژدې کيږي، نو زه ورته يو لاس ورنژدې کېږم، که هغه ما طرف يو لاس نژدې کيږي، نو زه يو ګز ورنژدې کېږم، که هغه ما طرف ته پيدل راځي، نو زه په منډه ورځم.

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په يو روايت کې دي رسول الله ﷺ ددې آيت باره کې چې: "فاذكروني

أذكركم" وفرمايل، الله ﷻ فرمايي : اې زما بندګانو! تاسو ما په عبادت سره يادوئ، زه به تاسو په بخښنې سره يادوم، ستاسو ګناهونه به درته معاف کړم.

"وقال تعالى: وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعاً وَخِيفَةً" ياد کړئ خپل رب په زړه کې په عاجزۍ سره او په بېره، "وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ" نه په ډېرې تېزۍ سره، "بِالْغُدُوِّ وَالآصَالِ وَلاَ تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ" سهار او ماښام او تاسو د غافله خلکو څخه مه کېږئ! [الأعراف:۲۰۵]

تشريح: واذكر ربك في نفسك: ابن عباس رضي الله عنهما ددې آيت ه باره کې فرمايي : دلته د ذکر نه مراد په لمانځه کې قرائت دی، مطلب دا چې په پټ لمانځه کې په مزه په مزه قرائت کوئ او مجاهد رحمه الله فرمايي : د ذکر نه مراد ذکر خفي (د زړه ذکر) دی، په کوم کې چې ډېر زيات اخلاص وي.

دون الجهر: ددې نه مراد د جهر نه کم او د پټ نه لږ زيات دی، يعنې نه به ډېر کم وي او نه به ډېر زيات وي، په جهري لمونځونو کې به قرائت په داسې شکل وي چې نه ډېر زيات وي او نه زيات کم وي، يا دا مطلب چې کله کله په زوره ذکر کوئ، ليکن شرط دا دی چې ډېرې زياتې چيغې به نه وهي بلکې بايد په دې کې هم سکون او اطمينان وي

بالغدو والآصال: غدو په اصل کې مصدر دی، په قاموس کې دي چې (الغدوة) د لمر راختلو وخت ته وايي

والآصال: د اصيل جمع ده، د ورځې آخري وخت ته وايي، د اصيل وخت د مازيګر څخه تر ماښامه پورې دی

سوال: په کثرت سره ذکر کولو حکم دی، نو دا دواړه وختونه يې ولې ذکر کړل؟

جواب: وجه يې دا ده چې دا وختونه ډېر د فضيلت وختونه دي، نو ځکه يې ذکر کړل، کنه نو ذکر خو په هر ځای کې او په هر وخت کې محمود دی

ولاتكن من الغافلين: او د غافلو څخه مه کېږئ، مطلب دا چې که تاسو ذکر پرېښودلو، نو د غافلو څخه به شئ، تاسو په يو حال کې هم ذکر مه پرېږدئ!

"وقال تعالى : وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيراً لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ" او الله ﷻ ډېر زيات ياد کړئ، ددې لپاره چې تاسو کامياب شئ! [الجمعة:۱۰]

تشريح: په ټولو حالاتو کې بايد د الله ﷻ ذکر وکړل شي، ليکن په ټولو حالاتو کې ذکر کول ناممکن دي، ځکه چې ځينې حالات داسې دي چې په هغې کې ذکر کول منع دي، لکه يو انسان چې لوڅ وي، جامې يې ويستلي وي، يا اودس ماتی وغيره کوي، په داسې حالت کې ذکر کول منع دي، نو ددې غوره صورت دا دی چې په هر ځای کې کومه دعاء، يا ذکر وغيره شريعت ښودلی دی، بايد هغه وويل شي، دا به غوره ذکر شي او په هر حال کې به د ذاکرينو نه شمار شي

د ذکر کوونکو سره د بخښنې وعده ده

"وقال تعالى: إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ... إلى قوله تعالى" او د الله ﷻ دا قول چې بې شکه مسلمانان سړي او مسلمانې ښځې تردې قوله پورې چې: "وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيراً وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً" او په کثرت سره د الله ﷻ د نوم ذکر کونکي سړي او په کثرت سره ذکر کوونکي ښځې، د دوی لپاره الله ﷻ بخښنې او لوی اجر تيار کړی دی. [الأحزاب:۳۵]

تشريح: په دې آيت کې د مسلمانانو سړو او ښځو صفات بيان شوي دي، په دوی کې دغه صفات وي يا دغه صفات بايد په ځان کې پيدا کړي، علامه بغوي رحمه الله د عطا بن أبي رباح رحمه الله نه نقل کړي دي چې د چا په خصلت کې دا وي چې هغه خپل هر کار الله ﷻ ته سپاري نو هغه په: "إن المسلمين والمسلمات" کې داخل شو.

شان نزول:

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روايت کې دي چې ځينو ښځو رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې يارسول الله ﷺ! څه وجه ده چې د مؤمنانو سړو ذکر په قرآن کريم کې شته او د مؤمنانو ښځو ذکر په قرآن کريم کې نشته؟ دغه آيت ددې په جواب کې نازل شو: "والذاکرين الله کثيراً والذکرات أعد الله لهم مغفرة وأجراً عظيماً" د الله ﷻ په کثرت سره يادونکي ډېر سړي او په کثرت سره ياودنکي ښځې دې ټولو ته الله ﷻ بخښنه او لوی اجر تيار کړی دی.

علامه بغوي رحمه الله فرمايي: انسان هغه وخت د الله ﷻ په کثرت سره يادونکو کې شمارل کيږي کله چې په ولاړه، ناسته او ملاسته د الله ﷻ ذکر کوي، سستي پکې نه کوي، په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: (افراد) والا خلک وړاندې لاړل، صحابه کرامو عرض وکړو چې يارسول الله ﷺ! افراد والا خلک څوک دي؟ وې فرمايل: کوم سړي چې په کثرت سره الله ﷻ يادوي او کومې ښځې چې په کثرت سره الله ﷻ يادوي. رواه مسلم من حديث أبي هريرة رضي الله عنه

الله ﷻ ډېر يادوئ!

"وقال تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْراً كَثِيراً وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلاً" الله ﷻ فرمايي: اې مؤمنانو! الله ﷻ په کثرت سره سهار او ماښام ياد کړئ. [الأحزاب:۴۱-۴۲] الآية. والآيات في الباب كثيرة معلومة.

تشريح: مجاهد رحمه الله فرمايي: مطلب دا دی چې د الله ﷻ د ذکر نه بايد يو حالت هم خالي نه شي، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: د الله ﷻ د ذکر نه پرته د هر قسم عبادت لپاره يو حد مقرر دی، د عذر په بنياد بې معذور خلک پرېښودی شي ،ليکن د ذکر هيڅ حد نشته، پرته له ليوني او بې هوشه څخه په هر چا باندې ذکر کول ضروري دي، يو کس په دې کې معذور نه دی، په دې وجه په ټولو حالاتو کې د ذکر حکم شوی دی، "الذين يذكرون الله قياماً وقعوداً وعلى جنوبهم" هغه خلک چې الله ﷻ په ولاړه،

په ناسته او په ډډه يادوي، ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي په هيڅ حالت کې معاف نه دی، په ولاړه، ناسته، په ملاسته، په صحت کې په بيماری کې، په جهاد کې، په سهار کې او په ماښام کې هر وخت د ذکر کولو تلقين شوی دی.

سبحوه بكرة وأصيلاً: سهار او ماښام د الله ﷻ پاکي بيانوئ، د سهار او ماښام نوم يې واخيستل وجه يې دا ده چې په دې وختونو کې پرښتې حاضريږي.

ځينو علماوو چې: "بكرة وأصيلاً" د (واذكروا) معمول جوړ کړی دی، او په (سبحوا) کې هم تنازع د فعلين دی، مطلب دا چې لمونځونه او عبادتونه بايد د زړه په حاضری سره وشي، په دې کې بايد غفلت ونه شي، په قرآن کريم کې په کثرت سره د ذکر فضيلتونه او اهميتونه بيان شوي دي، په هغې کې يو څو ځايونه دا دي:

وأدعوا ربي عسى ألا أكون بدعاء ربي شقياً.
إنني أنا الله لا إله إلا أنا فاعبدني وأقم الصلوة لذكري.
وبشر المخبتين الذين إذا ذكر الله وجلت قلوبهم.
رجال لا تلهيهم تجارة ولا بيع عن ذكر الله.
فادعوا الله مخلصين له الدين ولو كره الكافرون.
هو الحي لا إله إلا هو فادعوه مخلصين له الدين.
ومن يعش عن ذكر الرحمن نقيض له شيطاناً فهو له قرين.
لم يأن للذين آمنوا أن تخشع قلوبهم لذكر الله.
واذكر اسم ربك بكرةً وأصيلاً.
وذكر اسم ربه فصلى.

دوه کلمې په ژبه سپکې په تله درنې دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَانِ"
د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه کلمې دي چې په ژبه اساني دي، په تله د ميزان کې درنې دي او الله ﷻ ته ډېرې خوښې دي، "سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ" هغه دا دي: سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: امام بخاري رحمه الله دا حديث په خپل صحيح بخاري کې په ټولو کې آخر کې راوړی دی، امام بخاري رحمه الله خپل کتاب په: "إنما الأعمال بالنيات" سره شروع کړی دی او په پورتني حديث يې ختم کړی دی، په دې يو باريك او لطيف امر ته اشاره ده، هغه دا چې په تله د ميزان کې به اعمال د هغه چا ډېر زيات درانه وي د کوم چا چې نيت صحيح وي.

كلمتان: د کلمې نه هغه کلمه مراد ده چې د هغې په وجه انسان په خبره پوه شي، "خفيفتان على اللسان" چې په ژبه ډېرې اساني دي، يعنې په دې کې څه داسې حروف نشته چې ډېر په مشقت او

تکلیف سره ادا کیږي، په مشقت او تکلیف سره چې کوم حروف ادا کیږي هغې ته حروف استعلاء او شدیده وایي، په دې حروفوکې یو حرف هم پکې نشته، حروف شدیده اته دي چې د هغې مجموعه (اجدك قطبت) راځي او حروف استعلاء دادي: خص ضغط قظ.

ثقیلتان في المیزان: علامه سندي رحمه الله فرمایي: د حروفو د کمي له امله او د ښکلي ترکیب له امله او د کشش له امله په ژبه ډیرې اسانې دي اود الله ﷻ د نوم له برکته د قیامت په ورځ د ثواب په اعتبار سره په تله د میزان کې ډیرې درنې وي.

حبیبتان إلی الرحمن: علامه سندي رحمه الله فرمایي: په ډیرو احادیثو کې دې ته احب الکلام ویل شوي دي، دا کلمې یا خو الله ﷻ ته ډیرې محبوبې دي یا ددې ویونکي انسان ته ډیرې محبوبې دي، د الله ﷻ په نومونو کې بې لفظ د (رحمن) خکه دلته راوړو چې په دې کې د الله ﷻ وسعت او رحمت ته اشاره ده، یعنې دومره په معمولي کلام سره دومره زیات اجر او ثواب ورکوي، دا د الله ﷻ خاص الخاص رحمت دی، "سبحان الله وبحمده" ددې جملې وضاحت وروسته راځي

د تولې نړۍ نه زیات غوره تسبیحات

"وعنه رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لأن أقول: سبحان الله، والحمد لله، ولا إله إلا الله، والله أكبر، أحب إلي مما طلعت عليه الشمس" د أبو هریره رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه چې (سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر) ووایم، دا ماته د تولې دنیا او ما فیها نه خوښ دي. رواه مسلم

تشریح په یو بل روایت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ په نزد په تولو کې خوښې کلمې څلور دي: "سبحان الله، والحمد لله، ولا اله الا الله، والله اکبر".

په دې حدیث کې هم تقریباً دغه مضمون دی چې دا څلور کلمې د دنیا او ما فیها نه غوره دي، ځینې علماء بې وجه داسې بیانوي چې دا داسې کلمې دي چې په تولو اسماء حسنی باندې محیط دي، مثلاً: "القدوس، السلام، الطاهر" وغیره مفهوم په (سبحان الله) کې پروت دی، د (الرحمن الرحیم الکریم العلیم القدیر السمیع البصیر) وغیره مفهوم په (الحمد لله) کې پروت دی، (الواحد الأحد) وغیره مفهوم په (لا إله إلا الله) کې پروت دی، د (العلي، الکبیر، المتعال) وغیره مفهوم په (الله اکبر) کې پروت دی، نو ځکه دغه کلمات غوره وګرځیدل.

د الله ﷻ د ذکر نه بل کوم شی غوره کېدی نشي، لیکن علماء فرمایي: دا څلور کلمې اګرچې غوره دي او الله ﷻ ته هم ډیرې خوښې دي، لیکن د کومو وقتي دعاګانو خصوصي ذکر چې د رسول الله ﷺ نه په خاصو ځایونو کې نقل دی یا کوم خاص حالت کې خاص ذکر کول نقل دي، په دې وخت کې دغه دعاګانې یا ذکرونه لوستل ددې تسبیحاتو نه غوره دي، اوس دا خبره چې کومې به مخکې ووایي او کومې به وروسته؟ د مشکوة په یو روایت کې دي چې انسان ته اختیار ده چې په دې څلورو کلمو کې به کومه کلمه خوښه شي، هغه دي مخکې ووایي او کومه بې چې خوښه شي، وروسته دي بې ووایي:

ملا علي قاري رحمه الله د علامه طيبي رحمه الله نه نقل کړي دي چې دا څلور کلمې چې په کوم ترتيب سره په حديث کې ذکر شوي دي په دې خاص ترتيب سره يې لوستل ضروري نه دي، ليکن غوره دي چې بايد په دې خاص ترتيب سره وويل شي، ځکه چې په حديث کې هم په دې ترتيب سره راغلي دي.

د شيطان نه د ځان ساتلو دعاء

"وعنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: مَنْ قَالَ لا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ فِي يَوْمٍ مِئَةَ مَرَّةٍ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې په ورځ کې سل ځله (لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شئ قدير) ووايي، "كَانَتْ لَهُ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ وَكُتِبَتْ لَهُ مِئَةُ حَسَنَةٍ" د لسو غلامانو ازادولو اجر به ورته وليکل شي او سل نيکۍ به ورته وليکل شي، "وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِئَةُ سَيِّئَةٍ، وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ ذٰلِكَ حَتَّى يُمْسِيَ" او سل ګناهونه به ترې لرې کړی شي او په دې ورځ کې تر ماښامه پورې به د شيطان لعين نه: الله ﷻ په امن کې وي، "وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ إِلَّا رَجُلٌ عَمِلَ أَكْثَرَ مِنْهُ" دده سره هيڅوک مقابله نه شي کولی، مګر هغه کس چې دده نه زيات دا کلمات ووايي.

"وقال: مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، فِي يَوْمٍ مِئَةَ مَرَّةٍ، حُطَّتْ خَطَايَاهُ، وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ" او په يو بل روايت کې دي چې کوم کس (سبحان الله وبحمده) په ورځ کې سل ځله ووايي د هغه ګناهونه به معاف کړی شي، اګرچې د سمندر د ځګ په اندازه ولې نه وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

تشريح: د حديث ظاهري مفهوم همدغه دی چې که يو کس د سهار په وخت کې دغه کلمات ووايي، نو تر ماښامه به د شيطان د شر نه محفوظ شي، په عمل نامه کې به يې سل نېکۍ وليکل شي او سل ګناهونه به يې هم معاف شي او د لسو غلامانو ازادولو ثواب به هم ورته ملاو شي، که يو کس يې ماښام ووايي، نو ددې ذکر په حديث کې نه دی راغلی، ليکن محدثين فرمايي: که يو کس يې ماښام ووايي، نو هم به ده ته دومره ثواب ملاويږي.

سوال: ولې په حديث کې د ماښام ذکر رانغلو؟

جواب: لومړی جواب دا دی چې رسول الله ﷺ به ذکر کړی وي، ليکن راوي به د اختصار په وجه حذف کړی وي، بل جواب دا دی چې رسول الله ﷺ خالص د سهار ذکر وفرمايلو، ماښام وخت د حديث له مفهوم څخه خپله ظاهرېږي، نو ځکه د هغه د ذکر کولو ضرورت محسوس نه شو.

امام نووي رحمه الله په شرح د مسلم کې فرمايي: مطلقاً سل عدد پوره کولو باندې دا نعمتونه سړي ته حاصلېږي، بيا برابره خبره ده چې که دا ټولې په يو مجلس کې وايي او که په مختلفو مجلسونو کې يې ووايي، ليکن غوره همدغه ده چې ټولې په يو مجلس کې ووايي او بل د ورځې په شروع کې بايد وويل شي، بل دا چې دا نعمتونه په سل ځله ويلو سره ملاوېږي، که يو کس يې د سلو نه زيات ځله ووايي، نو په انعاماتو کې به يې هم اضافه کېږي.

د څلورو عربي غلامانو ازادولو ثواب

"وعن أبي أيوب الأنصاري ﷺ، عن النبي ﷺ، قال: مَنْ قَالَ لا إلهَ إلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، عَشْرَ مَرَّاتٍ" د ابو ايوب انصاري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې لس ځله (لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شئ قدير) ووايي، "كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ أَرْبَعَةَ أَنْفُسٍ مِنْ وَلَدِ إسْمَاعِيلَ" لکه د اسماعيل عليه السلام د نسب څلور غلامان چې يې ازاد کړي وي متفق عليه

تشريح: په يو بل روايت کې دي چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې کوم کلام تر ټولو غوره دی؟ وې فرمايل: هغه کلام چې الله ﷻ د خپلو پرښتو لپاره منتخب کړی دی چې هغه: "سبحان الله وبحمده" دی. د فضليت وجه يې دا ده چې په دې کې د الله تسبيح او تحميد دواړه جمع دي، د تسبيح معنی ده: د عيبونو څخه پاك ذات چې الله ﷻ دی او د تحميد معنی ده: د الله ﷻ تعريف کول، الله ﷻ ته دا خبره ډېره خوښه ده چې د هغه مخلوق دې دده تعريفونه بيان کړي، نو ځکه دې کلماتو ته احب الکلام ويل شوی، بل دا چې په دې کلمه کې اثبات د توحيد او نفي د شرك شوې ده، علماء فرمايي: د اسلام د ټولو نه لوی احسان په عامو انسانانو دا دی چې د توحيد عقيده يې ښه په واضح طور بيان کړې ده، اګر چې وړاندې مذهبونو کې هم خالص توحيد بيان شوی وو، ليکن د خلکو د ګډوډی له امله او بل د زمانې په تېرېدو سره په يو مذهب کې هم خالص توحيد پاتې نه شو، تردې چې دين ابراهيمي چې د توحيد لومړی لارښود وو، په دې کې هم شرك او بت پرستي داخله شوه، دين اسلام يو ځل بيا خالص د توحيد پيغام ټولو خلکو ته ورسولو او د شرك او بت پرستی يې منع کړل، "له الملك وله الحمد" په يو بل روايت کې دي چې علامه ابن السني رحمه الله نقل کړی دی په هغې کې ددې نه وروسته (يحيي ويميت وهو حي لا يموت) اضافه هم شته، "من ولد إسماعيل" د اسماعيل عليه السلام اولاد ازادولو برابر ثواب به ورته ملاويږي، دلته د اسماعيل عليه السلام شرافت او فضيلت په بنياد وشو.

الله ﷻ ته تر ټولو زيات خوښ کلام

"وعن أبي ذرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: أَلاَ أُخْبِرُكَ بِأَحَبِّ الكَلاَمِ إِلَى اللهِ؟ إنَّ أَحَبَّ الكَلاَمِ إِلَى اللهِ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ" د ابو ذر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته داسې کلمات ونه ښيم چې الله ﷻ ته ډېر زيات خوښ دي؟ بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه (سبحان الله وبحمده) دی. رواه مسلم

تشريح: په يو بل روايت کې دي چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې يا رسول الله ﷺ کوم کلام ډېر غوره دی؟ ارشاد يې وفرمايلو: هغه کلام چې الله ﷻ خپلو پرښتو ته خوښ کړی دی، يعني (سبحان الله وبحمده) ويل.

سوال: په دې حديث کې (سبحان الله وبحمده) غوره کلام ښودل شوی دی، ليکن دمخه وړاندې د أبو هريره رضي الله عنه په حديث کې (سبحان الله والحمد لله ولا إله إلا الله والله اکبر) تر ټولو غوره کلام ښودل شوی دی او په يو بل دريم روايت کې دي چې صرف (لا اله الا الله) تر ټولو غوره کلام دی، په ټولو کې غوره کلام به يو وي، نو په ظاهره کې د دې احاديثو ترمنځ تعارض معلوميږي؟

جواب: د دې پوښتنې جواب مولانا منظور احمد نعماني رحمه الله داسې ورکړی دی چې په دې درې واړو روايتونو کې هيڅ اختلاف نشته، هغه داسې چې دا ټولې کلمې د خلکو د خبرو په مقابل کې غوره دي.

د سبحان الله والحمد لله اجر

"وعن أبي مالك الأشعري رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: الطُّهورُ شَطْرُ الإيمانِ، وَالحَمْدُ للهِ تَمْلأُ الميزَانَ" د ابو مالك اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پاکي او صفائي نيم ايمان دی، الحمد لله د ميزان تله ډکوي، "وَسُبْحَانَ اللهِ وَالحَمْدُ للهِ تَمْلآنِ - أَوْ تَمْلأُ - مَا بَيْنَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ" او (سبحان الله والحمد لله) دواړه د ميزان تله ډکوي او يا يې داسې وفرمايل: د آسمان او ځمکې مينځ ډکوي (دا شك د راوي له لورې دی). رواه مسلم

تشريح: الطهور شطر الإيمان: د (شطر) معنی نيم ده، يعنې کله چې يو انسان مسلمان شي، نو د هغه ټول صغيره او کبيره ګناهونه معاف شي، د طهارت نه مراد دلته اودس دی، ځوك چې اودس وکړي، د هغه صغيره ګناهونه معاف شي، نو ځکه دېته نيم ايمان وويل شو.

د الحمد لله مطلب:

والحمد لله تملأ الميزان: په الحمد لله سره به د قيامت په ورځ د ميزان تله ډرنه شي، الحمد لله د عظمت کلمه ده، د دې مفهوم او مراد هم علماوو مختلف بيان کړی دی، حقيقت دا دی چې د دوی په اقوالو کې هيڅ قسم اختلاف نشته، د ټولو يوه معنی مراد ده، مثلاً: امام راغب اصفهاني رحمه الله فرمايي: الحمد لله د الله جل جلاله عظمت سره د هغه فضيلت او ثناء ويل هم مقصود وي.

کعب احبار رحمه الله فرمايي: (الحمد لله) په حقيقت کې د الله جل جلاله ثناء ده، چا چې (الحمد لله) وويل هغه د الله جل جلاله ثناء بيان کړه.

امام طبري رحمه الله فرمايي: د الحمد لله معنی ده: خالص تعريفونه الله جل جلاله لره دي، هغه ذات دی چې ټوله نړۍ يې پيدا کړه او موږ ته رزق راکوي او په آخرت کې به مو جنت ته د همېش همېش لپاره داخلوي.

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: په (الحمد لله) کې الف لام د استغراق لپاره دی، مطلب دا چې جنس (حمد) او تعريف الله جل جلاله لره دی.

د سبحان الله مطلب:

سبحان اللّـــه تملاء الميزان: په سبحان الله سره هم د ميزان تله ډکيږي، ددې په مفهوم او مطلب کې هم علماء مختلف اقوال لري، په هغې کې يو څو دا دي: د طلحه ﷛ په روايت کې د رسول الله ﷺ نه د (سبحان الله) تعريف په دې الفاظو سره شوی دی: "تنزيه اللّـــه تبارك وتعالى من السوء" د سبحان الله مطلب دا دی چې الله ﷻ کريم ذات دی، د نقائصو، حدوث او ټولو خرابو صفتونو څخه قطعي طور پاک دی.

ملا علي قاري ﷫ فرمايي: د سبحان الله مطلب دا دی چې ټول هغه غلط صفتونه، خراب تعريفونه کوم چې د الله ﷻ د شان سره نه ښايي، د پاکۍ اظهار کول دي. قاضي فيروز آبادي ﷫ او علامه ابن منظور ﷫ فرمايي: د سبحان الله نه مقصود دا دی چې الله ﷻ د ښځې، بال بچ، مور ـ پلار او خپلوانو وغيره ټولو څخه پاك ذات دی، هغه: (لم يلدولم يولد) ذات دی، په يو بل روايت کې دا هم دي چې: (لاإله الا اللّـــه واللّـــه اکبر) چې په دې سره هم د آسمان او ځمکې ترمينځ خلاء د ثواب نه ډکيږي.

د الله ﷻ ثناء او د بنده دعاء

"وعن سعد بن أبي وقاص ﷛ قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ: عَلِّمْنِي كَلَامًا أَقُولُهُ. قَالَ: قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا، وَسُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ" د سعد بن أبي وقاص ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کوچی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، نبي کريم ﷺ ته يې وويل: يا رسول الله ﷺ! ماته يو څو داسې کلمې وښيه چې زه يې وايم، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: دا کلمات وايه: "لااله الاالله وحده لاشريك له الله اکبرکبيراً والحمد لله کثيراً وسبحان الله رب العالمين ولاحول ولاقوة الابالله العزيزالحکيم، قَالَ: فَهٰؤُلَاءِ لِرَبِّي، فَمَا لِي؟ قَالَ: قُلْ: اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي" دغه کوچي وويل: يارسول الله ﷺ! دا خو زما د رب لپاره شو، ماته څه شو؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دعاء کې بيا داسې وايه: اې الله ما وبخښې، په ما باندې رحم وکړې، ماته هدايت نصيب کړې او ماته رزق راکړې. رواه مسلم

تشريح: د حديث راوي ته په لفظ د (عافني) کې شك دی، دا روايت صحيح دی او که نه، د مسند بزار په يو روايت کې د (لاحول ولا قوة الا بالله العزيز الحکيم) په ځای (العلي العظيم) نقل دي او په اکثره روايتونو کې همدغه نقل دی، ليکن په مسند احمد کې (العلي العظيم) نقل دی.

هغه کوچي پوښتنه وکړه چې په دې کې خو صرف د الله ﷻ ثناء او صفت بيان شوی دی، زما لپاره پکې څه دي؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل چې ته خپل ځان ته دا دعاء وايه. "اللهم اغفرلي وارحمني واهدني وارزقني وعافني" ملا علي قاري ﷫ ددې مطلب داسې بيانوي چې اې الله! ته زما ګناهونه معاف کړې او ماته د طاعاتو توفيق نصيب کړې او زما ټول احوال درست کړې او ماته حلال رزق نصيب کړې او د ابتلاء او امتحان څخه مو وساتې.

د لمانځه نه وروسته استغفار

"وعن ثوبان ﷺ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلَاتِهِ اسْتَغْفَرَ ثَلاثاً، وَقَالَ: اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلامُ وَمِنْكَ السَّلامُ تَبَارَكْتَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ" د ثوبان ﷺ نه روايت دی فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت دا وو چې کله به د لمونځ نه فارغ شو، نو درې ځله به يې استغفار وويل، بيا به يې دا سې دعاء وکړه، اې الله ته سلام ذات يې او ستا له طرفه سلامتياده، برکت والا ذات يې، اې د جلال او عزت ذاته! "قِيلَ لِلْأَوْزَاعِيِّ -وَهُوَ أَحَدُ رواة الحديث-: كَيْفَ الاسْتِغْفَارُ؟ قَالَ: يقول: أَسْتَغْفِرُ اللهَ، أَسْتَغْفِرُ اللهَ" چا امام اوزاعي رحمه الله ته وفرمايل: څنګه استغفار به يې ويل؟ هغه ورته وويل: (استغفر الله استغفر الله). رواه مسلم

تشريح: د رسول الله ﷺ عادت دا وو چې کله به يې د لمانځه نه سلام واړولو، نو درې ځله به يې استغفار ويل، علماوو يې وجه دا ليکلې ده چې په دې ويلو کې اصلاً امت ته تعليم وو، مقصد چې د نېك عمل نه وروسته هم استغفار ويل پکار دي، ځکه چې په کوم ډول انسانانو ته د عبادت حکم دی، په هغه شکل او صورت يې دوی نه شي ادا کولی.

ځينو علماوو يې وجه دا بيان کړې ده چې په دې کې د رسول الله ﷺ عاجزي او خاکسارۍ ته اشاره ده:

شعر: آنانکه غني تراند محتاج تراند

د رسول الله ﷺ عمومي طور عادت مبارکه دا وو چې د استغفار نه وروسته به يې دغه مذکوره دعاء ويل: "اللهم أنت السلام" معلومه شوه چې استغفار په دعاء باندې وړاندې کول پکار دي.

د اللهم أنت السلام مطلب:

دا يوه ډېره ښکلې او جامع دعاء ده، ددې مطلب دا دی چې الله ﷻ د تغيراتو نه پاك دی او الله ﷻ د ټولو عيبونو او نقائصو او حوادثو نه پاك ذات دی، بل مطلب يې دا دی چې ټوله سلامتيا د الله ﷻ له طرفه ده، خلاصه دا شوه چې کله الله ﷻ د هر قسم عيبونو نه پاك دی، سلامتي هم د هغه له طرفه ملاوېږي، نو بيا بايد چې انسان د هغه ذات کريم نه وغواړي چې هغه د بنده په سوال کولو خوشحالېږي او په نه غوښتلو خفه کېږي.

ياذا الجلال: د مسلم په يو روايت کې حرف ندا پکې نشته، صرف ذا الجلال والاکرام دی، (ذوا په معنی د صاحب دی، ذو الجلال معنی ده، صاحب د بلندی او اوچت شان والا.

والاکرام: الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې اکرام او اعزاز کونکی دی، ځينو خلکو په دې پسې د خانه نوره اضافه هم کړې ده چې هغه: "إليك يرجع السلام فحينا ربنا بالسلام وادخلنا دار السلام" دی، ليکن دې باره کې علامه ابن الجوزي رحمه الله په کتاب الصحيح او ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې دا موضوعي او د ځان نه لا اصل له ګرځولی دی.

قيل للأوزاعي: د امام اوزاعي رحمه الله نه پوښتنې والا ابو الوليد دی.

الله ﷻ چې ورکړه کوي، څوکې نه شي منع کولی

"وعن المغيرة بن شعبة ﷺ: أنّ رسول الله ﷺ كان إذا فرغ من الصّلاة وسلّم، قال: لا إله إلّا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، وهو على كلّ شيء قدير، اللّهمّ لا مانع لما أعطيت، ولا معطي لما منعت، ولا ينفع ذا الجدّ منك الجدّ" د مغيره بن شعبة ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د لمانځه نه فارغ شو، نو داسې کلمات به يې ويل **ترجمه**: نشته لائق د عبادت مګر يو الله تعالى دى، هغه ذات شريک نه لري، بادشاهي او ستاينه هغه لره ده، هغه ذات په هر څه باندې قادر دى. اې الله! منع کونکى نشته هيڅوک د هغه شي کوم څه چې ته يې ورکوې او کوم څه چې تاسو منع کړې، نو بيا د هغې ورکوونکى څوک نشته. د هيڅ مالداره سړي مالداري به د الله ﷻ د عذاب نه څوک نه شي خلاصولی. متفق عليه

تشريح: إذا فرغ من الصلوة: رسول الله ﷺ چې به کله د لمانځه نه فارغ شو، نو دا دعاء به يې ويل، ددې نه مراد فرض لمونځ دى، دځينو په نزد نفل لمونځ مراد دى، ليکن د اکثرو په نزد فرض لمونځ دى، د رسول الله ﷺ نه چې کومې دعاګانې نقل دي، عموماً هغه د سنتو نه وروسته دي، د فرضو نه وروسته به رسول الله ﷺ مختصر دعاګانې کولې، علامه شامي رحمه الله فرمايي "ويكره تأخير السنة إلا بقدر: اللهم انت السلام الخ" په سنتو کې تاخير کول مکروه دي، ليکن د «اللهم انت السلام الخ ....» په اندازه تاخير جائز دى، په فتاوى عالمګيري کې دي چې «وفي الهندية عن الحجة الإمام إذا فرغ من الظهر والمغرب والعشاء يشرع في السنة لا يشغل بأدعية طويلة كذا في التاتارخانية».

ترجمه: په فتاوى هنديه کې د تاتارخانيه نه نقل دي چې کله امام د ماسپښين او ماښام او ماسخوتن لمونځونو څخه فارغ شي، نو د سنتو په ادا کولو کې بايد شروع وکړي، په اوږدو اوږدو دعاګانو کې بايد مشغول نه شي او په منية المصلي کې دي چې "فإن كان بعدها أي بعد مكتوبة تطوع يقوم إلى التطوع بلا فصل إلا مقدار ما يقول اللهم انت السلام الخ":

د فرضو نه وروسته که سنت وو، نو بيا بلاتوقف بايد چې د سنتو لپاره ودرېږي او سنت اداء کړي، صرف د فرضو نه وروسته د «اللهم انت السلام» په مقدار توقف کول صحيح دي، ددې مستندو حوالو نه دا خبره ثابته شوه چې د فرضو نه وروسته که سنت وو، نو مختصره دعا کول پکار دي، بيا د سنتو نه وروسته چې څومره دعاګانې زياتې کولی شي صحيح ده. د رسول الله ﷺ نه چې کومې اوږدې دعاګانې نقل دي هغه هم د نفلو نه وروسته دي.

ټول تعريفونه خالص يو الله ﷻ لره دي

"وعن عبد الله بن الزّبير رضي الله تعالى عنهما أنّه كان يقول دبر كلّ صلاة، حين يسلّم: لا إله إلّا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، وهو على كلّ شيء قدير" د عبد الله بن زبير ﷺ نه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ د هر فرض لمانځه وروسته چې به يې کله سلام واړولو، داسې کلمات به يې ويل **ترجمه**: نشته معبود سوا د الله ﷻ نه چې واحد لا شريك له ذات دى، ده لره بادشاهي ده او هم ده لره صفتونه دي، دا الله ﷻ

ذات په هر څه قدرت لري، "لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰـهِ، لَاإِلٰهَ إِلَّا اللّٰـهُ" نشته د ګناه نه مخ اوړېدل مګر د الله ﷻ په توفيق سره او نشته په نيکۍ باندې راتلل مګر دا هم د الله ﷻ په توفيق سره دي، "وَلَانَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ" مونږ عبادت نه کوو، مګر د همدې يو ذات عبادت کوو، "لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ" نعمتونه دده سره دي، فضل او بهتري هم دده سره ده او ښکلې ثناء او صفتونه هم ده لره لائق دي، "لَاإِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْكَرِهَ الْكَافِرُونَ" نشته لائق د عبادت سېوا د الله ﷻ نه، مونږ دغه الله ﷻ ته خپل عبادت خالص کونکي يو، اګر چې دا خبره په کافرانو باندې بده لګيږي، "قَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ: وَكَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُهَلِّلُ بِهِنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ" ابن زبير رضي الله عنه فرمايي: رسول الله ﷺ به په آخر کې (لا إله إلا الله) هم ورسره زياتول. رواه مسلم

تشريح: پورتنی دعاء هم د فرض لمانځه نه وروسته د ويلو معمول وو، امام شاطبي غرناطي رحمه الله (المتوفي ۷۰۹ هجري) فرمايي "فلا يشرع لهم دعاء بهيئة الاجتماع في آثار الصلوة دائماً ليعلمهم أو يعينهم على التعلم إذا صلى معه بل علم في مجالس التعليم" د رسول الله ﷺ دا معمول نه وو چې د لمانځه نه وروسته مقتديانو سره به يې په اجتماعي شکل دعاء غوښتل، ددې لپاره چې د دعاء طريقه معلومه شي، بلکې رسول الله ﷺ به د تعليم په حلقو کې خپلو صحابه وو ته دعاګانې ښودلې، فقهاوو ليکلي دي چې اصل په دعاء کې اخفاء ده، ليکن په څينو صورتونو کې په زوره دعاء غوښتل هم جائز دي، "ولانعبد إلا إياه" مونږ عبادت نه کوو مګر صرف د الله ﷻ، د ټولو مسلمانانو دا عقيده ده چې د الله ﷻ سره شريک نشته، نه په ذات کې نه په صفاتو کې او نه په افعالو کې، په هيڅ شي کې هم د الله ﷻ سره شريک نشته، دا تعليم مونږ ته په قرآن او په حديث کې بيان شوی دی، "له النعمة" په دې کې الف لام استغراقي دی، يعنې هر قسم نعمت هغه که وړوکی وي او که لوی وي، ټول د الله ﷻ له طرفه دي، يا ددې دا مطلب هم کېدی شي چې که د چا په زړه کې دا خبره راشي چې فلانکی شی خو ماته فلانکي راکړی دی، نو حقيقت دا دی چې هغه هم الله ﷻ تاته درکړی دی، "وله الثناء الحسن" الله ﷻ ته ښکلي تعريفونه دي، د الله ﷻ دومره ښکلي او زيات تعريفونه دي چې که څوک يې شمارل وغواړي، نو نه چا شمارلی شي او نه به يې څوک شمار کړی شي، رسول الله ﷺ هم په يوه دعاء کې داسې فرمايلي دي چې: اې الله! ستا تعريف همغسې دی څرنګه چې تا د خپل ځان تعريف کړی دی

په نېکو اعمالو کې مسابقه

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ أَتَوْا رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ، فقالوا: ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ بِالدَّرَجَاتِ الْعُلٰى، وَالنَّعِيمِ الْمُقِيمِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی فرمايي چې مهاجر صحابه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شول، وې ويل: يا رسول الله ﷺ مالدارو خلکو اوچتې درجې وګټلې او هميش نعمتونه ورته ملاويږي، "يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي، وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ" دوی هم لمونځونه کوي لکه څرنګه يې چې مونږ کوو او دوی هم روژې نيسي، لکه څنګه چې مونږ روژې نيسو، "وَلَهُمْ فَضْلٌ مِنْ أَمْوَالٍ، يَحُجُّونَ وَيَعْتَمِرُونَ، وَيُجَاهِدُونَ، وَيَتَصَدَّقُونَ" ليکن دومره ده چې دوی ته په مونږ باندې د مال په ذريعه فضيلت حاصل دی، هغه دا چې دوی حجونه

کوي، موږ يې نشو کولی، عمرې کوي، جهادونه کوي او صدقې ورکوي، "فَقَالَ: اَلاَ أُعَلِّمُكُمْ شَيْئًا تُدْرِكُونَ بِهِ مَنْ سَبَقَكُمْ، وَتَسْبِقُونَ بِهِ مَنْ بَعْدَكُمْ، وَلاَ يَكُونُ أَحَدٌ أَفْضَلَ مِنْكُمْ إِلاَّ مَنْ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُمْ؟" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ايا زه تاسو ته داسې عمل ونه ښيم چې ددې په ذريعه به تاسو په هغو کسانو پسې ورسيږئ کوم چې ستاسو نه په عملونو کې وړاندې شوي دي او د راتلونکو خلکو نه تاسو وړاندې شئ، ستاسو په شان به هيڅوک هم نه شي، مګر هغه څوک چې ستاسو په شان دغه عمل وکړي، "قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: تُسَبِّحُونَ، وَتَحْمَدُونَ، وَتُكَبِّرُونَ، خَلْفَ كُلِّ صَلاَةٍ ثَلاَثاً وَثَلاَثِينَ" هغوی ووېل: ولې نه يا رسول الله ﷺ! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د هر فرض لمانځه نه وروسته (سبحان الله، الحمد لله، الله اکبر) درې دېرش درې دېرش خله وايئ، "قَالَ أَبُو صَالِحٍ الرَّاوِي عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، لَمَّا سُئِلَ عَنْ كَيْفِيَّةِ ذِكْرِهِنَّ قَالَ: يَقُولُ: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، حَتَّى يَكُونَ مِنْهُنَّ كُلِّهِنَّ ثَلاَثاً وَثَلاَثِينَ" ابو صالح رضي الله عنه فرمايي چې د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت نقل کوي فرمايي: کله چې د ابو هريره رضي الله عنه نه پوښتنه وشوه چې په څه ترتيب سره ويل کيږي، نو هغوی ورته وفرمايل: سبحان الله درې دېرش خله اول پوره کړه! بيا الحمد لله درې دېرش خله او الله اکبر درې دېرش خله وايه! متفقٌ عَلَيْهِ

"وَزَادَ مُسْلِمٌ فِي رِوَايَتِهِ: فَرَجَعَ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ، فَقَالُوا: سَمِعَ إِخْوَانُنَا أَهْلُ الأَمْوَالِ بِمَا فَعَلْنَا فَفَعَلُوا مِثْلَهُ؟" او د مسلم رحمه الله په يو روايت کې لږ نور زياتي الفاظ هم شته، هغه دا چې غريبانان صحابه کرام د رسول الله ﷺ په خدمت کې بيا حاضر شول او وې ويل: يا رسول الله ﷺ! زموږ مالدارو ورونو هم هغه څه واورېدل کوم څه چې تاسو موږ ته ويلي وو، هغوی هم هغه عمل شروع کړو؟ "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا د الله ﷻ فضل دی او چاته يې چې وغواړي هغه ته يې ورکوي.

الدُّثُورُ جَمْعُ دَثْرٍ -بِفَتْحِ الدَّالِ وَإِسْكَانِ الثَّاءِ الْمُثَلَّثَةِ- وَهُوَ: الْمَالُ الْكَثِيرُ: الدثور معنی ده: مالداره سړي.

تشريح: د مسلم په يو روايت کې دي چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې: "وماذاك" هغوی څه کوي؟ صحابه وو وفرمايل چې: "يصلون مانصلي الخ" هغوی هم لمونځونه کوي لکه څرنګه چې موږ لمونځ کوو، رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د لمانځه نه وروسته دا تسبيحات وايئ، په ځينو رواياتو کې راغلي: "يصومون كما نصوم" په عمل اليوم والليلة کې د: "يذكرون كما نذكر" اضافه هم شوې ده، صاحب بزار د ابن عمر رضي الله عنهما په روايت کې د: "وصدقوا تصديقنا وآمنوا إيماننا" اضافه هم کړې ده.

دا تسبيحات څو ځله ويل پکار دي؟

ثلاثاً وثلاثين: د هر لمانځه وروسته ۳۳،۳۳ خله تسبيحات ويل پکار دي، ځينو ويلي دي چې درې واړه تسبيحات ۳۳ خله ويل پکار دي، هغه داسې چې ۱۱ خله سبحان الله، ۱۱ خله الحمد لله او ۱۱ خله الله اکبر، ليکن علامه کرماني رحمه الله او ابن المعز الحجازي رحمه الله وغيره وايي: هر يو تسبيح: ۳۳ ۳۳ خله ويل پکار دي، لکه څرنګه چې په ځينو رواياتو کې ددې تصريح شوې ده، مخې ته راتلونکې حديث نمبر: ۱۴۲۵ کې ددې ذکر دی، د اکثره محققينو علماوو رايه دا ده چې راجح قول همدغه دی.

علماء فرمايي: کوم مقدار او شمار چې په احاديثو کې ذکر شوی دی، ددې نه زيات په غفلت سره ويل پکار نه دي، حافظ زين الدين عراقي رحمه الله په شرح د ترمذي کې فرمايي: سهار او ماښام چې په کوم مقدار سره د مسنون ذکر ترتيب په احاديثو کې راغلی دی، په هغه مقدار او اندازه يې ويل پکار دي، د ثواب په خاطر يې مقدار زياتول صحيح نه دي

استاد احمد عبدالرحمن البنا الساعاتي رحمه الله فرمايي: هغه ذکرونه چې په شريعت کې د هغې يو خاص مقدار مقرر شوی دی، ددې مقدار او اندازې نه زيات ويل صحيح نه دي، ځکه چې په دې مقدار او اندازه کې به کوم خاص حکمت پټ وي چې هغه صرف صاحب شريعت ته معلوم دی او بس.

په يو څو دقيقو کې د ټولو ګناهونو معافي

"وعنه، عن رسول الله ﷺ، قَالَ: مَنْ سَبَّحَ اللَّهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ ثَلاثاً وَثَلاثِينَ، وَحَمِدَ اللَّهَ ثَلاثاً وَثَلاثِينَ، وَكَبَّرَ اللَّهَ ثَلاثاً وَثَلاثِينَ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د لمانځه وروسته درې دېرش ځله سبحان الله ووايي، درې دېرش ځله (الحمد لله) ووايي او درې دېرش ځله (الله اکبر) ووايي، "وَقَالَ تَمَامَ الْمِئَةِ: لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ" او بيا د سلو په آخر کې (لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شئ قدير) ووايي: "غُفِرَتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ" دده ټول ګناهونه به معاف کړی شي، اګر چې د سمندر د زګ په اندازه وي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: زبد: د سمندر زګ

تشريح: په دې حديث کې ۳۳ ځله سبحان الله، ۳۳ ځله الحمد لله، ۳۳ ځله الله اکبر او يو ځل: "لا إلــه إلا اللّــه وحده لاشريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير" راغلی دی او ددې نه وړاندې چې کوم ۱۴۲۲ والا حديث دی، په دې کې ۳۳ ځله سبحان الله، ۳۳ الحمد لله، ۳۴ ځله الله اکبر راغلی دی، دا دوه روايات علامه نووي رحمه الله نقل کړي دي، د احاديثو په کتابونو کې نور روايات هم په زيات اختلاف سره نقل شوي دي، ددې وجه دا ده چې د خلکو د اختلاف په بنياد رسول الله ﷺ هغوی ته ارشاد فرمايلی دی چې کوم کس ته څرنګه پکې اساني وي، هغه شان دې ووايي يا چې څنګه په احاديثو کې راغلي دي، هغه شان دې يې ولولي، کله اولنی، کله دويم کله دريم، ددې لپاره چې په ټولو احاديثو باندې عمل راشي

غفرت خطاياه: دا چې څوک ووايي، د هغه ټول ګناهونه معاف کيږي، اګر چې د سمندر د زګ برابر وي، د علماوو تحقيق دا دی چې په دې سره صغيره ګناهونه معاف کيږي، کبيره ګناهونه په توبې سره معاف کيږي، "وإن كانت مثل زبد البحر" اګر چې د سمندر د زګ برابر وي، دا جمله د مبالغې په توګه فرمايل شوې ده.

مقصد ته رسېدل

"وعن كعب بن عُجْرَة ﷺ، عن رسول الله ﷺ، قال: مُعَقِّبَاتٌ لا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ أَوْ فَاعِلُهُنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلاةٍ مَكْتُوبَةٍ" د كعب بن عجره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو څو كلمات دي چې د فرض لمانځه وروسته ويل كيږي چې ويونكی يې كله هم نامراده نه پاتې كيږي او يا يې داسې وفرمايل: كونكی يې كله هم نامراده نه پاتې كيږي، "ثَلاثٌ وَثَلاثُونَ تَسْبِيحَةً، وَثَلاثٌ وَثَلاثُونَ تَحْمِيدَةً، وَأَرْبَعٌ وَثَلاثُونَ تَكْبِيرَةً" دري دېرش خله سبحان الله ويل، دري دېرش خله الحمد لله ويل او څلور دېرش خله الله اكبر ويل رواه مسلم

لغوي تحقيق:

معقبات: باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: وروسته راتلل

تشريح: معقبات لا يخيب قائلهن: وروسته راتلونكي يو څو كلمې دي، څوك چې يې ووايي هغه به مراد ته ورسيږي، دغو كلماتو ته ځكه معقبات وويل شو چې دا يو تر بل وروسته ويلی شي، يعنې كومې چې د خوښې شي هغه اول ووايه، كومې چې دي خوښې شي، وروسته يې ووايه، هر ډول ويل يې جائز دي، په دې كې هيڅ ترتيب نشته، بله وجه يې دا ده چې دا مكرر او بار بار ويل كيږي، دريمه وجه يې دا ده چې د ګناه نه وروسته يې چې څوك ووايي د هغه ګناه معاف كيږي، څلورمه وجه يې دا هم ده چې دا د لمانځه نه وروسته ويل كيږي، دېته تسبيحات فاطمي هم ويل كيږي.

شيخ احمد سرهندي رحمه الله كوم چې په مجدد الف ثاني سره شهرت لري، په يو مكتوب كې فرمايي: د فرض لمانځه وروسته ددې ويلو حكمت زما فقير په نزد دا هم كېدی شي چې په لمانځه كې كومه كوتاهي شوې وي، د هغې كوتاهي تدارك وشي او د خپلې نالايقې او كوتاهي اعتراف پرې وكړل شي

أربع وثلاثون تكبيرة: په ځينو رواياتو كې ۳۴ خله د سبحان الله ذكر راغلی دی، په ځينو كې ۳۴ خله الحمد لله راغلی دی، ليكن ابن حجر رحمه الله فرمايي: "واتفاق الرواة على أن الأربع الثلاثين التكبير أرجح" يعنې د راويانو په دې اتفاق دی چې ۳۴ خله الله اكبر ويل پكار دي، ملا علي قاري رحمه الله الله اكبر يو خل زيات ويلو كې مصلحت دا دی چې په الله اكبر كې د الله ﷻ د عظمت او په كبريايي كې مبالغه ده.

د راوي كعب بن عجره ﷺ حالات:

اصل نوم يې كعب ﷺ دی، كنيت يې ابو محمد دی، د بلي خاندان سره يې تعلق درلود، حليه مباركه يې دا وه چې په يوه غزا كې يې لاس كټ شو، د سر وېښتان يې ګڼ وو، د هجرت نه وروسته مسلمان شو، بيا ددې نه وروسته يې د رسول الله ﷺ سره په ټولو جهادونو كې شركت كړی دی، په غزوه حديبيه كې يې هم شركت كړی دی، په سر باندې به يې دومره زيات وېښتان وو چې يو خل يې په سر كې دومره زياتې سپږې وشوې چې په مخ يې هم رواني وې، رسول الله ﷺ ورته د وېښتانو كمولو مشوره وركړه، هغوی كم كړل، د رسول الله ﷺ سره مينه او د دين حمايت يې ځانګړې صفتونه وو، يو

ځل د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، د لوږې له وجې د رسول الله ﷺ مخ مبارک تغير شوی وو، هغه پرې سمدستي پوه شو چې لوږې راخيستی دی، سمدستي پاڅېدو او د يو يهودي اوبه ئې د يو څو خورما په بدله کې اوبه ورکړې چې څه خورما جمع شوې، هغه يې رسول الله ﷺ ته کېښودې، وفات يې د ۷۵ کالو په عمر کې په مدينه منوره کې وشو، د روايت شوي احاديثو شمار يې تر ۴۷ پورې رسيږي.

په الله ﷻ سره پناه اخيستل

"وعن سعد بن أبي وقاص ﷺ: أنَّ رسولَ الله ﷺ كانَ يَتَعَوَّذُ دُبُرَ الصَّلَوَاتِ بِهؤُلاءِ الكَلِمَاتِ: اللّهُمَّ إني أَعُوذُ بِكَ مِنَ الجُبْنِ وَالبُخْلِ" د سعد بن أبي وقاص ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت مبارکه به دا وو چې د لمانځه وروسته به يې دا سې کلمات ويل: (ترجمه) اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د بې زړه توب او بخيلی نه، "وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ العُمُرِ" او اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د داسې عمر نه چې هغه ناکاره عمر وي، (چې بيا بل ته پکې محتاج وي)، "وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ القَبْرِ" پناه غواړم په تا سره د دنيا د فتنې او امتحان نه او په تا سره پناه غواړم د عذاب قبر نه. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

الجبن: د جبن معنی ده: بزدلي، بې زړه توب او بې غيرتي.

تشريح: الجبن: په دې حديث کې لفظ د (الجبن) راغلی دی کوم چې د شجاعت ضد دی، لفظ د (البخل) راغلی دی کوم چې د سخاوت ضد دی، جبن او بخل دواړه هغه صفات دي چې په يو مومن کې نه شي جمع کېدی، "أن أردَّ إلى أرذل العمر" د عمر آخري ساعتونو پورې رسېدل، يعنې دومره بوډا او کمزوری کېدل چې بيا خپله نشي ګرځېدلی، بلکې بل يې له لاسه نيسي، دا هغه زمانه وي چې انسان د ماشومانو په څېر حرکت کوي، په دې زمانه کې انسان ظاهري او باطني عبادات په صحيح او کامله توګه نه شي ادا کولی، نو ځکه د داسې عمر نه په الله ﷻ سره پناه اخيستل شوې ده، علي ﷺ فرمايي: ددې نه مراد ۷۵ کاله عمر دی، په دې عمر کې عمومي طور د انسان اندامونه کار پرېږدي

من فتنة الدنيا: په دنيا کې دومره مشغول شي چې الله ﷻ ترې هېر شي او د الله ﷻ د عباداتو څخه بند شي، په نفساني خواهشاتو پسې لېونی ګرځي، د فتنة الدنيا نه مراد همدا دی.

راوي سعد ﷺ به دا دعاء خپلو ټولو ماشومانو ته زده کول، "أعوذبك من فتنة القبر" په قبر کې هغه تکليفونه کوم چې په احاديثو کې ذکر دي، ددې نه په الله ﷻ سره پناه اخيستل مراد دي، د ځينو په نزد ددې نه مراد د منکر او نکير سوال او جواب مراد دی.

د رسول الله ﷺ معاذ ﷺ ته وصيت

"وعن معاذ ﷺ: أن رسُولَ الله ﷺ أخذ بيده وقال: يَا مُعَاذُ، وَاللهِ إني لأُحِبُّكَ فَقَالَ: أُوصِيكَ يَا مُعَاذُ لا تَدَعَنَّ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلاةٍ تَقُولُ" د معاذ ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ زما لاس ونيولو او راته يې

وفرمايل: اې معاذ ﷺ: قسم په الله! زه ستا سره مينه لرم او بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: اې معاذ ﷺ! زه تا ته د يو څو كلماتو وصيت كوم هغه دا چې د هر فرض لمانځه وروسته دا دعاء وايه: "اَللّٰهُمَّ أَعِنِّي عَلٰى ذِكْرِكَ، وَشُكْرِكَ، وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ" اې الله! زما مدد وكړې ستا په ذكر كولو كې او ستا په شكر ادا كولو كې او ستا په ښكلي شان عبادت كولو كې. رواه أبوداود بإسناد صحيح.

تشريح: على ذكرك: ابن حجر رحمه الله فرمايي: په دې كې د قرآن كريم تلاوت بلكې ټول ذكرونه شامل دي، "وشكرك" انسان بايد د الله ﷻ په ټولو نعمتونو باندې شكر وباسي، خواه د هغه نعمت تعلق د دنيا سره وي يا د آخرت سره وي، كه ظاهري وي يا باطني وي، د الله ﷻ خو دومره زيات نعمتونه دي چې كه د هغې شمار وكړل شي نو نه يې شي شمارلى، په قرآن كريم كې ارشاد دى: "وإن تعدوا نعمت الله لاتحصوها" كه تاسو د الله ﷻ نعمتونه شمارل غواړئ، نو نه يې شئ شمارلى، په يو يو نعمت كې دومره نعمتونه پټ دي چې د هغې شمار هم ناممكن دى، مثلاً د سترګو نعمت چې خپله په دې نعمت كې بې شماره نعمتونه پټ دي.

وحسن عبادتك: ددې مطلب دا دى چې د الله ﷻ عبادت بايد په داسې شان سره وشي چې د هغه ټول شرطونه او آداب ملحوظ وساتل شي، بيا وروسته د هغې بيان هم كول پكار نه دى، ځكه چې دېته رياري كاري وايي او په رياكارى سره د عبادتونو ثواب ختميږي.

د ژوند او مرګ د فتنو نه په الله ﷻ سره پناه اخيستل

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: إِذَا تَشَهَّدَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ مِنْ أَرْبَعٍ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې په تاسو كې كوم كس د (التحيات لله) نه فارغ شي، نو بايد چې هغه په الله ﷻ سره د څلورو شيانو د شر نه پناه وغواړي، "يقول: اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ" داسې به وايي: اې الله ﷻ! زه پناه غواړم په تا سره د جهنم د عذاب نه او د قبر د عذاب نه، "وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ" او د مرګ او ژوند د امتحانونو نه او د شر د دجال نه. رواه مسلم.

تشريح: فليستعذ: په څينو نورو رواياتو كې د: (قل) يا (فليقل) الفاظ هم وارد شوي دي، دا دواړه د امر صيغې دي، په دې وجه د طاؤس رحمه الله په نزد په تشهد كې د درود نه وروسته دعاء لوستل واجب دي، ليكن جمهور علماء دېته مستحب وايي او دغه ډول روايات په تنبيه باندې حمل كوي.

عذاب جهنم: جهنم هغه ځاى دى چې د قيامت په ورځ به كافران او فاسقان خلك پكې جمع كيږي، د جهنم عذاب يې د اهميت له كبله وړاندې ذكر كړو، "عذاب القبر" د اهل سننت والجماعت دا عقيده ده چې د قبر عذاب حق دى، ليكن معتزله ترې انكار كوي، د قرآن كريم اشارات او د رسول الله ﷺ متواتر احاديث د قبر په عذاب باندې دلالت كوي كوم چې د تواتر حد ته رسېدلې خبره ده چې د عذاب قبر منكر كافر دى.

من فتنة المحيا والممات: دلته تعميم بعد التخصيص دی، ځکه چې د مرګ په فتنه کې د قبر عذاب هم داخل دی، په فتنة المحيا کې فتنة الدجال هم داخل دی، خلاصه دا شوه چې د دجال فتنه او د قبر عذاب د سختۍ له امله يو ځل بيا ذکر شو.

من شر فتنة المسيح الدجال: د مسيح لفظ اطلاق په عيسى عليه السلام باندې هم کيږي او په دجال باندې هم کيږي، فرق دا دی چې چېرته د شر او فتنې سره د مسيح ذکر وي هلته به دجال مراد وي، لکه څرنګه چې په پورتنې حديث کې دي، بله وجه يې دا ده چې د هغه يوه سترګه به مسح شوې وي، يعنې ړنده به وي، بل فرق يې دا دی چې مسيح د سفر نه دی، دجال به هم په ډېره ځمکه پرته له حرمين شريفين ځخه سفر وکړي.

د التحيات آخريني دعا

"وعن علي رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ، إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يَكُونُ مِنْ آخِرِ مَا يَقُولُ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَالتَّسْلِيمِ" د علي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت مبارکه دا وو چې د تشهد ختمولو وروسته او د سلام نه مخکې به يې دا دعاء ضرور کول "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ" اې الله جل جلاله زما هغه ګناهونه معاف کړې چې ما مخکې کړي دي او کوم چې به وروسته راځخه کيږي او کوم چې مې په پټه کړي دي او کوم چې مې په ښکاره کړي دي، "وَمَا أَسْرَفْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ، وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ" او کوم اسراف چې زمانه شوی وي او کوم ګناهونه چې زمانه هېر دي او تاسو ته يې دي هغه راته معاف کړئ، تاسو مقدم او مؤخر ذات يئ، ستاسو نه سوا بل کوم ذات د عبادت لائق نشته. رواه مسلم

تشريح: اللهم اغفرلي: رسول الله ﷺ به ولې استغفار کولو، حال دا چې د دوی واړه او لوی ټول ګناهونه معاف دي، بلکې دوی خو معصوم دي؟

جواب: الله جل جلاله رسول الله ﷺ ته د امت احوال وښودل، د دوی له طرفه رسول الله ﷺ استغفار وايي، يا دا چې دوی ته وښودل شول چې د دوی نه وروسته به د دښمنانو سره سخت جنګونه کيږي، نو ځکه يې استغفار کولو يا دا چې الله جل جلاله فرمايي "إن الله يحب التوابين" الله جل جلاله مينه ساتي د توبه کونکو سره، نو ځکه به رسول الله ﷺ استغفار ويلو چې نور هم د الله جل جلاله محبوب بنده جوړ شي

عباراتنا شتى وحسنك واحد .... وكل إلى ذاالجمال يشير

ترجمه: زموږ عبارتونه مختلف دي، خو ستا ښايست يو (دا سې ښايست چې بل څوک يې نه لري) دی او هر سړی ښايسته سړي ته (د ښايست ځښتن ته) اشاره کوي

ما قدمت وما أخرت: وړاندې چې کومې کوتاهۍ شوې دي يا وروسته چې کوم ګناهونه کيږي، د (قدمت) نه هغه ګناهونه مراد دي چې ده په خپل ژوند کې کړي وي او د (اخرت) نه مراد هغه ګناهونه دي چې خلک يې دده په وجه کوي، لکه سينما يې جوړه کړي، وه يا د ګمراهۍ بله کومه ذريعه يې خلاصه

کړې دي، يا دا چې د (قدمت) نه مراد د ماضي ګناهونه دي او د (اخرت) نه مراد د مستقبل ګناهونه دي.
أنت المقدم: ددې مطلب دا دی چې الله ﷻ چاته توفيق ورکړي، "وانت المؤخر" چې چا سره الله ﷻ مرسته کول نه غواړي هغه پريږدي

په رکوع او سجده کې دعاګانې

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ" د عائشې ﷞ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به خپله په رکوع او سجده کې داسې کلمات ويل: "سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْلِي" پاکي ده خدايه تا لره او صفتونه دي تا لره اې الله! ماته بخښنه وکړې. متفق عليه

تشريح: په دې حديث کې د رکوع يا سجدې په حالت کې د دعاء چې کوم حکم دی، ددې نه وراندې په دې مسئله ځان پوهول پکار دي چې دعاء په دوه قسمه ده: (۱) د الله ﷻ حمد، ثناء او تکبير ويل دي، (۲) خپل مطلب او مراد د الله ﷻ نه غوښتل، په احاديثو کې چې د دعاء غوښتلو کوم حکم دی، هغه دې دواړو ته شامل دی، ليکن احناف ﷭ فرمايي: په رکوع او سجده کې خالص تسبيحات ويل پکار دي، ځکه چې په يو بل روايت کې دي: "من شغله ذكر عن مسئلتي اعطيته افضل ما أعطي السائلين" کوم کس چې د ذکر په وجه زما نه د سوال کولو نه منع شي، نو زه به هغه ته د هغه چانه ډېر ښه ورکړم کوم بې چې چاته په سوال ورکوم، ليکن ځينې نور محققين فرمايي: په نفلونو کې دعاګانې غوښتل پکار دي او په فرضو کې خالص تسبيحات ويل پکار دي، حافظ ابن حجر ﷭ فرمايي بورتنی دعاء به رسول الله ﷺ د لمانځه څخه پرته په نورو حالاتو کې هم کول.

په رکوع کې سبوح قدوس ويل

"وعنها: أنَّ رسول الله ﷺ كَانَ يقولُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ" د عائشه ﷞ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به په خپله رکوع او سجده کې داسې کلمات ويل: "سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ" زما رکوع زما سجده د نظافت او پاکيزګۍ بې مثال ذات چې د ملائکو او جبرئيل ﷷ رب دی د هغه لپاره ده. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

سبوح: باب تفعيل دی، د الله ﷻ پاکي بيانول، قدوس باب کرم يکرم دی، ددې معنی ده: پاک او برکت والا ذات چې الله ﷻ دی.

تشريح: سبوح: دا د سين په پېښ او زبر دواړو طريقو سره ويل صحيح دي، ليکن په پېښ بې ويل غوره دي.

سبوح: د الله ﷻ په صفتي اسماوو کې يوم نوم دی، همدغه خبره علامه جوهري ﷭ هم ليکلې ده، ليکن ابن فارس ﷭ او زبيري ﷭ وايي: دا د الله ﷻ ذاتي نوم دی، سبوح معنی ده:

هغه ذات چې د ټولو نقائصو او د شريك نه پاك وي، د (قدوس) معنى ده: پاك، د سبوح او قدوس نږدې نږدې معناګانې دي، ځينې علماء فرمايي: (قدوس) د (سبوح) څخه د زيات تاكيد لپاره راوړل شوى دى او ځينې نور علماء فرمايي: د سبوح نه مقصود د الله ﷻ ذات د ټولو نقائصو نه پاك بيانول دي او قدوس نه مقصود د الله ﷻ صفات د ټولو نقائصو څخه پاك بيانول دي.

رب الملائكة والروح: ملائكه پرښتو ته وايي، د روح ډېرې معناګانې دي، ځينې وايي: ددې نه مراد جبرئيل عليه‌السلام دى، ځكه چې په قرآن كريم كې عموماً د روح نه مراد جبرئيل عليه‌السلام دى، مثلاً "تنزل الملائكة والروح فيها" ځينې نور وايي: ددې نه كومه خاص پرښته مراد ده.

د دعاء قبلېدو ځاى

"وعن ابن عباس رضي اللّه عنهما: أنّ رسولَ الله ﷺ، قَالَ: فَأَمَّا الرُّكُوعُ فَعَظِّمُوا فِيهِ الرَّبَّ ﷻ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په ركوع كې د خپل رب لويي او عظمت بيان كړئ "وَأَمَّا السُّجُودُ فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ، فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ" او په سجده كې د خپل رب نه دعاء وغواړئ ځكه چې توقع ده چې هغه دعاء قبوله شي. رواه مسلم

تشريح: فأما الركوع فعظموا فيه الرب: په ركوع كې د خپل رب تعظيم كوئ؛ محدثين ددې جملې مقصد دا بيانوي چې په ركوع كې: "سبحان ربي العظيم" وايئ، ځكه چې په دې كې د رب تعظيم دى، كم نه كم يو ځل يې ويل واجب دي، درې ځله يې ويل سنت دي او ددې نه زيات ويل يې مستحب دي

فأما السجود فاجتهدوا في الدعاء: د سجدې په حالت كې انسان الله ﷻ ته ډېر نږدې وي، په دې كې انسان خپله خاكساري او ذلت بيانوي، الله ﷻ چې د بنده دا حالت ويني، نو ډېر زيات خوشحاليږي، په داسې حالت كې چې انسان كومه دعاء وغواړي، الله ﷻ ضرور هغه دعاء قبلوي، د رسول الله ﷺ عام طور عادت دا وو چې د ركوع په حالت كې به يې (سبحان ربي العظيم) ويل او په سجده كې به يې (سبحان ربي الاعلى) ويل، ليكن كله كله به يې ددې برعكس نور تسبيحات هم ويل، ليكن احناف رحمهم الله فرمايي: دا دعاګانې او تسبيحات به يې په نفلو او تهجدو كې ويل.

په سجده كې د دعا كولو حكم

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أنّ رسول الله ﷺ، قَالَ: أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ، فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د سجدې په حالت كې بنده الله ﷻ ته ډېر زيات نږدې وي، په دې حالت كې د الله ﷻ نه سوال كوئ. رواه مسلم

تشريح: په يو بل روايت كې دي چې د آدم عليه‌السلام د پيدا كېدو سره سم اولنى حكم هم ددې سجدې وو، نو اوس چې هر څوك دغه اولنى حكم په ځاى كوي، هغه هغومره الله ﷻ ته نږدې وي، ځينې نور علماء فرمايي: د عبادت دوه حالاته دي: يو د سجدې حالت دى او بل د سجدې نه پرته عام

حالت دي، نو اوس د حديث مطلب دا شو چې انسان د سجدې په حالت کې ډېر زيات الله ﷻ ته نژدې وي په نسبت سره عامو حالاتو کې.

ځينې نور علماء داسې وجه بيانوي چې د سجدې په حالت کې انسان ډېر زيات د خاکسارۍ او عاجزۍ په حالت کې وي، ځکه چې انسان خپل مشرف ځاى يعنې سر الله ﷻ ته په سجده ږدي، الله ﷻ ته دا حالت ډېر زيات خوښ دى، په دې حالت کې انسان الله ﷻ ته ډېر نژدې وي، علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: د قرب نه مراد مسافت يا مکان وغيره نه دى، ځکه چې الله ﷻ د زمان او مکان څخه پاک ذات دى، دلته د قرب نه مراد شرافت او کرامت دى، "فأكثروا الدعاء" د سجدې په حالت کې زياتې دعاګانې کوئ، ځکه چې په دې حالت کې دعاء قبليږي، ليکن علماء فرمايي: يو خو دعاء په عربۍ ژبه غوښتل پکار دي، بل دا چې په نفلي لمونځونو کې بايد وغوښتل شي، نه په فرض لمانځه کې.

په سجده کې اللهم اغفرلي ذنبي کله الخ... لوستل کيږي؟

"وعنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُولُ فِي سُجُودِهِ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت مبارکه دا وو چې کله به سجدې ته لاړو، نو په سجده کې به يې داسې دعاء کوله: اې الله ﷻ! زما ټول ګناهونه معاف کړې! "دِقَّهُ وَجِلَّهُ، وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، وَعَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ" که واړه وي او که لوى ګناهونه وي او که اولني دي او که آخريني دي، په پټه وي او که په ښکاره وي. رواه مسلم

تشريح: ذنبي کله: ټول ګناهونه مي معاف کړه! په دې کې د ټولو ګناهونو نه د معافۍ غوښتلو بيان دى، وړاندې ددې تفصيل دى "دقه وجله" وړوکي او لويه ګناه مي معاف کړې!

سوال: ولې يې واړه ګناهونه مخکې ذکر کړل او لوى ګناهونه يې وروسته ذکر کړل؟

جواب: انسان لومړى د وړوکي شيانو سوال کوي، بيا وروسته د غټو شيانو سوال کوي، بل جواب دا دى چې لوى ګناهونه عموماً په وړوکي ګناه باندې د اصرار او هميشه والي له وجې جوړيږي، يا دا چې وړوکي ګناهونو ته څوک زياته توجه کوي، نو په لويو ګناهونو کې مبتلاء شي، نو ځکه وړوکي ګناهونه په لويو ګناهونو مقدم کړى شو، بله اهمه وجه يې دا هم ده چې که انسان د وړوکي ګناهونو نه ځان وساتي، نو د لويو ګناهونو نه بيا په اسانۍ سره بچ کېدى شي او که يو انسان د وړو ګناهونو نه ځان نه شي ساتلى، نو هغه به د لويو ګناهونو نه څنګه ځان وساتي.

وعلانيته وسره: که په ښکاره مي کړي وي او که په پټه، هغه ټول ګناهونه زما نه معاف کړې، دا جمله انسان د خپل ځان په اعتبار سره وايي، کنه په حقيقت کې د الله ﷻ نه هيڅ شى پټ نه دى، الله ﷻ ته سر او علانيه، هر څه برابر دي، "فإنه يعلم السر وأخفى" بې شکه چې الله ﷻ پټه خبره هم پيژني او د پټه نوره زياته پټه خبره هم پيژني.

په رکوع او سجده کې دعاګانې

"وعن عائشة رضي اللّٰـهُ عنها، قالت: افْتَقَدْتُ النَّبِيَّ ﷺ، ذَاتَ لَيْلَةٍ، فَتَحَسَّسْتُ، فَإِذَا هُوَ رَاكِعٌ أَوْ سَاجِدٌ يَقُولُ: سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ، لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه شپه رسول الله ﷺ زمانه بې درکه شو، ما په ځای باندې لټولو، نو هغه مي داسې حال کې وموندلو چې هغه رکوع کونکی وو او يا سجده کونکی وو (دا شک د راوي له طرفه دی) په دې کې يې داسې دعاء وويل: پاکي ده خدايه تا لره او صفتونه دي اې الله تا لره نشته لائق د عبادت سِوا ستا نه! "وفي رواية: فَوَقَعَتْ يَدِي عَلَى بَطْنِ قَدَمَيْهِ، وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ وَهُمَا مَنْصُوبَتَانِ، وَهُوَ يَقُولُ" په يو بل روايت کې دي چې زما لاسونه د هغوی د پښو په تلو باندې ولګېدل په داسې حال کې چې هغوی په سجده باندې خپل سر رب ته اېښې وو او دواړه پښې مبارکې يې په پنجو باندې ولاړې وې، هغه دا دعا ويل: "اللَّهُمَّ إنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ" اې الله ﷻ! زه ستا سو د رضاء په ذريعه ستاسو د ناراضګی نه پناه غواړم، "وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ" او ستا د عفو په ذريعه ستا د عذاب نه پناه غواړم، زما د پناه ځای خدايه هم دا ته يې، "لاَ أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ" زه ستا د تعريف او ثناء ويلو نه داسې عاجز يم، لکه څرنګه چې تاسو يې په خپل ځان باندې وايئ! رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

منصوبتان: درول شوي.

تشريح: على بطن قدميه: په يو بل روايت کې دي چې: "على بطن قدمه" د دواړو مفهوم يو دی، په يو بل روايت کې (على بطن قدميه) هم راغلی دی، احناف د دې جملې نه استدلال کوي چې په سړي پورې د ښځې لاس لګېدل ناقض وضوء نه دي، يعني په دې سره اودس نه ماتيږي.

وهو في المسجد: رسول الله ﷺ په سجده الله ﷻ ته پروت وو، يعني رسول الله ﷺ په کور کې د نفلو لپاره يو ځانګړی ځای مقرر کړی وو.

لا أحصي ثناء عليك: يعني زه ستا تعريف هغه شان کولو نه عاجز يم کوم شان چې ته د تعريف مستحق يې، يا دا مطلب چې زه ستا د يو نعمت تعريف هم نشم بيانولی، علامه سيوطي رحمه الله د دې بيان داسې کړی دی چې اې الله! زه ستا د تعريف احاطه نشم کولی، لکه څرنګه چې په حديث د شفاعت کې راځي چې: "فأحمد بمحامد لا أقدر عليها الآن" زه به د قيامت په ورځ د الله ﷻ داسې تعريف وکړم چې اوس پرې قادر نه يم.

أنت كما أثنيت على نفسك: لکه څنګه چې تاسو ذات د هغه تعريف مستحق يئ اې الله! په دې جمله کې د انسان عاجزی او خاکساری ته اشاره ده. انسان ته پکار ده چې که يو طرف د الله ﷻ تعريف بيان کړي، نو بل طرف بايد استغفار ووايي چې اې الله! ما ستا هغه شان تعريف ونه کړو، لکه څرنګه چې تاسو د تعريف مستحق يئ.

په يوه ورځ زر نېکۍ

"وعن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه قال: كنا عند رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: أيعجز أحدكم أن يكسب في كل يوم ألف حسنة؟ فسأله سائل من جلسائه: كيف يكسب ألف حسنة؟" د سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې يوه ورځ موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو، نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ايا تاسو ددې خبرې نه عاجز يئ چې تاسو هره ورځ زر نېکۍ وګټئ؟ په ناستو ملګرو کې يو کس پوښتنه وکړه چې څنګه به زر نېکۍ په يوه ورځ ګټو؟ "قال: يسبح مئة تسبيحة فيكتب له ألف حسنة، أو يحط عنه ألف خطيئة" نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: سل ځله سبحان الله ويلو سره، ددې په ويلو سره به د هغه په عملنامه کې زر نېکۍ وليکل شي او يا به يې وفرمايل: سل ګناهونه به ورته معاف شي. رواه مسلم

"قال الحميدي: كذا هو في كتاب مسلم: أو يحط قال البرقاني: ورواه شعبة وأبو عوانة ويحيى القطان عن موسى الذي رواه مسلم من جهته فقالوا: ويحط بغير ألف" محدث حميدي ويلي دي چې په صحيح مسلم کې (او يحط) د راوي شك دى، ليكن برقاني فرمايي: شعبه، ابو عوانه او يحيى بن قطان د هغه موسى نه نقل کوي چې مسلم ترې روايت نقل کړى دى. هغوى وايي (ويحط) د همزې څخه بغير دى.

تشريح: فيكتب له ألف حسنة: په دې روايت کې يكتب لفظ په (ي) سره نقل شوى دى. دغه شان په جامع الاصول کې دي، ليکن په مسلم او د احاديثو په نورو کتابونو کې تكتب يعني په (ت) سره نقل دى، ليکن په معنى کې يې څه خاص فرق نه راځي.

يسبح مائة تسبيحة فيكتب له ألف حسنة: سل ځله چې سبحان الله ووايي، نو په عملنامه کې به يې زر نېکۍ وليکل شي، د يوې نېکۍ بدله لس چنده ده او دا کمه درجه ده، "من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها" ځکه چې په يوه نېکۍ عمل وکړي، هغه ته به لس چنده ثواب ليکلى شي، اوس که چېرته (او يحط) ولوستل شي، نو د حديث مفهوم به داسې شي چې په دوه خبرو کې به يوه خبره وي: يا به زر نېکۍ ورته په عملنامه کې وليکل شي او يا به ترې زر ګناهونه معاف کړل شي، که چېرته (ويحط) وويل شي، نو په دې صورت کې به مفهوم داسې شي چې زر نېکۍ به هم ورته په عملنامه کې وليکل شي او زر ګناهونه به يې هم معاف شي، ددې دويم روايت تائيد د نسائي، ترمذي، احمد او ابن حبان وغيره نه هم کيږي، ځکه چې په دې ټولو کې (ويحط) الفاظ دي.

سوال: روايت هم يو دى او راوي هم يو دى، نو بيا دا دومره اختلاف ولې دى؟ ځکه چې په کلمه د (او) او کلمه د (و) کې د مفهوم او معنى اختلاف پيدا کيږي؟

جواب: د عربو په کلام کې (او) د (و) په ځاى استعماليږي.

د راوي الحميدي، البرقاني، شعبة او د ابوعوانه رحمة الله عليه حالات:

حميدي: هغه کس دى چې د بخاري رحمة الله عليه او مسلم رحمة الله عليه روايات يې يو ځاى جمع کړي دي، خپل کتاب ته يې کتاب الحميدي نوم ورکړى دى، د ابن حزم رحمة الله عليه په شاګردانو کې دى، د خپل وخت

مشهور محدث وو، ولادت یې په ۳۸۰ هجري کې شوی دی او وفات یې په ۴۸۸ هجري کې شوی دی.

البرقاني: اصلي نوم یې ابو بکر احمد بن محمد غالب الخوارزمي البرقاني الشافعي رحمه الله دی، خطيب بغدادي رحمه الله فرمايي: ثقه وو، ډېر زيات متقي وو، دده په شان انسان ما په مشائخو کې نه دی ليدلی، الله تعالی په فقه کې ورته پوره عبور ورکړی وو، د ډېرو کتابونو مصنف دی، ولادت یې په ۳۳۳ هجري کې شوی دی او وفات یې په ۴۲۵ هجري کې شوی دی.

شعبة: د دوی اصلي نوم شعبة الحجاج بن الورد العتکي دی، سفيان ثوري رحمه الله فرمايي: شعبة امير المومنين في الحديث دی، انتقال یې په ۱۲۰ هجري کې شوی دی.

ابوعوانه: اصل نوم یې وضاح بن عبد الله يشکري رحمه الله دی، په دوی باندې اتفاق دی چې ثقه راوي دی، د ربيع الاول په مياشت کې په ۱۷۲ هجري کې وفات شو، په بصره کې اوسېدلو، امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي: دده په شان محدث ما نه دی ليدلی، "هو إمام أهل زمانه" د خپلې زمانې لوی امام وو.

دبدن صدقه

"وعن أبي ذر رضي الله عنه: أنَّ رسولَ الله ﷺ، قال: يُصْبِحُ على كُلِّ سُلَامَى مِن أحدِكُم صَدَقَةٌ" د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په انسان باندې چې سهار شي نو د هر بند په بدله کې یې يوه صدقه ورکول واجب دي، "فكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ، وكُلُّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ، وكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ، وكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ" نبي کريم ﷺ بيا وفرمايل: سبحان الله صدقه ده، (الحمد لله) ويل صدقه ده او لا إله إلا الله، ويل صدقه ده او الله اکبر) ويل صدقه ده، "وأمْرٌ بالمعْرُوفِ صَدَقَةٌ، ونَهْيٌ عنِ المُنْكَرِ صَدَقَةٌ، ويُجْزِئُ مِن ذلكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُما مِنَ الضُّحَى" او په نېک کار امر کول صدقه ده او د بد کار څخه منع کول صدقه ده او ددې ټولو نه دوه رکعته کول د څاښت په وخت کې ددې ټولو قائم مقام ګرځي. رواه مسلم.

تشريح: کل سلامی: سلامی په اصل کې د بدن اندامونو ته وايي، د مسلم په يو روايت کې ددې نور وضاحت هم راغلی دی: "عن عائشه رضي الله عنها ان رسول الله ﷺ قال: خلق الانسان على ستين وثلث مائة مفصل على كل مفصل صدقة الخ..." عايشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی په انسان کې درې سوه شپېته بندونه پيدا کړي دي، د هر بند په بدله کې په هغه باندې صدقه ورکول واجب دي، قاضي عياض رحمه الله فرمايي: کله چې الله تعالی ته بنده ته روغ او سلامت بندونه ورکړه او بيا يې په سابقه حالت باندې ورته پرېښودل، نو اوس په هغه باندې لازم دي چې د الله تعالی شکر ادا کړي.

رکعتان: دوه رکعته: دوه رکعته د څاښت لمونځ کول د درې سوه شپېتو بندونو صدقې برابر ګرځي، ځکه چې لمونځ داسې عبادت دی چې د بدن ټول بندونه پکې مشغول وي، ددې نه مراد د څاښت لمونځ دی، معلومه شوه چې د څاښت د لمانځه اهتمام پکار دی، ځکه چې ددې په برکت سره د بدن د اندامونو کفاره جوړېږي، په يو بل روايت کې دي چې څوک د څاښت دولس رکعاتو اهتمام

کړي نو الله ﷻ ورته په جنت کې د سرو زرو بنګله/ مانۍ جوړه کړي، په يو بل روايت کې دي چې څوک د څاښت دوه رکعته عادت جوړ کړي، نو د ده ټول ګناهونه معاف شي، اګرچې د سمندر د ځګ برابر ولې نه وي

څلور درنې کلمې

"وعن أم المؤمنين جُوَيرِيَةَ بنت الحارث رضي الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا بُكْرَةً حِيْنَ صَلَّى الصُّبْحَ وَهِيَ فِي مَسْجِدِهَا، ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ أَنْ أَضْحَى وَهِيَ جَالِسَةٌ" د ام المؤمنين جويرية بنت الحارث ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي: يوه ورځ چې کله رسول الله ﷺ د سهار لمونځ وکړو، نو سهار بهر ته لاړو، وايي: زه په جومات کې ناسته وم چې بيا وروسته نبي کريم ﷺ تشريف راوړو، په داسې حال چې د څاښت وخت شو او هغه خپله ناسته وه، "فَقَالَ: مَا زِلْتِ عَلَى الحَالِ الَّتِي فَارَقْتُكِ عَلَيْهَا؟ قَالَتْ: نَعَمْ!" نبي کريم ﷺ ترې پوښتنه وکړه: اې جويره ﷺ ته په همدې ځای تو اوسه ناسته يې؟ چېرته تللې نه يې؟ هغې وويل هو- "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ مُنْذُ اليَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ما ستاسو نه پس څلور کلمې درې ځله داسې ويلي دي چې که نن تاسو څومره کلمې ويلي دي د هغې سره وزن کړی شي نو دا به پرې درنې وي او هغه کلمې دا دي: "سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ" پاکي ده الله ﷻ لره او صفتونه دي الله ﷻ لره په اندازې د مخلوقاتو د هغه، "وَرِضَا نَفْسِهِ، وَزِنَةَ عَرْشِهِ، وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ" په اندازې د هغه د مرضی، د عرش د وزن برابر او د هغه د کلماتو مطابق. رواه مسلم

"وفي رواية له: سُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ خَلْقِهِ، سُبْحَانَ اللهِ رِضَا نَفْسِهِ، سُبْحَانَ اللهِ زِنَةَ عَرْشِهِ، سُبْحَانَ اللهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ" او په يو بل روايت کې داسې هم شته چې: پاکي ده الله ﷻ په اندازې د مخلوق دده، پاکي ده الله ﷻ لره په اندازې د مرضی د هغه، پاکي ده الله ﷻ لره د عرش د وزن مطابق او پاکي ده الله ﷻ لره د هغه د کلماتو مطابق.

"وفي رواية الترمذي: أَلَا أُعَلِّمُكِ كَلِمَاتٍ تَقُولِينَهَا؟ سُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ خَلْقِهِ، سُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ خَلْقِهِ، سُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ خَلْقِهِ" او په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ جويرية ﷺ ته وفرمايل: ايا زه تاته يو څو کلمات ونه ښيم، داسې وايه: اې الله ﷻ تا لره پاکي ده په اندازې د مخلوقاتو ستا، "سُبْحَانَ اللهِ رِضَا نَفْسِهِ، سُبْحَانَ اللهِ رِضَا نَفْسِهِ، سُبْحَانَ اللهِ رِضَا نَفْسِهِ" اې الله! پاکي ده تا لره په اندازې د مرضی ستا، "سُبْحَانَ اللهِ زِنَةَ عَرْشِهِ، سُبْحَانَ اللهِ زِنَةَ عَرْشِهِ، سُبْحَانَ اللهِ زِنَةَ عَرْشِهِ" او پاکي ده اې الله! تا لره په اندازې د عرش د وزن، "سُبْحَانَ اللهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ، سُبْحَانَ اللهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ، سُبْحَانَ اللهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ" او پاکي ده اې الله! تا لره په اندازه د کلماتو ستا.

تشريح: سبحان الله وبحمده عدد خلقه، ورضى نفسه، وزنة عرشه ومداد كلماته: زه د الله ﷻ پاکي بيانوم او د هغه تعريف کوم، د هغه د مخلوقاتو د اندازې په برابر، د هغه ذات د مرضۍ موافق او د هغه عرش د وزن برابر او د هغه د کلماتو برابر.

كلماته: ددې نه يا خو كتابونه مراد دي يا صحيفې مراد دي يا د الله ﷻ اسماء او صفات او امر وغيره مراد دي، "**وهي جالسة**" هغه په خپل خاى ناسته وه، د ابوداود رحمه الله په يو روايت كې دي چې: "**وهي في مصلاها**" په يو بل روايت كې دي چې: "**مر عليها بكرة وهي في المسجد**" او د ابن ماجه په يو روايت كې دي چې: "**مر بها رسول الله ﷺ حين صلى الغداة**" ددې ټولو قريب قريب يوه معنى ده.

التي فارقتك عليها: په كوم حالت كې چې ما پرې ايښې وې، د ابوداود رحمه الله په روايت كې دي چې "**لم تزال في مصلاك هذا**" او په (الادب المفرد) كې دي چې: "**مازلت في مجلسك**" الفاظ هم نقل دي، د ټولو يوه معنى ده.

لوزنتهن: ددې برابر وزن به يې وي، ليكن قاضي عياض رحمه الله ددې معنى په "**لو عدلت**" سره كوي يعنې دا كلمې به ترې وزني شي.

ددې حديث نه علماوو استدلال كړى دى چې په ذكر كې كيفيت ته اعتبار وي، كميت ته نه، يعنې څومره چې په اخلاص سره ذكر وكړي، هغومره به د هغه ثواب زيات وي، د هغه چا نه چې په ذكر كې اخلاص كم وي.

د راويه جويريه رضي الله عنها حالات:

اصل نوم يې جويريه رضي الله عنها ده، د پلار نوم يې حارث بن ضرار دى، پلار يې د بنو مصطلق قبيله مشر وو، مور ته يې الله ﷻ ډېر ښكلى حسن وركړى وو، د جويريه رضي الله عنها اولنى نكاح په خپل خاندان كې د رافع بن صفوان سره شوې وه، ليكن كله چې په ۵ هجري ۵ شعبان كې غزوه مريسيع وشوه، نو په دې كې جويريه رضي الله عنها بندي شوه، په اول ځل د ثابت بن قيس رضي الله عنه په برخه كې راغله، هغوى په ۹ اوقيه باندې ورسره عهد كتابت وكړو، هغه د مال لپاره د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضره شوه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: كه زه ستا له طرفه مال كتابت وركړم او بيا ستاسو سره نكاح وكړم ستاسو به خوښه وي؟ هغوى په دې باندې راضي شول، رسول الله ﷺ مال كتابت هم وركړو او نكاح يې هم ورسره وكړه، په طبقات بن سعد كې دي چې دا مال كتابت د دوى پلار وركړو، كله چې هغه آزاده شوه، نو بيا ددې نه وروسته رسول الله ﷺ ورسره نكاح وكړه، جويريه رضي الله عنها ډېره عابده او زاهده مور وه، د دوى وفات د ربيع الاول په مياشت كې په ۵۰ هجري كې وشو، "**إنا لله وإنا إليه راجعون**" په دې وخت كې د دوى عمر ۶۵ كاله وو، مروان ورباندې د جنازې لمونځ وكړو او په جنت البقيع كې دفن شوه.

ذكر كوونكي ژوندي دي

"**وعن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لَا يَذْكُرُهُ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ**" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه سړي مثال چې الله ﷻ يادوي د ژوندي دى او د هغه سړي مثال كوم چې الله ﷻ نه يادوي، د مړي دى. رواه البخاري

"**ورواه مسلم فقال: مَثَلُ الْبَيْتِ الَّذِي يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ، وَالْبَيْتِ الَّذِي لَا يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ، مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ**" او د مسلم په يو

روايت کې داسې هم شته چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه کس چې الله ﷻ يادوي او هغه سړی چې الله ﷻ نه يادوي د مړي او ژوندي مثال يې دی.

تشريح: د حديث په عبارت کې لف نشر مرتب دی، يعنې څوک چې ذکر کوي هغه د ژوندي په شان دی او څوک چې ذکر نه کوي، هغه د مړي په شان دی، مطلب دا چې څوک ذکر کوي هغه د ظاهر په اعتبار سره خپل ټول اندامونه د الله ﷻ په اطاعت کې صرف کوي او زړه يې د الله ﷻ د معرفت نه منور وي، نورو ته د هدايت ذريعه جوړيږي، نو دا کس ژوندی دی او څوک چې ددې دولت نه محروم وي، هغه نه د ځان په ښېګڼه کې دی او نه د بل کس، د هغه څخه خلکو ته د آخرت هيڅ فايده نه رسيږي، نو داسې کس د مړي په شان دی، نه د خپل ځان په ښېګڼه کې دی او نه د بل کس، د ځان دښمن هم دی او د نورو خلکو د ګمراهۍ ذريعه هم جوړيږي.

په مدارج السالکين کې دي چې د الله ﷻ ذکر يوه داسې دروازه ده چې د الله ﷻ او د بنده ترمنځ د همېش لپاره خلاصه وي، ددې دروازې په واسطه بنده الله ﷻ ته رسېدلی شي او کله چې انسان د الله ﷻ د ذکر نه غافل شي، نو دا اهمه او لويه دروازه ورباندې بنده شي، يو شاعر ډېر ښه ويلي دي:

إذا مرضنا تداوينا بذكركم .... فنترك الذكر أحيانا فننتكس

ترجمه: کله چې موږ ناروغ شو، نو ستاسو په يادولو باندې خپل علاج او درملنه کوو، کله چې ذکر را څخه پاتې شي، نو مړه کېږو.

په پرښتوکې دانسان يادونه

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رسولَ الله ﷺ، قَالَ: يقول الله تعالى: أنا عِندَ ظَنِّ عَبْدِي بِي" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ فرمايي چې زه د خپل بنده سره د هغه د ګومان مطابق معامله کوم، "وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي، فَإِن ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ، ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي" او زه د هغه سره يم کله چې دی ما يادوي، که چېرته ما په زړه کې يادوي، نو زه يې هم په زړه کې يادوم، "وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلأٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلأٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ" او که ما په کوم ډله او مجلس کې يادوي، نو زه د هغې ډلې او مجلس نه يې په زيات ښکلي مجلس کې يادوم، (چې هغه د پرښتو مجلس دی). متفق عليه

تشريح: علامه توربشتي رحمه الله فرمايي: دلته ظن په معنی د يقين سره دی، أنا عند ظن عبدي بي" زه د خپل بنده سره د هغه د ګومان مطابق معامله کوم، که هغه د معافی او اميد يقين ساتي، نو زه يې معاف کوم، که هغه د عذاب او سختي يقين ساتي، نو زه ورته عذاب ورکوم، علماء فرمايي: په دې کې ترغيب ورکول مقصود دي چې د الله ﷻ رحمت د هغه په عذاب باندې غالب وي، علامه قطب الدين رحمه الله يو روايت نقل کړی دی په هغې کې دي چې د قيامت په ورځ به يو سړی جهنم ته روان کړی شي، هغه به ووايي چې اې الله! ما ستا په باره کې نېک ګومان وو چې ته به ما ته عذاب نه راکوې، الله ﷻ به وفرمايي: داسې سړی واپس کړئ، ځکه چې: أنا عند ظن عبدي بي.

أنا معه إذا ذكرني: زه د هغه سره يم، كله چې هغه ما يادوي، د (ورسره) كېدو مطلب دا دئ چې زما مرسته د هغه سره ده. لكه څرنګه چې په يو بل ځاى کې فرمايي: "إنني معكما" زه ستاسو دواړو سره يم. بيا ذكر عام دی كه په ژبه وي او كه په زړه وي، د دواړو يو شان فضيلت دی

إذا ذكرني في نفسه ذكرته في نفسي: كه هغه ما په زړه کې يادوي، نو زه به يې هم په زړه کې يادوم، د ذكر د مراد كه ذكر قلبي وي او كه په ژبه سره وي چې بل يې وانه وري. په دې باندې الله ﷻ فرمايي: زه يې هم په زړه کې يادوم. مطلب دا دی چې زه هغه په داسې طريقه يادوم چې په مخلوقاتو کې پرې څوك نه خبريږي. د علامه ابن حجر رحمه الله په قول چې زه هغه ته داسې ثواب وركوم چې چاته به د دې هيڅ خبر نه وي

وان ذكرني في ملإ ذكرته في ملإ خير منهم: كه هغه ما په مجلس کې يادوي، نو زه به يې د هغه مجلس نه په زيات ښکلي مجلس کې ياد كړم. يعنې د پرښتو په مجلس کې به يې ياد كړم. "في ملإ خير منهم" د دې جملې نه دا غلط تاثر نه دې اخيستل پكار چې پرښتې د انسانانو نه غوره دي. همدغه مغالطه معتزله وو ته وشوه. د دې جملې مطلب دا دی چې الله ﷻ د هغوی تذكره د مقربو پرښتو په وړاندې كوي يا دا چې د ارواح المسلمين په وړاندې د هغوی تذكره كوي

وړاندې تلونكي خلك

"وعنه قال: قال رسول الله ﷺ: سبق المفردون قالوا: وما المفردون؟ يارسول الله قال: الذاكرون الله كثيراً والذاكرات" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مفردون خلك وړاندې لاړل. صحابه كرامو پوښتنه وكړه: يارسول الله ﷺ مفردون څوك دي؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: كوم سړي او ښځې چې الله ﷻ ډېر ډېر يادوي (يعنې دا خلك مفردون دي). رواه مسلم

"وروي: المفردون بتشديد الراء وتخفيفها والمشهور الذي قاله الجمهور: التشديد" لفظ د مفردون په شد سره هم راغلی دی او په سكون سره هم راغلی دی. ليكن مشهور د جمهورو لفظ دی چې هغه مفردون په شد سره دی

تشريح: د دې حديث شان ورود دا دی چې دا حديث رسول الله ﷺ هغه وخت وفرمايلو كله چې دوی د مكې نه مدينې منورې ته تلل، د حمدان په غره باندې تشريف فرما وو، كوم چې د مدينې منورې نه يو منزل لرې دی. په دې وخت کې څينې صحابه كرام په تيزې سره خپلو كورونو ته روان شول. رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه چې وړاندې تلونكي خلك څوك دي؟ جواب واضح وو چې وړاندې تلونكي خلك هغه دي چې مدينې منورې ته مخکې لاړل. ليكن صحابه كرامو د سوال مطلب بل واخيستلو. په دې وجه رسول الله ﷺ وفرمايل: وړاندې تلونكي خلك هغه دي چې الله ﷻ طرفته تلونكي دي. يعنې كوم چې په كثرت سره ذكر كوي. علماء فرمايي كله چې به د صحابه كرامو ذهن دنيا طرفته تلو، نو سمدستي به آخرت طرفته متوجه كېدل. دلته هم داسې وشو چې په حقيقت کې وړاندې تلونكي خلك هغه دي چې په كثرت سره ذكر كوي

سوال: ډېر زيات ذكر كونكي خلك څوك دي؟

جواب: په ولاړه، په ناسته او په ملاسته باندې ذكر كوونكي او كومې دعاګانې چې د رسول الله ﷺ نه منقول دي د هغې ويونكي، كه يو انسان دا دعاګانې په خپل خپل ځاى باندې ووايي، نو انسان په كثرت سره

ذکر کوونکو کې شمار دی. همدغه خبره عبد الله بن عباس رضی الله عنهما هم کړې ده. په يو بل روايت کې دي چې کوم کس د لمانځه نه وروسته ذکر وکړي، سهار او ماښام او د شپې ويده کيدو نه وړاندې او کله چې سهار شي، دغه شان په نورو وختونو کې او په کومو ځايونو کې چې د رسول الله ﷺ څخه منقول دي هغه نولې دعاګانې ووايي، په دې وجه به هغوی په کثرت سره ذکر کوونکو کې شمار شي. مجاهد رحمه الله هم فرمايي: په ولاړه، ناسته او ملاسته هر حال کې چې وې ذکر کوي، نو په کثرت سره به په ذکر کوونکو کې شمار شي

تر ټولو غوره ذکر

"وعن جابر رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يقولُ: أَفْضَلُ الذِّكْرِ: لا إلهَ إلاَّ اللهُ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره ذکر (لا اله الا الله) دی رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: په دې حديث کې د توحيد کلمه تر ټولو غوره ذکر ښودل شوې ده. ځکه چې همدغه کلمه د دين بنياد دی او د دين ستن ددې نه تاويږي

تعليق الصحيح کتاب کې دي چې د توحيد کلمه بې ځکه غوره وښودل چې همدغه کلمه د ظاهري او باطني صفايي لپاره ډېره موثره ده. ځکه چې بنده کله (لا اله) ووايي، نو په دې سره د ټولو باطلو معبودانو نفي وشي او کله چې (إلا الله) ووايي. نو د يو معبود حقيقي چې الله جل جلاله دی اقرار وشي. په دې نفي او اثبات سره دده زړه منور شي او ددې اثر بې په ظاهري بدن باندې هم ښکاره شي، بيا دده د بدن او اندامونو څخه هغه اعمال ظاهريږي چې د کلمې د منشا، مطابق وي

په دې وجه يو روايت کې دي چې خپل ايماني کيفيت او زړه بې تازه ساتلی وي، ددې لپاره د کلمې ذکر بار بار کوئ؛ ځکه چې د زړه کيفيات په ظاهري بدن باندې ظاهريږي او هغه روايت دا دی

عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: جددوا إيمانكم، قيل يا رسول الله ﷺ! كيف نجدد إيماننا؟ قال: أكثروا من قول لا إله إلا الله.

د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل خپل ايمانونه تازه کړئ؛ پوښتنه وشوه چې اې د الله تعالی رسوله! ايمانونه څنګه تازه کړو؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل د (لا إله إلا الله) ذکر په کثرت سره کولو باندې

په ذکر سره خپله ژبه لنده ساتئ

"وعن عبد الله بن بسر رضي الله عنه: أَنَّ رجلاً قَالَ: يَا رسول الله، إنَّ شَرَائِعَ الإسلامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ، فَأَخْبِرْنِي بِشَيءٍ أَتَشَبَّثُ بِهِ قَالَ" د عبد الله بن بسر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس رسول الله ﷺ ته راغلو او ورته بې وفرمايل يا رسول الله ﷺ! د شريعت حکمونه خو ډېر دي. ليکن د همېشوالي لپاره مو که راته يو عمل وښودلو؟ "لاَ يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْباً مِنْ ذِكْرِ اللهِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل ستا ژبه دې همېش په ذکر باندې لنده وي

رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

"وعن جابر رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ وبِحَمْدِهِ، غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الجَنَّةِ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې يو ځل سبحان الله ووايي. د هغه لپاره به جنت کې د خورما يو ونه ولګيږي رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: په يو بل روايت کې دي چې کله رسول الله ﷺ معاذ رضي الله عنه د يمن امير جوړولو هغوی پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ! د الله ﷻ په نزد په ټولو کې خوښ عمل کوم دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: تا ته دي په داسې حال کې مرګ راشي چې ستا ژبه په ذکر سره تازه او لنده وي.

أن رجلاً: دا الفاظ په ترمذي کې دي، ليکن په ابن ماجه کې د «رجلاً» په ځای اعرابياً لفظ راغلی دی.

إن شرائع الإسلام قد كثرت: د شريعت حکمونه خو ډېر دي، د دې صحابي دا مطلب نه وو چې د دين اسلام احکامات خو ډېر دي، په کوم کوم به عمل کوم، ما ته آسان عمل وښيه، دا مطلب يو محدث هم نه دی بيان کړی، بلکې محدثين د دې جملې مطلب داسې بيانوي چې د شريعت ټول حکمونه خو ضروري دي، خو زه داسې عمل غواړم چې زه يې خپله مشغله جوړه کړم او پوره کمال او مهارت پکې حاصل کړم.

اتشبث به: دا د ترمذي روايت دی ليکن په ابن ماجه کې: "فانبئني منها بشيء اتشبث به" الفاظ دي. "لا يزال لسانك رطبا من ذكر الله" ستا ژبه دې همېش د الله ﷻ په ذکر سره لنده وي، دا جمله د کثرت ذکر څخه کنايه ده، ژبه لندېدل کنايه ده د ذکر نه او ژبه وچېدل د عدم ذکر څخه کنايه ده، دويم مطلب يې دا دی چې دا تر مرګه پورې د الله ﷻ د ذکر څخه کنايه ده، يعنې د الله ﷻ په ذکر باندې مداومت پکار دی، دومره ذکر پکار دی چې مرګ هم درته راځي، نو بايد په داسې حال کې درته راشي چې ستا ژبه په ذکر باندې لنده وي.

او شيخ الحديث مولانا زکريا رحمه الله فرمايي: دا کنايه ده د کمال عشق او محبت نه چې د الله ﷻ سره مينه او محبت پيدا شي، د هغه نوم همېش په ژبه اخيستل کيږي، د هغه په نوم اخيستلو کې يو شان خوند او لذت وي.

په جنت کې کرونده

وعن جابر رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: من قال سبحان الله وبحمده غرست له نخلة في الجنة. رواه الترمذي، وقال حديث حسن.

ژباړه: د جابر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې (سبحان الله وبحمده) ووايي، هغه ته په جنت کې د خورما يوه ونه ولګيږي.

لغوي تحقيق:

غرست: غرس يغرس غرساً: د غرس معنی ده ونې بوټي لګول.

تشريح نخلة: نخلة د خورما ونې ته وايي، د نسائي په يو روايت کې د نخلة په ځای (شجرة) لفظ دی، د دواړو معنی يوه ده، په حديث کې د خورما ونه د ډېرې فايدې له امله وښودل شوه، په عربو کې هم دغه ونه ډېره ده، په قرآن کريم کې هم د مسلمان مثال د خورما د ونې سره ورکړل شوی دی: "الم تر كيف ضرب الله مثلا كلمة طيبة كشجرة طيبة" ايا تا ته پته نشته چې الله ﷻ څومره ښکلې مثال بيان کړی

کلمې طيبې، چې هغه مشابه دي د يوې ښکلې ونې سره، د حديث نه معلومه شوه چې په جنت کې اګرچې ونې بوټي ډېر شته ليکن دشتې او سحراګانې هم پکې شته، انسان چې څومره نېک اعمال کوي، څومره زياتې کلمې چې وايي، هغومره به د هغه لپاره په جنت کې باغونه زياتيږي.

د جنت ونې او بوټي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لَقِيتُ إِبْرَاهِيمَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ أَقْرِئْ أُمَّتَكَ مِنِّي السَّلَامَ" د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د معراج په شپه کې زه د ابراهيم عليه السلام سره مخامخ شوم، نو هغوی راته وفرمايل: اې محمد ﷺ! امت ته زما له لورې سلام وايه! "وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ الْجَنَّةَ طَيِّبَةُ التُّرْبَةِ، عَذْبَةُ الْمَاءِ، وَأَنَّهَا قِيعَانٌ" او دوی ته ووايه چې د جنت ښکلې خاوره ده او ډېرې خوږې اوبه يې دي ليکن هغه خمکه دشته ده. "وَأَنَّ غِرَاسَهَا: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ" او د هغې ونې بوټي سبحان الله، الحمد لله، لااله الاالله، او الله اکبر دي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: لقيت ابراهيم عليه السلام: د معراج په شپه مې د ابراهيم عليه السلام سره په اوم اسمان کې ملاقات وشو، "أقرئ أمتك مني السلام" محدثين ليکي: چاته چې دا حديث ورسيږي، هغه ته پکار ده چې د ابراهيم عليه السلام د سلام جواب ورکړي: "وعليه ورحمة الله وبركاته" ووايي.

إن الجنة طيبة التربة: د جنت خاوره ډېره پاکه ده، د زغفران او مشکو نه جوړه ده، کله چې اوبه هم وي او خمکه هم ښه وي، نو بوټي پکې ښه کيږي، په حديث کې ترغيب ورکول شوی چې جنت دشته او هموار ميدان دی، په سبحان الله او الحمد لله الخ ويلو سره ښې ونې پکې ولګوئ! دويم مطلب يې دا هم کېدی شي چې جنت هسې هم د مسلمانانو لپاره د اوسېدو ځای دی، نو هلته ښه باغونه او بوټي لګول پکار دي، د هغه خاوره د زغفرانو او مشکو څخه جوړه ده.

وانها قيعان: جنت يو خوشې ميدان دی.

سوال: جنت خو باغ ته وايي، نو جنت ته خوشې ميدان ولې وويل شو؟

جواب: د جنت رقبه او فراخوالی ډېر زيات وسيع دی، لکه څرنګه چې د يو روايت نه معلوميږي چې په ټولو کې آخري انسان چې جنت ته داخل شي، نو هغه ته لس چنده ددې دنيا په مثل جنت ملاويږي، نو په څه برخه کې به د اول نه باغونه او ميوې لګېدلې وي او ځينې ځايونه به خالي وي، انسان چې څومره تسبيحات وايي، هغومره به هغه ته په جنت کې ونې بوټي لګيږي، بل جواب يې دا دی چې په جنت کې تولې او هر قسم ميوې شته، ليکن انسان چې څومره تسبيحات وايي، هغومره د هغه ونې بوټي غټيږي.

ذکر غوره عمل دی

"وعن أبي الدرداء ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: ألا أُنبِّئكُم بخيرِ أعمالِكُم، وأزكاها عند مليكِكُم" د ابو الدرداء ﷺ نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ايا زه تاسو ته يو د هر غوره عمل ونه ښيم چې ستا د رب په نزد د هر پاکيزه دی، "وأرفعها في درجاتكم، وخير لكم من إنفاق الذهب والفضة" ستاسو درجې هم پرې اوچتې شي او د سرو سپينو د خرچ کولو نه هم زيات غوره دی، "وخير لكم من أن تلقوا عدوكم فتضربوا أعناقهم ويضربوا أعناقكم"؟ او د دې نه هم غوره دی چې تاسو د دښمن سره ملاقي شئ تاسو د هغوی څټونه ووهئ او هغوی ستاسو څټونه ووهي؟ "قالوا: بلى، قال: ذكر الله تعالى" هغوی ووېل يا رسول الله ﷺ ولې نه نبي کريم ﷺ وفرمايل د الله ﷻ ذکر دی رواه الترمذي، قال الحاكم أبو عبد الله: إسناده صحيح.

لغوي تحقيق:

ازكاها: زكى يزكي زكاءً د ددې معنی ده نېک او صالح

تشريح په دې حديث کې ذکر تر ټولو غوره عمل ښودل شوی دی، حالانکې روژه او لمونځ وغيره د ذکر نه بالاتفاق غوره دي، علماء ددې ګڼ شمېر جوابونه ورکوي، مثلاً صاحب مجالس الابرار ليکي: په دې حديث کې ذکر تر ټولو افضل عبادت څکه وښودل شو چې اصل مقصود د الله ﷻ ذکر دی کوم چې د ټولو عباداتو لپاره آله او ذريعه ده.

بل جواب دا دی چې د ذکر نه مراد ذکر قلبي دی، نه ذکر لساني، يعنې هر وخت د الله ﷻ په ذکر کې زړه مشغولول پکار دي، کله چې يو انسان ته دا مرتبه حاصله شي، نو نه خو د هغه نه نافرماني کيږي او نه کوم عبادت ترې په آسانه پاتې کيږي، يقيناً چې ذکر په ټولو عباداتو کې افضل دی

بل جواب دا دی چې په ذکر سره د زړه صفايي کيږي، لکه څرنګه چې په يو بل روايت کې دي چې زړه ته هم زنګ لګيږي، لکه څرنګه چې اوسپنې ته زنګ لګيږي او د زړه زنګ په ذکر سره ختميږي، يقيناً چې د هر عبادت روح او د هر عبادت دارومدار د زړه په صفايي باندې دی، نو څکه ذکر ته افضل وويل شو

څلورم جواب دا دی چې دا خبره د هر وخت او عامو حالاتو په اعتبار سره ده، کنه وقتي اعتبار سره کله صدقه افضله وي، کله روژه افضله وي او کله لمونځ افضل وي

غوره او اسان ذکر

"وعن سعد بن أبي وقاص ﷺ، أنه دخل مع رسول الله ﷺ، على امرأة وبين يديها نوى، أو حصى تسبح به" د سعد بن أبي وقاص ﷺ روايت دی، فرمايي چې زه يوه ورځ د رسول الله ﷺ سره وم چې مونږ د يوې ښځې خواته تېر شو چې د هغې سره د خورما هډوکي، يا واړه واړه کاڼي وو، په هغې باندې يې ذکر کولو "فقال: أخبرك بما هو أيسر عليك من هذا - أو أفضل" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل ايا زه تاته د شمېر آسانه طريقه ونښيم يا يې وفرمايل افضله طريقه درته ونښيم؟ "فقال: سبحان الله عدد ما خلق في السماء، وسبحان الله عدد ما خلق

فِي الْأَرْضِ، وَسُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذَلِكَ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: (ترجمه) زه پاكي بيانوم په اسمان كې د مخلوق په مقدار، زه پاكي بيانوم په ځمكه كې د مخلوق په مقدار او زه پاكي بيانوم ددې دواړو په مينځ كې چې څومره مخلوق دي ددې په مقدار، "وَسُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ" او زه پاكي بيانوم په مقدار د هغو شيانو چې الله ﷻ پيدا كړي دي، "وَاللهُ أَكْبَرُ مِثْلَ ذَلِكَ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ مِثْلَ ذَلِكَ، وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مِثْلَ ذَلِكَ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ مِثْلَ ذَلِكَ" الله اكبر همدغه شان دى او الحمد لله همدغه شان ده او (لا اله إلا الله) همدغه شان ده او (لاحول ولا قوة الابالله) همدغه شان ده. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق:

نوىً: نوى د نواة جمع ده، ددې معنى ده: د خورما وغيره هډوكى.

تشريح: په ځينو رواياتو كې دي چې هغه ښځه چې د رسول الله ﷺ او صحابه كرامو مرور ورباندې وشو، هغه جويريه ﷩ يا صفيه ﷩ وه.

سوال: سعد ﷜ پردى ښځې ته څرنګه نظر وكړو، حال دا چې پردى ښځې ته كتل حرام دي؟

جواب: تردې وخته د پردې حكم نازل شوى نه وو. رسول الله ﷺ هغې مېرمنې ته وفرمايل: تسبيحات وايه ځكه چې دا په ويلو كې هم آسان دي او هم يې ثواب زيات دى "سبحان الله عدد ما خلق في السماء، وسبحان الله عدد ما خلق في الارض، سبحان الله عدد ما بين ذالك، وسبحان الله عدد ما هو خالق، والله اكبر مثل ذالك، والحمد لله مثل ذالك، ولا اله الا الله مثل ذالك، ولاحول ولاقوة الابالله مثل ذالك" ترجمه: الله ﷻ لپاره پاكي ده د هغه مخلوق په اندازه كوم چې په آسمان كې دى. الله ﷻ لره پاكي ده د هغه مخلوق په اندازه كوم چې په ځمكه كې دى. الله ﷻ لره پاكې ده د هغه مخلوق په اندازه كوم چې ددې دواړو ترمنځ دى. الله ﷻ لره پاكي ده د هغه مخلوق په اندازه كوم چې به ددې نه وروسته پيدا كوي او الله اكبر هم دغسې دى. الحمد لله هم دغسې ده. (لا إله إلا الله) همدغسې ده او (لاحول ولاقوة الخ ...) هم دغسې ده.

الله اكبر مثل ذالك: په دې جمله كې دوه احتماله دي: اول دا چې نبي كريم ﷺ سبحان الله الخ په شان الله اكبر هم پوره په تفصيل سره بيان كړل. ليكن راوي پكې اختصار وكړو. الله اكبر مثل ذالك يې وويل. دويم احتمال دا دى چې رسول الله ﷺ په خپله (عدد ما خلق في السماء) پرځاى مثل ذالك وويل. دواړه احتماله صحيح دي.

د جنت خزانه

"وعن أبي موسى ﷜ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ: أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ؟" د أبو موسى اشعري ﷜ نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ ماته وفرمايل: ايا زه تاته د جنت د خزانو نه يوه خزانه ونه ښيم؟ "فقلت: بلى يا رسول الله ﷺ! قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ" ما وويل: ولې نه! يارسول الله ﷺ نبي كريم ﷺ وفرمايل: لاحول ولاقوة الا بالله (يعنې دا د جنت د خزانو نه يوه خزانه ده). متفق عليه.

تشريح: كنز من كنوز الجنة: د جنت د خزانو نه يوه خزانه ده، د خزانې نه مراد دا دى چې د قيامت په ورځ به ددې ثواب د خزانې په شكل كې ملاويږي، دويم مطلب يې دا دى چې څوك يې ووايي، نو د هغه زړه غني شي، د هغه په زړه كې ددې خبرې يقين راشي چې ټولې فايدې او نقصانونه د الله ﷻ له طرفه دي، په دې سره هغه خپل ټول كارونه الله ﷻ ته وسپاري، يا ددې جملې نه مراد دا دى چې اصلاً رسول الله ﷺ ددې كلمې عظمت او قدر بيانوي، د هر شي د قدر او قيمت زياتولو لپاره ددې څخه ښكلې تعبير نه شي كېدلى.

د شيخ ابو الحسن شاذلي رحمه الله قول علامه قطب الدين رحمه الله نقل كوي چې په دې خبره خان پوهول پكار دي چې د نېكو اعمالو لپاره په اقوالو او كلماتو كې كې د لا حول ولا قوة الا بالله نه بل كوم قول يا كلمه د قيامت په ورځ په تله د ميزان كې درنه كېدلى نه شي، د ځينې پيران طريقت قول دى چې د شرك جلي ، خفي او د زړه زنګ ختمولو لپاره او د ايمان نور او معرفت حاصلولو لپاره لكه څرنګه چې د (لااله الاالله) اثر دى، دغه شان عملي ژوند ښه كولو لپاره يعنې د خپل خان ژوند ساتلو لپاره او د منكراتو نه د خان بچ كولو لپاره (لاحول ولاقوة الابالله) ښكلې طريقه ده.

باب ذكر الله تعالى قائماً أوقاعداً ومضطجعاً ومحدثاً وجنباً وحائضاً إلاَّ القرآن فلاَيحل لجنب ولاَحائض

د قرآن كريم د تلاوت نه علاوه جنوب سړي او حائضه ښځه په ولاړه، په ناسته او په ډډه وهلو سره په هر حالت كې ذكر كولى شي.

"قَالَ اللّٰهُ تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ" بې شكه د آسمانانو - ځمكې په پيدايش كې او د شپې - ورځې په اوړېدو كې د عقل خاوندانو ته دلائل دي، "الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ" د عقل خاوندان هغه خلك دي چې د الله ﷻ ذكر په ولاړه، په ناسته او په ډډه وهلو سره كوي. [آل عمران: ۱۹۰-۱۹۱].

تشريح: د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى فرمايي: افسوس دى په هغه چا چې دغه آيت تلاوت كوي او بيا هم په دې كې غور او فكر نه كوي، "إن في خلق السموات" الله ﷻ آسمان او ځمكه پيدا كړې يې اچې ددې ترمينځ څه دي هغه ټول يې څومره په عجيبه شان سره پيدا كړل، "واختلاف الليل والنهار" او په اوړېدو رااوړېدو د شپې او ورځې كې، نو په دې كې هم لوى قدرت او نخښې شته، "الذين يذكرون الله قياماً وقعوداً وعلى جنوبهم" هغه خلك چې الله ﷻ په ولاړه، په ناسته او په ملاسته يادوي، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: زما يوه شپه د رسول الله ﷺ په خدمت كې تېره شوه، رسول الله ﷺ نيمه شپه بيدار شو، مسواك يې ووهلو او دغه آيت يې تلاوت كړو: "إن في خلق السموات والارض" بيا ودرېدو دوه ركعته لمونځ يې وكړو چې قيام، ركوع او سجده يې ډېره زياته اوږده وه، كله چې د لمانځه نه فارغ

شو، نو خملاستلو، تردې چې د ساه آوازونه يې راوختل، بيا رسول الله ﷺ بيدار شو، لمونځ يې وکړو، دغسې يې درې ځله وکړل.

د علي ﷺ، ابن عباس رضي الله عنهما، ابراهيم نخعي رحمه الله او قتاده رحمه الله په نزد ددې آيت نه مراد په ولاړه لمونځ دی، که نشي دريدلی، نو په ناسته يې وکړه، که په ناسته يې نشي کولی، نو په ملاسته يې وکړه، شيخ عبدالحق رحمه الله فرمايي: په دې آيت کې الله ﷻ د خپلو نېکو بندګانو صفات بيانوي، "واختلاف الليل والنهار" شپه او ورځ يې د انسانانو د فايدې لپاره پيدا کړه، کله شپه اوږده وي ورځ لنډه وي، کله ورځ اوږده وي او شپه لنډه شي، کله يخني شي کله ګرمي شي، د شپې او ورځې اختلاف ددې خبرې واضح دليل دی چې دا عالم به يوه ورځ فنا کيږي، ددې بقاء نشته، په دې کې نور هم ډېر زيات دليلونه دي کوم چې: "لأولي الألباب" يعنې د عقلمندو او هوښيارانو لپاره دي، بې وقوف او خره صفته خلک خو بس خوراک او څښاک ته پېژندي، شپه او ورځ په همدې کې خرچه کوي، اوس د عقلمندو نه څوک مراد دي؟ خپله قرآن کريم فرمايي چې: "الذين يذكرون اللـــه" کوم چې په کثرت سره د الله ﷻ ذکر کوي، د الله ﷻ په قدرتونو کې غور او فکر کوي، دا غور او فکر يوه ورځ دوه ورځې نه وي بلکې همېش لپاره وي، د دوی عادت جوړ شوی وي، "قياماً وقعوداً وعلى جنوبهم" په هرحال کې په ولاړه، په ناسته او په ملاسته دوی د الله ﷻ ذکر کوي.

هر وخت ذکر

"وعن عائشة رضي اللـــه عنها، قالت: كَانَ رَسُولُ الله ﷺ يَذْكُرُ اللهَ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به په هر حالت کې ذکر کولو. رواه مسلم.

تشريح: د حديث په الفاظو کې لفظ د (احيان) راغلی دی او قاعده دا ده چې د جمع اضافت خپل مابعد ته د استغراق حقيقي فايده ورکوي، بيا په دې باندې لفظ د (کل) هم داخل دی، نو اوس به يې مطلب دا شي چې رسول الله ﷺ به هر وخت ذکر کولو.

سوال: ځينې حالات داسې دي چې په هغې کې ذکر کول منع دي، لکه د تشي او ډکو متيازو حالت او د کوروالي وغيره حالتونه؟

جواب: ددې سوال نه علماء داسې جواب کوي چې رسول الله ﷺ به همېش په ذکر قلبي کې مشغول ؤ، هميش به د الله ﷻ په استحضار کې ؤ، دغه طرفته حافظ ابن قيم رحمه الله هم په زاد المعاد کې اشاره کړې ده، "كان النبي ﷺ اكمل الخلق ذكرالله عزوجل بل كان كلامه كله في ذكرالله وماوالاه وكان امره ونهيه وتشريعه للامة الخ" **ترجمه**: نبي کريم ﷺ په ټولو خلکو کې تر ټولو زيات غوره او کامل ذکر کوونکی انسان وو، بلکې د دوی هره خبره او هر کلام د الله ﷻ ذکر يا د هغې په اړه ؤ، د رسول الله ﷺ د يو کار نه منع فرمايل، حکم ورکول، د الله ﷻ اسماء او صفات، د الله ﷻ حکمونه، د هغه افعال، د هغه وعدې او د هغه وعيدونه يادول ټول په ذکر کې شامل دي، د الله ﷻ نه سوال کول، ترغيب او ترهيب الهي ذکر

دی، تر سکوت او خاموشۍ پورې، يعنې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په هر حال کې ذکر کولو، د الله ﷻ ذکر ...
په خېږ ناسته، ولاړه، تلل - راتلل، ويده کېدل، د سفر او حضر تولو حالتونو کې ز

د همبسترۍ دعاء

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ قَالَ: لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا أَتَى أَهْلَهُ قَالَ: بِسْمِ اللهِ، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: که چېرته ... تاسو کې يو کس خپلې مېرمنې ته د کوروالي لپاره راشي او بيا داسې ووايي. **ترجمه**: شروع کوم په نوم د الله ﷻ اې الله ﷻ! موږ دواړه د شيطان د اثراتو نه وساتې او هغه ماشوم هم د شيطان د اثراتو نه محفوظ وساتې کوم چې ته موږ ته راکوې: "فَقُضِيَ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ، لَمْ يَضُرَّهُ" نو که دوی ته الله ﷻ کوم بچی ورته برخه کړي هغه به د شيطاني اثراتو څخه محفوظ وي. متفق عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

جنبنا: لرې کېدل.

تشريح: لم يضره: شيطان به هغه ته نقصان ونه رسوي، خو په دې شرط چې هغه د همبسترۍ پر مهال دعاء ووايي، هغه دعاء دا ده: "بسم الله، اللهم جنبنا الشيطان، وجنب الشيطان ما رزقتنا" د الله ﷻ په نوم شروع کوم، اې الله! موږ د شيطان د شر نه بچ کړه! او د شيطان نه مو هغه اولاد نه هم لرې وساته کوم اولاد چې ته موږ ته راکوې.

سوال: ډېر خلك دا دعاء وايي، ليکن بيا هم د دوی اولاد د شيطاني اثراتو څخه محفوظ نه وي؟

جواب: د ضرر نه مراد کفر دی چې ددې دعاء په برکت به اول د کفر په حالت کې (ان شاء الله العزيز) نه مري، بلکې ددې دعاء په برکت به يې حسن خاتمه نصيب کيږي، **دويم جواب** دا دی چې د ضرر نه مراد لېونتوب او مېرګي، وغيره ناروغي ده، ددې دعاء په برکت به ددې مصيبتونو څخه خلاص شي، **درېيم جواب** دا دی چې کله ماشوم پيدا کيږي، نو شيطان لعين پرې چونګاري لګوي. ددې دعاء په برکت سره هغه ماشوم ددې نه بچ کيږي، **څلورم جواب** امام ابن الجوزي رحمه الله کړی دی، هغه فرمايي چې د حديث مطلب دا دی: که څوك دا دعاء ووايي، نو اولاد به يې د دين او اعتقاد په لحاظ محفوظ پاتې شي او **پنځم جواب** دا دی چې په ځينو رواياتو کې دي: کله چې انسان د خپلې مېرمنې سره کوروالی کوي، نو شيطان هم ورسره وي، که دا دعاء ووايي، نو د شيطان د شرارت نه به بچ شي.

باب مايقوله عند نومه واستيقاظه

د ويده کېدو او د خوب نه راپاڅېدو پر مهال دعاء

"عن حذيفة، وأبي ذر رضي الله عنهما، قالا: كان رسول الله ﷺ إذا أوى إلى فراشه، قال: باسمك اللهم أحيا وأموت" د حذيفه ﷺ او ابو ذر ﷺ نه روايت دى دوى، دواړه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت مبارک به دا وو چې کله به ويده کېدو، نو دا سې دعاء به يې فرمايل: **ترجمه:** اې الله ﷻ! ستا د نوم سره زما ژوند او مرګ دواړه تړلي دي. "وإذا استيقظ قال: الحمد لله الذي أحيانا بعد ما أماتنا وإليه النشور" او کله چې به راويښ شو، نو داسې دعاء به يې کول: **ترجمه:** ثناء او صفت هغه ذات لره دي چې موږ يې راژوندي کړو د مرګ وروسته او هم دغه ذات طرفته زموږ واپسي ده. رواه البخاري.

لغوي تحقيق:

اوى، ياوى: د دې مطلب دى: راتلل، واپس کېدل.

تشريح: واليه النشور: د هغه طرفته واپس تلل دي. د دې مطلب دا دى چې انسان به اخر هم مري. بيا به د حساب - کتاب لپاره الله ﷻ ته رجوع کوي. دويم مطلب يې دا دى چې په دې حديث کې خوب ته د مرګ ورور ويل شوي. مطلب دا شو چې الله ﷻ د ويده کېدو نه پس يو ځل بيا خپل کار طرفته واپس کړي.

د ويده کېدو پر مهال هم د دعاء ذکر دى او د پاڅېدو پر مهال هم. مطلب دا چې د افعالو خاتمه هم بايد په عبادت سره وشي او شروع يې هم بايد په عبادت سره وشي. "أحيانا" انسان چې کله ويده شي، نو لکه د مړي په شان وي. يعنې عارضي طور دده روح قبض شوې وي. کله چې راويښ شي نو روح يې بېرته واپس کړل شي. شريعت وايي: کله چې يو ځل بيا الله ﷻ روح درته واپس کړه، نو بايد په دې باندې شکر ادا کړل شي. شريعت مطهره د دې شکر ادا کولو طريقه هم موږ ته ښودلې ده، هغه دا چې ذکر شوې دعاء دې ووايي.

باب فضل حلق الذكر والندب إلى ملازمتها والنهي عن مفارقتها لغير عذر

د ذکر د مجلس فضيلتونه

"قال الله تعالى" الله ﷻ فرمايي: "واصبر نفسك مع الذين يدعون ربهم بالغداة والعشي" تاسو ځان د هغو خلکو سره وابسته کړئ کوم چې خپل رب سهار او ماښام يادوي. "يريدون وجهه ولا تعد عيناك عنهم" چې د دوى مطلب صرف د الله ﷻ رضاء ده او د دوى نه اعراض مه کوه! [الكهف:۲۸].

شان نزول:

واصبر نفسك مع الذين يدعون الخ: ددې آيت شان نزول داسې دی چې ځينې مشركين مكه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شول، په هغوی كې عيينه بن حصين هم وو، په دې وخت كې د رسول الله ﷺ سره فقيران صحابه كرام موجود وو، عيينه بن حصين ووېل: د دوی ځخه موږ ته بد بوی راځي، دا خلك نه د خان سره په مجلس كې مه پرېږده، بيا به موږ ستا تابعداري شروع كړو، په دې باندې دغه ذكر شوی آيت نازل شو.

الذين يدعون ربهم: كوم چې خپل رب بلي او عبادت يې كوي، ددې نه مراد د صفې صحابه كرام مراد دي، د دوی شمار به كله كم او كله زيات وو، د ابو قتاده رَحِمَهُ اللهُ په قول دې وخت كې د دوی تعداد ۷۰ كسانو پورې وو، كله چې دغه آيت نازل شو، نو رسول الله ﷺ د الله ﷻ تعريف بيان كړو او بيا يې وفرمايل: الله ﷻ زما په امت كې داسې خلك پيدا كړل كومو سره چې ماته د ناستې حكم وشو.

ولا تعد عيناك عنهم: ددې غريبانو نه خپل نظر مه اړوه چې ستاسو نظر په مالدارانو باندې پرېوځي، وجه يې دا وه چې رسول الله ﷺ په دې خبره ډېر حريص وو چې كله به د مكې غټ سرداران ايمان راوړي، الله ﷻ حكم وركړو چې ددې غريبانو صحابه كرامو سره كښېنه

د ذكر د مجلسونو باره كې د پرښتو سره د الله ﷻ مكالمه

"وعن أبي هريرة ؓ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إنَّ للهِ تعالى مَلائِكَةً يَطُوفُونَ فِي الطُّرُقِ يَلْتَمِسُونَ أَهْلَ الذِّكْرِ" د ابو هريره ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ يوه ډله د پرښتو داسې ده چې دوی د ذكر مجلسونو پسې ګرځي، "فَإِذَا وَجَدُوا قَوْماً يَذْكُرُونَ اللهَ ﷻ، تَنَادَوْا: هَلُمُّوا إِلَى حَاجَتِكُمْ" كله چې دوی هغه مجلسونه ويني كومو كې چې د الله ﷻ ذكر كېږي، نو دوی يو بل ته آوازونه وكړي چې راشئ كوم شي پسې چې تاسو ګرځېږئ هغه دا دی: "فَيَحُفُّونَهُمْ بِأَجْنِحَتِهِم إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا" بيا د مجلس ډله هغه پرښتې په خپلو وزرو سره پټه كړي، تر اسمانه پورې ترې ګېر چاپېره كښېني، "فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ: مَا يَقُولُ عِبَادِي؟" د دغو پرښتو نه به د دوی رب پوښتنه وكړي چې دوی څه وويل؟ حال دا چې الله ﷻ پرې ښه خبر دی، "قَالَ: يقولون: يُسَبِّحُونَكَ وَيُكَبِّرُونَكَ وَيَحْمَدُونَكَ وَيُمَجِّدُونَكَ" پرښتې به ورته ووايي: اې الله ﷻ! ستا پاكي يې بيانول او ستا لويي يې بيانول او ستا ثناء او صفتونه يې بيانول او ستا بزرګي يې بيانول، "فيقول: هَلْ رَأَوْنِي؟ فيقولونَ: لا واللهِ مَا رَأَوْكَ. فيقولُ: كَيْفَ لَوْ رَأَوْنِي؟" الله ﷻ به ورته ووايي: زه يې ليدلی وم؟ پرښتې به ورته ووايي: نه، قسم په الله ﷻ چې تاسو يې نه يئ ليدلي، الله ﷻ به ورته ووايي: كه زه يې ليدلی وای، نو بيا؟! "قَالَ: يقُولُونَ: لَوْ رَأَوْكَ كَانُوا أَشَدَّ لَكَ عِبَادَةً، وَأَشَدَّ لَكَ تَمْجِيداً، وَأَكْثَرَ لَكَ تَسْبِيحاً" پرښتې ورته وايي: كه تاسو يې ليدلي وای، نو ستاسو عبادت به يې نور هم تېز كړی وای او ستاسو بزرګي او پاكي به يې نوره هم زياتول، "فَيَقُولُ: فماذا يَسْأَلُونَ؟ قَالَ: يقُولُونَ: يَسْأَلُونَكَ الجَنَّةَ. قَالَ: يقولُ: وَهلْ رَأَوْهَا؟ قَالَ: يقولون: لا واللهِ يَارَبِّ مَا رَأَوْهَا" الله ﷻ ورته وايي: د څه شي سوال يې كولو، هغوی به ورته ووايي: ستاسو نه يې جنت

غوښتلو، الله ﷻ به ورته ووايي: ايا دوی جنت ليدلی وو؟ هغوی به ورته ووايي: نه، قسم په الله ﷻ چې جنت يې نه وو ليدلی، "قَالَ: يَقُولُ: فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا؟ قَالَ: يقولون: لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا كَانُوا أَشَدَّ عَلَيْهَا حِرْصاً، وَأَشَدَّ لَهَا طَلَباً، وَأَعْظَمَ فِيهَا رَغْبَةً" الله ﷻ به ورته ووايي: که ليدلی يې وای، نو بيا به څه وو، پرښتې به ورته ووايي: که ليدلی يې وای، نو نور به يې د هغه طلب کولو حرص په زړه کې زيات شوی وای او په هغې کې به يې رغبت زيات شوی وو، "قَالَ: فَمِمَّ يَتَعَوَّذُونَ؟ قَالَ: يقولون: يَتَعَوَّذُونَ مِنَ النَّارِ، قَالَ: فيقولُ: وَهَلْ رَأَوْهَا؟ قَالَ: يقولون: لَا وَاللهِ مَا رَأَوْهَا. فيقولُ: كَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا؟" الله ﷻ بيا ورته فرمايي: د څه شي نه يې پناه غوښتل؟ پرښتې ورته وايي: د دوزخ د اور نه يې پناه غوښتل، الله ﷻ ورته فرمايي: ايا دوزخ يې ليدلی وو؟ پرښتې ورته فرمايي نه، دوزخ يې نه وو ليدلی، الله ﷻ ورته وفرمايي: که دوزخ يې ليدلی وای، نو څه به وو؟ "قَالَ: يقولون: لَوْ رَأَوْهَا كَانُوا أَشَدَّ مِنْهَا فِرَاراً، وَأَشَدَّ لَهَا مَخَافَةً" پرښتې ورته فرمايي: که دوزخ يې ليدلی وای، نو زيات به منډه به ترې تللی وو او ډېر زيات به ترې ويرېدلی وو، "قَالَ: فيقولُ: فَأُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ" الله ﷻ به ورته وفرمايي: تاسو شاهدان شئ چې ما دا ټول وبخښل، "قَالَ: يَقُولُ مَلَكٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ: فِيهِمْ فُلَانٌ لَيْسَ مِنْهُمْ، إِنَّمَا جَاءَ لِحَاجَةٍ" پرښتې به ورته وفرمايي: اې الله! په دوی کې داسې يو کس وو چې هغه د دوی په مجلس کې د کېنستلو لپاره راغلی نه وو، بلکې خپل مقصد او ضرورت يې وو، د هغې لپاره راغلی وو، "قَالَ: هُمُ الْجُلَسَاءُ لَا يَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ" الله ﷻ به ورته وفرمايي: دا داسې مجلس دی چې ددې هم مجلسي يو کس هم بې برخې کيږي نه، (مطلب دا چې هغه کس هم په بخښنه کې راځي). متفق عليه.

"وفي رواية لمسلم عن أبي هريرة ﵁ عن النبي ﷺ قال: إِنَّ للهِ مَلَائِكَةً سَيَّارَةً فُضُلاً يَتَتَبَّعُونَ مَجَالِسَ الذِّكْرِ" او د مسلم ﵀ په يو روايت کې داسې هم شته چې، د أبو هريره ﵁ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ يوه ډله د پرښتو داسې ده چې هغوی ګرځي کرځي د ذکر مجلسونه لټوي، "فَإِذَا وَجَدُوا مَجْلِساً فِيهِ ذِكْرٌ، قَعَدُوا مَعَهُمْ" کله چې دوی داسې مجلس ويني چې په هغې کې ذکر کيږي نو دغه پرښتې هم ورسره کښيني، "وَحَفَّ بَعْضُهُمْ بَعْضاً بِأَجْنِحَتِهِمْ حَتَّى يَمْلَئُوا مَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ السَّمَاءِ الدُّنْيَا" دغه پرښتې دغه مجلس والا خلک په خپلو وزرونو سره پټ کړي او شاوخوا تر آسمانه پورې ترې کښيني، "فَإِذَا تَفَرَّقُوا عَرَجُوا وَصَعِدُوا إِلَى السَّمَاءِ فَيَسْأَلُهُمُ اللهُ ﷻ وَهُوَ أَعْلَمُ: مِنْ أَيْنَ جِئْتُمْ؟ فَيَقُولُونَ: جِئْنَا مِنْ عِنْدِ عِبَادٍ لَكَ فِي الْأَرْضِ" کله چې مجلس ختم شي پرښتې آسمان ته پورته وخيژي، نو الله ﷻ ترې پوښتنه وکړي او الله ﷻ پرې ښه پوه دی چې تاسو د کوم ځاې نه راغلئ؟ هغوی ځواب ورکړي چې ستا د بندګانو له لورې کوم چې په ځمکه کې دي "يُسَبِّحُونَكَ وَيُكَبِّرُونَكَ، وَيُهَلِّلُونَكَ، وَيَحْمَدُونَكَ، وَيَسْأَلُونَكَ" ستا پاکي يې بيانول، لويي يې بيانول، لا إله إلا الله يې ويل او ثناء صفتونه يې ويل او ستا نه يې سوالونه کول، "قَالَ: وَمَاذَا يَسْأَلُونِي؟ قَالُوا: يَسْأَلُونَكَ جَنَّتَكَ" الله ﷻ ورته وفرمايي: څه يې غوښتل؟ پرښتې ورته ووايي: د جنت سوال يې کولو، "قَالَ: وَهَلْ رَأَوْا جَنَّتِي؟ قَالُوا: لَا، أَيْ رَبِّ. قَالَ: فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْا جَنَّتِي؟" الله ﷻ ورته ووايي: زما جنت يې ليدلی وو؟ پرښتې ورته ووايي: نه اې الله!

الله ﷻ ورته ووايي: که ليدلی يې وای، نو څه حال به وو؟! "قالوا: ويستجيرونك، قال: ومم يستجيرونني؟ قالوا: من نارك يا رب. قال: وهل رأوا ناري؟ قالوا: لا، قال: فكيف لو رأوا ناري؟" پرښتې ورته ووايي: اې الله ﷻ! دوی پناه غوښتل، الله ﷻ ورته ووايي: د څه شي نه يې پناه غوښتل؟ پرښتې ورته ووايي: د جهنم له اوره يې پناه غوښتل، الله ﷻ ورته ووايي: زما د جهنم اور يې ليدلی وو؟ هغوی ورته ووايي: نه اې الله ﷻ ورته وفرمايي: که ليدلی يې وای، نو څه حال به يې وو؟! "قالوا: ويستغفرونك، فيقول: قد غفرت لهم، وأعطيتهم ما سألوا، وأجرتهم مما استجاروا" پرښتې ورته ووايي: هغوی د خپلو ګناهونو بخښنه غوښتل، الله ﷻ ورته ووايي: ما وبخښل او ما هغه څه ورکړل چې د کومو شيانو دوی سوال کولو. ما پناه ورکړه د هغه څه نه چې دوی ترې پناه غوښتل، "قال: فيقولون: رب فيهم فلان عبد خطاء إنما مر، فجلس معهم" پرښتې ورته ووايي: اې الله! په دوی کې يو داسې کس هم ناست وو چې په غلطۍ کې هلته ناست وو، هغه خو صرف په لاره تلونکی وو، نو د دوی سره کښېناستلو. "فيقول: وله غفرت، هم القوم لا يشقى بهم جليسهم" الله ﷻ ورته وفرمايي: ما هغه هم وبخښلو. ځکه چې دغه د مجلس والا خلک داسې قوم دی چې د دوی سره ناست سړی نه محرومه کيږي.

تشريح: الله ﷻ د پرښتو نه بار بار پوښتنې کوي، ايا الله ﷻ د خپلو بندګانو په حالاتو خبر نه دی؟

جواب: پوښتنه کول اصلاً په پرښتو باندې الزاماً دي، ځکه چې کله الله ﷻ د انسان پيدا کولو اراده وفرمايل، نو پرښتو اعتراض وکړو چې دا خو يو داسې مخلوق دی چې په ځمکه کې به فساد جوړوي او خونريزي به کوي، په موږ کې دا خصلت شته چې "نسبح بحمدك ونقدس لك" يعنې ستاسو تعريف او حمد ويلو لپاره بس موږ کافي يو. خلاصه دا چې اصلاً په پرښتو باندې د ابن آدم فضيلت او بزرګي ظاهرول دي. نو دغه پوښتنې ددې لپاره وشوې. يعنې تاسو چې په کوم مخلوق باندې اعتراض کولو چې دوی به فساد جوړوي او خونريزي به کوي. وې ګورئ! اوس هغوی څنګه زما عبادت کوي او تاسو خپله ددې شاهدي ادا کوئ!

هل رأوها: ايا هغوی جنت ليدلی دی؟ ددې نه معلومه شوه چې جنت پيدا شوی دی. لکه څرنګه چې د اهل سنت والجماعت عقيده ده، د بخاري په يو روايت کې ددې پوښتنې جواب هم شته چې که انسان جنت ووينې نو څه حال به يې وي؟ ددې جواب يې داسې کړی دی چې د دوی شوق او رغبت به نور هم زيات شي. ليکن په مسلم شريف کې صرف سوال دی، جواب يې نه دی ذکر کړی.

لا يشقى بهم جليسهم: په دې مجلس کې هسې ناست خلک هم د سعادت نه خالي نه دي، هغوی هم د خير او برکت نه، نه محروميږي. انسان ته پکار دي چې يا خو په خپله د الله ﷻ په ياد کې مشغول شي او که داسې نه شي کولی، نو د داسې خلکو صحبت دې اختيار کړي چې د الله ﷻ په ذکر کې مشغول وي، الله ﷻ به يې په ذاکرينو کې شمار کړي.

د رحمت سکينه نازلېدل

"وعنه وعن أبي سعيد رضي الله عنهما، قالا: قال رسول الله ﷺ: لَا يَقْعُدُ قَوْمٌ يَذْكُرُونَ اللهَ ﷻ إِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ" د أبو هريره ﷛ او أبو سعيد خدري ﷛ نه روايت دی، دواړه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل نشته داسې قوم چې د الله ﷻ د ذکر لپاره په خپل مينځ کې راغونډ شي. مګر دا چې پرښتې دوی په خپلو وزرو کې پټ کړي او د الله ﷻ له طرفه پرې رحمتونه راوربړي. "وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ" او په دوی باندې سکينه او د زړه سکون نازلېږي او الله ﷻ د دې خلکو يادونه د هغه مخلوق په وړاندې کوي چې د ده سره دي يعنې پرښتې. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

حفتهم: دوی راپټ کړي، وزرې پرې وغوړوي.

تشريح په حديث کې د الله ﷻ ذکر کوونکو لپاره څلور ځانګړي صفتونو بيان شوي دي.

لومړی دا چې پرښتې هغوی د څلور واړه طرفونو څخه راګېر کړي. همدغه مضمون په يو بل روايت کې هم شته چې چېرته ذکر کېږي د الله ﷻ پرښتې د هغوی نه ګېر چاپېره تر آسمانه پورې کښيني. يوه حلقه شان جوړه کړي، د دوی ذکر ته غوږ نيسي

دويم انعام دا دی چې (وغشيهم الرحمة) الله ﷻ يې په رحمت کې راپټ کړي، په دې بنياد د دوی زړونه نرم شي او د الله ﷻ په اطاعت کې ورته خوند حاصلېږي

دريم انعام دا دی چې "ونزلت عليهم السكنة" د دوی په زړونو کې آرام پيدا کېږي. د علامه سدي رحمه الله په نزد د سکينه نه مراد د جنت يو لوښی دی چې د سرو زرو نه جوړ دی. په هغې کې د انبياء عليهم السلام زړونو ته غسل ورکولی شي او د علي ﷛ په قول سکينه يوه خاصه هوا ده چې په دې سره د انسان زړه او مخ روښانه کېږي، يا د دې نه مراد رحمت دی يا د زړه سکون دی. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي سکينه يو داسې لفظ دی چې هرې معنی ته شامل دی

څلورم انعام ذکرهم الله فيمن عنده: الله ﷻ د ذکر کوونکو خلکو يادونه د خپلو خاصو بندګانو يعنې مقربو پرښتو په وړاندې کوي. ځکه چې پرښتو د انسان په پيدا ايښت باندې اعتراض کړی وو. دوی ويل چې انسان به په دنيا کې فساد کوي. داسې مجلسونه الله ﷻ دوی ته ښيي او فخر کوي او د پرښتو هغه اعتراضونه دوی ته وريادوي

او ځينې نور علماء فرمايي الله ﷻ په داسې وخت کې پرښتو ته فرمايي چې وګورئ په انسان کې د نافرمانۍ ماده هم شته او هغوی زه ليدلی هم نه يم. سره له دې خومره په مينه او محبت او خومره په عجيبه شوق سره زما ذکر کوي

د دين په کارونو کې حياء کول پکار نه ده

"وعن أبي واقد الحارث بن عوف ﷺ: أن رسول الله ﷺ بينما هو جالس في المسجد، والناس معه، إذ أقبل ثلاثة نفر، فأقبل اثنان إلى رسول الله ﷺ وذهب واحد، فوقفا على رسول الله ﷺ" د أبو واقد الحارث بن عوف ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو صحابه کرامو ﷺ سره په جومات کې ناست وو چې ناڅاپه درې کسان راغلل، دوه کسان راوړاندې شول او دريم کس په منډه لاړو، هغه دوه کسان د رسول الله ﷺ په وړاندې ودرېدل، "فأما أحدهما فرأى فرجة في الحلقة فجلس فيها، وأما الآخر فجلس خلفهم، وأما الثالث فأدبر ذاهبا" په دې دواړو کې يو کس په مجلس کې خاتته ځه لږ شان خلاص ځای وليدو، هلته کښېنستلو او هغه بل کس د دې کس وروسته کښېنستلو او دريم کس وتښتېدلو، "فلما فرغ رسول الله ﷺ قال: ألا أخبركم عن النفر الثلاثة" کله چې رسول الله ﷺ د مجلس نه فارغ شو، نو وې فرمايل: ايا زه تاسو ته د دې درې کسانو د حال خبر درنه کړم؟ "أما أحدهم فأوى إلى الله فآواه الله إليه" هر چې دا يو کس وو، نو ده الله ﷻ ته رجوع وکړه، الله ﷻ ده ته ځای ورکړو، "وأما الآخر فاستحيى فاستحيى الله منه" او هر چې دا بل کس دی، نو دی د الله ﷻ نه وشرمېدو، الله ﷻ هم دده نه حياء وکړه، ده ته يې هم ځای ورکړو، "وأما الآخر، فأعرض، فأعرض الله عنه" او هر چې دا بل کس وو، نو ده د الله ﷻ نه اعراض وکړو، نو الله ﷻ هم دده نه اعراض وکړو، ده ته يې ځای ورنه کړو. متفق عليه

تشريح: إذ أقبل ثلاثة نفر: درې کسان راغلل، د نفر نه مراد کسان دي، ګوند نه دی يا درې ګوندونه مراد نه دي، "فأقبل إثنان إلى رسول الله ﷺ" دوه کسان پکې وړاندې راغلل د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شول، "فلما فرغ رسول الله ﷺ" کله چې رسول الله ﷺ د خطبې تعليم نه فارغ شو.

وأما الآخر فاستحيا فاستحيا اللـــه منه: هر چې هغه بل دی، نو هغه ته حياء ورغله، الله ﷻ هم ترې حياء وکړه، محدثينو دد دې جملې دوه مطلبه بيان کړي دي: لومړی دا چې د هغه د کښېنستلو اراده نه وه، ليکن د حياء له امله کښېنستلو چې اوس څنګه د رسول الله ﷺ مجلس پرېږدم. بل مطلب يې دا دی چې هغه ته د مجلسيانو نه حياء ورغله، دد دې له امله کښېنستلو.

فأعرض اللـــه عنه: الله ﷻ هم د هغه نه اعراض وکړو چې هغه دد دې مبارک مجلس نه محروم شو، دا درې کسان څوك وو؟ د هغوی نومونه څه دي؟ حافظ ابن حجر ﷫ فرمايي: "لم أقف في شئ من طرف هذا الحديث على تسمية واحد من الثلاثة" ما دد دې حديث ټولې طريقې وکتلې، ليکن دد دې کسانو نومونه مې پيدا نه کړل، د حديث نه معلومه شوه چې د علم په حصول کې حياء کول مذموم کار دی.

د راوي ابو واقد الحارث بن عوف ﷺ حالات:

اصل نوم يې حارث ﷺ دی، ليکن په ابو واقد باندې مشهور شو، د پلار نوم يې عوف بن الحارث دی، د ځينو په نزد حارث بن مالك دی، د بدر په غزا کې يې شرکت کړی دی، ليکن ځينې علماء ترې انکار کوي، د فتح مکې په ورځ د ضمره بني ليث او بني سعد، بکر او ځينو نورو قومونو بيرغ د ده

په لاس کې وو، د خپنو رايه دا ده چې د مکې په ورځ مسلمان شو، ليکن زياته صحيح خبره دا ده چې د مکې په فتح کې يې شرکت کړی دی، د اول نه مسلمان شوی وو، په مکه کې به اوسېدلو او په مکه کې د ۸۶ هجري په کال وفات شوی دی، د مهاجرينو په هديره کې دفن کړی شو، په دې وخت کې د دوی عمر ۸۵ يا ۷۵ کاله وو، د دوی څخه د روايت شوي احاديثو مجموعه تر ۲۴ پورې رسيږي، د بخاري او مسلم په ۱۱ احاديثو کې يې اتفاق دی او په درې احاديثو کې بخاري او په اتو کې امام مسلم منفرد دی

د ذکر فضيلت

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ قال: خرج معاوية ﷺ على حلقة في المسجد، فقال: ما أجلسكم؟" د ابو سعيد خدري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ معاويه ﷺ په جومات کې مجلس کونکي خلک وليدل، هغه ورته وفرمايل: ولې دلته ناست يئ؟ "قالوا: جلسنا نذكر الله. قال: آلله ما أجلسكم إلا ذاك؟ قالوا: ما أجلسنا إلا ذاك" هغوی ورته ووېل: موږ د الله ﷻ د ذکر لپاره دلته ناست يو، هغه ورته ووېل: قسم په الله ﷻ چې صرفددې لپاره ناست يئ؟ هغوی ورته ووېل: قسم په الله ﷻ! صرف ددې لپاره ناست يو، "قال: أما إني لم أستحلفكم تهمة لكم، وما كان أحد بمنزلتي من رسول الله ﷺ أقل عنه حديثا مني" هغه ورته ووېل: ما تاسو ته قسم په دې وجه نه دی درکړی چې زه په تاسو باندې بدګوماني کوم، تاسو ته معلومه ده چې زه د احتياط په بناء د رسول الله ﷺ حديثونه کم روايت کونکو څخه يم، "إن رسول الله ﷺ خرج على حلقة من أصحابه فقال: ما أجلسكم؟" بلکې زه خو دا وايم چې يوه ورځ رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته تشريف راوړو کومو چې د مجلس يوه حلقه جوړه کړې وه، نبي کريم ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې دلته تاسو په کوم مقصد ناست يئ؟ "قالوا: جلسنا نذكر الله ونحمده على ما هدانا للإسلام، ومن به علينا" هغوی ورته وفرمايل: موږ د الله ﷻ د ذکر لپاره ناست يو، د هغه حمد او ثناء بيانوو، په دې خبره چې موږ ته يې د اسلام په څېر ښکلی دين رانصيب کړو او په موږ يې لوی احسان وکړو، "قال: آلله ما أجلسكم إلا ذاك؟ قالوا: والله ما أجلسنا إلا ذاك" نبي کريم ﷺ وفرمايل: په خدای قسم! تاسو صرف ددې لپاره دلته ناست يئ؟ هغوی ورته وفرمايل: په خدای قسم! چې موږ صرف دلته د همدې مقصد لپاره ناست يو، "قال: أما إني لم أستحلفكم تهمة لكم، ولكنه أتاني جبريل فأخبرني أن الله يباهي بكم الملائكة" نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دې وجه ما تاسو ته قسم نه دی درکړی چې زه په تاسو باندې بدګوماني لرم، بلکې جبرئيل علیه السلام اوس ماته دا خبر راکړی چې الله ﷻ په تاسو باندې د پرښتو په وړاندې فخر کوي. رواه مسلم.

تشريح: نبي کريم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته ولې قسم ورکړو، حال دا چې رسول الله ﷺ خپله په ذکر کولو وليدل؟

جواب: نبي کريم ﷺ دوی ته ځکه قسم ورکړو چې جبرئيل علیه السلام د دوی تعريف وکړو، د نبي کريم ﷺ په خيال کې دا خبره راغله چې کېدای شي د ذکر نه پره ابل کوم خاص عبادت به وي چې الله ﷻ ددې صحابه کرامو تعريف د جبرائيل علیه السلام په واسطه وکړو، معلومه شوه چې بل کوم خاص

عبادت نه وو، بلکې خالص هم دغه ذکر وو چې د دوی د تعریف ذریعه جوړه شوه
ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: د الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې د فخر وجه دا ده چې الله ﷻ خپلو پرښتو ته فرمايي: وګورئ! دا زما بندګان دي، سره ددې چې په دوی باندې شيطان او نفس دواړه مسلط دي، ددې هرڅه سره زما په ذکر او عبادت کې مشغول دي، لهذا د دوی د عبوديت تقاضه دا ده چې زه خپله د دوی تعريف وکړم، ددې برعکس د پرښتو د عبادت لپاره هيڅ مانع نشته، د انسانانو په مقابل کې د پرښتو په عبادت کې هيڅ مشقت او تکليف نشته، د حديث نه معلومه شوه چې که څه خلك سره جمع شي او د الله ﷻ په ذکر کې مشغول شي، نو دا الله ﷻ ته ډېر خوښ دي.
شاه ولي الله رحمه الله فرمايي: په دې کې د شك کولو هيڅ ګنجائش نشته چې مسلمانانو په يو ځای کې سره جمع کېدل د رحمت سکينه او قرب الهي يوه ډېره لويه وسيله ده.

باب الذكر عِندَ الصباح والمساء

سهار او ماښام دعاګانې کول

"قَالَ اللهُ تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعاً وَخِيفَةً" ياد کړه خپل رب په زړه کې په عاجزئ او په وېره سره، "وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ" نه ډېر زيات په تېزه اونه ډېر کم په سهار او ماښام کې او د غافلانو نه مه کېږه! [الأعراف:۲۰۵] "قَالَ أَهْلُ اللُّغَةِ: الْآصَالُ: جَمْعُ أَصِيلٍ، وَهُوَ مَا بَيْنَ الْعَصْرِ وَالْمَغْرِبِ" اهل لغت علماء فرمايي: د (الاصال) معنی ده: د مازيګر او ماښام ترمنځ وخت.

تشريح: واذكر ربك: ياد کړه خپل رب: ذکر لساني او ذکر قلبي دواړو ته شامل دی، بيا ذکر هم عام دی، که اسماء صفتي ذکر وي او که د قرآن کريم تلاوت وي يا ماثورې دعاګانې وي. په دې حديث کې يو څو قيدونه لګېدلي دي:
لومړی قيد: في نفسك: مراد دا دی چې کوم الفاظ په ژبه وايي د هغې په مفهوم او معنی به هم پوهېږي، کنه نو د فارسي يو شعر دی:

برزبان تسبيح ودردل ګاؤخر .... اين چنين تسبيح کے دارد اثر

دويم قيد: تضرعاً: په عاجزی او بلحاظ جلال او خوف او بلحاظ امید به هم ذکر کوې
دريم قيد: خيفة: په وېره سره
څلورم قيد: دون الجهر: لږ په زوره، خالص په زړه کې ذکر کول هم پکار نه دي.
پنځم قيد: بالغدو والآصال: غدو جمع د غدوة ده او آصال جمع د اصيل ده، د ورځې اول وخت ته غدوة وايي او آخري وخت ته يې آصال ويل کيږي. په دې دواړو وختونو کې د الله ﷻ د قدرت اظهار کيږي، کله چې ورځ اوړي يا د سهار او ماښام ذکر کول دي چې په دې وخت کې مقربينو ته په جنت کې د الله ﷻ ديدار نصيب کيږي

ولاتكن من الغافلين: او د غافلو خلکو څخه مه کيږه! يعني هر وخت بايد د الله ﷻ په ذکر کې خپل وخت صرف کړي، په ولاړه په ناسته او په ملاسته

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا" په ثناء سره د خپل رب پاکي بيانوه مخکې د لمر ختلو نه او وروسته د غروب نه [طه: ۱۳۰].

تشريح: د مکې خلکو به رسول الله ﷺ ته په هر ممکن صورت تکليفونه ورکول، رسول الله ﷺ به يې په سختو القاباتو سره يادولو، کله به يې ويل (نعوذ بالله) کاذب دی، کله به يې ويل ساحر دی، کله به يې په يو نوم يادولو، کله به يې په بل نوم يادولو، قرآن کريم ددې علاج وښودلو چې بس تاسو هغوی ته التفات مه کوئ! او مه ترې خپله بدله اخلئ، الله ﷻ ته يې پرېږده او ته په خپل عبادت کې مشغول شه، کله چې د انسان توجه الله ﷻ ته شي او دا خيال يې راشي چې په دنيا کې هر کار د الله ﷻ مشيئت او ارادې نه پرته نه کيږي، د هغه په هر کار کې خپل حکمت وي، نو د مخالفينو له طرفه ماتحت الاسباب رسېدلي تکليفونه بيا هيڅ نه شي پاتې کېدی، بل په دې آيت کې دېته هم اشاره ده چې کوم انسان ته د الله ﷻ د ذکر او عبادت توفيق حاصل شي، نو هغه ته پکار دي چې په دې ناز او فخر ونه کړي، بلکې د الله ﷻ حمد او شکر دې وباسي، ځکه چې دغه ذکر او عبادت هم د هغه لوی ذات ورکړل شوی توفيق دی

"وقال تعالى: وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ" او الله ﷻ فرمايي: په ثناء سره د خپل رب پاکي بيانوه سهار او ماښام [غافر: ۵۵] "قَالَ أَهْلُ اللُّغَةِ الْعَشِيُّ: مَا بَيْنَ زَوَالِ الشَّمْسِ وَغُرُوبِهَا" اهل لغت وايي چې العشي د زوال او د غروب په مينځ کې وخت ته ويل کيږي

تشريح: په دې آيت کې رسول الله ﷺ ته الله ﷻ تسلي او ډاډ ورکوي چې ددې کفارو د لاسه په تکليفونو باندې صبر کوه، دوی ته التفات هم مه کوه! بس ستا کار دا دی چې د خپل رب په عبادت کې سهار او ماښام مشغول شې! ددې نه مراد لمونځ هم دی، ځکه چې لمونځ هم په ذکر کې داخل دی، يعني د لمانځه په ذريعه د خپل رب يادونه کوه.

بالعشي: عشي دې ته وايي چې رڼا خپل عروج ته ورسيږي، علامه طيبي رحمه الله ددې ترجمه په ماښام سره کړې ده، ليکن علامه نووي رحمه الله ددې وخت حد هم بيان کړی دی چې هغه د زوال نه تر ماښام پورې وخت دی.

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ" الله ﷻ امر کړی دی چې د هغه لويي دې په کورونو کې بيان کړی شي او د هغه نوم دې واخيستل شي، "يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ" د هغه لوی ذات پاکي بيانوئ د سهار په وخت او د بېګا په وخت کې، "رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ" داسې خلک دي چې تجارت او اخيستل خرڅول دوی د الله ﷻ د ذکر څخه نه غافله کوي. الآية [النور: ۳۶-۳۷].

تشریح: **فی بیوت:** د بیوت نه مراد د ابن عباس رضي الله عنهما په قول جوماتونه دي، لیکن ځینو نورو مفسرینو رحمهم الله ددې نه عامه معنی مراد اخیستې ده، یعنې هر هغه ځای چې د الله ﷻ ذکر پکې کیږي.

أذن الله أن ترفع: أذن د (إذنٌ) نه مشتق دی، ددې معنی ده: اجازت ورکول او ترفع د رفعٌ نه مشتق دی، ددې معنی ده: اوچتول او احترام کول، ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: مطلب یې دا دی چې لغو یعنې بې هوده خبرې یا کار دې په جومات کې ونشي، ددې نه باید ځان وساتل شي او حسن بصري رحمه الله فرمايي: جوماتونه باید د ګنده شیانو نه پاك کړل شي یا جومات اوچتول مراد دي.

ویذکر فیها اسمه: اسمه لفظ دا ښيي چې دلته عمومي معنی مراد ده: تسبیحات، تلاوت، وعظ نصیحت لمونځ وغیره ټولو ته شامل دی، "بالغدو والاصال" سهار او ماښام ته وايي، خو مراد ترې کثرت دی.

رجال لا تلهیهم تجارة: ددې شان نزول دا دی چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې دوه کسان وو، یو به تجارت کولو او بل لوهار وو، کله چې به د دوی په غوږونو کې د آذان آواز پرېوتلو، نو یو به د تلې چاړې په ځای پرېښوده او بل به ګرمه اوسپنه پرېښوده، د سوټك ګزار به یې پرې نه کولو، لمانځه ته به روان شو، د دوی دواړو په تعریف کې دغه آیت نازل شو.

"**وقال تعالی**" الله ﷻ فرمايي: "**إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ**" موږ تابع کړي وو غرونه د هغه سره چې د الله ﷻ پاکي به یې بیانول سهار او د اشراق په وخت کې. [ص:۱۸]

تشریح: په دې آیت کې د داود علیه السلام د یو ځانګړې معجزې ذکر دی، کله چې به دوی د الله ﷻ ذکر یا د زبور تلاوت کولو، نو مارغان به هم په هوا کې درېدل، هغوی به هم ورسره ذکر شروع کړو، دغه شان غرونو به هم ورسره ذکر شروع کړو، د غرونو او مارغانو په ذکر کې د شرکت وجه کېدی شي دا وي چې په ذکر کې نور هم خوند پیدا شي، په یوازې ذکر کولو سره انسان تنګیږي، "**وان من شئ الا یسبح بحمده ولکن لا تفقهون تسبیحهم**" داسې یو شی نشته چې هغه د الله ﷻ ذکر نه کوي، لیکن تاسو د هغه په ذکر نه پوهېږئ.

غوره تسبیح

"**وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: مَنْ قَالَ حِيْنَ يُصْبِحُ وَحِينَ يُمْسِي: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ مِئَةَ مَرَّةٍ**" د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم کس چې سهار یا ماښام سل ځله سبحان الله وبحمده ووايي، "**لَمْ يَأْتِ أَحَدٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ، إِلَّا أَحَدٌ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ أَوْ زَادَ**" د قیامت په ورځ به دده نه غوره انسان بل څوك نه وي، کوم عمل چې ده کړی دی، مګر هغه انسان کوم چې دده برابر دا کلمات ووايي، یا یې ددې نه زیات ویلي وي. رواه مسلم.

تشريح: په يو بل روايت کې دي تسبيح ته د پرښتو تسبيح ويل شوي دي، (مسلم) او په يو بل روايت کې دي چې کوم کس دا تسبيحات سل ځله ووايي، نو د هغه ټول ګناهونه به معاف شي، اګرچې دومره زيات وي لکه د سمندر زګ، په يو بل روايت کې دي چې ددې راوي ابوذر ﷛ دی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاته داسې کلام ونه ښيم چې الله ﷻ ته ډېر خوښ دی؟ عرض يې وکړو چې ضرور يې وښيئ! ارشاد وشو چې هغه سبحان الله وبحمده دی، په ګڼ شمېر رواياتو کې ددې ذکر راغلی دی.

حين يصبح وحين يمسي: کله چې پرې سهار شي يا ماښام شي، علماء فرمايي: په سبحان الله وبحمده کې د ټولو هغو صفاتو اثبات دی چې د الله ﷻ د ذات سره ښايي او د ټولو هغو صفاتو نفي ده چې د الله ﷻ د ذات سره نه ښايي، دا مختصر شان جمله ټول سلبي او ايجابي صفتونو ته شامله ده.

ښه به دا وي چې دا وظيفه د لمر ختلو نه وړاندې او ېګا ته د لمر ډوبېدو نه وړاندې وويل شي، ځکه چې دا دواړه وختونه د ذکر لپاره ډېر مناسب دي، په دې وخت کې پرښتې هم نازلېږي.

په قرآن کريم کې هم ارشاد دی: وسبح بحمد ربك قبل طلوع الشمس وقبل غروبها.

د زهريله ځناورو نه حفاظت

"وعنه، قَالَ: جَاءَ رجلٌ إِلَى النبيّ ﷺ، فَقَالَ: يَارَسُولَ اللهِ مَالَقِيتُ مِنْ عَقْرَبٍ لَدَغَتْنِي البَارِحَةَ!" د أبو هريره ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس رسول الله ﷺ ته راغلو او ورته يې وويل: يارسول الله ﷺ! پرون ماته لړم ټک راکړو، "قَالَ: أَمَا لَوْقُلْتَ حِيْنَ أَمْسَيْتَ" که چېرته تا د ماښام په وخت دا کلمات ويلي وای: "أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ: لَمْ تَضُرَّكَ" پناه غواړم د الله ﷻ په کامل او مکمل کلماتو سره د شر د هر هغه شي نه چې پيدا کړی يې دی، نو تاته به هيڅ ضرر او تکليف نه وای رسېدلی. رواه مسلم.

تشريح: همدغه روايت د احاديثو په کتابونو کې په دې ډول دی: "إن رجلاً من اسلم قال: مانمت هذه الليلة فقال له رسول الله ﷺ: من أي شيء؟ فقال: لدغتني عقرب".

التامات: د الله ﷻ په کلام کې هيڅ عيب او نقصان نه وي، لکه څرنګه چې د خلکو په خبرو کې عيبونه وي، د ترمذي په يو روايت کې دي چې کوم کس دغه کلمات د ماښام په وخت درې ځله ووايي نو هيڅ موذي ځناور به ورته څه تکليف ونه رسوي او په يو بل روايت کې دي چې کوم کس يې د سهار په وخت کې ووايي، نو تر ماښامه پورې به هيڅ موذي ځناور هغه ته تکليف ونه رسوي، علامه قطب الدين ﷫ فرمايي: د مفصل بن يسار ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې کوم کس دغه کلمات ووايي، نو هغه ته الله ﷻ اويا زره پرښتې مقرر کړي چې هغه ته د مغفرت دعاګانې کوي او که ددې د ويلو نه وروسته مړګ ورته راغلو، نو د شهادت مقام به يې نصيب شي.

سهار او ماښام دعا

"وعنه، عن النبيّ ﷺ أنه كان يقولُ إذا أصبحَ: اللّٰهُمَّ بِكَ أصْبَحْنَا" د أبو هريره ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت مبارکه دا وو چې کله به سهار شو، نو هغوی به دا کلمات ويل ترجمه: اې الله ﷻ ستا په توفيق سره موږ سهار کړو، "وَبِكَ أمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإلَيْكَ النُّشُورُ" او ستا په توفيق سره موږ ماښام کړو، ستا په لاس کې مرګ او ژوند دی او ستا طرفته واپس تلل دي، "وإذا أمسى قال: اللّٰهُمَّ بِكَ أمْسَيْنَا، وبِكَ نَحْيَا" او کله چې به ماښام شو، نو داسې کلمات به يې ويل: ترجمه: اې الله! ستا په توفيق سره مو ماښام کړو او ستا په لاس کې زموږ ژوند دی، "وَبِكَ نَمُوتُ، وَإلَيْكَ النُّشُورُ" او ستا په لاس کې مرګ دی او ستا طرفته واپس کېدل دي. رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: په هره شعبه کې د دعاګانو خصوصيت خالص د دين اسلام مزاج دی، وجه يې دا ده چې مومن بنده کوم چې هر وخت د الله ﷻ په اطاعت او د رسول الله ﷺ په تابعدارۍ کې ژوند تېروي، نو هره لمحه ده ته د الله ﷻ د نصرت او توفيق ضرورت وي، کنه هر وخت شيطان لعين ورپسې وي، کله يې هم دوکه کولی شي، "اللهم بك أصبحنا وبك وأمسينا" شپه چې تېره شي او سپين لمر راوخيژي، نو دا د الله ﷻ لوی نعمت دی. که په شپې پسې رڼا نه وای، نو د دنيا ټول نظام به ختم شي، بيا دغه شان په ورځ پسې شپه راتلل دا هم د الله ﷻ په نعمتونو کې لوی نعمت دی، که شپه نه وای، نو انسان چې ټوله ورځ کار کوي، ستړی ستومانه به وای، دغه ستړيا به يې څنګه لرې کول. په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې هر سهار او ماښام د خپل رب سره تعلقات تازه کول پکار دي. دغه په هر نعمت شکر ادا کول پکار دي، بل په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې لکه څرنګه شپه لاړه ورځ ورپسې راشي يا ورځ لاړه شي شپه راشي، نو ژوند په ختمېدو شي، باقي هيڅ نه دي پاتې. يوه ورځ به ستا هم د ژوند آخري سلګۍ وي، عمر به دې ختم شي، بيا به د الله ﷻ په حضور کې پيشي وې، نو ددې نه ښه دا ده چې د الله ﷻ په نعمتونو شکر ادا کړې، فاني دنيا څخه ځان کټ کړې او ځان د آخرت سره ولګوې.

د نفس او شيطان نه پناه غوښتل

"وعنه: أنَّ أبَا بكرٍ الصديق ؓ قَالَ: يَارسولَ الله مُرْنِي بِكَلِمَاتٍ أقُولُهُنَّ إذا أصْبَحْتُ وإذَا أمْسَيْتُ" د أبو هريره ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې أبو بکر ؓ رسول الله ﷺ ته وفرمايل: يا رسول الله ﷺ ماته يو څو کلمې وښايه چې زه يې سهار او ماښام وايم، "قَالَ: قُلْ: اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ والأرْضِ عَالِمَ الغَيْبِ والشَّهَادَةِ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: دا کلمات وايه! ترجمه: اې الله! د آسمانونو او د ځمکې پيدا کونکې يې، په پټو او په ظاهره باندې خبردار يې: "رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ، أشْهَدُ أنْ لا إلٰهَ إلاَّ أنْتَ، أعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي وَشَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ" د هر شي رب يې او مالك هم د هر شي يې، شاهدي ورکوم چې نشته لائق د عبادت سِوا ستا نه، پناه غواړم په تا سره د خپل نفس د شر نه او د شيطان د شر نه او د هغه د شرکت نه. "قَالَ: قُلْهَا إذَا أصْبَحْتَ، وإذَا أمْسَيْتَ، وإذَا

أَخَذْتَ مَضْجَعَكَ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: دا كلمات د سهار، ماښام او د خوب په وخت كې وايه؛ رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

لغوي تحقيق: فاطر: فاطر په اصل كې نمونې او مثال ته ويل كيږي، الله ﷻ هم ځمكه او آسمان د سابقه مثال نه بغير پيدا كړي دي.

تشريح: قَالَ يارسول الله ﷺ: د مشكاة شريف په روايت كې دي چې: (قلت يارسول الله ﷺ) ليكن د محدثينو په نزد بغير (قلت) روايت زيات صحيح دی، "إذا امسيت" كله چې درباندې ماښام شي، ليكن په مسند احمد كې اضافه ده چې: "ما ذا أخذت مضجعك" كله چې ته خپلې بسترې ته راشې نو په دې وخت كې دا دعاء وايه.

فاطر السموات والأرض: فاطر د بته وايي چې سابقه مثال يو شئ نه لري، الله ﷻ دا ځمكه او آسمان د سابقه مثال څخه بغير پيدا كړي دي، "عالم الغيب والشهادة" دلته دا جمله د (فاطر السموات والارض) نه وروسته ذكر ده، ليكن په ځينو رواياتو كې دا جمله د (فاطر السموات والارض) نه وړاندې ده، "من شر نفسي" يعنې هغه نفس چې انسان خواهشاتو ته متوجه كوي كوم چې د هدايت نه خلاف وي، دې ته په دې آيت كې اشاره شوې ده: "ومن أضل ممن اتبع هواه بغير هدیً من اللـــه".

ومن شر الشيطان: د شيطان د شر نه، جنس شيطان ترې مراد دی يا رئيس شيطان ترې مراد دی

د ماښام دعا

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه قَالَ: كَانَ نبيُّ الله ﷺ إذا أَمْسَى قَالَ: أَمْسَيْنَا وأَمْسَى المُلْكُ للهِ، والحَمْدُ للـــهِ" د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د نبي كريم ﷺ عادت مبارك به دا وو چې كله به سهار شو، نو داسې كلمات به يې ويل: **ترجمه:** موږ بېګا كړو او هر شي بېګا كړو، مالك ذات الله ﷻ دی، صفتونه الله ﷻ لره دي، "لا إلهَ إلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ" نشته لائق د عبادت سيوا د الله ﷻ نه، هغه ذات واحد لاشريك له دی، "قَالَ الراوي: أُرَاهُ قَالَ فِيهِنَّ: لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ" راوي وايي: دا كلمات يې هم وويل: **ترجمه:** همدغه الله ﷻ لره بادشاهي ده او همده لره صفتونه دي او دغه الله ﷻ په هر شي باندې قادر ذات دی، "رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرَ مَا بَعْدَهَا" اې الله! زه سوال كوم ستا نه د خير ددغې شپې او وروسته چې ددې نه كومه راځي، "وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِي هذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا" او اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د شر ددغې شپې او وروسته چې كوم ددې نه راځي، "رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الكَسَلِ وَسُوءِ الكِبَرِ" اې الله! زه په تا سره پناه غواړم د سستی نه، د بد تكبر نه، "رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ، وَعَذَابٍ فِي القَبْرِ" اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د جهنم نه او د قبر د عذاب نه، "وَإِذَا أَصْبَحَ قَالَ ذلِكَ أيضاً أَصْبَحْنَا وأَصْبَحَ المُلْكُ للهِ" او كله چې به سهار شو، نو همداسې كلمات به يې ويل: **ترجمه:** موږ سهار كړو او سهار كړو هر شي، بادشاهي او ملكيت الله ﷻ لره دی. رواه مسلم

تشريح: لا إله إلا الله: په مشكاة وغيره کې دغه نه دي راوړي، ليکن په نورو کتابونو کې بغير واو دی، "وحده" دا جمله يې د زيات تاکيد لپاره راوړل، "رب أسئلك خير ما في هذه الليلة وخير ما بعدها" اې الله زه ستاسو نه د خير ددې شپې سوال کوم او کومه شپه چې ددې نه وروسته ده، ابن حجر رحمه الله ددې مطلب داسې بيانوي چې اې الله ما ته په دې شپه کې د عبادت توفيق راکړه، يا دا مطلب يې دی چې په دې شپه کې کوم مصيبتونه نازليږي نو هغه راته په خير بدل کړه، د مسلم په يو بل روايت کې دي چې "اللهم إني أسئلك من خير هذه الليلة وخير ما فيها" الفاظ دي

واعوذ بك من شر ما في هذه الليلة وشر ما بعدها: د مسلم په يو بل روايت کې د "وأعوذ بك من شرها وشر ما فيها" الفاظ دي، په يو بل روايت کې ددې نه وروسته د (هرم) الفاظ هم شته، ددې نه مراد دا دی چې انسان د ژوند داسې عمر ته ورسيږي چې د هغه اعضاء کار پريږدي، دې ته په قرآن کريم کې (أرذل العمر) ويل شوي دي، په يو بل ځای کې دي چې (لكي لا يعلم بعد علم شيئاً) په داسې عمر کې انسان په هيڅ نه پوهيږي د انسان عقل خراب شي په هيڅ نه پوهيږي، شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله فرمايي: ترقي د ادنی نه اعلی طرفته کيږي، اول کسل وي، يعني په بنده کې طاقت وي، ليکن د سستی له امله کار نه شي کولی، بيا (هرم) راځي چې لږ طاقت هم وي او لږه کمزوري هم وي، خو پوره کار نه شي کولی، بيا (سوء الكبر) وي چې انسان بيخي کار نه شي کولی.

د هر شي نه حفاظت

"وعن عبد الله بن خُبَيْب -بضم الخاء المعجمة- رضي الله عنه قال: قال لي رسول الله ﷺ: اقرأ: قل هو الله أحد، والمعوذتين" د عبد الله بن خبيب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل: قل هو الله احد، قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس سورتونه وايه؛ "حِينَ تُمْسِي وَحِينَ تُصْبِحُ، ثَلاثَ مَرَّاتٍ تَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ" کله چې سهار کړې يا بېګاه کړې درې ځله دا سورتونه وايه؛ دا به ستا لپاره کافي شي. رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: د سهار او ماښام په دعاګانو کې سورت اخلاص او معوذتين هم شامل دي، په احاديثو کې ددې سورتونو ډېر زيات فضيلت راغلی دی، مثلاً په يو روايت کې دي چې څوک يو ځل سورت اخلاص ووايي، هغه ته د ثلث القرآن (د قرآن کريم د دريمې برخې) برابر ثواب ملاويږي، په يو بل روايت کې دي چې څوک هره ورځ سل ځله (قل هو الله احد) ووايي نو د هغه د اعمال نامې نه پنځوسو کالو برابر ګناهونه معاف کيږي، مګر دا چې قرض ورباندې وي

په يو بل روايت کې دي چې څوک لس ځله سورت اخلاص ووايي، هغه ته په جنت کې يو محل جوړ شي.

دغه شان د معوذتين فضيلتونه هم په ګڼ شمېر رواياتو کې راغلي دي، مثلاً: په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نن شپه داسې آياتونه نازل شول چې ددې برابر بل کوم ايتونه نشته،

هغه (قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس) دي، اول بايد سورت اخلاص وويل شي، څکه چې دا په منزله د حمد او ثناء دی او بيا بايد معوذتين وويل شي چې دا په منزله د دعاء ده او د کومې دعاء نه وړاندې چې د الله ﷻ حمد او ثناء وويل شي، هغه دعاء ډېره زر قبليږي. دا درواړه سورتونه درې درې ځله ويل پکار دي، څکه چې د دعاء په آدابو کې دي چې يوه دعاء درې درې ځله وويل شي

يكفيك من كل شيء: دا درې واړه سورتونه دومره جامع دي چې ټولو دعاګانو ته شامل دي او د ټولې شپې د مصيبتونو نه د بچ کېدو لپاره کافي دي. څېنو علماوو د کافي کېدو دا مطلب اخيستی دی چې که کوم کس د شپې عبادت ونه کړي، که هغه يې د خوب نه وړاندې ووايي، د ټولې شپې عبادت اجر به الله ﷻ ورکړي

د راوي عبد الله بن خبيب ﷛ حالات:

اصل نوم يې عبد الله ﷛ دی، د پلار نوم يې خبيب دی، د جهني قبيلې سره تعلق لري کوم چې د انصارو حليفان وو، د مدينې منورې اوسېدونکی وو، د دوی نه خالص درې حديثونه روايت شوي دي. ليکن علامه برقي ﷫ فرمايي د دوی نه صرف دوه احاديث نقل دي. ليکن ابن الجوزي ﷫ فرمايي: درې روايات ترې نقل دي

د تکليفونو او بيماريو نه د حفاظت لپاره

"وعن عثمان بن عفان ﷛ قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: مَا مِنْ عَبْدٍ يَقُولُ فِي صَبَاحِ كُلِّ يَوْمٍ وَمَسَاءِ كُلِّ لَيْلَةٍ: بِسْمِ اللهِ الَّذِي لا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ، ثَلاثَ مَرَّاتٍ، إِلَّا لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ" د عثمان بن عفان ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کس چې سهار او ماښام دا کلمات درې ځله ووايي، هغه ته به هيڅ شی ضرر ونه رسوي، **ترجمه**: شروع کوم په نوم د الله ﷻ هغسې الله چې د هغه د نوم په برکت هيڅ شی ضرر نه شي رسولی، نه په ځمکه کې او نه په آسمان کې او دغه الله ﷻ اورېدونکی او خبردار ذات دی. رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح

تشريح: ددې دعاء ډېر زيات برکات دي: څوک يې چې ماښام ووايي، توله شپه به د مصيبتونو څخه خلاص وي او که د ورځې يې ووايي، نو توله ورځ به يې په راحت او آرام کې تېره شي، د مصيبتونو څخه به خلاص وي، د الله ﷻ شان ګوره چې يوه ورځ په راوي ابان ﷫ (کوم چې د عثمان ﷛ څخه دغه روايت نقل کوي) باندې د فالج بيماری اثر وشو، يو څل يې دا حديث بيانولو، نو کوم شاګرد ورته ډېر په خاص نظر وکتل. هغه ورباندې پوه شو چې دده په زړه کې دا اعتراض دی چې دا حديث هم دده نه روايت شوی دی، په ده باندې فالج بيماری څرنګه حمله وکړه؟ ابان ﷫ وفرمايل: دا حديث بالکل صحيح دی، په ما باندې فالج بيماری په دې وجه حمله وکړه چې يوه ورځ زه ډېر سخت په غوسه شوم، د ډېرې غوسې له امله مې دا دعاء ويل هېره شوه، نو په ما باندې فالج بيماری حمله وکړه.

في الارض ولافي السماء: په لفظ د (شئ) کې اګرچې ځمکه او آسمان دواړه داخل دي، ليکن د دې جملې نور زيات تاکيد پيدا کولو لپاره بطور مبالغه وويل شو چې ښه تاکيد پيدا شي، په دې کې د ټولو آفتونو نه حفاظت دی، که هغه سماوي آفتونه وي او که ارضي.

علامه طيبي رحمه الله فرمايي: مَا به هره ورځ دا دعاء ويل، يوه ورځ راته هېره شوه، نو لږه تکليف راکړو، د حيوة الحيوان (کتاب) مصنف علامه دميري رحمه الله فرمايي: يوه ورځ زه د خپل استاد علامه فخرالدين عثمان بن محمد التوزي رحمه الله سره ناست وم چې ناڅاپه يو لړم راغلو، زما استاد محترم هغه لړم په لاس کې راواخيستو، هغه ته يې ټک ورنه کړو، ما پوښتنه وکړه، استاد محترم راته ووېل چې هر څوک دا دعاء يو ځل ووايي، هغه ته هيڅ شی ضرر نه شي رسولی.

باب مَا يقوله عِندَ النوم

کله چې ويده کېږئ څه به وايي

"قَالَ اللهُ تعالىٰ" الله جل جلاله فرمايي: "إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ" بې شکه چې د آسمانونو او د ځمکې پيدايش او د شپې او ورځې اوړيدل راوړيدلو کې، "لَآيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ" په دې ټولو کې د الله جل جلاله د قدرت دلائل دي، "الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَاماً وَقُعُوداً وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ" عقلمند خلك هغه دي چې الله جل جلاله په ولاړه، په ناسته او په ډډه باندې يادوي او دوی د آسمانونو او د ځمکې په پيدايش کې فکر کوي. [آل عمران: ۱۹۰-۱۹۱] الآيات.

تشريح: إن في خلق السموات والارض: الله جل جلاله د يوې خاصې مادې نه په خپل حکمت سره ځمکه او آسمان پيدا کړل، "واختلاف الليل والنهار" په شپه او ورځ کې چې کوم اختلاف دی، يعنې شپه لاړه شي ورځ راشي يا ورځ لاړه شي شپه راشي، کله ورځ اوږده شي شپه لنډه شي او کله ورځ لنډه وي شپه اوږده وي، کله يخني وي کله ګرمي وي، د دې تغيراتو او تبديلاتو نه پته لګيږي چې دنيا ته په يو رنګ هم دوام نشته، پاتې خو انسان شو، "أولي الالباب" په دې ټولو شيانو کې د عقلمندو لپاره واضح دليل دی، خو څوک چې کم عقل (کافر) وي، هغه ته بس خپله ځېټه ياده وي.

الذين يذكرون الله: څوک چې د الله جل جلاله قدرتونه ويني، د هغه په ياد کې مشغول شي، په ژوند کې يو ځل دوه ځل نه، بلکې "قياماً وقعوداً وعلى جنوبهم" په هر حال کې ذکر کوي، په ناسته، په ملاسته او په ډډه، "ويتفكرون في خلق السموات والارض" په آسمان او ځمکه کې دوی فکر کوي په خپلو زړونو کې د الله جل جلاله عظمت پيدا کوي، د علي رضي الله عنه څخه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د فکر او غور نه زيات کوم بل غوره عبادت نشته.

د ويده کېدو پر مهال دعاء

"وعن حُذَيْفَةَ، وأبي ذَرٍّ رضي الله عنهما: أَنَّ رسولَ الله ﷺ كَانَ إِذَا أَوى إِلى فِرَاشِهِ، قَالَ: بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ أَحْيَا وَأَمُوتُ".

حذيفه ﷛ او ابو ذر ﷛ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله خپلې بسترې ته د ويده کېدو لپاره راغلو، نو داسې دعاء به يې فرمايل: ترجمه: اې الله! ستا د نوم په برکت سره زما ژوند او مرګ دی. رواه البخاري

تشريح: د شريعت منشاء دا ده چې کله هم ويده کېږې، نو بايد وړاندې لږ عبادت وکړل شي، د رسول الله ﷺ عادت مبارکه دا وو چې د ماسخوتن لمونځ به يې وروسته کولو، ددې لپاره چې د جمع نه وروسته خلک کوم دنيوي کار ونه کړی شي، عمر ﷛ به چې کوم کس د ماسخوتن لمانځه وروسته په خبرو او ګپ شپ باندې وليدلو، نو په کوره / دوره باندې به يې وهلو، حافظ ابن حجر ﷫ فرمايي: د ابو مرايه العجلي ﷛ څخه روايت دی: کوم کس چې په بستره باندې په اوداسه کې د ذکر په حالت ويده شي، نو دا بستره دده لپاره د جومات قائم مقام وګرځي، اګرچې ويده دی، ليکن دده خوب هم په عبادت کې شمار دی، بل دا چې دا د علماوو او مشايخو تجربه ده چې کوم کس په اوداسه کې په ذکر کې ويده شي، نو د شيطان لعين د شيطاني وسوسو څخه بچ پاتې کېږي، خلاصه دا چې په ذکر کې ويده کېدل پکار دي يا کم نه کم پورتنی دعاء خو بېخي ويل پکار دي، ملا علي قاري ﷫ فرمايي: شريعت د ويده کېدو پرمهال او د خوب نه راپاڅېدو پرمهال دعاء ښودلې ده، وجه يې دا ده چې بايد انسان د کارونو شروع هم د الله ﷻ په پاک نوم وکړي او انتهاء يې هم د الله ﷻ په نوم سره وکړي.

د تولې ورځې ستړياوې لرې کولو وظيفه

"وعن علي ﷛: أَنَّ رسولَ الله ﷺ قَالَ لَهُ ولفاطمةَ رضي الله عنهما: إِذَا أَوَيْتُمَا إِلَى فِرَاشِكُمَا أَوْ إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا - فَكَبِّرَا ثَلاثاً وَثَلاثِينَ، وَسَبِّحَا ثَلاثاً وَثَلاثِينَ، وَاحْمِدَا ثَلاثاً وَثَلاثِينَ" د علي ﷛ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ ماته او فاطمې ﷺ ته وفرمايل: کله چې تاسو دواړه بسترې ته د ويده کېدو لپاره راځئ يا څملئ، نو دري دېرش ځله سبحان الله وايئ، دري دېرش ځله الحمد لله وايئ او دري دېرش ځله الله اکبر وايئ! "وفي رواية: التَّسْبِيحُ أَرْبعاً وثلاثينَ، وفي رواية: التَّكْبِيرُ أَرْبعاً وَثَلاثِينَ" او په يو بل روايت کې دي چې تسبيح يعنې سبحان الله ويل څلور دېرش ځله دي او په بل روايت کې دي چې تکبير يعنې الله اکبر څلور دېرش ځله دي. متفق عَلَيْهِ

لغوي تحقيق: أويتما: ځای مقررول، خپلې تيکاڼې ته راتلل

تشريح: علي ﷛ خپله فرمايي چې فاطمې ﷺ به مېچن (د اوړه ميده کولو مشين) چلولو، چې ددې په وجه به يې په لاسونو کې تناکې جوړې شوې او د کور نور کارونه به يې هم خپله کول، يوه ورځ مې ورته وويل چې د رسول الله ﷺ نه کوم خادم څانته وغواړه، فاطمه ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره شوه، رسول الله ﷺ دلته هغه پورتنی حديث ارشاد وفرمايلو، نو سمدستي فاطمې ﷺ وويل چې: "رضيت عن الله وعن رسول الله ﷺ" شعر:

مزرع تسليم را حاصل بتول .... ما دران را اسوه كامل بتول

علامه جزري رحمه الله فرمايي: كه يو كس ډېر سخت ستومانه شي او هغه د نور كار كولو ارتيا لري، نو هغه ته پكار دي چې دغه ذكر شوي تسبيحات ووايي، ابن حجر رحمه الله او ابن تيميه رحمه الله فرمايي: كوم كس چې ددې تسبيحاتو اهتمام كوي، هغه به كله هم ستړى نه شي او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: څوك چې دا تسبيحات ووايي هغه به نه ستړى كيږي دا صحيح خبره نه ده، بلكې څوك چې دا تسبيحات ووايي هغه به د زيات كار كولو په وجه دومره ستومانه كيږي چې په مشقت كې پرېوځي، خو هغه ته به پوره اجر ملاويږي.

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: څوک چې د ويده كېدو پرمهال دا تسبيحات ووايي، ټوله ورځ به بې بنه تر او تازه وي، ستړياوې درد تكليف وغيره به محسوس نه كړي، علي رضي الله عنه او فاطمې رضي الله عنها دغه تسبيحات تر مرګه پورې پرېنښنودل، "ما تركته منذ سمعته من النبي ﷺ" يعنې د كله نه چې موږ دغه وظيفه د رسول الله ﷺ نه اورېدلې ده، د هغې ورځې نه ددې ويل موږ پرېنښنودل، چا پوښتنه وكړه چې په جنګ صفين كې مو هم پرېنښنودل؟ هغه ورته وويل چې هو! په هغه شپه مې هم پرېنښنودل.

د خوب نه وړاندې بستره پاكول

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: إذَا أوَى أحَدُكُمْ إلى فِرَاشِهِ فَلْيَنْفُضْ فِرَاشَهُ بِدَاخِلَةِ إزَارِهِ فَإنَّهُ لاَ يَدْرِي مَا خَلَفَهُ عَلَيْهِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې په تاسو كې كوم كس بسترې ته د ويده كېدو لپاره راشي، هغه ته پكار دي چې د لنګ په دننه حصه باندې خپله بستره وڅنډي، ځكه چې ده ته پته نشته چې دده د تللو نه وروسته په بستره باندې څه پرېوتي دي، "ثُمَّ يَقُولُ: بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي، وَبِكَ أرْفَعُهُ" بيا دي داسې دعاء ووايي: **ترجمه**: اې الله! ستا د نوم په بركت سره زه څملم او ستا د نوم په بركت سره به زه راپاڅم، "إنْ أمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا، وَإنْ أرْسَلْتَهَا، فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ" اې الله! كه زما روح دې واخيستل (يعنې مړ شم) نو په ما باندې رحم وكړه، كه چېرته خوشې دې كړل (يعنې له خوبه دې راپاڅولم) نو بيا زما حفاظت وكړه او داسې حفاظت مې وكړه لكه څنګه چې ته د خپلو بندګانو حفاظت كوې (متفق عليه)

تشريح: إذا آوى أحدكم إلى فراشه: په ابن ماجه په يو روايت كې دي چې: "إذا أراد أحدكم أن يضطجع على فراشه" او په ترمذي كې دي چې: "إذا قام أحدكم عن فراشه ثم رجع اليه: فلينفض فراشه بداخلة إزاره" د څادر په يوه پيڅكه بستره صفا كړه، ددې نه مراد هغه طرف دى كوم چې د لاندې بدن سره لګيږي، لاندې حصه يې وښودل، په دې كې اشاره ده دې خبرې ته چې كه د څادر وغيره په ظاهر طرف دې صفا كړه، نو كېدى شي خيرنه كيږي كومه چې بيا په بدن باندې ډېره بده لګيږي، مطلب دا شو چې انسان كله هم خپلې بسترې ته د څملاستلو لپاره راځي، نو پكار ده چې صفائي يې وكړل شي.

إن أمسكت نفسي: انسان چې كله ويده شي، نو عارضي طور دده روح قبض كړى شي، كله چې

بيدار شي، نو بېرته يې روح واپس کړل شي او که مستقل طور يې روح قبض کړل شي، نو بېرته واپس نه شي راتلی، مطلب دا چې: اې الله! که تاسو زما مستقل طور روح قبض کول غواړئ، نو ما وبخښئ او که بېرته يې راته واپس کوئ، نو زما مرسته وکړئ او د نېکۍ لار راته وښيئ.

د ويده کېدو نه وړاندې دم اچول

"وعن عائشة رضي الله عنها: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ نَفَثَ فِي يَدَيْهِ، وَقَرَأَ بِالْمُعَوِّذَاتِ، وَمَسَحَ بِهِمَا جَسَدَهُ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به معوذات سورتونه ووېل بيا به يې په خپلو لاسونو مبارک کې پوک کړل او هغه لاسونه به يې په خپل ټول بدن راکش کړل. متفق عليه

"وفي رواية لهما: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ، ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا فَقَرَأَ فِيهِمَا: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ، وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ، وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ" په يو بل روايت کې داسې شته چې نبي کريم ﷺ به کله خپلې بسترې ته تشريف راوړو، نو (قل هو الله، قل أعوذ برب الفلق او قل أعوذ برب الناس) سورتونه ووېل او هغه به يې بيا په خپلو لاسونو کې پوک کړل، "ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ" بيا به يې لاسونه مبارک د بدن چې کومې حصې پورې کېدی شول پرې مږل به يې، "يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ، وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ، يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ" شروع به يې د سر او مخ مبارک نه کول او د بدن مخکينی برخه به يې کول. درې ځله به يې داسې کول. متفق عليه

قَالَ أَهْلُ اللُّغَةِ: النَّفْثُ نَفْخٌ لَطِيفٌ بِلَا رِيقٍ: اهل لغت علماء فرمايي: النفث هغه پوک ته وايي په کوم کې چې لاړې نه وي.

لغوي تحقيق:

نفث: نفث معنی پوک وهل، دم اچول

تشريح: د شپې په خوب سره د انسان په زړه باندې يو قسم زنګ لګيږي، ددې زنګ نه حفاظت او د حفظ ما تقدم اصولو په لحاظ د خوب نه وړاندې لږ څه د الله ﷻ ذکر کول پکار دي، برابره خبره ده چې معوذتين وي يا تلاوت وي يا تسبيح فاطمي وغيره وي، يا مسنونې دعاګانې وي، نو په دې شان سره به د زړه نه هم زنګ لرې شي او په غافلينو کې به هم شمار نه شي.

د خوب نه وړاندې بله دعاء

"وعن البراء بن عازب رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: إِذَا أَتَيْتَ مَضْجَعَكَ فَتَوَضَّأْ وُضُوءَكَ لِلصَّلَاةِ" د براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل کله چې تاسو خپلې بسترې ته د ويده کېدو لپاره راځئ، نو داسې اودس کوئ لکه څنګه چې د لمانځه لپاره اودس کوئ، "ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الْأَيْمَنِ، وَقُلْ: اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ، وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ" بيا په ښي طرف څمله او داسې دعاء ووايه چې:

ترجمه: اې الله! ما خپل ځان تا ته سپارلی دی او خپل مخ مې تاسو طرفته کړو، "وَفَوَّضْتُ أَمْرِي

إليك، وألجأت ظهري إليك، رغبة ورهبة إليك" او خپل امور مي تاسو ته حواله کړل او ستاسو په حفاظت کې راغلم، په خوشحالئ سره او په وېرې سره ستاسو طرفته رجوع کوم. "لاملجأ" نشته د تېښتې ځای، "ولا منجا منك" او نشته چېرته د خلاصي ځای، "إلا إليك" مګر ستا په توفيق سره به بچ کېږم. "آمنت بكتابك الذي أنزلت، وبنبيك الذي أرسلت" ما ايمان راوړی دی په هغه کتاب چې تا رانازل کړی دی او په هغه پېغمبر ﷺ چې تا ورته رالېږلی دی. "فإن مت مت على الفطرة، واجعلهن آخر ما تقول" که ته په دې شپه مړ شوې، نو ستا مرګ به د فطرت وي او دا دعاء آخري دعاء وګرځوه؛ (ددې نه وروسته نورې خبرې مه کوه). متفق عليه

تشريح: فتوضأ: اودس وکړه، د خوب نه وړاندې اودس مستحب دی. "وضوءك للصلوة" لکه څرنګ چې د لمونځ لپاره اودس کوې، داسې اودس وکړه؛ دا جمله احتراز دی د هغه اودسه نه چې لغوي اطلاق وربانډې کېږي چې هغه خالص لاس يا خوله وينځل دي، لکه څرنګه چې خلک يې د خوراک نه وړاندې وينځي.

شقك الأيمن: قاضي عياض رحمه الله فرمايي: په ښي طرف ويده کېدو فايده دا ده چې کوم کس په چپ (ګس) طرف ويده شي، هغه په خوب کې داسې مستغرق شي چې لمانځه ته هم نه شي پاڅېدی او څوک چې په ښي طرف ويده شي نو بيا خو بيې خوب مستغرق نه وي، په خوب کې ډوب نه وي او بيا د چې تهجدو ته هم په اسانی پورته کېدی شي.

سوال: رسول الله ﷺ به ولې په ښي طرف څملاستلو. د دوی زړه مبارک خو به خوب کې هم بيدار وو؟

جواب: رسول الله ﷺ چې هر ذي شرافت والا کار وو، د ښي طرف نه به يې شروع کولو او بيا دا چې په دې کې امت ته تعليم وو.

اللهم أسلمت نفسي: اې الله! زما ټول بدن ستا تابعدار دی، يعنې ستا تابع دی، ځکه چې هر قسم فايده او نقصان ستا له طرفه دی، هر څه ستا له طرفه دي. ماته چې ستا له طرفه څه راځي، زه پرې راضي يم.

فوضت أمري إليك: ما خپل ټول کاروناه تاته حواله کړي دي.

والجأت ظهري إليك: لکه څرنګه چې انسان په سيده ملا کار کوي، قوت پرې حاصلوي، دغه شان ما هم په خپلو ټولو کارونو کې د الله ﷻ نه طاقت حاصل کړی دی، په هغه مي بروسه ده، توکل مې پرې کړی دی.

رغبة: د ثواب په طمع.

ورهبة: او د عذاب له وېرې.

بله مسنونه دعاء

"وعن أنس ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ قَالَ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې د نبي کريم ﷺ عادت مبارکه دا وو چې کله به خپلې بسترې ته د آرام لپاره راغلو، نو داسې دعاء به يې ويل، ترجمه: ټول تعريفونه هغه ذات لره دي چې موږ ته يې خوړه راکړه، او يې راکړې، زموږ لپاره کافي شو او ځاى يې راکړو، "فَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِيَ لَهُ وَلَا مُؤْوِيَ" ځکه چې ډېر خلک داسې شته چې نه خو د دوى کوم کارونه پوره شو او نه دوى ته کوم ځاى ورکړى شو. رواه مسلم

تشريح: كفانا: زموږ لپاره کافي شو، مطلب دا چې د ضرري او تکليف ورکونکي شيانو نه يې موږ وساتلو او زموږ ضروريات يې پوره کړل، "وآوانا" موږ ته يې ځاى راکړو، کور کلى يې راکړو، د ځناورو په څېر يې خوشي په دشت بيابان خوشي نه کړو، بلکې د پټولو لپاره يې کورونه راکړل

فكم ممن لا كافي له ولا مووى: ډېر داسې خلك شته چې د هغوى څوك پوښتنې والا نشته او نه څوك ځاى ورکولى شي، يعنې ډېر داسې خلك شته چې هغوى د دښمن په قيد کې دي چې د هغوى څوك پوښتنې والا نشته، الله ﷻ په موږ رحم وکړي، بل مطلب يې دا دى چې په قرآن کريم کې هم ذکر دي هغه دا چې. "ذلك بأن الله مولى الذين آمنوا وأن الكافرين لا مولى لهم" مطلب دا چې الله ﷻ موږ مسلمانان پيدا کړي يو او د خپلو نعمتونو شکر ادا کولو توفيق يې رانصيب کړو او په دنيا کې ځومره ملحدين دي، ځومره کفار دي چې نه خو الله ﷻ پيژني او نه د الله ﷻ په ورکړل شوي نعمتونو باندې شکر وباسي، ددې کفارو سره د الله ﷻ مرسته نشته. مرسته خو يې خالص د مسلمانانو سره ده کوم چې د الله ﷻ په ورکړل شوي نعمتونو باندې شکر وباسي.

بل مطلب يې دا دى: ډېر خلك داسې دي چې خوراکي شيان نه شي خوړلى، د څښلو شيان نه شي څښلي، خالص موږ يو چې هر څه خورو او هر څه څښو، دا په موږ باندې د الله ﷻ لوى فضل او احسان دى.

د خوب کولو مسنونه طريقه

"وعن حذيفة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْقُدَ، وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى تَحْتَ خَدِّهِ" د حذيفه ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د آرام / خوب اراده وفرمايله، نو خپل ښى لاس به يې د خپل مخ مبارك لاندې کېښودلو، "ثُمَّ يَقُولُ: اَللّٰهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ" بيا به يې داسې دعاء وفرمايله.

ترجمه: اې الله! موږ د خپل عذاب نه وساتې په کومه ورځ چې ته خپل بندګان راجمع کړې. رواه الترمذى، وقال: حديث حسن.

ورواه أبوداود، من رواية حفصة رضي الله عنها، وفيه أنه كان يقوله ثلاث مرات: امام ابوداود رحمه الله هم په خپل سنن کې دا حديث د حفصې ﷺ ځخه رانقل کړى دى او په هغې کې داسې هم شته چې دا کلمات به يې درې درې ځله ويل.

تشريح: په ځينو رواياتو کې دي چې رسول الله ﷺ به چې کله ويده کېدو، نو خپل لاس مبارك

به يې د رخسار لاندې کېښودلو، ليکن په نورو رواياتو کې دي چې رسول الله ﷺ به د خپل سر مبارك لاندې لاس کېښودلو، تطبيق يې دا دی چې کله به رسول الله ﷺ د سر مبارك لاندې کېښودلو او کله به يې د مخ مبارك لاندې کېښودلو، کوم صحابي رضي الله عنه چې په کوم صورت وليدو، هغه يې را نقل کړي دي، ځينې نور علماء فرمايي: سر او مخ نژدې دي، نو ځکه کله روايت د مخ والا نقل کړی شي او کله د سر والا روايت نقل کړی شي.

قني عذابك: له عذابه مې خلاص کړې، رسول الله ﷺ خو معصوم وو، نو بيا يې ولې داسې دعاء کول؟ جواب دا دی چې د امت د تعليم لپاره يا دا چې د انکسارۍ او عاجزۍ له امله.

تبعث عبادك: په يو بل روايت کې دي چې: "تجمع عبادك" د دواړو مفهوم يو دی، دلته سوال دا دی چې دا دعاء خو د ورځې هم ويل کېدی شي، د شپې تخصيص پکې ولې وشو؟ جواب دا دی چې د ورځې هم جائز ده، ليکن د شپې به رسول الله ﷺ ځکه ويل چې خوب د مرګ خور ده، ممکنه ده چې شپې مرګ راته راشي، ددې نه وړاندې چې الله ﷻ ته معذرت وړاندې کړم، بلکې په يو روايت کې دي چې دا دعاء درې ځله ويل پکار دي.

كتاب الدعوات

د دعاګانو بيان

باب الأمر بالدعاء وفضله وبيان جمل من أدعيته

باب دی په بيان د دعاء کې او د هغې په فضيلت کې

"قَالَ اللهُ تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ" ستاسو رب ويلي دي چې زما نه سوال کوئ، زه به ستاسو سوال قبلوم. [غافر: ۶۰]

تشريح: أدعوني: انسان ته پکار ده چې هر څه د الله ﷻ نه وغواړي، ځکه چې همدغه د بندګۍ او عبديت کمال دی، انسان د خپلې محتاجۍ او د الله ﷻ د بې نيازۍ اظهار کوي، د انس رضي الله عنه څخه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې ځينې خلك د الله ﷻ نه هر څه غواړي تردې چې د بوټانو تسمې هم ترې غواړي، په يو بل روايت کې دي چې که د مالګې ضرورت پېښ شي، نو هم يې د الله ﷻ نه غواړي.

أستجب لكم: د سلمان رضي الله عنه څخه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو رب ډېر حياء دار او کريم ذات دی، کله چې يو بنده هغه ته لاسونه وغوړوي، نو الله ﷻ ته شرم ورځي چې خالي لاسونه يې واپس کړي، د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې که يو کس ته د دعاء دروازه خلاصه کړل شي، نو د قبوليت دروازه هم ورته خلاصيږي

وداعٍ دعا يامن يجيب إلى الندى :::: فلم يستجبه عند ذاك مجيب

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ" تاسو خپل رب ته فرياد وكړئ په پټه او په عاجزئ سره، بې شكه الله ﷻ تجاوز كونكي خلك نه خوښوي. [الأعراف:۵۵].

تشريح: په تفسير مظهري كې ددې مختصر خلاصه دا ده چې ذكر خفي (پټ ذكر) افضل دى، په دې باندې د صحابه كرامو ﷺ اجماع ده، حسن بصري رحمه الله فرمايي: پټ ذكر د جهري ذكر نه په اويا درجې غوره دى، سعد بن أبي وقاص ﷺ هم فرمايي: ذكر خفي افضل دى، د نبي كريم ﷺ ارشاد مبارك دى چې ذكر خفي غوره ذكر دى او افضل رزق هغه دى چې بقدر كفايت وي.

علامه نووي رحمه الله فرمايي: "الذكر يكون بالقلب ويكون باللسان والأفضل ما كان بالقلب واللسان جميعاً فإن اقتصر على أحدهما فالقلب أفضل" ذكر په زړه كې هم كيږي او په ژبه هم كيږي، غوره ذكر هغه دى چې په زړه او په ژبه دواړو سره وشي، ليكن كه چېرته په يو باندې اكتفاء كول غواړې، نو بيا د زړه ذكر غوره دى، د ذكر نه مراد عام ذكر هم كېدى شي او دعاء هم مراد كېدى شي، بيا دعاء په آرام او په پټه په عاجزې سره كول پكار دي، په چيغو دعاء كول د دعاء د آدابو مخالفت دى. "إنه لا يحب المعتدين" ددې نه مراد هغه خلك دي چې فضول دعاګانې كوي، عطيه رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد په چيغو دعاء كول دي.

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ" اې پيغمبره ﷺ! كله چې ستا نه زما بندګان زما په اړه پوښتنه وكړي (چې الله ﷻ چېرته دى، ددې لپاره چې سوال ترې وكړو) نو ورته ووايه چې الله ﷻ ستاسو سره نزدې دى. "أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ" زه د دعاء كونكي دعاء قبلوم كله چې دعاء كوي. الآية[البقرة:۱۸۶]

تشريح: وإذا سألك عبادي الخ: ددې آيت شان نزول داسې دى، يوه ورځ نبي كريم ﷺ علي ﷺ ته وفرمايل: اې علي ﷺ! په دعاء كې كمى مه كوه! ځكه چې په ما باندې دا آيت نازل شوى دى: "أدعوني أستجب لكم" صحابه كرامو پوښتنه وكړه چې يا رسول الله ﷺ! موږ ته به څرنګه پته ولګيږي چې په كوم وخت كې موږ دعاء وكړو؟ ددې په جواب كې دغه آيت نازل شو "فإني قريب" د علم په اعتبار سره الله ﷻ نزدې دى، هيڅ شى د هغه نه پټ نه دى، يا دا چې د الله ﷻ قرب او نزدېوالى هم د متشابهاتو څخه دى، لكه څرنګه چې د الله ﷻ په نورو صفاتو باندې بې چون او چرا ايمان راوړل واجب دي، دغه شان په دې مسئله باندې هم ايمان راوړل واجب دي.

شعر: جان بتو نزديك تو دورى ازو ...... قرب حق راچون بدانى اے عمو

أجيب دعوة الداع إذا دعان: كله چې هم انسان د الله ﷻ نه څه غواړي، الله ﷻ د هغه په آواز باندې لبيك وايي، شپه وي كه ورځ وي، مسلمان وي كه كافر. د شپې الله ﷻ آواز كوي، څوك غوښتونكي شته چې وريې كړم.

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ" څوك دي د الله ﷻ نه سيوا

چې د بې آرامه او تکليف والا سړي نه ضرر او تکليف لرې کړي او د هغه غوښتنه قبوله کړي، د الله ﷻ نه سيوا بل څوك نشته. [النمل:۶۲].

تشريح: مضطر: د إضطرار نه مشتق دی، إضطرار داسې حالت ته ويل کيږي چې انسان نه پکې صبر کولی شي او نه په ظاهر کې د هغې څه حل راوځي، په داسې حالت کې الله ﷻ وعده کړې ده چې زه به يې دعاء قبلوم. ځکه چې په داسې وخت کې د انسان ټولې ذريعه ختمې شي، انسان نا اميده شي، هغه ته يوه ذريعه معلومه شي چې هغه قادر مطلق ذات دی، هغه ذات مشکل کشا او حاجت روا ذات دی، نو په داسې دعاء کې چې کوم اخلاص وي، هغه خالص يو الله ﷻ ته معلوم وي، کهٔ دا اخلاص په هر چا کې وي، مؤمن وي که کافر وي، نو ددې اخلاص په برکت سره الله ﷻ د هغه دعاء قبلوي، په يو روايت کې دي چې الله ﷻ فرمايي: زه د مظلوم دعاء کله هم نه ردوم، اګرچې هغه د کوم کافر د خولې نه ولې نه وي وتلې، وجه يې هم دغه ده چې د مظلوم په دعاء کې ډېر زيات اخلاص وي، د رسول الله ﷺ په خدمت کې يو کس حاضر شو او د خپلې پرېشانۍ اظهار يې وکړو، رسول الله ﷺ هغه ته دا دعاء وښودله: "اللهم رحمتك أرجو فلا تكلني إلى نفسي طرفة عين وأصلح لي شأني كله لا إله إلا أنت" اې الله! زه ستا د رحمت اميدوار يم، يوه لمحه مې خپل نفس ته مه پرېږده، ټول کارونه مې سم کړې، ستا نه پرته بل څوك د عبادت لائق نشته

دعاء اصلي عبادت دی

"وعن النعمان بن بشير رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قَالَ: الدُّعَاءُ هُوَ العِبَادَةُ" د نعمان بن بشير رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دعاء کول بعينه عبادت دی. رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: په دې حديث کې د دعاء نه تعبير په عبادت سره شوی دی، ددې يو څو وجوهات دي (۱) دعاء کول د الله ﷻ حکم دی او د الله ﷻ حکم پوره کول عبادت دی، (۲) د عبادت اصل مقصود عاجزي او انکساري ده. د دعاء هم دغه مفهوم دی چې انسان خپل ځان هيڅ نه ګڼي، د الله ﷻ په وړاندې يې خپل لاسونه غوړولي وي، د فقيرانو په څېر د الله ﷻ نه سوالونه کوي، (۳) مبالغةً داسې وويل شو، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې ارشاد دی: "إن الذين يستكبرون عن عبادتي سيدخلون جهنم داخرين" بې شکه څوك چې د الله ﷻ د عبادت څخه تکبر کوي، داسې خلك به جهنم ته داخليږي، ددې حديث نه معلومه شوه چې دعاء اصلاً عبادت دی. لکه څرنګه چې د غير الله عبادت شرك دی، دغه شان د غير الله نه سوالونه کول هم شرك دی

رسول الله ﷺ به دا دعاء ډېره زياته کول

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ رَسُولُ الله ﷺ يَسْتَحِبُّ الجَوَامِعَ مِنَ الدُّعَاءِ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به جامع او مانع دعاګانې خوښولې. (يعني هغه دعاګانې چې د

دنيا او آخرت د خير ذكر وو، "وَيَدَعُ مَا سِوَىٰ ذٰلِكَ" او ددې نه سېوا نورې دعاګانې به يې پرېښودلې. رواه أبوداود بإسناد جيد

تشريح: ددې نه مراد هغه دعاګانې دي چې د دنيا او اخرت په فايدو باندې مشتملې وي. مثلاً: د الله ﷻ نه د خير او عافيت سوال يا مثلاً "ربنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار" په دنيا کې هم خير او عافيت او په آخرت کې هم خير او عافيت، په دې کې د دنيا او اخرت فايدې دي.

د جامع دعاګانو نه هغه دعاګانې مراد دي چې الفاظ يې مختصر وي. ليکن معنی يې زياته وي، په دې بنياد علماء، ليکي چې اجتماعي دعاګانې مختصر او جامع کول پکار دي. ددې لپاره چې خلك تنګ نه شي، بل د جامع دعاګانو غوښتلو امر ځکه وشو چې د الله ﷻ په دربار کې د آدابو پوره خيال وساتل شي، د آدابو خيال ساتل د هر سړي په وس کې نه وي، نو ځکه حکم وشو چې په مختصرو او لنډو الفاظو کې دعاء کول پکار دي

د الله ﷻ نه هدايت غوښتل پکار دي

"وعن أنس ﷺ قَالَ: كَانَ أكْثَرُ دعاءِ النبيِّ ﷺ: اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً" د انس ﷺ نه راويت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت دا وو چې اکثر وخت به يې دا دعاء کول. **ترجمه:** اې الله! ته موږ ته په دنيا کې هم ښکلې حالت راکړې، "وفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ" او په آخرت کې هم ښکلې حالت راکړې او د عذاب نه مو وساتې. متفقٌ عَلَيهِ

زاد مسلم في روايته قَالَ: وَكَانَ أَنَسٌ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ بِدَعْوَةٍ دَعَا بِهَا: امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کې دا جمله زياته کړې ده چې انس ﷺ به کله دعاء کول، نو همدغه دعاء به يې کول. "وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ بِدُعَاءٍ دَعَا بِهَا فِيهِ" او کله چې به يې بله دعاء هم کول، نو دا دعاء به يې پکې ضرور شاملول.

تشريح: مفسرين د آيت باره کې فرمايي: دا آيت ډېر زيات جامع او مانع دی، دا آيت د دنيا او آخرت ټولو فايدو ته شامل دی، عمر ﷺ به چې کله د بيت الله طواف کولو، نو دا آيت به يې ويلو، عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي: د بيت الله سره يوه پرښته ولاړه ده، د کوم وخت څخه چې آسمان او ځمکه پيدا شوې ده. د هغه وخت څخه هغه ولاړه ده. کله چې هم څوك د بيت الله سره څنګ ته دعاء کوي، نو هغه پرښته ورباندې آمين وايي، بيا عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي: کله چې هم څه دعا کوئ نو داسې دعا کوئ! اللهم ربنا آتنا في الدنيا حسنة الخ:

د حسنة په باره کې ګڼ شمېر معناګانې نقل شوې دي، مثلاً:

علي ﷺ فرمايي: في الدنيا حسنة نه مراد ښه ښځه ده.

حسن بصري رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد علم دی.

ابووائل رحمه الله او ابن زيد رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد مال دی.

قتاده رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد عافيت دی.

مقاتل رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد خوشحالي او فراخه رزق دی

دغه شان په (وفي الآخرة حسنة) کې هم ګڼ شمېر اقوال دي، مثلاً د علي رضي الله عنه په نزد ددې نه مراد جنتي حورې دي، د حسن بصري رحمه الله په نزد جنت دی، د سفيان ثوري رحمه الله په نزد د الله جل جلاله له لورې معافي ده، دا ټول نعمتونه ترې مراد کېدی شي، ځکه خو به رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه دعاء ډېره کول

عبارتنا شتى حسنك واحد ...... وكل الى ذاك الجمال يشير

د هدايت سوال

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم كَانَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى، وَالتُّقَى" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم به په خپله دعاء کې داسې فرمايل، **ترجمه**: اې الله جل جلاله زه ستا د هدايت سوال کوم، د پرهېزګاری سوال هم درنه کوم، "وَالْعَفَافَ، وَالْغِنَى" او د پاکۍ سوال هم درنه کوم او د دنيا څخه د بې نيازی سوال هم کوم. رواه مسلم

تشريح: الهدى: هدايت ډېر لوی نعمت دی، که يو انسان ته هر څه ملاو شي، خو هدايت ورسره نه وي، نو ده ته هيڅ شی په لاس نه دي ورغلي، د چا سره چې الله جل جلاله مينه کوي، هغه ته هدايت نصيب کوي، لکه ارشاد دی: "إنك لاتهدي من أحببت ولكن الله يهدي من يشاء" تاسو چې چاته وغواړئ هدايت نشی کولی، بلکې الله جل جلاله چې چاته وغواړي هدايت ورته کوي.

الغنى: ددې نه مراد د زړه غنا ده، د مال کثرت او زياتوالی مراد نه دی، وجه يې دا ده چې د مال په کثرت سره انسان غافله کېږي، د الله جل جلاله له ياده وځي، علامه طيبي رحمه الله د مشکوة په شرح کې ددې حديث لاندې ليکي چې دلته د (الهدى) نه مراد هر هغه طريقه ده چې انسان حلال رزق، قيامت طرفته رغبت او مکارم اخلاق طرفته متوجه کوي، د تقی نه مراد د شرك نه بچ کېدل دي، په حديث کې هدايت وړاندې ذکر شو، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې د هر شي بنياد هدايت دی، بيا تقوی ده، ځکه چې تقوی د هدايت څخه وروسته وي، بيا يې عفاف يعنې پاك لمنې ذکر کړه، اګر چې پاك لمنې په تقوی کې داخله ده، ليکن ددې اهميت زيات دی، نو ځکه يې جدا ذکر کړو، په آخر کې يې غنی ذکر کړه چې په دې سره هدايت کامل کېږي

د دنيا او اخرت ښېګڼې

"وعن طارق بن أشيم رضي الله عنه قَالَ: كَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَسْلَمَ عَلَّمَهُ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم الصَّلَاةَ ثُمَّ أَمَرَهُ أَنْ يَدْعُوَ بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ" د طارق بن اشيم رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې کله به کوم کس مسلمان شو، نو نبي کريم صلی الله علیه وسلم به ورته اول لمونځ ښودلو، بيا به يې ورته دا دعاء ښودل چې داسې دعاء کوه! "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي" **ترجمه**: اې الله! ما وبخښې! اې الله! په ما رحم وکړې! اې الله! ماته هدايت وکړې! اې الله! زما سره د عفو معامله وکړې! اې الله! ماته فراخه رزق راکړې! رواه مسلم

"وفي رواية له عن طارق: أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم، وَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَارَسُولَ اللهِ، كَيْفَ أَقُولُ حِينَ أَسْأَلُ رَبِّي؟" او په يو بل روايت کې

د طارق ﷺ نه دي چې هغه د نبي کريم ﷺ نه واورېدل چې کله ورته يو کس راغلو او ورته يې وفرمايل چې يا رسول الله ﷺ! زه په دعاء کې د الله ﷻ نه څنګه غوښتنه وکړم؟ "قَالَ: قُلْ: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ، وَارْحَمْنِيْ، وَعَافِنِيْ، وَارْزُقْنِيْ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: په دعاء کې داسې الفاظ وايه: **ترجمه**: اې الله! ما وبخښې! اې الله! په ما رحم وکړې: اې لله! زماسره د عفوې معامله وکړې: اې الله! ماته فراخه رزق راکړې، "فَإِنَّ هٰؤُلَاءِ تَجْمَعُ لَكَ دُنْيَاكَ وَآخِرَتَكَ" ځکه چې په دې الفاظو کې ستا لپاره د دنيا او اخرت ګټه ده.

تشريح: اغفرلي: اې الله! ما وبخښې! د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ نه پرته د هر سړي نه ګناه کيږي او د الله ﷻ نه پرته بل څوك نشته چې ګناه معاف کړي، لکه څرنګه چې ارشاد دی: "ومن يغفر الذنوب الا اللّٰـــه" د الله ﷻ څخه پرته بل څوك دی چې ګناه معاف کړي، (اغفرلي) دا په منزله د تخليه کې دی او (وارحمني) په منزله د تحليه کې دی.

عافني: ماته عافيت يعني خير رانصيب کړې! دا ځکه چې د ايمان نه وروسته خير او عافيت ډېر لوی نعمت دی، چاته چې عافيت په لاس ورشي، هغه ته ډېر څه ملاو شول، په يو روايت کې دي چې يو صحابي پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! څه وغواړم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ څخه د خير او عافيت سوال کوه، ځکه چې چاته خير او عافيت ملاو شي، هغه ته د دين او دنيا ټولې ښېګڼې ملاو شوې.

وارزقني: رزق راکړه! د رزق مسئله په منځ کې ځکه راغله چې انسان تر هغه پوره په دلجويي سره عبادت نه شي کولی تر څو چې يې د رزق مسئله حل شوې نه وي.

تجمع لك دنياك وآخرتك: په دې کلمو کې ستا لپاره د دنيا او اخرت ټولې فايدې پرتې دي، په دې کې څلور الفاظ دي: رحم، عافيت، رزق او مغفرت، په دې کې د اولنی درې دعاګانو ضرورت په دنيا او اخرت دواړو کې پيدا کيږي او مغفرت د آخرت سره مخصوص دی، خلاصه دا چې په دې کې د دنيا او اخرت ټولې فايدې دي.

داستقامت لپاره دعاء

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دی فرمايي چې نبي کريم ﷺ داسې دعاء وفرمايل، **ترجمه**: اې الله! اې د زړونو اړونکيه! زما زړه د خپل طاعت او تابعدارۍ طرفته واړوې! رواه مسلم

تشريح: صرف قلوبنا على طاعتك: اې د زړونو اړونکې ذاته! زموږ زړونه ستا اطاعت او تابعدارۍ ته واړه! په دې دعاء کې امت ته د شفقت اظهار دی، په دې کې اشاره ده چې بايد انسان په عبادت کې باندې مستقيم پاتې شي، په قرآن کريم کې ارشاد دی: "ان الذين قالوا ربنا اللّٰـــه ثم استقاموا" کومو خلکو چې اقرار وکړو چې زموږ رب الله ﷻ دی او بيا په دې باندې مستقيم پاتې شول، په يو بل روايت کې هم

دې خبرې ته اشاره ده چې د بنیادم زړونه د الله ﷻ د دوه ګوتو ترمنځ دي، هر څنګه چې یې وغواړي او
هر طرف ته یې چې وغواړي اړولی یې شي، نو په دې دعاء کې د الله ﷻ نه سوال کیږي چې اې الله
زموږ زړونه ستا په عبادت باندې مستقیم پاتې کړې، بل طرفته وانه وړې، د هدایت نه وروسته ګمراه
نه شي، زموږ زړونه د هدایت څخه کاږه مه کړې، مفسرین لیکي: څوک چې د غه ایت د فرض لمانځه
وروسته ووایي، الله ﷻ به یې خاتمه په خیر سره کړي

د بدتقدیر او د دښمنانو د خوشحالی نه هم په الله ﷻ سره پناه غوښتل پکار دي

"وعن أبي هريرة ﵁، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ جَهْدِ البَلاَءِ، وَدَرَكِ الشَّقَاءِ" د أبو هریره ﵁ نه روایت
دی هغه فرمایي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: په الله ﷻ سره پناه وغواړئ په مشقت کې د غورځېدو
نه او د بدبختئ نه، "وَسُوءِ القَضَاءِ، وَشَمَاتَةِ الأَعْدَاءِ" او د خراب تقدیر نه او د دښمنانو د طعن او تشنیع نه
متفق عَلَيْهِ

وفي روايةٍ قَالَ سفيان: أَشُكُّ أنِّي زِدْتُ واحدةً مِنْهَا: او په یو بل روایت کې دي چې سفیان ﵀ وفرمایل
زما شک دی په دې روایت کې ما د یو لفظ اضافه کړې ده.

لغوي تحقیق:

البلاء: د بلاء معنی ده: مرض، تکلیف او مصیبت.

درك: باب ضرب یضرب دی، د دې معنی ده: موندل.

تشریح: جهدالبلاء: په مشقت کې د پرېوتلو نه، عبد الله بن عمر ﵄ فرمایي: د دې نه مراد
داسې انسان دی چې د هغه سره مال کم وي او بال بچ یې زیات وي، لیکن ځینې نور علماء فرمایي
د دې سره یو بل قید هم اضافه کول پکار دي هغه دا چې داسې کس صبر هم نه کوي، بې صبره انسان
وي، د ځینو نورو په نزد د دې نه مراد د مرګ سختي ده، یا داسې حالات ترې مراد دي چې هغه د
برداشت او وس نه بهر وي، له ځانه یې لرې کولی هم نه شي، د ځینو نورو په نزد د دې نه مراد سوء
خاتمه ده، یعنې بد مرګ، دا ټول اقوال صحیح دي، په دې کې هیڅ تضاد نشته، د ټولو نه په الله ﷻ
سره پناه غوښتل فرض دي

سوءالقضاء: د هرې بدې فیصلې نه، د دې نه مراد عموم دی، برابره خبره ده چې په بدن کې وي یا
په مال کې وي یا په کور کې وي یا په کور والا کې وي یا د ځینو علماوو په نزد د دې نه هم سوء خاتمه
مراد ده، یا هره هغه فیصله چې انسان یې نه خوښوي

شماتة الاعداء: د دښمن د خوشحالی نه، یعنې: اې الله! په داسې سخت تکلیف او مصیبت مې
مه مبتلا کوې چې دښمن مې پکې ووینې، نو هغه راباندې خوشحاله شي

اشك اني زدت واحدة منها: ماته شک دی چې یوه خبره به مې پکې له ځانه زیاتې کړې وي، په یو بل
ځای کې دي چې: "لا أدري أيتهن؟" ماته پته نشته چې هغه کومه جمله ده، لیکن د اکثرو علماوو په نزد

هغه جمله شماتة الاعداء ده، دا هم يوه كامله مكمله جامع مانع دعاء ده، الله ﷻ دي زمونږ ټولو په حق كې قبوله كړي.

د دين او د نيا د ښه والي لپاره

"وعنه، قال: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يقول: اَللّٰهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ به داسې دعاء فرمايل، ترجمه اې الله! زما د كارونو محافظ چې زما دين دى هغه راته درست كړه! "وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي" او اې الله! زما د دنيا اصلاح هم وكړه كومه كې چې زما ژوند دى، "وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي" او د آخرت اصلاح مي وكړه چې هلته زما واپس تلل دي، "وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ" او زما ژوند د ښكو عملونو لپاره زيات كړې، "وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ" او مرګ مي د هر قسم شر نه په خير سره راحت وګرځوې! رواه مسلم.

تشريح: أصلح لي ديني الذي هو عصمة أمري: زما دين ښه كړې كوم چې د ټولو معاملاتو ترون دى. ځيني علماء فرمايي: ددې نه مراد دا دى اې الله! ستا د قهر او عذاب څخه مي بچ كړې، يعني د دنيا ټول كارونه مي سم كړې، علامه مناوي رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد دين دى، ځكه چې د چا دين خراب شي، د هغه ټول معاملات به خراب وي، "واصلح لي دنياي التي فيها معاشي" زما لپاره زما دنيا ښكلې كړه، ځكه چې دلته زما ژوند دى، ددې نه مراد حلال رزق دى، د چا رزق چې حلال وي د هغه نور ټول كارونه سم وي، نيكى او اطاعت ته به يې رغبت كيږي، په زړه كې به يې سكون وي، ددې برعكس د چا رزق چې حرام وي، د هغه ټول كارونه به ګډوډ وي او په زړه كې به يې سكون هم نه وي.

وأصلح لي آخرتي: زما لپاره زما آخرت ښايسته كړې، ځكه چې هلته زما واپسي ده، مطلب دا چې په عبادت كې راته اخلاص نصيب كړې او ښكلې خاتمه مي نصيب كړې، ځكه چې ددې نه پرته بله چاره نشته.

واجعل الموت راحة لي من كل شر: زما لپاره زما مرګ د هر شر او بدى نه د راحت سبب وګرځوه! زين العرب رحمه الله فرمايي: دا به هغه وخت صحيح وي كله چې عقيده درست او اعمال صحيح وي او د هغه خاتمه هم د شهادت په كلمه شوې وي، دا حديث هم علماوو په جوامع الكلم كې حساب كړى دى، ځكه چې په دې حديث كې د دنيوي او اخروي ژوند د ښه والي دعا شوې ده.

د هدايت او استقامت دعاء

"وعن علي رضي الله عنه قَالَ: قَالَ لِي رسولُ اللهِ ﷺ: قُلْ: اَللّٰهُمَّ اهْدِنِي، وَسَدِّدْنِي" د علي رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ ماته وفرمايل: په دعاء كې داسې وايه! ترجمه اې الله! ماته هدايت وكړې او په سيده لار مي روان كړې.

وفي رواية: اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالسَّدَادَ: او په يو بل روايت كې دي نبي كريم ﷺ وفرمايل: داسې دعاء وايه! اې الله! زه ستا نه د هدايت سوال كوم او په سيده لار باندې د مزل كولو (يعني په صراط مستقيم مي روان كړې) رواه مسلم

لغوي تحقيق:

سددنی: باب ضرب يضرب او سمع يسمع دواړو څخه راځي، ددې معنی صحيح کېدل، سمېدل

تشريح اهدنی: ماته هدايت نصيب کړه؛ يعنې په هر کار کې راته هدايت نصيب کړه؛ با د مطلب چې په هدايت باندې مې ثابت قدم وساته

وسددنی: ما په سيده لار روان کړه، يعنې توفيق را نصيب کړه چې په سيده لار روان پاتې شم. ابن جوزي رحمه الله ددې ترجمه داسې کوي: اې الله! استقامت مې نصيب کړه؛ او د هرې ګمراهۍ نه مې وساتې، د ايمان نه وروسته استقامت د يو زر کراماتو نه غوره دی، لکه ويل کيږي چې: "الاستقامة فوق الف کرامة" علامه طيبي رحمه الله فرمايي: په دې کې: "**فاستقم کما أمرت**" او "**اهدنا الصراط المستقيم**" ايتونو ته اشاره ده، استقامت ډېر ګران عمل دی، څکه خو د استقامت دعاء تلقين هم ځای په ځای شوی دی. امام غزالي رحمه الله فرمايي: لکه څرنګه چې په پل صراط باندې تلل ګران دي، دغه شان په دنيا کې په صراط مستقيم باندې پاتې کېدل ګران دي، څوک چې په دنيا کې په صراط مستقيم باندې مزل کوي هغه په آخرت کې هم په پل صراط باندې مزل کولی شي.

نبي کريم ﷺ به دلسوشيانو نه په الله جل جلاله سره پناه اخستا

"وعن أنس رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رسولُ الله ﷺ يقولُ: اللَّهُمَّ اني أَعُوذُ بِكَ مِنَ العَجْزِ، وَالكَسَلِ، وَالجُبْنِ، والهَرَمِ، والبُخْلِ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې نبي کريم ﷺ به همېش داسې دعاء کوله: اې الله! پناه غواړم په تا سره د عاجزۍ نه، د سستيا نه، بې زړه توب او بوډا والي نه او بخل نه، "وأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، وأعوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ المَحْيَا وَالمَمَاتِ" او اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د قبر د عذاب نه او پناه غواړم په تا سره د ژوند او د مرګ د امتحانونو او سختيو نه

وفي رواية: وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ: او په يو بل روايت کې داسې الفاظ هم شته، د قرض د سختۍ نه او د خلکو د غالب کېدو نه. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

العجز: کمزوري

ضلع: بوج

تشريح العجز: علامه نووي رحمه الله فرمايي: عجز د دېته وايي چې د انسان دومره وس او طاقت نه وي چې د خير کار وکړي، "الکسل" کسل دېته وايي چې د خير په کارونو بې طبيعت آماده شي، ليکن د سستۍ له امله يې نه شي کولی، "الجبن" جبن د شجاعت ضد دی، معنی يې بزدلي ده، بې زړه توب دی؛ "الهرم" هغه بوډاتوب ته ويل کيږي چې انسان ورسره عبادت هم نه شي کولی، "البخل" بخل د سخاوت

ضد دی، بخل دې ته وايي چې څه دربانديې واجب وي، هغه هم نه ادا کوي، لکه: زکوة او سرسايه وغيره، يا دا چې د ضرورت نه زيات سامان درسره وي، ليکن چاته يې نه ورکوي، علامه نووي رحمه الله فرمايي: په دې حديث کې رسول الله ﷺ په الله جل جلاله سره د بخل او بې زړه توب نه پناه اخيستې ده، ځکه چې بخل او بې زړه توب داسې خراب عمل دی چې ددې په وجه انسان د ډېرو داسې اعمالو نه پاتې کيږي کوم چې په هغه باندې فرض يا واجب وي، لکه بخيل سړی چې زکوة نه ورکوي، سرسايه نه ورکوي، عشر نه ورکوي، صدقه نه ورکوي، دا ډول بې زړه او بزدله انسان جهاد نه شي کولی، د خپل ځان دفاع نه شي کولی، د خپل ناموس دفاع نه شي کولی او داسې نور ....

وضلع الدين: د قرض بوج، په چا چې د قرض بوج وي د هغه نه پوښتنه وکړه چې څه تکليف درته شته؟ نو سمدستي به جواب درکړي چې دومره بوج مې په زړه دی، لکه غر چې مې په سر پروت وي، شپه او ورځ به درنه د قرض مطالبه کيږي او ستا سره به دومره څه نه وي چې د هغه قرض پرې خلاص کړې، ځينې خو د قرض په خلاصون کې د حرامو مرتکب هم شي، غلا، سود او جواري وغيره کې مبتلاء شي، ځينو علماوو ددې مطلب دا اخيستی دی چې قرض په فکر کې پروت وي چې ددې په وجه د انسان عقل زائله شي.

غلبة الرجال: چې خلك راباندې غالبه شي او د هغه بې چاره دومره ځوك نه وي چې دفاع يې وکړي يا دی خپله دومره کمزوری وي چې د خپل ځان دفاع هم نه شي کولی، علامه کرماني رحمه الله دا حديث هم په جوامع الکلم کې شمارلی دی.

دآخرينۍ قاعدې دعاء

"وعن أبي بكر الصديق رضي الله عنه: أنه قال لرسول الله ﷺ: عَلِّمْنِي دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلَاتِي" د أبو بکر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ ما نبي کريم ﷺ ته وويل: ماته داسې دعاء وښيه چې زه يې په لمانځه کې وايم، "قَالَ: قُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا" نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: داسې دعاء وايه. اې الله: ما په خپل ځان باندې ډېر زيات ظلم کړی دی، "وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ" د ګناهونو د بخښنې بل څوك نشته، مګر همدا ته لوی ذات يې! "فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِي، إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ" نو اې الله! ماته خصوصي خپل ځان طرفنه بخښنه وکړې او په ما باندې رحم وکړې، بې شکه دا ته بخښونکی او مهربان ذات يې! متفق عَلَيْهِ

وفي رواية: وفي بيتي: په يو روايت کې داسې هم شته چې په کور کې دغه دعاء وايم: "وَرُوِيَ: ظلما كثيرا وروي: كبيرا بالثاء المثلثة وبالباء الموحدة؛ فينبغي أن يجمع بينهما فيقال: كثيرا كبيرا" او "ظلماً کثيراً او کبيراً دواړه نقل شوي دي، مناسب ده چې داسې وويل شي چې کثيراً اکبيراً.

تشريح: ډېره ښکلې جامع دعاء ده، ددې نه اندازه ولګوئ چې رسول الله ﷺ خپل محبوب ملګري ابوبکر صديق رضي الله عنه ته وښودل، د التحيات درود شريف نه وروسته يې لوستل پکار دي، علامه

ابن دقيق رحمه الله او علامه ابن الملقن رحمه الله دواړو د دېته ترجيح ورکړې ده چې د درود شريف نه وروسته دا دعاء ويل پکار دي، علامه کرماني رحمه الله او ابن حجر رحمه الله هم ددې قائل دی.

مغفرة من عندك: علامه ابن الجوزي رحمه الله ددې مطلب داسې بيان کړی دی چې اې الله! تاسو د خپل ځان له طرفه زما بخښنه وکړئ، زه خو ددې اهل نه يم او دا بخښنه به خالص ستا فضل وي.

د هر قسم ګناهونو د معافۍ لپاره

"وعن أبي موسى، عن النبيّ ﷺ: أنه كان يدعو بهذا الدُّعاء: اللّٰهُمَّ اغفِرْ لِي خَطِيئَتِي وَجَهْلِي" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ به داسې دعاء کوله: اې الله! ماته زما خطاء ګانې معاف کړې او زما ناپوهي، "وإسرافي في أمري، وما أنت أعلم به مني" او زما اسراف کول زما په خپل حق کې او هغه چې ته يې پېژنې، "اللّٰهُمَّ اغفِرْ لِي جِدِّي وَهَزْلِي" اې الله! زما ټوقي او رښتيا دواړه معاف کړې، "وَخَطَئِي وَعَمْدِي، وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي" او خطاء سره او په قصد سره دا ټول کيفيات په ما کې موجود دي، "اللّٰهُمَّ اغفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ" اې الله! زما هغه ګناهونه معاف کړې کوم چې ما مخکې کړي دي او کوم چې به زه وروسته کوم، "وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي" او کوم ګناهونه چې په پټه دي او کوم چې په ښکاره دي او د کومو چې تاسو ته علم دی، "أَنْتَ الْمُقَدِّمُ، وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ" تاسو د هر څه نه وړاندې ذات يئ، د هر څه نه وروسته پاتې کېدونکي ذات يئ، د هر څه نه تاسو په هر شي باندې قادر ذات يئ. متفق عَلَيهِ

تشريح: وجهلي: زما نه چې کوم ګناهونه په ناپوهۍ کې شوي وي، په دې کې د قرآن کريم هغه آيت ته اشاره ده: "إنما التوبة على الله للذين يعملون السوء بجهالة" بېشکه کومه توبه چې الله ﷻ قبلوي، هغه دا ده چې يو کس په ناپوهۍ کې کومه ګناه وکړي، علامه بغوي رحمه الله فرمايي: د اسلافو رحمه الله په دې باندې اتفاق دی چې هر څوک د الله ﷻ نافرماني کوي، هغه په حقيقت کې جاهل وي، اګر چې د خلکو په پوهه کې عالم وي، "وجدي وهزلي" په رښتيا کې يا په ټوقو کې، دا د يو بل ضد دي، په ځينو رواياتو کې ددې ترتيب برعکس دی، يعنې: "هزلي وجدي" يعنې په ټوقه کې يا په رښتيا کې، "خطئي" په ځينو رواياتو کې (خطاياي) لفظ هم راغلی دی، ليکن اکثره محدثين خطئي رانقل کوي.

رسول الله ﷺ به دا دعاء ويل، ددې دا مطلب نه دی چې رسول الله ﷺ دا ټول ګناهونه (نعوذبالله) کړي وو، نه! بلکې رسول الله ﷺ خو معصوم وو، اصلاً دغه کلمات به يې د تواضع او خاکسارۍ په توګه ويل، يا دا چې د امت لپاره پکې تعليم پروت دی، يا دا چې حقيقتاً به رسول الله ﷺ د خپل ځان لپاره ويلي وي، ليکن په هغه معنی سره کومه چې د علي رضي الله عنه څخه منقول ده هغه دا چې رسول الله ﷺ به د کمال شی نه پرېښودلو، د داسې شي پرېښودل به يې په ګناه کې شمارلو، حال دا چې هغه به ګناه هم نه وه.

د ګناه د شر نه د حفاظت لپاره

"وعن عائشة رضي الله عنها: أنّ النبيّ ﷺ كان يقول في دُعَائِهِ: اللّٰهُمَّ اِنّي أعُوذُبِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أعْمَلْ". رواه مسلم" عایشه رضي الله عنها روایت نقل کوي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په خپله دعاء کې داسې الفاظ ویل اې الله! زه په تا سره پناه نیسم د هغه شر نه چې ما کړی دی او د هغه شر نه چې ما نه دی کړی.

تشریح: ګناه هم ظلم دی، ځکه چې څوک ګناه کوي، د هغه په زړه باندې یو تور داغ ولګیږي، د ګناهونو په کثرت د انسان زړه تک تور شي، که هغه توبه وباسي، نو الله ﷻ د هغه زړه صفا کړي، نبي کریم ﷺ خپل امت ته په دې حدیث کې تعلیم ورکړو چې انسان ته پکار دي چې د الله ﷻ نه سوال وکړي چې اې الله! ته مې د ګناه نه وساتې.

بل په دې حدیث کې دېته هم اشاره ده چې په الله ﷻ سره د هغه کارونو نه هم پناه اخیستل پکار دي کوم چې د الله ﷻ د رضا سبب نه ګرځي، هسې نه چې الله ﷻ ناراضه شي او انسان په کوم مصیبت کې مبتلاء شي، وېرېدل پکار دي. لکه څرنګه چې په قرآن کریم کې ارشاد دی: "فلا يأمن مكر الله إلا القوم الخاسرون" د الله ﷻ د ګرفت نیولو او له عذابه هغه خلک مطمئن کیږي چې کافر وي.

ځینې علماء فرمایي: په دې حدیث کې یوې بلې خبرې ته هم اشاره ده هغه دا چې انسان هر څومره نیک او صالح جوړ شي، خو پکار ده چې په خپله نیکۍ غرور او تکبر ونه کړي، ځان ته ونه وایي چې زه خو ډېر نیک او صالح انسان یم، الله ﷻ په دې هم ناراضه کیږي، بلکې د الله ﷻ نه د استقامت سوال پکار دی.

د نعمت د نه ختمېدو سوال کول

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: كَانَ مِن دعاءِ رسولِ الله ﷺ: اللّٰهُمَّ اِنّي أعُوذُبِكَ مِنْ زَوالِ نِعْمَتِكَ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی هغه فرمایي چې د رسول الله ﷺ په دعاګانو کې به د معمول مطابق دا دعاء هم شامله وه چې فرمایل به یې: اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د نعمتونو د زوال نه، "وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ" ستا د عافیت د واپس کېدو نه، "وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ، وَجَمِيعِ سَخَطِكَ" او ناڅاپه عذاب نه او د ټولو عذابونو نه په تا سره پناه غواړم. رواه مسلم

تشریح: زوال نعمتك: محدثین فرمایي: دلته عام نعمت مراد دی، که هغه اخروي نعمت وي یا دنیوي وي، خلاصه دا چې اې الله! ما ته د دنیا او اخرت نعمتونه چې کوم ته راکوې هغه را نه مه اخلې، مه یې را نه زائله کوې، علماء لیکي: ددې نعمتونو نه هغه نعمتونه مراد نه دي کوم چې کفارو ته ورکړل شوي، ځکه چې د هغوی سره کوم نعمتونه دي هغه بطور نعمت نه دي، بلکې بطور استدراج دي

وتحول عافيتك: او د عافیت د تبدیلۍ نه په تا سره پناه غواړم، ملا علي قاري رحمه الله فرمایي: مطلب یې دا دی چې کوم نعمتونه، مثلاً: د اورېدو لپاره غوږونه دي، د کتلو لپاره سترګې دي، د مزل کولو لپاره دې پښې راکړي دي، دا را نه مه اخلې.

سوال: په زوال او په تحول کې څه فرق دی؟

جواب: محدثين فرمايي: په زوال او تحول کې فرق دا دی چې زوال دې ته وايي چې اول د
يو نعمت وي هغه درنه واخلي او تحول دې ته وايي چې يو نعمت درسره وي، هغه درنه واخلي او د
په بدله کې بل شی درکړي

وفجاءة نقمتك: د ناڅاپه عذاب څخه، ددې نه ځکه په الله ﷻ سره پناه اخيستل شوې ده چې ک
چېرته ناڅاپه مرګ راشي يا عذاب راشي، نو انسان ته پکې د توبې ويستلو موقع په لاس نه ورځي

وجميع سخطك: ستا د ټولو ناراضيو څخه پناه غواړم، اول ټولې خبرې په تفصيل سره بيان شوې
اوس اجمالاً په دې جمله کې د ماقبل خلاصه بيانولی شي، دېته په عربی ژبه کې اجمال بعد التفصيل
وېل کيږي، نبي کريم ﷺ ددې نه هم په الله ﷻ سره پناه وغوښتل، ځکه چې الله ﷻ د کوم بنده نه
ناراضه شي، اګرچې دا ناراضګي معمولي شان ولې نه وي، بس د انسان د هلاکت او تباهی لپاره بس
ده. (اللهم إني أعوذ بك من جميع سخطك)

تعوذ او دعاء

"وعن زيد بن أرقم ﷺ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يقول: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ" د زيد بن ارقم ﷺ
نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به داسې دعاء فرمايل: اې الله! زه په تا سره پناه غواړم
عاجزی او سستۍ نه، "وَالْبُخْلِ وَالْهَرَمِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ" د بخل او بوډاتوب نه او د عذاب قبر نه، "اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي
تَقْوَاهَا، وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا" اې الله! ته زما نفس ته تقوا نصيب کړې او زما نفس پاک کړې، ته زما د نفس
بنه پاکونکی يې، "أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا" ته زما دوست او مددګار يې، "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا
يَخْشَعُ" اې الله! زه پناه غواړم د هغه علم نه چې ماته فايده نه راکوي او د هغه زړه نه چې نه ويريږي، "وَمِنْ
نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا" د هغه نفس نه چې نه مړيږي او د هغه دعاء نه چې نه قبليږي. رواه مسلم

تشريح: عذاب القبر: د قبر د عذاب باره کې چې په احاديثو کې کوم ذکر راغلی دی، مثلاً تکه
توره تياره، ماران لړمان، وغيره دا ټول ترې مراد دي، "تقواها" تقوی د فجور ضد ده، لکه څرنګه چې په
قرآن کريم کې ارشاد دی: "فألهمها فجورها وتقواها" اې الله! په ما کې داسې وېره پيدا کړې چې زه ست
نافرماني ونه کړم او د نفساني خواهشاتو نه ځان بچ کړم.

أنت خير من زكاها: اې الله! زما زړه د ګناهونو او ګندګيو نه صفا کړې، علامه نووي رحمه الله
فرمايي: ددې جملې مطلب دا دی چې ستا نه سېوا بل څوک نشته چې د ګناهونو نه يې پاک کړي

أنت وليها: اې الله! ته کارساز يې، هم ته پکې د تصرف اختيار لرې، يعنې د مدد او واک اختيار
ستاسو په لاس کې دی

ومن علم لا ينفع: اې الله! په تا سره د هغه علم نه پناه غواړم چې سړي ته يې فايده نه رسيږي، ددې

نه مراد هغه علم دی چې انسان پرې عمل نه کوي يا هغه چې نورو ته يې فايده نه رسيږي، يا هغه علم چې شريعت د هغې د حصول نه منع فرمايلې وي، مثلاً : د جادو علم، د نجوم علم، يا هغه علم چې د انسان اخلاق او اعمال ورسره نه سميږي.

ومن قلب لا يخشع: اې الله! د داسې زړه مې وساتې چې نه ويريږي، يعنې د داسې زړه نه مې وساتې چې نه اثر قبلوي، نه حق خبره تسليموي او نه د قرآن کريم يا نبوي احاديثو ته ځان تابع کوي

ومن نفس لا تشبع: او د داسې نفس نه مې وساتې چې نه مړيږي، يعنې همېش د خوراك څښاك حريص وي، ډېر خوراك هم انسان د زياتو نقصاناتو سره مخ کوي، مثلاً: زيات خوب سړي ته ورځي، په انسان کې سستي پيدا شي، نفساني خواهشات يې راوپاروي

ومن دعوة لا يستجاب لها: او د داسې دعاء نه مې هم وساتې چې نه قبليږي، علماء ليکي: کوم کس چې ګناهونه زيات کوي، د هغه دعاګانې هم نه قبليږي، څوك چې دعاء کوي او دعاء يې نه قبليږي، ددې نه به بله کومه لويه تباهي وي چې دعا دې قبوله نه شي او د الله ﷻ نه پرته بل څوك نشته چې دعاوې قبولې کړي

د ګناهونو باره کې د الله ﷻ نه د معافي سوال

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به داسې دعاء کول: اې الله! ما تاته ځان تابع کړی دی او په تا مې ايمان راوړی دی، په تا مې توکل کړی دی، "وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ" ستا طرفته رجوع کوم او ستا په توفيق سره جنګيږم او ستا طرفته فيصله وړم، "فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ، وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ" اې الله! زما هغه ګناهونه معاف کړې کوم چې ما مخکې کړي دي او کوم چې به وروسته کوم او کوم چې به په پټه کوم، "وَمَا أَعْلَنْتُ، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ، وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، لا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ" او کوم چې په ښکاره کوم، تاسو د هر شي نه مقدم ذات يئ او تاسو د هر شي نه مؤخر ذات يئ، نشته لائق د عبادت سيوا ستا نه

زَادَ بَعْضُ الرُّوَاةِ: وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ: په ځينو رواياتو کې زياتې شته، هغه دا چې: نشته د ګناه نه مخ اړول مګر ستا په توفيق سره او نشته په نيکۍ باندې راتلل مګر ستا په توفيق سره دي. متفق عليه

تشريح: وبك آمنت: په الله ﷻ مې ايمان راوړی دی، څه حکم چې راته کوي هغه به پوره کوم، د کوم شي نه چې مې منع کوي منع کېږم به، دا هر څه پکې داخل دي، "عليك توکلت" ټول کارونه مې الله ﷻ ته سپارلي دي، ځکه چې بس همدغه يوه اسره مې ده، د نفع او نقصان مالك مې بس هم هغه يو ذات دی، "ومن يتوكل على الله فهو حسبه" څوك چې په الله ﷻ توکل وکړي، بس هغه ورته کافي دی

واليك أنبت: ستا طرف ته رجوع کوم، يعنې زه د نافرمانۍ د ژوند نه مخ اړوم، ستا اطاعت ته درځم او د غفلت د ژوند نه مخ اړوم، ستا ذکر او ستا د يادولو په طرف ګام اخلم

حاكمت: په تا باندې فيصلې كوم، مطلب دا چې په قرآن يا په احاديثو كې صراحتاً څه دي په هغې به فيصلې كوو او كومې مسئلې چې صراحتاً په قرآن يا په احاديثو كې نه وي، فقهاوو د قرآن او حديث نه مستنبط كړي وي، هغه په دې كې داخلې دي، په هغې به هم فيصلې كوو.

فاغفر لي: اې الله! زما ګناهونه معاف كړې، ځكه چې د ګناهونو معاف كوونكې بل ذات نشته.

د مالدارۍ او غريبۍ څخه پناه اخيستل

وعن عائشة رضي الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يدعو بِهَؤُلَاءِ الكَلِمَاتِ: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ به دا دعاء فرمايل: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ، وَعَذَابِ النَّارِ" اې الله! زه په تا سره پناه غواړم د جهنم د عذاب نه او د جهنم د اور نه، "وَمِنْ شَرِّ الغِنَى وَالفَقْرِ" او د مالدارى او غريبى د شر نه پناه غواړم. رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح، وهذا لفظ أبي داود.

تشريح: من شر الغنى: مطلب دا چې انسان ته الله ﷻ كله مال دولت وركړي، نو هغه په فضول خرچو، اسراف او حرامو كارونو كې مصروف شي، يا دا چې الله ﷻ خو مال وركړى دى، ليكن د حق په كارونو كې يې نه لګوي، بخيل وي او په حديث كې راځي چې بخيل انسان د جنت نه لرې او جهنم ته نزدې وي، "والفقر" د فقيرى او غريبى فتنه دا ده چې كله انسان د مالي مشكلاتو سره مخ شي، نو بيا هغه په دې نه وي چې حلال دي او كه حرام دي، خو بس خپلو بچيانو ته خوراك پيدا كوي يا دا چې د صبر لمن پريږدي او د الله ﷻ نه شكايتونه شروع كړي، د شر په قيد كې دې خبرې ته اشاره ده چې په فقيرى او مالدارى كې خير هم شته، خو چې په اعتدال سره وي.

د بدو اخلاقو او نفساني خواهشاتو څخه پناه اخيستل

"وعن زياد بن عِلَاقَةَ عن عمه، وَهُوَ قُطْبَةُ بنُ مَالِكٍ رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يقول: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الأَخْلَاقِ" د زياد بن علاقة نه روايت دى هغه يې د خپل تره نه روايت كوي چې د هغه نوم قطبة بن مالك رضي الله عنه دى، فرمايي چې نبي كريم ﷺ به داسې دعاء فرمايل: اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د بدو اخلاقو نه، "وَالأَعْمَالِ، وَالأَهْوَاءِ" د بدو اعمالو او خواهشاتو نه. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق:

منكرات: منكرات هر هغه قول يا عمل ته ويلى شي چې د شريعت خلاف وي

تشريح: منكرات الأخلاق: منكرات الاخلاق هر هغه قول يا عمل ته ويلى شي چې په هغې باندې اهل شرع اتفاق وي، د اخلاقو څخه باطني اعمال مراد دي، كومو ته چې حسد، بخل، رياكاري وغيره ويل كيږي، د دې بدو اخلاقو په سبب انسان د ډېرو ښو كارونو څخه محرومه كيږي او په ډول ډول بدو كارونو كې اخته كيږي.

والأعمال: د اعمالو نه ظاهري اعمال مراد دي چې هر قسم واړه او لوى ګناهونه پكې داخل دي.

"الأهواء" جمع د الهوى ده، د لغت په اعتبار سره نفساني خواهش ته ويل کيږي، که ښه خواهش وي يا بد وي، ليکن په اصطلاح کې د هواء اطلاق په بد خواهش باندې کيږي، دې ته نفساني خواهشات هم ويل کيږي، په قرآن کريم کې هم ارشاد دی: "ولا تتبع الهوى" د نفساني خواهشاتو پيروي مه کوئ! په دې کې هر قسم خواهشات داخل دي، که د عقائدو په لحاظ سره وي يا د عباداتو په لحاظ سره وي او که کوم بل قسم وي.

د راوي زياد بن علاقه رحمه الله حالات:

اصل نوم يې زياد رحمه الله دی، د پلار نوم يې علاقه دی، د ثقيف قبيلې سره تعلق لري، په مشرانو تابعينو کې شمار دی، په ۱۵۳ هجري کې د سلو کالو په عمر کې وفات شوی دی، په صحاح سته کې يې روايات نقل شوي دي، په ثقه راويانو کې شمار دی.

داعضاء د شر نه بچ کېدو لپاره جامع دعاء

"وعن شَكَلِ بن حُمَيدٍ رضي الله عنه قَالَ: قلتُ: يَارسولَ الله، عَلِّمْنِي دعاءً، قَالَ: قُلْ: اللّٰهُمَّ إنِّي أعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِي، وَمِنْ شَرِّ بَصَرِي" د شكل بن حميد رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما يوه ورځ رسول الله ﷺ ته وويل: يا رسول الله ﷺ! ماته يوه دعاء وښيه! نبي کريم ﷺ وفرمايل: داسې دعاء وايه! اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د شر د غوږونو نه او د شر د سترګو د نظر نه، "وَمِنْ شَرِّ لِسَانِي، وَمِنْ شَرِّ قَلْبِي، وَمِنْ شَرِّ مَنِيِّي" او د شر د ژبې نه او د زړه نه، او شر د منې نه. رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: په مشکوة شريف کې دا روايت څه تفصيلي ذکر دی، شكل بن حميد رضي الله عنه فرمايي: ما رسول الله ﷺ ته وويل: ماته داسې دعاء وښيه چې د هغې په ذريعه زه د خپل ځان حفاظت وکړم! رسول الله ﷺ ورته دغه وړاندې دعاء وفرمايل: "ومن شر سمعي" د غوږونو د شر نه، يعني چې جوړ خبرې ته غوږ نه ږدي، وعظ او نصيحت نه اوري، تولې حرامې خبرې او پردې غيبتونه او سندرې ورباندې اوري. "ومن شر بصري" د سترګو د شر نه، يعني په سترګو باندې د ديني کتابونو او احاديثو مطالعه او د قرآن کريم د تلاوت پرځای نامحرمو ښځو او فلمونه وغيره ته ګوري، "ومن شر لساني" او د ژبې د شر نه، يعني په ژبه د ذکر، تلاوت، درس، تدريس او تبليغ په ځای فضول خبرې، غيبتونه او چغل خوري ورباندې کوي، "ومن شر قلبي" د زړه د شر نه، مطلب دا چې په ځای ددې چې په زړه کې غوره خيالات، غوره مفکورې جوړې کړي، بد خيالونه او بدې مفکورې جوړوي، "ومن شر منيي" د منې د شر نه مې وساتې، په جائز محل کې د استعمالولو په ځای يې په ناجائز محل کې استعمال کړي، په دې کې زنا هم داخله ده، بدنظري هم داخله او نامحرمې ښځې ته لاس وروړل هم داخل دي.

د راوي شكل بن حميد رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې شكل رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې حميد دی، د کوفې اوسېدونکی وو، ددې حديث نه برته بل کوم بل حديث ترې نه دی روايت شوی، د دوی زوی شتير رحمه الله ترې روايت نقل کوي، همدغه

خبره علامه ابن جوزي رحمه الله او علامه ابن حجر رحمه الله په الإصابه ۵- ۱۵۴ کې فرمايلې ده، علامه ابن صياد رحمه الله فرمايي: په صحاح سته کې صرف همدغه يو روايت د دوی څخه روايت شوی دی

د بيماريو نه په الله جل جلاله سره پناه اخيستل

"وعن أنس رضي الله عنه: أَنَّ النبيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يقول: اللَّهُمَّ إني أعُوذُ بِكَ مِنَ البَرَصِ، والجُنُونِ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ به داسې دعاء فرمايل: اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د پيس (برګې) مرض نه او د لېونتوب نه، "والجُذَامِ، وَسَيِّيءِ الأسْقَامِ" او د رعشې مرض نه او د ناکاره بيماريو نه رواه أبو داود بإسناد صحيح.

تشريح: برص داسې ناروغي ده چې د انسان په بدن باندې سپين داغونه ښکاره شي، د انسان ښکلې شکل او صورت بد رنګه کړي، "الجنون" لېونتوب کې د انسان عقل ختم شي، د عقل په واسطه انسان ښه کارونه کوي، د بدو کارونو نه منع کيږي، که د يو انسان عقل ختم شي، نو په ده کې د ښه او بد تميز هم ختم شي.

الجذام: جذام داسې بيمارۍ ده چې په کوم کس کې وي، د هغه انسان اندامونه رژيږي. "وسيئ الاسقام" دا جمله تعميم بعد التخصيص دی، په بدو بيماريو کې ړندېدل، فالج، کينسر او د دنيا ټولې بيمارۍ پکې داخلې دي، د (سيئ) جملې سره هغه بيمارۍ خارج شوې چې په اولياء کرامو باندې راځي، داسې بيمارۍ د بدۍ په خاطر نه وي، بلکې د درجاتو اوچتېدو لپاره وي

دا دعاء د ظاهري او باطني امراضو ټولو لپاره جامع ده، ځکه چې په جنون کې باطني بيمارۍ ته اشاره ده، په جذام او برص کې ظاهري او په آخر کې سيئ الاسقام کې ټولو بيماريو ته شامله ده، د شريعت منشاء دا ده چې انسان ته پکار دي چې د عافيت سوال کوي، ليکن که بيمار شي، نو بايد چې صبر وکړي.

أمر بسوال العافية من كل بلاء قبل حلوله::: والصبر على ما يقع من البلاء عند نزوله

* د مصائبو د راتلو نه وړاندې شريعت حکم کړی دی چې د عافيت سوال وشي، کله چې درباندې راشي، نو بيا يې د صبر کولو حکم کړی دی، ابن مالك رحمه الله فرمايي: ددې څخه معلومه شوه چې د داسې مرض نه په الله جل جلاله سره پناه غوښتل پکار دي د کوم مرض په وجه چې انسان د عباداتو څخه منع شي يا دا چې خلك درنه کرکه کوي يا بل چا ته درنه فايده رسېدل بند شي يا دا چې حقوق الله او حقوق العباد پکې نه شې ادا کولی، نو د داسې مرض څخه په الله جل جلاله سره پناه اخيستل مستحب دي.

د لوږې ختمېدو دعاء

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم يقول: اللَّهُمَّ إني أعُوذُ بِكَ مِنَ الجُوعِ، فَإنَّهُ بِئْسَ الضَّجِيعُ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ به داسې دعاء کول: اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د

لوږې نه، ځکه چې هغه ډېر بد ملګرى دى، "وأعوذ بك من الخيانة، فإنها بئست البطانة" په تا سره پناه غواړم د خيانت نه، ځکه چې هغه ډېر زيات خراب پټ عادت دى. رواه أبوداود بإسناد صحيح.

تشريح: فإنه بئس الضجيع: ضجيع هغه ملګري ته وايي چې د انسان سره په يوه بستره کې څملي، مطلب يې دا دى چې د انسان سره سخته لوږه داسې لازم او ملزومه شي چې په ظاهر او باطن دواړو يې اثر پرېوځي او انسان دومره بې ارامه شي چې په عباداتو کې يې هم خلل راشي.

علماء ليکي: لوږه مطلقاً مذمومه نه ده، بلکې هغه لوږه مذمومه ده چې انسان ورسره په تکليف کې شي او د دين په کارونو کې ورسره سستي پيدا شي، د عبادت او نېکو کارونو نه منع شي.

د خيانت په باره کې ارشاد دى چې دا ډېر زيات بد ملګرى دى، اصل کې (البطانة) هغې جامې ته ويلې شي چې انسان يې د کېږو لاندې د استر په توګه اغوندي چې هغې ته زموږ په پښتو ژبه کې شميس، لاندې اغوستونکې بنيان ويل کېږي، خيانت ډېر بد کار دى، ددې مذمت او بدې په ګڼ شمېر احاديثو کې ذکر شوى دى.

د قرض څخه د خلاصون دعاء

"وعن علي رضي الله عنه: أن مكاتباً جاءه فقال: إني عجزت عن كتابتي فأعني، قال: ألا أعلمك كلمات علمنيهن رسول الله ﷺ، لو كان عليك مثل جبل ديناً أداه الله عنك؟" د علي رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي: ماته يو قرضدار راغلو، راته يې وويل: زه خو د قرض ادا کولو نه عاجز شوم، زما سره کومک وکړه چې قرض ادا کړم، هغوى ورته وفرمايل: ايا زه تاته داسې کلمات ونه ښيم چې ماته رسول الله ﷺ ښودلي دي، که چېرته په تاسو باندې د غره په اندازه قرض هم قرض وي، نو الله جل جلاله به يې ستاسو نه ادا کړي؟ "قل: اللهم اكفني بحلالك عن حرامك، وأغنني بفضلك عمن سواك" علي رضي الله عنه ورته ووېل: داسې کلمات وايه: اې الله! ماته حلال راکړې او د حرامو څخه مې وساتې او ما ته د خپل طرفنه د خلکو څخه بې نيازه کړې (مالداري راته نصيب کړې). رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق:

مکاتب: مکاتب هغه غلام ته وايي چې بادار ورته ووايي چې تا ماته دومره مال راوړو، نو ته آزاد يې، هغه يې قبول کړي، نو داسې غلام ته مکاتب وايي.

تشريح: ألا أعلمك كلمات: ايا زه تاته څو کلمات ونه ښيم؟ دلته يوه پوښتنه کېږي هغه دا چې مکاتب خو مال غوښتلى وو، علي رضي الله عنه د هغه سوال مطابق جواب ورنه کړو؟ جواب دا دى چې د علي رضي الله عنه سره په دې وخت کې مال نه وو او هغه دغه کس خالي لاسونه لېږل هم نه غوښتل، نو ځکه يې هغه ته څه نا څه ورکړل، بل جواب دا دى چې علي رضي الله عنه ورته په اشارې سره ووېل چې تاسو د خلکو نه سوالونه کوئ او حال دا چې د ضرورتونو پوره کوونکى ذات يو الله جل جلاله دى، لهذا ته دا دعاء غواړه، ددې لپاره چې ستا ضرورت پوره شي.

لوكان عليك مثل جبل ديناً: په حديث كې لفظ د (مثل جبل دی، ليكن په نورو رواياتو كې (جبل احد) دی او په يو بل روايت كې د (مثل جبل صير) الفاظ هم دي، ددې ټولو نه مراد كثرت دی، د احد غر د مدينې منورې سره يو مشهور غر دی، ددې سره نزدې جنګ هم شوی وو، دې جنګ ته غزوه احد هم وايي. (صيره) هم د يو غر نوم دی، ليكن په دې كې اختلاف دی. دا غر چېرته دی، ځينو ويلي دي چې په يمن كې دی او ځينې وايي چې د سيراف او عمان ترمنځ دی.

د هدايت سوال

"وعن عمران بن الحصين رضي الله عنهما: أَنَّ النبيَّ ﷺ عَلَّمَ أَبَاهُ حُصَيْنًا كَلِمَتَيْنِ يَدْعُو بِهِمَا" د عمران بن حصين رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ دده پلار ته چې حصين رضي الله عنه نوم يې و، دوه كلمې وروښودلې كومې چې به يې ويلې: "اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي، وَأَعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي" اې الله! ماته زما هدايت رانصيب كړې او د شر د نفس نه مې وساتې! رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: په مشكاة كې دا واقعه پوره په تفصيل سره بيان شوې ده، هغه دا چې عمران رضي الله عنه فرمايي: يو ځل زما پلار حصين ته رسول الله ﷺ وفرمايل: نن سبا تاسو د څو خدايانو عبادت كوئ؟ زما پلار ورته ووېل: د اوه / ۷ خدايانو، شپږ په ځمكه كې دي او يو په آسمان كې دی، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه چې رغبت او خوف زيات د كوم يو نه درځي؟ زما پلار ورته ووېل: د آسمان والا نه راځي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: كه ته مسلمان شوې، نو زه به تاته داسې كلمې وښيم چې تاته به د هغې په واسطه نفع ورسيږي؟ عمران رضي الله عنه فرمايي: كله چې زما پلار مسلمان شو، نو زما پلار يو ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شو، وې ويل چې يارسول الله ﷺ! اوس ماته هغه كلمې وښايه چې تاسو زما سره وعده كړې وه؟ رسول الله ﷺ ورته هغه پورتنۍ كلمې وښودلې.

رشدي: رشد سيده او سمې لارې ته وايي، يعني د هدايت په سيده په لار باندې مزل كول.

"واعذني من شر نفسي" ما زما د نفس د شر نه بچ كړه! ځكه چې نفس د ټولو فتنو جرړه ده، نو ځكه د نفس نه په خانګړې توګه په الله ﷻ سره پناه وغوښتل شوه، علامه شوكاني رحمه الله فرمايي: دا حديث هم په جوامع الكلم كې شمار دی، ځكه چې كله انسان ته هدايت حاصل شي، نو د هر قسم ګمراهۍ او تباهۍ نه به بچ شي او كله چې د نفس د شرارت نه محفوظ شي، نو بيا به هم د هر قسم تباهۍ نه محفوظ شو.

د عافيت دعاء

"وعن أبي الفضل العباس بن عبد المطلب رضي الله عنه قَالَ: قُلْتُ: يَارسول الله عَلِّمْنِي شَيْئاً أَسْأَلُهُ اللهَ تعالى، قَالَ: سَلُوا اللهَ العَافِيَةَ" د أبو الفضل عباس بن عبد المطلب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ ته ووېل: اې د الله تعالى رسوله! ماته يوه دعاء وښيه چې زه په هغې دعاء كې د الله ﷻ نه سوال كوم، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د الله ﷻ نه د عافيت او د خير سوال كوه! "فَمَكَثْتُ أَيَّاماً، ثُمَّ جِئْتُ فَقُلْتُ: يَا رسول الله عَلِّمْنِي شَيْئاً أَسْأَلُهُ اللهَ تعالى، قَالَ لِي: يَا عَبَّاسُ، يَا عَمَّ رسول اللهِ، سَلُوا اللهَ العَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ" يو څو ورځې پس بيا عباس رضي الله عنه

پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! ماته څو کلمات وښيه چې زه يې د الله ﷻ نه غوښته کوم، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د الله ﷻ نه د خير او عافيت د دنيا او آخرت سوال کوه؛ رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: په يو بل روايت کې دي چې د الله ﷻ نه د عافيت سوال کوئ؛ ځکه چې د ايمان نه وروسته د عافيت په شان بل کوم غوره نعمت نشته. "عافيت" دېته وايي چې انسان د هر قسم آفت او مصيبت نه محفوظ شي، که هغه بدني وي، که روحاني وي او که ايماني وي، بلکې که هر رنګ وي، ډېره ښکلې جامع دعاء ده، په دې کې هر څه راغونډ دي، شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله فرمايي: په لفظ د عافيت کې هر څه راغونډ دي، د هر قسم آفت نه پکې په الله ﷻ سره پناه اخيستل شوې ده، د دنيا عافيت دا دی چې انسان د مصيبتونو او بيماريو نه محفوظ شي او د دين عافيت دا دی چې انسان د ګناهونو نه محفوظ شي او خپل مطلوب ته ورسيږي، د آخرت عافيت دا دی چې د عذاب څخه بچ شي.

دغه شان سائل درې ځله د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه، بيا د رسول الله ﷺ په جواب باندې د سائل په دماغو کې دا خبره ښه کېښېنستله چې د عافيت سوال کول په ټولو دعاګانو کې غوره دي، که داسې نه وای، نو رسول الله ﷺ به په بار بار پوښتنې کولو هم دغه يوه دعاء نه ورښودل، په يو بل روايت کې دي چې ددې دعاء په آخر کې رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې: "فاذا اعطيت العافية والمعافاة في الدنيا والاخرة فقد أفلحت".

د راوي عباس رضي الله عنه بن عبد المطلب حالات:

د رسول الله ﷺ سکه تره وو، د رسول الله ﷺ نه دوه يا درې کاله مشر وو، الله ﷻ د جاهليت په زمانه کې هم عزت ورکړی وو، د اسلام راوړلو نه وروسته هم الله ﷻ لوی عزت ورکړو، د جاهليت په زمانه کې به يې حاجيانو ته اوبه ورکولې، کله چې مسلمان شو، نو رسول الله ﷺ بېرته په خپله وظيفه باندې برقرار وساتلو، د بدر په غزا کې د مشرکينو د ډلې څخه ؤ، ليکن کله چې مسلمان شو، نو د حنين او دغه شان په نورو غزواتو کې يې شرکت کړی دی، په يوه موقع باندې کله چې تول وتښتېدل، نو دوی د رسول الله ﷺ سره ولاړ وو.

وفات: په مدينه منوره کې د رجب په مياشت کې په ۳۴ هجري کې وفات شو، د وفات په وخت د دوی عمر ۸۰ کاله ؤ، ځينې وايي چې ۸۹ کاله وو، عثمان غني رضي الله عنه ورباندې د جنازې لمونځ وکړو، په جنت البقيع کې يې دفن کړو، ۳۵ مرويات ترې نقل دي، صرف په يو روايت يې د بخاري او مسلم اتفاق دی، په بخاري کې يو او په مسلم کې درې احاديث منفرد دي

په دين باندې د استقامت لپاره دعاء

"وعن شهر بن حوشب، قال: قلت لأم سلمة رضى الله عنها، يا أم المؤمنين، ما كان أكثر دعاء رسول الله ﷺ، إذا كان

عِنْدَكِ؟" د شهر بن حوشب ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ ما ام سلمه ﷺ ته وويل اې د مسلمانانو مورې! رسول الله ﷺ به چې ستاسو کره وو، نو اکثره دعاء به يې کومه ويل؟ "قالت: كَانَ أَكْثَرُ دُعَائِهِ: يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ" هغې ﷺ وفرمايل: اکثره دعاء به يې داسې ويل: اې د زړونو اړونکيه! ته زما زړه په دين باندې ثابت کړې! رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: يا أم المؤمنين: د ام سلمه ﷺ نوم يې وانخيستلو، بلکې په کنيت سره يې ياده کړه، همدغې ته ادب ويل کيږي چې د مشرانو نومونه به نه اخلې، بلکې په القاباتو سره به يې يادوې، ازواج مطهرات د امت ميندې دي، قرآن کريم په دې شاهد دی: "وأزواجه أمهاتهم" د نبي کريم ﷺ ميرمنې د امت ميندې دي.

يا مقلب القلوب: اې د زړونو اړونکې ذاته! يعنې د هدايت نه وروسته ګمراهۍ ته يا د ګمراهۍ نه وروسته هدايت ته اړونکې ذاته! "ثبت قلبي على دينك" زما زړه ثابت کړه او ستا په دين باندې را ته استقامت نصيب کړه! رسول الله ﷺ دا دعاء د تواضع په توګه کول، کنه رسول الله ﷺ خو معصوم وو، د رسول الله ﷺ په دين باندې استقامت لازمي وو، په دې کې اشاره ده چې په دين باندې استقامت او حسن خاتمه سوال کول پکار دي، که استقامت نصيب نه وي، نو بيا ټول عبادتونه او رياضات وغيره هيڅ دي.

ربنا لا تزغ قلوبنا بعد إذ هديتنا: اې زما ربه! زموږ زړونه مه کږوې وروسته له هغې نه چې تا مانه هدايت وکړو.

د راوي شهر بن حوشب ﷺ حالات:

اصل نوم يې شهر ﷺ دی، د پلار نوم يې حوشب دی، اصلاً تابعي دی، د خپلې زمانې په سترو علماوو کې شمار ؤ، د عثمان ﷺ په دور خلافت کې پيدا شو، تقوا دار انسان وو، په يوه وليمه کې ورته دعوت وشو، په هغې وليمه کې سندرې ويل کېدلې، دی سمدستي پاڅېدو، احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي: شهر ﷺ ثقه راوي دی، د دوی روايات صحيح دي، همدغه خبره معاويه بن صالح رحمه الله، احمد بن زبير رحمه الله او يحيى بن معين رحمه الله هم کړې ده، په ۱۱۲ هجري کې د دوی وفات شوی دی، د دوی څخه صرف دوه روايات منقول دي.

د داود عَلَيْهِ السَّلَامُ دعاء

"وعن أبي الدرداء ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ: كَانَ مِنْ دُعَاءِ دَاوُدَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ حُبَّكَ، وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ" د أبو الدرداء ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: داؤد عليه السلام به داسې دعاء کول، اې الله! زه ستا نه ستا د مينې او محبت سوال کوم او د هغه چا د مينې او محبت سوال کوم چې ستاسو سره مينه او محبت لري، "وَالْعَمَلَ الَّذِي يُبَلِّغُنِي حُبَّكَ" او هغسې عمل کوم چې ستا مينې او محبت ته مې ورسوې، "اللَّهُمَّ اجْعَلْ حُبَّكَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي، وَأَهْلِي، وَمِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ" اې الله! ستا مينه او محبت ما ته د خپل ځان

نه هم زيات خوښ وګرځوې او زما د خاندان والا نه او ديخو اوبو نه هم زيات خوښ راته وګرځوې! رواه الترمذي وقال: حديث حسن.

تشريح: اللهم إني أسئلك حبك: ددې دوه ترجمې دي: (۱) ستا کوم محبت چې زما سره دی، (۲) زما کوم محبت چې ستا سره دی، (مرقاة) "وحب من يحبك" او د هغه کس سره هم د محبت سوال کوم څوک چې ستا سره محبت کوي، ددې نه مراد علماء، صلحاء او مشائخ عظام دي.

په دې حديث کې: اجعل حبك أحب إلي من نفسي وأهلي" ذکر دي، ليکن په نورو رواياتو کې: "إجعل حبك أحب إلي من نفسي وأهلي ومالي" يعنې په دويم روايت کې د (مالي) اضافه شوې ده او په حصن حصين کې هم دغه شان ده.

احب إلي من نفسي: شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله ددې مطلب داسې بيانوي چې اې الله! ستا ذات زما لپاره زما د نفس نه هم زيات محبوب جوړ شي، "ومن الماء البارد" ستا ذات ماته د يخو اوبو نه هم زيات محبوب جوړ شي، شيخ عبدالحق رحمه الله فرمايي: لکه څرنګه چې انسان ته د يخو اوبو سره طبعي مينه وي، بيا خاص کر د ګرمۍ په روژو کې، نو اې الله! ستا محبت چې زما داسې طبعيت جوړ شي چې زما څخه نه جدا کيږي، بيا يې وفرمايل: "ذاك أکمل مراتب المحبة" دا د محبت تر ټولو اعلى درجه ده.

اسم اعظم

"وعن أنس رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: أَلِظُّوا بـ: يَاذَا الجَلَالِ وَالإِكْرَامِ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تاسو په يا ذا الجلال والاکرام کلمه باندې کثرت او دوام وکړئ! رواه الترمذي، ورواه النسائي من رواية ربيعة بن عامر الصحابي، قَالَ الحاكم: حديث صحيح الإسناد.

أَلِظُّوا: بكسر اللام وتشديد الظاء المعجمة، معناه: الزَمُوا هذِهِ الدَّعْوَةَ وَأَكْثِرُوا مِنْهَا: د (الظوا) معنى ده: لازم کړئ او په دې دعاء باندې کثرت وکړئ.

تشريح: د حديث مدعا دا ده چې: (يا ذا الجلال والإکرام) په کثرت سره وايئ، ځکه چې په دې کې د الله جل جلاله نوم دی، ددې معنى ده: د بزرګۍ او بخښونکې ذات، دا لفظ زيات جامع دی، چا چې د الله جل جلاله جلال او بزرګي ليدلې ده، هغه ته پکار ده چې خپل ځان د الله جل جلاله لپاره ذليله کړي، د خپل ځان نه تکبر وباسي، ځکه چې متکبر ذات صرف يو الله جل جلاله دی.

والإکرام: عزتمند ذات، عزت ورکوونکې ذات، ددې نه معلومه شوه چې ورکونکې ذات صرف يو الله جل جلاله دی، نو بيا د مخلوق څخه څه غواړې، د خلکو په وړاندې خپل حاجتونه مه بيانوه؛ مخلوق به تاته څه درکړي، چا چې د خالق در ليدلی وي، هغه د مخلوق در ته کله هم نه دريږي، په دې الفاظو سره د الله جل جلاله لويي او عزت بيان شوی دی او څوک چې د الله جل جلاله لويي او عزت بيانوي، الله جل جلاله د هغه نه ډېر زيات خوشحاليږي، ځينې علماء فرمايي: (يا ذا الجلال والإکرام) کې اسم اعظم دی، په يو روايت

کې دي چې رسول الله ﷺ د يو کس نه واورېدل چې دا يې ويل (يا ذا الجلال والاکرام) نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هر څوک چې دا دعاء ووايي، دعاء به يې قبلېږي.

د دعاګانو خلاصه

"وعن أبي أمامة ﷺ قال: دعا رسولُ الله ﷺ بدُعاءٍ كثيرٍ، لَمْ نَحفَظْ مِنهُ شيئاً، قُلنا: يَا رسول الله، دَعَوتَ بدُعاءٍ كثيرٍ لَمْ نَحفَظ مِنهُ شيئاً" د أبو امامة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ډېرې زياتې دعاګانې وکړې کومې چې موږ ته يادې پاتې نه شوې، زموږ د ذهنونو نه ووتلې، موږ وويل: يا رسول الله ﷺ تاسو خو ډېرې زياتې دعاګانې وکړې، ليکن موږ ته يوه هم ياده پاتې نه شوه، "فقَالَ: ألا أدُلُّكُمْ على مَا يَجمَعُ ذلِكَ كُلَّهُ تقول: اللّٰهُمَّ اِنّي أسألُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَألَكَ مِنهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ ﷺ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته داسې دعاء ونه ښيم چې دا ټول هرڅه به پکې جمع وي، داسې دعاء کوه: اې الله! زه ستا نه د هغه خير سوال کوم کوم خير چې ستا نه ستا پېغمبر ﷺ غوښتلی دی، "وأعوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا استَعَاذَ مِنهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ ﷺ" او اې الله! زه پناه غواړم د هغه شر نه د کوم شر نه چې ستا پېغمبر ﷺ په تاسو سره پناه غوښتې ده، "وأنتَ المُستَعانُ، وعَلَيكَ البَلاغُ، وَلاَ حَولَ وَلاَ قُوَّةَ إلاَّ باللهِ" تاسو هغه ذات يئ چې ستاسو نه کومک غوښتل کيږي او په تا باندې خپل مقصد ته رسېدل کيږي، نشته د ګناه نه اوړېدل او نشته په نېکئ باندې راتلل ماسېوا ستا نه. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: ابو امامه ﷺ چې دا پوښتنه وکړه نو په دې کې امت ته ډېره زياته اساني شوه، هسې که سړی فکر وکړي چې رسول الله ﷺ په ټول ژوند کې څومره دعاګانې کړې دي، که هغه يادول شروع کړل شي، نو په دې باندې هم مستقل وخت لګيږي، په دې حديث کې چې کومه دعا ذکر شوه، که دغه دعاء ياده کړی شي، نو رسول الله ﷺ چې په درويشت کاله کې څومره دعاګانې غوښتلي دي، ددې ټولو خلاصه په دې دعاء کې رانغښتی شي، ددې دعاګانو په کولو سره به إن شاء الله په ټولو دعاګانو عمل وشي، "اللهم إني أسئلك من خير ماسألك منه نبيك محمد ﷺ" اې الله! زه ستا نه سوال کوم د ټولو هغو ښېګڼو چې رسول الله ﷺ يې ستا څخه سوال کړی دی، که انسان فکر وکړي چې آيا داسې کېدی شي چې دې د خير کار وي يا کومه د خير دعاء وي او د رسول الله ﷺ نه پاتې شوې وي؟ کلا وحاشا.

يوه جامع دعاء

"وعن ابن مسعود ﷺ قال: كَانَ من دعاءِ رسُولِ الله ﷺ: اللّٰهُمَّ اِنّي أسألُكَ مُوجِبَاتِ رَحمَتِكَ" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ په دعاګانو کې يوه دعاء دا هم ده، اې الله! زه ستا نه ستا د رحمت سوال کوم، "وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، والسَّلامَةَ مِنْ كُلِّ إثمٍ" زه ستا نه ستا د خپلو ګناهونو بخښنه غواړم او د هرې ګناه نه ځان بچ کېدل غواړم، "والغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ، والفَوْزَ بالجَنَّةِ، والنَّجَاةَ مِنَ النَّارِ" په هره نېکۍ باندې ځان پوره کېدل غواړم او جنت ته په کاميابۍ سره داخلېدل غواړم او د جهنم د اور نه ځان بچ کېدل غواړم. رواه الحاكم أبو عبد الله، وقال: حديث صحيح على شرط مسلم.

لغوي تحقيق:

موجبات: واجبول، لازمول

تشريح: موجبات رحمتك: اې الله! د داسې عمل او قول سره د عادي ګرځېدو توفيق راکړې چې د هغې په وجه جنت راته واجبيږي، علامه سيوطي رحمه الله ددې معنى داسې کړې ده چې اې الله! په کوم عمل چې د انسان سره د جنت وعده کيږي د هغه عمل توفيق راکړې، کله چې عمل وشي، نو الله ﷻ هم خپله وعده پوره کوي چې هغه د جنت وعده ده.

وعزائم مغفرتك: ستا بخښنه او مغفرت لازمونکي اعمال راته آسان کړه، عزائم جمع د عزيمة ده، مطلب دا چې الله ﷻ په فضل او کرم خپلو نېکو بندګانو ته عزم فرمايلى دى چې د دوى بخښنه به کوم، کنه په حقيقت کې په الله ﷻ باندې هيڅ شى واجب نشته، "والسلامة من کل إثم" علامه ابن حجر هيثمي رحمه الله ددې جملې معنى داسې بيان کړې ده چې اې د دعاګانو قبلونکې ربه! په ما کې چې کوم خراب عادتونه دي او رزيل خويونه دي، د هغې ماده بالکل راڅخه ختمه کړه!

سوال: دا خو د معصوم کېدو دعاء ده کومه چې جائز نه ده؟

جواب: اګرچې معصوم خو صرف انبياء عليهم السلام او پرښتې دي، ليکن داسې دعاء کول چې اې الله! ما د ګناهونو نه وساته او رزيل اخلاق رانه ختم کړه، داسې دعاء کول جائز ده.

باب فضل الدعاء بظهر الغيب

په نشتون / غياب کې دعاء کول

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى" الله ﷻ فرمايي: "وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ" هغه خلك چې وروسته راغلي دي دوى په خپلو دعاګانو کې داسې وايي: اې الله! موږ ته بخښنه وکړه او هغه ورونو ته هم بخښنه وکړه چې دوى مخکې د ايمان په حالت کې مړه شوي دي [الحشر:۱۰]

تشريح: من بعدهم: ددې نه مراد د مهاجرينو او انصارو صحابه وو نه وروسته عام خلك دي، په دې کې تر قيامته پورې ټول خلك داخل دي، په دې آيت کې د نبي کريم ﷺ امت درې طبقې شمار شوى دي: (۱) مهاجرين، (۲) انصار (۳) او پاتې خلك چې تر قيامته پورې به راځي، د دريمې طبقې خلکو شان دا بيان شوى دى چې دوى به اولنى دوه طبقې خلکو ته دعاګانې کوي او داسې به وايي چې اې الله! د دوى سره زموږ په زړونو کې کومه کرکه او نفرت مه پيدا کوې، مصعب بن سعد رضي الله عنه فرمايي: د امت درې درجې دي: دوه خو تيرې شوي دي چې انصار او مهاجر ورته ويل کېدل، دريمه درجه باقي پاتې ده، کوم چې د دوى سره مينه او محبت کوي، که په امت کې کومه درجه حاصلول غواړې، نو په دې دريمه درجه کې داخل شه! د حسين رضي الله عنه څخه چا پوښتنه وکړه چې عثمان رضي الله عنه څرنګه سړى وو؟ هغه ورته وويل آيا ته مهاجر يې؟ هغه وويل: نه! بيا يې ورته وويل: ايا انصاري يې؟ هغه وويل: نه!

بيا يې ورته ووېل : بيا په دريمه درجه کې شامل شه؛ چې هغه دا دي چې: "والذين جاءوا من بعدهم" که د عثمان رضي الله عنه په شان کې دې څه شك او شبه وکړه، نو ددې دريمې درجې څخه به هم وغورځېږې، علامه طيبي رحمه الله ددې آيت باره کې ليکي : معلومه شوه چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره مينه او محبت ساتل واجب دي، بهر حال مصنف رحمه الله دا آيت په دې نيت راوړو چې عامو خلکو ته پکار دي چې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته د خير دعاګانې وکړي.

"وقال اللّـــهُ تعالى" الله جل جلاله فرمايي : "وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ" او د خپلو خطاګانو لپاره بخښنه وغواړه او د مسلمانانو سړو او مسلمانانو ښځو لپاره. [محمد:۱۹]

تشريح: اګرچې په دې آيت کې رسول الله ﷺ مخاطب دی، ليکن په حقيقت کې امت ته خبره ده، رسول الله ﷺ معصوم وو، د ګناه ارتکاب ترې ممکن هم نه وو، ليکن بنده چې د الله جل جلاله د شان مطابق عبادت وکړي، دا هم ممکن نه دي، ځکه فرمايي چې تاسو خپل عبادت قاصر وګڼئ او په دې باندې استغفار وايئ.

والمؤمنين والمؤمنات: مسلمانو سړو او ښځو ټولو ته به رسول الله ﷺ دعاګانې کولې، علامه بغوي رحمه الله فرمايي : په دې امت باندې د الله جل جلاله ډېر زيات فضل او احسان دی چې ددې امت د بخښنې لپاره يې خپل نبي ته د مغفرت او بخښنې غوښتلو حکم وکړو او رسول الله ﷺ خو مستجاب الدعاء ذات دی، نو ځکه به يې د امت لپاره د مغفرت او بخښنې دعاء ضرور قبلېږي إن شاء الله تعالى.

"وقال تعالى إخباراً عن إبراهيم عليه السلام: رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ" او الله جل جلاله د ابراهيم عليه السلام د قول نه خبر ورکوي چې هغه په خپله دعاء کې ويلي وو : اې الله! ما ته بخښنه وکړې او زما مور پلار او عامو مسلمانانو ته د قيامت په ورځ. [ابراهيم:۴۱]

تشريح: دا د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دعاء ده چې زما مور پلار وبخښې، د ابراهيم عليه السلام پلار خو مشرك وو او مشرك ته خو د بخښنې دعاء صحيح نه ده؟ نو جواب دا دی چې حقيقي پلار يې مسلمان وو، آزر يې د تره نوم وو، مشرك وو، چېرته چې پلار ته د مشرك نسبت شوی وي هلته ترې تره مراد وي، ځکه چې د عربو په محاوره کې تره ته هم پلار ويل کېږي، يا جواب دا دی چې ابراهيم عليه السلام دا دعاء هغه وخت کړې وه کله چې هغه ته پته نه وه چې پلار يې مشرك دی، ليکن کله چې ورته معلومه شوه چې پلار مې د کفر په حالت کې مړ دی، نو بيا يې دعاء پرېښودل، په قرآن کريم کې يو بل ځای ارشاد دی: وماكان استغفار ابراهيم لابيه الاعن موعدة وعدها اياه فلما تبين له أنه عدو لله تبرأ منه.

ورور ته پسې شا دعاء کول

"وعن أبي الدرداء رضي الله عنه: أنَّهُ سَمِعَ رسولَ الله ﷺ يقول: مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَدْعُو لأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ إِلَّا قَالَ الْمَلَكُ: وَلَكَ بِمِثْلٍ" د أبو الدرداء رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل

بې: کوم بنده چې د يو مسلمان ورور لپاره پسې شا دعاء کوي، نو پرښتې دده لپاره هم په دعاء کې داسې وايي چې تاته دي هم الله ﷻ هغه څه درکړي کوم څه چې ته د خپل مسلمان ورور لپاره غواړې. رواه مسلم

تشريح: په يو بل روايت کې دي چې تر ټولو زر هغه دعاء قبليږي چې خپل مسلمان ورور ته پسې شا وکړل شي، د عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل "خمس دعوات يستجاب لهن: دعوة المظلوم حتى ينتصر، ودعوة الحاج حتى يصدر، ودعوة المجاهد حتى يقعد، ودعوة المريض حتى يبرأ، ودعوة الأخ لأخيه بظهر الغيب، ثم قال: وأسرع هذه الدعوات اجابة دعوة الأخ بظهر الغيب" پنځه دعاګانې زر قبليږي: (۱) د مظلوم دعاء تردې چې هغه د ظالم نه بدله واخلي، (۲) د حاجي دعاء تر څو چې کور ته واپس راغلی نه وي، (۳) د مجاهد دعاء تر څو چې فارغ ناست نه وي يعنې په سنګر کې وي، (۴) د بيمار دعاء تر څو چې ښه شوی نه وي (۵) او د يو مسلمان ورور دعاء د بل مسلمان ورور د هغه په غياب کې، رسول الله ﷺ بيا وفرمايل: په دې ټولو کې ډېر زر هغه دعاء قبليږي چې يو مسلمان ورور يې بل مسلمان ورور ته پسې شا وکړي.

د پرښتو آمين ويل

"وعنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يقول: دَعْوَةُ الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ" د أبو الدرداء رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به فرمايل: د مسلمان ورور لپاره پسې شا دعاء قبليږي، "عِنْدَ رَأْسِهِ مَلَكٌ مُوَكَّلٌ كُلَّمَا دَعَا لِأَخِيهِ بِخَيْرٍ قَالَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِهِ: آمِينَ، وَلَكَ بِمِثْلٍ" دده سره يوه پرښته وي چې کله د خپل مسلمان ورور لپاره د خير دعاء کوي، نو پرښته په دعاء کې آمين وايي او بيا داسې وايي: الله ﷻ دي تاته هم هغه څه درکړي څه چې د خپل مسلمان ورور لپاره سوال کوې. رواه مسلم

تشريح: دا حديث د وړاندينې حديث تشريح کوي، مطلب دا چې که يو مسلمان بل مسلمان ته د هغه په عدم موجودګۍ/ نشتون کې دعاء کوي، نو داسې دعاء ډېره په تيزۍ سره قبليږي، وجه يې دا ده چې په داسې دعاء کې اخلاص ډېر زيات وي او په کوم عمل کې چې څومره اخلاص زيات وي هغه دومره زر د الله ﷻ په دربار کې قبليږي.

آمين ولك بمثل: په دعاء باندې آمين ويلو لپاره چې کومه پرښته مقرره وي، هغه پرښته دده په حق کې هم د الله ﷻ په دربار کې دعاء کوي چې اې الله! دده دعاء د هغه مسلمان ورور په حق کې قبوله کړې او هغه ته هم هغه څه ورکړې کوم څه يې چې خپل ورور ته ستا نه غوښتلي دي، په دې وجه د ځينو اسلافو څخه دا خبره نقل ده چې د هغوی به څه شي يا کار ته ضرورت پيښ شو، نو بل ته به يې ويل چې ماته زما په عدم موجودګۍ/ نشتون کې دعاء وکړه، الله ﷻ به هغه دعاء سمدستي قبوله کړه او ضرورت به يې پوره شو.

باب في مسائل من الدعاء

د دعاء كولو جائز او ناجائز طريقې

"وعن أسامة بن زيد رضى الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ فَقَالَ لِفَاعِلِهِ: جَزَاكَ اللهُ خَيْرًا فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ" د اسامه بن زيد رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د بل كس سره نيكي وكړي او بيا هغې نيكى والا ته دغه كس په بدله كې داسې دعاء وكړي: الله دې تاسو ته ددې نېكه بدله دركړي، نو ده هغه ته د نيكى پوره بدله وركړه. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: په يو بل روايت كې دي چې "من صنع اليكم معروفاً فكافئوه فإن لم تجدوا ما تكافئوه فادعوا له حتى تروا أن قد كافأتموه" څوك چې در سره ښه وكړي، نو ته هم ورسره ښه وكړه؛ كه د هغه بدله په مال پيدا نه كړې نو بيا هغه ته دعاء وكړه تردې چې ته ښه پوه شوې چې بس اوس مې بدله وركړه.

د وړاندينې حديث او ددې حديث مطلب دا شو چې كه يو كس د بل سره څه ښه وكړي، مثلاً: پيسې ورته هديه كړي، نو اول خو ده ته پكار دي چې بدله د پيسو هديه كولو په شكل كې وركړي، كه هديه نه وي، نو بيا يې طريقه دا ده چې هغه ته بايد دعاء وكړي او د دعاء صورت دا دى چې هغه ته (جزاك الله خيراً) ووايي، مطلب دا دى چې اې الله! ددې هديه بدله ته وركړې، ددې بدله په دنيا او اخرت كې وركړې، (فقد أبلغ في الثناء) په رښتيا چې هغه د احسان كونكي كس ښه بدله وركړه، ځكه چې هغه دده بدله الله ﷻ ته حواله كړه او ظاهره خبره ده چې د الله ﷻ نه زياته ښه بدله بل څوك وركولى شي.

اولاد ته ښيرې كول منع دي

"وعن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَوْلَادِكُمْ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دي هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو خپلو ځانونو ته بدې ښيرې مه كوئ او مه خپلو بچيانو ته بدې ښيرې وكړئ! "وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَمْوَالِكُمْ، لَا تُوَافِقُوا مِنَ اللهِ سَاعَةً يُسْأَلُ فِيهَا عَطَاءً فَيَسْتَجِيبَ لَكُمْ" او مه خپلو مالونو ته ښيرې كوئ، ځكه كېدى شي چې تاسو خپلو ځانونو يا مالونو او يا بچيانو ته ښيرې كوئ او هغه وخت داسې وي چې په دې كې دعاء قبلېږي، نو ستاسو ښيرې به قبولې شي. رواه مسلم

تشريح: عمومي طور د الله ﷻ عادت دا دى چې د خير دعاګانې زر قبلوي او د شر دعاګانې يعنې ښيرې وروسته كوي، زر يې نه قبلوي، ددې مفهوم ددې آيت څخه هم معلومېږي: "ولو يعجل الله للناس الشر استعجالهم بالخير لقضى إليهم أجلهم" كه په تلوار سره خلكو ته الله ﷻ عذاب راولي، لكه څرنګه چې دوى د الله ﷻ نه خير زر غواړي، نو د دوى فيصله به تر اوسه تمامه شوې وه، امام طبري رحمه الله د قتاده رضي الله عنه څخه او امام بخاري رحمه الله د مجاهد رحمه الله څخه روايت نقل كړى دى چې دلته د دعاء نه مطلب دا دى چې ځينې كس د غوسې په حالت كې خپل مال دولت او بچيانو ته ښيرې كوي، ليكن په

هغه باندې د الله ﷻ فضل او کرم وي چې هغه ښيرې سمدستي نه قبلوي.

ليکن بيا هم ځينې وخت داسې وي چې هغه وخت د قبوليت وي، نو انسان چې د خولې نه څه وباسي، سمدستي قبول شي، نو ځکه رسول الله ﷺ نصيحت کوي چې خپل مال - دولت او اولاد ته ښيرې مه کوئ! هسې نه چې د قبوليت وخت وي، قبولې به شي بيا به حيران ناست يئ!

په سجده کې د دعاء حکم

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ قَالَ: أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ، فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بنده د سجدې په حالت کې الله ﷻ ته ډېر نږدې وي، په دې حالت کې په کثرت سره دعاګانې کوئ! رواه مسلم

تشريح: د مسلم په يو روايت کې دي چې په سجده کې ښه په ډک زړه او اخلاص سره دعاء کوئ، ځکه چې د سجدې په حالت کې انسان الله ﷻ ته ډېر نږدې کيږي، نو الله ﷻ يې زر قبلوي.

په ځينو رواياتو کې دي چې بنده د رحمن ذات په قدمونو کې سجده کوي، بنده ته چې د الله ﷻ قربت او نږدېوالی په سجدې سره حاصليږي دومره په بل شي سره نه حاصليږي، د سجدې په حالت کې بنده خپل معزز ځای (تندی) الله ﷻ ته په سجده کې ږدي او ذليله کوي يې، د ذلت او عاجزی لپاره ددې نه زيات د بنده سره بل څه نه وي چې الله ﷻ ته يې وړاندې کړي، خلاصه دا شوه چې بنده په سجده کې د خپلې عاجزی او خاکساری اظهار کوي او د الله ﷻ د لويی او برتری اقرار کوي، الله ﷻ په داسې حالت ليدو باندې ډېر زيات خوشحاليږي، نو په داسې وخت کې چې هر څنګه دعا وکړي الله ﷻ يې قبلوي.

په دعاء کې به نااميدي نه کوئ

"وعنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: يُسْتَجَابُ لِأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو دعاګانې قبليږي تر څو چې خپله تيزي ونه کړئ، "يَقُولُ: قَدْ دَعَوْتُ رَبِّي، فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي" تيزي په داسې شان سره کوي چې دی وايي: ما خو د الله ﷻ نه سوال وکړو، ليکن هغه خو قبول نه شو. متفق عليه

وفي رواية لمسلم: لَا يَزَالُ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ، أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ: او د مسلم رحمه الله په يو روايت کې داسې هم شته چې د مسلمان سړي دعاء تر هغه قبليږي تر څو چې يې د ګناه يا صله رحمی قطع کولو لپاره دعاء نه وي کړې او بل دا چې د دعاء په قبليدو کې تيزي ونه وکړي، "قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا الِاسْتِعْجَالُ؟ قَالَ: يَقُولُ: قَدْ دَعَوْتُ، وَقَدْ دَعَوْتُ، فَلَمْ أَرَ يَسْتَجِيبُ لِي" يو صحابي پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ تيزي به څنګه وي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه داسې ووايي چې ما خو بيا بيا دعاء وغوښتل، ليکن يوه دعاء مې هم قبوله نه شوه، "فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذَلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ" په دې ځای کې نا اميده شي او دعاء پرېږدي.

تشريح: مطلب دا چې انسان تيزي کوي، ډېر زر نااميده کيږي، د دعاء چې کوم خوند وي هغه د لاسه ورکړي، بايد انسان ددې خبرې پوخ يقين وساتي چې زما دعاء ضرور قبوله شوه، کله کله انسان په دعاء کې ډېر زيات اخلاص وکړي کوم چې الله ﷻ ته ډېر زيات خوښ شي، ليکن د څه حکمت له امله هغه دعاء وروسته شي خو قبوله خامخا شي، يا دا چې د ځينو خلکو د دعاء تسلسل الله ﷻ ته د قرب ذريعه جوړه شي، په دې بنياد الله ﷻ د هغه دعاء سمدستي قبوله نه کړي، ددې لپاره چې هغه ددې لوی دولت نه محروم نه شي، په تيزي کولو کې يوه خرابي دا وي چې بيا وروسته انسان دعاء پرېږدي، بل دا چې انسان نااميده شي او نا اميدي ستره گناه ده، بل دا چې نا اميده شي، نو هغه نه دا خبره د ذهن څخه ووځي چې دعاء هم يو مستقل عبادت دی، که هر څه وي، ليکن د الله ﷻ په عبادت کې مشغول خو دی، اگر چې دعاء يې نه قبليږي.

د عدم قبوليت بله وجه يې دا ده چې د دعاء د قبلېدو وخت لا نه دی راغلی، ځکه چې په ازل کې د هر شي د واقع کېدو او تکميل لپاره خپل وخت مقرر دی، تر څو چې هغه خت نه وي راغلی، هغه شی به کار نه واقع کيږي، نو ځکه د هغه په دعاء کې تاخير وشي، علامه توريشتي رحمه الله فرمايي: د دعاء په قبلېدو کې تيزي پکار نه ده، ځکه چې الله ﷻ ته معلومه ده چې دده دعاء به کله قبوله کړم او کله به يې نه قبلوم.

د دعاء د قبلېدو وختونه

"وعن أبي أمامة رضي الله عنه قال: قيل لرسول الله ﷺ: أيُّ الدُّعاءِ أسْمَعُ؟ قال: جَوْفَ اللَّيْلِ الآخِرِ، وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ المَكْتُوبَاتِ" د ابو امامة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس رسول الله ﷺ ته وويل: کومه دعاء زياته قبليږي؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د نيمې شپې په وخت کې او د فرض لمانځه نه وروسته دعاء ډېره زر قبليږي. رواه الترمذي وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق: جوف: د جوف معنى ده: خېټه، دلته يې اصلي معنى ده: نيمه شپه.

تشريح د نيمې شپې او د فرض لمانځه نه وروسته دعاء ډېر زر قبليږي، د فرض لمانځه وروسته د دعاء قبلېدو مضمون په نورو احاديثو کې هم راغلی دی، د ځينو صحابه وو رضي الله عنهم باره کې راځي چې دوی به د دعاء کولو لپاره د فرض لمانځه انتظار کولو چې فرض وشي، نو بيا به يې ورپسې دعاء کول.

جوف الليل الاخر: د شپې آخرينی برخه، د نيمې شپې خلك ښه په خوږ خوب ورغلي وي، په دې وخت کې بنده پورته شي او د خپل رب سره راز او نياز شروع کړي، نو الله ﷻ ته دا ډېر ښه لگيږي، په يو بل روايت کې دي چې په دې وخت کې الله ﷻ د دنيا آسمان ته نزول کوي، (کمايليق بشانه) او اعلان کوي چې څوك شته چې زما نه دعاء وغواړي او زه يې ورته قبوله کړم؟ څوك شته چې زما نه وغواړي زه يې ورکړم؟ او څوك شته چې زما نه بخښنه وغواړي او زه يې وبخښم؟

په يو بل روايت کې دي چې د نيمې شپې يو داسې ساعت وي چې که کوم مسلمان په دې کې د دنيا او اخرت ښېگڼه طلب کړي، نو الله ﷻ يې ورکوي

د دعاء قبلېدو مطلب

"وعن عُبادة بن الصامت ﷺ: أنّ رسولَ اللهِ ﷺ قال: مَا علَى الأرضِ مُسلِمٌ يَدْعُو اللهَ تعالى بدَعوةٍ إلا آتاهُ اللهُ إيّاها" د عبادة بن صامت ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې په ځمکه کوم مسلمان د الله ﷻ نه سوال وکړي الله ﷻ يې ضرور قبلوي، "أوْ صَرَفَ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا" او يا به الله ﷻ ترې کومه سختي لرې کړي، "مَا لَمْ يَدْعُ بإثمٍ، أو قَطِيعَةِ رَحِمٍ" تر څو چې يې د ګناه دعاء نه وي کړې او يا يې د خپلوی ختمولو دعاء نه وي کړې، "فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ القَوْمِ: إذاً نُكْثِرُ قال: اللهُ أكْثَرُ" په دې کې يو کس وويل چې يا رسول الله ﷺ چې داسې وي نو زه خو به بيا د الله ﷻ نه ډېر زيات سوالونه کوم، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: الله ﷻ به يې هم په کثرت سره قبلوي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

ورواه الحاكم من رواية أبي سعيد وزاد فيه: أَوْ يَدَّخِرُ لَهُ مِنَ الأجْرِ مِثْلَهَا: او د حاکم رحمه الله په يو روايت کې داسې هم شته چې: يا ورته په آخرت کې د دې دعاء اجر او ثواب ورکړي.

تشريح: د حديث خلاصه دا ده چې د انسان دعاء خامخا قبلېږي، ليکن د قبوليت شکلونه يې مختلف وي، خو په دې شرط چې د لويو ګناهونو نه ځان وساتي او د خپلوی ختمولو نه هم ځان ساتي، خپلوي ختمول په لويو ګناهونو کې دي، نو ځکه په خصوصيت سره دې ذکر وشو، د دعاء قبلېدو مختلف انواع دي اولنی قسم يې دا دی چې د الله ﷻ څخه دې څه غوښتي دي هغه هم درکړي، يعنې د دين يا دنيا چې کوم څه دې غوښتلي وي هغه درکړي.

دويم قسم دا دی چې انسان يو څه غواړي، خو الله ﷻ بل څه ورکړي، مثلاً يو کس دی، هغه د الله ﷻ نه د زر روپو سوال وکړو، ددې په بدله کې الله ﷻ دده نه بيماري يا کوم بل مصيبت ترې لرې کړو، ددې ناروغی په علاج به دده څخه زر روپۍ خرچ کېدلې، نو الله تعالى د هغې ناروغی څخه وژغورلو او زر روپۍ يې پرې مصرف نه شوې

دريم قسم دا دی چې نه خو هغه څه ورکړي چې څه غواړي او نه يې کوم بدل ورکړي، ليکن په آخرت کې ددې اجر او ثواب ورکړي.

فقيه ابو الليث سمرقندي رحمه الله فرمايي "ان العبد يرى في صحائفه يوم القيامة حسنة لا يعرفها فيقال: انها بدل لسوالك في الدنيا لم يقدر قضاؤه فيها" د قيامت په ورځ به بنده په خپله عمل نامه کې نېکۍويني کومې چې به دی نه پېژني، ده ته به وويل شي چې دا د هغو دعاګانو او سوالونو په بدله کې دي چې کومې دعاګانې او سوالونه په دنيا کې تا غوښتل، ليکن په دنيا کې ستا په تقدير کې ليکل شوي نه وو، په يو حديث کې دي: کله چې يو مسلمان دا حالت ويني، نو هغه به ووايي: ارمان! زما خو يوه دعاء هم په دنيا کې قبوله شوې نه وای، دلته به مې په سختی کې پکار راغلې وای.

شعر:

اوقات همايوں كه بادوست بسر رفت ..... باقى همه بے حاصل وبے خودى بود

الله اكبر: علامه طيبي رحمه الله ددې مطلب داسې بيان کړی دی چې ته څومره د الله جل جلاله نه عوا رې الله جل جلاله به يې ددې نه زيات درکوي

د تکليف او پريشانی پر مهال دعاء

"وعن ابن عباس رضی الله عنهما : أنّ رسولَ الله ﷺ كانَ يقولُ عِنْدَ الكرْبِ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ به د سختی په وخت داسې دعاء کول - "لا إلهَ إلاّ اللهُ العظيمُ الحَليمُ" نشته لائق د عبادت سېوا د الله نه چې لوی ذات او مهربان دی، "لا إلهَ إلاّ اللهُ رَبُّ العَرْشِ العظيمِ، نشته لائق د عبادت سېوا د الله جل جلاله نه چې د لوی عرش رب دی، "لا إلهَ إلاّ اللهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ، وَرَبُّ الأرْضِ وَرَبُّ العَرْشِ الكريمِ" نشته لائق د عبادت سېوا د الله نه چې د آسمانونو او ځمکو رب دی او د عزتمند عرش رب دي. متفق عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

کرب: کرب سختی او پريشانی ته ويل کيږي.

تشريح: کرب ډېر زيات غم او تکليف ته وايي، مطلب دا چې هر څومره لوی غم او تکليف درباندې راشي، که څوك دا دعاء ووايي، نو الله جل جلاله به يې په خپل فضل او کرم سره د هغه غم او تکليف لرې کړي، "لا إله إلا اللـــه" علماء فرمايي : د الله جل جلاله عظمت او لويي دومره ده چې انسان يې په عقل او تصور کې هم نه شي راوستلی.

الحليم: الله جل جلاله نرمي کونکې ذات دی، يعنې الله جل جلاله دومره نرمي کونکی دی چې سره ددې چې په سزا ورکولو باندې قادر ذات دی، ليکن بيا هم تاخير ورکوي، د الله جل جلاله غوسه د سمدستي انتقام لپاره نه وي، علامه نووي رحمه الله فرمايي : د اسلافو رحمهم الله دا معمول وو چې دوی به د پريشانی او مصيبت پر مهال دا دعاء ويل.

سوال: په دې دعاء کې خو خالص د الله جل جلاله ثناء او صفت دی، د دعاء خو بالکل ذکر پکې نشته؟

جواب: دا ابتدائي کلمات دي، ددې کلماتو څخه وروسته چې ته کومه دعاء د پريشانی ختمولو لپاره کوې، هغه دعاء وکړه؛ لکه څرنګه چې د ادب المفرد په روايت کې دي، بل جواب دا دی اګرچې په دې کې د دعاء الفاظ نشته، ليکن د الله جل جلاله قانون دا دی چې هر څوك د هغه په ذکر او ثناء کې مشغول شي او هغه ته د دعاء کولو فرصت نه ملاويږي، نو الله جل جلاله ورته د غوښتونکو نه زيات او ډېر څه ورکوي

باب كرامات الأولياء وفضلهم

داولياء كرامو كرامات او فضيلت يې

"قَالَ اللهُ تعالىٰ: أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ" الله ﷻ فرمايي: په دې خبره پوه شئ! چې د الله ﷻ په دوستانو به نه خوف وي او نه به دوی غمژن وي، "الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ" د الله ﷻ دوستان هغه دي چې ايمان يې راوړو او تقوا دار دي، "لَهُمُ الْبُشْرَىٰ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ" دوی ته په دنيا او اخرت کې زيرى دى، "لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ" د الله ﷻ په کلام کې تغير او تبديلي نه شي راتلې او همدغه ډېره لويه کاميابي ده. [يونس: ۶۲-۶۴]

تشريح: ألا إن أولياء الله: اولياء د ولي جمع ده، معنى يې د قريب ده، مطلب دا چې الله ﷻ ته داسې خلك نژدې وي، ځکه چې دوی رښتوني مسلمان وي، کومو چې د الله ﷻ اطاعت وکړو او د نافرمانۍ نه يې ځان وساتلو، نو داسې خلکو ته اولياء الله ويل کيږي، کوم کس چې د الله ﷻ ولي وي، د هغه د ولايت دليل په يو حديث کې ذکر شوی، هغه دا چې: "إذا رءوا ذكروا الله" کله چې يې څوک ويني، نو ده ته الله ﷻ وريه ياد شي، "لاخوف عليهم ولاهم يحزنون" د خوف تعلق د مستقبل سره وي او د حزن تعلق د ماضي سره وي، مطلب دا شو چې په اولياء الله باندې د قيامت په ورځ څه ويره نه وي، لکه څرنګه چې په نورو خلکو باندې ويره لګېدلې وي او کوم څه چې د دوی نه په دنيا کې پاتې دي يا د دنيا لذتونه او خوندونه چې دوی ته حاصل نه وو، په دې باندې به دوی نه غمجن وي او نه به څه ويره ورسره وي.

لهم البشرى في الحياة الدنيا وفي الاخرة: داسې خلکو ته په دنيا کې هم زيرى دى او په آخرت کې هم، د دنيا د زيري نه مراد ښه حالت او ښه خوبونه دي، يا د مرګ پرمهال د جنت زيرى دى، يا دا هم کېدى شي چې خلك به د دوی سره مينه او محبت ساتي، ديته په حديث کې هم اشاره ده هغه دا چې "تلك عاجل المومن" دا د مؤمن لپاره يو نغدي انعام دى او په آخرت کې خو به تولې خوشحالۍ خوشحالۍ وي.

"وقال تعالىٰ: وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ" الله ﷻ فرمايي: د ځان طرفته د خورما يو ځانګه را وښنوه "تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا فَكُلِي وَاشْرَبِي" راتوئ به شي په تا باندې تازه خورما خوره او ښښه! [مريم: ۲۵-۲۶]

تشريح: دا خطاب مريم عليها السلام ته دى، عيسى عليه السلام يې بچى دى، کله چې عيسى عليه السلام پيدا شو، نو د ښار نه ډېره لرې لاړه، الله ﷻ په خپل قدرت سره هلته د خورما يو ونه شنه کړه او ورسره يې د اوبو يوه چينه هم جاري کړه، په آيت کې ورته الله ﷻ فرمايي: مه خفه کيږه! خورما خوره او يخې اوبه ښښه.

علامه آلوسي رحمه الله فرمايي: په قرآن کريم کې لفظ د (هزى) راغلى دى يعنې وې خوزوه او

خند ورکړه، کنه نو الله ﷻ په دې هم قادر وو چې لکه څرنګه يې ورته ونه شنه کړه، دغه ذات ورته دې نه ميوې هم راغوړځولی شي، خو په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې د رزق په حصول کې څه کوشش او خوارې ضروري ده، نور ورکوونکی ذات هسې هم هغه يو الله ﷻ دی، طبيبانو ليکلي دي چې د کومې ښځې ماشوم پيدا شي، هغې ته خورما ورکول پکار دي، ځکه چې په دې سره د هغې طاقت په خپل حال پاتې کيږي.

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا" هر کله چې به زکريا عليه السلام کوټې ته داخل شو، نو د مريم (عليها السلام) سره به يې رزق موندلو، "قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ" زکريا عليه السلام به ورته ووېل: اې مريم عليها السلام! دا رزق دې له کومه پيدا کړو؟ هغې به ورته ووېل: دا رزق د الله ﷻ له طرفه دی او الله ﷻ چې چاته وغواړي بې حسابه رزق ورکوي. [آل عمران: ۳۷]

تشريح: مريم عليها السلام د زکريا عليه السلام په کفالت کې وه، زکريا عليه السلام به کله نا کله د مريم عليها السلام د پوښتنې لپاره د هغې محراب (کوټې) ته ورتلو چېرته چې هغه اوسېده، زکريا عليه السلام به چې ورغلو، نو د هغې سره به يې قسم قسم خوراکونه او ميوې وغيره وليدلې، د مفسرينو په نزد د رزق نه مراد ميوه ده او بيا داسې ميوې به پرتې وې چې بې موسمه به وې، يعنې د ژمي ميوه به يې په اوړي کې ليده او د ګرمۍ ميوه به يې په ژمي کې ليده، د زکريا عليه السلام نه علاوه بل کوم کس نه وو چې مريم عليها السلام ته يې خوراک او ميوې راوړې، نو ځکه زکريا عليه السلام د تعجب په لهجه کې وفرمايل: دا دې له کومه کړې؟ هغې سمدستي الله ﷻ ته اشاره وکړه او الله ﷻ په هر شي باندې قادر ذات دی، چا ته چې څرنګه وغواړي هغسې يې ورکوي.

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ فَأْوُوا إِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ" او کله چې ته د دوی نه او د الله تعالى څخه بغير د دوی د بوتانو څخه جدا شې د کومو چې به دوی عبادت کولو، نو تاسو غار ته لاړ شئ، ستاسو رب به په تاسو باندې خپل رحمت خپور کړي؛ "وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِنْ أَمْرِكُمْ مِرْفَقًا" او ستاسو لپاره به په کار کې اسانتيا نصيب کړي، "وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَتْ تَزَاوَرُ عَنْ كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَتْ تَقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ" او کله چې به لمر راوختلو، نو ته به ګورې چې د هغوی د غار نه ښي طرفته ته ځنډې ته راخيژي او چې غروب به کېدو، نو د غروب پلوشې به په هغوی نه پرېتولې. [الكهف: ۱۶-۱۷]

تشريح: وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ: په دې آيت کې د اصحاب کهف واقعې ته اشاره ده، کله چې دوی ته پته ولګېده چې په دې ښار کې دوی د الله ﷻ په ښه شان عبادت نه شي کولی، نو په خپل مينځ کې يې فيصله وکړه چې راځئ! دا ښار پرېږدو او چېرته په يو غار کې پټ شو او هلته به د الله ﷻ عبادت کوو، علامه ابن کثير رحمه الله فرمايي: د انبياء عليهم السلام سنت دا دی چې کله به هغوی ته به

کوم ځای کې د عبادت موقع په لاس نه ورتله، نو هغه ځای به يې پرېښودلو او داسې ځای ته به لاړل چې دوی به په ښه شان سره د الله ﷻ عبادت کولو، همدغه عمل اصحاب کهف هم وکړو.

لکه څرنګه چې د رسول الله ﷺ په لټون کې د مکې مشرکين ناکام شوي وو، کله چې رسول الله ﷺ د دوی نه په غار ثور کې پوازې شوی وو، نو دغه شان اصحاب کهف پسې چې کوم خلك د دوی په لټون کې وتلي وو، هغوی هم ناکام شوي وو.

وترى الشمس إذا طلعت: اصحاب کهف په غار کې پټ شول، د لمر رڼا به د دوی نه يو طرف ته په څنډه تېرېده، ځينې مفسرينو رحمهم الله فرمايلي دي چې ددې غار وضع او هيئت داسې وو چې د لمر ګرمي به په دوی نه لګېده، ليکن علامه زجاج رحمه الله فرمايي: دا د اصحاب کهف کرامت وو چې په دوی به د لمر رڼا او ګرمي نه لګېده، بلکې په اعتدال سره به په دوی باندې يخني او ګرمي لګېده، ددې لپاره چې د دوی بدنونه او جامې وغيره محفوظې پاتې شي.

په رزق کې برکت

"وعن أبي محمد عبد الرحمان بن أبي بكر الصديق رضي الله عنهما: أَنَّ أَصْحَابَ الصُّفَّةِ كَانُوا أُنَاساً فُقَرَاءَ وَأَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ مَرَّةً: مَنْ كَانَ عِنْدَهُ طَعَامُ اثْنَيْنِ، فَلْيَذْهَبْ بِثَالِثٍ، وَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ طَعَامُ أَرْبَعَةٍ، فَلْيَذْهَبْ بِخَامِسٍ بِسَادِسٍ" د أبو محمد عبد الرحمان بن أبي بكر الصديق رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې اصحاب الصفة ټول غريبانان او مسکينان خلك وو، نبي کريم ﷺ يو ځل وفرمايل: د کوم کس سره چې د دوه کسانو د خوراك ډوډۍ وي، هغه دې د ځان سره دريم کس بوځي او د کوم سره چې د درې کسانو خوراك وي، هغه دې څلورم کس د ځان سره بوځي او د چا سره چې د څلورو کسانو خوراك وي، هغه دې پنځم او شپږم کس د ځان سره بوځي، "أَوْ كَمَا قَالَ" نبي کريم ﷺ دا الفاظ وفرمايل يا يې ددې په مثل: "وَأَنَّ أَبَا بَكْرٍ ﷺ، جَاءَ بِثَلَاثَةٍ، وَانْطَلَقَ النَّبِيُّ ﷺ بِعَشَرَةٍ، وَأَنَّ أَبَا بَكْرٍ تَعَشَّى عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ ثُمَّ لَبِثَ حَتَّى صَلَّى الْعِشَاءَ، ثُمَّ رَجَعَ، فَجَاءَ بَعْدَ مَا مَضَى مِنَ اللَّيْلِ مَا شَاءَ اللَّهُ" ابوبکر رضي الله عنه د ځان سره درې کسان روان کړل، نبي کريم ﷺ د ځان سره لس کسان روان کړل، أبو بکر رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ سره د ماښام ډوډۍ وخوړه بيا هلته ورسره پاتې شو تردې چې د ماسخوتن لمونځ يې هم ورسره وکړو، بيا نور هم څه وخت پاتې شو، څومره چې د الله خوښه وه ښه کافي وخت چې تېر شو، نو کورته يې تشريف راوړو، "قَالَتِ امْرَأَتُهُ: مَا حَبَسَكَ عَنْ أَضْيَافِكَ؟ قَالَ: أَوَمَا عَشَّيْتِهِمْ؟" د أبو بکر رضي الله عنه ميرمن ام رومان رضي الله عنها ورته وفرمايل: چېرته تللی وې، مېلمنو درته انتظار کولو؟ أبو بکر رضي الله عنه ورته وفرمايل: دوی ډوډۍ نه ده خوړلې؟ "قَالَتْ: أَبَوْا حَتَّى تَجِيءَ وَقَدْ عَرَضُوا عَلَيْهِمْ، قَالَ: فَذَهَبْتُ أَنَا فَاخْتَبَأْتُ" هغې ورېل: دوی دا خبره وکړه چې ترڅو کوربه نه وي راغلی تر هغې به موږ خوراك ونه کړو او موږ ورته ډوډۍ هم اېښې وه، عبدالرحمن رضي الله عنه فرمايي: ما منډه کړه ځان مې پټ کړو، "فَقَالَ: يَا غُنْثَرُ، فَجَدَّعَ وَسَبَّ، وَقَالَ: كُلُوا لَا هَنِيئاً وَاللَّهِ لَا أَطْعَمُهُ أَبَداً" خو پلار راته غوسه شو او وې ويل: اې نالائقه! جاهله! کله چې دا خبره وه، نو ماته دې اطلاع ولې رانه کړه، په دې غوسه کې هغه قسم وخوړلو چې زه به ددې خوراك نه هيڅ هم ونه خورم، "قَالَ: وَايْمُ اللَّهِ مَا كُنَّا نَأْخُذُ مِنْ لُقْمَةٍ إِلَّا رَبَا مِنْ أَسْفَلِهَا أَكْثَرَ مِنْهَا حَتَّى شَبِعُوا، وَصَارَتْ أَكْثَرَ مِمَّا كَانَتْ قَبْلَ ذَلِكَ" عبد الرحمن رضي الله عنه

فرمايي: په الله ﷻ قسم چې دغه وخت د عجيبه برکت ظهور وشو چې موږ به يوه مړۍ پورته کول، د هغې لاندې به نور زيات خوراك ظاهر شو، تردې چې ټولو ښه په مړه خيټه خوراك وکړو، نو خوراك چې کېښودل شوی وو د هغې نه زيات پاتې شوی وو، "فنظر إليها أبو بكر فقال لامرأته: يا أخت بني فراس ما هذا؟ قالت: لا وقرة عيني لهي الآن أكثر منها قبل ذلك بثلاث مرات! فأكل منها أبو بكر وقال: إنما كان ذلك من الشيطان، يعني: يمينه، ثم أكل منها لقمة" أبو بكر ﷺ هغه خوراك ته نظر وکړ، وې فرمايل: اې د بني فراس خورې! دا څه دي؟ هغې وويل: اې د سترګو قراره! دا خو عجيبه واقعه ده، دا خو د اصل خوراك نه هم درې چنده زيات شوی دی، ددې په کتلو سره هغوی هم د قسم ماتولو په خاطر يوه مړۍ د هغه خوراك نه وکړه او وې فرمايل دا د شيطان اثر وو چې ما قسم وکړو، "ثُمَّ حَمَلَهَا إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَأَصْبَحَتْ عِنْدَهُ. وَكَانَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمٍ عَهْدٌ، فَمَضَى الأَجَلُ" بيا يې هغه ډوډۍ د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضره کړه، هغه ډوډۍ تر سهاره پورې موجوده وه، ځکه چې دغه وخت ټولو صحابه کرامو ډوډۍ خوړلې وه او ماړه وو، هغه شپه داسې وه چې په دغه شپه کې موږ د يو قوم سره معاهده وه د هغې موده ختمېدونکې وه، "فَتَفَرَّقْنَا اثْنَيْ عَشَرَ رَجُلاً، مَعَ كُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ أُنَاسٌ، اللهُ أَعْلَمُ كَمْ مَعَ كُلِّ رَجُلٍ فَأَكَلُوا مِنْهَا أَجْمَعُونَ" موږ سهار په دې تجسس کې مصروف وو چې د معاهدې ختمېدو اثرات به څه وي، اوس به ددې قوم ارادې څه وي. ددې کار لپاره دولس کسان مقرر شول او بيا ددې دولسو کسانو سره څه معاونين هم مقرر کړی شول او الله ﷻ ښه پوهېږي چې ددې معاونينو تعداد څومره وو، ليکن ټولو ددې ډوډۍ نه خوراك وکړو.

"وفي رواية: فَحَلَفَ أَبُو بَكْرٍ لاَ يَطْعَمُهُ، فَحَلَفَتِ المَرْأَةُ لاَ تَطْعَمُهُ، فَحَلَفَ الضَّيْفُ - أَوِ الأَضْيَافُ - أَنْ لاَ يَطْعَمُهُ أَوْ يَطْعَمُوهُ حَتَّى يَطْعَمَهُ" په يو بل روايت کې دي چې أبو بکر ﷺ قسم وکړو چې زه به ددې ډوډۍ نه خوراك نه کوم، د أبو بكر ﷺ مېرمن هم قسم وکړو چې زه به هم ددې نه خوراك نه کوم، مېلمنو هم قسمونه وکړل چې تاسو ترې خوراك نه کوئ، نو موږ به هم ددې نه خوراك ونه کړو، "فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: هَذِهِ مِنَ الشَّيْطَانِ! فَدَعَا بِالطَّعَامِ فَأَكَلَ وَأَكَلُوا، فَجَعَلُوا لاَ يَرْفَعُونَ لُقْمَةً إِلاَّ رَبَتْ مِنْ أَسْفَلِهَا أَكْثَرُ مِنْهَا" أبو بکر ﷺ وفرمايل دا يو شيطاني عمل دی، ډوډۍ يې راوغوښته هغه هم وخوړل او مېلمنو هم وخوړل، د کوم ځای نه به يې چې مړۍ پورته کول، لاندې نه به ورته نور خوراك زياتې شوی وو او د هغې نه به څو چنده زيات وو، څومره به يې چې خوړلی ؤ، "فَقَالَ: يَا أُخْتَ بَنِي فِرَاسٍ، مَا هَذَا؟ فَقَالَتْ: وَقُرَّةِ عَيْنِي إِنَّهَا الآنَ لأَكْثَرُ مِنْهَا قَبْلَ أَنْ نَأْكُلَ، فَأَكَلُوا، وَبَعَثَ بِهَا إِلَى النَّبِيِّ ﷺ، فَذَكَرَ أَنَّهُ أَكَلَ مِنْهَا" أبو بکر ﷺ وفرمايل: اې د بني فراس خورې! دا څه عجيبه شان خوراك دی زياتېږي او کمېږي نه! هغې وويل: اې د سترګو توره! دا خو د مخکې خوراک نه نور هم زيات شو، دوی ټولو هغه ډوډۍ وخوړل او بيا يې نبي کريم ﷺ ته هم ولېږل، راوي وايي چې نبي کريم ﷺ هم ترې خوراك وکړو.

"وفي رواية: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ قَالَ لِعَبْدِ الرَّحْمَانِ: دُونَكَ أَضْيَافَكَ، فَإِنِّي مُنْطَلِقٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ، فَافْرُغْ مِنْ قِرَاهُمْ قَبْلَ أَنْ أَجِيءَ، فَانْطَلَقَ عَبْدُ الرَّحْمَانِ، فَأَتَاهُمْ بِمَا عِنْدَهُ، فَقَالَ: اطْعَمُوا" په يو بل روايت کې دي چې أبو بکر ﷺ عبدالرحمن ﷺ ته وفرمايل: تاسو د مېلمنو سره لاړ شئ، زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضرېږم. زما د راتلو انتظار مه کوئ، مېلمنو ته ډوډۍ ورکړئ، عبدالرحمن ﷺ هغه مېلمانه د ځان سره کور ته روان کړل، هغوی

ورته ډوډۍ کېښودل او ورته يې وفرمايل: خورئ! "فقالوا: أين ربّ منزلنا؟ قال: اطعموا، قالوا: ما نحن بآكلين حتى يجيء ربّ منزلنا، قال: اقبلوا عنا قراكم، فإنه إن جاء ولم تطعموا، لنلقين منه" هغوی وويل: د کور مالك چېرته دی؟ هغه ورته وويل: تاسو ډوډۍ خورئ، هغوی بيا وويل: موږ به تر هغې خوراك ونه کړو تر څو چې د کور مالك راغلی نه وي، هغه ورته وفرمايل: بس تاسو زموږ مېلمستيا قبوله کړئ، ځکه چې که هغه راشي او په تاسو پوه شي چې خوراك مو نه دی کړی، نو ما ته به غوسه شي، "قالوا، فعرفت أنه يجد علي، فلما جاء تنحيت عنه، فقال: ما صنعتم؟ فأخبروه، فقال: يا عبد الرحمان، فسكت، ثم قال: يا عبد الرحمان، فسكت، فقال: يا غنثر أقسمت عليك إن كنت تسمع صوتي لما جئت!" نو زه پوه شوم چې دوی بالکل خوراك نه کوي، کله چې أبو بکر ﷺ راغلو، زه يو طرفته پټ شوم، هغوی پوښتنه وکړه چې د مېلمنو څه حال دی؟ موږ مي ورته ټول حال بيان کړو، أبو بکر ﷺ آواز وکړو چې عبدالرحمن ﷺ چېرته يې! زه چوپ شوم، بيا يې راته آواز وکړو، بيا چوپ شوم، په دريم ځل يې راته وويل: اي نالائقه جاهله! زه تا ته قسم درکوم چې که ته زما آواز اورې نو رابهر شه: "فخرجت، فقلت: سل أضيافك، فقالوا: صدق، أتانا به، فقال: إنما انتظرتموني والله لا أطعمه الليلة. فقال الآخرون: والله لا نطعمه حتى تطعمه" نو زه رابهر شوم، ما ورته وويل: د مېلمنو نه پوښتنه وکړه چې ما ورته ډوډۍ ايښودلې وه او که نه؟ هغوی ورته وويل: هو! ډوډۍ يې راوړې وه، أبو بکر ﷺ ورته وفرمايل: تاسو زما انتظار کولو، هغه قسم وکړو چې نن شپه به زه خوراك ونه کړم، هغوی هم قسمونه وکړل چې تاسو تر څو خوراك ونه کړئ، موږ به هم تر هغه پورې خوراك ونه کړو، "فقال: ويلكم ما لكم لا تقبلون عنا قراكم؟ هات طعامك، فجاء به، فوضع يده فقال: بسم الله، الأولى من الشيطان، فأكل وأكلوا" أبو بکر ﷺ ورته وفرمايل: په تاسو باندې څه شوي دي چې تاسو زما مېلمستيا نه قبلوئ؟ ډوډۍ راوړئ! ډوډۍ راوړل شوه، لاسونه يې پرې کېښودل او بسم الله يې وويل، بيا يې وفرمايل: اولني قسمونه شيطاني اثرات وو، بيا ټولو په شريکه خوراك وکړو متفق عليه

قوله: غُنْثَرٌ بغين معجمة مضمومة ثم نون ساكنة ثم ثاء مثلثة وهو: الغبي الجاهل: دا قول چې غنثر دی، معنی يې ده: جاهل او غبي سړی، "وقوله: فجدّع أي شتمه" دا قول چې (فجدع) دی، ددې معنی ده: بښيرې کول. "والجدع القطع. قوله يجد علي هو بكسر الجيم: أي يغضب" دا قول چې (يجد علي) ددې معنی ده: ما ته به غوسه شي

تشريح: أصحاب الصفة: د نبي کريم ﷺ په زمانه کې د نبوي جومات سره نژدې د نبي کريم ﷺ د حجرې شمال طرف ته يوه چبوتره وه چې صفه ورته وويل کېده، دلته به غريب صحابه کرام پاتې کېدل او د رسول الله ﷺ نه به يې د دين علم زده کولو، په دې نسبت سره دغو صحابه کرامو ته اصحاب صفه ويل کيږي.

من كان عنده طعام اربعة فليذهب بخامس بسادس: د چا سره چې د څلورو کسانو ډوډۍ وي، هغه ته پکار دي چې پنځم يا شپږم کسان د ځان سره کړي، مطلب دا چې د چا سره په کور کې د څلورو کسانو خوراك موجود وي، هغه په دې پوهيږي چې دا خوراك به پنځه کسانو ته کافي کيږي، نو هغه دې د

اصحاب صفه څخه يو بل كس هم د خان سره بوځي او كه پوهيږي چې دا ډوډی د شپږو كسانو خوراك ده، نو بايد چې د ځان سره دوه نور كسان بوځي.

والله لا أطعمه: قسم په الله ﷻ! زه به دا ډوډی نه خورم! قسم يې وكړو، خو بيا يې ډوډی وخوړه او د قسم كفاره يې وركړه، معلومه شوه چې يو كس د يو شي نه قسم وكړي او بيا ورته پته ولګيږي چې ددې په خلاف كوم عمل دی په هغې كې فايده ده، نو بايد چې د فايدې كار وكړي او د قسم كفاره وركړي

وقرة عيني إنها الآن لأكثر منها قبل أن نأكل: زما د سترګو يخوالي! بې شكه دا خو د مخكې څخه هم زياته شوې ده. "قرة العين" دا د عربي ژبې محاوره او متل دی، لكه زموږ په پښتو ژبه كې ويل كيږي چې: زما د سترګو توره! د محبوب په ليدو كې چې سړي ته كوم خوند حاصليږي هغه ترې مراد دی، ددې نه مراد يا أبو بكر ﷺ دی يا خپله پيغمبر ﷺ دی، حديث كې د ابوبكر ﷺ كرامت ته اشاره ده، هغه دا چې د خوراك نه وړاندې چې د ډوډی او خوراك څومره مقدار وو، د خوراك نه وروسته نوره اضافه هم پكې شوې وه.

د راوي عبد الرحمن بن أبي بكر ﷺ حالات:

اصل نوم يې عبد الرحمن ﷺ دی، د پلار نوم يې أبو بكر ﷺ دی، كنيت يې ابو عبد الله دی، د مور نوم يې ام رومان ﷺ وو، د عائشې ﷺ حقيقي ورور وو، د صلح حديبيه په موقع مسلمان شو، بيا مديني منورې ته راغلو او د ابوبكر ﷺ سره اوسېدلو، په غشو ويشتلو كې يې ښه مهارت درلود، د حديبيه نه وروسته يې په ټولو غزواتو كې شركت كړی دی، د يمامه په جنګ كې يې ښه په ميړانه او بهادرۍ كار كړی دی، په يمامه كې يوه قلعه وه د هغې يو دېوال خيرې شوی وو، مسلمانان په دې دېوال باندې داخلېدل، ليكن په مينځ كې محكم بن طفيل خنډ جوړ شو، مسلمانان يې نه پرېښودل چې قلعې ته داخل شي، عبد الرحمن ﷺ په كمين كې كېښستلو او په هغه يې د غشي داسې وار وكړو چې ځای پر ځای يې مردار كړو او مسلمانان قلعې ته داخل شول

د ژوند په آخري ساعتونو كې مكې ته لاړو، بيا د هغه ځای نه تقريبا ۱۰ ميله لرې په يوه كوټه كې اوسېدلو، په ۵۳ هجري كې په خوب ويده وو چې مرګ ورته راغلو.

زما په امت كې محدث عمر ﷺ دی

"وعن أبي هريرة ﷺ قَالَ: قَالَ رسول اللـــه ﷺ: لَقَدْ كَانَ فِيمَا قَبْلَكُمْ مِنَ الأُمَمِ نَاسٌ مُحَدَّثُونَ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو نه مخكې خلكو كې به هم محدثون وو، "فَإِنْ يَكُ فِي أُمَّتِي أَحَدٌ فَإِنَّهُ عُمَرُ" او كه زما په امت كې كوم كس وای، نو هغه به عمر ﷺ وای. رواه البخاري

ورواه مسلم من رواية عائشة. وفي روايتهما قَالَ ابن وهب: مُحَدَّثُونَ أَيْ مُلْهَمُونَ: دا حديث امام مسلم رحمه الله د عائشې ﷺ په روايت سره نقل كړی دی، ابن وهب ﷺ فرمايي: محدثون هغه كس ته ويل كيږي چا ته چې الهام كيږي

تشريح: **محدثون:** محدث معنى ده : الهام، روڼ ضمير. الهام د پته ويل کيږي چې د چا په زړه کې الله ﷻ پته خبره واچوي او بيا يې هغه په خپل ايماني فراست سره بل چاته ورسوي. الهام الله ﷻ خپل خاص نېکو بندګانو ته کوي، خلاصه دا شوه چې په پخوانيو زمانه کې به خينې خاص خلك وو چې هغوی ته به الله ﷻ الهام کولو. مثلاً : د موسى علیه السلام مور ته چې کوم الهام شوی وو، په قرآن کريم کې ارشاد دی: "**وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى**" مور د موسى علیه السلام مور ته (وحي) يعنې الهام وکړو. دغه شان د مريم عَلَيْهَا السَّلَامُ باره کې هم راغي، نو دغه شان د عمر رضي الله عنه باره کې هم دي، دا د عمر رضي الله عنه خانګړې صفت وو.

عمر رضي الله عنه سعد رضي الله عنه معزول کړو

"**وعن جابر بن سمرة رضي الله عنهما قال: شكا أهل الكوفة سعدا يعني: ابن أبي وقاص رضي الله عنه، إلى عمر بن الخطاب رضي الله عنه، فعزله، واستعمل عليهم عمارا**" د جابر بن سمرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې کوفيان د سعد رضي الله عنه نه په څه خبره ناراضه وو، دوی عمر رضي الله عنه ته د سعد رضي الله عنه نه شکايت وکړو، عمر رضي الله عنه په دوی باندې عمار رضي الله عنه مشر کړو، "**فشكوا حتى ذكروا أنه لا يحسن يصلي، فأرسل إليه، فقال: يا أبا إسحاق، إن هؤلاء يزعمون أنك لا تحسن تصلي**" دوی د عمار رضي الله عنه شکايت هم وکړو چې عمار رضي الله عنه صحيح لمونځ نه کوي، عمر رضي الله عنه يوه عريضه واستول او پکې يې وليکل چې ماته خبر رارسېدلی دي چې تاسو صحيح لمونځ نه کوئ؟ "**فقال: أما أنا والله فإني كنت أصلي بهم صلاة رسول الله ﷺ، لا أخرم عنها، أصلي صلاتي العشاء فأركد في الأوليين، وأخف في الأخريين**" هغه ورته وويل: زه او په صحيح طريقه لمونځ نه کول سوال نه پيدا کيږي، زه خو په الله ﷻ قسم! دوی ته په هغه طريقه لمونځ ورکوم په کومه طريقه چې رسول الله ﷺ کړې دی، معمولي شان کمی زياتی پکې نه کوم، د ماښام او ماسخوتن لمونځونو کې اولنی دوه رکعته لږ شان اوږدوم او بيا آخريني رکعتونه لنډوم، "**قال: ذلك الظن بك يا أبا إسحاق، وأرسل معه رجلا -أو رجالا- إلى الكوفة يسأل عنه أهل الكوفة، فلم يدع مسجدا إلا سأل عنه، ويثنون معروفا**" راوي وايي: عمر رضي الله عنه ورته وليکل: ستاسو متعلق زما هم دا خيال وو چې تاسو به صحيح لمونځ ورکوئ، بيا هم عمر رضي الله عنه (د شر دفع کولو لپاره) څه کسان کوفې ته ولېږل چې پوښتنې وکړي چې رښتيا عمار رضي الله عنه په صحيح طريقه لمونځ نه کوي، نو تلاش کوونکو يو داسې جومات پرېنښودلو چې پوښتنه يې پکې نه وي کړې او هغوی دا ځواب نه وي ورکړی چې عمار رضي الله عنه خو په ډېر ښه شان سره لمونځ ادا کوي، "**حتى دخل مسجدا لبني عبس، فقام رجل منهم يقال له أسامة بن قتادة، يكنى أبا سعدة، فقال: أما إذ نشدتنا فإن سعدا كان لا يسير بالسرية ولا يقسم بالسوية، ولا يعدل في القضية**" تر دې چې د بني عباس جومات ته د پوښتنې لپاره راغلل، په دې جومات کې يو سړی ودرېدو چې د هغه نوم اسامه بن قتاده ؤ، کنيت يې ابو سعدة وو، هغه وويل: کله چې تاسو زموږ نه پوښتنه وکړه، نو زه به درته ووايم چې عمار رضي الله عنه نه چېرته د جنګ لپاره تللی دی، نه مال غنيمت په صحيح طريقه تقسيموي او نه د عدل او انصاف فيصلې کوي، "**قال سعد: أما والله لأدعون بثلاث: اللهم إن كان عبدك هذا كاذبا، قام رياء، وسمعة، فأطل عمره، وأطل فقره، وعرضه للفتن**" سعد رضي الله عنه وويل:

والله! زه د درې ښېرو نه بغير نه شم پاتې کېدلی، اې الله ﷻ! که چېرته دا سړی دروغجن وي او د مشقته شهرت په خاطر درېدلی وي، نو دده عمر زيات کړه يا د فقر زمانه پرې اوږده کړه او په فتنو کې يې مبتلاء کړه، د هغوی ښيرې په هغه سړي باندې ولګېدې، "وَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ إِذَا سُئِلَ يَقُولُ: شَيْخٌ كَبِيرٌ مَفْتُونٌ أَصَابَتْنِي دَعْوَةُ سَعْدٍ" ددې نه وروسته به چې چا ترې پوښتنه وکړه، نو دده به ورته ويل: په ما باندې د سعد ﷺ ښيرې لګېدلې دي، بوډا شوم او فتنې مې نه پرېږدي

"قَالَ عَبْدُ الْمَلِكِ بن عُمَيْرٍ الرَّاوِي عن جابِرِ بنِ سَمُرَةَ: فَأَنَا رَأَيْتُهُ بَعْدُ قَدْ سَقَطَ حَاجِبَاهُ عَلَى عَيْنَيْهِ مِنَ الْكِبَرِ" عبدالملك بن عمير رحمه الله چې د جابر بن سمرة ﷺ نه روايت کوي، فرمايي چې ما خپله وليدل چې د بوډاوالي له وجې يې وروځې په سترګو پرتې وې، "وَإِنَّهُ لَيَتَعَرَّضُ لِلْجَوَارِي فِي الطُّرُقِ فَيَغْمِزُهُنَّ" او هغه به په لاره باندې جينکۍ او خوانان تنګول، هغوی ته به يې لاس وراچولو. متفق عليه

تشريح: أرسل معه رجلاً أورجالاً إلى الكوفة: دده سره يې يو کس يا ډېر کسان کوفې ته روان کړل، ددې لپاره چې هغوی د کوفيانو نه پوښتنه وکړي، ددې نه معلومه شوه چې د چا په باره کې څوک درته شکايت وکړي، نو تر تولو وړاندې بايد تحقيق وکړل شي، لکه څرنګه چې عمر ﷺ د سعد ﷺ په باره کې د کوفيانو نه پوښتنه وکړه.

فعزله واستعمل عليهم عماراً: عمر ﷺ سعد ﷺ معزول کړو او د هغه په ځای يې عمار ﷺ والي کړو، ددې نه معلومه شوه چې که په معزوله کولو کې مصلحت وي، نو معزولول يې پکار دي، اګرچه هغه په حقيقت کې دروغ وي، ددې نه دا هم معلومه شوه چې امير المومنين يا د وخت خليفه ته پکار دي چې د عام ولس د خير ښېګنې په کارونو کې حرکت وکړي.

عمر ﷺ عمار ﷺ د لمونځونو خليفه جوړ کړو، ابن مسعود ﷺ يې د بيت المال مشر کړو او عثمان بن حنيف ﷺ ته يې نورې ذمه واری وسپارلې، دلته د عمار ﷺ ذکر ځکه په ځانګړې توګه وشو چې د کوفيانو شکايت د لمانځه په باره کې وو.

لأدعون بثلاث: زه به درې ښيرې خامخا کوم، لکه څرنګه چې سعد ﷺ درې ښيرې وکړې، هغه درې واړه الله ﷻ قبولې کړې، په دې کې د سعد ﷺ کرامت ثابت شو، بل ددې نه دا هم معلومه شو، چې هغه مستجاب الدعوات صحابي وو، رسول الله ﷺ ورته دعاء کړې وه چې اې الله! سعد ﷺ چې څنګه دعاء غواړي هغه قبوله کړې، "ولم يدع مسجداً إلا سأل عنه" هر جومات ته به لاړل او هلته به يې د الله ﷻ نه سوال وکړو، په يو بل روايت کې دي چې: وأقام سعداً في مسجد الكوفة يسألهم عنه" او په يو بل روايت کې دي چې: "فطيف به في مساجد الكوفة" د کوفې په مختلفو جوماتونو وګرځېدل او د خلکو څخه يې پوښتنې وکړې

د سعيد بن زيد ﷺ د ښيرو اثر

"وعن عروة بن الزبير: أَنَّ سعيدَ بن زيد بن عمرو بن نُفَيْلٍ ﷺ، خَاصَمَتْهُ أَرْوَى بِنْتُ أُوَيْسٍ إِلَى مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ، وَادَّعَتْ أَنَّهُ أَخَذَ

شيئاً من أرضها، فقال سعيد: أنا كنت آخذ شيئاً من أرضها بعد الذي سمعت من رسول الله ﷺ؟! قال: ماذا سمعت من رسول الله ﷺ؟" د عروه بن زبير رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل رضي الله عنه باندې اروی بنت اوس د مروان بن حکم په وړاندې دعوه وکړه چې سعيد رضي الله عنه زما څه ځمکه لاندې کړې ده، سعيد رضي الله عنه د دعوې په ځواب کې وويل: د ځمکې باره کې د رسول الله ﷺ د وعيد او سزا اوريدو وروسته زما څه کار دی چې د چا ځمکه په ناحقه لاندې کړم، هغه ورته وويل: تاسو د رسول الله ﷺ نه څه اوريدلي دي؟ "قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: من أخذ شبراً من الأرض ظلماً، طوقه إلى سبع أرضين فقال له مروان: لا أسألك بينة بعد هذا" هغه ورته وويل: ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې فرمايل يې: کوم کس چې يوه لويشت ځمکه د چا نه په ظلم سره قبضه کړي، نو د قيامت په ورځ به پوره اووا ځمکې ورپه غاړه کړې شي، "فقال سعيد: اللهم إن كانت كاذبة، فأعم بصرها، واقتلها في أرضها" سعيد رضي الله عنه ښيرې وکړې چې اې الله! که چېرته دا ښځه دروغجنه وي، نو سترګې يې ړندې کړه او په هم هغه ځمکه کې يې مړه کړه! "قال: فما ماتت حتى ذهب بصرها، وبينما هي تمشي في أرضها إذ وقعت في حفرة فماتت" راوي وايي: سترګې يې ړندې شوې، په داسې حال کې چې په همدې ځمکه کې روانه وه ناڅاپه په يوه کنده کې پرېوته او مړه شوه. متفق عليه

"وفي رواية لمسلم عن محمد بن زيد بن عبد الله بن عمر بمعناه، وأنه رآها عمياء تلتمس الجدر تقول: أصابتني دعوة سعيد" او د مسلم رحمه الله په يو روايت کې دي د محمد بن زيد بن عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه هم په دې معنی سره دي: چې ده خپله دغه ښځه وليدله چې په دېوال به يې لاسونه راخکل ړنده شوې وه او داسې به يې ويل: زما په حق کې د سعيد رضي الله عنه ښيرې قبولې شوې دي، "وأنها مرت على بئر في الدار التي خاصمته فيها، فوقعت فيها، وكانت قبرها" بيا په همدې ځمکه کې په جوړ شوې کوهي کې تېرېده چې په کوهي کې ولوېده او همدا کوهی ددې لپاره قبر شو.

تشريح: خاصمته أروى بنت أوس إلى مروان بن الحكم: يوه ښځه چې نوم يې اروی بنت اوس وو، د سعيد بن زيد رضي الله عنه سره يې جنګ وکړو، مروان بن حکم ته يې شکايت وکړو، سعيد بن زيد رضي الله عنه د عشره مبشره څخه وو، د عمر رضي الله عنه اوښی وو، مستجاب الدعوات هم وو، په اروې بنت اوس کې اختلاف دی، څېنې وايي: تابعيه وه او څېنې وايي: صحابيه وه، "فقال له مروان: لا أسئلك بينة بعد هذا" مروان هغه ته وويل: ددې نه وروسته به زه بل کوم شاهد طلب نه کړم، علامه کرماني رحمه الله چې د بخاري شارح دی، فرمايي چې ددې حديث اوريدو څخه وروسته مروان د سعيد بن زيد رضي الله عنه په حق کې فيصله وکړه، سعيد رضي الله عنه احتياطاً هغه ځمکه پرېښوده او ښځې ته يې حواله کړه، ليکن بيا وروسته يې ورته ښيرې وکړې چې که دا ښځه دروغجنه وي، نو اې الله! په دې ځمکه کې يې مړه کړې، هغه ښځه بيا وروسته ړنده شوه او د همدې ځمکې په يو کوهي کې پرېوتل او مړه شوه، دغه کوهی د هغې قبر جوړ شو.

په يو قبر کې دوه کسان دفن شول

"وعن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما، قَالَ: لَمَّا حَضَرَ أُحُدٌ دَعَانِي أَبِي مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ: مَا أُرَانِي إِلَّا مَقْتُولاً فِي أَوَّلِ مَنْ يُقْتَلُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ، وَإِنِّي لَا أَتْرُكُ بَعْدِي أَعَزَّ عَلَيَّ مِنْكَ غَيْرَ نَفْسِ رَسُولِ اللهِ ﷺ، وَإِنَّ عَلَيَّ دَيْناً فَاقْضِ، وَاسْتَوْصِ بِأَخَوَاتِكَ خَيْراً" جابر بن عبد الله ﵁ نه روايت دی هغه فرمايي چې کله د جنګ احد واقعه شروع شوه، نو د شپې مې پلار راوغوښتلم راته يې وفرمايل: زه خپل ځان وينم چې د رسول الله ﷺ د ملګرو په اولنيو مقتولانو کې به يم او د رسول الله ﷺ نه وروسته د ټولو نه راته زيات ګران يې، خو ګوره چې په ما باندې قرض دی او د خپلو خويندو سره نيکي کوه! "فَأَصْبَحْنَا، فَكَانَ أَوَّلَ قَتِيلٍ، وَدَفَنْتُ مَعَهُ آخَرَ فِي قَبْرِهِ، ثُمَّ لَمْ تَطِبْ نَفْسِي أَنْ أَتْرُكَهُ مَعَ آخَرَ" کله چې سهار شو، نو اولنی کوم کس چې شهيد شو، هغه زما والد صاحب وو، زما د پلار سره په قبر کې يو بل کس هم دفن کړی شو، خو زما زړه نه غوښتل چې زما د پلار سره دې په قبر کې بل څوک هم وي، "فَاسْتَخْرَجْتُهُ بَعْدَ سِتَّةِ أَشْهُرٍ، فَإِذَا هُوَ كَيَوْمِ وَضَعْتُهُ غَيْرَ أُذُنِهِ، فَجَعَلْتُهُ فِي قَبْرٍ عَلَى حِدَةٍ" پلار مې پوره شپږ مياشتې پس د قبر نه رابهر کړو، نو داسې روغ او صحيح سلامت وو، لکه اوس چې په قبر کې اېښودل شوی وي، صرف پوزه يې لږ شانته متغير شوې وه، د پلار لپاره مې جدا قبر وکيندلو، هلته مې ښخ کړو. رواه البخاري

تشريح: دفنت معه آخر في قبره: يو بل صحابي ﵁ يې هم ورسره دفن کړو، دغه دويم کس عمرو بن جموح ﵁ وو، دا د جابر ﵁ د پلار په ملګرو کې وو، د هغه اوښی هم وو، ددې حديث څخه علماوو استدلال کړی دی چې د ضرورت پرمهال په يو قبر کې دوه کسان دفن کول جائز دي، "فاستخرجته بعد ستة اشهر" شپږ مياشتې وروسته مې هغه قبر وسپړلو، ددې نه دا هم معلومه شوه چې د ضرورت پرمهال قبر سپړل جائز دي، ليکن دا په هغه صورت کې جائز دي کله چې په قبر باندې زيات وخت نه وي تېر شوی او ددې خبرې غالب ګومان وي چې مړی به اوس هم سلامت وي.

د دوه صحابه کرامو کرامت

"وعن أنس ﵁: أَنَّ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ، خَرَجَا مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ ﷺ، فِي لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ وَمَعَهُمَا مِثْلُ الْمِصْبَاحَيْنِ بَيْنَ أَيْدِيهِمَا" د انس ﵁ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ د مجلس نه يو دوه ملګري په توره شپه کې خپلو کورونو ته روان شول، د هغوی نه وړاندې د مشالونو په څېر دوه شيان وړاندې روان وو، "فَلَمَّا افْتَرَقَا، صَارَ مَعَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا وَاحِدٌ حَتَّى أَتَى أَهْلَهُ" کله چې دوی دواړه ځانته ځانته شو، هر يو په خپله لار روان شو، هغه مشالونه هم د هر يو سره په خپله مخه روان شول، تردې چې خپلو کورونو ته ورسېدل.

رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ مِنْ طُرُقٍ، وَفِي بَعْضِهَا أَنَّ الرَّجُلَيْنِ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ، وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ رضي الله عنهما: امام بخاري ﵀ په يو بل سند سره روايت کړی دی او په ځينو نسخو کې دي چې هغه دوه کسان اسيد بن حضير ﵁ او عباد بن بشر ﵁ وو.

تشريح: په حديث کې د دوه صحابه کرامو چې يو اسيد بن حضير ﵁ او بل عباد بن بشر

ﷺ و، د دوی کرامت ذکر شوی دی، دوی د شپې د رسول الله ﷺ د مجلس څخه کوروتو ته روان شول، نو الله ﷻ د دوی د یو کس په امساء کې رڼا پیدا کړه، کله چې دواړه سره بېل شول، نو بیا دغه رڼا د هغه بل کس په امساء کې هم پیدا شوه، په دې رڼا سره هغوی خپلو کوروتو ته ورسېدل. "مثل المصابيح" د دوه ډېوو په څېر، دا څه وو؟ ځینې وایي: د دوی امساګانې د ډېوې په شان ځلېدې چې توره شپه به ورباندې تکه سپینه ورځ شوه. ځینې وایي: دا په اصل کې د نبوت رڼا وه. خلاصه دا چې د دوی کرامت شو او د رسول الله ﷺ معجزه شوه.

د عاصم بن ثابت ﷺ کرامت

"وعن أبي هريرة ﷺ قَالَ: بعث رسول الله ﷺ عَشَرَةَ رَهْطٍ عَيْناً سَرِيَّةً، وَأَمَّرَ عَلَيْهَا عَاصِمَ بنَ ثَابِتٍ الأَنْصَارِيَّ ﷺ، فَانْطَلَقُوا حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالْهَدْأَةِ، بَيْنَ عُسْفَانَ وَمَكَّةَ، ذُكِرُوا لِحَيٍّ مِنْ هُذَيْلٍ يُقَالُ لَهُمْ: بَنُو لَحْيَانَ، فَنَفَرُوا لَهُمْ بِقَرِيبٍ مِنْ مِئَةِ رَجُلٍ رَامٍ" د ابو هريره ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ د لسو کسانو یوه دسته د تجسس او تفتیش لپاره ولیږل، عاصم بن ثابت انصاري ﷺ یې پرې امیر وټاکلو، دوی چې کله مقام هداة ته ورسېدل (دغه ځای د مکې او عسفان په مینځ کې دی) نو چا هزیل (بني لحیان هم ورته ویلی شي) قبیلې ته خبر ورسولو، دوی سل غشي ویشتونکي جمع کړل، "فَاقْتَصُّوا آثَارَهُمْ، فَلَمَّا أَحَسَّ بِهِمْ عَاصِمٌ وَأَصْحَابُهُ، لَجَأُوا إِلَى مَوْضِعٍ، فَأَحَاطَ بِهِمُ القَوْمُ، فَقَالُوا: انْزِلُوا فَأَعْطُوا بِأَيْدِيكُمْ وَلَكُمُ العَهْدُ وَالمِيثَاقُ أَنْ لاَ نَقْتُلَ مِنْكُمْ أَحَداً" دغه د غشو ویشتونکو دسته د صحابه کرامو د پښو په نخښو پسې روان شول، تردې چې هلته راورسیدل، صحابه کرامو ته پته ولګېده چې راورسېدل، نو هغوی په یو پورته ځای پناه واخیستل. دښمنانو د هغوی محاصره وکړه، غشو ویشتونکو صحابه کرامو ته وویل: موږ ستاسو سره وعده کوو چې په تاسو کې به یو هم نه قتلوو، لاندې راښکته شئ! "فَقَالَ عَاصِمُ بنُ ثَابِتٍ: أَيُّهَا القَوْمُ، أَمَّا أَنَا، فَلاَ أَنْزِلُ عَلَى ذِمَّةِ كَافِرٍ: اللَّهُمَّ أَخْبِرْ عَنَّا نَبِيَّكَ ﷺ، فَرَمَوْهُمْ بِالنَّبْلِ فَقَتَلُوا عَاصِماً" عاصم ﷺ ورته وفرمایل: اې ملګرو! زه خو د هیڅ کافر په عهد باندې اعتبار نه لرم، زه خو نه ښکته کېږم، اې الله! خپل پېغمبر ته زموږ حالت ورسوه! هغو کافرانو عاصم ﷺ په غشي وویشتلو چې هغه شهید شو، "وَنَزَلَ إِلَيْهِمْ ثَلاثَةُ نَفَرٍ عَلَى العَهْدِ وَالمِيثَاقِ، مِنْهُمْ خُبَيْبٌ، وَزَيْدُ بنُ الدَّثِنَةِ وَرَجُلٌ آخَرُ، فَلَمَّا اسْتَمْكَنُوا مِنْهُمْ أَطْلَقُوا أَوْتَارَ قِسِيِّهِمْ، فَرَبَطُوهُمْ بِهَا" درې کسان نور هغوی ته راښکته شول چې زید بن دثنة ﷺ، خبیب ﷺ او یو بل کس د وعدې مطابق راښکته شو، کله چې کافرانو دغه درې کسان راګیر کړل، د هغوی لیندو مزي یې وسپړل او هغوی یې پرې وتړل، "قَالَ الرَّجُلُ الثَّالِثُ: هَذَا أَوَّلُ الغَدْرِ وَاللهِ لاَ أَصْحَبُكُمْ إِنَّ لِي بِهؤُلاءِ أُسْوَةً، يُرِيدُ القَتْلَى، فَجَرُّوهُ وَعَالَجُوهُ، فَأَبَى أَنْ يَصْحَبَهُمْ، فَقَتَلُوهُ" هغه دریم کس وویل: قسم په الله ﷻ دا اولنی دوکه شوه چې دوی وکړه، زما لپاره هم هغه لار صحیح ده کومه چې زما نورو ملګرو خوښه کړه، (شهادت یې اراده کړه) هغه یې په زوره په ځان پسې راکش کولو، خو هغه ورسره نه تلو، هغه یې هم شهید کړو. "وَانْطَلَقُوا بِخُبَيْبٍ، وَزَيْدِ بنِ الدَّثِنَةِ، حَتَّى بَاعُوهُمَا بِمَكَّةَ بَعْدَ وَقْعَةِ بَدْرٍ، فَابْتَاعَ بَنُو الحَارِثِ بنِ عَامِرِ بنِ نَوْفَلِ بنِ عَبدِ مَنَافٍ خُبَيْباً، وَكَانَ خُبَيْبٌ هُوَ قَتَلَ الحَارِثَ يَوْمَ بَدْرٍ" خبیب ﷺ او زید بن دثنه ﷺ یې د ځان سره روان کړل، هغوی دواړه یې په مکه کې د

بدر د واقعې نه وروسته خرڅ کړل، خبيب رضي الله عنه بنو حارث بن عامر بن نوفل بن عبد مناف واخيستلو
خبيب رضي الله عنه د بدر په غزا کې حارث مردار کړی وو، "فَلَبِثَ خُبَيْبٌ عِنْدَهُمْ أَسِيراً حَتَّى أَجْمَعُوا عَلَى قَتْلِهِ، فَاسْتَعَارَ مِنْ بَعْضِ
بَنَاتِ الحَارِثِ مُوسَى يَسْتَحِدُّ بِهَا فَأَعَارَتْهُ" خبيب رضي الله عنه د دوی سره بندي پاتې شو، تردې چې دوی ټولو د خبيب
رضي الله عنه د شهيد کولو اراده وکړه، خبيب رضي الله عنه د صفايي په خاطر د يوې ښځې نه چاړه وغوښتل، هغه يې
ورکړه، "فَدَرَجَ بُنَيٌّ لَهَا وَهِيَ غَافِلَةٌ حَتَّى أَتَاهُ، فَوَجَدَتْهُ مُجْلِسَهُ عَلَى فَخِذِهِ وَالمُوسَى بِيَدِهِ، فَفَزِعَتْ فَزْعَةً عَرَفَهَا خُبَيْبٌ" يو ماشوم د دې
ښځې په ناخبرۍ کې د خبيب رضي الله عنه څنګ ته راغلو، هغې ښځې ماشوم وليدو چې د خبيب رضي الله عنه په غېږ
کې دی او چاړه د خبيب رضي الله عنه په لاس کې وه، هغه ښځه وويرېده، خبيب رضي الله عنه پرې پوه شو، "فَقَالَ: أَتَخْشَيْنَ
أَنْ أَقْتُلَهُ مَا كُنْتُ لأَفْعَلَ ذَلِكَ! قَالَت: وَاللهِ مَا رَأَيْتُ أَسِيراً خَيراً مِنْ خُبَيْبٍ، فَوَاللهِ لَقَدْ وَجَدْتُهُ يَوماً يَأْكُلُ قِطْفاً مِنْ عِنَبٍ في يَدِهِ وَإنَّهُ لَمُوثَقٌ
بِالحَدِيدِ وَمَا بِمَكَّةَ مِنْ ثَمَرَةٍ" خبيب رضي الله عنه ورته وفرمايل: ايا په دې ويرېږې چې زه به دا ماشوم مړ کړم، هيڅ کله
زه داسې کار نه کوم، هغه ښځه وايي: د خبيب رضي الله عنه په شان نېک او ښه بنده ما چېرته نه دی ليدلی،
قسم په الله ﷻ چې هغه به د انګورو غونچې په لاس کې وې او د هغې نه به يې خوراک کولو او په
مکه کې په دې وخت کې د مېوو نوم او نښان هم نه وو، "وَكَانَتْ تَقُولُ: إنَّهُ لَرِزْقٌ رَزَقَهُ اللهُ خُبَيباً" هغې به دا هم
ويل چې دا د الله ﷻ له طرفه رزق وو، کوم يې چې خبيب رضي الله عنه ته ورکولو، "فَلَمَّا خَرَجُوا بِهِ مِنَ الحَرَمِ لِيَقْتُلُوهُ فِي
الحِلِّ، قَالَ لَهُمْ خُبَيْبٌ: دَعُونِي أُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، فَتَرَكُوهُ، فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فَقَالَ:" کله چې هغوی خبيب رضي الله عنه روان کړو چې شهيد
يې کړي، د حرم نه يې بهر کړو، په حل کې يې شهيد کولو، نو هغه ورته وويل: ما پرېږدئ چې زه دوه
رکعته وکړم، هغه يې پرېښودلو او دوه رکعته لمونځ يې وکړو، بيا يې وويل چې: "وَاللهِ لَوْلاَ أنْ تَحْسَبُوا أنَّ مَا
بِي جَزَعٌ لَزِدْتُ: اللَّهُمَّ أحْصِهِمْ عَدَداً، وَاقْتُلْهُمْ بِدَداً، وَلاَ تُبْقِ مِنْهُمْ أحَداً" قسم په الله ﷻ! که زما سره ددې خبرې وېره نه
وای چې تاسو به وايئ چې د مرګ نه وويرېدلو، نو ما به نور هم زياتي کړي وای، بيا يې ښېرې وکړې
چې اې الله! د دوی شمېر وکړه د يو بل نه يې وروسته مړه کړه او يو هم پکې مه پرېږده! وقال:

فَلَسْتُ أُبَالِي حِينَ أُقْتَلُ مُسْلِماً	عَلَى أيِّ جَنْبٍ كَانَ للهِ مَصْرَعِي
کله چې زه مسلمان قتل کړې شم نو زما هيڅ پروا نشته	چې د خدای پاک په لاره کې زما مرګ په کوم اړخ وي، پروا يې نه کوم
وَذَلِكَ فِي ذَاتِ الإلَهِ وإنْ يَشَأْ	يُبَارِكْ عَلَى أوْصَالِ شِلْوٍ مُمَزَّعِ
زما دا قتل د الله ﷻ په لاره کې دی، که چېرته د هغه خوښه شي	نو په ټوټو ټوټې کړی شويو اندامونو به برکت نازل کړي

"وَكَانَ خُبَيْبٌ هُوَ سَنَّ لِكُلِّ مُسْلِمٍ قُتِلَ صَبْراً الصَّلاةَ. وأخْبَرَ -يعني: النَّبيَّ ﷺ- أصْحَابَهُ يَوْمَ أُصِيبُوا خَبَرَهُمْ، وَبَعَثَ نَاسٌ مِنْ
قُرَيْشٍ إِلَى عَاصِمِ بْنِ ثَابِتٍ حِيْنَ حُدِّثُوا أنَّهُ قُتِلَ أنْ يُؤْتَوا بِشَيْءٍ مِنْهُ يُعْرَفُ" خبيب رضي الله عنه هغه لومړی مسلمان دی چې د الله
ﷻ په لاره کې ونيول شو، د قتل په وخت کې يې د لمونځ او صبر لار غوره کړل، کله چې عملاً د
صحابه کرام بنديان او په شهادت ورسېدل، رسول الله ﷺ خپلو صحابه وو ته ددې خبر ورکړو، د دغه
چې کله قريشو ته د عاصم رضي الله عنه د شهادت خبر ملاو شو، نو هغوی کسان ولېږل چې د دوی د بدن څخه

رالېږي چې مور يې وپېژنو چې رښتيا عاصم ﷺ شهيد شوی دی، "وَكَانَ قَتَلَ رَجُلاً مِنْ عُظَمَائِهِمْ، فَبَعَثَ اللهُ لِعَاصِمٍ مِثْلَ الظُّلَّةِ مِنَ الدَّبْرِ فَحَمَتْهُ مِنْ رُسُلِهِمْ، فَلَمْ يَقْدِرُوا أَنْ يَقْطَعُوا مِنْهُ شَيْئاً" عاصم ﷺ د دوی د يو مشران مردار کړی وو، الله ﷻ د خپل ولي حفاظت د مچيو په ذريعه وکړو، هغه يې د وريځو په څېر راوستلې او د هغه حفاظت يې کولو چې دوی د بدن څه حصه پرې نه کړي. نو هغوی په دې قادر نه شول چې د عاصم ﷺ د بدن څه حصه پرې کړي، توله ورځ ورته په انتظار ناست وو چې اوس به مچۍ خې او که اوس خو وس يې ونه شو. رواه البخاري

قَوْلُهُ: الْهَدْأَةُ: مَوْضِعٌ: دا قول چې هداة دی، د يو ځای نوم دی، "وَالظُّلَّةُ: السَّحَابُ" (الظلة) وريځې ته ويل کېږي، "وَالدَّبْرُ: النَّحْلُ" مچۍ، "وَقَوْلُهُ: اقْتُلْهُمْ بِدَداً بِكَسْرِ الْبَاءِ وَفَتْحِهَا، فَمَنْ كَسَرَ قَالَ هُوَ جَمْعُ بِدَّةٍ بِكَسْرِ الْبَاءِ وَهِيَ النَّصِيبُ وَمَعْنَاهُ: اقْتُلْهُمْ حِصَصاً مُنْقَسِمَةً لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ نَصِيبٌ، وَمَنْ فَتَحَ قَالَ مَعْنَاهُ: مُتَفَرِّقِينَ فِي الْقَتْلِ وَاحِداً بَعْدَ وَاحِدٍ مِنَ التَّبْدِيدِ" ددې مطلب دا دی چې دوی په حصو کې تقسيم کړه او قتل يې کړه چې هر يو ته خپله حصه ملاو شي او څينو ددې مطلب دا اخيستی دی چې د يو بل نه يې وروسته ووژل.

وَفِي الْبَابِ أَحَادِيثُ كَثِيرَةٌ صَحِيحَةٌ سَبَقَتْ فِي مَوَاضِعِهَا مِنْ هَذَا الْكِتَابِ، مِنْهَا حَدِيثُ الْغُلَامِ الَّذِي كَانَ يَأْتِي الرَّاهِبَ وَالسَّاحِرَ، وَمِنْهَا حَدِيثُ جُرَيْجٍ، وَحَدِيثُ أَصْحَابِ الْغَارِ الَّذِينَ أُطْبِقَتْ عَلَيْهِمُ الصَّخْرَةُ: په دې باب کې نور صحيح حديثونه هم شته چې مخکې تېر شوي دي، يو يې د هغه ماشوم واقعه ده چې راهب ته به راتلو، بله واقعه د جريج ده، بله واقعه د اصحاب الغار ده چې د غار خوله يې په لوی کاڼي بنده شوه، "وَحَدِيثُ الرَّجُلِ الَّذِي سَمِعَ صَوْتاً فِي السَّحَابِ يَقُولُ: اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ" او د هغو خلکو روايت دی چا چې د وريځې نه اواز واورېدلو چې د فلانکي سړي باغ ته اوبه ورکړه! "وَغَيْرُ ذَلِكَ وَالدَّلَائِلُ فِي الْبَابِ كَثِيرَةٌ مَشْهُورَةٌ، وَبِاللَّهِ التَّوْفِيقُ" او داسې نورې ډېرې واقعې او دلائل دي چې په دې باب کې شهرت لري، نور د الله ﷻ نه توفيق غواړو.

تشريح: **بعث رسول الله ﷺ عشرة رهط:** رسول الله ﷺ د لسو کسانو جماعت روان کړو، په دې کې عاصم بن ثابت ﷺ، مرثد بن أبي مرثد ﷺ، خالد بن بکير ﷺ، زيد بن دثنه ﷺ، عبد الله بن طارق ﷺ او خبيب ﷺ وغيره صحابه کرام وو، "دعوني أصلي ركعتين" ما پرېږدئ چې دوه رکعته لمونځ وکړم، دا مستحب عمل دی چې د شهادت څخه وړاندې دوه رکعته نفل لمونځ وکړل شي، لکه څرنګه چې خبيب ﷺ وکړل. په دې باندې هيڅا انکار نه دی کړی، بل ددې حديث څخه دا هم معلومه شوه چې مشرکانو ته بنيري کول جائز دي، په دې حديث کې د ګڼ شمېر صحابه کرامو د کرامت ذکر دی: اول دا چې د هغوی د شهادت پر مهال دا دعاء کول چې اې الله! زمونږ نبي ته زمونږ حال ورکړې، الله ﷻ د وحي په ذريعه د دوی حال نبي کريم ﷺ ته بيان کړو، بل دا چې خبيب ﷺ به بې موسمه ميوې خوړلې، بل دا چې د عاصم ﷺ د جسد حفاظت الله ﷻ د غونبسو/ غالبزو/ مچو په واسطه وکړو، بل دا چې دوی چې څرنګه د مشرکانو په حق کې بد دعاء کړې وه، هغه هم داسې قبوله شوه.

د عمر رضي الله عنه په منشاء حکم نازلېدل

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: مَاسَمِعْتُ عمر رضي الله عنه يقولُ لِشَيءٍ قَطُّ: إنِي لأَظُنُّهُ كَذَا، إلاَّكَانَ كَمَا يَظُنُّ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د عمر رضي الله عنه څخه د هيڅ يو شي متعلق دا نه دي اورېدلي چې زما په خيال کې دا دا شان دي، ليکن دا چې هغه خبره به بعينه د هغه د خيال برابر وه. رواه البخاري

تشريح: په دې حديث کې د عمر رضي الله عنه د کرامت او فضيلت بيان شوى دى، الله جل جلاله دوى ته د فطانت ذکاوت هغه برخه ورکړې وه چې څرنګه به هغوى خيال کولو، هغسې به الله جل جلاله حکم نازلولو، دغسې شيانو ته موافقات عمر رضي الله عنه وايي، شاه ولي الله دهلوي رحمه الله د هغې شمار پوره څلرويشت بيان کړى دى، په هغې کې ځينې دا دي: (۱) هغوى وويل: يارسول الله ﷺ! که مقام ابراهيم عليه السلام د لمونځ ځاى مقرر کړو، نو ښه به نه وي؟ الله جل جلاله آيت نازل کړو چې: "واتخذوا من مقام ابراهيم مصلى" مقام ابراهيم عليه السلام د لمونځ کولو ځاى مقرر کړئ! (۲) يا رسول الله ﷺ! که تاسو خپلو مېرمنو ته د پردې حکم وکړئ. ځکه چې کورونو ته هر قسم خلك داخلېږي، نو په دې باندې الله جل جلاله د حجاب (پردې) حکم نازل کړو، "وإذا سألتموهن متاعاً فاسئلوهن من وراء حجاب" او کله چې تاسو د ازواج مطهرات څخه څه غواړئ، نو د پردې نه بهر طرفته يې غواړئ. (۳) دغه شان د بدر د قيديانو باره کې د عمر رضي الله عنه رايه دا وه چې هغوى ټول دې مردار کړل شي، د دې موافق آيت نازل شو: "ماكان لنبي أن يكون له أسرى حتى يثخن في الأرض الخ:...".

كِتَابُ الأُمُورِ الْمَنْهِي عَنْهَا

هغه کارونه چې په شريعت کې ترې منع راغلې وي

بَابُ تحريم الغيبة والأمر بحفظ اللسان

خپله ژبه په قابو کې ساتل او د غيبت حرمت

"قَالَ اللهُ تعالى" الله جل جلاله فرمايي: "وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا" او د يو بل غيبت مه کوئ، ايا په تاسو کې داسې څوك شته چې هغه د مړ ورور غوښې وخوري، "فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ" د مړ ورور غوښې خوړل خو تاسو بد ګڼئ، نو د الله جل جلاله څخه د غيبت باره کې وويرېږئ، بې شکه چې الله جل جلاله توبه قبلونکى او رحم کونکى ذات دى. [الحجرات:۲]

تشريح: په آيت کې د غيبت حرمت او مذمت بيان شوى دى، تشبيه يې د يو مړ ورور د غوښې خوړلو سره ورکړې ده، غيبت دې ته وايي چې د چا پسې شا خرابي بيان کړې. که د هغه په وړاندې د هغه خرابوالى بيانوې نو هغه يې دفاع کولى شي، د هر سړي د ويرې له امله د چا مخامخ بدي څوک نه بيانوي، پسې شا خو يې ځکه بيانوي چې هلته څوک د دفاع والا نه وي، لکه څرنګه چې غيبت حرام دى، دغه شان اورېدل او بل ته يې بيانول هم حرام دي.

د قيامت په ورځ زړه، سترګې او غوږونو باره کې پوښتنه

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ" د کوم شي باره کې چې ستا سره علم نه وي په هغه پسې مه ګرځه، "إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا" ځکه چې د سترګو، غوږونو او د زړه نه به د هغې د عملونو باره کې پوښتنه کېږي. [الإسراء:۳۶]

تشريح مطلب دا دی چې په بې تحقيقه خبره باندې عمل کول پکار نه دي، که بې تحقيقه څوک په چا باندې الزام ولګوي، نو که داسې وي چې د غوږ سره تعلق ساتي، د غوږونو باره کې به پوښتنه کېږي، که د کتلو شی وي، نو د سترګو باره کې به درنه پوښتنه کېږي او که په زړه پورې تعلق لري، نو د زړه باره کې به درنه پوښتنه کېږي.

ځينې وايي: د قيامت په ورځ به د غوږونو باره کې پوښتنه کېږي چې په دې دې ټول عمر څه اوريدلي دي؟ د سترګو باره کې به پوښتنه کېږي چې په دې دې ټول عمر څه کتلي دي؟ د زړه باره کې به پوښتنه کېږي چې په دې دې ټول عمر د څه شي باره کې سوچونه کړي دي؟ خلاصه دا چې د قيامت په ورځ به الله ﷻ د ټولو نعمتونو باره کې پوښتنې کوي: "ثم لتسئلن يومئذ عن النعيم" په دې ورځ به ستاسو څخه د ټولو نعمتونو باره کې الله ﷻ پوښتنې کوي، دلته د سترګو، زړه او غوږونو ذکر په ځانګړې توګه ځکه وشو چې دا نعمتونه په ټول بدن کې مرکزي حيثيت لري.

کومه خبره چې کوې هغه ليکل کېږي

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ" دده د خولې نه يوه خبره هم نه وځي، مګر دا چې د هغه سره دوه نږدې پرښتې ناستې دي، د هغه هر عمل ليکي [ق:۱۸].

تشريح: حسن بصري رحمه الله او قتاده رحمه الله فرمايي: کله چې هم څه خبره د خولې نه وځي، که هغه د خير وي او که د شر وي، ليکن دا چې پرښتې يې ليکي، ليکن عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې پرښتې خالص هغه ليکي چې په کومو خبرو کې ثواب وي.

ځينې مفسرين رحمهم الله فرمايي: په شروع کې به پرښتو هر قسم خبرې ليکلې، که د ثواب خبرې وې او که نه، ليکن دوی د پنجشنبې په ورځ عملنامه باندې نظرثاني وکړي او هغه خبرې پکې پرېږدي چې ثواب وي پکې يا عذاب وي، امام احمد رحمه الله نقل کړې دي چې کله نا کله انسان داسې يوه خبره د ژبې څخه راوباسي چې په هغې باندې الله ﷻ ډېر زيات خوشحاله شي، خو هغه ته پته هم نه وي چې د هغې په وجه الله ﷻ خپله رضامندي دده ته د همېش لپاره وليکل، دغه شان يو بل کس د خپلې ژبې نه داسې يوه کلمه راوباسي چې د هغې په وجه الله ﷻ دده ته د همېش لپاره خپله غوسه وليکي. علقمه رضي الله عنه دې حديث نقل کولو نه وروسته فرمايي: ددې حديث په وجه زه د ډېرو خبرو څخه منع شوی يم

اعْلَمْ أَنَّهُ يَنْبَغِي لِكُلِّ مُكَلَّفٍ أَنْ يَحْفَظَ لِسَانَهُ عَنْ جَمِيعِ الْكَلَامِ إِلَّا كَلَامًا ظَهَرَتْ فِيهِ الْمَصْلَحَةُ: په دې خبره باندې ځان پوهول پکار دي چې هر انسان مکلف دی، بايد خپله ژبه په قابو کې وساتي. فضول خبرې دې نه

کوي، مګر دا چې په کومو خبرو کې خير او مصلحت وي، "وَمَتَى اسْتَوَى الْكَلَامُ وَتَرْكُهُ فِي الْمَصْلَحَةِ، فَالسُّنَّةُ الْإِمْسَاكُ عَنْهُ" او نه کوم ځای کې چې چوپ پاتې کېدل او خبره کول دواړه د مصلحت په اعتبار سره برابر وي نو بيا هم چوپ پاتې کېدل سنت طريقه ده. "لِأَنَّهُ قَدْ يَنْجَرُّ الْكَلَامُ الْمُبَاحُ إِلَى حَرَامٍ أَوْ مَكْرُوهٍ، وَذٰلِكَ كَثِيرٌ فِي الْعَادَةِ، وَالسَّلَامَةُ لَا يَعْدِلُهَا شَيْءٌ" ځکه چې کله کله مباح خبرې دې حد ته ورسېږي چې په صريح حرام يا مکروه کار کې انسان مبتلا کړي، اکثره وخت داسې ليدل شوي دي، هيڅ شی د سلامتيا برابر کېدی نه شي

ښه خبره کوه يا چوپ پاتې شه !

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ قَالَ: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې په الله ﷻ او د آخرت په ورځ ايمان لري هغه بايد د خير خبرې وکړي او يا چوپ پاتې شي متفق عَلَيْهِ

وهذا صريحٌ في أنَّهُ يَنْبَغِي أَنْ لَا يَتَكَلَّمَ إِلَّا إِذَا كَانَ الْكَلَامُ خَيْرًا: دا حديث په دې خبره باندې واضح دلالت کوي چې انسان بايد چوپ ناست وي، هيڅ فضول خبرې ونه کړي، مګر دا چې کله پکې کوم مصلحت وي نو بايد چې بيا چوپ پاتې نه شي، "وَهُوَ الَّذِي ظَهَرَتْ مَصْلَحَتُهُ، وَمَتَى شَكَّ فِي ظُهُورِ الْمَصْلَحَةِ، فَلَا يَتَكَلَّمْ" او که چېرته په کومه خبره کې شك وي چې ايا په دې کې به مصلحت وي او که نه؟ نو بيا هم چوپ پاتې کېدل غوره دي د خبرو کولو څخه

تشريح: مطلب دا چې څوك مسلمان وي او ځان ته مسلمان وايي، هغه ته پکار دي چې با خوله دي ښې خبرې کوي چې دده او نورو خلکو خير پکې وي، که داسې نه وي نو بيا چوپ کېښتل بهتر دي، ځينې اکابر علماء فرمايي: که خبرې کول سپين زر وي، نو خاموش کېښتل سره زر دي، دا مضمون هم په ګڼ شمېر رواياتو کې ذکر شوی دی، د فضول خبرو نه دا غوره دي چې چوپ کېښېني دې لپاره چې ګناهګار نه شي.

امام مالك رحمه الله فرمايي: د لقمان حکيم عليه السلام نه چا پوښتنه وکړه چې تاته دومره لوړ مقام په څه باندې حاصل دی؟ هغوی په جواب کې ورته ووېل: په درې خبرو: (۱) رښتيا ويل، (۲) امانت کې خيانت نه کول، (۳) او د فضول خبرو څخه ځان ساتل.

مسلمان هغه دی چې بل مسلمان ترې په امن کې وي

"وعن أبي موسى قَالَ: قُلْتُ: يَارَسُولَ اللهِ أَيُّ الْمُسْلِمِينَ أَفْضَلُ؟ قَالَ: مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي: ما ووېل چې يا رسول الله ﷺ! کوم مسلمان غوره دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه مسلمان غوره دی چې د چا د لاس او ژبې د ضرر نه نور خلك په امن کې وي. متفق عَلَيْهِ

تشريح: من سلم المسلمون: چې بل مسلمان ترې محفوظ وي، دلته چې (المسلمون) ذکر شوی دی کې د مسلمان شان ته اشاره ده، کنه نو حقيقت دا دی چې په دې حکم کې کفار او حيوانات هم

داخل دي، "من لسانه" د ژبې نه محفوظ کېدل دا معنی چې هغه ورپسې غیبت نه کوي، ښیرې، کنځلې ورته نه کوي، بهتان وربانديې نه تړي، "ویده" په دې کې قتل کول، وهل ټول حکمونه داخل دي، بلکې هغه ټول کارونه چې په لاس کیږي او بل مسلمان ته ترې تکلیف رسیږي، دا ټول پکې داخل دي

سوال: تکلیف خو په نورو اندامونو سره هم بل انسان ته رسیږي، ژبه او لاس یې ولې په ځانګړې توګه ذکر کړو؟

جواب: په دې دواړو سره عمومي طور زیات تکلیف بل انسان ته رسیږي او ددې استعمال هم ډېر زیات کیږي، ځکه یې ذکر کړو.

سوال: ژبه یې ولې په لاس وړاندې کړه؟

جواب: په ژبې سره تکلیف حاضر او غائب دواړو ته رسېدلی شي، ددې برعکس په لاس سره خالص حاضر ته تکلیف رسېدلی شي، **بل جواب** دا دی چې د ژبې تکلیف او زخم د لاس د تکلیف او زخم نه زیات سخت وي، لکه د شاعر په دې قول کې چې دي:

جراحات السنان لها التيام .... ولا يلتام ما جرح اللسان.

په ژبې سره چې کوم زخم انسان ته ولګیږي، هغه چېرته په آسانۍ سره نه رغیږي، په خلاف د نورې د زخم چې ددې رغېدل بیخي اسان دي.

سوال: د حدیث د ظاهري الفاظو ځنې معلومیږي چې که یو کس بل چاته تکلیف نه رسوي، هغه صحیح مسلمان شو، که لمونځ روژه نیسي او که نه او حال دا چې دا خبره خو صحیح نه ده؟

جواب: علامه ابن حجر رحمه الله فرمایي: ددې سره دا قیودات شرط دي چې: "مع مراعاة باقي الأركان" پاتې نور دیني کارونه به هم ورسره کوي، **بل جواب** دا دی چې د اهمیت په لحاظ یې ددې ذکر وکړو، د باقي رکنونو نفي نه معلومیږي.

د ژبې او شرمګاه حفاظت

"وعن سهل بن سعد، قال: قال رسول الله ﷺ: مَن يَضمَن لي مَا بَينَ لَحيَيهِ وَمَا بَينَ رِجلَيهِ" د سهل بن سعد رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې ماته د ژبې او عورت په حفاظت کې راوستلو ضمانت راکړي، "أَضمَن لَهُ الجَنَّةَ" زه ورته د جنت ضمانت ورکوم متفق عليه

تشریح: د حدیث د مفهوم نه معلومه شوه څوک چې د ژبې او عورت ساتلو عهد وکړي، یعنې خپله ژبه د بې حیاء خبرو، بهتان، غیبت او دروغ نه وساتي او خپله شرمګاه هم د حرام کار ځنې منع کړي، تو نبي کریم ﷺ هغه ته د جنت ذمه واري ورکوي، علماء فرمایي: د رسول الله ﷺ ددې ضمانت ورکول په اصل کې د حق تعالی جل جلاله له لورې دي او دا ضمانت د شفقت او محبت په وجه دي

د ژبې په وجه جهنم ته تلل

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أنه سمع النبي ﷺ يقول: إنَّ العَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالكَلِمَةِ مَا يَتَبَيَّنُ فِيهَا" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: يو بنده د خولې نه داسې يو خبره راوباسي چې هغه يې وره ګڼي او بې سوچه يې وکړي، (يعنې پته ورته ونه لګيږي چې بنده مې ورېل او که بد) "يَزِلُّ بِهَا إلى النَّارِ أَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ المَشْرِقِ والمَغْرِبِ" ليکن ددې خبرو په وجه د مشرق او مغرب د فاصلې نه زيات د دوزخ مينځ ته رسوي. متفق عليه.

ومعنى: يَتَبَيَّنُ يُفَكِّرُ أَنَّهَا خَيْرٌ أمْ لا: د (يتبين) معنی ده: فکر نه کوي چې حرامه خبره کوم او که حلاله خو بس د خولې څخه يې وباسي.

تشريح: په حديث کې د ژبې خوبي او خرابوالی دواړه بيان شوي دي، د همدې ژبې په وجه يو انسان داسې معمولي شان خبره وکړي چې دی پرې نه پوهيږي چې ما به څه ويلي وي، ليکن ددې په وجه الله جل جلاله هغه ته په جنت کې اعلی درجې ورپه برخه کړي او بيا همدغه ژبه چې انسان يې خوځوي او څه معمولي شان خبره ورباندې وکړي، ليکن هغه دومره مبغوض او الله جل جلاله ته ناخوښه وي چې د همدې ژبې په وجه يې د جهنم مستحق وګرځوي.

د ژبې په وجه جنت ته تلل

"وعنه، عن النبي ﷺ قال: إنَّ العَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللهِ تعالى مَا يُلْقِي لَهَا بَالاً يَرْفَعُهُ اللهُ بِهَا دَرَجَاتٍ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: يو بنده د الله جل جلاله داسې خوښه خبره وکړي چې هغه ددې پروا هم نه کوي، ليکن هغه خبره الله جل جلاله ته دومره خوښه شي چې ددې خبرې په وجه ورته په جنت کې اعلی او لوړې درجې نصيب شي، "وإنَّ العَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللهِ تعالى لا يُلْقِي لَهَا بَالاً يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ" او ځينې وخت يو بل کس د الله جل جلاله د ناخوښۍ داسې يوه خبره د خولې نه وباسي چې هغه ددې خبرې پرواه هم نه کوي چې (دی په خپل زړه کې وايي: دا به څه خبره وي) ليکن هغه خبره الله جل جلاله ته دومره ناخوښه شي چې ددې خبرې په وجه يې په جهنم کې وغورځوي. رواه البخاري.

تشريح: په انسان باندې لازم دي چې: خپلې ژبې حفاظت وکړي، د خبرو په وخت ددې خبرې خيال وساتي چې زه څه وايم، ايا زما خبره د شريعت موافق ده او که نه؟ ځکه چې ډېر ځله انسان يوه معمولي خبره د خولې نه وباسي چې ددې په وجه د جهنم په لاندينی طبقه کې پرېوځي.

د ژبې په وجه د الله جل جلاله رضا حاصلول

"وعن أبي عبد الرحمان بلال بن الحارث المزني رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ قال: إنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللهِ تعالى مَا كَانَ يَظُنُّ أنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ يَكْتُبُ اللهُ لَهُ بِهَا رِضْوَانَهُ إلى يَوْمِ يَلْقَاهُ" د أبو عبد الرحمان بلال بن الحارث المزني رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو بنده د خولې نه داسې خبره راوباسي چې الله

ﷻ پرې خوشحاليږي، ليکن دده ګومان هم نه وي چې دا خبره به دومره مهمه وي او دومره حد ته به رسيږي، الله ورته تر قيامته پورې خپله رضا وليکي، (الله ﷻ ترې تر قيامته پورې خوشحال شي)، "وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللهِ مَا كَانَ يَظُنُّ أَنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ يَكْتُبُ اللهُ لَهُ بِهَا سَخَطَهُ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَاهُ" بل کس داسې وي چې هغه د خپلې خولې نه داسې خبره راوباسي په کومه چې الله ﷻ خفه کيږي، ليکن دده ګومان هم نه وي چې دا به دومره د ګناه خبره وي چې الله ﷻ پرې غوسه کيږي چې تر قيامته پورې به الله ﷻ دده نه راضي نه شي او هغه ته به غوسه وي. رواه مالك في الموطأ، والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: ان الرجل ليتكلم بالكلمة من رضوان الله تعالى: انسان کله کله په ژبه داسې الفاظ ادا کړي چې د نورو خلکو ورسره اصلاح وشي او هغوی د ګناهونو څخه منع شي او د ظلم او تشدد څخه لاس ونيسي، نو داسې الفاظ د الله ﷻ په نزد ډېر د قدر وړ شي چې هغه ته خپله رضامندي ورپه برخه کړي.

وان الرجل ليتكلم بالكلمة من سخط الله: او ځينې وخت انسان د خپلې ژبې نه داسې الفاظ ادا کړي چې په هغې باندې الله ﷻ ډېر سخت ناراضه شي، مطلب دا چې انسان کله کله داسې بې باکه ټکي په خوله راوړي چې د هغې په وجه په معاشره کې د جنګ او فساد باعث جوړ شي، د خلکو زړونه وربانديې ودردېږي او د ګمراهی، ظلم او معصيت باعث جوړ شي.

إلى يوم يلقاه: د ملاقات تر ورځې پورې، ددې مطلب دا نه دی چې د الله ﷻ رضا به خالص تر قيامته پورې وي او بيا به ختمه شي، نه! بلکې د همېش همېش لپاره به وي، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې د شيطان په باره کې الله ﷻ فرمايي "وان عليك لعنتى إلى يوم الدين" بې شکه چې په تا باندې به تر قيامته پورې زما لعنت دی، ددې مطلب دا نه دی چې تر قيامته پورې به وي بيا به ختم شي.

د راوي عبدالرحمن بلال بن حارث رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې بلال رضي الله عنه دی، کنيت يې ابوعبدالرحمن دی، د پلار نوم يې حارث دی، د مزني قبيلې سره يې تعلق درلود، په پنځمه هجري کې د مزني وفد سره مدينې منورې ته راغلو او د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او مسلمان شو، د مکې په فتح کې د رسول الله ﷺ سره ملګری وو، د مزينه قبيلې بيرغ د دوی په لاس کې وو، په آخري عمر کې يې په بصره کې مستقل سکونت اختيار کړو، په ۶۰ هجري کې يې ددې فاني دنيا څخه رحلت وکړو، په دې وخت کې د دوی عمر ۸۰ کاله وو، دوی د رسول الله ﷺ څخه ۸ احاديث نقل کړي دي.

تر ټولو خطري شی ژبه ده

"وعن سفيان بن عبد الله رضي الله عنه قَالَ: قُلْتُ: يَا رسولَ الله حَدِّثني بِأَمْرٍ أَعْتَصِمُ بِهِ قَالَ: قُلْ: رَبِّيَ اللهُ ثُمَّ اسْتَقِمْ" د سفيان بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ ته وويل: يارسول الله ﷺ ماته داسې خبره وکړه چې زه پرې عمل وکړم او په هغې سره د خپل ځان حفاظت وکړم؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: داسې ووايه چې رب مې الله دی او بيا په دې خبره کلك قائم پاتې شه! "قُلْتُ: يَا رسولَ الله، مَا

أَخْوَفُ مَا تَخَافُ عَلَيَّ؟ فَأَخَذَ بِلِسَانِ نَفْسِهِ، ثُمَّ قَالَ: هَذَا" ما بيا ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! تاسو د كوم شي باره كي په ما ويره لرئ؟ نبي كريم ﷺ خپله ژبه مباركه ونيوله او بيا يې وفرمايل: د دغې (د ژبې) باره كي ويره لرم، ځكه چې ددې په وجه انسان جهنم ته ځي. رواه الترمذي وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: ددې حديث مضمون په ګڼ شمېر نورو رواياتو كې موجود دی: "فاستقم كما أمرت" ځرنګه چې درته حكم شوی دی هغسې اوسه، دغه شان په يو بل آيت كې هم شته: "ان الذين قالوا ربنا الله ثم استقاموا تتنزل عليهم الملائكة أن لا تخافوا ولا تحزنوا" چا چې وويل: زموږ رب الله ﷻ دی، بيا په دې باندې قائم پاتې شو، دوی ته به پرښتې راځي او ورته به وايي چې: ويره او غم مه كوئ! علماء فرمايي: استقامت دې ته وايي چې په ټولو اوامرو باندې مضبوط ودرېږي، عمر فاروق رضي الله عنه فرمايي: استقامت د ته ويل كېږي چې د الله ﷻ په ټولو اوامرو باندې عمل وكړي او د ټولو نواهيو ځخه ځان وساتي، همدا عادت د خپل ژوند معمول وګرځوي، د ګيدړ په څېر اخوا دېخوا منډې نه وهي، علي رضي الله عنه او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د استقامت تعريف په فرضو ادا كولو سره كړی دی، حسن بصري رحمه الله فرمايي: استقامت دا دی چې په ټولو اعمالو كې د الله ﷻ اطاعت وكړي او د نواهيو ځخه ځان وساتي.

علماء فرمايي: استقامت يوه مختصره جمله ده، ليكن مفهوم او معنی يې ډېره وسيع ده، ټول اسلامي شريعت ته شامله ده چې په ټولو الهي حكمونو باندې عمل او د ټولو محرماتو او مكروهاتو ځخه د همېش لپاره ځان وساتي.

د زياتو خبرو ځخه ځان ساتل

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: لَا تُكْثِرُوا الْكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللهِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ډېرې زياتې خبرې مه كوئ! سيوا د الله ﷻ د ذكر نه، "فَإِنَّ كَثْرَةَ الْكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللهِ تَعَالَى قَسْوَةٌ لِلْقَلْبِ" ځكه چې د ذكر نه بغير په نورو خبرو سره زړه سختيږي، "وَإِنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللهِ الْقَلْبُ الْقَاسِي" او د الله ﷻ د رحمت نه هغه خلك ډېر زيات لرې دي چې زړونه يې سخت دي. رواه الترمذي

تشريح: محدثين ددې حديث مطلب دا بيانوي چې كوم كس د دنيا خبرې زياتې كوي، د هغه زړه به سختيږي او د سختی دليل يې دا دی چې د هغه زړه به د حالاتو او واقعاتو ځخه عبرت نه اخلي او د هغې ځخه به نه څه اثر قبول كړي، داسې كس ډېر زيات بد مرغه انسان دی، معلومه شوه چې د الله ﷻ ذكر په كثرت سره كول پكار دي، هسې نه چې په زړه كې دا كيفيت پيدا شي.

د ژبې د شر نه بچ كېدل

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ وَقَاهُ اللهُ شَرَّ مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ، وَشَرَّ مَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: كوم كس چې الله ﷻ هغه د ژبې د شر نه او د عورت/ شرمګاه د شر نه بچ وساتلو، هغه به جنت ته داخل شي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق: وقاه: د وقاه معنى ده: حفاظت کول

تشريح: بين لحييه: کوم چې د دواړو ژامو ترمينځ وي، ددې نه مراد ژبه ده، يعنې انسان ته پکار دي چې خپله ژبه په قابو کې وساتي، په دې باندې بې حياء خبرې، دروغ، غيبت او کنځلې ونه کړي، "ثم ما بين رجليه" او کوم شر چې د دواړو پښو ترمينځ دى، مراد ترې شرمګاه ده، ددې حفاظت د زنا يا کوم بل حرام کار څخه چې شريعت منع کړى وي ساتنه يې فرض ده، ددې دواړو شيانو په وجه ډېر زيات انسانان جهنم ته ځي، هر هغه څوک چې په دې باندې قابو راولي او د شريعت مطابق يې استعمال کړي، نو بيا همدغه شيان دده لپاره د جنت د دخول سبب ګرځي.

ژبه په قابو کې ساتل

"وعن عقبة بن عامر ﷺ قال: قلت: يا رسول الله ما النجاة؟ قال: أمسك عليك لسانك" د عقبة بن عامر ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ ته وويل: يا رسول الله ﷺ په کومه خبره کې نجات پروت دى؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: خپه ژبه په واک کې وساته؛ "وليسعك بيتك، وابك على خطيئتك" او په خپل کور کې زياته ناسته کوه او په خپلو ګناهونو باندې ژړا کوه؛ رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: أمسك عليك لسانك: خپله ژبه په واک کې وساته؛ مطلب دا چې خپله ژبه د حرامو خبرو، مثلاً غيبت، دروغ او بهتان وغيره څخه وساته او په خپلو بدو اعمالو کې نظر وساته، نو کاميابي به درته حاصله شي.

وليسعك بيتك: او په کورکې پاتې شه؛ مطلب دا چې د بدو محفلونو او مجلسونو څخه په کور کې کېنستل غوره دي، د خپل کور څخه هغه مهال وتل پکار دي چې کله کوم ضرورت درته پېښ شي، په دې شان سره انسان د ډېرو ګناهونو څخه بچ کيږي، علامه طيبي ﷫ فرمايي: په کور کې د کېنستلو څخه مراد په کور کې عبادت کول دي، "وابك على خطيئتك" په خپلو غلطيانو باندې ژړا کوه؛ د ژړا يوه فايده دا وي چې په دې سره ګناهونه معاف کيږي، بل دا چې کله کله ورسره ګناهونه په نېکيو بدليږي، ملا علي قاري ﷫ فرمايي: هر حال کې په ګناهونو باندې ژړېدل فايده مند دي، که د ګناهونو پر ځاى نېکي درته ملاو نه شي، لږ تر لږه ګناهونه خو به دې معاف شي.

ژبه ډېره خطري ده

وعن أبي سعيد الخدري ﷺ، عن النبي ﷺ قال: إذا أصبح ابن آدم، فإن الأعضاء كلها تكفر اللسان ﷺ د ابو سعيد خدري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې سهار شي، نو د انسان ټول اندامونه ژبې ته سوال او زارى کوي، "تقول: اتق الله فينا، فإنما نحن بك، فإن استقمت استقمنا، وإن اعوججت اعوججنا" ټول اندامونه ورته وايي: د الله ﷻ نه زموږ په باره کې ووېرېږه؛ ځکه چې موږ ستا تابعدار يو، که چېرته ته په سيده لار وې، نو موږ به هم په سيده لار يو او که چېرته ته کږه شوې او په غلطه لار روانه شوې، نو موږ به هم درپسې روان يو. رواه الترمذي

معنی: تَكْفُرُ اللِّسَانَ: أَيْ تَذِلُّ وَتَخْضَعُ لَهُ: د تكفر اللسان معنی ده: سوال او زاري كول.

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې كه ژبه صحيح وي، نو باقي ټول جسم به صحيح وي او كه ژبه غلطه چليږي، نو ټول جسم به ورسره غلط روان وي.

سوال: په يو بل حديث كې د ټول بدن مركزي شی زړه ګرځول شوی دی. كه چېرته زړه صحيح وي، نو ټول بدن به صحيح كار كوي او كه زړه خراب شي، نو ټول بدن به خراب وي، حديث دا دی: "ان في الجسد مضغة ان صلحت صلح الجسد كله واذا فسدت فسد الجسد كله الا وهي القلب الا وهي القلب الا وهي القلب" په بدن كې د غوښې يوه ټوټه ده، كه هغه صحيح شوه، نو ټول بدن به صحيح وي او كه هغه خرابه شوه، نو باقي ټول بدن به خراب وي، ځان يوه كړئ چې هغه زړه دی، ځان يوه كړئ چې هغه زړه دی، ځان پوه كړئ چې هغه زړه دی!

جواب: د بدن اصلي بادشاه زړه دی، ليكن ددې ترجمان او خليفه ژبه ده، په زړه كې چې څه راځي د هغې ترجماني په ژبې سره كيږي، كه زړه نېك وي، نو ژبه به هم نېكه وي او كه زړه خراب وي، نو ژبه به هم خرابه وي، په اصل كې انسان ددې دواړو مجموعې ته ويل كيږي، لكه څرنګه چې ويل شوي دي چې: "لسان الفتى نصف، ونصف فؤاده" نيمايي انسان ژبه ده او نيم بدن يې زړه او پاتې نور اعضاء ددې تابع دي.

د ژبې كرونده

"وعن مُعَاذٍ ﷺ قَالَ: قُلْتُ: يَارَسُولَ اللهِ، أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِي مِنَ النَّارِ؟ قَالَ: لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ عَظِيمٍ، وَإِنَّهُ لَيَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ" د معاذ ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ ته وويل: يا رسول الله ﷺ! ماته داسې يو عمل وښيه چې زه يې وكړم او جنت ته پرې داخل شم او د جهنم نه پرې بچ شم؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: تا خو د ډېرې لويې خيرې پوښتنه وكړه، دا كار خو ډېر زيات آسان كار دی، خو په هغه چا باندې چې الله ﷻ يې ورته آسان كړي: "تَعْبُدُ اللهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ، وَتَحُجُّ الْبَيْتَ" د الله ﷻ عبادت كوه د هغه سره شريك مه جوړوه، لمونځ كوه، زكات وركوه، روژه نيسه او د بيت الله حج كوه! "ثُمَّ قَالَ: أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى أَبْوَابِ الْخَيْرِ؟ الصَّوْمُ جُنَّةٌ، وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ" بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: ايا زه تاته د نېكيو دروازه ونه ښيم؟ بيا يې وفرمايل: روژه نيول د دوزخ نه د بچ كېدو لپاره ډال دی او په صدقې سره ګناهونه داسې وژل كيږي لكه څنګه چې په اوبو سره اور وژل كيږي، "وَصَلَاةُ الرَّجُلِ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ ثُمَّ تَلَا: تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ" او د نيمې شپې لمونځ كول (يعنې تهجد) بيا يې دا آيت وويلو چې د دوی ډډې د بسترو څخه نه راپورته كيږي، "حَتَّى بَلَغَ: يَعْمَلُونَ" [النور: ۲۱] "ثُمَّ قَالَ: أَلَا أُخْبِرُكَ بِرَأْسِ الْأَمْرِ، وَعَمُودِهِ، وَذِرْوَةِ سَنَامِهِ" تر دې چې (يَعْمَلُونَ) ته ورسېدلو، بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته د ټولو كارونو د سر كار ونه ښيم، د هغې ستن او د هغې اوچت ځای درته ونه ښيم، "قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: رَأْسُ الْأَمْرِ الْإِسْلَامُ، وَعَمُودُهُ الصَّلَاةُ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ

جهاد" موږ ووېل: ولې نه يا رسول الله ﷺ! راته يې بيان کړئ! نبي کريم ﷺ وفرمايل: د اسلام سر اسلام دی، لمونځ يې ستن ده او اوچت ځای يې جهاد کول دي، "ثُمَّ قَالَ: أَلاَ أُخْبِرُكَ بِمِلاَكِ ذٰلِكَ كُلِّهِ! قُلْتُ: بَلَى يَارَسُولَ اللهِ، فَأَخَذَ بِلِسَانِهِ وقَالَ: كُفَّ عَلَيْكَ هٰذَا" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته ددې ذکر شوو شيانو د بنياد بيان ونه کړم چې دا ټول پکې شمار شي؟ موږ ووېل: ولې نه، يا رسول الله ﷺ! نبي کريم ﷺ خپله ژبه مبارکه راونيوله او بيا يې وفرمايل: ددې حفاظت وکړئ! "قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ وَإِنَّا لَمُؤَاخَذُونَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهِ" موږ ووېل: يا رسول الله ﷺ! موږ به د ژبو په وجه هم نيول کېږو کومې خبرې چې موږ کوو؟ "فَقَالَ: ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ! وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ إِلاَّ حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ؟؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: مور دې مړ بوره شي! خلك خو چې په جهنم کې پړمخي پرېوځي هغه صرف ددې ژبې په وجه چې لو بې پرې کړې دي، ورغورځولی شي. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح، وَقَدْ سبق شرحه في باب قبل هٰذَا".

تشريح: په دې حديث کې د اسلام ارکان بيانېږي چې د هر رکن په خپل ځای خاص اهميت دی، "إنا لمواخذون بما نتكلم به؟" کومې خبرې چې موږ کوو، ايا په دې به هم موږ نيول کېږو؟ فرمايي چې که د ژبې حفاظت ونه شي، نو ددې په وجه د انسان ټول نېک اعمال ختمېږي، بيا به جنت ته د تلو پرځای جهنم ته روان شي، يو بزرګ فرمايي: زه خپلې خبرې د مال په څېر محفوظ ساتم، کله يې چې خرچ کوم، نو ښه فکر او سوچ پرې کوم، "وقد سبق شرحه" امام نووي رحمه الله فرمايي: ددې حديث تشريح وړاندې تېره شوې ده، ليکن دا خبره صحيح نه معلومېږي، ځکه چې دا روايت وړاندې نه دی تېر شوی دی.

د غيبت تعريف

وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ؟ قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ: د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا تاسو پوهېږئ چې غيبت څه ته وايي؟ صحابه کرامو رضي الله عنهم وفرمايل: الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ ښه پوهېږي، "قَالَ: ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د خپل ورور داسې يوه خبره ذکر کول چې هغه يې نه خوښوي، "قِيلَ: أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ؟" چا ووېل: يا رسول الله ﷺ! که چېرته په هغه کې هغه کار موجود وي؟ "قَالَ: إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ، فَقَدِ اغْتَبْتَهُ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ بَهَتَّهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: کوم کار چې په هغه کې وي او تا يې ذکر وکړو، دې ته غيبت ويلی شي او که پکې نه وي او تا يې ذکر وکړو، نو دې ته بيا بهتان ويلی شي. رواه مسلم

تشريح: ذكرك أخاك بما يكره: د خپل ورور پسې داسې خبرې کول چې هغه يې نه خوښوي، غيبت ورته ويل کېږي، بيا برابره خبره ده چې هغه عيب يې په بدن کې وي يا په عقل کې وي يا په دين کې وي يا په دنيا کې وي يا په اخلاقو کې وي يا په افعالو کې وي يا په مال او اسباب - نفس او اولاد، مور پلار يا تلو راتلو غرض چې په هرڅه کې وي، خو هغه يې نه اوري، که خبر شي، نو په اورېدو يې خفه کېږي، نو داسې عيب بيانول حرام دي.

بل دا چې داسې عيبونه بيانول بيا عام دي که په الفاظو سره وي، يا اشارې سره وي يا کنايه وي يا په لاس سره وي يا په سترګو سره وي يا په ورو څو سره وي، په دې ټولو طريقو حرام دي او که چا په وړاندې د هغه عيبونه بيان کړي، نو دا نور هم د بې حيايي خبره ده.

د غيبت کفاره:

د چا غيبت چې وکړي، که هغه ورباندې خبر وي، نو تر ټولو اول به د هغه نه معافي غواړي او بيا به الله ﷻ ته توبه وباسي او استغفار به وايي، که هغه خبر نه وي، نو بيا د معافي ضرورت نشته، خالص دي د الله ﷻ څخه معافي وغواړي، که هغه غيبت کړی شوی کس مړ وي يا چېرته لرې تللی وي هغه ته رسېدل ګران وي، نو بيا استغفار ويل کافي دي.

د يو بل نفس، مال او عزت په بل باندې حرام دي

"وعن أبي بكرة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ فِي خُطْبَتِهِ يَوْمَ النَّحْرِ بِمِنًى فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ: إِنَّ دِمَاءَكُمْ، وَأَمْوَالَكُمْ، وَأَعْرَاضَكُمْ، د ابو بکرة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ په حجة الوداع کې د يوم النحر په ورځ په منى کې وفرمايل: ستاسو مالونه، ستاسو وينې او ستاسو عزتونه، "حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا، أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ" داسې په يو بل باندې حرام کړي دي، لکه څنګه چې ددې ورځې، ددې مياشتې او ددې ښار حرمت په تاسو باندې دی، ايا ما تاسو ته د الله ﷻ پيغام ونه رسولو؟ (هو) بالکل رسول الله ﷺ پوره پوره دين رارسولی دی. متفق عليه

لغوي تحقيق: يوم النحر: د قرباني ورځ.

تشريح: ان دماءكم وأموالكم وأعراضكم: بې شکه ستاسو وينې، ستاسو مالونه او ستاسو عزتونه په يو بل حرام دي، يعنې لکه څرنګه چې لسم د ذي الحجې (عيد الاضحى) ورځ د حرمت ده، د ذو الحجې مياشت د حرمت ده، دغه شان د مکې ښار هم د حرمت ښار دی، ددې ټولو شيانو په څېر د يو مسلمان وينه، مال او عزت په بل مسلمان باندې حرام دي، بلکې د انسان حرمت ددې ټولو نه زيات دی، لکه د ابن عمر ﷺ په روايت کې دي چې هغوی يو ځل په بيت الله نظر پرېوتلو، نو وې فرمايل: اې بيت الله ته د زيات عظمت څښتنه يې! ډېر عظيم کور يې، ليکن د يو مؤمن حرمت د الله ﷻ په نزد ستا نه ډېر زيات دی.

د چا نقل کول

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: قُلْتُ لِلنَّبِيِّ ﷺ: حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا. قَالَ بَعْضُ الرُّوَاةِ: تَعْنِي قَصِيرَةً، فَقَالَ: لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَتْ بِمَاءِ الْبَحْرِ لَمَزَجَتْهُ!" د عائشه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ مې رسول الله ﷺ ته وويل: صفيه ﷺ خو بس داسې ده او داسې ده، ځينې راويان فرمايي: په دې سره يې مراد دا وو چې وړه او د ټيټ قد والا ده، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: تا يوه داسې ترخه خبره وکړه چې که دا خبره په درياب کې واچول شي، نو هغه به هم تريخ کړي، "قَالَتْ: وَحَكَيْتُ لَهُ إِنْسَانًا فَقَالَ: مَا أُحِبُّ أَنِّي حَكَيْتُ إِنْسَانًا وَأَنَّ لِي

كَذَاوَكَذَا" عائشه رضي الله عنها فرمايي: ما ورته وويل: يا رسول الله ﷺ ما خو د انسان صفت درته بيان كړو، نبي كريم ﷺ وفرمايل: زه د ډېر دولت په بدله كې هم د يو انساني صفت حكايت بيانول نه خوښوم. رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح

ومعنى: مَزَجَتْهُ خَالَطَتْهُ مُخَالَطَةً يَتَغَيَّرُ بِهَا طَعْمُهُ أَوْرِيحُهُ لِشِدَّةِ نَتْنِهَا وَقُبْحِهَا: د مزجته معنى ده: ګډوډ يې كړي، يعنې كه دغه خبره كومه چې تا وكړه په درياب كې ګډه وډه كړى شي، نو د هغه درياب اوبه به هم ددې خبرې د بدبويي او تريخوالي له وجې بدلې شي، "وهذا الحديث من أبلغ الزواجر عن الغيبة، قال الله تعالى: وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى" دا حديث د غيبت په زجر كې كافي دى، الله ﷻ فرمايي: دا پېغمبر ﷺ چې كومه خبره كوي، نو د ځان نه يې نه كوي، بلكې هغه وحى ده كومه چې ده ته كولى شي.

تشريح: ددې حديثه په تشريح كې مولانا عاشق الهي بلند شهري رحمه الله فرمايي: ددې حديث څخه معلومه شوه چې لنډ قد نقل كول يا د چا د خبرو نقل كول عيب ښودل شوى دى، دا ډېره سخته ګناه ده، عمومي طور د چا د خبرو نقل كول يا ګوډ ګوډ تلل يا نظر اخوا دېخوا اړول او په دې سره د بل كس نقل كول دا د خلكو عادت جوړ شوى دى كوم چې دوى په ګناه كې نه شماري، حالانكې دا سخت جرم او لويه ګناه ده، لكه څرنګه چې ددې تعلق د حقوق العباد سره دى، لهذا تر څو چې يې د چا نقل كړى دى، د هغه نه معافي ونه غواړي، تر هغې به په توبه هم معاف نه شي، "ومايَنطق عن الهوى" دا پېغمبر ﷺ د خپل ځانه خبرې نه كوي، علامه نووي رحمه الله دا آيت راوړو په دې كې اشاره ده دې خبرې ته چې احاديث هم په اصل كې الهي وحى وي، يعنې دا په حقيقت كې د الله ﷻ ارشادات دي چې رسول الله ﷺ رانقل كړي دي.

د غيبت عذاب

"وعن أنس رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لَمَّا عُرِجَ بِي مَرَرْتُ بِقَوْمٍ لَهُمْ أَظْفَارٌ مِنْ نُحَاسٍ يَخْمِشُونَ وُجُوهَهُمْ وَصُدُورَهُمْ" د انس رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې زه د معراج په شپه پورته وخېژول شوم، نو په يو داسې قوم باندې تېر شوم چې د هغوى نوكان د اوسپنو وو او هغوى خپل مخونه او سينې پرې شكولې، "فَقُلْتُ: مَنْ هَؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ؟ قَالَ: هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ، وَيَقَعُونَ فِي أَعْرَاضِهِمْ!" ما وويل: اې جبرئيل عليه السلام! دا څوك دي؟ هغوى راته وويل: دا هغه خلك دي چې د خلكو غوښې به يې خوړلې او خلك به يې بې عزته كول. رواه أبوداود

لغوى تحقيق: **نحاس:** نحاس په اصل كې تانبې ته وايي.

يخمشون: شكول، شلول.

تشريح: الذين يأكلون لحوم الناس: هغوى د خلكو غوښې خوړلې، په قرآن كريم كې هم د غيبت تعبير د مړ ورور غوښې خوړلو سره شوى دى، "أيحب أحدكم أن يأكل لحم أخيه ميتاً فكرهتموه" ايا په تاسو كې داسې څوك شته چې هغه د خپل مړ ورور غوښې وخوري او حال دا چې په تاسو باندې بد لګيږي، فقيه

ابو الليث سمرقندي رحمه الله ددې سره يو بل حديث هم نقل کړی دی په هغې کې دي چې: "مررت بقوم يقطع اللحم من جنوبهم ثم يلقمون، ثم يقال لهم، کلوا کما کنتم تاکلون من لحوم اخوانکم فقلت: يا جبرئيل! من هؤلاء؟ قال: هؤلاء من أمتك الهمازون يعنى المغتابين" کله چې زه معراج ته لاړم، نو ومې کتل چې يو قوم ولاړ دی او د هغوی د پښتيو څخه غوښې شکولی شي او د هغوی په خولو کې وراچولی شي، پرښتې ورته وايي: لکه څرنګه چې تاسو په دنيا کې د خپل مړ ورور غوښې خوړلې، دغسې يې اوس تاسو خورئ! ما ووېل: اې جبرئيل عليه السلام! دا څوک دي؟ هغه راته ووېل: دې خلکو به په دنيا کې د نورو خلکو غيبتونه کول. "ويقعون في أعراضهم" او د هغوی عزتونه به يې اخيستل، مطلب دا چې د خلکو په وړاندې به يې د نورو خلکو عيبونه او بدي بيانول، د هغوی عزت به يې مجروح کولو، دا ټول کارونه حرام دي.

د مسلمان وينا، مال او عزت څه مقام لري؟

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَعِرْضُهُ وَمَالُهُ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو مسلمان په بل مسلمان باندې وينه، عزت او مال حرام دی. رواه مسلم

تشريح: د يو مسلمان په بل مسلمان باندې د هغه مال عزت او وينه تويول حرام دي، ځينې محدثين فرمايي: په لفظ د مسلم کې اشاره ده دې خبرې ته چې مسلمان دې ته وايي چې د بل مسلمان ورور مال، عزت او ناموس خيال به ساتي، د هغه د شرارت نه به محفوظ وي، نه دا چې د هغه عزت ته به غل ګرځي.

باب تحريم سماع الغيبة وأمر من سمع غيبةً مُحَرَّمَةً بِرَدِّها والإنكارِ على قائلها فإنْ عجزَ أو لَمْ يقبل منه فارق ذلك المجلس إن أمكنه

غيبت اورېدل هم حرام دي او کوم کس چې غيبت واوري، بايد منع يې کړي او که عاجز شو، نو هغه مجلس دې پرېږدي

قَالَ اللهُ تعالى: الله جل جلاله فرمايي: "وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ" او کله چې دوی بې هوده او غلطې خبرې واوري، نو د هغې څخه اعراض کوي او مخ ترې اړوي. [القصص:۵۵]

تشريح: د آيت مطلب دا دی چې کله د مسلمانانو د ذات باره کې څوک بد رد وايي، خبرې ورته کوي يا څوک په دين پورې استهزاء کوي، لکه څرنګه چې به د مکې مشرکانو دا کار کولو چې دوی به په دين پورې توقې کولې، نو د مسلمان شان دا دی چې دوی به د داسې کسانو سره ناسته او ولاړه نه کوي، بلکې د دوی څخه به اعراض کوي او دا خبره به کوي چې موږ ته زموږ اعمال دي او تاسو ته ستاسو اعمال.

وقال تعالى: وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ: الله ﷻ فرمايي: او هغه خلك چې د لغوه او بې هوده كارونو ځنه اعراض كوي. [المؤمنون:۳]

تشريح: مفتي محمد شفيع رحمه الله فرمايي: (لغو) هر هغه كار يا قول ته وايي چې نه دنيوي فايده پكې وي او نه آخروي، د لغوه اعلى درجه دا ده چې سړى ګناه وكړي، ځكه چې په دې كې اخروي فايده خو هسې نشته، بلكې خپل نقصان يې پكې ضرر دى، ددې نه ځان ساتل فرض دي او ادنى درجه يې دا ده چې په كوم كار يا خبره كې نه فايده وي او نه نقصان وي، نو ددې پرېښودل هم كم نه كم اولى او موجب د تعريف دي، لكه څرنګه چې په يو روايت كې دي: "من حسن إسلام المرء تركه ما لا يعنيه" د سړي د ښه اسلاميت څخه دا دي چې بې فايدې كارونه پرېږدي.

وقال تعالى: الله ﷻ فرمايي: "إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا" بې شكه د سترګو، غوږونو او زړونو نه به هم پوښتنه كيږي. [الإسراء:۳۶]

ددې آيت تشريح او وضاحت په باب تحريم الغيبة كې ذكر دى.

وقال تعالى: الله ﷻ فرمايي: "وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ" او كله چې ته ووينې هغه خلك چې زموږ په ايتونو پورې توقې كوي، نو د دوى څخه اعراض وكړه او مجلس ورسره پرېږده. "حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ" تردې چې بل څه مجلس او خبره يې شروع كړې نه وي او كه شيطان درنه دا خبره هېره كړي، نو بيا چې كله درته په ياد شي، نو بيا ددې نه وروسته د ظالم قوم سره مه كښېنه! [الأنعام:۶۸].

تشريح: په كوم مجلس كې چې په دين پورې توقې كيږي، داسې مجلس پرېښودل فرض او واجب دي، په آيت كې اګرچې خطاب رسول الله ﷺ ته شوى دى، ليكن ددې نه اصلي مخاطبين د رسول الله ﷺ هر امتي دى، كنه نو د رسول الله ﷺ نه په داسې مجلس كې كښېنستل محال دي

فأعرض عنهم: اعراض ترې وكړه! ددې ګڼ صورتونه دي، مثلاً: د مجلس نه اوچت شه، هلته په بل كار باندې مشغول شه، يا هغوى ته التفات هم مه كوه. ليكن اولنى صورت غوره دى چې داسې مجلس بايد پرېښودل شي او چېرته لرې ترې لاړ شي.

فلا تقعد بعد الذكرى: كله چې درته په ياد شي، نو سمدستي هغه مجلس پرېږده او ترې اوچت شه.
امام نووي رحمه الله فرمايي: غوره دا ده چې د ګناه مجلس ترك كړل شي او د هغه ځاى څخه لاړ شي، كه چېرته په پورته كېدو كې د مال يا ځان يا عزت خطره وي، نو بيا په بل كار كې ځان مشغول كړه! دا خبره خو د عوامو لپاره ده، ليكن د كومو خلكو اقتداء چې كولى شي، يعنې خواص خلك خو به په هر حال كې د هغوى مجلس پرېږدي.

د بل مسلمان د عزت دفاع کول

وعن أبي الدرداء ؓ، عن النبيّ ﷺ قَالَ: مَنْ رَدَّ عَنْ عِرْضِ أخيهِ: د أبو الدرداء ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايي: کوم کس چې د يو مسلمان ورور د عزت او ناموس دفاع وکړي او هغه حمايت وکړي، "رَدَّ اللّٰهُ عَنْ وَجْهِهِ النَّارَ يَوْمَ القِيَامَةِ" الله ﷻ به د قيامت په ورځ دده مخ د جهنم له اوره وساتي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې که په کوم مجلس کې يو کس د بل مسلمان بد بيانوي، په هغه باندې عيب لګوي، نو بايد دده دفاع وکړل شي او دا هغه عيب بيانونکي ته ظاهر کړل شي چې کوم عيبونه ته بيانوې دغه عيبونه په هغه سړي کې نشته، د هغه لمن ددې ناپاکه ده، ددې حديث مضمون په يو بل حديث کې هم بيان شوی دی، هغه دا چې: "من نصر أخاه المسلم بالغيب نصره الله في الدنيا والاخرة" يو مسلمان چې د بل مسلمان ورور پسې شا د هغه دفاع وکړي، الله ﷻ به يې په دنيا او اخرت کې مرسته وکړي، دغه شان په يو بل روايت کې هم دي چې: "من ذب عن عرض أخيه بالغيبة كان حقاً على الله أن يعتقه من النار" کوم مسلمان چې د بل مسلمان ورور د عزت دفاع وکړي، دده په الله ﷻ باندې (تفضلي حق) دی چې دی به د جهنم څخه خلاص کړي، دغه شان په يو بل روايت کې هم دي چې: "من حمى عرض أخيه في الدنيا بعث الله عزوجل ملكاً يحميه عن النار" کوم مسلمان چې د بل مسلمان ورور د عزت او ناموس دفاع وکړي، الله ﷻ به د قيامت په ورځ يوه پرښته دده سره کړي چې هغه پرښته به يې د جهنم له عذابه خلاص کړي، امام غزالي ؒ فرمايي: "الساكت شريك المغتاب" کوم کس چې غيبت اوري او چوپ پاتې شي، نو دی هم په غيبت کونکو کې شمار دی، اصل خبره دا ده چې اول بايد غيبت کونکی سړی چوپ کړې، که د چوپ کولو وس دې نه وي، نو بايد داسې مجلس پرېښودل شي چې په دې لويه ګناه کې شريک نه شي.

بدګماني حرامه ده

"وعن عِتبَانَ بنِ مَالِكٍ ؓ، في حديثه الطويل المشهور الّذِي تقدّمَ في بابِ الرَّجاءِ قالَ: قامَ النبيّ ﷺ يُصَلِّي فقالَ: أينَ مالِكُ بنُ الدُّخْشُمِ؟" د عتبان بن مالك ؓ نه (چې اوږد حديث باب الرجاء کې ددې ذکر تېر شوی دی) وايي: چې رسول الله ﷺ لمونځ ته پاڅېدو او شروع يې وکړه، بيا يې وفرمايل: مالك بن دخشم څه شو؟ "فقالَ رَجُلٌ: ذلِكَ مُنَافِقٌ لايُحِبُّ اللّٰهَ ولا رَسُولَهُ، فقالَ النبيّ ﷺ: لا تَقُلْ ذلِكَ ألا تَرَاهُ قَدْ قالَ: لا إلهَ إلاّ اللّٰهُ يُرِيدُ بِذلِكَ وَجْهَ اللّٰهِ!" يو کس ووېل: هغه خو منافق دی، د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره مينه نه کوي، نبي کريم ﷺ وفرمايل: داسې مه وايه! ايا ته هغه نه وينې چې: (لا إله إلا الله) وايي، په دې سره يې د الله ﷻ رضاء مطلوب ده! "وإنَّ اللّٰهَ قَدْ حَرَّمَ على النَّارِ مَنْ قالَ: لا إلهَ إلاّ اللّٰهُ يَبْتَغِي بِذلِكَ وَجْهَ اللّٰهِ" او الله ﷻ په هغه سړي باندې جهنم حرام کړی دی کوم کس چې (لا اله الا الله) وايي او په دې سره يې د الله ﷻ رضاء مطلوب وي. متفق عَلَيْهِ

وَعِتْبان بكسر العين على المشهور وحُكِيَ ضَمُّها وبعدها تاءٌ مثناة من فوق ثُمَّ باءٌ موحدة: لفظ د عتبان په كسرې د عين سره مشهور دى او په ضمې سره هم روايت شوى دى او وروسته ترې (ت) بيا (ب) ده، "والدُّخْشُم بضم الدال وإسكان الخاء وضم الشين المعجمتين" لفظ د (الدخشم) په ضم د (د) سره او په سكون د (خ) سره او په ضم د شين سره نقل شوى دى.

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب الرجاء كې حديث نمبر: ۴۲۰) كې ذكر شوى دى، كله چې د مالك بن دخشم ﷜ باره كې خلكو بدگماني وكړه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه داسې نه دى، معلومه شوه چې بد گماني پكار نه ده، كه چا بدگوماني وكړه، نو اورېدونكي ته پكار دي چې هغه منع كړي لكه څرنگه چې دلته رسول الله ﷺ منع وفرمايل.

د كعب ﷜ واقعه

"وعن كعب بن مالك ﷜ في حديثه الطويل في قصة توبته وقد سبق في باب التوبة قَالَ: قَالَ النبيُّ ﷺ وهُوَ جالِسٌ في القوم بتَبُوكَ: مَا فَعَلَ كَعْبُ بن مالِكٍ؟" د كعب بن مالك ﷜ نه په يو اوږد حديث كې دي (چې دا روايت مخكې تېر شوى دى) فرمايي چې نبي كريم ﷺ په تبوك كې د صحابه كرامو ﷡ سره ناست وو چې نبي كريم ﷺ پوښتنه وكړه: كعب بن مالك ﷜ څه شو؟ "فَقَالَ رَجلٌ مِن بَنِي سَلِمَةَ: يَارسولَ الله، حَبَسَهُ بُرْدَاهُ والنَّظرُ في عِطْفَيْهِ. فَقالَ لَهُ مُعاذُ بنُ جبلٍ ﷜: بِئْسَ مَا قُلْتَ" د بني سلمه قبيلې يو كس ووېل: يا رسول الله ﷺ! هغه خپلو كپړو او خاته كتلو د جهاد نه پاتې كړو، معاذ بن جبل ﷜ وفرمايل: ډېره بده خبره دې وكړه، "والله يَا رسولَ الله مَا علمنا عَلَيهِ إلاَّ خَيراً، فَسَكَتَ رَسُولُ الله ﷺ" قسم په الله ﷻ! چې يارسول الله ﷺ! موږ په هغه د نېك سړي گومان كوو، هغه نېك انسان دى، نبي كريم ﷺ خاموش پاتې شو. متفقٌ عَلَيهِ

عِطْفَاهُ: جَانِبَاهُ، وهو إشارةٌ إِلَى إعجابِهِ بنفسِهِ: د (عطفاه) معنى ده: د اوږو دواړه طرفه، په دې كې اشاره ده دې خبرې ته چې سړى دې د خپل ځان په تعجب كې نه پرېوځي.

تشريح: دا حديث هم وړاندې په (باب التوبه كې حديث نمبر: ۲۱) كې ذكرشوى دى، هلته يې پوره وضاحت شوى دى، امام نووي ﷫ دلته يو ځل بيا د باب د مناسبت له وجې راوړو، هغه دا چې يو كس د رسول الله ﷺ په وړاندې دا خبره وكړه چې كعب بن مالك ﷜ څكه د تبوك په غزا كې نه دى شريك شوى چې په هغه كې تكبر او خود پسندي راغلې ده، معاذ ﷜ د هغه دفاع وكړه، رسول الله ﷺ چې دا واورېدل نو خاموش پاتې شو، علماء فرمايي: د رسول الله ﷺ خاموش پاتې كېدل ددې خبرې دليل دى چې كومه دفاع معاذ ﷜ وكړه، هغه دفاع صحيح وه، خلاصه دا شوه چې كه په كوم مجلس كې د كوم كس عيب بيانېږي، په هغه پسې غيبت كولى شي، نو بايد چې ناست خلك د هغه دفاع وكړي

باب مَا يباح من الغيبة

د غيبت د مباح والي صورتونه

اعْلَمْ أَنَّ الْغِيبَةَ تُبَاحُ لِغَرَضٍ صَحِيحٍ شَرْعِيٍّ لَا يُمْكِنُ الْوُصُولُ إِلَيْهِ إِلَّا بِهَا، وَهُوَ سِتَّةُ أَسْبَابٍ: په دې خبره ښه خان پوه کړه چې غيبت د يو صحيح شرعي غرض لپاره چې کله د (غيبت) نه سيوا په کومه بله ذريعه سرې حيل مقصد ته نه شي رسېدلی مباح دی او هغه شپږ ذرايع دا دي:

الْأَوَّلُ: التَّظَلُّمُ، فَيَجُوزُ لِلْمَظْلُومِ أَنْ يَتَظَلَّمَ إِلَى السُّلْطَانِ وَالْقَاضِي وَغَيْرِهِمَا مِمَّنْ لَهُ وِلَايَةٌ، أَوْ قُدْرَةٌ عَلَى إِنْصَافِهِ مِنْ ظَالِمِهِ فَيَقُولُ: ظَلَمَنِي فُلَانٌ بِكَذَا: اول دا چې د مظلوم سره چا ظلم کړی وي، هغه خپل ظلم پاچا يا قاضي يا داسې چا ته بيان کړي چې ولايت ورته حاصل وي او يا ورته په انصاف ورکولو باندې قادر وي، لکه داسې ووايي چې پاچا صاحب! زما سره فلانکي کس ظلم کړی دی.

الثَّانِي: الِاسْتِعَانَةُ عَلَى تَغْيِيرِ الْمُنْكَرِ، وَرَدِّ الْعَاصِي إِلَى الصَّوَابِ، فَيَقُولُ لِمَنْ يَرْجُو قُدْرَتَهُ عَلَى إِزَالَةِ الْمُنْكَرِ: فُلَانٌ يَعْمَلُ كَذَا: دويم د شريعت مخالف کار د بندولو لپاره مرسته وغواړي، يا غواړي چې د ګناه کارونه په نيکۍ سره بدل کړي او د کوم کس څخه مرسته وغواړي، هغه ته ووايي چې فلانکی سړی داسې داسې حرکات کوي "فَازْجُرْهُ عَنْهُ وَنَحْوُ ذَلِكَ وَيَكُونُ مَقْصُودُهُ التَّوَصُّلَ إِلَى إِزَالَةِ الْمُنْكَرِ، فَإِنْ لَمْ يَقْصِدْ ذَلِكَ كَانَ حَرَاماً" نو هغه کس د غه ګناهګار سړی منع کړي، په دې بيان سره د هغه مقصد هم دا وي چې منکر کار ونه شي، که چېرته يې دا مقصد نه وي، نو بيا داسې بيان هم حرام دی.

الثَّالِثُ: الِاسْتِفْتَاءُ، فَيَقُولُ لِلْمُفْتِي: ظَلَمَنِي أَبِي أَوْ أَخِي، أَوْ زَوْجِي، أَوْ فُلَانٌ بِكَذَا فَهَلْ لَهُ ذَلِكَ؟ وَمَا طَرِيقِي فِي الْخَلَاصِ مِنْهُ، وَتَحْصِيلِ حَقِّي، وَدَفْعِ الظُّلْمِ؟ وَنَحْوُ ذَلِكَ، فَهَذَا جَائِزٌ لِلْحَاجَةِ: دريم: هغه ځای چې کله يو کس ووايي: په ما باندې زما پلار، زما ورور، ښځې يا فلانکي سړي ظلم کړی دی، ايا دده لپاره داسې کول صحيح دي؟ او د هغه څخه د خلاصي څه طريقه به وي چې زه ترې خپل حق وصول کړم او خپل ځان به د ظلم نه بچ کړم او داسې نورې خبرې دي، نو داسې کول جائز دي، "وَلَكِنَّ الْأَحْوَطَ وَالْأَفْضَلَ أَنْ يَقُولَ: مَا تَقُولُ فِي رَجُلٍ أَوْ شَخْصٍ، أَوْ زَوْجٍ، كَانَ مِنْ أَمْرِهِ كَذَا؟ فَإِنَّهُ يَحْصُلُ بِهِ الْغَرَضُ مِنْ غَيْرِ تَعْيِينٍ، وَمَعَ ذَلِكَ، فَالتَّعْيِينُ جَائِزٌ كَمَا سَنَذْكُرُهُ فِي حَدِيثِ هِنْدٍ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى" ليکن غوره طريقه دا ده چې داسې ووايي تاسو د هغه سړي يا خاوند باره کې څه وايئ چې د هغه سره داسې کار وشي؟ ځکه چې په دې طريقه به اصلي مقصد هم حاصل شي او تعيين به هم ونه شي، ليکن تعيين کول هم جائز دي. لکه مونږ چې به يې د هند ﷺ په حديث کې ذکر کړو.

الرَّابِعُ: تَحْذِيرُ الْمُسْلِمِينَ مِنَ الشَّرِّ وَنَصِيحَتُهُمْ، وَذَلِكَ مِنْ وُجُوهٍ: څلورم: هغه ځای چې مسلمانان د شر او فساد نه وېرول شي يا هغوی ته نصيحت مقصود وي، ددې يو څو صورتونه دي "مِنْهَا جَرْحُ الْمَجْرُوحِينَ مِنَ الرُّوَاةِ وَالشُّهُودِ وَذَلِكَ جَائِزٌ بِإِجْمَاعِ الْمُسْلِمِينَ، بَلْ وَاجِبٌ لِلْحَاجَةِ" يو دا چې د راوي څه کمزوري ظاهرول يا د شاهد څه خامي بيانول د هغه دروغ ظاهرول دا ټول د مسلمانانو په نزد جائز دي، بلکې واجب دي، "وَمِنْهَا: الْمُشَاوَرَةُ فِي مُصَاهَرَةِ إِنْسَانٍ أَوْ مُشَارَكَتِهِ، أَوْ إِيدَاعِهِ، أَوْ مُعَامَلَتِهِ، أَوْ غَيْرِ ذَلِكَ، أَوْ مُجَاوَرَتِهِ، وَيَجِبُ عَلَى الْمُشَاوَرِ أَنْ لَا يُخْفِيَ حَالَهُ، بَلْ يَذْكُرُ الْمَسَاوِئَ الَّتِي فِيهِ بِنِيَّةِ

Maktaba Tul Ishaat. com

النَّصِيحَةَ" بل ځای هغه چې يو سړی د نکاح په اړه مشوره کول غواړي يا د چا سره امانت اېښودل غواړي يا څه معامله او معاهده طلب کړي يا يې د چا په ګاونډ کې د اوسېدو لپاره رايه طلب کړې وي يا داسې نور شيان وي چې د چانه په معاملاتو کې مشوره اخلي، په هغه باندې واجب دي چې هغه هيڅ خبره ترې پټه ونه ساتي، څه چې ورته معلوم وي، بغير د کمي او زياتي نه دي ورته بيان کړي، "ومنها: إذا رأى مُتَفَقِّهاً يَتَرَدَّدُ إلى مُبْتَدِعٍ، أوْ فَاسِقٍ يَأخُذُ عَنْهُ العِلْمَ، وخَافَ أنْ يَتَضَرَّرَ المُتَفَقِّهُ بِذَلِكَ، فَعَلَيهِ نَصِيحَتُهُ بِبَيَانِ حَالِهِ، بِشَرْطِ أنْ يَقْصِدَ النَّصِيحَةَ، وَهَذا مِمَّا يُغلَطُ فِيهِ. وَقَدْ يَحمِلُ المُتَكَلِّمَ بِذلِكَ الحَسَدُ، وَيُلَبِّسُ الشَّيطانُ عَلَيهِ ذلِكَ، وَيُخَيِّلُ إِلَيهِ أنَّهُ نَصِيحَةٌ فَلْيُتَفَطَّنْ لِذلِكَ" دريم صورت دا دی چې کل هغه وګوري چې يو طالب علم د ديني علم د حاصلولو لپاره يو بدعتي يا فاسق ته ورځي، دا ويره وي چې هغه به د بې خبری په وجه د خپل دين نقصان وکړي، نو د خير خواهی په نيت هغه ته پوره صورت حال بيانول پکار دي، شرط دا دی چې نيت او مقصد به پکې نيک وي، داسې نه چې حسد په دې خپل کار باندې اماده کړی وي يا شيطان دوکه کړی وي چې صاحبه دا خو ډېر لوی د نېکی کار دی او په حقيقت کې د هغه حسد ورسره وي، ددې وجه نه په دې معامله باندې ښه سوچ او فکر سره کار کول پکار دي.

وَمِنها: أنْ يَكُونَ لَهُ وِلايَةٌ لا يَقُومُ بِهَا عَلى وَجْهِهَا: إمَّا بِأنْ لا يَكُونَ صَالِحاً لَهَا، وإمَّا بِأنْ يَكُونَ فَاسِقاً، أوْ مُغَفَّلاً، وَنَحوَ ذَلِكَ فَيَجِبُ ذِكْرُ ذَلِكَ لِمَنْ لَهُ عَلَيهِ وِلايَةٌ عَامَّةٌ لِيُزيلَهُ، وَيُوَلِّيَ مَنْ يُصْلِحُ، أوْ يَعْلَمَ ذَلِكَ مِنْهُ لِيُعَامِلَهُ بِمُقْتَضَى حَالِهِ، وَلا يَغْتَرَّ بِهِ، وأنْ يَسْعَى في أنْ يَحُثَّهُ عَلَى الاسْتِقَامَةِ أوْ يَسْتَبْدِلَ بِهِ: څلورم: يو حاکم يا والي يا يو افسر دی چې هغه په سيده لار نه ځي يا د هغه دندې/ وظيفې لائق نه دی يا بدکردار دی يا کم عقل دی او داسې ناپوه دی چې معاملاتو ته يې رسيدګي نه کېږي، نو په داسې صورت کې واجب دي چې د هغه عيبونه او کمزوري داسې سړي ته بيان کړل شي چې د چا سره د هغه د تقرری او معزول کولو اختيار وي، ددې لپاره چې هغه يې معزول کړي يا يې اصلاح کړي، که چېرته اصلاح نه شي نو کم نه کم د هغه په طبعيت پوه شي چې د هغه متعلق فيصله کولو کې دوکه نه شي او کوشش وکړي چې هغه سم کړي يا يې ددې دندې څخه لرې کړي.

الخَامِسُ: أنْ يَكُونَ مُجَاهِراً بِفِسْقِهِ أوْ بِدْعَتِهِ كالمُجَاهِرِ بِشُرْبِ الخَمْرِ، ومُصَادَرَةِ النَّاسِ، وأَخْذِ المَكْسِ، وجِبَايَةِ الأمْوَالِ ظُلْماً، وَتَوَلِّي الأُمُورِ البَاطِلَةِ، فَيَجُوزُ ذِكْرُهُ بِمَا يُجَاهِرُ بِهِ، وَيَحْرُمُ ذِكْرُهُ بِغَيْرِهِ مِنَ العُيُوبِ، إلاَّ أنْ يَكُونَ لِجَوازِهِ سَبَبٌ آخَرُ مِمَّا ذَكَرْنَاهُ: پنځم دا چې که څوک په ښکاره فسق او فجور کې مبتلا، وي يا ښکاره بدعتي وي لکه ښکاره شراب څښي، په خلکو باندې ظلم کوي، په ظلم باندې مالونه اخلي، په ظلم باندې ټيکسونه اخلي، يا په ناجائزه کارونو باندې مقرر شوی دی، نو د داسې خلکو هغه خبرې چې ښکاره په دوی کې موجودې وي يا يې هغه ارتکاب کوي د هغې بيانول جائز دي، ليکن د ظاهري عيبونو نه علاوه د باطني بيان حرام دی، که چېرته زموږ د ذکر شوېو اسبابو نه علاوه کوم سبب ددې ذکر متقاضي وي، نو بيا حرام نه دي، "السَّادِسُ: التعرِيفُ، فإذا كَانَ الإنْسانُ مَعْرُوفاً بِلَقَبٍ، كالأعْمَشِ، والأعرَجِ، والأَصَمِّ، والأعْمَى، والأحْوَلِ، وَغَيْرِهِمْ جَازَ تَعْرِيفُهُمْ بِذلِكَ، وَيَحْرُمُ إطْلاقُهُ عَلَى جِهَةِ التَّنْقِيصِ، وَلَوْ أمْكَنَ تَعْرِيفُهُ بِغَيْرِ ذَلِكَ كَانَ أوْلَى، فَهذِهِ سِتَّةُ أسْبَابٍ ذَكَرَهَا العُلَمَاءُ وأكثَرُهَا مُجْمَعٌ عَلَيهِ، وَدَلائِلُهَا مِنَ الأحادِيثِ الصَّحِيحَةِ مَشهُورَةٌ. فمن ذَلِكَ" شپږم هغه ځای چې که يو سړی په عيبجن لقب باندې شهرت لري، لکه شب کور، ګډ، ګونګ،

روند، کوږ سترګی، نو د تعارف په توګه ددې الفاظو ذکر کول جائز دي، خو د تذليل يا اهانت په توګه بې استعمالول حرام دي، خو که تعارف هم په بله مناسبه طريقه باندې کېدی شوی، نو دا به بهتر صورت وي چې دا القالب استعمال نه کړی شي، غرض دا چې دا شپږ اسباب دي چې د امت علماؤ بيان کړي دي او په دې اړه اثار متفق عليه دي او په حديثونو کې ددې ثبوت ملاويږي، دلائل يې لاندې ذکر دي:

تشريح: ځينې صحابه کرامو ﷺ به هم د ځينو خلکو بعض احوال بيانول، خو هغوی به ددې لپاره بيانول چې کومه خاصه فايده به پکې وه، د دنيا کوم غرض به پکې نه ؤ.

د منافق غيبت جائز دی

عن عائشة رضي الله عنها: أَنَّ رجلاً اسْتَأْذَنَ على النبيّ ﷺ، فقَالَ: ائْذَنُوا لَهُ، بِئْسَ أَخُو الْعَشِيرَةِ؟ د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د نبي کريم ﷺ نه اجازت وغوښتل شو، نبي کريم ﷺ اجازت ورکړو، دا يې هم وفرمايل چې دا سړی د خپلې قبيلې د ټولو نه خراب سړی دی؟ **متفق عَلَيْهِ**

احتَجَّ بِهِ البخاري في جوازِ غِيبَةِ أهلِ الفسادِ وأهلِ الرِّيَبِ: امام بخاري رحمه الله ددې حديث نه د مفسد او فساد کوونکو د غيبت په جواز باندې استدلال کړی دی.

تشريح: امام بخاري رحمه الله ددې حديث څخه استدلال کړی دی چې که څوک فساد کوونکي وي، مثلاً: غلا کوي يا لارې شلوي، نو بايد چې ددې نه خلک خبر کړل شي چې خلک ترې ځان وساتي.

د چا غيبت جائز دی؟

"**وعنها، قالت: قَالَ رسولُ الله ﷺ: مَا أظُنُّ فُلاناً وفُلاناً يَعْرِفَانِ مِنْ دِينِنَا شَيئاً**" د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د فلاني او فلاني متعلق زما خيال دا دی چې زموږ د دين هيڅ شی نه پېژني، "**رواه البخاري. قَالَ: قَالَ اللَّيْثُ بن سعدٍ أحَدُ رُواةِ هَذَا الحديثِ: هذانِ الرجلانِ كانا من المنافِقِينَ**" د ليث بن سعد رحمه الله نه روايت دی، ددې روايت د ځينو راويانو څخه دی، فرمايي چې دا دواړه سړي منافقان وو.

تشريح: ددې حديث څخه معلومه شوه چې د منافق سړي غيبت جائز دی، ځکه چې منافقين فساديان دي، ددې ځای خبرې هلته وړي او د هغه ځای خبرې دلته راوړي، که د هغوی حقيقت په چا باندې ښکاره شي، نو خلکو ته اطلاع کول ضروري دي، ددې لپاره چې خلک د دوی د فساد څخه ځانونه وساتي، دين او دنيا يې محفوظه پاتې شي.

د خير خواهی له امله غيبت کول جائز دي

وعن فاطمة بنتِ قيسٍ رضي الله عنها، قالت: أتيتُ النَّبيَّ ﷺ، فقلتُ: إنَّ أَبَا الجَهْمِ وَمُعَاوِيَةَ خَطَبَانِي؟ فَقَالَ رسُولُ الله ﷺ: أمَّا مُعَاوِيَةُ، فَصُعْلُوكٌ لاَ مَالَ لَهُ: د فاطمه بنت قيس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضره شوم، ما ورته ووېل: يارسول الله ﷺ! معاويه او ابو الجهم دواړو ماته ويلي دي

چې په مونږ کې يو کس سره نکاح وکړه؛ نو زه څه وکړم؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: معاويه خو فقير دی، مال ورسره نشته، "وَأَمَّا أَبُو الْجَهْمِ، فَلَا يَضَعُ الْعَصَا عَنْ عَاتِقِهِ" او ابو الجهم خپله امساء د اوږو څخه نه ښکته کوي. متفق عليه

وفي رواية لمسلم: وَأَمَّا أَبُو الْجَهْمِ فَضَرَّابٌ لِلنِّسَاءِ وَهُوَ تفسير لرواية: لَا يَضَعُ الْعَصَا عَنْ عَاتِقِهِ وقيل: معناه: كثير الأسفار: او د مسلم په يو روايت کې دي چې ابو الجهم «لايضع العصا عن عاتقه» ښځې ډېرې زياتې وهي، او چا يې داسې تفسير کړی دی چې ډېر زيات سفرونه کوي امساء ورسره وي.

تشريح: إن أبا الجهم فلا يضع العصا عن عاتقه: ابو جهم خپله امساء د اوږې څخه نه ښکته کوي، مراد دا دی چې ابوجهم ډېر زيات وهل کوي، سخت طبعيته او سخت مزاجه سړی دی، نو ځکه به ستا ژوند د هغه سره ګران شي، معاويه فقير دی، د هغه سره هيڅ نشته، نو ځکه ستا د هغه سره ژوند به هم ګران وي، ددې حديث څخه معلومه شوه چې د واده نه وړاندې چې چاته د چا څه قسم حال معلوم وي بايد صفا صفا يې بيان کړي، دا په غيبت کې نه شمارل کيږي، خو کله چې پکې د خيرخواهي مقصد وي، د چا کمی يا عيب بيانول پکې مقصود نه وي، بيا رسول الله ﷺ د فاطمه بنت قيس رضي الله عنها واده د اسامه رضي الله عنه سره وکړو کوم چې ډېر زيات کامياب شو.

د راويه فاطمه بنت قيس رضي الله عنها حالات:

اصل نوم يې فاطمه رضي الله عنها ده، د پلار نوم يې قيس بن خالد بن وهب وو، د مور نوم يې اميمه بنت ربيعه وه، د بني کنانه قبيلې سره يې تعلق درلود، لومړی نکاح يې د ابوعمرو بن حفص سره وشوه، د اسلام په شروع کې مسلمانه وه، د دوی خاوند دوی ته په ۱۰ هجري کې طلاق ورکړو، عدت يې د عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنه په کور کې تېر کړو، په دويم ځل يې نکاح د اسامه رضي الله عنه سره د رسول الله ﷺ په مشوره وشوه، هغې رضي الله عنها به ويل: زما او ابن ام مکتوم رضي الله عنه ترمنځ ډېره زياته مينه وه چې هغه په خپل وخت قابل د پسخېدو وه.

په ۲۳ هجري کې چې کله د عمر رضي الله عنه انتقال وشو، نو د اهل مجلس شورى ځای د دوی کور وګرځېدو، د اسد الغابة ليکوال علامه ابن الاثير ليکلي دي چې «لها عقل وكمال» ډېره زياته زيرکه او عقلمنده وه، په ۵۴ هجري کې د اسامه رضي الله عنه انتقال وشو، هغوی بيا بل واده ونه کړو، د خپل ورور ضحاک سره به اوسېده او کله چې ضحاک يزيد د عراق ګورنر جوړ کړو، نو دوی هم ورسره عراق ته لاړه، د دوی څخه ۳۴ روايات نقل دي.

د زيد بن ارقم رضي الله عنه برائت

وعن زيد بن أرقم رضي الله عنه قَالَ: خرجنا مَعَ رسُولِ الله ﷺ في سَفَرٍ أصابَ النَّاسَ فِيهِ شِدَّةٌ، فَقَالَ عبدُ اللهِ بن أُبَيٍّ: لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ حَتَّى يَنْفَضُّوا: د زيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې مونږ د رسول الله ﷺ سره په يو سفر کې روان وو چې خلکو ته ډېره زياته لوږه او تنده ورسېده او سخت مشکل راپېښ شو،

عبد الله بن أبي منافق ووېل: تاسو په هغو خلكو خرچه مه كوئ كوم چې د رسول الله ﷺ ملګري دي (يعنې په صحابه كرامو ﷺ باندې خرچ مه كوئ) "وقال: لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ" او دا يې هم ووېل: كه چېرته مونږ مدينې منورې ته واپس شو، نو عزتمند خلك به ذليل خلك وباسي، "فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ، فَأَخْبَرْتُهُ بِذٰلِكَ، فَأَرْسَلَ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ أُبَيٍّ، فَاجْتَهَدَ يَمِينَهُ: مَا فَعَلَ، فَقَالُوا: كَذَبَ زَيْدٌ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ" ما نبي كريم ﷺ ته دا خبره وكړه چې هغه داسې وايي، هغه صفا انكار وكړو او قسمونه يې وكړه چې ما داسې نه دي ويلي، په خلكو كې دا خبره مشهوره شوه چې زيد ﷺ نبي كريم ﷺ ته دروغ ووېل "فَوَقَعَ فِي نَفْسِي مِمَّا قَالُوهُ شِدَّةٌ حَتَّى أَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى تَصْدِيقِي" د خلكو د خبرو له وجې زما زړه ډېر زيات خفه شو چې زيد نبي كريم ﷺ ته دروغ ووېل، خو زما تصديق الله ﷻ رانازل كړو: "إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ ثُمَّ دَعَاهُمُ النَّبِيُّ ﷺ لِيَسْتَغْفِرَ لَهُمْ فَلَوَّوْا رُؤُوسَهُمْ" كله چې منافقان تاسو ته راشي، بيا نبي كريم ﷺ هغه منافقان راوغوښتل، دده لپاره چې دوی ته د خدای تعالی نه بخښنه وغواړي، نو خپل سرونه يې تاو راتاو كړل او د استغفار غوښتلو نه يې يو قسم انكار وكړو. متفق عَلَيْهِ

تشريح: مفسرين فرمايي: دا واقعه په شپږمه هجري كې د شعبان په مياشت كې وشوه، د قتاده ﷺ او عروة ﷺ په قول دا د شعبان په پنځمه هجري كې د غزوة بني المصطلق په موقع باندې پېښه شوه، "فقال عبد الله بن أبي: لا تنفقوا على من عند رسول الله حتى ينفضوا" عبد الله بن أبي ووېل: تاسو په هغه چا خرچې مه كوئ چې د رسول الله ﷺ سره دي، مطلب دا چې د منافقانو مشر عبد الله بن أبي بن سلول دا خبره وكړه چې دا مسلمانان غريبانان دي، كه دوی ته مال ورنه كړل شي، نو دوی به په خپله د دوی نه جدا شي، الله ﷻ دده جواب وركړو چې د ځمكې او آسمان ټولې خزانې د الله ﷻ په لاس كې دي، كه الله تعالی يې وغواړي، نو مسلمانانو ته به ډېر څه وركړي.

وقال: لئن رجعنا إلى المدينة ليخرجن الأعز منها الأذل: هغه بيا ووېل: كه دا ځل مدينې ته واپس شو، نو مونږ عزتمند خلك به دغه ذليل خلك وباسو، دا جمله هم عبد الله بن أبي ووېل كوم چې د منافقانو مشر وو، په دې كې يې خپل ځانونه عزتمند وښودل او مسلمانانو ته يې (نعوذ بالله) د ذليله خلكو خطاب وكړو، دده په جواب كې الله ﷻ وفرمايل "فلله العزة ولرسوله وللمؤمنين ولكن المنافقين لايعلمون" عزت په حقيقت كې د الله ﷻ، د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو حق دی، اګر چې منافقان په دې نه پوهېږي، دا ټولې خبرې د زيد بن ارقم ﷺ په وړاندې عبد الله منافق كړي وې، زيد بن ارقم ﷺ په دې وخت كې ډېر كم عمره هلك وو، هغه ټولې خبرې رسول الله ﷺ ته بيان كړې، دده نه معلومه شوه چې د منافقانو خبرې راوړل غيبت نه دی، بلكې د دوی خبرې ظاهرول د عامو مسلمانانو په مفاد كې دي، دده لپاره چې مسلمانان د هغوی د فتنو او شر څخه محفوظ شي

د ضرورت په اندازه ښځه د خاوند پيسې خرچ كولی شي

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: قالت هِنْدُ امْرَأَةُ أَبِي سُفْيَانَ لِلنَّبِيِّ ﷺ: إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيْسَ يُعْطِينِي

يكفيني وولدي إلا ما أخذت منه، وهو لا يعلم؟" د عائشه ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې هنده ﷺ کومه چې د ابوسفيان ميرمن ده، يوه ورځ يې رسول الله ﷺ ته وويل: ابوسفيان ﷺ ډېر زيات بخيل انسان دى، ماته دومره څه نه راکوي چې زما او زما د زوى ګزاره پرې وشي، مګر هغه چې زه ترې څه په پټه راواخلم او هغه ته پته ونه لګيږي، نو ايا ماته دا جائز دي چې زه څه په پټه ترې واخلم؟ "قال: خذي ما يكفيك وولدك بالمعروف" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: دومره څه ترې په ښه شان سره واخله چې ستا او ستا د بچي ضرورت پرې پوره کيږي. متفق عليه

تشريح: علماوو ددې حديث څخه شپږ مسئلې مستنبط کړي دي: (۱) په خاوند باندې د ښځې او نابالغ اولاد نفقه واجب ده، (۲) نفقه به د ضرورت او حاجت په اندازه وي، (۳) د ضرورت پرمهال د پردى ښځې سره خبرې کول جائز دي، (۴) د يوې مسئلې پوښتنې کولو پرمهال که کومه خبره د غيبت وي، نو دا په غيبت کې نه شمارل کيږي، (۵) که د ښځې خرڅه نه پوره کيږي، نو د خاوند د مال نه بقدر ضرورت خپله خرڅه اخيستلى شي، (۶) او د ضرورت پرمهال ښځه د خپل کور څخه وتلى شي.

باب تحريم النميمة

د چغل خورى حرمت

وهي نقل الكلام بين الناس على جهة الإفساد

چغل خوري دې ته وايي چې د فساد په نيت د يو کس خبره بل ته يوسي

"قال الله تعالى" الله ﷻ فرمايي: "هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ" په خلکو باندې اوازونه راوباسي او چغل خوري کوي. [ن:۱۱]

تشريح: اګرچې په آيت کې وليد بن مغيره مخاطب دى چې په هغه کې ټول هغه رذيل صفات موجود وو کوم چې په آيت کې ذکر دي، ليکن ددې څخه هر هغه کس مراد کېدى شي چې څوک په خلکو تور (طعن) لګوي، چغل خوري کوي، هغه ټول په دې کې شمار دي.

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ" انسان يوه خبره د خپلې خولې څخه نه وباسي مګر دا چې د هغه سره نږدې پرېښتې دي د هغه هر څه اعمال ليکي. [ق:۱۸].

تشريح: انسان ته پکار دي چې د خپلې ژبې حفاظت کوي، ځکه چې د ژبې نه حرف نه راوځي مګر دا چې هغه پرېښتې ليکي، بيا به د قيامت ورځ د هغې حساب کتاب ورکوي، د بدن نور ټول اندامونه د ژبې تابع دي، لکه څرنګه چې په يو روايت کې دي: هر سهار د بدن ټول اندامونه ژبې ته زارى کوي، ورته وايي: که ته سيده شوې، نو موږ به هم سيده يو او که ته کږه شوې، نو موږ به ستا په شان يو. د آيت پوره وضاحت په (باب تحريم الغيبة والأمر بحفظ اللسان) کې تېر شوى دى.

چغل خور سړی به جنت ته نه ځي

وعن حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ. د حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چغل خور به جنت ته داخل نه شي. متفق عَلَيْه

لغوي تحقيق: نمام: نمام چغل خور (د يو انسان خبره بل ته ورونکی او د بل خبره اول ته راوړونکی) ته وايي، دده چغلي صرف په دې خاطر وي چې د دواړو تر منځ د دښمنی اور بل شي

تشريح: چغل خوري دې ته وايي چې د يو سړي خبره د فساد په نيت بل ته وکړي، په دې باندې د ټول امت اتفاق دی چې دا کار حرام دی، ځوك چې چغل خوري حلاله وګڼي، نو کافر به وي او بيا به جنت ته داخل نه شي، ليکن هر هغه کس چې چغل خوري حرامه ګڼي، ليکن د بشري کمزوری له امله کله کله دده نه دا حرکت صادريږي، نو که د مرګ نه وړاندې يې توبه وويستل، الله ﷻ به يې توبه معاف کړي، کنه نو سزا به ورته ورکړي، يا دا مطلب چې چغل خور سړی به په لومړي ځل جنت ته نه ځي، بلکې په دوزخ کې د سزا ګاللو وروسته به جنت ته ځي

چغل خور ته د قبر عذاب

وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّ رسولَ الله ﷺ مَرَّ بِقَبْرَيْنِ فَقَالَ: إِنَّهُمَا يُعَذَّبَانِ، وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ! بَلَى إِنَّهُ كَبِيرٌ. د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ په دوه قبرونو باندې تېر شو، قبر والا ته عذاب ورکول کېدو، نبي کريم ﷺ وفرمايل دوی دواړو ته عذاب ورکول کيږي، ليکن د عذاب سبب په ظاهره کې لوی نه دی، اګرچې په حقيقت کې لوی دی "أَمَّا أَحَدُهُمَا، فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ" دې يو کس ته چې عذاب ورکول کيږي وجه يې دا ده چې دده به چغل خوري کول. "وَأَمَّا الآخَرُ فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنْ بَوْلِهِ" او دې بل کس ته چې عذاب ورکول کيږي ددې وجه دا ده چې ده به د متيازو نه ځان نه ساتلو. متفق عَلَيْه. وهذا لفظ إحدى روايات البخاري

قَالَ العلماءُ معنى: وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ أي: كَبِيرٍ في زَعْمِهِمَا. وقِيلَ: كَبِيرٌ تَرْكُهُ عَلَيْهِمَا: علماوو ددې مطلب داسې بيان کړی دی چې (ومايعذبان في کبير) دا معنی چې دا کار د دوی په ذهن کې د لويې ګناه باعث نه وو او يا ويلي دي چې ددې کار نه بچ کېدل څه لويه خبره نه وه.

تشريح: مَـرَّ بِقبرين: د رسول الله ﷺ تېريدل په دوه قبرونو باندې وشو، دا دواړه قبرونه په جنت البقيع کې وو، "وما يعذبان في كبير" دوی ته دا عذاب په کومه غټه خبره نه ملاويږي، مطلب دا چې ددې ګناه څخه ځان ساتل دومره ګران او مشکل نه وو، په دې لحاظ هغه ګران نه وو، ليکن د معصيت په لحاظ د متيازو نه ځان نه ساتل او چغل خوي کول په کبيره ګناه کې شمار دي.

فكان لا يستتر من بوله: هغه به د متيازو د څاڅکو نه ځان نه ساتلو، دلته سوال دا دی چې د متيازو د څاڅکو تعلق د قبر د عذاب سره څه دی؟ نو جواب دا دی چې صفايي د عبادت اولنی پوړی ده، قبر د

آخرت اولنی منزل دی او د قيامت په ورځ به د لمانځه پوښتنه د ټولو نه اول کيږي او طهارت د لمانځه شخه مقدم دی، نو په دې حساب سره د آخرت په اولني منزل (قبر) کې به د طهارت په ترک سره هغه ته عذاب ورکولی شي، دغه شان په چغل خوری سره په خلکو کې فساد خپريږي، نو شريعت دا هم حرام وګرځولو، بل ددې حديث څخه د قبر عذاب هم ثابت شو.

د چغلی په وجه خلکو کې فساد جوړول

وعن ابن مسعود رضي الله عنه: أن النبي ﷺ قال: أَلَا أُنَبِّئُكُمْ مَا الْعَضْهُ؟ هِيَ النَّمِيمَةُ، الْقَالَةُ بَيْنَ النَّاسِ: د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته د (العضه) بيان وکړم چې عضه څه شی دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: عضه چغل خوری ته ويل کيږي چې د خلکو ترمنځ وړل کيږي. رواه مسلم

"الْعَضْهُ: بفتح العين المهملة، وإسكان الضاد المعجمة، وبالهاء على وزن الوجه، وروي العضة بكسر العين وفتح الضاد المعجمة على وزن العِدَة، وهي: الكذب والبهتان" د (العضه) لفظ په فتح د عين او په سکون د ضاد او په ها سره په وزن د (الوجه) سره دی او داسې روايت هم شوی دی چې په کسرې د عين او په فتح د ضاد په وزن د عدة ددې معنی ده، دروغ او بهتان جوړول، "وعلى الرواية الأولى: الْعَضْهُ مصدر يقال: عَضَهَهُ عَضْهاً أي: رماه بالعضه" په اولني روايت سره (عضه) مصدر دی، لکه ويل کيږي چې (عضه عضاً) په چغلی سره يې ويشتل وکړه.

تشريح: د چغل خوری ډېر ستر نقصانات دي، څکه چې ددې په وجه د دوه ملګرو او مينانو ترمنځ د تعلق ښکلی تار شليږي او د هغوی ترمنځ جنګ جوړيږي، په زړونو کې يې نفرت پيدا کيږي، بلکې د قومونو په کچه د جنګ لمبې خپريږي، چغل خور سړی خو د ځان سره وايي چې ما بس يوه خبره وکړه، ليکن په دې خبر نه وي چې ددې يوې خبرې په وجه څومره تاوان کيږي، په زړونو کې نفرت پيدا شي، خلاصه دا چې چغل خور انسان په حقيقت کې انسان نه، بلکې شيطان وي کوم چې د انسان په جامه کې راغلی وي.

باب النهي عن نقل الحديث وكلام الناس إلى ولاة الأمور إذا لم تدع إليه حاجة كخوف مفسدة ونحوه

د حکومت نه د خلکو د شکايت ممانعت

"قال الله تعالى: وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ" الله ﷻ فرمايي: په ګناه کې د يو بل مرسته مه کوئ! [المائدة: ٢]. وفي الباب الأحاديث السابقة في الباب قبله

تشريح: إثم: ګناه ته وايي، بيا برابره خبره ده چې د هغې تعلق د حقوقو سره وي يا د عباداتو سره وي، "عدوان" د حد نه تجاوز کول، مراد ترې ظلم دی، ابن کثير رحمه الله نقل کړي دي

چې: رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د يو ظالم سره د هغه د مرستې لپاره روان شو، هغه د اسلام څخه خارج شو، په دې بنياد به سلف صالحين د ظالم بادشاه د ملازمت يا کومې بلې عهدې قبلولو څخه احتراز کولو، علامه آلوسي رحمه الله فرمايي د رسول الله ﷺ ارشاد دی چې د قيامت په ورځ به اعلان وشي چې ظالمان خلک چېرته دي او د هغوی مرسته کونکي څوک دي؟ تردې چې هغه خلک به رابهر کړی شي کومو چې د ظالمانو خلکو د قلم رنګ ورته سم کړي دي، دوی ټول به د اوسپنې په يو صندوق کې راټول کړل شي او په جهنم کې به وغورځول شي.

د صحابه کرامو رضي الله عنهم شکايت کولو څخه منع فرمايل

وعن ابن مسعود رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: لا يُبَلِّغُنِي أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِي عَنْ أَحَدٍ شَيْئاً، د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې زما دملګروپه باره کې څېنې خبرې زما په وړاندې ما بيانوئ، فَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَخْرُجَ إِلَيْكُمْ وَأَنَا سَلِيمُ الصَّدْرِ ځکه چې زه دا خبره خوښه ګڼم چې زه تاسو ته راشم اوزمازړه ستاسو په باره کې صفا او مطمن وي. رواه أبوداود والترمذي.

تشريح: لا يبلغني أحد من أصحابي: ماته زما د صحابه وو باره کې څه شکايت يا بله کومه خبره مه راوړئ؛ مطلب دا چې داسې کومه خبره چې زه يې نه خوښوم ماته مه راوړئ، بل ددې حديث څخه معلومه شوه چې د خلکو د غلطيو څخه سترګې پټول پکار دي، په دې سره د مسلمانانو ترمنځ مينه محبت او اتفاق په خپل حال پاتې کيږي.

بَابُ ذَمِّ ذِي الْوَجْهَيْنِ

د دوه رخي مذمت

"قَالَ اللهُ تعالى: يَسْتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ اللهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَى مِنَ الْقَوْلِ وَكَانَ اللهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطاً" الله جل جلاله فرمايي دوی د خلکو نه ځان پټولی شي، ليکن د الله جل جلاله څخه به چېرته ځانونه پټ کړي، کله چې دوی هغه خبرې په خپل مينځ کې کوي کومې چې الله جل جلاله ته خوښې نه دي او الله جل جلاله احاطه کړې ده په هغو عملونو چې دوی يې کوي [النساء:۱۰۸].

تشريح: ددې آيت شان نزول اګرچې د خاص واقعې سره تعلق ساتي، ليکن مطلب يې عام دی: خلک د نورو خلکو څخه شرميږي، دوی چې کله کوم غلط کار کوي، نو د ځان سره وايي چې څوک به مې ويني، نو بيا به څه وايي، ليکن دا فکر نه کوي چې الله جل جلاله هر وخت درسره دی، د هغه نه به چېرته پټ شې، د خلکو څخه خو به بيا هم چېرته پټ شې، خلاصه دا چې اصل شرم د الله جل جلاله نه پکار دی کوم چې هر څه، هر وخت او په هر حالت کې ويني، د هغه نه هيڅ شی پټ نه دی، دوی د الله جل جلاله د مرضی خلاف خبرې کوي او د شپې په پټه هغه مشورې او پلانونه جوړوي چې الله جل جلاله ته ناخوښ وي، اصل واقعه دا وه چې د طعمه په نوم يو کس وو، هغه غلا وکړه او په يو يهودي يې الزام ولګولو، د طعمه قوم دا مشوره وکړه چې

د معامله به رسول الله ﷺ ته وړاندې کړو، هغوی ته به وواېو چې غلا طعمه نه ده کړې بلکې يهودي کړې ده، لکه څرنگه چې طعمه مسلمان وو، نو رسول الله ﷺ به د دوی په خبره اعتبار وکړي او يهودي خو کافر دی، لهذا د هغه خبره به وانه وري، نو په آيت کې الله ﷻ د طعمه قوم دا مشوره خوښه نه کړه.

خلک د خزانو په څېر دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: تَجِدُونَ النَّاسَ مَعَادِنَ: خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الإِسْلَامِ إِذَا فَقُهُوا" د ابو هریره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د اصل نسل خلکو کې به تاسو دا خبره ومومئ چې که هغوی د جاهليت په دوره کې غوره وو، نو په د اسلام په دوره کې به هم غوره وي په دې شرط چې دوی په دين کې هوښيار وي، "وَتَجِدُونَ خِيَارَ النَّاسِ فِي هَذَا الشَّأْنِ أَشَدَّهُمْ كَرَاهِيَةً لَهُ" او داسې غوره خلک به تاسو د حکومت او امارت لپاره سخت ناخوښه وموئ؛ "وَتَجِدُونَ شَرَّ النَّاسِ ذَا الْوَجْهَيْنِ، الَّذِي يَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ، وَهَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ" او تاسو به په ټولو خلکو کې بدترين سړي هغه وموئ چې دوه مخي وي، د يو سړي سره په يو مخ ملاويږي او د بل سړي سره په بل مخ ملاويږي. متفق عليه

تشريح: تجدون الناس معادن: ته به خلک د خزانو په څېر وموميې، مطلب دا چې د دوی اصل به يو نه وي چې د دوی نسبت به هغه طرفته کيږي کومه چې به د دوی د افتخار ذريعه وي

تجدون خيار الناس في هذا الشان اشدهم له كراهية: يعنې ځينې خلک داسې هم شته چې دوی د عهدې او چوکۍ هيڅ شوق نه لري، کله چې داسې خلکو ته کومه عهده په لاس ورشي نو بيا يې په ښه شان سر ته رسوي، څکه چې په حديث کې دي: کوم کس چې د عهدې طلب نه کوي او بيا ورته ملوؤ شي، نو د الله ﷻ مرسته ورسره وي، د پرښتو په واسطه د هغه مرسته کوي

په دې حديث کې په دوه مخي خلکو باندې سخت وعيد راغلی دی، دوه مخي خلک هغه چاته ويل کيږي چې حق خبره او حق مسئله نه بيانوي، بلکې مخامخ چې څوک ناست وي د هغه د رايې مطابق خبرې کوي، مثلاً: د زيد سره چې کيني، نو د هغه په حق کې خبره کوي او د هغه د خوښې سره سم غږيږي، خو کله چې بکر ته ورشي، نو هلته د هغه د مزاج مطابق بيانونه کوي، په يو روايت کې دي چې کوم خلک په دنيا کې دوه مخي کوي د قيامت په ورځ هغه ته په جهنم کې د جهنم دوه خولې وي.

کومې خبرې چې د زړه سره سمون نه خوري منافقت دی

"وعن محمد بن زيد: أَنَّ نَاسًا قَالُوا لِجَدِّهِ عبد الله بن عمر رضي الله عنهما: إِنَّا نَدْخُلُ عَلَى سَلَاطِينِنَا فَنَقُولُ لَهُمْ بِخِلَافِ مَا نَتَكَلَّمُ إِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِهِمْ" د محمد بن زيد رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ځينو خلکو د دوی نيکه ته چې عبد الله بن عمر رضي الله عنه دی وويل: زموږ واسطه د حاکمانو سره راځي، موږ چې د دوی سره يو، نو دوی ته يو څه وايو او کله چې د دوی نه بهر شو، نو بيا بل څه وايو، "قَالَ: كُنَّا نَعُدُّ هَذَا نِفَاقًا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ" عبد الله بن عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: داسې کارونه او خبرې به موږ د رسول الله ﷺ په زمانه کې د منافقت څخه حسابولې. رواه البخاري

تشريح: محدثين ددې حديث مطلب داسې بيانوي چې د مشرانو په وړاندې د هغوی تعريف کول او بيا پسې شا په هغوی پسې خبرې کول دېته منافقت ويل کيږي چې څه په زړه کې څه وي بايد هغه په خوله هم بيان شي، کنه نو دېته عملي منافقت او بې زړه توب ويل کيږي.

د يو نېک مسلمان تعريف دا دی چې هغه که د يو نېک بادشاه په مجلس کې کيني، نو د هغه مخامخ تعريف هم کوي او پسې شا يې هم تعريف کوي، که هغه بدکاره وي، نو د هغه په وړاندې بې هم مذمت بيانوي او د هغه په غلطو کارونو نيوکې کوي او د هغه پسې شا هم چې کله ضرورت پېښ شي دغسې رويه ورسره اختياروي.

د راوي محمد بن زيد رحمه الله حالات:

اصل نوم يې محمد رحمه الله دی، د پلار نوم يې زيد دی، د نيکه نوم يې عبد الله رضي الله عنه دی، غور نيکه نوم يې عمر رضي الله عنه دی، خپله تابعي دی. محدثينو په ثقه کې شمار کړی دی او په تابعينو کې هم شمار دی.

باب تحريم الكذب

دروغ ويل حرام دي

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى" الله جل جلاله فرمايي: "وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ" او په هغو خبرو پسې مه ګرځئ چې تاسو ته يې علم نه وي. [الإسراء:۳۶].

"وَقَالَ تَعَالٰى: مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ" الله جل جلاله فرمايي: د دوی د خولې نه يوه خبره نه وځي، مګر دا چې د هغوی سره نژدې پرښتې دي کومې چې د دوی هر عمل ليکي. [ق:۱۸].

تشريح: دا آيت وړاندې په (باب تحريم الغيبة والامر بحفظ اللسان) کې ذکر شوی دی، علامه مجاهد رحمه الله فرمايي: د آيت مطلب دا دی چې د کوم شي باره کې پوره علم او يقيني معلومات نه وي په دې سره څوک مه متهم کوئ چې خلکو ته وايي: فلاني داسې کار کړی دی او داسې يې کړي دي، علامه قتاده رحمه الله فرمايي: د آيت مطلب دا دی چې کوم کار دې چې په خپلو سترګو ليدلی نه وي هغه مه بيانوه او هره اورېدلې خبره هم مه بيانوه؛ ځکه چې هره اورېدلې خبره ربېنتونې نه وي

رښتيا ويل انسان نېکۍ طرفته راکاږي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: رښتيا ويل سړی نيکۍ ته راکاږي او نيکي انسان جنت ته راکاږي، "وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيقاً" او يو سړی تل رښتيا وايي، تردې پورې چې د الله جل جلاله سره هم ربښتونی وليکل شي. "وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّاباً" او يو سړي دروغ وايي چې دروغ سړی ګناه طرفته راکاږي او ګناه

جهنم طرفته سړی راکاږي او يو سړی تل دروغ وايي چې د الله ﷻ سره دروغجن وليکل شي. متفق عَلَيْه

تشريح: حتى يكتب عند الله صديقاً: تردې چې د الله ﷻ په نزد رښتونی وليکل شي، مطلب دا چې هغه ته د صديقيت صفت ورکړل شي بيا هغه هم ددې اوچتې درجې والا شمار شي، بل مطلب يې دا دی چې د پرښتو سره په موجوده اعمال نامه کې په کومو کې چې د خلکو اعمال ليکلی شي ددې سړي نوم پکې صديق وليکل شي، بل مطلب يې دا دی چې د دنيا خلک هغه رښتونی شمار کړي، ددې دريم مطلب تائيد د قرآن کريم ددې آيت څخه هم کيږي "إن الذين آمنوا وعملوا الصالحات سيجعل لهم الرحمن وُدًا" کومو خلکو چې ايمان راوړو او نېك اعمال يې وکړل، الله ﷻ د دوی مينه او محبت د خلکو په زړونو کې واچوي

حتى يكتب عند الله كذاباً: تردې چې د الله ﷻ په نزد د دروغجنو په لست کې شمار شي يا يې پرښتې هم په خپل دفتر کې دروغجن وليکي يا دا چې خلك ورته د دروغجن نسبت کوي، لازمي نتيجه يې دا شي چې د خلکو په نظر کې سپک شي، خلک به ترې کرکه او نفرت شروع کړي

د منافق علامې

وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: أن النبي ﷺ قال: أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ، كَانَ مُنَافِقاً خَالِصاً، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ، كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْ نِفَاقٍ حتى يَدَعَهَا: د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل. څلور خصلتونه دي چې په چا کې موجود وي هغه خالص منافق دی او په چا کې چې يو خصلت موجود وي په هغه کې د منافقت يو خصلت موجود دی تر څو چې يې هغه خصلت پرېښودلی نه وي، هغه څلور خصلتونه دا دي: "إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ، وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ" کله چې امانت ورسره کېښودل شي په هغې کې خيانت کوي، کله چې خبرې کوي دروغ وايي، کله چې وعده وکړي د وعدې مخالفت کوي او کله چې جنګ کوي، نو ښکنځل کوي. متفق عَلَيْه

وَقَدْ سبق بيانه مَعَ حديث أبي هريرة بنحوه في باب الوفاء بالعهد: ددې حديث وضاحت په (باب الوفاء بالعهد) کې تېر شوی دی.

تشريح: د ضرورت مطابق لږه تشريح به يې وکړو، په دې حديث کې د منافقت څلور علامې ښودل شوي دي: د نفاق لغوي معنی دا ده چې په زړه کې يې څه وي هغه يې په خوله نه وي، په شريعت کې نفاق دې ته وايي چې په زړه کې کفر پټ ساتي، ليکن په ژبه د اسلام چغې وهي، داسې کس ته په شريعت کې منافق ويل کيږي، په دې حديث کې د منافق څلور علامې ښودل شوي دي، په ځينو نورو رواياتو کې درې علامې بيان شوي دي، په څلورو سره د درې نفي نه کيږي يا دا چې په اول ځل رسول الله ﷺ درې بيان کړي دي بيا يې څلور بيان کړې

إذا حدث كذب: کله چې خبرې کوي، نو دروغ وايي، منافق سړی په معمولي خبره جنګ کوي، دروغ وايي او په خلکو باندې بهتان لګوي، "وإذا عاهد غدر" کله چې وعده وکړي دوکه کوي، مطلب دا چې

وعده وکړي، نو د وعدې په وخت يې نيت دا وي چې زه به وعده نه پوره کوم، بلکې د دوکې نيت يې وي، ددې نه معلومه شوه چې د چا د وعدې پوره نيت وي، ليکن بيا د څه عذر له وجې وعده پوره نه کړي، نو دا مذموم نه دی، که دا وويل شي چې دا څلور واړه خبرې خو په مسلمانانو کې هم شته نو ايا هغوی هم منافقان شول؟ جواب دا دی چې د چا دا کارونه عادت او خصلت جوړ شي، هغه به منافق وي او څوک چې يې کله نا کله وکړي، هغه منافق نه دی يا دا چې په دې حديث کې مسلمانانو ته اخطار ورکول شوی دی چې تاسو دا کارونه مه کوئ! کنه ستاسو شمار به هم په منافقانو کې وشي.

دبل خبروته غوږ نيول

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، عن النبيّ ﷺ قَالَ: مَنْ تَحَلَّمَ بِحُلْمٍ لَمْ يَرَهُ، كُلِّفَ أَنْ يَعْقِدَ بَيْنَ شَعِيرَتَيْنِ وَلَنْ يَفْعَلَ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې داسې ووايي ببکا مې خوب ليدلی دی او حال دا چې هغه خوب نه وي ليدلی، هغه به د قيامت په ورځ په دې کار مکلف کړی شي چې دوه وربشو ته په خپل منځ کې غوټه ورکړي او داسې به هيڅکله ونه کړی شي: "وَمَنِ اسْتَمَعَ إِلَى حَدِيثِ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ، صُبَّ فِي أُذُنَيْهِ الآنُكُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" او کوم کس چې يو قوم يا د يو کس خبرو ته غوږ نيسي چې خبرې يې واوري او هغوی! هغه بد ګڼي چې څوک زموږ خبرې واوري، نو د داسې کس په غوږونو کې به د قيامت په ورځ ويلې شوې سيسه واچول شي، "وَمَنْ صَوَّرَ صُورَةً عُذِّبَ وَكُلِّفَ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ" او کوم کس چې صورتونه او تصويرونه جوړوي، د قيامت په ورځ به مکلف کړی شي چې په دې صورت! انځور کې روح واچوه! خو هغه به يې پکې وانچوي. رواه البخاري

تحلم: أيْ قَالَ إِنَّهُ حلم في نومه ورأى كذا وكذا، وَهُوَ كاذب: تحلم دې ته وايي چې يو سړی ووايي: ببکا مې خوب ليدلی دی او داسې داسې مې پکې وليدل او حال دا چې څه يې هم نه وي ليدلي، نو داسې کس دروغجن دی، "والآنك بالمدّ وضم النون وتخفيف الكاف: وَهُوَ الرَّصَاصُ المذاب" (الآنك) ويلې شوې سيسې ته ويلی شي.

تشريح: من تحلم بحلم لم يره: چا چې داسې خوب بيان کړو چې ده نه وي ليدلی، (حلم) اګرچې بد خوب ته ويل کيږي، (کوم ته چې موږ شيطاني تېر ويستل وايو) ليکن دلته ترې مطلقاً خوب مراد دی، که ښه خوب وي او که بد خوب وي، کوم کس چې د خان له طرفه دروغجن خوب بيان کړي، نو داسې کس به د قيامت په ورځ په دې کار مسلط کړی شي چې اوس راشه او دوه وربشو ته په خپل منځ کې غوټه ورکړه! او حال دا چې هغه به دا کار کله هم ونه کړی شي، هغه ته به برابر عذاب ورکولی شي او دغه شان هغه کس چې نورو خلکو ته غوږ ږدي چې خبرې يې واوري او خلک يې نه خوښوي چې زموږ خبرې دې څوک واوري، نو داسې کس ته به د قيامت په ورځ په غوږونو کې ويلې شوې تانبه! سيسې واچول شي.

تر ټولو ستر / لوی دروغ

وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: قال النبي ﷺ: أفرى الفرى أن يري الرجل عينيه ما لم تريا: د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: په ټولو کې لوی دروغ دا دي چې يو سړی داسې ووايي: ښېګا مې خوب ليدلی دی او حال دا چې هغه څه هم نه وي ليدلي، "رواه البخاري، ومعناه: يقول: رأيت، فيما لم يره" ددې مطلب دا دی چې ما خوب وليدو، په هغې کې مې داسې وليدل او حال دا چې څه يې هم نه وي ليدلي.

تشريح: په دې حديث کې د دروغجن خوب بيانولو مذمت شوی دی، دېته ستر دروغ ويل شوي دي، وجه يې دا ده چې خوب د وحی يوه برخه ده، ددې تعلق د الله ﷻ سره دی، بس دروغجن خوب بيانونکی سړی داسې دی لکه نعوذ بالله چې په الله ﷻ پورې دروغ تړي.

د رسول الله ﷺ يو خوب

وعن سمرة بن جندب ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ مما يكثر أن يقول لأصحابه: هل رأى أحد منكم من رؤيا؟ فيقص عليه من شاء الله أن يقص: د سمرة بن جندب ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت مبارکه به دا وو چې کله به د سهار لمونځ وشو، نو خپلو ملګرو ته به يې فرمايل: چا کوم خوب ليدلی دی؟ نو که چا به کوم خوب ليدلی وو، رسول الله ﷺ به چې هغه ته څومره د الله ﷻ خوښه وه تعبير ورېستلو، "وإنه قال لنا ذات غداة: إنه أتاني الليلة آتيان، وإنهما قالا لي: انطلق، وإني انطلقت معهما، وإنا أتينا على رجل مضطجع، وإذا آخر قائم عليه بصخرة، وإذا هو يهوي بالصخرة لرأسه، فيثلغ رأسه، فيتدهده الحجر ها هنا" يو ورځ سهار وخت کې موږ ته رسول الله ﷺ وفرمايل: ماته د شپې دوه کسان راغلل، دواړو راته وويل: پورته خېژه: زه ورسره پورته روان شوم، موږ په يو داسې سړي باندې تېر شو چې پروت وو او بل سړی يې سر ته ولاړ وو، د هغه ولاړ سړي په لاس کې کاڼی وو، د هغه پروت سړي سر به يې په هغه کاڼي ووېشتلو، د هغه سړي سر به يې پرې وچولو، کاڼی به لرې پرېوتلو، "فيتبع الحجر فيأخذه فلا يرجع إليه حتى يصح رأسه كما كان، ثم يعود عليه، فيفعل به مثل ما فعل المرة الأولى!" هغه ولاړ سړی به کاڼي پسې لاړو، هغه به واپس نه وو راغلی چې ددې بل سړي سر به بيا روغ جوړ شوی وو، هغه به ورته بيا په کاڼي باندې سر ووېشتلو، هغسې عمل به يې ورسره کولو څنګه چې په اول ځل يې ورسره کړي وو. "قال: قلت لهما: سبحان الله! ما هذان؟" ما ووېل: پاکي ده الله ﷻ لره، دا څوک دي؟ "قالا لي انطلق انطلق، فانطلقنا، فأتينا على رجل مستلق لقفاه، وإذا آخر قائم عليه بكلوب من حديد" ماته يې ووېل: پورته خېژه! موږ پورته روان شو، ناڅاپه مې يو بل سړی وليد چې په شا مخ پروت دی او بل سړی ورسره سر ته ولاړ دی او د هغه په لاس کې د اور قينچې دي، "وإذا هو يأتي أحد شقي وجهه فيشرشر شدقه إلى قفاه، ومنخره إلى قفاه، وعينه إلى قفاه" دغه ولاړ کس راځي او د هغه پروت سړي په وونبکي کې دغه قينچې اچوي او د هغه وونبکی او مرۍ او سترګې تر شا څټ پورې څيرې کړي، "ثم يتحول إلى الجانب الآخر، فيفعل به مثل ما فعل بالجانب الأول" بيا دغه بل طرفته ورسره هم دغه شان معامله کوي، لکه څنګه چې د اولني وونبکي

سره يې وکړل، "فَمَا يَفْرُغُ مِنْ ذٰلِكَ الْجَانِبِ حَتّٰى يَصِحَّ ذٰلِكَ الْجَانِبُ كَمَا كَانَ، ثُمَّ يَعُودُ عَلَيْهِ فَيَفْعَلُ مِثْلَ مَا فَعَلَ فِي الْمَرَّةِ الْأُولٰى" د بل طرف نه فارغ نه وي چې بل طرف ورته صحيح جوړ شوی وي، لکه څنګه چې په اول ځل صحيح وو، بيا ورسره هم هغسې شان کار کوي لکه څنګه چې يې په اول ځل وکړو. "قَالَ: قُلْتُ: سُبْحَانَ اللهِ! مَا هٰذَانِ؟ قَالَا لِي: انْطَلِقِ انْطَلِقْ، فَانْطَلَقْنَا، فَأَتَيْنَا عَلٰى مِثْلِ التَّنُّورِ" ما ووېل: سبحان الله! دا څوک دي؟ ماته يې ووېل: پورته لاړ شه! موږ روان شو، نو زموږ تېرېدل په يو تنور باندې وشو، "فَأَحْسِبُ أَنَّهُ قَالَ: فَإِذَا فِيهِ لَغَطٌ، وَأَصْوَاتٌ، فَاطَّلَعْنَا فِيهِ فَإِذَا فِيهِ رِجَالٌ وَنِسَاءٌ عُرَاةٌ" راوي وايي: نبي کريم ﷺ وفرمايل چې په دې تنور کې شور وُ، موږ د غه تنور ته ښکاره شو، په هغې کې سړي او ښځې بربنډ پراته وو، "وَإِذَا هُمْ يَأْتِيهِمْ لَهَبٌ مِنْ أَسْفَلَ مِنْهُمْ، فَإِذَا أَتَاهُمْ ذٰلِكَ اللَّهَبُ ضَوْضَوْا. قُلْتُ: مَا هٰؤُلَاءِ؟ قَالَا لِي: انْطَلِقِ انْطَلِقْ، فَانْطَلَقْنَا" د لاندې څخه د اور لمبې راځي، کله چې هغه لمبه د دوی بدن ته ورسيږي نو هغوی په چغو شروع کړي، ما ووېل: دا څوک دي؟ راته يې ووېل: راځه، راځه موږ روان شو. "فَأَتَيْنَا عَلٰى نَهَرٍ حَسِبْتُ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: أَحْمَرُ مِثْلُ الدَّمِ، وَإِذَا فِي النَّهَرِ رَجُلٌ سَابِحٌ يَسْبَحُ، وَإِذَا عَلٰى شَطِّ النَّهَرِ رَجُلٌ قَدْ جَمَعَ عِنْدَهُ حِجَارَةً كَثِيرَةً" بيا زموږ تېرېدل په يو نهر باندې وشو، راوي وايي: ګومان کوم چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د هغه نهر رنګ داسې سور وو، لکه وينه، د دې نهر په مينځ کې يو سړی وي چې هغه لامبو وهي، د نهر په غاړه موږ يو دريم کس وليد چې د هغه سره ډېر زيات کاڼي پراته دي، "وَإِذَا ذٰلِكَ السَّابِحُ يَسْبَحُ، مَا يَسْبَحُ، ثُمَّ يَأْتِي ذٰلِكَ الَّذِي قَدْ جَمَعَ عِنْدَهُ الْحِجَارَةَ، فَيَفْغَرُ لَهُ فَاهُ، فَيُلْقِمُهُ حَجَرًا فَيَنْطَلِقُ فَيَسْبَحُ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَيْهِ، كُلَّمَا رَجَعَ إِلَيْهِ، فَغَرَ لَهُ فَاهُ، فَأَلْقَمَهُ حَجَرًا" لامبو وهونکی سړی چې به کله د نهر غاړې ته رانژدې شو چې پورته وخيژي، هغه د غاړې سړي به د هغه په خوله کې يو کاڼی ورګزار کړو، هغه به يې بيا د نهر مينځ ته وغورځولو. هغه به بيا د نهر غاړې ته راغلو. بيا به د هغه په خوله کې کاڼی ورويشتل شو او د نهر مينځ ته به ورګزار کړی شو، دغسې عمل به ورسره کېدو. "قُلْتُ لَهُمَا: مَا هٰذَانِ؟ قَالَا لِي: انْطَلِقِ انْطَلِقْ، فَانْطَلَقْنَا، فَأَتَيْنَا عَلٰى رَجُلٍ كَرِيهِ الْمَرْآةِ، أَوْ كَأَكْرَهِ مَا أَنْتَ رَاءٍ رَجُلًا مَرْآىً، فَإِذَا هُوَ عِنْدَهُ نَارٌ يَحُشُّهَا وَيَسْعٰى حَوْلَهَا" ما ووېل: دا څوک دی؟ هغوی راته ووېل: مخکې ځه! موږ مخکې روان شو، مخکې مو داسې يو سړی وليد چې د هغه دومره بد صورت وو چې داسې بد صورت به چېرته تاسو نه وي ليدلی، د هغه نه شاوخوا شغله وهونکی اور او لمبې تاوېدې، "قُلْتُ لَهُمَا: مَا هٰذَا؟ قَالَا لِي: انْطَلِقِ انْطَلِقْ، فَانْطَلَقْنَا، فَأَتَيْنَا عَلٰى رَوْضَةٍ مُعْتَمَّةٍ فِيهَا مِنْ كُلِّ نَوْرِ الرَّبِيعِ، وَإِذَا بَيْنَ ظَهْرَيِ الرَّوْضَةِ رَجُلٌ طَوِيلٌ لَا أَكَادُ أَرٰى رَأْسَهُ طُولًا فِي السَّمَاءِ" ما ووېل: دا څوک دی؟ هغوی راته ووېل: مخکې ځه! موږ مخکې روان شو، نو په يوه ښه باغيچه باندې زموږ تېرېدل وشو، په هغې کې د پسرلي د موسم ګلونه سپړل شوي وو، په دې باغيچه کې يو سړی دومره دنګ وو چې د هغه سر ډېر اوچتوالي له وجې موږ نه شو ليدلی، "وَإِذَا حَوْلَ الرَّجُلِ مِنْ أَكْثَرِ وِلْدَانٍ رَأَيْتُهُمْ قَطُّ، قُلْتُ: مَا هٰذَا؟ وَمَا هٰؤُلَاءِ؟ قَالَا لِي: انْطَلِقِ انْطَلِقْ، فَانْطَلَقْنَا" د دغه سړي سره ګېر چاپېره ډېر زيات ماشومان ناست وو، دومره زيات چې چېرته دومره مانه وو ليدلي، ما ووېل: دا څوک دي او دا ماشومان څوک دي؟ هغوی راته ووېل: مخکې ځه! موږ مخکې روان شو، "فَأَتَيْنَا إِلٰى دَوْحَةٍ عَظِيمَةٍ لَمْ أَرَ دَوْحَةً قَطُّ أَعْظَمَ مِنْهَا، وَلَا أَحْسَنَ! قَالَا لِي: ارْقَ فِيهَا، فَارْتَقَيْنَا فِيهَا إِلٰى مَدِينَةٍ مَبْنِيَّةٍ بِلَبِنِ ذَهَبٍ وَلَبِنِ فِضَّةٍ، فَأَتَيْنَا بَابَ الْمَدِينَةِ فَاسْتَفْتَحْنَا، فَفُتِحَ لَنَا

فَدَخَلْنَاهَا" موږ چې مخکې روان شو، نو مخه کې راته يوه ډېره لويه او ښايسته ونه راغله. دومره لويه او ښايسته ونه ما چېرته نه وه ليدلې، ماته وويل شو چې پورته وخېژه! موږ پورته وختلو چې پورته وختلو، نو هلته يو ښار ته ورسېدلو چې د هغې خښتې د سرو او سپينو نه جوړې دي، موږ د دغه ښار دروازې ته راورسېدلو، موږ دروازه ټک ټک کړه. نو راته خلاصه شوه، موږ داخل ته ورغلو، "فَتَلَقَّانَا رِجَالٌ شَطْرٌ مِنْ خَلْقِهِمْ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ! وَشَطْرٌ مِنْهُمْ كَأَقْبَحِ مَا أَنْتَ رَاءٍ! قَالَا لَهُمْ: اذْهَبُوا فَقَعُوا فِي ذَلِكَ النَّهَرِ، وَإِذَا هُوَ نَهَرٌ مُعْتَرِضٌ يَجْرِي كَأَنَّ مَاءَهُ الْمَحْضُ فِي الْبَيَاضِ، فَذَهَبُوا فَوَقَعُوا فِيهِ. ثُمَّ رَجَعُوا إِلَيْنَا قَدْ ذَهَبَ ذَلِكَ السُّوءُ عَنْهُمْ، فَصَارُوا فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ" زموږ سره په دې ښار کې يو څه خلکو ملاقات وکړو، يو قسم يې ډېر زيات ښکلي وو، ددې نه مخکې به تا چېرته داسې خلك نه وو ليدلي، دويم قسم يې داسې بد صورته خلك وو چې داسې بد صورته خلك به تا چېرته نه وو ليدلي، ددې تور صورت والا باره کې وويل شو چې دوی بوځئ! په دې نهر کې ورته غوپه ورکړئ، په هغه نهر کې تکې سپينې صفا اوبه روانې وې، په هغې کې يې چې غوپه ووهل، نو هغه تور والې ترې لاړو، د دوی صورتونه ښکلي شو، "قَالَ: قَالَا لِي: هَذِهِ جَنَّةُ عَدْنٍ، وَهَذَاكَ مَنْزِلُكَ، فَسَمَا بَصَرِي صُعُدًا، فَإِذَا قَصْرٌ مِثْلُ الرَّبَابَةِ الْبَيْضَاءِ، قَالَا لِي: هَذَاكَ مَنْزِلُكَ؟ قُلْتُ لَهُمَا: بَارَكَ اللهُ فِيكُمَا، فَذَرَانِي فَأَدْخُلَهُ. قَالَا لِي: أَمَّا الْآنَ فَلَا، وَأَنْتَ دَاخِلُهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ماته وويل شو چې دا جنت عدن دی او دا ستا منزل دی، ما پورته وکتل چې د سپينې وريځې په شان يو شاندار محل په نظر راغلو، راته وويل شو چې دا ستا کور دی، ما ورته وويل: الله ﷻ دې تاسو برکتي کړي، ما پرېږدئ چې ورداخل شم، د داخل څخه يې وګورم، هغوی راته وويل: د پته اوس نه شې ورداخلېدلی، خو داخلېږئ به ورته ضرور، "قُلْتُ لَهُمَا: فَإِنِّي رَأَيْتُ مُنْذُ اللَّيْلَةِ عَجَبًا؟ فَمَا هَذَا الَّذِي رَأَيْتُ؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ما هغوی دواړو ته وويل: ما خو نن شپه عجيبه کارونه وليدل. ددې متعلق بيان خو راته وکړئ؟ دا څه وو چې ما وليدل؟ "قَالَا لِي: أَمَا إِنَّا سَنُخْبِرُكَ: أَمَّا الرَّجُلُ الْأَوَّلُ الَّذِي أَتَيْتَ عَلَيْهِ يُثْلَغُ رَأْسُهُ بِالْحَجَرِ، فَإِنَّهُ الرَّجُلُ يَأْخُذُ الْقُرْآنَ فَيَرْفُضُهُ، وَيَنَامُ عَنِ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ" هغوی راته وويل: اوس به تاته د هغې معلومات درکړو، هغه اولنی سړی چې سر يې په کاڼي چخړې کېدلو، دا هغه سړی وو چې قرآن يې ياد کړو، بيا يې هېر کړو او د فرض لمانځه نه به چې ويده شو، لمونځ به يې نه کولو. "وَأَمَّا الرَّجُلُ الَّذِي أَتَيْتَ عَلَيْهِ يُشَرْشَرُ شِدْقُهُ إِلَى قَفَاهُ، وَمَنْخِرُهُ إِلَى قَفَاهُ، وَعَيْنُهُ إِلَى قَفَاهُ، فَإِنَّهُ الرَّجُلُ يَغْدُو مِنْ بَيْتِهِ فَيَكْذِبُ الْكِذْبَةَ تَبْلُغُ الْآفَاقَ" او هغه سړی چې وښکې، مرۍ او سترګې به يې تر څټ پورې څيرې کولی شوې، دا هغه سړی وو چې سهار وختې به يې دروغ ويل شروع کړه تردې چې دا دروغ به په ټولو خلکو کې خپاره شول، "وَأَمَّا الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ الْعُرَاةُ الَّذِينَ هُمْ فِي مِثْلِ بِنَاءِ التَّنُّورِ، فَإِنَّهُمُ الزُّنَاةُ وَالزَّوَانِي" او تاسو چې په تنور کې کوم بربنډ سړي او ښځې وليدل هغه زنا کار سړی او زنا کارې ښځې وې، "وأما الرجل الذي أتيت عليه يَسْبَحُ في النهر، ويلقم الحجارة، فإنه آكل الربا" او هغه کس چې په نهر کې ولاړ وو او په کاڼي ويشتل کېدو هغه سود خور وو، "وَأَمَّا الرَّجُلُ الْكَرِيهُ الْمَرْآةِ الَّذِي عِنْدَ النَّارِ يَحُشُّهَا وَيَسْعَى حَوْلَهَا، فَإِنَّهُ مَالِكٌ خَازِنُ جَهَنَّمَ" او هغه بد صورته سړی چې د اور لمبې د هغه نه ګېرچاپېره تاوېدې هغه د جهنم چوکيدار وو، د دوزخ شاوخوا به راتاوېدو، "وَأَمَّا الرَّجُلُ الطَّوِيلُ الَّذِي فِي الرَّوْضَةِ، فَإِنَّهُ

ابراهيم ﷺ، وأمّا الولدان الّذين حوله، فكلّ مولود مات على الفطرة" او هغه دنګ سړی ابراهيم عليه السلام وو او د هغه سره شاوخوا هغه ماشومان دي چې په فطرت باندې مړه شوي دي، "وفي رواية البرقاني: وُلِد على الفطرة" او د برقاني په يو روايت کې دي چې کوم په فطرت باندې پيدا شوي دي، "فقال بعض المسلمين: يا رسول الله، وأولاد المشركين فقال رسول الله ﷺ: وأولادُ المشركين" يو صحابي پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ! د مشرکانو د اولاد سره به څه کيږي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د مشرکانو بچي به هم د دوی سره وي، "وأمّا القوم الّذين كانوا شطرٌ منهم حسنٌ، وشطرٌ منهم قبيحٌ، فإنّهم قومٌ خلطوا عملاً صالحاً وآخر سيّئاً، تجاوز الله عنهم" او کوم خلك چې نيمايي ښايسته وو او نيمايي بد شکله وو، نو دا هغه خلك وو چې د نېکو عملونو سره به يې نور بد عملونه هم شامل کړي وو، نو الله ﷻ دوی ته معافي وکړه. رواه البخاري

وفي رواية له: رأيتُ اللّيلة رجلين أتياني فأخرجاني إلى أرض مقدّسةٍ ثمّ ذكره وقال: فانطلقنا إلى نقبٍ مثل التّنّور، أعلاه ضيّق وأسفله واسعٌ، يتوقّد تحته ناراً: او په يو بل روايت کې داسې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د شپې مي وليدل چې دوه سړي ماته راغلل، زه يې يوې مقدسې ځمکې ته رابهر کړم، نبي کريم ﷺ وفرمايل: موږ بيا روان شو، داسې کندې ته ورسېدلو چې د پورته طرف څخه تنګه وه او لاندې طرف څخه ښه فراخه وه، "فإذا ارتفعت ارتفعوا حتّى كادوا أن يخرجوا، وإذا خمدت رجعوا فيها، وفيها رجالٌ ونساءٌ عراةٌ" کله چې به د اور لمبه پورته طرفته راوختل، نو خلك به هم پکې راوختل، نزدې وه چې خلک راولوېږي، او کله چې به لاندې طرفته لاړل، نو خلك به هم پکې لاندې طرفته شول، په دې کنده کې بربنډ سړي او ښځې وې، "وفيها: حتّى أتينا على نهرٍ من دمٍ ولم يشكّ فيه رجلٌ قائمٌ على وسط النّهر وعلى شطّ النّهر رجلٌ، وبين يديه حجارةٌ" او په دې روايت کې دا هم شته چې بيا موږ په يو داسې نهر باندې راغلو چې د وينو نه ډك وو، په دې کې هيڅ شك نشته، د دې نهر په مينځ کې يو کس ولاړ وو او د نهر په غاړه يو سړی ولاړ وو او د هغه سره ډېر زيات کاڼي پراته وو، "فأقبل الرجل الذي في النّهر، فإذا أراد أن يخرج رمى الرّجل بحجرٍ في فيه، فردّه حيث كان، فجعل كلّما جاء ليخرج جعل يرمي في فيه بحجرٍ فيرجع كما كان" هغه کس چې په نهر کې ولاړ وو، هغه بهر ته د راوتلو کوشش وکړو، په دې کې هغه کس چې د نهر په غاړه ولاړ وو، هغه په کاڼي باندې وويشتلو، نو په هغه ځای کې بې وغورځولو کوم ځای نه چې روان شوی وو، بس دا معامله شروع وه، کله چې به هغه بهر ته راووتلو، نو هغه به په کاڼو وويشتلو او خپل ځای ته به بې ورسولو، "وفيها: فصعدا بي الشّجرة فأدخلاني داراً لم أر قطّ أحسن منها، فيها رجالٌ شيوخٌ وشبابٌ" په دې روايت کې دا هم شته چې بيا يې زه يوې ونې ته وخېژولم په هغې کې مي داسې کور وليدو چې دومره ښکلی کور ما چېرته نه وو ليدلی، په دې کور کې ډېر زيات بوډاګان سړي او ځوانان ناست وو، "وفيها: الّذي رأيته يشقّ شدقه فكذّابٌ، يحدّث بالكذبة فتحمل عنه حتّى تبلغ الآفاق، فيصنع به ما رأيت إلى يوم القيامة" په دې روايت کې دا هم شته چې هغه سړی کوم چې وښکې شکولی شو، نو هغه دروغجن سړی وو کوم چې به دروغ ويل، نو خلکو به هغه دروغ په خپل منځ کې افشاء کړل، په ده باندې به تر قيامته پورې داسې عمل کيږي، لکه څنګه چې تا اوس وليدو، "وفيها: الّذي رأيته يشدخ رأسه فرجلٌ علّمه الله القرآن، فنام عنه

بِاللَّيْلِ، وَلَمْ يَعْمَلْ فِيهِ بِالنَّهَارِ، فَيُفْعَلُ بِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ" په دې روايت کې دا هم شته چې د کوم کس سر شلېدلو او چخړې کولی شو، نو دا هغه قاري وو چې قرآن کريم يې ياد کړی وو، د شپې به د تلاوت نه ويده شو او د ورځې به يې پرې عمل نه کولو، نو ده ته به هم هغه سزا تر قيامته پورې ورکولی شي کومه چې ته ګورې، "وَالدَّارُ الْأُولَى الَّتِي دَخَلْتَ دَارُ عَامَّةِ الْمُؤْمِنِينَ، وَأَمَّا هٰذِهِ الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ، وَأَنَا جِبْرِيلُ، وَهٰذَا مِيكَائِيلُ، فَارْفَعْ رَأْسَكَ" او هغه کور چې تاسو ورته داخل شوئ هغه کور د عامو مسلمانانو دی او دغه کور د شهيدانو لپاره دی او زه جبرئيل عليه السلام يم او دغه زما سره ملګری ميکائيل عليه السلام دی، ماته وويل شو چې پورته سر اوچت کړه! "فَرَفَعْتُ رَأْسِي، فَإِذَا فَوْقِي مِثْلُ السَّحَابِ، قَالَا: ذَاكَ مَنْزِلُكَ، قُلْتُ: دَعَانِي أَدْخُلْ مَنْزِلِي، قَالَا: إِنَّهُ بَقِيَ لَكَ عُمُرٌ لَمْ تَسْتَكْمِلْهُ فَلَوِ اسْتَكْمَلْتَهُ أَتَيْتَ مَنْزِلَكَ" نو ما خپل سر پورته کړو چې پورته مې وکتل نو پورته مې وريځ غوندې وليدل، ماته وويل شو چې دا ستا کور دی، ما ورته وويل: ما پرېږدئ چې زه ورداخل شم، هغوی راته وويل: نه لا تر اوسه ستا عمر باقي دی، که چېرته دي هغه مکمل کړی وای، نو اوس به تاسو خپل منزل ته داخل شوي وای. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

قَوْله: يَثْلَغُ رَأْسَهُ هُوَ بِالثَّاءِ الْمُثَلَّثَةِ وَالْغَيْنِ الْمُعْجَمَة، أَيْ: يَشْدَخُهُ وَيَشُقُّهُ: (يثلغ راسه) معنی يې ده: شلول او څيرې کول. "قوله: يَتَدَهْدَهُ أَيْ: يَتَدَحْرَجُ" دا قول چې (يتدهده) ددې معنی ده: رغړېدل.

وَالْكَلُّوبُ بِفَتْحِ الْكَافِ وَضَمِّ اللَّامِ الْمُشَدَّدَة، وَهُوَ مَعْرُوف: (الکلوب) ددې معنی ده: قينچي

قَوْله: فَيُشَرْشِرُ أَيْ: يُقَطِّعُ: (فيشرشر) ددې معنی ده: قطع کول/ پرې کول

قَوْله: ضَوْضَوْا وَهُوَ بِضَادَيْنِ مُعْجَمَتَيْنِ: أَيْ صَاحُوا: (ضوضوا) ددې معنی ده: چيغې وهل.

قَوْله: فَيَفْغَرُ هُوَ بِالْفَاءِ وَالْغَيْنِ الْمُعْجَمَة، أَيْ: يَفْتَحُ: (فيفغر) ددې معنی ده: خلاصېدل

قَوْله الْمَرْآةُ هُوَ بِفَتْحِ الْمِيمِ، أَيْ: الْمَنْظَرُ: (المنظر) ددې معنی ده: ليدل/ نظر کول

قَوْله: يَحُشُّهَا هُوَ بِفَتْحِ الْيَاءِ وَضَمِّ الْحَاءِ الْمُهْمَلَةِ وَالشِّينِ الْمُعْجَمَة، أَيْ: يُوقِدُهَا: (يحشها) ددې معنی ده: اور بلول

قَوْله: رَوْضَةٌ مُعْتَمَّةٌ هُوَ بِضَمِّ الْمِيمِ وَإِسْكَانِ الْعَيْنِ وَفَتْحِ التَّاءِ وَتَشْدِيدِ الْمِيمِ، أَيْ: وَافِيَةُ النَّبَاتِ طَوِيلَتُه: (روضة معتمة) ددې معنی ده: هغه باغيچه چې ډېرې زياتې ونې پکې وي او ورېدې ځانګې يې وي.

قَوْلُهُ: دَوْحَةٌ وَهِيَ بِفَتْحِ الدَّالِ وَإِسْكَانِ الْوَاوِ وَبِالْحَاءِ الْمُهْمَلَة: وَهِيَ الشَّجَرَةُ الْكَبِيرَةُ: دا قول چې دوحة ددې معنی ده لويه ونه.

قَوْلُهُ: الْمَحْضُ هُوَ بِفَتْحِ الْمِيمِ وَإِسْكَانِ الْحَاءِ الْمُهْمَلَةِ وَبِالضَّادِ الْمُعْجَمَة، وَهُوَ: اللَّبَنُ: (المحض) ددې معنی ده صفا او سپيني شيدې

قَوْلُهُ فَسَمَا بَصَرِي أَيْ: ارْتَفَعَ: (فسما بصري) ددې معنی ده: زما سترګې اوچتې شوې

وَصُعُدًا بِضَمِّ الصَّادِ وَالْعَيْنِ، أَيْ: مُرْتَفِعًا: (صعدا) ددې معنی ده: اوچت ځای

وَالرَّبَابَةُ بِفَتْحِ الرَّاءِ وَبِالْبَاءِ الْمُوَحَّدَةِ مُكَرَّرَةً وَهِيَ: السَّحَابَةُ: (الربابة) ددې معنی ده: وريځ

تشریح: **وعاد رأسه كما كان:** سر بې بېرته هغه شانته شي لکه څرنګه چې وړاندې صحیح سلامت وو، دا عذاب به هغه چاته ورکولی شي چې قرآن کریم يې ويلی وي لیکن بیا يې د ورځې نه پرې عمل کړی وي او نه يې د شپې تلاوت کړی وي، عبادت کوونکي خلك عام طور د قرآن کریم تلاوت د شپې له خوا کوي، نو ځکه دغه د شپې سره ذکر کړو او د ژوند عام طور حرکت او د عمل تعلق د ورځې سره وي، نو په قرآن کریم باندې د عمل کولو موقع انسان ته د ورځې په لاس ورځي، نو ځکه يې د عمل ذکر د ورځې سره وکړو.

ملا علي قاري رحمه الله فرمایي: چاته چې د قرآن کریم نعمت حاصل شو او بیا يې نه پرې عمل وکړو او نه يې د تلاوت اهتمام وکړو، نو ده ددې لوی دولت او عظیمې سرمایې ناقدري وکړه، بل دا چې چا په قرآن کریم **عمل** وکړو، لکه هغه چې ددې تلاوت هم وکړو او څوك چې خالص تلاوت کوي عمل پرې نه کوي، نو هغه داسې دی لکه بیخي چې يې **عمل** پرې نه وي کړی، ځکه چې د قرآن کریم اصل مقصود په ده باندې **عمل** دی، په دې حدیث کې د نورو ډېرو بدو عملونو بدلې سزاګانې ذکر شوي دي، مثلاً: په فرض لمونځ کې د سستی سزا، د دروغو سزا، د بد کاری سزا، د سود خوری سزا، دا ټولې سزاګانې الله ﷻ د معراج په شپه کې رسول الله ﷺ ته وښودلې او د نېك عمل بدله يې د جنت په صورت کې هم ورو ښودل، معلومه شوه چې الله ﷻ د عذاب لپاره جهنم او د نعمتونو لپاره جنت تیار کړی دی.

د حدیث څخه د امام صاحب رحمه الله استنباط:

ددې حدیث څخه امام نووي رحمه الله دغه مسئلې مستنبط کړي دي.

(۱) د امام لپاره مستحب دي چې د سهار سنتو نه وروسته مقتدیانو ته مخ واړوي، (۲) بل دا هم مستحب دي چې هغه دې د مقتدیانو نه د هغوی د خوبونو پوښتنې وکړي، (۳) بل دا هم مستحب دي چې د خوب تعبیر ویستونکی به د ورځې په شروع کې تعبیر وباسي

باب بیان مَا یجوز من الکذب

په کوموځایونوکې چې دروغ جائز دي

اعلَمْ أَنَّ الكَذِبَ، وإنْ كَانَ أَصْلُهُ مُحَرَّماً، فَيَجُوزُ في بَعْضِ الأَحْوَالِ بِشُرُوطٍ قَدْ أَوْضَحْتُهَا في كتاب: "الأَذْكَارِ": په دې خبرډ ځان پوه کړه چې دروغ اصلاً ناجائز او حرام عمل دی، لیکن ځینې ځایونه داسې دي چې په څه شرطونو سره دروغ ویل پکې جائز دي کوم چې ما مخکې په کتاب الأذکار کې په پوره وضاحت سره ذکر کړي دي "وَمُخْتَصَرُ ذَلِكَ: أَنَّ الكَلاَمَ وَسِيلَةٌ إِلَى المَقَاصِدِ، فَكُلُّ مَقْصُودٍ مَحْمُودٍ يُمْكِنُ تَحْصِيلُهُ بِغَيْرِ الكَذِبِ يَحْرُمُ الكَذِبُ فِيهِ، وإنْ لَمْ يُمْكِنْ تَحْصِيلُهُ إِلاَّ بِالكَذِبِ، جَازَ الكَذِبُ" خلاصه د خبرې دا ده چې د سړي خپل مقصد ته رسېدو لپاره خبرې يوه وسیله او ذریعه ده، هر مقصود او صحیح کار چې د دروغو څخه بغیر حاصلیږي، په هغې کې دروغ ویل حرام او ګناه ده او که چېرته د هغې حصول د دروغو څخه بغیر ناممکن وي، نو بیا دروغ

ويل جائز دي. "ثُمَّ إِنْ كَانَ تَحْصِيلُ ذٰلِكَ الْمَقْصُودِ مُبَاحًا كَانَ الْكَذِبُ مُبَاحًا، وَإِنْ كَانَ وَاجِبًا، كَانَ الْكَذِبُ وَاجِبًا. فَإِذَا اخْتَفَى مُسْلِمٌ مِنْ ظَالِمٍ يُرِيدُ قَتْلَهُ، أَوْ أَخْذَ مَالِهِ وَأَخْفَى مَالَهُ وَسُئِلَ إِنْسَانٌ عَنْهُ، وَجَبَ الْكَذِبُ بِإِخْفَائِهِ" بيا په دې خبره ښه خان پوه کړه چې که اصلي مقصد مباح وي، نو بيا دروغ ويل هم مباح دي او که اصلي مقصد واجب وي، نو دروغ ويل هم واجب دي او که يو مسلمان سړی د يو ظالم نه ويرېږي چې ما به قتل کړي او يا به رانه مال واخلي او خپل مال يې د چا سره پټ کېښودلو او يا د کوم سړي په باره کې دده نه پوښتنه وشوه چې څه شو او هغه کس وژني يا ترې مال اخلي، نو دروغ ويل واجب دي. "وَكَذَا لَوْ كَانَ عِنْدَهُ وَدِيعَةٌ، وَأَرَادَ ظَالِمٌ أَخْذَهَا، وَجَبَ الْكَذِبُ بِإِخْفَائِهَا" او دغه شان که چېرته دده امانت پروت وي او ظالم سړی يې ترې په زوره واخلي په هغه باندې واجب دي چې دروغ ووايي چې زما سره امانت نشته. "وَالْأَحْوَطُ فِي هٰذَا كُلِّهِ أَنْ يُوَرِّيَ. وَمَعْنَى التَّوْرِيَةِ" ليکن بايد چې احتياط وکړی شي او په داسې صورتونو کې توريه وکړي او د توريه طريقه دا ده چې: "أَنْ يَقْصِدَ بِعِبَارَتِهِ مَقْصُودًا صَحِيحًا لَيْسَ هُوَ كَاذِبًا بِالنِّسْبَةِ إِلَيْهِ، وَإِنْ كَانَ كَاذِبًا فِي ظَاهِرِ اللَّفْظِ، وَبِالنِّسْبَةِ إِلَى مَا يَفْهَمُهُ الْمُخَاطَبُ" داسې ګول مول خبره وکړي چې د مقصد په لحاظ سره هغه الفاظ صحيح وي، ليکن د ظاهر په لحاظ سره دروغ معلومېږي يا مخاطب د خپل فهم او پوهې نه غلط مطلب واخلي. "وَلَوْ تَرَكَ التَّوْرِيَةَ وَأَطْلَقَ عِبَارَةَ الْكَذِبِ، فَلَيْسَ بِحَرَامٍ فِي هٰذَا الْحَالِ" او که چېرته يې توريه پرېښودل او په صفا الفاظو سره يې دروغ وويل، نو بيا هم په داسې حالت کې حرام نه دي.

وَاسْتَدَلَّ الْعُلَمَاءُ بِجَوَازِ الْكَذِبِ فِي هٰذَا الْحَالِ بِحَدِيثِ أُمِّ كُلْثُومٍ رضي الله عنها، أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ ﷺ، يَقُولُ: لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ، فَيَنْمِي خَيْرًا أَوْ يَقُولُ خَيْرًا: علماوو رحمهم الله په داسې حالت کې دروغ ويلو باندې دليل د ام کلثوم رضي الله عنها د حديث نه نيولی دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: په دروغجنوالي کې هغه نه راځي چې يو کس د دوه کسانو ترمنځ سوله، صلح کوي او د دواړو يو ځای کولو د خپل ځان له طرفه ښه خبره جوړه کړي. متفق عليه

زاد مسلم في رواية: قالت أم كلثوم: وَلَمْ أَسْمَعْهُ يُرَخِّصُ فِي شَيْءٍ مِمَّا يَقُولُ النَّاسُ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ، تَعْنِي: د امام مسلم رحمه الله په يو روايت کې څه زياتې خبره هم شته هغه دا چې ام کلثوم رضي الله عنها وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ څخه نه دي اورېدلي چې خلکو ته يې په خبر ورکولو کې د درې موقعو نه سېوا په بل کوم ځای کې د دروغو اجازه ورکړې وي او هغه درې ځايونه دا دي: "الْحَرْبُ، وَالْإِصْلَاحُ بَيْنَ النَّاسِ، وَحَدِيثُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ، وَحَدِيثُ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا" په جهاد کې، بل د خلکو په مينځ کې د اصلاح کولو په کوشش کې او بل د سړي دروغ ښځې ته او د ښځې دروغ سړي ته، يعني که ښځه توره وي او سړی ورته ووايي چې ته سپينه سپوږمۍ يې، نو دا په دروغو کې نه راځي.

تشريح: يصلح بين الناس: د خلکو ترمنځ چې صلح، سوله کوي، علامه قطب الدين رحمه الله ددې مطلب داسې بيان کړی دی چې کله د دوه کسانو ترمنځ جګړه وشي، نو دريم کس ته پکار دي چې هغه ددې دواړو سره ځان ځانته داسې خبرې وکړي چې د دوی دواړو ترمينځ د صلح جذبات پيدا شي

اګرچې هغه خبرې هغوی کړې هم نه وي، مثلاً: منځګړی/ درېمګړی یو کس ته ورشي او ورته ووايي هغه خو ستا په حق کې ډېر خير خواه دی، ستا په باره کې يې ډېر تعريفونه کول وغيره وغيره...

"الحرب" هغه به د جنګ پر مهال داسې خبرې کوي چې د مسلمانانو د طاقت او قوت اظهار پکې وشي، د خپل اسلامي لښکر مجاهدينو حوصلې به پکې لوړې ساتي او د دښمن د کمزورۍ اظهار به پکې کوي، مثلاً: هغه خپلو ملګرو ته ووايي: زموږ د لښکر دومره زيات تعداد دی چې د دښمن لښکر ددې په مقابل کې هيڅ شی نه دی، "حديث الرجل إمرأته" دغه ډول خاوند د خپلې مېرمنې سره يا مېرمن د خپل خاوند سره د مينې او محبت زياتولو په خاطر او د محبت اظهار لپاره څه ووايي کوم چې د حقيقت نه اګرچې خلاف وي او ددې نه يې مقصود دا وي چې په خپل مينځ کې مينه او محبت زيات شي، مثلاً: خاوند خپلې مېرمنې ته ووايي: ته خو د سپوږمۍ نه هم زياته ښکلې يې، په حقيقت کې هغه داسې ښکلې او ښائسته نه وي.

باب الحثّ على التثبت فيما يقوله ويحكيه

د تحقيق نه وروسته د خبرو کولو اجازت شته

"قَالَ اللهُ تعالى: ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ﴾" الله ﷻ فرمايي: په هغه خبرو پسې مه روانيږه د کومو متعلق چې تاته معلومات نه وي. [الإسراء:۳۶]

تشريح: ددې آيت تفسير وړاندې ذکر شوی دی، خلاصه دا چې د يوې خبرې پوره علم او تحقيق دې نه وي کړی، د هغې تذکره خلکو ته کول ګناه ده. مفسرين رحمهم الله دلته د مجاهد رحمه الله يو قول نقل کوي، فرمايي چې تر څو د يوې خبرې پوره علم درته حاصل شوی نه وي او نه دې پکې تحقيق کړی وي، نو خوشې په چا باندې الزام لګول پکار نه دي، چاته چې څه خبره کوې نو اول د هغې خبرې تحقيق وکړه چې ايا دا خبره صحيح هم ده او که نه، لکه څرنګه چې په يو روايت کې دي: د يو کس د دروغجنوالي لپاره دا خبره کافي ده چې هغه څه اوري بس خلکو ته يې بيانوي.

"وقَالَ تعالى: ﴿مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ﴾" الله ﷻ فرمايي: دوی يوه خبره هم نه کوي مګر دا چې د دوی سره نژدې پرښتې ناستې دي، د دوی هر عمل ليکي. [ق:۱۸].

تشريح: دا آيت څو ځله وړاندې ذکر شوی دی، مطلب دا چې هره خبره يا جمله چې ته يې د خولې نه وباسې، هغه ليکل کيږي، داسې مه وايه چې بس يوه خبره وه د خولې څخه ووتل، څه به نه وي، ستا يو يو حرف او يوه يوه جمله ليکل کيږي، د خبرو تول کول پکار دي چې ايا د شريعت سره خو به په ټکر کې نه وي، د هرې خبرې پوره پوره حساب کتاب به ورکوې، د ځينو اکابرو مشرانو څخه منقول دي چې هغوی به کله هم څه خبرې وکړې نو بيا به يې وليکل چې ګورئ په دې کې کومه يوه خبره ضروري وه او کومه غير ضروري وه.

هره اورېدلې خبره ويل هم ګناه ده

وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: كَفَى بِالمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ: د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د سړي د دروغجنوالي لپاره بس همدا خبره کافي ده چې هغه هر هغه څه وايي کوم څه يې چې اورېدلي وي. رواه مسلم

تشريح: ددې حديث مضمون په قرآن کريم کې هم شته: "إذا جاءهم أمر من الأمن أو الخوف أذاعوا به ولوردوه إلى الرسول وإلى أولي الأمر منهم لعلمه الذين يستنبطونه منهم" کله چې دوى ته څه خبر ورسيږي، برابره خبره ده چې هغه د امن وي يا د وېرې خبره وي، نو هغوى دا خبره مشهوره کړي که هغوى دا خبره رسول الله ﷺ ته راوړې واى او کوم چې په دوى کې اولي الامر (مجتهدين امام) دي، نو هغوى به پرې پوه شوي واى کوم چې په دوى کې تحقيق کونکي وو، علامه ابن کثير رحمه الله ددې آيت باره کې فرمايي: "إنكار على من يبادر إلى قبل تحققها ويفشيها وينشرها وقد لا يكون لها صحة" په دې آيت کې انکار دى د هغو خلکو په طرز عمل باندې چې بې ثبوته خبرې خلکو ته کوي او ډېر زر خبر خپروي، ځکه چې داسې خبرې اکثره غلطې وي.

دغه شان په يو بل ځاى کې ارشاد دى: "يا أيها الذين آمنوا إن جاءكم فاسق بنبإ فتبينوا أن تصيبوا قوما بجهالة فتصبحوا على ما فعلتم نادمين" اې مؤمنانو! که يو فاسق سړى تاسو ته کومه خبره راوړي، نو ښه تحقيق پکې کوئ! هسې نه چې کوم قوم ته ستاسو دلاسه تکليف ورسيږي، بيا به په خپلو کړو باندې پښېمانه يئ، ددې حديث څخه دا مسئله ثابته شوه: تر هغه پورې يوه خبره يا کار مه کوئ تر څو چې د هغې تحقيق نه وي شوى، که په دې اصولو باندې عمل وشي، نو د ډېرو جنګونو څخه به خلاص شو، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: بې تحقيقه خبره کول پکار نه دي، ځکه چې په بې تحقيقه خبرې سره اکثر وخت انسان د دروغو په ګناه کې مبتلا کيږي، خلاصه دا شوه چې بې تحقيقه خبره کول پکار نه دي، نه خپله پرې عمل کول پکار دي او نه يې بل ته رسول پکار دي، نه يې هم تصديق کول پکار دي

په پيغمبر ﷺ باندې دروغ تړل سخته ګناه ده

وعن سَمُرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَنْ حَدَّثَ عَنِّي بِحَدِيثٍ يَرَى أَنَّهُ كَذِبٌ فَهُوَ أَحَدُ الكَاذِبِينَ: د سمره بن جندب ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې ماته يوه خبره منسوب کړي او په دې خبره ښه پوهيږي چې دا خبره دروغ ده، نو هغه يو د دوه دروغجنو خلکو څخه دى، يو خو هغه دى چې دروغ يې جوړ کړل، بل هغه دى چې دروغ بيانوي. رواه مسلم

تشريح: په پيغمبر ﷺ باندې دروغ تړل سخته ګناه ده، په دې باندې د علماوو بلکې د ټول امت اجماع ده چې پيغمبر ته د ځانه غلطه خبره منسوب کول حرام دي، که په هېره سره وشي، نو بيا ګناه نه ده، ليکن تحقيق کول بيا هم واجب دي.

فهو أحد الكاذبين: لفظ د (کاذبين) جمع هم کېدلى شي او تثنيه هم ويل کېدى شي، که د تثنيې

صيغه شي، نو مطلب به يې دا شي چې په دوه دروغجنو کسانو کې يو دروغجن دی هم دی: (۱) يو خو په رسول الله ﷺ باندې دروغ تړونکی شو، (۲) دويم کس دروغ ويونکی، که صيغه د جمعې شي، نو مطلب به يې دا شي چې يو دروغ جوړونکی دی، باقي دروغ ويونکي دي، نو په دې کسانو کې يو دی هم دی، علماء فرمايي: د رسول الله ﷺ په احاديثو بيانولو کې ډېر زيات احتياط کول پکار دي.

د دوه ښځو مسئله

"وعن أسماء رضي الله عنها: أَنَّ امْرَأَةً قالت: يَا رسولَ الله، إِنَّ لِي ضَرَّةً فهل علي جُنَاحٌ إِنْ تَشَبَّعْتُ مِنْ زَوْجِي غَيْرَ الَّذِي يُعْطِينِي؟" د اسماء ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي: يوې ښځې رسول الله ﷺ ته وويل: يا رسول الله ﷺ ايا ماته دا خبره جائز ده چې خپلې (بن) ته دا خبره ظاهره کړم چې ماته زما خاوند دا او دا شيان راکړي دي او حال دا چې هغه ماته هيڅ هم نه وي راکړي؟ "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: الْمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمْ يُعْطَ كَلاَبِسِ ثَوْبَيْ زُورٍ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: کوم کس چې دا خبره ظاهره کړي چې ماته دا شيان ملاو شوي دي او حال دا چې هغه ته هيڅ نه وي ملاو شوي، هغه د دروغو دوه جامو اغوستونکي په شان دی. متفق عَلَيْهِ

وَالْمُتَشَبِّعُ: هُوَ الَّذِي يُظْهِرُ الشَّبَعَ وَلَيْسَ بِشَبْعَان. ومعناهُ هُنَا: أَنْ يُظْهِرَ أَنَّهُ حَصَلَ لَهُ فَضِيلَةٌ وَلَيْسَتْ حَاصِلَةً: دا قول چې (المتشبع) ددې مطلب دادی چې يو کس ځان درته موړ موړ ظاهروي او حال دا چې هغه موړ نه وي، ددې مطلب دا دی چې ده ته يو فضيلت حاصل دی او حال دا چې هغه ته هيڅ فضيلت حاصل نه وي، "وَلاَبِسُ ثَوْبَيْ زُورٍ أَيْ: ذِي زُورٍ، وَهُوَ الَّذِي يُزَوِّرُ عَلَى النَّاسِ، بِأَنْ يَتَزَيَّى بِزِيِّ أَهْلِ الزُّهْدِ أَوِ العِلْمِ أَوِ الثَّرْوَةِ، لِيَغْتَرَّ بِهِ النَّاسُ وَلَيْسَ هُوَ بِتِلْكَ الصِّفَةِ. وَقِيلَ غَيْرُ ذَلِكَ وَاللهُ أَعْلَمُ" اودا قول چې (لابس ثوبي زور) په اصل کې د دروغو دوه جامو اغوستونکی دی، دا داسې سړي ته ويل کيږي چې د خلکو د مرغوب کولو او دوکه کولو لپاره د زاهدانو، فقيرانو او علماوو کېږي واغوندي، ليکن دننه هغه ددې اوصافو څخه خالي وي، ددې نه علاوه ددې نورې معناګانې هم شته، نور الله ﷻ ډېر ښه پوهيږي.

تشريح: کلابس ثوبي زور: لکه دوه د دروغو جامې يې چې اغوستلې وي، ددې يو مطلب خو مصنف رحمه الله بيان کړی دی، ځينو محدثينو ددې نور مطلبونه هم بيان کړي دي، مثلاً د چانه په سوال جامې واخلي او بيا يې اغوندي بيا خلکو ته داسې ظاهروي لکه دا جامې چې دده خپلې دي، يا دا مطلب چې په عربو کې يو کس ؤ، هغه به ښې جامې ددې لپاره اغوستلې چې خلك يې عزت وکړي، که هغه د دروغو شاهدي ورکړي، نو د هغه شاهدي دروغجنه ونه ګڼل شي.

ددې ښځې (بن ته چل ورکوونکې) تشبيه د داسې خلکو سره ورکول شوه چې په حقيقت کې يو څه او په ظاهر کې بل څه وي، دغه شان دوه ښځې هم بايد يوې بلې ته د دوکې ورکولو په خاطر دروغ ونه وايي، نه دې خلاف خبرې کوي چې ددې په واسطه خپل خاوند ته خصوصي قرب او د مينې محبت اظهار دعوه وکړي، حال دا چې داسې نه وي بلکې که داسې حقيقت الحال هم وي بايد چې د خاوند په دې کوتاهي باندې پرده واچوي، ددې لپاره چې د نورو ښځو کومې چې ددې ښځې بنې دي جذبات يې مجروح نه شي.

باب بيان غلظ تحريم شهادة الزُّور

د دروغو ګواهي ورکول حرامه ده

"قَالَ اللهُ تعالى: وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ" الله ﷻ فرمايي: ځان د دروغو خبرو نه وساتئ! [الحج:۳۰]

تشريح: زور: د زور معنی ده: تاوېدل، د دروغو خبرو او شاهدی ته هم ځکه زور ويل کيږي چې هغه هم د حق خبرې نه اوړېدلی وي، خريم بن فاتك ﷺ څخه روايت دی هغه فرمايي چې يو ځل نبي کريم ﷺ د سهار جمع ورکړه او بيا ودرېدو او وې فرمايل: د دروغو شاهدي ورکول د شرك بالله برابر ده، دا خبره يې درې واري تکرار کړه او بيا يې دغه آيت تلاوت کړو "فاجتنبوا الرجس من الأوثان واجتنبوا قول الزور حنفاء للــــه غير مشركين" په احاديثو کې دېته ستره ګناه ويل شوې ده.

بې تحقيقه خبرې کول

وقال تعالى: وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ، الله ﷻ فرمايي چې په هغه خبروپسې مه روانيږه کوموخبرمتعلق چې تاسو ته پته نه وي[الإسراء:۳۶]

تشريح: ددې آيت وضاحت په (باب تحريم الغيبة والامر بحفظ اللسان) کې تېر شوی دی، خلاصه دا چې بې تحقيق او بې ثبوته خبره کول ښکار نه دي او نه هم په چا باندې الزام لګول ښکار دي، که کومه خبره کوې، نو اول يې بايد تحقيق وکړې

هر څه چې وايي هغه ليکل کيږي:

" وقال تعالى: مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ" الله ﷻ فرمايي: دوی د خولې نه يوه خبره نه وباسي مګر دا چې د دوی سره نزدې پرښتې ناستې دي د دوی هر عمل ليکي [ق:۱۸]

تشريح: ددې آيت پوره تفسير او وضاحت هم وړاندې تېر شوی دی.

ستا رب په هر څه خبر دی:

"وقال تعالى: إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ" الله ﷻ فرمايي: بې شکه ستا رب په مورچه ګاه؛ سنګر کې دی، (يعني هر څه ويني). [الفجر:۱۴]

تشريح مرصاد: مرصاد د مرصد څخه دی، مرصد په عربي ژبه کې انتظار ته ويل کيږي، کله چې انسان په يو اوچت ځای باندې کښيني او د هغه ځای نه لرې لرې پورې نظر کوي، د آيت مطلب دا دی چې الله ﷻ د هر بنده په افعالو باندې خبردار دی، څه چې کوي الله تعالی يې ګوري او نزدې ده چې ددې ټولو اعمالو بدله به هغه ته ورکړل شي

د الله ﷻ بندګان د دروغو شاهدي نه ورکوي

"وقال تعالى: وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ" الله ﷻ فرمايي: هغه خلك چې د دروغو شاهدي نه ورکوي [الفرقان: ۷۲].

تشريح: د رکوع د سر نه د الله ﷻ د نيکو بندګانو د حفاظت بيان دی، د الله ﷻ نېک بندګان هغه دي چې په خرابو مجلسونو کې نه کښيني او نه د دروغو شاهدي ورکوي او نه دروغ وايي، د آيت باره کې مجاهد رحمه الله او محمد بن حنفيه رحمه الله فرمايي چې ددې نه مراد ساز او سرود دی، يعنې سندرې او ربابونه نه اوري، امام زهري رحمه الله او امام مالك رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد د شرابو مجلسونه دي.

خلاصه دا چې د الله ﷻ نېک بندګان په خرابو مجلسونو کې ناسته نه کوي او د ځينو مفسرينو رحمهم الله په نزد د "يشهدون" نه مراد شاهدي ورکول دي، مطلب دا چې داسې خلك د دروغو شاهدي نه ورکوي، انس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کړی دی چې د دروغو شاهدي ورکول (د لويو ګناهونو) څخه ده، علامه قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله د عمر رضي الله عنه قول نقل کړی دی، هغه فرمايي چې د چا په باره کې درته معلومه شي چې هغه د دروغو شاهدي ورکړې ده، نو پوره څلوېښت دورې بې ووهئ او ورسره دا چې مخ يې تور کړئ او په ډك بازار کې چکر ورکړئ او ښه يې وشرموئ، تر ډېره وخته پورې دې په زندان کې واچول شي. (ددې لپاره چې بيا څوك داسې کار ونه کړي).

څلور لوی ګناهونه

"وعن أبي بكرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: ألا أنبئكم بأكبر الكبائر؟ قلنا: بلى يا رسول الله. قال: الإشراك بالله، وعقوق الوالدين" د أبو بکرة رضي الله عنه روايت دی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته په ګناهونو کې تر ټولو لويه ګناه ونه ښيم؟ صحابه وو وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! ولې نه، بيان يې کړئ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ سره شريك جوړول او د مور پلار نافرماني کول، "وكان متكئا فجلس، فقال: ألا وقول الزور فما زال يكررها حتى قلنا: ليته سكت" رسول الله ﷺ تکيه وهلې وه، نو کښېناستلو او بيا يې وفرمايل: د دروغو شاهدي ورکول، نبي کريم ﷺ همېش وو چې داسې به يې فرمايل چې د دروغو شاهدي ورکول تردې چې موږ ارمان وکړو چې کاش نبي کريم ﷺ خاموش شي. متفق عليه

لغوي تحقيق:

عقوق: عقوق د عق نه ماخوذ دی، معنی ده: پرې کول

تشريح: بأكبر الكبائر: ستر/ لوی ګناهونه، علماء فرمايي: د ګناهونو دوه قسمه دي: (۱) صغيره، (۲) او کبيره، ددې په تعريف کې د علماوو ګڼ شمېر اقوال دي، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: الله ﷻ چې په کومو ګناهونو باندې د جهنم سزا، غضب، لعنت او عذاب وغيره وعيد فرمايلی دی هغه لوی ګناهونه دي.

ثالثاً: رسول الله ﷺ په يوه جمله درې وارې تكرار ول، مقصد پكې تاكيد وو، "الإشراك بالله" د الله ﷻ سره شريك جوړول، په دې كې كفر هم داخل دى، شرك يې په ځانګړې توګه ځكه بيان كړو چې دا مرض په عربو كې ډېر زيات خپور وو.

وعقوق الوالدين: د مور پلار نافرماني كول، عقوق د عاق څخه دى، معنى يې ده: پرې كول، "شهادة الزور" د دروغو شاهدي وركول، د (زور) خپله معنى دا ده: غلطه خبره په داسې انداز بيانول چې مخاطب ورځخه سمه معنى واخلي، ددې په وجه د چا ناحق مال خوړل كيږي يا چا ته پكې ځاني يا مالي تاوان وشي، ظاهره خبره ده چې د شرك نه وروسته د دروغو شاهدي وركول ډېر سخت جرم دى، په قرآن كريم كې هم دې طرفته اشاره شوې ده: "وقضى ربك ألا تعبدوا إلا إياه وبالوالدين إحساناً، فاجتنبوا الرجس من الأوثان واجتنبوا قول الزور".

باب تحريم لعن إنسان بعينه أو دابة

په يو معين انسان باندې لعنت ويل او يا په څاروي باندې لعنت ويل

"عن أبي زيد ثابت بن الضحاك الأنصاري رضي الله عنه، وهو من أهل بيعة الرضوان، قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ بِمِلَّةٍ غَيْرِ الإِسْلَامِ كَاذِباً مُتَعَمِّداً، فَهُوَ كَمَا قَالَ" د ابو زيد ثابت بن ضحاك انصاري رضي الله عنه نه روايت دى، (دا صحابي د بيعت رضوان د خلكو څخه وو) هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې د ملت اسلام نه سېوا په بل كوم ملت باندې د دروغو قسم وخوري، هغه داسې دى لكه څنګه چې هغه ويلي دي: (مثلاً څوك قسم وكړي: كه زه داسې ونه كړم نو زه به نصراني وم وغيره وغيره) "وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ، عُذِّبَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" او كوم كس چې په كوم شي باندې ځان مړ كړي، هغه ته به هم په هغه شي باندې د قيامت په ورځ عذاب وركول كيږي، "وَلَيْسَ عَلَى رَجُلٍ نَذْرٌ فِيمَا لَا يَمْلِكُهُ" او د كوم شي مالك چې نه يې، په هغې كې نذر نه صحيح كيږي، "وَلَعْنُ الْمُؤْمِنِ كَقَتْلِهِ" او په يو مسلمان باندې لعنت ويل داسې دي لكه هغه چې دې قتل كړى وي. متفق عليه

تشريح: من حلف على يمين بملة غير الاسلام كاذباً متعمداً: كوم كس چې د دين اسلام څخه پرته په بل كوم دين باندې قسم وخوري، نو هغه هغسې دى، ددې مثال به داسې وي لكه يو كس چې ووايي: كه ما فلانكى كار وكړو، نو زه به يهودي يم يا به عيسايي يم يا دا چې د دين اسلام څخه به بېزاره يم، نو د حديث ظاهري مفهوم همدغه دى چې داسې قسم خوړلو سره هغه د بد كار ارتكاب وكړو او قسم يې مات كړو، مطلب دا چې د كوم كار څخه يې قسم خوړلى وو چې داسې به نه كوم، هغه يې وكړو، نو داسې كس په ظاهر كې يهودي يا عيسايي شو، علماء فرمايي: دا خبره بطور تهديد او تنبيه فرمايل شوې ده چې هغه داسې دى لكه چې څه يې ويلي دي، ددې مثال داسې دى لكه په يو حديث كې راځي چې: "من ترك الصلوة متعمداً فقد كفر" چا چې لمونځ پرېښودلو هغه كافر شو، ليكن په دې سره كافر كيږي نه، خو داسې قسمونه خوړل هم په دين اسلام كې ناروا دي

ايا په داسې قسمونو سره كفاره شته او كه نه؟

په دې كې د امام صاحب رحمه الله مسلك دا دى چې په داسې كس باندې د قسم كفاره شته، د امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله مسلك دا دى چې په هغه باندې كفاره نشته، دومره خبره ده چې سخت گناهگار شو.

وليس على رجل نذر في مالا يملكه: او په سړي باندې د هغه نذر پوره كولو ضرورت نشته كوم چې دى يې مالك نه وي، مثلاً: يو كس وويل: كه الله ﷻ ماته ددې ناروغى څخه صحت راكړي، نو زه به فلانكى فلانكى غلام ازادوم، حال دا چې هغه غلامان دده په ملكيت كې نه وي، نو په داسې صورت كې نذر پوره كول ضروري نه دي او كه داسې نذر يې ومنلو چې كه ماته الله ﷻ صحت راكړي، نو د الله ﷻ په نوم به فلانكى غلام ازادوم كله چې زما په ملكيت كې راشي او د صحت وروسته هغه غلام دده په ملكيت كې راغلو، نو اوس به هغه غلام ازادوي.

ولعن المؤمن كقتله: په مسلمان باندې لعنت ويل داسې دي لكه چې دې مړ كړو، مطلب دا چې په يو مؤمن باندې لعنت ويل دومره سخت جرم دى، لكه هغه چې ووژل شي.

ربښتوني سړي كله هم لعنت نه وايي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: لَا يَنْبَغِي لِصِدِّيقٍ أَنْ يَكُونَ لَعَّانًا" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو صديق ته دا خبره جائز نه ده چې هغه دې لعنتونه ويل شروع كړي. رواه مسلم

تشريح: لصديق: دا د مبالغې صيغه ده، يعنې ډېر زيات ربښتوني، د صوفيانو په نزد مقام صديقيت د مقام نبوت نه پس ډېر اوچت مقام دى، د حديث مطلب دا دى چې ربښتوني سړى د نبي نه وروسته په اوچته درجه باندې فائز دى، د نبي كار دا دى چې هغه خلك د الله ﷻ رحمت ته نژدې كوي د صديق هم بايد دغه كار وي، داسې نه چې هغه دې په چا لعنت وكړي، يعنې د الله ﷻ د رحمت څخه يې لرې كړي، علماء ليكي: څوك چې د لعنت مستحق وي بيا هم په هغه لعنت ويل ښكار نه دي، ځكه چې هغه د الله ﷻ په نزد په خپله ملعون دى، نو د بل چا لعنت ته هيڅ ضرورت نشته

أن يكون لعاناً: دا هم د مبالغې صيغه ده، يعنې ډېر په كثرت سره لعنت ويونكى، مطلب دا چې څوك كله كله لعنت ووايي، هغه په حديث كې د ذكر شوي وعيد لاندې نه راځي، په وعيد كې هغه كس راځي چې زيات وخت په خلكو باندې لعنت وايي.

د شفاعت څخه محروموالى

"وعن أبي الدرداء رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: لَا يَكُونُ اللَّعَّانُونَ شُفَعَاءَ، وَلَا شُهَدَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" د أبو الدرداء رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به ډېر لعنت كوونكي سړي نه شفاعت كونكي وي او نه به شاهدان وي. رواه مسلم

تشريح: محدثين فرمايي: لکه څرنګه چې په يو آيت کې ورته اشاره شوې ده، هغه دا چې د رسول الله ﷺ امت به په وړاندينيو قومونو باندې شاهدي ورکوي، کله چې هغوی د خپل نبي عليه‌السلام څخه انکار وکړي چې هغه موږ ته تبليغ نه دی کړی، د الله ﷻ پيغام يې نه دی رسولی، نو په دوی باندې به د رسول الله ﷺ امت د الله ﷻ په دربار کې شاهدي ورکړي چې دغو پېغمبرانو خپلو قومونو ته ستا پيغام رسولی دی، ليکن دوی منلی نه وو، لکه په دې آيت کې ارشاد مبارك دی: "وكذلك جعلنكم أمة وسطاً لتكونوا شهداء على الناس" موږ تاسو مينځني امت ګرځولي ياست، ددې لپاره چې تاسو په نورو قومونو باندې شاهدان شئ!

د حديث مطلب دا شو چې کوم خلك ډېر زيات لعنت وايي، د لعنت لفظ د دوی تکيه کلام جوړ شوی وي او په خوله باندې يې پوخ شوی وي، نو داسې خلك به د قيامت په ورځ د شاهدی او شفاعت څخه محروم وي.

د بښيرا څخه منع فرمايل

"وعن سَمُرَةَ بن جُنْدُبٍ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسُولُ اللهِ ﷺ: لَا تَلَاعَنُوا بِلَعْنَةِ اللهِ، وَلَا بِغَضَبِهِ، وَلَا بِالنَّارِ" د سمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په خپل مينځ کې يو بل باندې د الله ﷻ په لعنت سره لعنتونه مه وايئ او د هغه په غوسه او د هغه په اور سره لعنت مه کوئ؛ رواه أبو داؤد والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: په حديث کې ترغيب ورکول شوی چې يو مسلمان دې بل مسلمان ته ښېرا/ بد دعا نه کوي، د لعنت وغيره الفاظ دې نه استعمالوي، ځکه چې دا خو نوره هم زياته ګناه ده، يو مسلمان دې بل مسلمان ته داسې نه وايي چې په تا دې لعنت وي يا په تا دې الله ﷻ غوسه وي يا دې تا الله ﷻ جهنم ته بوځي، يا دا چې تا دې الله ﷻ په جهنم کې وسوځوي، داسې ويل جائز هم نه دي او سخته ګناه ده.

مؤمن سړی فضول خبرې نه کوي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسُولُ اللهِ ﷺ: لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان سړی نه طعن لګوي، "وَلَا اللَّعَّانِ" او نه په خلکو لعنتونه وايي، "وَلَا الْفَاحِشِ" او نه بې حياء خبرې کوي، "وَلَا الْبَذِيِّ" او نه ژبه اوږده کوي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسنٌ.

تشريح: په دې حديث کې د م‍ؤمن سړي صفات بيانيږي چې بايد په يو مسلمان کې دا خوبي نه وي چې هغه دې خلکو ته په حسب او نسب کې طعنې ورکوي يا دې غيبت کونکی وي يا دې بدګويه وي، په هره طريقه چې وي طعنې به چاته نه ورکوي

ولا اللعان: او بل دا چې لعنت ويونکی به نه وي، چې په هر چا باندې لعنت وايي، ليکن که يو ځل نيم يې وکړي، په دې وعيد کې به شمار نه وي.

ولاالفاحش: په خپل قول او فعل سره به بې حيايي نه کوي.

ولاالبذي: او نه ډېر زيات زبان درازي کوي، يعنې فضول خبرې نه کوي، علماء په دې کې هغه خبرې هم شاملوي چې نه پکې د دنيا فايده وي او نه د آخرت فايده پکې وي.

په لعنت ويونکي باندې خپله لعنت وي

"وعن أبي الدرداء ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا لَعَنَ شَيْئاً، صَعِدَتِ اللَّعْنَةُ إِلَى السَّمَاءِ، فَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ دُونَهَا" د أبو الدرداء ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې يو بنده په يو باندې لعنت ووايي، نو دغه لعنت پورته اسمان ته وخيژي، د آسمان دروازې ورته بندې شي، "ثُمَّ تَهْبِطُ إِلَى الأَرْضِ، فَتُغْلَقُ أَبْوَابُهَا دُونَهَا" بيا لاندې ځمکې ته راښکته شي، نو د ځمکې دروازې هم ورته بندې شي، "ثُمَّ تَأْخُذُ يَمِيناً وَشِمَالاً، فَإِذَا لَمْ تَجِدْ مَسَاغاً رَجَعَتْ إِلَى الَّذِي لُعِنَ، فَإِنْ كَانَ أَهْلاً لِذَلِكَ" بيا ښي طرفته لاړ شي چپ طرفته لاړ شي، که چېرته ځاى پيدا نه کړي، هغه کس ته راشي په چا باندې چې يې لعنت ويلى وي، که په هغه کې د لعنت ځاى وي، نو په ده لعنت وي، "وإلاَّ رَجَعَتْ إِلَى قَائِلِهَا" او که چېرته په هغه کې د لعنت ځاى نه وي، نو ويونکي ته راواپس شي. رواه أبوداود

تشريح: علماء فرمايي: د حديث مطلب دا دی کله چې انسان په بل باندې لعنت ووايي، نو سمدستي هغه لعنت په هغه کس باندې نه پرېوځي، بلکې اخوادېخوا ځي راځي او کله چې چېرته ځای پيدا نه کړي، نو په چا چې لعنت ويل شوی دی هغه ته متوجه شي که په هغه کې ځای پيدا نه کړي نو لعنت ويونکي خو چېرته تللی نه دی، بېرته په هغه باندې پرېوځي، د حديث څخه معلومه شوه چې تر څو درته پوخ يقين نه وي چې دا کس د لعنت مستحق دی، لعنت ويل ښکار نه دي.

هغه اوښه چې لعنت پرې وويل شو

"وعن عمران بن الحُصَيْنِ رضي الله عنهما، قَالَ: بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ ﷺ في بَعْضِ أسْفَارِهِ، وَامْرَأةٌ مِنَ الأَنْصَارِ عَلَى نَاقَةٍ، فَضَجِرَتْ فَلَعَنَتْهَا" د عمران بن حصين ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يو ځل رسول الله ﷺ په سفر روان وو، يوه انصاريه صحابيه ﷺ هم په اوښه باندې ناسته وه، دغې زنانه اوښې ته ښېرې وکړې او په هغې بې لعنت وويلو، "فَسَمِعَ ذَلِكَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَقَالَ: خُذُوا مَا عَلَيْهَا وَدَعُوهَا، فَإِنَّهَا مَلْعُونَةٌ" نبي کريم ﷺ دغه لعنت ويل واورېدلو، وې فرمايل په دغه اوښه باندې چې کوم سامان پروت دی، دغه ترې ښکته کړئ او دغه اوښه خوشې کړئ، ځکه چې په دې باندې لعنت ويل شوی دی، "قَالَ عِمْرَانُ: فَكَأَنِّي أرَاهَا الآنَ تَمْشِي في النَّاسِ مَا يَعْرِضُ لَهَا أَحَدٌ" عمران ﷺ فرمايي: هغه منظر اوس هم زما د سترګو وړاندې دی چې هغه اوښه اخوادېخوا تله او راتله، ليکن چا ورته تعرض نه کولو. رواه مسلم

تشريح: د حديث څخه معلومه شوه چې انسان نه ښکار دي چې په ځاروېو باندې لعنت ونه وايي، که چېرته د کوم ځاروي څخه درته تکليف ورسيږي، نو ښکار ده چې صبر پرې وکړي، د احسان نه کار اخيستل ښکار دي، نه دا چې لعنت پرې وويل شي

لعنت زده اوښه نه ساتل

"وعن أبي برزة نضلة بن عبيد الأسلمي ﷺ قال: بَيْنَمَا جَارِيَةٌ على نَاقَةٍ عَلَيْهَا بَعْضُ مَتَاعِ الْقَوْمِ، إِذْ بَصُرَتْ بِالنَّبِيِّ ﷺ، وَتَضَايَقَ بِهِمُ الْجَبَلُ فَقَالَتْ حَلْ، اللَّهُمَّ الْعَنْهَا" د أبو برزة نضلة بن عبيد اسلمي ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي: په داسې حال کې چې يوه وينځه په يوه اوښه باندې سپره وه، په دې اوښه باندې د ځينو خلکو سامان وو، ناڅاپه د هغې نظر رسول الله ﷺ باندې پرېوتلو، هلته د غره په وجه لاره تنګه وه، د هغې اوښه ودرېده، نو حل،حل يې ورته شروع کړل، مطلب يې د دې اوښې روانول وو، هغې وينزې وويل: الله ﷻ دې په نا لعنت وکړي، "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: لَا تُصَاحِبْنَا نَاقَةٌ عَلَيْهَا لَعْنَةٌ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: زموږ سره هغه اوښه ملګرتيا نه کوي چې لعنت پرې ويل شوى وي. رواه مسلم

قوله: حَلْ بفتح الحاء المهملة وإسكان اللام: وَهِيَ كَلِمَةٌ لِزَجْرِ الإِبِلِ: دا قول چې (حل) د زجر يوه کلمه ده کومه چې د اوښانو تېزولو لپاره ويل کېږي.

وَاعْلَمْ أَنَّ هَذَا الْحَدِيثَ قَدْ يُسْتَشْكَلُ مَعْنَاهُ، وَلَا إِشْكَالَ فِيهِ، بَلِ الْمُرَادُ النَّهْيُ أَنْ تُصَاحِبَهُمْ تِلْكَ النَّاقَةُ: امام نووي رحمه الله فرمايي: په دې حديث کې څه اشکال پېښ شوى دى، ليکن په حقيقت کې هيڅ اشکال نشته، مطلب دا چې دا ممانعت صرف رسول الله ﷺ د خپل ځان سره د ساتلو لپاره فرمايلى وو، "وَلَيْسَ فِيهِ نَهْيٌ عَنْ بَيْعِهَا وَذَبْحِهَا وَرُكُوبِهَا فِي غَيْرِ صُحْبَةِ النَّبِيِّ ﷺ، بَلْ كُلُّ ذَلِكَ وَمَا سِوَاهُ مِنَ التَّصَرُّفَاتِ جَائِزٌ لَا مَنْعَ مِنْهُ، إِلَّا مِنْ مُصَاحَبَةِ النَّبِيِّ ﷺ بِهَا" د هغې د خرڅولو يا د ذبح کولو او د رسول الله ﷺ د ملګرتيا نه علاوه په بل کوم وخت او ځاى کې په هغې باندې د سورلۍ کولو څخه هيڅ ممانعت نشته، بلکې هر قسم تصرفات پکې جائز دي، "لِأَنَّ هَذِهِ التَّصَرُّفَاتِ كُلَّهَا كَانَتْ جَائِزَةً فَمُنِعَ بَعْضٌ مِنْهَا، فَبَقِيَ الْبَاقِي عَلَى مَا كَانَ، والله أعلم" ځکه چې دا تصرفات بنيادي طور جائز وو، حضور ﷺ په ديکې صرف د يوې خبرې مماعنت فرمايلى وو چې زما په ملګرتيا کې په دې باندې سوارلۍ مه کوئ، د باقي تصرفاتو جواز نبي کريم ﷺ باقي پرېښودلو، په هغې باندې يې هيڅ انکار ونه کړو، لهذا اشکال ختم شو، نور الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي.

تشريح: دلته يو ظاهري اشکال دى، هغه دا چې ولې يې هم داسې خوشې پرېښوده، څه کار به يې ترې اخيستى واى يا به يې خرڅه کړې واى يا به يې نور ضروري کار ترې اخيستى واى. دا خو داسې شوه لکه د جاهليت په زمانه کې چې به مشرکانو د بتانو په نومونو پرېښودل، بيا به يې ترې څه کار وغيره نه اخيستلو؟

جواب: هغه اوښه صرف رسول الله ﷺ د ځان سره نه ساتل، په هغې باندې سپرېدل، هغه حلالول، د هغې غوښه خوړل جائز وو، مشرکانو چې به کوم څاروى د غير الله په نوم نذر کړو، نو هغه به يې داسې خوشې کړو چې نه به پرې سپرېدل او نه به يې د هغې غوښه خوړل او نه به يې خرڅول، دا هر څه يې په ځانونو باندې حرام کړي وو.

باب جواز لعن أصحاب المعاصي غير المعينين

بغير تعينه په ګناه کونکو باندې لعنت ویل

"قَالَ اللّٰه تعالیٰ" الله ﷻ فرمايي: "أَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظَّالِمِينَ" د الله ﷻ لعنت دې وي په ظالمانو باندې [هود:۱۸]

"وقال تعالى: فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ أَنْ لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظَّالِمِينَ" الله ﷻ فرمايي: اعلان وکړو يو اعلان کوونکي چې لعنت دې وي د الله ﷻ په ظالمانو باندې. [الأعراف:۴۴].

تشريح: د آيت مطلب دا دی چې کله جنتيان جنت ته لاړ شي بيا جنتيان جهنميانو ته اواز وکړي چې زموږ سره الله ﷻ کومه وعده کړې وه، هغه پوره شوه، ستاسو سره بې چې کومه وعده کړې وه هغه تاسو وموندل او که نه؟ جهنميان به ووايي: زموږ سره چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ کومه وعده کړې وه، هغه موږ بښتونې وموندل، دغه مهال به يوه پرښته اعلان وکړي چې په ظالمانو دې د الله ﷻ لعنت وي، دا اعلان به ددې لپاره وي چې د جهنميانو حسرت او افسوس نور هم زيات شي او د جنتيانو خوشحالي نوره هم زياته شي.

ويل کيږي چې يو ځل طاؤس رحمه الله د هشام بن عبد المالك په مجلس کې حاضر شو او وې ويل د اعلان په ورځ د الله ﷻ نه ووېرېږه! هشام پوښتنه وکړه چې د اعلان ورځ کومه ده؟ طاؤس رحمه الله دغه آيت تلاوت کړو: "فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ أَنْ لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظَّالِمِينَ" دا چې هشام واورېدل، نو بې هوشه پرېوتلو، طاؤس رحمه الله وفرمايل: دا خو خالص د دنيا خبره وه، که مشاهده وشي، نو بيا به څه حال وي.

وَثَبَتَ فِي الصَّحِيحِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: لَعَنَ اللّٰهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ: او په صحيح حديث سره ثابته ده چې رسول الله ﷺ په هغه ښځه (واصله) باندې لعنت ويلی دی چې ويښته اوږدولو لپاره د نورو خلکو ويښته لګوي، په هغه ښځه باندې بې هم لعنت فرمايلی دی چې مستوصله يعنې د ويښتو جوړونګ پيوست کول په بل چا باندې وکړي، "وَأَنَّهُ قَالَ: لَعَنَ اللّٰهُ آكِلَ الرِّبَا وَأَنَّهُ لَعَنَ الْمُصَوِّرِينَ" دغه شان نبي کريم ﷺ لعنت فرمايلی دی په سود خور سړي باندې او په تصوير جوړونکي باندې، "وَأَنَّهُ قَالَ: لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ غَيَّرَ مَنَارَ الْأَرْضِ أَيْ حُدُودَهَا" دغه شان نبي کريم ﷺ فرمايي: د الله ﷻ لعنت دې وي په هغه چا باندې چې د ځمکې منار يعنې حدونه او پولې بې ورانوي، "وَأَنَّهُ قَالَ: لَعَنَ اللّٰهُ السَّارِقَ يَسْرِقُ الْبَيْضَةَ" او دغه شان رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې د الله ﷻ لعنت دې وي په هغه غل باندې چې يوه هګۍ غلا کوي، "وَأَنَّهُ قَالَ: لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَيْهِ وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللّٰهِ" او دغه شان نبي کريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ لعنت دې وي په هغه چا باندې چې په خپل مور - پلار باندې لعنت وايي او يا چې څوك د غير الله په نوم ذبح وکړي، "وَأَنَّهُ قَالَ: مَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ" او دغه شان نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: کوم کس چې په مدينه منوره کې بدعت رواج کړي يا کوم بدعتي ته ځای ورکړي، په دا سې سړي

باندې د الله ﷻ لعنت وي او د هغه د پرښتو او تولو خلكو لعنت دې وي، "وأنه قال: اللهم العن رعلا، وذكوان، وعصية: عصوا الله ورسوله وهذه ثلاث قبائل من العرب" نبي كريم ﷺ داسې دعاء هم وفرمايل چې اې الله رعل، ذكوان او عصية قبيلو والا خلكو د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ نافرماني وكړه، په دوى باندې لعنت وكړې، دا درې واړه د عربو قبيلې وې، "وأنه قال: لعن الله اليهود اتخذوا قبور أنبيائهم مساجد" او دغه شان نبي كريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ لعنت دې وي په يهودو باندې كومو چې د خپلو پېغمبرانو د قبرونو نه جوماتونه جوړ كړي وو، "وأنه لعن المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال" او دغه شان نبي كريم ﷺ لعنت فرمايلى دى په هغه سړو باندې چې د ښځو سره مشابهت اختياروي، په هغه ښځو بې لعنت ويلى دى چې د سړو سره مشابهت اختياروي.

وجميع هذه الألفاظ في الصحيح، بعضها في صحيحي البخاري ومسلم، وبعضها في أحدهما: دا ټول الفاظ په صحيحينو كې دي، ځينې په بخاري شريف كې او ځينې په مسلم كې او ځينې د دواړو څخه په يو كې دي، "وإنما قصدت الاختصار بالإشارة إليهما، وسأذكر معظمها في أبوابها من هذا الكتاب، إن شاء الله تعالى" موږ دلته په مختصره توګه ذكر كړل او اشاره مو ورته وكړه او لوېې مسئلې به ددې كتاب په خپل باب كې ذكر كړو، كه د الله ﷻ خوښه شي.

باب تحريم سب المسلم بغير حق

يو مسلمان ته ناحقه ښكنځل كول حرام دي

"قال الله تعالى" الله ﷻ فرمايي: "والذين يؤذون المؤمنين والمؤمنات بغير ما اكتسبوا" بې شكه هغه كسان چې مسلمانو سړو او مسلمانو ښځو ته بې ګناه ضرر رسوي چې د هغوى څه ګناه هم نه وي، "فقد احتملوا بهتانا وإثما مبينا" نو بې شكه چې داسې كسانو په خپل ځان باندې د ګناه يو پېټى او بهتان پورته كړو. [الأحزاب:۵۸]

تشريح: كوم مسلمان ته د شرعي عذر پرته تكليف رسول حرام دي، دا د الله ﷻ ددې كلام څخه هم معلومېږي او د رسول الله ﷺ د ارشاداتو څخه هم معلومېږي، په دې باره كې يو مشهور حديث هم دى هغه دا چې: "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده والمؤمن من آمنه الناس على دمائهم وأموالهم" حقيقي مسلمان هغه دى چې د هغه د ژبې او دلاسه بل مسلمان ته تكليف ونه رسېږي، حقيقي مؤمن هغه دى چې د هغه نه د خلكو ځان او مال محفوظ وي

مسلمان ته ښكنځل كول يا وژل

"وعن ابن مسعود ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق، وقتاله كفر" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان ته ښكنځل كول دا فسق دى او قتل كول يې كفر دى. متفق عليه

تشريح: سباب المسلم فسوق: مسلمان ته ښکنځل کول فسق دی، مطلب دا چې د الله ﷻ په نزد يو مؤمن موحد ډېر زيات قدر او عزت دی، هغه ته ښکنځل کول ګناه ده.

وقتاله کفر: مسلمان وژل کفر دی، دلته د کفر څخه مجازاً کفر مراد دی، دا مطلب نه دی چې که يو مسلمان دې قتل کړو، نو کافر شو، بلکې دلته تشبيه په ګناه کې ده، يعنې مسلمان قتلول د کفر سره مشابه دي، يا دا مطلب چې قاتل د خپل ځان نه د قتل په سبب د کامل ايمان نفي کوي، دلته د کفر څخه د کامل اسلام نفي ده، ددې مثال په يو حديث کې هم شته چې: "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده" يعنې کامل مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان د هغه د لاس او ژبې څخه په امن کې وي يا د کفر څخه حقيقي کفر مراد دی، خو دا په هغه صورت باندې محمول دی چې کله د يو مسلمان وژل ځانته حلال او مباح وګڼي او خالص د اسلام او مسلماني په وجه يې وژني، نو په دې صورت کې به حقيقتاً کافر شي

چاته کافر يا فاسق ويل

وعن أبي ذر ﷺ: أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ ﷺ يقول: لَا يَرْمِي رَجُلٌ رَجُلاً بِالفِسْقِ أَوِ الكُفْرِ، إِلَّا ارْتَدَّتْ عَلَيْهِ: د ابو ذر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې وې فرمايل: يو کس بل کس ته داسې ووايي چې اې فاسقه! يا اې کافره! دا کلمه واپس هغه ته راځي، "إِنْ لَمْ يَكُنْ صَاحِبُهُ كَذَلِكَ" که چېرته په هغه سړي کې ځای نه وي (يعنې هغه کافر يا فاسق نه وي، نو واپس ده ته راځي) رواه البخاري

تشريح: يو مسلمان ته فاسق يا کافر ويل پکار نه دي، ځکه چې که چاته دې فاسق يا کافر وويل، نو که په هغه کې د فسق يا کفر ځای نه وي، نو خپله به فاسق يا کافر شي، ليکن حقيقتاً نه کافر کيږي، بلکې د شريعت اصلي مقصود ددې الفاظو د استعمال څخه منع ده.

په ښکنځلو باندې شروع کول

وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ قَالَ: المُتَسَابَّانِ مَا قَالاَ فَعَلَى البَادِي مِنهُمَا حتى يَعْتَدِي المَظْلُومُ: د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په خپل مينځ کې يو بل ته کنځل کونکو کې شروع کونکی ګناهګار دی، په دې شرط چې مظلوم په ښکنځلو کې د حد نه تجاوز ونه کړي. رواه مسلم

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې هر څوک په ښکنځلو باندې شروع وکړي، نو څومره وبال او ګناه چې د ښکنځلو وي، هغه ټوله ګناه به دده په سر وي، ځکه چې شروع يې دده څخه شوې ده او داسې کس ته ظالم او هغه بل ته مظلوم هم ويل کيږي

په حديث کې هم وويل شو چې که مظلوم (چاته چې ښکنځل شوي دي) د ظالم څخه زيات ښکنځل وکړي او د حد نه يې تجاوز وکړو، نو په داسې حال کې به زياته ګناه دده په برخه وي، ځکه خو شريعت وايي چې د بدلې پر ځای معافي کول ډېر ښه دي، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې ارشاد

دی "ولمن صبر وغفر ان ذلك لمن عزم الامور" څوك چې صبر وكړي او معافي وكړي، نو دا كار د (اولوا العزم) خلكو دی، دغه شان په يو حديث كې هم شته چې: څوك معافي كوي، نو الله ﷻ د داسې كسانو عزت زياتوي

چاته داسې مه وايه چې الله ﷻ دې وشرموه

"وعنه قَالَ: أُتِيَ النَّبِيُّ ﷺ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ قَالَ: اضربوهُ قَالَ أَبُو هريرةَ: فَمِنَّا الضَّارِبُ بِيَدِهِ والضَّارِبُ بِنَعْلِهِ، والضَّارِبُ بِثَوبِهِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي: يو كس راوستل شو چې شراب يې څښلي وو، نبي كريم ﷺ وفرمايل: دی ووهئ! أبو هريره ﷺ فرمايي: موږ په وهلو شروع وكړه، په موږ كې ځينو كسانو په لاس ووهلو، ځينو په څپلو او ځينو په څادر ووهلو، "فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: أَخْزَاكَ اللَّهُ! قَالَ: لا تَقُولُوا هَذَا، لا تُعِينُوا عَلَيْهِ الشَّيْطَانَ" كله چې هغه كس لاړو، نو ځينو خلكو دا خبره وكړه چې الله ﷻ دې وشرموي! نبي كريم ﷺ وفرمايل: داسې مه وايه! په هغه باندې شيطان ته د غالبه كېدو موقع مه وركوئ! رواه البخاري

تشريح: د ټول امت په دې باندې اتفاق دی چې شراب د قرآن او سنت په نصوصو سره حرام دي، څوك چې شراب وڅښي، په هغه به شرعي حد يعنې اتيا درې به وهل كيږي، په دې اتيا درو باندې د عمر ﷺ په زمانه كې اتفاق شوی دی. لكه څرنګه چې په يو روايت كې دي: "عن السائب بن يزيد قال: كان يؤتى بالشارب على عهد رسول الله ﷺ ومدة أبي بكر وصدراً من خلافة عمر، فنقوم عليه بأيدينا ونعالنا وارديتنا، حتى كان آخر أمر عمر ﷺ فجلد أربعين حتى إذا عتوا وفسقوا جلد ثمانين" د سائب بن يزيد ﷺ څخه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ په زمانه كې، د ابوبكر ﷺ په زمانه كې او د عمر ﷺ په اوله زمانه كې به چې چا شراب وڅښل، نو هغه به راوستل شو، په موږ كې به چا په څپلو وهلو، چا به د څادر نه كوړه جوړه كړه په هغې به يې وهلو او چا به په لاسونو وهلو، بيا د عمر ﷺ د دور خلافت په آخري وخت كې څلويښت كوړې به وركول شوې، ليكن كله چې خلكو په شراب څښلو كې زياتوالی وكړو، نو عمر ﷺ د اتيا كوړو سزا وټاكله.

لا تعينوا عليه الشيطان: دده په خلاف د شيطان مرسته مه كوئ؛ مطلب دا چې كله يو انسان ته بكنځل وشي يا لعنت ورباندې ولېږل شي، نو الله ﷻ هغه ذليله كړي، شيطانورباندې مسلط شي او دې ښېرو په وجه هغه نور هم په ګناهونو باندې اصرار شروع كړي او په ګناهونو باندې اصرار كول د الله ﷻ د غضب او قهر سبب ګرځي، نو څكه چاته ښيرا كول پكار نه دي

په غلام يا نډې هم تهمت لګول حرام دي

وعنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ اللهِ ﷺ يقول: مَنْ قَذَفَ مَمْلُوكَهُ بِالزِّنَى يُقَامُ عَلَيْهِ الحَدُّ يَوْمَ القِيَامَةِ، د أبي هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې وې فرمايل چې كوم كس خپل غلام ته په زنا سره نسبت وكړي چې ته زناكاري نو په داسې بادار باندې به د قيامت په ورځ حد قائمولې شي، إِلاَّ أَنْ يَكُونَ كَمَا قَالَ مګر دا چې په رښتيا كه هغه زنا كړې وي). متفق عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق: قذف: قذف بقوله يعني بې فكره او بې تحقيقه يوه خبره كول، تهمت لګول

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې کوم بادار / مشر په خپل غلام يا وينزه باندې د زنا تهمت ولګوي، ددې لپاره چې په هغې باندې حد جاري کړي، نو دی خو به په دې دنيا کې دا ظالم وکړي، ليکن د قيامت په ورځ چې کله د الله ﷻ په حضور کې پېش شي، نو داسې کسانو ته (چې په خپلو غلامانو يې ظلم کړی وي) الله ﷻ به ورته سزا ورکړي.

باب تحريم سب الأموات بغير حق ومصلحة شرعية

دوه سوه اوه شپېتم باب (۲۶۷): په مړو پسې کنځل کول هم حرام دي

وَهِيَ التَّحْذِيرُ مِنَ الاقْتِدَاءِ بِهِ فِي بِدْعَتِهِ، وَفِسْقِهِ، وَنَحْوِ ذٰلِكَ، وَفِيهِ الآيَةُ وَالأحَادِيثُ السَّابِقَةُ فِي البَابِ قَبْلَهُ: د مړي په بدعتي او فسقي کارونو کې د اقتداء کولو نه منع راغلې ده، دې باره کې دپخوا حديثونه او ايتونه مخکې تېر شوي دي.

تشريح: علامه نووي رحمه الله ددې حديث په تشريح کې فرمايي: په يو بل حديث کې هم راغلي دي چې مړو پسې خبرې مه کوئ! ددې نه هغه صورت خارج دی چې کله مړی کوم بدعت رائج کړي يا کومه ګناه وکړي. نو په داسې صورت کې به څه نا څه په مړي پسې ووېل شي، ددې لپاره چې خلک هسې نه هغه ګناه يا بدعت ښه کار ونه ګڼي، نو امام صاحب رحمه الله فرمايي: په داسې صورت کې به په خلکو باندې دا خبره ظاهرولی شي چې هغه فلانکی مړی په فلانکي بدعت کې مبتلا وو چې خلک د هغه بدعت څخه منع شي.

مړو پسې خبرې مه کوئ

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: لاَ تَسُبُّوا الأَمْوَاتَ، فَإنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا" د عايشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مړو ته کنځل مه کوئ، ځکه چې دوی کوم عملونه کړي دي هغوی ته ورسېدل. رواه البخاري

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې څوک ددې فاني نړۍ څخه رخصت شي، نو په هغه پسې د بد ويل پکار نه دي، ځکه چې هغه که ښه کړي وي او که بد يې کړي وي، د هغې بدله به هغه ته په لاس ورشي، ژوندیو انسانانو ته پکار نه دي چې د هغه بد بيان کړي، بيا په ځانګړې توګه د چا نوم اخيستل او د هغه بد بيانول دا خو يو مسلمان ته هم جائز نه دي، البته که د چا مرګ يقيني په کفر باندې شوی وي، لکه ابو جهل، ابولهب وغيره دوی ترې مستثنی دي.

باب النهي عن الإيذاء

چاته د تکليف رسولو څخه منع شوې ده

"قَالَ اللهُ تعالیٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا" بې شکه هغه کسان چې مسلمانو سړو او ښځو ته بغير څه وجې ضرر رسوي، داسې کسان په خپل ځان باندې بهتان او لويه ګناه بار کوي. [الأحزاب:۵۸].

تشريح: دا آيت اګرچې وړاندې په (کتاب المأمورات باب التحذير من ايذاء الصالحين) کې تېر شوی دی، د مفسرينو رحمهم الله په نزد ايت د عايشه رضي الله عنها باره کې نازل شوی دی، کومو خلکو چې په ام المومنين عايشې رضي الله عنها باندې تهمت ولګولو، هغوی سخته ګناه وکړه او صراحتا کبيره ګناه يې وکړه، د ځينو مفسرينو خيال دا دی چې آيت د علي رضي الله عنه باره کې نازل شوی دی، چا چې علي رضي الله عنه ته ښيرې وکړې، ګويا (نعوذ بالله) هغه چې رسول الله ﷺ ته تکليف رسولی وي.

خو د جمهورو مفسرينو رايه دا ده چې په دې کې ټول صحابه کرام رضي الله عنهم داخل دي، لکه څرنګه چې په يو روايت کې دي چې زما د صحابه وو باره کې د الله ﷻ نه ووېرېږئ! زمانه وروسته په دوی باندې ملامتي مه وايئ، کوم کس چې د دوی سره مينه ساتي، نو زما د مينې په سبب به ورسره مينه ساتي، څوک چې (نعوذ بالله) د دوی سره بغض ساتي، نو زما د بغض په بنياد به ورسره بغض ساتي، چا چې دوی ته تکليف ورکړو، هغه ماته تکليف راکړو او چا چې ماته تکليف راکړو، هغه الله ﷻ ناراضه کړو او چا چې الله ﷻ ناراضه کړو، نو نزدې ده چې الله ﷻ ورته عذاب ورکړي.

ريښتونی مسلمان

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کامل مسلمان هغه دی چې د لاس او ژبې د ضرر نه يې نور مسلمانان په امن کې وي، "وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ" او مهاجر سړی هغه دی چې د کومو شيانو څخه الله تعالیٰ منع فرمايلې ده د هغې څخه منع شي. متفق عليه

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب تحريم الظلم) کې تېر شوی دی، امام صاحب رحمه الله فرمايي: په دې حديث کې د يو کامل مسلمان علامه ښودل شوې ده، کامل مسلمان هغه دی چې د هغه د لاس او ژبې څخه بل مسلمان په امن کې وي، د غه ډول ريښتونی مهاجر هغه دی چې خپل وطن او خپلوان يې پرې اېښي وي او يو داسې ځای ته تللی وي چېرته چې په اسانۍ سره د الله ﷻ عبادت کوي او هغه کس هم مهاجر دی چې د الله ﷻ د حکم سره سم روان وي، ځکه چې هجرت په اصلي معنی کې ترک او پرېښودلو ته ويل کېږي، نو که وطن يې پرېښودلو يا يې ګناهونه پرېښودل، په دواړو معناګانو سره به ورته مهاجر ويل کېږي.

د خلکو سره ښه کول

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسولُ اللّٰهِ ﷺ: مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُزَحْزَحَ عَنِ النَّارِ، وَيُدْخَلَ الْجَنَّةَ، فَلْتَأْتِهِ مَنِيَّتُهُ وَهُوَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې دا خيره خوښوي چې د دوزخ نه بچ شي او جنت ته داخل شي، نو بايد چې ده ته مرګ راشي، نو په داسې حال كې ورته راشي چې هغه په الله ﷻ او په ورځ د آخرت باندې ايمان لري، "وَلْيَأْتِ إِلَى النَّاسِ الَّذِي يُحِبُّ أَنْ يُؤْتَى إِلَيْهِ" او د خلكو سره دې داسې سلوك وكړي لكه څرنګه چې د خپل ځان لپاره سلوك خوښوي، "رواه مسلم، وَهُوَ بعض حديثٍ طويلٍ سبق في بَابِ طَاعَةِ وُلَاةِ الأُمُورِ" دا د هغه اوږد روايت حصه ده چې په (باب ولاة الامور) كې مخكې تېر شوى دى.

لغوي تحقيق: (زحزح يزحزح) ددې معنى ده: لرې كېدل

تشريح: دا حديث هم وړاندې په (باب وجوب اطاعة ولاة الامور في غير معصية) كې تېر شوى دى، بهر حال د حديث مطلب دا دى چې د مرګ هيڅ پته نه لګيږي چې كله به راځي، نو موږ ته پكار دي چې كله هم د ايمان د تقاضو او نېك عمل څخه غافله نه شو، ددې لپاره چې كله هم موږ ته مرګ راځي چې په داسې حال كې راته راشي چې الله ﷻ زموږ څخه راضي وي، په قرآن كريم كې ارشاد دى: "ولا تموتن إلا وأنتم مسلمون" تاته دې مرګ نه راځي مګر په داسې حال كې چې نه د ايمان په حالت كې يې.

باب النهي عن التباغض والتقاطع والتدابر

د بغض او تعلقاتو پرې كولو نه منع راغلې ده

"قَالَ اللّٰهُ تعالى: إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ" الله ﷻ فرمايي: بې شكه مؤمنان په خپل مينځ كې وروڼه دي. [الحجرات: ۱۰]،

تشريح: ددې نه وړاندې دغه آيت په (باب النصيحة) كې ذكر شوى دى، (اخوة) جمع د (اخ) ده او (اخ) په عربي ژبه كې حقيقي ورور ته ويل كيږي، مطلب دا چې لكه څرنګه د خپل حقيقي/ سكه ورور سره معامله كوې، دوكه ورسره نه كوې، بې عزتي يې نه كوې، بغض ورسره نه ساتې، بلكې په هره موقع ورسره همدردي كوې، نو پكار ده چې د بل مسلمان ورور سره هم هغه شان معامله وكړې، په ګڼ شمېر احاديثو كې د وروڼو په شان د اوسېدو ترغيب وركول شوى دى.

مسلمانان په خپل منځ كې خواږه او په كفارو باندې سخت وي

"وقَالَ تعالى: أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ" الله ﷻ فرمايي: د مؤمنانو سره نرمي كونكي به وي او په كافرانو به سختي كونكي وي. [المائدة: ۵۴]

تشريح: دا آيت هم وړاندې په (باب علامات حب الله تعالى العبد) کې تېر شوی دی، خلاصه دا چې د ربښتوني مسلمان صفت دا دی چې هغه دې د بل مسلمان سره نرمه لهجه او خوږه ژبه وکاروي، په يو بل باندې به سختي نه کوي، که په کومه مسئله کې د دوی اختلاف پيدا شي، نو جنګونه به نه کوي، بلکې په نرمه طريقه او په حق جانب به فيصله کوي، د کفارو په مقابله کې به سخت وي، لکه څرنګه چې د آيت د مضمون څخه معلومېږي: "أشداء على الكفار رحماء بينهم" مسلمانان په کفارو سخت وي او په خپلو کې رحم کونکي وي.

"وقال تعالى: مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ" الله ﷻ فرمايي چې محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی او کوم کسان چې دده سره دي (يعنې صحابه کرام) دي، په کافرانو باندې سختي کونکي او په خپلو کې نرمي کونکي دي. [الفتح:۲۹].

تشريح: دا آيت هم وړاندې په (باب فضل الحب في الله والحث عليه) کې تېر شوی دی، مفسرين فرمايي: الله ﷻ چې کله هم په قرآن کريم کې انبياء عَلَيهِمُ السَّلَام ذکر کړي دي، نو د هغوی نومونه يې اخستي دي او بيا يې مخاطب کړي دي، لکه: "يا عيسى، ياموسى، يا إبراهيم، يانوح، يازكريا" ليکن چېرته چې هم د رسول الله ﷺ ذکر راغلی دی، هلته يې د نوم پر ځای صفات او القاب ذکر کړي دي، مثلاً "يا أيها النبي، يا أيها الرسول، يا أيها المدثر" په ټول قرآن شريف کې د رسول الله ﷺ څلور ځايه صراحتاً نوم ذکر شوی دی، په دې کې هم علماوو ګڼ شمېر حکمتونه ذکر کړي دي، په هغې کې يو ځای دا هم دی چې دلته هم د رسول الله ﷺ اسم مبارك صراحتاً ذکر دی، ددې آيت شان نزول دا دی چې په صلح حديبيه کې چې کله کفارو په دې خبره اصرار وکړو چې محمد رسول الله (الفاظ) کاټ کړئ او ددې پر ځای محمد بن عبد الله وليکئ؛ نو رسول الله ﷺ دا خبره ومنله، د هغه ځای نه خو د رسول لفظ کاټ کړې شو، ليکن الله ﷻ تر قيامته پورې محمد رسول الله ﷺ وليکلو چې تر څو قرآن وي، تر هغې به محمد رسول الله وي

وروسته د صحابه کرامو ﷺ صفات بيانېږي چې هغوی په خپل مينځ کې نرمي کوونکي دي او د کفارو په معامله کې سختي کوونکي دي.

د يو بل سره بغض او عناد ساتل حرام دي

"وعن أنس ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: لَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَحَاسَدُوا" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: په خپل مينځ کې بغض مه ساتئ او حسد مه کوئ "وَلَا تَدَابَرُوا وَلَا تَقَاطَعُوا" د يو بل سره ملاقاتونه مه بندوئ او مه خپلوي پرې کوئ "وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا، وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ" او ټول د الله ﷻ بندګان ورونه ورونه شئ، هيڅ مسلمان ته جائز نه دي چې هغه دې د بل مسلمان ورور سره د درې ورځو نه زياتې خبرې بندې کړي متفق عَلَيْهِ

تشريح: په حديث کې د ډېرو شيانو ذکر دی:

"لاتباغضوا" د يو بل سره بغض مه ساتئ، شريعت د يو بل سره د مينې او محبت کولو ترغيب ورکړی دی، د بغض څخه يې منع فرمايلې ده، "ولاتحاسدوا" د يو بل سره حسد مه کوئ حسد دېته وايي چې د يو کس سره څوك نعمت ويني، نو دی په زړه کې ارمان وکړي چې دا نعمت دده څخه ختم شي؛ که زما سره وي او که نه؛ دا حرام دی، شريعت ددې نه په سختۍ سره منع فرمايلې ده او بل دا چې حسد داسې بې انصافه ناروغي ده چې چاته هم دا ناروغي ولګيږي، تاسو وګورئ چې څوك په حسد کې مبتلاء کې وي، هم هغه پکې سوځي، نو د حسد دا اور په هغه پورې محدود وي، محسود يعنې د چا سره چې حسد کوي، د هغه هيڅ هم نه شي کولی.

ولاتدابروا: او يو بل ته مه شا کوئ؛ مطلب دا چې د يو بل بدي مه بيانوئ؛

ولاتقاطعوا: د يو بل سره تعلق مه ختموئ، د دنيوي کارونو په وجه د يو بل سره د درې ورځو څخه زيات تعلق ختمول حرام دي، البته که خپګان د ديني امورو په وجه وي، نو بيا د زياتو ورځو ګنجائش هم شته، مثلاً يو کس بدعات کوي، نو دده سره تعلق ختمول جائز دي، تر څو يې چې د بدعاتو څخه توبه نه وي ويستلې

وکونوا عباد الله إخواناً: او ټول د يو خدای بندګان او ورونه ورونه شئ؛ که د ورونو په شان ژوند وکړو، نو دا ټولې مذکوره غلطي خبرې به زموږ څخه ختمې شي.

د دوشنبې او پنځ شنبې په ورځ د تعلق ختموونکي څخه بغير د ټولو بخښنه کيږي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أنّ رسولَ اللهِ ﷺ قَالَ: تُفتحُ أبوابُ الجنّةِ يومَ الإثنينِ ويومَ الخميسِ، فَيُغفرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لا يُشرِكُ بِاللهِ شيئاً، إلاّ رَجُلاً كانتْ بينهُ وبينَ أخيهِ شَحناءُ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوشنبې او پنځ شنبې په ورځ د جنت دروازې خلاصيږي، هر کس ته بخښنه کيږي سېوا د مشرك نه، دغه راز هغه سړي ته هم بخښنه نه کيږي چې د خپل ورور سره يې خبرې بندې کړې وي، "فَيُقالُ: أنظِروا هذَينِ حتى يَصْطَلِحا! أنظِروا هذَينِ حتى يَصْطَلِحا!" دده په اړه به حکم وشي چې دې ته مهلت ورکړئ چې دوی په خپل مينځ کې سوله وکړي، دوی ته مهلت ورکړئ چې په خپل مينځ کې سوله وکړي؛ رواه مسلم

وفي روايةٍ لَهُ: تُعرَضُ الأعمالُ في كلّ يومِ خميسٍ واثنينِ وذكرَ نحوَهُ: او په يو بل روايت کې داسې هم شته چې د دوشنبې او پنځ شنبې په ورځ عملونه پورته خيژي او بيا يې روايت هغسې ذکر کړو.

لغوي تحقيق: شحناء: مشاحنة: شحناء: بغض، عداوت او دښمنی ته ويل کيږي

تشريح: تفتح أبواب الجنة: د هر دوشنبې او پنجشنبې په ورځ د جنت دروازې خلاصيږي، ملا علي قاري رحمه الله ددې جملې وضاحت داسې کړی دی چې د هر دوشنبې او پنجشنبې په ورځ د جنت درجې او طبقې اوچتولی شي او په دې دواړو ورځو کې د الله تعالی ډېر زيات رحمتونه او برکتونه نازليږي کوم چې د بندګانو د بخښنې ذريعه جوړيږي، شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله فرمايي دا جمله د

بندګانو د مغفرت او بخښنې څخه کنايه ده، په دې ورځو کې الله ﷻ بندګانو ته زيات اجرونه ورکوي او درجې يې اوچتوي.

حتى يصطلحا: تر څو يې چې په خپل مينځ کې سوله نه وي کړې، مطلب دا چې د هر دوشنبې او پنځ شنبې په ورځ ټولو خلکو ته بخښنه کيږي، ليکن هغه دوه کسان چې د يو بل سره خبرې بندې کړې، د دوی بخښنه په صلح باندې موقوف ده، تر څو چې دوی صلح نه وي کړې تر هغې د دوی بخښنه نه کيږي، په دې کې هغه صورت هم داخل دی چې په دې دواړو کې هر يو د بل څخه نفرت او د يو بل سره دښمني ساتي يا يو يکې دښمني ساتي او بل يې نه ساتي.

باب تحريم الحسد

حسد حرام دی

وَهُوَ تمني زوال النعمة عن صاحبها، سواء كانت نعمة دين أو دنيا قال الله تعالى: أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَى مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ: حسد دې ته ويل کيږي چې يو سړی د بل سړي سره نعمت ويني، نو هغه ددې ارمان وکړي چې کاش دا نعمت دده نه زائل شي، بيا برابره خبره ده که دا نعمت د دين وي او که د دنيا وي، لکه الله ﷻ چې فرمايي: ايا دوی د خلکو سره د هغه څه په باره کې حسد کوي کوم څه چې الله ﷻ په خپل فضل سره دوی ته ورکړي دي؟ [النساء: ۵۴] "**وفيه حديث أنس السابق في الباب قبله**" دې باره کې د انس ﷺ حديث دی چې په مخکې باب کې تير شوی دی.

تشريح: أم: د جمهورو علماوو په نزد دلته لفظ د (ام) په معنی د (بل) سره دی، د فضل څخه مراد نبوت دی، د آيت مبارک په باره کې قتاده ﷺ فرمايي چې دلته عام عرب مراد دي، يهوديانو به په عربو باندې حسد کولو چې څرنګه الله ﷻ په دوی کې پيغمبر پيدا کړو، ځينې نور علماء فرمايي ددې نه مراد رسول الله ﷺ او د هغه صحابه کرام ملګري دي چې دوی ته دومره ستر انعام څرنګه ملاو شو، دا سوال به يهوديانو کولو او په دې باندې به يې سخت حسد کولو چې په دوی کې ولې آخري نبي ﷺ راغلو او ولې اخري کتاب (قرآن) په دوی کې نازل شو؟

وفيه حديث أنس الخ: دې باره کې د انس ﷺ هغه حديث هم شته چې ددې نه په وړاندې باب کې ذکر شوی دی.

حسد نيکي خوري

"**وعن أبي هريرة ﷺ أن النبي ﷺ قال: إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ، فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ أَوْ قَالَ: الْعُشْبَ**" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د حسد نه ځان وساتئ، ځکه چې حسد نيکي داسې خوري، لکه اور چې وچ لرګي سوځوي او يا يې داسې وفرمايل عشب چې ددې معنی ده: واښه. رواه أبو داود

تشريح: مولانا منظور نعماني رحمه الله فرمايي: په دې خبره باندې تجربه شاهده ده چې په زړه کې يو ځل د حسد اور بل شي، نو هغه بيا په دې خبره پسې وي چې د محسود يعنې د چا سره چې حسد وي، هغه ته په څه نا څه طريقه نقصان ورسوي، د هغه بې عزتي وکړي، که نور څه يې له لاسه کيږي، نو کم نه کم د هغه غيبت شروع کړي او د خپل زړه اور په دې باندې مړ کړي، دا خبره د حديث څخه ثابته ده چې د قيامت په ورځ ددې غيبت کونکي حاسد نيکې راخيستلې شي او هغه چاته به ورکولې شي د چا غيبت يې چې کړې وي او همدې ته وايي چې حسد نيکې خوري او هم دغه ددې حديث ډېره آسانه توجيه ده.

باب النهي عن التجسس والتسمع لكلام من يكره إستماعه

د جاسوسی او د خلکو خبروته د غوږ نيولو څخه منع فرمايل

"قَالَ اللهُ تعالى: وَلَا تَجَسَّسُوا" الله جل جلاله فرمايي: جاسوسي مه کوئ [الحجرات:۲] "وقال تعالى: وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا" بې شکه هغه کسان چې مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو ته بغير څه وجې ضرر رسوي، نو داسې کسان په خپلو ځانونو باندې بهتان او د ګناه پېټی اچوي [الأحزاب:۵۸].

د صحيحين د روايت څخه معلوميږي چې دا جمله: "تجسسوا" په دوه ډوله لوستل کيږي (۱) لاتجسسوا: په جيم سره او لا تحسسوا: په (ح) سره، د معنى په لحاظ دواړه نژدې دي، ليکن د لغت امام اخفش رحمه الله په دواړو کې لږ فرق بيان کړی دی، هغه فرمايي چې په (جيم) سره د (لاتجسسوا) معنى ده: د هغه شي تلاش کول چې خلک يې پټوي او په (ح) سره د (لاتحسسوا) معنى ده: مطلقا لټون ته ويل کيږي، د آيت مطلب دا شو چې کوم څه څرګند وي، هغه اخله! ليکن د يو مسلمان کوم عيب چې پټ وي د هغې په تلاش پسې مه ګرځه.

ددې پسې آيت کې الله جل جلاله فرمايي: په کوم بې ګناه مسلمان باندې بهتان تړل او د هغه کمی بيانول او توهين کول يې حرام دي، روافض يعنې شيعه ګان د صحابه کرامو تنقيص او توهين کوي، دوی هم ددې آيت په وعيد کې داخل دي، مفسر کبير علامه ابن کثير رحمه الله فرمايي: روافض منکوس القلوب دي، يعنې د دوی زړونه کاږه شوي دي، کوم خلک چې د تعريف قابل دي، د هغوی تنقيص کوي او کوم خلک چې سپک او ورک دي، د هغوی تعريف کوي

بد ګوماني حرامه ده

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم قَالَ: إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ، وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَافَسُوا وَلَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د بد ګوماني څخه ځان وساتئ، ځکه چې بد ګوماني ډېر لوی دروغ دی، د خلکو عيبونه مه لټوئ او مه د هغوی جاسوسي کوئ، مه د هغوی کوم شی چې ستاسو خوښ شي اخلئ او حسد مه کوئ، بغض او

عناد مه ساتئ؛ "وَلَا تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللّٰهِ إِخْوَانًا كَمَا أَمَرَكُمْ. اَلْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ" د يو بل سره تعلقات مه پرې کوئ؛ داسې ورونه شئ لکه څنګه چې تاسو ته امر شوی دی، يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، "لَا يَظْلِمُهُ، وَلَا يَخْذُلُهُ، وَلَا يَحْقِرُهُ، اَلتَّقْوٰى هٰهُنَا اَلتَّقْوٰى هٰهُنَا وَيُشِيرُ إِلٰى صَدْرِهِ" نه به خپله پرې ظلم کوي او نه به يې بل چاته پرېږدي چې هغه پرې ظلم وکړي او نه به يې سپکوي، تقوی دلته وي، تقوی دلته وي، نبي کريم ﷺ خپلې سينې مبارکې ته اشاره وکړه، "بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ" د انسان د بدبختی لپاره دا خبره کافي ده چې هغه خپل مسلمان ورور سپک وګڼي، "كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ: دَمُهُ، وَعِرْضُهُ، وَمَالُهُ" د يو مسلمان په بل مسلمان باندې د هغه وينه، د هغه عزت او د هغه مال حرام دی، "إِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ إِلٰى أَجْسَادِكُمْ، وَلَا إِلٰى صُوَرِكُمْ، وَلٰكِنْ يَنْظُرُ إِلٰى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ" بې شکه الله ﷻ ستاسو بدنونو او صورتونو ته نه ګوري، بلکې الله ﷻ ستاسو زړونو او ستاسو عملونو ته ګوري.

وفي رواية: لَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَجَسَّسُوا، وَلَا تَحَسَّسُوا: او په يو بل روايت کې د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: حسد مه کوئ، بغض مه ساتئ او جاسوسي مه کوئ؛ "وَلَا تَنَاجَشُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللّٰهِ إِخْوَانًا" او مه د چا (سودا) ورانوئ، (يعنې که ورور څه شی اخلي نو خامخا قيمت مه زياتوئ او د الله ﷻ بندګان ورونه ورونه شئ.

وفي رواية: لَا تَقَاطَعُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَحَاسَدُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللّٰهِ إِخْوَانًا: او په يو بل روايت کې داسې هم شته چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: تعلقات مه پرې کوئ، د يو بل پسې مه ګرځئ چې د يو بل عيبونه لټوئ، بغض مه ساتئ، حسد مه کوئ او د الله ﷻ بندګان ورونه ورونه شئ، "وفي رواية: وَلَا تَهَاجَرُوا وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلٰى بَيْعِ بَعْضٍ، رواه مسلم بكل هذه الروايات، وروى البخاري أكثرها" او په يو بل روايت کې دي چې خپل مينځ کې تعلقات مه پرې کوئ او نه دې ځينې د ځينو نورو کسانو په سودا باندې بولې کوي، دا ټول د مسلم روايات دي او امام بخاري رحمه الله هم اکثر را نقل کړي دي.

تشريح: په دې حديث کې د ډېرو شيانو څخه منع راغلې ده کوم چې د معاشرې سره تعلق ساتي، که په دې حديث عمل وشي، نو معاشره به د ډېرو بدو اعمالو او خرابيو څخه محفوظه شي.

إياكم والظن فإن الظن أكذب الحديث: د بد ګومانی څخه ځانونه وساتئ؛ ځکه چې بد ګوماني ډېر لوی دروغ دي، مطلب دا چې يو کس د بل کس باره کې بد ګوماني شروع کړي او هغه په زړه کې دا فيصله وکړي چې فلانکی خو داسې او داسې دی او حقيقت هغسې نه وي، نو دده فيصله دروغجنه شوه، أكذب الحديث: دېته لوی دروغ ځکه وويل شو چې بدي ډېره زياته بيانوي، علماء فرمايي: که په ژبه يې بيان نه کړي، نو داسې کس به ګناهګار نه وي.

ولاتجسسوا ولاتحسسوا: د چا په عيب پسې مه ګرځئ؛ جاسوسي مه کوئ؛ تحسسوا چې په (ح) سره شي، معنی يې دا ده: د چا عيبونه لټول او کله چې په (جيم) سره (تجسسوا) شي، نو معنی يې دا ده: د چا عيبونه بيانول، علامه طيبي رحمه الله فرمايي: که په (ح) سره شي، نو معنی يې دا ده چې د کوم

جاسوس په واسطه د چا عيب لټول او چې په (ج) سره شي، نو معنی يې دا ده چې د جاسوس په ذريعه نه، بلکې خپله عيب لټول.

ولاتناجشوا: نجش په اصل کې په تيزی سره ښکار کولو ته وايي، مطلب يې دا دی چې په بل چا باندې خپل ځان ښودل، ځينو يې دا معنی هم کړې ده چې ګاهك/ اخيستونکي ته د دوکې/ چل ورکولو په خاطر د حد نه زيات د سامان تعريف کول چې ګاهك هغه سامان واخلي، ليکن په حقيقت کې د هغو پيسو حقدار نه وي.

ولاتحاسدوا: او مه د يو بل سره حسد کوئ! مطلب دا چې د چا سره کوم نعمت وويني نو د دې خبرې ارمان مه کوه چې هغه نعمت دې خدای پاک دده نه واخلي، که زما سره وي او که نه وي.

ولاتباغضوا: د يو بل سره بغض او کينه مه ساتئ! مطلب دا چې د داسې اسبابو څخه ځان وساتئ چې د کينې او نفرت باعث جوړيږي يا دا مطلب چې په شرعي احکاماتو کې په نفساني خواهشاتو بناء انتشار او فساد مه جوړوئ! يا دا چې د مسلمانانو ترمينځ دښمني مه جوړوئ چې د دوی ترمينځ چغل خوري شروع کړئ! ځکه چې د چغل خورۍ په وجه دښمني پيدا کيږي.

ولاتدابروا: او د يو بل بد مه وايئ، مطلب دا چې په يو بل کې سره ښې خوبئ ګورئ او بدې خوبی نظر انداز کوئ.

وكونوا عباد اللّٰـــه إخواناً: د الله ﷻ بندګانو! په خپل مينځ کې ورونه ورونه شئ! مطلب دا چې تاسو ټول د يو الله ﷻ بندګان يئ او د يو الله ﷻ عبادت کوونکي يئ، نو د يو بل سره حسد کينه او بغض مه کوئ!

لايظلمه: نه خپله وړاندې ظلم کوئ، مسلمان د بل مسلمان ورور دی، د دوی ترمينځ بايد د ايثار او همدردی معامله وي، نه دا چې د ظلم معامله وشي.

ولايحقره: او نه به خپل مسلمان ورور ذليله کوي، مطلب دا چې د بل مسلمان ورور عيبونه د نورو خلکو په وړاندې مه بيانوه چې هغه د خلکو په نظر کې سپك راشي.

التقوى هٰهنا: تقوي دلته ده، مطلب دا چې د تقوي مرکز سينه يعنې زړه دی،ددې جملې ربط د وړاندې جملې سره دا دی چې کوم مسلمان ورور ته سپك وکتل شي، کېدی شي چې هغه د الله ﷻ په نزد ډېر زيات تقوی دار وي چې د هغه ګناهونه په سترګو نه شي ليدل کېدی، نو مسلمان سړي ته سپك کتل حرام دي.

إن اللّٰــه لاينظر إلى أجسادكم ولا إلى صوركم: مطلب دا چې الله ﷻ ستاسو ظاهري شکلونو او بدنونو ته نه ګوري، بلکې باطني طريقو ته ګوري چې په دې سړي کې څومره اخلاص دی، په يو روايت کې دي چې د ټولو اعمالو روح او ساه هغه هم دغه روغ نيت دی.

د چا عیب لټول حرام دي

"وعن معاوية ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يقول: إِنَّكَ إِنِ اتَّبَعْتَ عَوْرَاتِ الْمُسْلِمِينَ أَفْسَدْتَهُمْ أَوْ كِدْتَ أَنْ تُفْسِدَهُمْ"
د معاويه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چې فرمايل يې: که چېرته تاسو د مسلمانانو په پټو خبرو او رازونو پسې شوئ، نو هغوی به په فساد کې مبتلا کړئ او يا يې داسې وفرمايل: نژدې ده چې هغوی تاسو په فساد کې مبتلا کړې. حديث صحيح، رواه أبوداود بإسناد صحيح.

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې که يو کس د بل کس په عيبونو پسې شي او د هغه کمزوري لټول غواړي بيا داسې نور خلك هم شروع کړي، نو په معاشره کې به لوی فساد جوړ شي، ځکه چې په هر سړي کې څه نا څه عيب خامخا وي، دغه شان د هر سړي به په بل کس باندې اعتماد ختم شي، لهذا شريعت مطهره دداسې خبرو څخه منع فرمايلې ده چې خلك دې د خلکو عيبونه ولټوي.

په چا باندې پرده اچول

"وعن ابن مسعود ﷺ: أَنَّهُ أُتِيَ بِرَجُلٍ فَقِيلَ لَهُ: هَذَا فُلَانٌ تَقْطُرُ لِحْيَتُهُ خَمْراً" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه ته يو کس راوستل شو، چا ورته ووېل: دا سړی دی چې د ږيرې نه يې اوس هم د شرابو څاڅکي توييږي، "فَقَالَ: إِنَّا قَدْ نُهِينَا عَنِ التَّجَسُّسِ، وَلَكِنْ إِنْ يَظْهَرْ لَنَا شَيْءٌ نَأْخُذْ بِهِ" عبد الله بن مسعود ﷺ وفرمايل: موږ د جاسوسئ نه منع شوي يو، که چېرته موږ ته کوم څه په ظاهر کې ښکاره شي، نو موږ به په هغه باندې مؤاخذه کوو. حديث حسن صحيح، رواه أبوداود بإسناد على شرط البخاري ومسلم.

لغوي تحقيق: التجسس: د يو شي معلومولو لپاره لاس وړل، اصل معنی يې ده: لټون

تشريح: کومه خبره چې په وړاندې حديث کې ذکر شوه چې د چا په عيبونو پسې مه ګرځه په دې خبره د صحابه کرامو د ژوند عملي نمونه موږ ته ښيي چې د هغه کس د ږيرې څخه د شرابو څاڅکي پرېوتل، ليکن بيا هم د هغه په دې عمل کې تاويل وکړل شو، هغه داسې چې کېدی شي هغه شراب نه وي څښلي، بلکې کېدی شي چې بل چا يې په ږيره باندې ورته توی کړي وي، بل ددې حديث څخه دا خبره هم معلومه شوه چې محض شبه او په ګومان باندې حدود نه جاري کېږي، د حد لپاره قطعي ثبوت ته ضرورت دی.

باب النهي عن سوء الظنّ بالمسلمين من غير ضرورة

په مسلمانانو باندې د بدګومانۍ څخه منع شوې ده

"قَالَ اللهُ تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ" الله ﷻ فرمايي: اې مؤمنانو! د ډېرو ګومانونو څخه ځان وساتئ! ځکه چې ځينې ګومان ګناه وي. [الحجرات: ۱۲]

تشريح: علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: په آيت کې د ظن څخه مراد تهمت دی، مطلب دا چې په کوم سړي باندې د دليل څخه بغير الزام مه لګوئ! کنه نو په ګناه کې به مبتلا شئ، امام جصاص رحمه الله

فرمايي: ظن په څلور قسمه دی: (۱) حرام، (۲) واجب، (۳) مستحب، (۴) او مباح يا جائز.

(۱) حرام ظن هغه دی چې د الله ﷻ په حق کې بد ګوماني وکړل شي، مثلاً: يو کس د ځان سره ووايي چې بس هرڅه چې وي، خو الله ﷻ به ماته ضرور سزا راکوي يا به مي په مصيبت کې اخته کوي، خوشحالي به نه راکوي.

(۲) واجب ظن هغه دی چې په هغه کې په يو جانب باندې عمل ضروري وي او د هغه متعلق په قرآن يا حديث کې کوم واضح دليل نه وي راغلی، په داسې ځايونو کې په ظن باندې عمل کول واجب دي، مثلاً: د شاهدانو په شاهدی باندې فيصله کول واجب دي، ليکن په دې کې ددې احتمال هم شته چې کېدی شي دوی دروغ ويلي وي، دغه شان چې قبله معلومه نه وي، نو په داسې ځای کې په ظن غالب باندې عمل کول واجب دي، (۳) ظن مستحب هغه دی چې د هر مسلمان سره نېک ګومان وساتي، په دې باندې سړي ته نيکي ملاوېږي، (۴) مباح ظن، ددې مثال په لمانځه کې په رکعتونو کې د شك واقع کېدو دی، يو سړي ته شك وشو چې څلور رکعته مي وکړل او که درې رکعته مي ادا کړل، په داسې ځای کې به په ظن غالب باندې عمل کوي، که د درې رکعتونو غالب ظن يې وو، نو يو رکعت به ورسره بل هم ملګری کړي چې څلور رکعتونه شي او که د څلورو غالب ظن يې وو، نو بس پوره شو او دغه عمل مباح دی، واجب هم نه دی، حرام هم نه دی او مستحب هم نه دی.

بد ګوماني لوی دروغ دي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الحَدِيثِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د بد ګوماني څخه ځان وساتئ، ځکه چې د بد ګوماني نه لوی دروغ نشته. متفق عَلَيْهِ

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب النهي عن التجسس والتسمع لكلام من يكره إستماعه) کې تېر شوی دی، مطلب دا دی چې بد ګوماني لوی دروغ او حرام عمل دی، په عامو حالاتو کې په مسلمانانو باندې ښه ګومان کول فرض دی، مګر دا چې د يو کس په باره کې واضح قطعي طور د خبره ثابته شي هغه بېله خبره ده، نو په داسې حال کې به په بد ګوماني باندې مؤاخذه او ګناه نه وي

باب تحريم إحتقار المسلمين

مسلمانان سپک ګڼل حرام دي

"قَالَ اللّٰـــه تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ" هغه کسانو چې ايمان راوړی دی، په تاسو کې دې يو قوم په بل قوم پورې توقې نه کوي، کېدی شي چې په کوم قوم پورې توقې کيږي، هغه د بل قوم نه ډېر بهتر وي، "وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ" او نه دې ښځې په نورو ښځو پورې توقې کوي، کېدی شي چې په کومو ښځو پورې توقې کيږي هغه د هغه نورو ښځو څخه بهترې

ﻭﻱ، "وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ" او عيبونه مه لګوئ په يو بل پورې او نه دې بد القابونه يو بل ته يادوي، "بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ" د ايمان نه وروسته بد نوم اخيستل ډېره لويه ګناه ده او کوم کسان چې توبه ونه باسي بس داسې کسان ګناهګار دي، [الحجرات:۱۱] "وقال تعالى: وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ" الله ﷻ فرمايي: تباهي ده هغه سړي لپاره چې په خلکو کې عيبونه لټوي او خلکو ته اشارې کونکی وي [الهمزة:۱].

تشريح: په آيت کې مسلمانان د درې کارونو څخه منع شوي دي، لومړی دا چې: "لايسخر قوم من قوم" يو قوم به په بل قوم پورې توقې او رشخند نه وهي، علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: د يو سړي د تحقير او توهين لپاره د هغه عيبونه په داسې شان سره بيانول چې خلك ورباندې وخاندي دېته استهزاء وايي، دا په ژبې سره هم کيږي او په لاس پښو او اشارو سره هم کيږي، دا ټول حرام دي، دغه شان د چا په وړاندې د يو کس داسې عيبونه بيانول چې خلك ورباندې وخاندي حرام دي.

د ډېر اهتمام له وجې سړي ياد کړل شو، حال دا چې په دې کې ښځې هم داخلي دي، ليکن ښځې بې ځانته بيان کړې، په دې کې علت دا دی چې د کوم کس عيبونه بيانولی شي، کېدی شي چې هغه د الله ﷻ په نزد ډېر زيات ښه انسان وي، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: که زه د کوم سپي پورې توقې او خندا وکړم، نو ماته ويره ده چې هسې نه په ما هم دا چل ونه شي.

دويم دا چې: "ولا تلمزوا أنفسكم" په چا کې عيبونه مه لټوئ، يا چاته د هغه د عيبونو طعنه مه ورکوئ، مطلب دا چې په خپلو عيبونو نظر ساتئ؛ ځکه چې د عيب نه څوك هم خالي نه وي، که نن ته په خلکو کې عيبونه لټوې او ورپورې رشخند وهې، کېدی شي چې بله ورځ ستا کوم عيب هغه ته معلوم شي نو بيا به هغه په تا پورې خندا او ټوکې کوي، بله دا چې د خپل مسلمان ورور توهين کول د خپل ځان توهين کول دي، ځکه چې که کفارو ته پته ولګيږي چې مسلمانان په خپلو کې سره دا شان دي چې په يو بل پورې رشخند، ټوکې او مسخرې کوي، نو موږ ته به څه دعوت راکړي.

دريم دا چې: "ولا تنابزوا بالألقاب" چاته بد لقبونه مه استعمالوئ، چې په دې سره هغه ناراضه کيږي، اګر چې هغه عيب په هغه کې وي، مثلاً ګوډ ته ګوډ ويل، ړوند ته ړوند ويل وغيره، ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: د آيت مطلب دا دی چې که يو کس د ګناه يو کار وکړي او خلك ورباندې خبر شي چې هغه ته فلانکی کس په فلانکی ګناه کې مبتلاء دی، بيا هغه توبه وباسي، نو خلکو ته پکار نه دي چې هغه ته په ګناه سره آواز کوي، مثلاً: هغه زنا کړې وي يا يې شراب څښلي وي يا يې غلا کړې وي او اوس ته ورته وايي چې اې زناکاره! اې شرابي! اې غله!

وروسته آيت کې الله ﷻ فرمايي چې: "ويل لكل همزة الخ" په دې آيت کې دوه الفاظه استعمال شوي دي، يو (همزة) او دويم لمزة، ځينې علماوو ددې دواړو يوه معنی اخيستې ده، ځينو پکې فرق بيان کړی دی، وايي چې (همزة) دې ته وايي چې پسې شا د چا عيبونه بيان کړي، دېته غيبت هم وايي،

لمزة د چا په وړاندې د هغه عيبونه بيانول او هغه ته طعنه ورکول، يا هغه ته بد رد ويل، دا ټول کارونه حرام دي، ددې دواړو مذمت په قرآن او حديث کې راغلى دى، غيبت د خپل مړ ورور غوښې خوړل دي، چا ته سپک کتل يا يې توهين کول سخته او لويه ګناه ده، د يو مسلمان زړه ته درد او تکليف رسول جرم او د الله ﷻ د ناراضى سبب دى.

مسلمان سپک کتل حرام دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ قَالَ: بِحَسْبِ امْرِءٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو سړي د بد بختى او د شرير جوړېدو لپاره دا خبره هم کافي ده چې هغه خپل مسلمان ورور سپک وګڼي. رواه مسلم، وَقَدْ سبق قريباً بطوله

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب النهي عن التجسس الخ) کې ذکر شوى دى، مطلب يې هم دا دى چې يو مسلمان هم سپک ګڼل پکار نه دي، ځکه چې مسلمان ته په سپک نظر کتل سخته ګناه ده، څوک چې يو مسلمان ته سپک ګوري، الله ﷻ هغه په خپله سپکوي، دا خبره ياد ساتل پکار دي چې هر څوک يو الله ﷻ مني او د هغه رسول ﷺ مني دا سړى قابل د احترام دى، ځکه چې الله ﷻ فرمايي چې: "ولله العزة ولرسوله وللمؤمنين".

تکبر څه ته وايي؟

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه، عن النبيّ ﷺ قَالَ: لاَيَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ!" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه کس به جنت ته داخل نه شي چې په زړه کې يې ذره برابر غرور وي، "فَقَالَ رَجُلٌ: إنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَناً، وَنَعْلُهُ حَسَنَةً" يو کس وويل: يا رسول الله ﷺ! په موږ کې خو هر کس دا خبره خوښوي چې د هغه جامې دې ښايسته وي، څپلۍ دې ښايسته وي، "فَقَالَ: إنَّ اللهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ، الْكِبْرُ: بَطَرُ الْحَقِّ، وَغَمْطُ النَّاسِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ښکلى دى او ښکلا خوښوي، غرور او تکبر دې ته ويل کيږي چې خلک سپک وګڼي او په حق باندې پښه کېږدي. رواه مسلم

ومعنى بَطَرُ الْحَقِّ دَفْعُهُ، وغَمْطُهُمْ: احْتِقَارُهُمْ، وَقَدْ سَبَقَ بَيَانُهُ أَوْضَحَ مِنْ هذَا فِي بَابِ الْكِبْرِ: د (بطر الحق) معنى ده دفعه کول/ ردې کول، او (غمطهم) معنى ده: سپک ګڼل.

تشريح: دا حديث هم په (باب تحريم الكبر والاعجاب) کې ذکر شوى دى، "مثقال ذرة" د يوې ذرې دانې برابر، دا کنايه ده د ډېر معمولي شي څخه، معمولي شان تکبر کول الله ﷻ ته ناخوښ دي، ځکه چې تکبر د الله ﷻ صفت دى، انسان ته مناسب نه دي چې هغه دې تکبر وکړي، ځکه چې د انسان تخليق د داسې مادې څخه شوى دى چې که هغه ماده د انسان په جامو پورې ونښلي، نو لمونځ يې هم ورسره نه کيږي، نو بيا تکبر د څه شي لپاره کوي؟

فقال رجل: د (رجل) څخه مراد څوک دى؟ ځينو علماوو معاذ بن جبل رضي الله عنه مراد اخيستى دى او ځينو عبد الله بن عمر رضي الله عنه او ځينو نورو ربيعه بن عامر رضي الله عنه مراد اخيستى دى.

يحب أن يكون ثوبه حسناً: مطلب دا دی چې که الله ﷻ وسعت ورکړی وي او هغه ښې ښکلي جامې اغوندي او ښه څپلۍ په پښو کوي، نو دېته تکبر نه شي ويل کېدی، بلکې تکبر دې ته وايي چې د چا په زړه کې دا فکر وي چې زه خو ډېر لوی/ غټ سړی يم، د ډېر عزت څښتن يم، دا نور خلك په څه کې دي؟ د دوی به څه عزت وي؟ وغيره.

د الله ﷻ رحمت ډېر زيات دی

"وعن جُندب بن عبدالله ﷺ قَالَ: قَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: قَالَ رَجُلٌ: وَاللهِ لا يَغفِرُ اللهُ لِفُلانٍ، فَقَالَ اللهُ ﷻ: مَنْ ذا الَّذِي يَتَأَلَّى علىَّ أن لا أغفِرَ لِفُلانٍ!" د جندب بن عبد الله ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو کس داسې خبره وکړه چې قسم په الله ﷻ! فلانکي سړي ته به الله ﷻ بخښنه نه کوي، الله ﷻ وفرمايل: څوك دومره زړور کېدی شي چې په ما قسم وخوري چې زه به فلانکي ته بخښنه نه کوم "فَإنّي قَدْ غَفَرتُ لَهُ وَاحْبَطْتُ عَمَلَكَ" ما هغه سړی وبخښلو او ستا عملونه مې برباد کړل رواه مسلم

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې که يو انسان په عبادت کې مشغول وي، نو خپل ځان دی غټ او بل دې سپك نه ګڼي او بيا په ژبه هم ويل چې الله ﷻ به دی نه بخښي. دا د الله ﷻ د غفاريت د شان څخه خلاف خبره ده، الله ﷻ ته د چا د عبادت هيڅ ضرورت نشته، د الله ﷻ ذات بې پروا دی، ځکه خو په حديث کې ذکر شو چې کوم کس په خپل عبادت فخر کولو او بل سپك ګڼلو، الله ﷻ د هغه اعمال برباد کړل او هغه بل يې وبخښلو، معلومه شوه چې د الله ﷻ رحمت ډېر وسيع دی، هيڅ پته نه لګيږي چې په کومه خبره به مو وبخښي؟

باب النهي عن إظهار الشماتة بالمُسْلِم

د مسلمان په تکليف د خوشحالۍ اظهار کول

"قَالَ اللهُ تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ" بې شکه مسلمانان په خپلو کې ورونه دي. [الحجرات:۱۰]

تشريح: دا آيت هم وړاندې ذکر شوی دی، د آيت خلاصه دا ده چې مسلمانان په خپلو کې سره ورونه ورونه دي، د دوی ترمينځ چې کومه رشته ده هغه د ايمان ده، دا رشته د ټولو رشتو څخه زياته مضبوطه ده، ددې رشتې برقرار ساتلو لپاره ترغيب ورکول شوی چې خپلو کې سره ورونه ورونه شئ، نفرتونه او دښمنۍ ختمې کړئ، د يو بل غمخوار جوړ شئ، که چېرته په غلطۍ کې څه حادثه مينځ ته راشي، نو دا لرې کړئ او بيا ورونه ورونه سره شئ!

د بې حيايي خپرول حرام دي

"وقال تعالى: إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ" الله ﷻ فرمايي: هغه کسان چې غواړي په مسلمانانو کې دې بې حيايي او فحاشي خپره شي، د دوی لپاره په دنيا او اخرت کې سخت درد ناك عذاب دی. [النور:۱۹].

تشريح: دا آيت وړاندې په (باب ستر عورات المسلمين) کې ذکر شوی دی، خلاصه دا چې لفظ د فاحشة معنی ده: بې حيايي، قرآن کريم بدکاری ته هم فاحشه وويل، په آيت کې د (حديث افک) کله چې په ام المومنين عايشه رضي الله عنها باندې تهمت ولګېدو او منافقانو دغه دروغجنه خبره خپره کړه، نو الله ﷻ ددې څخه په بې حيايي سره تعبير وکړو او په بې حيايي خپرولو باندې الله ﷻ د عذاب اليم وعيد فرمايلی دی، ددې څخه معلومه شوه چې په شريعت کې د بې حيايي خپرول څومره سخت جرم دی، دا ضروري نه ده چې انسان به يوازې په آخرت کې د عذاب سره مخامخ کيږي، بلکې په دنيا کې هم په عذاب کې مبتلاء کېدی شي.

د يو مسلمان په غم مه خوشحالېږه !

"وعن وَاثِلَةَ بن الأسقع رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لا تُظْهِرِ الشَّمَاتَةَ لأَخِيكَ فَيَرْحَمَهُ اللَّهُ وَيَبْتَلِيكَ" د واثله بن الاسقع رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د خپل مسلمان ورور په غم او درد باندې د خوشحالی اظهار مه کوه! کنه نو هغه ته به الله ﷻ صحت ورکړي او تا به په هغه مرض کې مبتلاء کړي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن

وفي الباب حديث أبي هريرة السابق في باب التجسس: كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ: په دې باب کې د أبو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې مخکې په (باب التجسس) کې تېر شوی دی، هغه دا چې هر مسلمان په بل مسلمان باندې حرام دی. الخ ... الحديث

لغوي تحقيق: الشماتة: کوم کس په تکليف يا مصيبت باندې ليدل او په هغې باندې خوشحاله کېدل.

تشريح: په ګڼ شمېر احاديثو کې په مسلمان باندې د پردې اچولو ترغيب راغلی دی، په بې ستری باندې د سخت عذاب وعيد راغلی دی، په يو حديث کې راغلي دي چې کوم مسلمان د بل مسلمان د پردې خيال وساتي، نو الله ﷻ به په هغه باندې د قيامت په ورځ پرده واچوي، که يو کس د بل مسلمان د پردې خيال ونه ساتي، بلکې خلکو ته د هغې اظهار وکړي، نو الله ﷻ به دی رسوا کړي، تردې چې په کور کې به ناست وي او شرمنده به يې کړي، ددې حديث څخه معلومه شوه چې د يو مسلمان په غم خوشحالي پکار نه ده، ځکه چې خدای مه کړه! عين ممکن ده چې الله ﷻ هغه ته خوشحالي ورکړي او په کوم مصيبت کې چې يې اخته کړی وي، هغه د مصيبت څخه خلاص کړي او او تا په هغه مصيبت کې اخته کړي.

باب تحريم الطعن في الأنساب الثابتة في ظاهر الشرع

شرعاً ثابت شوي نسب با ندې طعن لګول حرام دي

"قَالَ اللّٰهُ تعالى: وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا" بې شکه هغه کسان چې مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو ته بغير څه وجې ضرر رسوي، نو داسې کسان په خپلو ځانونو باندې بهتان او د ګناه پيټي اچوي. [الأحزاب:۵۸].

تشريح: ددې نه وړاندې په (باب التحذير من إيذاء الصالحين) کې دا آيت ذکر شوی دی، د آيت خلاصه دا ده: څوک چې په يو بې ګناه مسلمان باندې د ګناه الزام ولګوي، په قرآن کريم کې دغه تور پورې کېدل په بهتان او اثم سره تعبير شوی دی، مفسرين رحمهم الله فرمايي "بهتاناً او إثماً" په دواړو باندې د دوه زبرونو تنوين دی او دا تنوين د ګناه د بدی د اظهار لپاره راوړل شو، مطلب دا چې دا ډېره لويه ګناه ده، علامه قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله فرمايي: د آيت نزول خاص دی، ليکن حکم يې عام دی، هر هغه کس چې په يو بې ګناه مسلمان باندې الزام لګوي، هغه ته تکليف رسوي، نو داسې ټول خلک ددې ګناه په عذاب کې راګېر دي

کفر ته رسونکي ګناهونه

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: اثْنَتَانِ في النَّاسِ هُمَا بِهِمْ كُفْرٌ: الطَّعْنُ فِي النَّسَبِ، وَالنِّيَاحَةُ عَلَى الْمَيِّتِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د کافرانو دوه کارونه تر اوسه په خلکو کې موندل کيږي، يو په نسب کې طعن کول او بل په مړي باندې په چيغو سره ژړا کول رواه مسلم

لغوي تحقيق: کفر: باب نصر ينصر دی، د ايمان ضد ته ويلی شي، د کفر بله معنی نا شکري هم ده.

تشريح: په نسب او خاندان کې طعن او عيب راويستل او په مړي باندې وير کول حرام دي، که څوک يې حلال وګڼي، نو کافر به شي او که حرام يې مني، ليکن د بشري کمزورۍ له امله يې کوي نو کافر نه دی، خو سخت ګناهګار به وي

الطعن في النسب: په نسب کې عيب راويستل، لکه يو کس بل ته ووايي چې ستا پلار خو نايي دی، ستا مور خو پردي لوښي وينځي، تاسو خو نايان يئ، موچيان يئ او داسې نور....... "والنياحة على الميت" په مړي باندې وير کول، چيغې وهل، د چيغو وهلو څخه مراد په مړي باندې وير کول دي چې خپل ګريوانونه شکوي، مخ وهي او شور يې جوړ کړی وي، که په مړي باندې د شرعي حد لاندې غم او ژړا وشي، نو دا به ګناه نه وي، علامه نووي رحمه الله فرمايي: د منع لپاره زيات وجوهات دي، خو زياته مشهوره وجه يې دا ده چې وير کول او عيب لګول دا ټول د جاهليت د زمانې کارونه دي کوم چې حرام دي.

باب النهي عن الغش والخداع

د ملاوټ او دوکې نه منع شوې ده

"قَالَ اللهُ تعالى: وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا" بې شکه هغه کسان چې مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو ته بغير څه وجې تکليف ورکوي، نو داسې کسان په خپلو ځانو باندې بهتان او د ګناه پېټي اچوي. [الأحزاب:۵۸].

تشريح: دا آيت ددې نه وړاندې په (باب التحذير من إيذاء الصالحين) کې تېر شوی دی، د آيت خلاصه دا ده چې شريعت په خپل مينځ کې د مينې او محبت تعليم ورکوي او دا هغه وخت ممکن دی کله چې د يو بل غلطي معاف کړل شي، دا نه چې يو کس بې ګناه دی او تهورباندې د ګناه الزام لګوې، په دې سره خو د مينې او محبت پر ځای نفرت، کرکه او دښمني پيدا کيږي کوم چې د شريعت بالکل مخالف کار دی، په دې بنياد داسې ګناه ته لويه ګناه ويل شوې ده.

مسلمان ته ټوپک / وسله نيول

"وعن أبي هريرة ﵁: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا، وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا" د ابو هريره ﵁ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په موږ باندې وسله راپورته کړي، هغه زموږ څخه نه دی او کوم کس چې موږ ته دوکه راکوي، داسې کس هم زموږ څخه نه دی. رواه مسلم

"وفي رواية لَهُ: أَنَّ رسول الله ﷺ مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا، فَقَالَ: مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ؟ قَالَ: أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رسول الله" او په يو بل روايت کې دي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د خوراکي توکو په ډېرۍ باندې تېر شو، رسول الله ﷺ خپل لاس مبارک په هغو کې دننه کړو، د رسول الله ﷺ لاسونه لانده شول، نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې د خوراکي توکو څښتنه! دا لوندوالی د څه شي دی؟ هغه ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! باران پرې ورېدلی دی، "قَالَ: أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ حَتَّى يَرَاهُ النَّاسُ؟ مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ولې دې دغه لوند خوراک / طعام پورته نه اېښودلو ددې چې خلک يې وويني، کوم کس چې موږ ته دوکه راکوي هغه زموږ څخه نه دی.

تشريح: من حمل علينا السلاح: څوک چې په موږ د ټوپک خوله را اړوي، د محدثينو په نزد ددې نه مراد د مسلمانانو په خلاف بغاوت دی، بې وجه څوک وژل هم په دې کې داخل دي، "من غشنا فليس منا" څوک چې موږ ته دوکه راکوي هغه زموږ څخه نه دی، د دوکې او چل کولو مختلف صورتونه دي، لکه په سودا کې څه عيب وي هغه د خرڅولو پرمهال نه ښکاره کول، په ښه مال کې خراب مال استعمال کړي او د ښه مال په حساب يې خرڅوي، په سودا کې داسې شی يو ځای کول چې د سودا وزن ورباندې زيات شي او داسې نور کارونه چې په شريعت کې حرام دي او يو مسلمان ته دوکه ورکول

دي، بل ددې حديث څخه دا هم معلومه شوه چې د وخت بادشاه ته پکار دي چې هغه په بازار کې داسې کسان مقرر کړي چې د هغوی وظيفه دا وي چې د مال حساب کتاب ګوري او څوک چې په مال کې ملاوټ کوي هغه ته سزا ورکړي

فليس منا: دا د مسلمانانو طريقه نه ده، دده دا عمل د مسلمانانو سره همدردي نه، بلکې دښمني ده، په دې کې تنبيه ده چې بايد هر مسلمان د دوکې څخه ځان وساتي

د دوکې ورکولو لپاره بولي لګول حرام دي

"وعنه: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: لَا تَنَاجَشُوا" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د نجش، يعنې نرخ دپاسه نرخ زياتولو نه منع فرمايلې ده، (مثلاً يو سړی د څه شي نرخ کوي، تر څو چې هغه ددې سودا نه لاس پورته کړی نه وي، بل چاته د هغه په نرخ باندې زياتول جائز نه دي. متفق عَلَيْهِ

لغوي تحقيق: تناجش: تنجاش القوم في البيع: ددې معنی ده: بغير اخيستلو د يو شي په بولي کې د اضافي لپاره اواز کول

تشريح: تناجش: تناجش معنی ده چې يو کس مال خرڅوي، هغه ددې لپاره يو دلال مقرر کړي چې په قيمت کې د زياتوالي لپاره آواز کوي، خو اخلي يې نه، خالص اخيستونکي ورباندې دوکه شي او د مال ريټ پورته کړی شي چې هوا دا ښه شی دی او ددې قيمت لائق دی او حال دا چې هغه مال داسې نه وي، دا خالص دوکه ده چې حرام کار دی

په سودا کې بل کس ته دوکه ورکول حرام دي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عن النَّجْشِ" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ په نرخ باندې د نرخ زياتولو نه منع فرمايلې ده. متفق عَلَيْهِ

تشريح: په دې حديث کې هم اشاره ده دې خبرې ته چې يو کس مال نه اخلي، خالص په دې نيت بولي کوي چې د مال ريټ پورته شي، دا خالص دوکه ده چې مال په ګران قيمت خرڅ شي او بس!

درې ورځې مهلت اخيستل

"وعنه، قَالَ: ذَكَرَ رَجُلٌ لِرَسُولِ الله ﷺ: أَنَّهُ يُخْدَعُ فِي البُيُوعِ؟ فَقَالَ رسول الله ﷺ" د ابن عمر ﷺ څخه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس ته به په بيع کې دوکه ورکول کېده، نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: "مَنْ بَايَعْتَ، فَقُلْ: لَا خِلَابَةَ" د چا څخه چې سودا اخلې، هغه ته وايه! دوکه به نه راکوې! متفق عَلَيْهِ

الخِلَابَةُ: بخاءٍ معجمةٍ مكسورةٍ وباءٍ موحدةٍ، وهي: الخديعة: خلابت په (خاء) معجمه مکسوره او (ب) موحده سره دی، ددې معنی ده: دوکه ورکول، خرابول

تشريح: ذکر رجل: يو کس بيان کړو، ددې نه مراد منقذ بن عمرو دی چې په سر کې يې زخم وو،

ددې زخم له امله يې حافظه کمزورې شوې وه، "فقل لاخلابة" داسې ورته وايه چې دوکه به نه راکوې
علامه توربشتي رحمه الله ددې جملې مطلب داسې فرمايي چې رسول الله ﷺ دې صحابي رضي الله عنه ته
وفرمايل: کله چې ته څه اخلې يا يې خرڅوې، نو داسې وايه چې ماته ددې شي په اخيستلو او خرڅولو
کې مهارت نشته، لهذا زما سره به دوکه نه کوئ، ددې نه وروسته به د هغه سره چا دوکه نه کول، دا
خبره دې په ياد وي چې دا واقعه د هغې زمانې ده کومه چې په خيرالقرون باندې مشهوره وه، د يو بل
سره مينه او محبت د همدردی جذبه موجوده وه، نن سبا خو چې معلوم شي چې فلانکی سړی په
معاملاتو کې دوکه کيږي، ساده پاده انسان دی، بس په هغه پسې شي چې په څه شان سره وي، خو
چې هغه ته دوکه ورکړي.

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ خَبَّبَ زَوْجَةَ امْرِءٍ، أَوْمَمْلُوكَهُ" چا چې د چا ښځې ته
دوکه ورکړه يا يې غلام ته دوکه ورکړه، "فَلَيْسَ مِنَّا" نو داسې کس زمونږ څخه نه دی، "رواه أبوداود، خبب بخاء
معجمة، ثُمَّ باءٍ موحدة مکررة: أي أفسده وخدعه" خبب په (خ) معجمه او په (ب) موحده مکرره سره دی، معنی يې
ده: دوکه ورکول

تشريح: من خبب زوج امرىء: مطلب دا چې کوم کس د بل کس ښځې ته د خپل خاوند په باره کې
دوکه ورکړي، ددې دوکې ورکولو مختلف صورتونه کېدی شي، مثلاً: د ښځې په وړاندې يې د خاوند
بدي بيانوي، يا د خاوند نه بغير د بل کوم کس دومره خوبي بيان کړي چې هغې د خپل خاوند څخه
بدې راشي، د خپل خاوند نه نفرت شروع کړي، يا دا چې کومې ښځې ته ووايي چې ستا د خاوند سره
دومره زيات مال دی، ليکن هغه تاته حال نه وايي، لهذا د هغه نه د زيات مال مطالبه کوه او داسې
نور ..... "أو مملوکه" يا نوکرانو ته دوکه ورکړي، مطلب دا چې غلام ته ووايي چې خپل مشر پرېږده،
خلاصه دا چې دا ټول صورتونه حرام دي، د داسې خلکو باره کې د رسول الله ﷺ ارشاد دی چې داسې
خلك د مسلمانانو په ډله کې نه دي

باب تحريم الغدر

"قَالَ اللّـــه تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ" الله جل جلاله فرمايي: اې مؤمنانو! تاسو خپلې وعدې
پوره کړئ!

تشريح: دا آيت وړاندې په (باب الوفاء بالعهد وإنجاز الوعد) کې تېر شوی دی، د آيت خلاصه
دا ده چې په دې آيت کې عامو مسلمانانو ته خطاب دی، اې مؤمنانو! په خپلو وعدو باندې مضبوط
ودرېږئ! دا د ايمان تقاضا ده، عقود جمع د عقد ده، معنی يې ده: د دوه کسانو ترمنځ معاهده، دا
معاهده عامه ده: په دې کې د الله جل جلاله او د بنده ترمينځ معاهده هم داخله ده کومه چې د ايمان او
اطاعت عهد دی، دغه شان کوم شيان چې يې حلال کړي دي يا يې حرام کړي دي، هغه پوره کول هم
پکې داخل دي، مفسرين رحمهم الله فرمايي: د قرآن کريم الفاظ عام دي: په دې کې ټولې وعدې داخلې

دي، برابره خبره ده که هغه د الله ﷻ او د بنده ترمينځ وي يا د خلکو په خپل مينځ کې وي، دا وعدې پوره کول د ايمان تقاضا ده.

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولاً" [الإسراء: ۳۴] وعدې پوره کوئ ځکه چې د وعدو باره کې به د قيامت په ورځ پوښتنه درځخه کيږي.

تشريح: دا آيت هم وړاندې په (باب الوفاء بالعهد وإنجاز الوعد) کې تېر شوی دی، امام راغب اصفهاني رحمه الله فرمايي: د معاملاتو چې څومره قسمونه دي هغه ټول په دې کې داخل دي او د معاهدې درې ډوله دي: هغه معاهدې چې انسان يې د الله ﷻ سره کوي چې هغه ايمان، اطاعت، حلال او حرام دي، ددې پابندي او خيال ساتل، کوم انسان چې په خپله د خپل نفس سره وعده يا نذر ومني يا قسم وکړي، نو دا هم په وعده کې داخل دي چې يو انسان يې د بل انسان سره وکړي.

څلور خصلتونه

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقاً خَالِصاً" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څلور خصلتونه دي چې په چا کې دا څلور خصلتونه وي، هغه به خالص منافق وي، "وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا" او په چا کې چې ددې خصلتونو څخه يو خصلت وي، په هغه کې د منافقت يو خصلت شته تر څو پورې چې يې پرينبنی نه وي، "إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ" کله چې څوك ورسره امانت کيږدي په امانت کې خيانت کوي، "وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ" او کله چې خبرې کوي نو دروغ وايي، "وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ" او کله چې وعده وکړي دوکه پکې کوي، "وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ" او کله چې د چا سره جنګ کوي نو کنځل شروع کړي. متفق عليه

تشريح: دا حديث هم ددې نه وړاندې په (باب الوفاء بالعهد) کې تېر شوی دی، خلاصه دا چې په دې حديث کې د منافقانو خصلتونه ذکر شوي دي، مسلمان ته تنبيه ورکول شوې چې پام کوه: دا عادتونه په تا کې رانشي، بل دا چې ددې خرابو صفاتو کوم متقابل ضد صفتونه دي يعنې امانت کې خيانت نه کول، رښتيا خبرې ويل وغيره .... نو دا ټول اخلاق دي او د چا چې څومره ايمان مضبوط وي د هغه به هغومره اخلاق هم ښکلي وي او د چا چې څومره ايمان کمزوری وي د هغه اخلاق به هم کمزوري وي.

د قيامت په ورځ بيرغ

"وعن ابن مسعودٍ، وابن عمر، وأنس رضي الله عنهم قالوا: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" د ابن مسعود رضي الله عنه او انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د هر عهد ماتونکي سړي لپاره به د قيامت په ورځ يو بيرغ وي، "يُقَالُ: هٰذِهِ غَدْرَةُ فُلَانٍ" ويل کيږي به چې دا د فلانکي سړي د بد عهدۍ علامه او دليل دی. متفق عليه

تر ټولو لويه بد عهدي

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أَنَّ النبيَّ ﷺ قَالَ: لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ عِنْدَ اسْتِهِ يومَ القِيَامَةِ" د أبو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به د هر دوكه باز شاته يو بيرغ وي، "يُرْفَعُ لَهُ بِقَدْرِ غَدْرِهِ" دغه بيرغ به د هغه د دوكې مناسب پورته كولی شي، "أَلَا وَلَا غَادِرَ أَعْظَمُ غَدْرًا مِنْ أَمِيرِ عَامَّةٍ" او گوری دا خبره واورئ؛ چې تر ټولو لويه دوكه او غدر د امير عام سره دوكه كول دي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: استه: الاست: بنياد، شاتنی شرمگاه او بنسټ ته ويل كيږي.

تشريح: أعظم غدر من أمير عامة: تر ټولو لويه بد عهدي د امير وخت بادشاه سره دوكه كول دي، د امير عام څخه مراد د وخت خليفه امير المؤمنين دی، د هغه سره بد عهدي دا ده چې د هغه خلاف بغاوت وكړي، خروج ترې اختيار كړي، دا ضروري ده چې د هغه په غلطو خبرو جرحه وكړل شي او تر خپل وسه پورې د هغه اصلاح وكړي، ليكن د هغه خلاف به بغاوت ناجائز وي، ځكه چې د بغاوت نه په وطن كې فساد او بدامني جوړيږي چې د فساد بندول به بيا ناممكن شي.

د عربو رواج وو چې كوم كس به بد عهدي كول د هغه لپاره به يې په بازار كې بيرغونه درول، ددې لپاره چې په خلكو كې بد نام او ښه مشهور شي، ددې رواج مطابق كوم كس چې بد عهدي كوي، هغه ته په آخرت كې هم الله ﷻ دغه شان سزا وركوي، ددې لپاره چې په دنيا كې ددې گناه څخه ځان وساتي.

الله ﷻ به خپله ددرې كسانو سره جنگ كوي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبيّ ﷺ قال: قَالَ اللهُ تعالى: ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يومَ القِيَامَةِ" د أبو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ فرمايلي دي چې د درې كسانو سره به زه خپله جنگ كوم، "رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ" يو هغه كس چې زما په نوم بې عهد كړی وي بيا يې هغه عهد مات كړی وي، "وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ" بل هغه چې اصيل سړی خرڅ كړي او د هغه پيسې وخوري، "وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِهِ أَجْرَهُ" بل هغه كس چې د مزدور څخه كار واخلي او بيا مزدور ته مزدوري نه وركوي. رواه البخاری

تشريح: ثلاثة لا يكلمهم الله يوم القيامة: د درې كسانو سره به الله ﷻ خبرې نه كوي، په دې حديث كې درې قسم خلك په گوته شوي دي، كوم چې به د قيامت په ورځ د الله ﷻ په غضب كې گرفتار وي او دوی ته به سخته سزا وركړي.

لومړی هغه كس دی چې د الله ﷻ په نوم عهد وكړي او بيا هغه عهد مات كړي، د شريعت تقاضا دا ده چې څرنگه عهد يې كړی وي هغه به سر ته رسوي، بد عهدي كول د انساني شرافت څخه بهر خبره ده، بيا هغه عهد چې په كوم كې د الله ﷻ نوم اخيستل شوی وي، د داسې عهد تكميل ډېر ضروري دی، داسې عهد ماتول د الله ﷻ قهر سره مخ كېدل دي. (أعاذنا الله منها)

دويم هغه کس دی چې يو اصيل او ازاد سړی خرڅ کړي، ددې نه به زيات د انسانيت توهين او سپکوالی چېرته وي چې يو اصيل او (ازاد) سړی مال وګرځول شي او د مال په شان يې په بازار کې خرڅ کړي او بيا د هغه پيسې هم وخوري، دا جمله د زيات تنبيه لپاره ده، مطلب دا چې آزاد او اصيل سړی خرڅ کړي او بيا د هغه پيسې هم په خوند خوري.

دريم هغه کس دی چې د مزدور څخه کار واخلي او بيا هغه ته خپله مزدوري نه ورکوي، د انسان محنت د هغه قيمتي سرمايه ده، دا څومره لوی ظلم دی چې يو غريب سړی د لوږې، تندې، يخنۍ او ګرمۍ په خان تيرې کړي، تاته به کار وکړي، ليکن ته يې د مزدورۍ پيسې نه ورکوې فإلى الله المشتکي.

باب النهى عن المنّ بالعطية ونحوها

په چا باندې احسان اړول

"قَالَ اللّـــه تعالى: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَى" الله ﷻ فرمايي: اې مؤمنانو! خپلې صدقې په احسان اړولو او تکليف رسولو سره مه بربادوئ! [البقرة:۲۶۴]

"وقال تعالى: الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنْفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى" [البقرة:۲۶۲] الله ﷻ فرمايي: هغه کسان چې خپل مالونه د الله ﷻ په لار کې خرچ کړي او بيا دوی په چا باندې احسان نه اړوي او نه ورته کوم ضرر او تکليف رسوي.

تشريح: د دواړو ايتونو خلاصه دا ده چې کله تاسو کومه صدقه او خيرات کوئ، نو بيا ورپسې په چا باندې احسانات مه اړوئ چې داسې عمل د منافقانو دی، منافقانو چې به کله چاته کومه صدقه ورکړه، نو بيا به يې ورباندې احسانات اړول، د مسلمان خو به هر عمل خالص لله في الله وي، په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې صدقه ورکړي او بيا ورباندې احسانات اړوي او د مور - پلار نافرماني کوي، نو داسې کس جنت ته نه شي تللی، په يو بل روايت کې دي چې په چا باندې احسان مه اړوئ! شکر او احسان هم ختميږي او اجر يې هم ختميږي، ددې نه وروسته رسول الله ﷺ پورتنی آيت تلاوت کړو چې: "لاتبطلوا صدقاتکم بالمن والأذى".

د دويم آيت په تفسير کې مفسرين فرمايي: په دې کې د صدقې ورکولو مسنونه طريقه بيان شوې ده، هغه دا چې هرڅه د الله ﷻ په لار کې خرچ کوي، نو بايد چې اخلاص پکې وي، بل دا چې د خرچ کولو څخه وروسته به په چا باندې احسان نه اړوي، څوک چې يې په اخلاص سره نه خرچ کوي، د هغه مال هم ضايع شو او اجر يې هم ضايع دی، بلکې د سزا مستحق ګرځي.

علامه بغوي رحمه الله فرمايي: عبدالرحمن بن زيد بن اسلم رحمه الله فرمايي: بوه ورځ ماته زما پلار وويل: که چاته دې څه ورکړل او تاته محسوسه شي چې په هغه باندې زما سلام اچول هم سخت لګيږي، نو بيا په هغه باندې سلام هم مه اچوه.

د درې کسانو سره الله ﷻ خبرې نه کوي

"وعن أبي ذر ﷺ، عن النبي ﷺ قَالَ: ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ القِيَامَةِ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ، وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ؛
ابو ذر ﷺ څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: درې کسان دي چې د قيامت په ورځ به الله ﷻ د دوی سره خبرې نه کوي او نه به ورته د رحمت په نظر وګوري او نه به يې د ګناهونو څخه پاك کړي او د دوی لپاره به سخت دردونکی عذاب وي، "قَالَ: فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ ثَلَاثَ مِرَارٍ، قَالَ أَبُو ذَرٍّ: خَابُوا وَخَسِرُوا مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ؟" رسول الله ﷺ درې ځله دا جمله تکرار کړه، ابوذر ﷺ وويل: دا سې کسان خو غرق او تباه دي، يا رسول الله ﷺ هغه څوك دي؟ "قَالَ: المُسْبِلُ، وَالمَنَّانُ، وَالمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالحَلِفِ الكَاذِبِ"
رسول الله ﷺ وفرمايل: يو هغه کس دی چې خپلې پينځې د بجلکو / ګيټو لاندې پرېږدي، بل هغه کس چې په خلکو احسان اړوي، دريم هغه کس دی چې خپل مال د دروغو په قسمونو خرڅوي. رواه مسلم

وفي رواية له: المُسْبِلُ إِزَارَهُ يعني: المُسْبِلُ إِزَارَهُ وَثَوْبَهُ أَسْفَلَ مِنَ الكَعْبَيْنِ لِلْخُيَلَاءِ.
په يو بل روايت کې دي: يو هغه کس دی چې خپل پرتوګ/ پاجامه/ لنګ وغيره ... د ګيټو/ بجلکو لاندې راولي او دا د تکبر په وجه داسې کوي.

لغوي تحقيق: المسبل: اسبل يسبل اسبال، معنی يې ده: پرده اچول، ځوړوند ساتل.

تشريح: په حديث کې د درې کسانو په اړه سخت وعيد بيان شوی دی، الله ﷻ به د دوی سره خبرې هم نه کوي، د دې مطلب دا دی چې خبرې به کوي ليکن سختې خبرې به کوي، لومړی هغه کس دی چې د خپل پرتوګ يا پاجامې وغيره پينځې د ګيټو/ بجلکو څخه لاندې ځوړندې ساتي، دا ځوړندول که د تکبر په وجه وي او که بغير د تکبر وي، دواړه صورتونه حرام دي، که د عذر يا غفلت له امله وشي نو بيا پروا نه کوي، لکه ابوبکر ﷺ يو ځل د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ کله کله په بې خيالي کې زما پينځې لاندې راځي، دا خو به ګناه نه وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د دې څخه مستثنى يئ، معلومه شوه چې عذر او غفلت معاف دی، ليکن ښځو ته حکم دی چې هغوی دې خپلې پينځې د ګيټو څخه لاندې ځوړندې ساتي چې دا هم په ستر کې داخل دي.

دويم المنان: د نېکۍ نه وروسته احسان اړونکی سړی، د چا سره نېکي کول د يو انسان زړه ته آرام رسول او بيا احسان ورباندې اړول، د هغه زړه ته تکليف رسول دي او دا دواړه متضاد کارونه دي؛ دا دواړه کارونه جمع کول عقلاً هم جائز نه دي او نقلاً هم جائز نه دي، علامه قرطبي ﷫ فرمايي: عمومي طور دوه کسان دي چې هغه په انسان باندې احسان اړوي، يو بخيل انسان چې کله د چا سره څه نېکي وکړي، نو بيا يې ورباندې خرڅوي، بار بار يې ورته يادوي او يا د جهالت په وجه په بل انسان باندې احسان اړوي..... دريم کس المنفق سلعة: خپل مال د دروغو په قسم کولو باندې خرڅوي، معلومه شوه چې دده په زړه کې د دنيا سره ډومره مينه ده، هغومره مينه يې د الله ﷻ د نوم سره نشته، ولې که د الله ﷻ د نوم سره يې مينه وای، نو خپل آخرت به يې د دې حقيرې او سپکې دنيا په خاطر نه خرابولو.

باب النهي عن الافتخار والبغي

د فخر او تکبر کولو څخه منع شوې ده

"قَالَ اللهُ تعالى: فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَى" الله ﷻ فرمايي: خپل ځانونه را ته پاك پاك مه ښيئ، بلکې الله ﷻ چې څوك پاك کړي هغه انسان پاك دی. [النجم:۳۲]

تشريح: الله ﷻ په يو آيت کې فرمايي: هيڅ يو کس دې د خپل ځان د پاکۍ دعوه نه کوي، ځکه چې الله انسان ډېر ښه پيژني چې څوك په څومره اوبو کې دی، د فضيلت مدار په تقوی سره دی او تقوی باطني کيفيت دی، ظاهري اعمالو ته تقوی نه ويل کيږي او هغه تقوی زياته ګڼه کوي چې تر مرګه پورې وي او استقامت پکې وي، دا ټول کارونه د الله ﷻ نه پرته بل څوك نه پيژني.

يو کس د رسول الله ﷺ په وړاندې د بل کس تعريف وکړو، رسول الله ﷺ ترې منع وفرمايل چې که ته د هغه تعريف کول غواړې، نو داسې ووايه چې هغه زما په علم کې نېک او پرهېزګاره سړی دی، "ولا أزكي على اللــــه أحداً" او زه داسې نه شم ويلی چې هغه کس د الله ﷻ په نزد هم پاك صفا دی، لکه څرنګه چې زما ګومان دی، زما په ګومان کې خو داسې ده لکه څرنګه چې زه ورباندې ګومان کوم، باقي الله ﷻ يې ډېر ښه پيژني، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه پرته بل څوك په دې امت کې زيات پاکيزه او تقوی دار انسان نشته.

"وقال تعالى: إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ" بل ځای الله ﷻ فرمايي: د ګناه وبال په هغه چا دی چې په خلکو ظلم کوي او ناحقه په ځمکه کې فساد خپروي. [الشورى:۴۲].

تشريح: ويبغون: په قاموس کې دي چې د يبغون معنی ده: تکبر کول، غلبه حاصلول، ظلم کول، د حق څخه تجاوز کول، د آيت مطلب دا دی چې کوم خلك په دنيا کې په بل باندې ظلم کوي، بيا برابره خبره ده چې ابتداء ظلم کوي يا په بدله اخيستلو کې ظلم کوي او د الله ﷻ په ځمکه کې فساد خپروي، نو داسې کسان نه دا چې صرف په آخرت کې به الله ﷻ عذاب ورکوي، بلکې په دنيا کې به يې هم الله ﷻ پرېنږدي.

عاجزي کول او د تکبر څخه ځان ساتل

"وعن عياض بن حمار رضي الله عنه قال: قال رسول اللـــه ﷺ: إن اللــه تعالى أوحى إلى أن تواضعوا حتى لا يبغي أحد على أحد، ولا يفخر أحد على أحد" د عياض بن حمار رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل الله ﷻ ماته وحی کړې ده چې زه به عاجزي کوم تردې چې په چا به ظلم نه کوم او نه به په يو بل سره فخر کوو. رواه مسلم

قَالَ أَهلُ اللغةِ: البغيُ: التَّعدِّي والاستطالَةُ: د لغت عالمان ليکي: د بغي معنی ده: ظلم او زياتی کول، چاته په ناجائزه طريقه لاسونه اوږدول.

تشريح: تواضعوا: عاجزي اختيار کړئ، په يو بل روايت کې دي چې يو ځل رسول الله ﷺ عايشې ﷞ ته وفرمايل: اې عايشې ﷞ عاجزي کوه؛ ځکه چې عاجزي الله ﷻ ته خوښه ده، د علي ﷛ په روايت کې دي چې د تواضع درې علامې دي: اول دا چې د ملاقات نه وړاندې به سلام اچوي، دويم دا چې په مجلس کې لاندې ځای کې ناستې باندې به راضي وي، دريم دا چې د شهرت او رياکارۍ څخه لرې تښتي.

لايبغي أحد على أحد: څوک دې په چا باندې ظلم نه کوي، هر هغه کس ظلم کوي چې ځان اوچت ګڼي، په چا کې چې تواضع وي هغه په چا باندې ظلم نه کوي، بلکې خلک دده سره زياتی کوي.

د تباهی سره مخ کېدل

"وعن أبي هريرة ﷛: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: إذاقَالَ الرجلُ: هَلَكَ النَّاسُ، فَهُوَأَهْلَكُهُمْ" رواه مسلم

د ابو هريره ﷛ څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې يو سړی ووايي چې خلک هلاک شول، نو دی په دې ټولو کې تر ټولو زيات هلاک کېدونکی دی.

والرواية المشهورة: أَهْلَكُهُمْ برفع الكاف وروي بنصبها: امام نووي ﷫ فرمايي: مشهور روايت د کاف په ضمې (پېښ) سره دی او څېنو په نصب (زبر) سره هم نقل کړی دی، "وذلكَ النَّهيُ لِمَنْ قَالَ ذَلِكَ عُجْباً بِنَفْسِهِ" او دا ځکه چې دا ظلم د خود پسندی او عجب په وجه کوي، "وَتَصَاغُراً لِلنَّاسِ" او خلک سپک ګڼي، "وارْتِفَاعاً عَلَيْهِمْ، فَهَذَا هُوَ الحَرَامُ" ځان په خلکو اوچت ګڼي، نو داسې کول حرام دي، "وَأَمَّامَنْ قَالَهُ لِمَا يَرَى فِي النَّاسِ مِنْ نَقْصٍ فِي أَمرِ دِينِهِم، وقَالَهُ تَحَزُّناً عَلَيْهِمْ، وَعَلَى الدِّينِ، فَلاَ بَأْسَ بِهِ" او هغه څوک چې په خلکو کې بې ديني ويني او د بې ديني له امله داسې ووايي، د دوی په بې ديني باندې غم او افسوس وکړي، نو په دې کې بيا هيڅ باک نشته، "هكَذَا فَسَّرَهُ العُلَمَاءُ وَفَصَّلُوهُ" علماوو ددې حديث تفسير دغه شان کړی دی او تفصيل هم دغه شان دی، "وَمِمَّنْ قَالَهُ مِنَ الأَئِمَّةِ الأَعْلاَمِ: مالِكُ بن أنس، وَالخَطَّابِيُّ، وَالحُمَيدِي وآخرونَ، وَقَدْ أَوْضَحْتُهُ فِي كتاب: "الأَذْكَار" او کومو علماوو چې ددې تفسير داسې بيان کړی دی لکه اوس چې بيان شو، په هغوی کې مالك بن انس ﷫، خطابي ﷫، حميدي ﷫ او داسې نور علماء دي، دا هر څه مې په کتاب الأذکار کې په تفصيل سره ذکر کړي دي

تشريح: هلك الناس: خلک تباه شول، مصنف ﷫ ددې جملې وضاحت داسې کړی دی چې که دده مطلب دا وي چې خپل ځان غټ ګڼي او داسې ووايي چې خلک برباد شول او يو زه پکې کامياب يم، نو داسې ويل حرام دي، که خلک په ګمراهۍ او ګناهونو کې ويني او دی پرې افسوس وکړي او د ديني غيرت له امله داسې ووايي، نو بيا جائز دي

باب تحريم الهجران بين المسلمين فوق ثلاثة أيام إلا لبدعة في المهجور أو تظاهر بفسق أو نحو ذلك

ديو بل سره خبرې بندول حرام دي، البته که بدعتي وي د بدعت په بنياد ورسره خبرې بندول جائز دي

"قَالَ اللّٰـه تعالى: إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ" الله ﷻ فرمايي: مسلمانان په خپلو کې سره وروڼه دي، نو د خپلو ورونو ترمينځ صلح وکړئ! [الحجرات]

تشريح: مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله ددې آيت په تفسير کې فرمايي: په صلح او جنګ کې دا خبره په هر حال ملحوظ ساتل پکار دي چې که د دوه ورونو جنګ وي او که صلح وي، د دښمنانو او کافرانو په شان معامله ورسره مه کوئ، کله چې دوه وروڼه په جنګ شي نو په خپل حال يې مه پرېږدئ! بلکې په هر ممکن صورت د دوی ترمينځ د صلح کوشش کوئ.

"وقَالَ تعالى: وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ" [المائدة: ٢] بل ځای الله ﷻ فرمايي: د يو بل په ګناه او ظلم کې مرسته مه کوئ.

تشريح: مفسرين رحمه الله فرمايي: په آيت کې يو ډېر اهم اصل بيانېږي، علامه ابن کثير رحمه الله نقل کړي دي چې رسول الله ﷺ فرمايي: کوم کس چې د يو ظالم سره د هغه د مرستې لپاره روان شي، نو هغه د اسلام څخه خارج شو، په دې وجه به سلف صالحينو د ظالمو بادشاهانو هيڅ وظيفه نه قبلول، د هميش لپاره به يې ترې ځان ساتلو، په يو روايت کې دي چې د قيامت په ورځ به اعلان وشي چې ظالمان او د هغوی مرستيالان چېرته دي؟ تردې چې کومو خلکو د ظالم سرې قلم او رنړا سمه کړې ده هغوی به هم د اوسپنې په يو تابوت کې واچول شي او په جهنم کې به وغورځول شي

قطع تعلق او بغض ساتل حرام دي

"وعن أنس رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ اللّٰـه ﷺ: لا تَقَاطَعُوا، وَلَا تَدَابَرُوا" د انس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تعلقات مه پرې کوئ، د يو بل نه مخ مه اړوئ! "وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَحَاسَدُوا" او مه د يو بل سره بغض او حسد ساتئ! "وَكُونُوا عِبَادَ اللّٰـهِ إِخْوَانًا" او ټول په خپلو کې سره وروڼه شئ! "وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ" او يو مسلمان ته جائز نه دي چې هغه د بل مسلمان ورور سره د درې ورځو څخه زياتې خبرې بندې کړي متفق عليه

تشريح: لاتقاطعوا: په خپل مينځ کې تعلقات مه خرابوئ، په خپل مينځ کې تعلقات ختمول د اسلامي ورور ولی خلاف دی، ځکه خو ددې نه په سختۍ سره منع شوې ده، "ولاتدابروا" او د يو بل نه مخ مه اړوئ، محدثينو ددې يو مطلب داسې بيان کړی دی چې دا لفظ کنايه ده ددېنه چې په يو بل پسې خبرې مه کوئ، دويم مطلب يې دا دی چې د يو بل بد مه وايئ

ولاتباغضوا: او د يو بل سره بغض مه ساتئ، مطلب دا چې انسان ته پکار دي چې داسې اسباب اختيار نه کړي چې د هغې په وجه د يو بل سره بغض او کينه جوړه شي، "ولاتحاسدوا" د يو بل سره حسد مه کوئ، مطلب دا چې کله د يو کس سره کوم نعمت ووينئ، نو ددې خبرې ارمان مه کوئ چې ارمان دا نعمت دده نه واخيستل شي، که زما سره وي او که نه وي، بلکې داسې ويل پکار دي چې اې الله دده ته دې چې څرنګه مال او دولت ورکړی دی او په ورکړه قادر ذات يې، نو ماته يې هم راکړې او دده په مال کې نور برکت هم نازل کړې.

وكونوا عباد اللــــه إخواناً: په خپل مينځ کې سره ورونه ورونه شئ، مطلب دا چې په حديث کې څه ذکر شول، دا ټول هغه کارونه دي چې په دې سره معاشره خرابيږي او ورورولي پرې ختميږي

ولا يحل لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلاث: يو مسلمان ته دا جائز نه دي چې هغه دې د بل مسلمان ورور سره د درې ورځو نه زياتي خبرې بندي کړي، مطلب دا چې د درې ورځو پورې د خبرو بندېدو امکان شته، د درې ورځو څخه زيات وخت خبرې بندول حرام دي

يو مسلمان ته جائز نه دي چې د درې ورځو څخه زيات وخت خبرې بندې کړي

"وعن أبي أيوب ﷺ: أنّ رسول الله ﷺ قال: لايحلّ لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلاث ليالٍ" د أبو ايوب ﷺ څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو مسلمان ته جائز نه دي چې د درې ورځو څخه زيات د يو بل سره خبرې بندې کړي، "يلتقيان، فيعرض هذا، ويعرض هذا" کله چې دواړه سره مخامخ شي، نو دی د هغه نه مخ واړوي او هغه دده نه مخ واړوي، "وخيرهما الذي يبدأ بالسلام" او په دوی کې غوره انسان هغه دی چې په خبرو کې پيل د سلام څخه وکړي. متفق عليه

تشريح: لايحل لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلاث ليال: يو مسلمان ته جائز نه دي چې هغه دې د شرعي عذر څخه بغير د درې ورځو څخه زيات خبرې بندې کړي، دين اسلام يو فطري دين دی، په دې کې د انساني فطرت ډېر زيات خيال ساتل شوی دی، علماء ليکي: کله چې د يو انسان د بل انسان سره جنګ وشي، نو تر درې ورځو پورې په نفس کې انقباض وي چې ددې په وجه هغوی ديو بل نه نفرت کوي، په دې بنياد شريعت د انساني طبيعت لحاظ ساتلو سره اجازت ورکړی دی چې هغوی دې تر درې ورځو پورې خبرې بندې کړي، بيا د درې ورځو څخه زيات وخت خبرې بندول حرام دي، ځکه چې په دې کې نفساني خواهشات داخل شي

په ديني معاملاتو کې د درې ورځو نه زيات خبرې بندول هم جائز دي

دې باره کې علماء فرمايي: که د چا سره تعلقات ساتلو کې ديني نقصان وي، نو بيا د درې ورځو نه زيات خبرې بندول هم جائز دي، لکه څرنګه چې د تبوک په غزا کې هغه درې صحابه کرام چې جهاد ته نه وو تللي، د هغوی سره تر پنځوس ورځو پورې خبرې بندې شوې وې، دغه شان عايشې ﷺ تر يوې زمانې پورې د عبد الله بن زبير ﷺ سره خبرې بندې کړې وې، دغه شان عبد الله بن عمر ﷺ د

خپل زوی بلال رضي الله عنه سره تر يوه زمانه پورې خبرې نه وې کړې، ليکن په دې کې شرط دا دی چې نيت به يې صفا وي، په دې کې به نفساني خواهشات يا کوم دنيوي اغراض داخل نه وي.

داعمالو وړاندې کېدو ورځې

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم: تُعْرَضُ الْأَعْمَالُ فِي كُلِّ اثْنَيْنِ وَخَمِيسٍ، فَيَغْفِرُ اللهُ لِكُلِّ امْرِءٍ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا" د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د هرې دوشنبې (پير) او پنج شنبې (زيارت) په ورځ د خلکو اعمال وړاندې کولی شي، الله جل جلاله هر سړي ته بخښنه کوي، سېوا د هغه کس نه چې (نعوذ بالله) شرک يې کړی وي، "إِلَّا امْرَءًا كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ" او بل هغه دوه کسان چې د دوی تر مېنځ خبرې کول بندې وي، "فَيَقُولُ اتْرُكُوا هٰذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا" الله جل جلاله پرښتو ته وايي: دوی تر هغه پورې پرېږدئ چې په خپلو کې يې سوله/ صلح نه وي کړې. رواه مسلم

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې د شرعي عذر څخه بغير په خپل مېنځ کې بغض، کينه او دشمني ساتل د الله جل جلاله د مغفرت او بخښنې څخه د محرومولي سبب دی، د علماوو په دې باندې اتفاق دی چې که يو کس ته د دې خبرې ويره وي چې که د فلانکي کس سره مې تعلقات جوړ کړل، نو زما ديني نقصان به پکې وشي، نو داسې کس ته جائز دي چې د هغه نه ځان څنډې ته کړي، ليکن په دې صورت کې دا هم ورته جائز نه دي چې د هغه غيبتونه شروع کړي يا په هغه باندې عيب او بهتان ولګوي.

د شيطان نا اميدي

"وعن جابر رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رسول اللّٰه صلى الله عليه وسلم يقول: إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ يَئِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ" د جابر رضي الله عنه څخه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې فرمايل يې: په جزيرة العرب کې شيطان د دې خبرې څخه نا اميده دی چې لمونځ کونکي خلك دې د هغه بندګي وکړي، "وَلٰكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ" ليکن شيطان به د دې خلکو ترمېنځ د فساد او تعلق ختمولو باره کې کامياب وي. رواه مسلم

التَّحْرِيشُ: الْإِفْسَادُ وَتَغْيِيرُ قُلُوبِهِمْ وَتَقَاطُعُهُمْ: د تحريش معنی ده: فساد خپرول، زړونه متنفره کېدل او تعلقات ختمول

تشريح: دا حديث د رسول الله صلى الله عليه وسلم په معجزاتو کې شمار دی، د راتلونکي په اړه يې د خبر واقع کېدو خبر ورکړو، همداسې واقع شو، دلته په روايت کې: "إن الشيطان قد يئس" الفاظ راغلي دي او په يو بل روايت کې: إن الشيطان قد أيس" الفاظ راغلي دي او په مسند احمد کې "قد يئس الشيطان" الفاظ راغلي دي، د تولو يوه معنی ده.

ولكن في التحريش بينهم: ليکن د شيطان په وجه به په خلکو کې فساد، جنګونه او قطع تعلق پيدا کېږي، معلومه شوه چې شيطان هر وخت په دې انتظار وي چې کله به د مسلمانانو په مېنځ کې فساد

جوړ کړم، په هر مسلمان باندې لازم دي چې په خپل نفس باندې کنټرول پيدا کړي، هر وخت د نفس د شرارت څخه په الله ﷻ سره پناه وغواړي.

يعبده المصلون: د (مصلون) څخه مراد مؤمنان دي، مسلمانان د ډېر په اهميت سره لمونځ ادا کوي، ځکه يې دلته ذکر کړو، د مصلين څخه دلته مسلمين مراد دي.

د درې ورځو نه زيات قطع تعلق حرام دى

"وعن أبي هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: لايحل لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلاث، فمن هجر فوق ثلاث فمات دخل النار" د أبو هريره ﷺ څخه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو مسلمان ته جائز نه دي چې هغه د بل مسلمان سره د درې ورځو څخه زيات خبرې بندې کړي، چا چې د درې ورځو څخه زيات خبرې بندې کړې او په همدې حالت کې مړ شو نو جهنم ته به ځي. رواه أبو داود بإسناد على شرط البخاري ومسلم

تشريح: فمات دخل النار: که په دې حالت کې مړ شي، نو سيده به جهنم ته ځي، جهنم ته به د سزا او عتاب له وجې داخليږي، دا دخول به د هميش لپاره نه وي، بلکې کله چې سزا وګالي، نو د جهنم څخه به راوويستل شي او جنت ته به داخل کړی شي، ځکه چې د هميش لپاره جهنمي به کافر او مشرک وي.

د يو کال قطع تعلق ګناه د قتل برابر ده

"وعن أبي خراش حدرد بن أبي حدرد الأسلمي. ويقال: السلمي الصحابي ﷺ: أنه سمع النبي ﷺ يقول: من هجر أخاه سنة فهو كسفك دمه" د أبو خراش حدرد بن أبي حدرد الاسلمي او ده ته سلمي صحابي هم ويلی شي، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې فرمايل يې: کوم کس چې د خپل ورور سره يو کال خبرې بندې کړي، هغه داسې دی لکه مرګ يې چې وکړو. رواه أبو داود بإسناد صحيح

تشريح: من هجر أخاه سنة فهو كسفك دمه: چا چې د خپل مسلمان ورور سره تر يو کال پورې خبرې بندې کړې، نو ددې عمل دومره سخته ګناه ده لکه مړی يې چې کړی وي، د حديث مطلب دا دی چې لکه څرنګه قتل کول د تکليف او اذيت باعث جوړيږي، دغه شان د چا سره چې اول تعلق وي او بيا ورسره تعلق ختم کړي، نو دغه اذيت او تکليف د معنوي قتل برابر دی، علامه طيبي رحمه الله د حديث مطلب داسې بيانوي: دا حديث په مبالغې باندې محمول دی چې د درې ورځو څخه پرته تعلق ختمول حرام دي او زياتې دا چې پوره يو کال ورسره خبرې ونه کړي لکه هغه چې دی بيخي قتل کړی وي، خلاصه دا چې لکه څرنګه د قتل ګناه ده، دغه شان بغير عذره د يو مسلمان ورور سره خبرې بندول هم د قتل د ګناه سره برابر ده.

د راوي ابو خراش حدرد بن أبي حدرد الاسلمي ﷺ حالات:

اصل نوم يې حدرد ﷺ دی، کنيت يې ابو خراش دی، د ځينو په نزد دده پوره نوم داسې دی: سلامه بن عمير بن أبي سلامه بن سعد بن سارب بن الحارث بن عيسى بن هوازن بن اسلم بن حارثه

دی، خيني وايي چې اسلمي قبيله ده او هغې ته منسوب دی، ليکن په حديث کې سلمي هم راغلی دی چې د رسول الله ﷺ صحابي وو.

د درې ورځو څخه زيات چې څوک د سلام جواب ورنه کړي هغه ګناهګار دی

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أنّ رسول الله ﷺ قال: لَا يَحِلُّ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَهْجُرَ مُؤْمِنًا فَوْقَ ثَلَاثٍ، فَإِنْ مَرَّتْ بِهِ ثَلَاثٌ، فَلْيَلْقَهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ، فَإِنْ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ فَقَدِ اشْتَرَكَا فِي الْأَجْرِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو مسلمان لپاره دا خبره جائز نه ده چې هغه دي د بل مسلمان ورور سره د درې ورځو نه زياتې خبرې بندي کړي، که چېرته درې ورځې تيرې شي، نو د هغه سره دي ملاقات وکړي او سلام دي پرې واچوي، که چېرته هغه د سلام ځواب ورکړو، نو دواړه په اجر کې برابر شول. "وَإِنْ لَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ فَقَدْ بَاءَ بِالْإِثْمِ، وَخَرَجَ الْمُسَلِّمُ مِنَ الْهِجْرَةِ" که چېرته هغه ځواب ورنه کړو، نو هغه د انکار په وجه ګناهګار شو او د سلام له وجې لومړی کس د قطع تعلق د (وعيد) څخه ووتلو، "رواه أبو داود بإسناد حسن. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: إِذَا كَانَتِ الْهِجْرَةُ لِلّٰهِ تَعَالَى فَلَيْسَ مِنْ هَذَا فِي شَيْءٍ" امام ابوداود رحمه الله فرمايي: کله چې خبرې بندول د الله ﷻ د رضاء لپاره وي، بل مقصد (خپله ذاتي غوسه) يې نه وي، نو بيا هغه په دې مسئله کې نه شمارل کيږي.

تشريح: وان لم يرد عليه فقد باء بالإثم: که هغه جواب ورنه کړو، نو ګناهګار دی، د حديث مطلب دا دی: که په دوه کسانو کې جنګ وو، بيا يو جنګ بند کړو او سلام يې واچولو، نو که هغه جواب ورنه کړو د ګناه وبال به په جواب نه ورکونکي وي، يا دا مطلب دی چې د سلام جواب نه ورکولو ګناه په هغه باندې ده، که تعلق ختمول د کوم شرعي عذر له وجې وي، هغه داسې عذر وي چې په ښکاره د ګناه ارتکاب کوي يا په ښکاره په بدعاتو کې مبتلا وي او هغه پوه هم کړو، ليکن منع نه شو، نو د داسې کس سره تعلق ختمول جائز دي، ددې لپاره چې هغه په سمه لار باندې راشي.

باب النهي عن تناجي اثنين دون الثالث بغير إذنه إلا لحاجة وهو أن يتحدثا سرًا بحيث لا يسمعهما وفي معناه ما إذا تحدثا بلسان لا يفهمه

دوه کسان د دريم کس نه پټې خبرې کوي دا حرام دي

"قَالَ اللهُ تعالى: إِنَّمَا النَّجْوَىٰ مِنَ الشَّيْطَانِ" الله ﷻ فرمايي: د دوه کسانو په خپل مينځ کې پټې خبرې او سرګوشي کول د نورو کسانو څخه جدا دا يو شيطاني عمل دی. [المجادلة:١٠]

تشريح: إنما النجوى من الشيطان: ابن جرير رحمه الله د قتاده رضي الله عنه څخه روايت کوي هغه فرمايي چې يو ورځ دوه منافقانو په خپلو کې پټې خبرې کولې، نو دا کار په مسلمانانو ډېر سخت تمام شو، مسلمانانو د ځان سره ووېل چې دوی د ځان سره څه وايي، بالاخره ددې آيت نزول وشو، مفسرين ددې آيت مطلب داسې بيانوي چې مسلمانانو ته د غوسې ورويستلو په خاطر چې دوی د ځان سره پټې پټې خبرې کوي، نو دا د الله ﷻ د ناراضګۍ سبب او يو شيطاني عمل دی، ځکه چې شيطان به ورته په

زړونو کې اچوي چې داسې کارونه وکړئ او که چېرته د يو نېك عمل لپاره پټې پټې خبرې وکړل شي نو دا يو محمود / ښه کار دی، الله ﷻ فرمايي چې: "لاخيرفي كثيرمن نجواهم الامن امربصدقة اومعروف اواصلاح بين الناس" په اکثره پټو خبرو او مجلسونو کې خير نه وي، مګر دا چې په صدقې سره يا نيکو اعمالو سره امر پکې وي او يا د خلکو ترمينځ د صلح / سولې خبرې پټې او مجلس وشي، نو خير دی.

دوه کسان به د دريم کس نه ځانته خبرې نه کوي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رسولَ اللّـهِ ﷺ قَالَ: إذاكانُوا ثَلاثَةً، فَلا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الثَّالِثِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې درې کسان په خپلو کې سره يو ځای وي، نو دوه کسان دې ځانته نه جدا کيږي چې دوی په خپل مينځ کې خبرې او سرګوشي شروع کړي او دريم کس ترې لرې وي. متفق عَلَيْهِ

"ورواه أبو داود وزاد: قَالَ أبو صالح: قُلْتُ لابنِ عُمَرَ: فَأَرْبَعَةً؟ قَالَ: لا يَضُرُّكَ" دا حديث امام ابو داود رحمه الله روايت کړی دی او وايي: ابو صالح رحمه الله زيات کړي دي چې ما ابن عمر رضي الله عنهما ته وويل: که څلور کسان وي نو بيا؟ هغوی راته وويل: بيا پروا نه کوي، (يعنې که د څلورو کسانو په شتون کې بيا دوه کسان جدا شي او سرګوشي وکړي، نو بيا پروا نشته، ځکه چې که هغه دوه کسان وي نو دلته دوی هم دوه کسان پاتې شول، دوی ته به هيڅ تکليف ونه رسيږي، که چېرته د دوی په مقابل کې کوم چل جوړول غواړي)

"ورواه مالك في "الموطأ": عن عبد الله بن دينارٍ، قَالَ: كُنْتُ أنَا وابْنُ عُمَرَ عِنْدَ دَارِ خَالِدِ بنِ عُقْبَةَ الَّتي في السُّوقِ، فَجَاءَ رَجُلٌ يُرِيدُ أنْ يُنَاجِيَهُ، وَلَيْسَ مَعَ ابْنِ عُمَرَ أَحَدٌ غَيْرِي" امام مالك رحمه الله په خپل مؤطاء کې د عبد الله بن دينار رحمه الله په حواله روايت کړی دی چې يو ځل زه او عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په بازار کې د خالد بن عقبة رضي الله عنه کور سره نژدې ولاړ وو چې يو بل کس هم راغلو، د هغه سره يې پټې خبرې کول غوښتل او د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما سره زمانه سېوا بل څوك نه وو، "فَدَعَا ابْنُ عُمَرَ رَجُلاً آخَرَ حَتَّى كُنَّا أرْبَعَةً" ابن عمر رضي الله عنهما يو بل کس راوغوښتلو، د دې لپاره چې زموږ تعداد څلور کسان شي، "فَقَالَ لِي وَلِلرَّجُلِ الثَّالِثِ الَّذِي دَعَا: اسْتَأْخِرَا شَيْئاً، فَإنِّي سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ يقُولُ: لا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ وَاحِدٍ" بيا ابن عمر رضي الله عنهما ماته او هغه بل کس ته وويل: زموږ نه د لږ وخت لپاره يورته شئ، ځکه چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې د يو کس جدا کولو سره دې دوه کسان په خپل مينځ کې پټې خبرې نه کوي.

تشريح: په دې حديث کې د مجلس آداب بيانيږي، عبد الله بن عمر رضي الله عنهما دويم کس هم راوغوښتلو، د دې لپاره چې دوه دوه کسان د يو بل سره کېنيني، د دې روايت څخه پته ولګېده چې که دوه کسان ځانته پټې خبرې او مجلس کوي او په مقابل کې هم دوه يا د دوه نه زيات کسان شي، نو بيا خير دی، که چېرته څلور کسان وي، ليکن درې کسان ځانته مجلس کوي او يو کس يوازې پرېږدي، نو بيا هم حرام دی، د حرمت وجه يې دا ده چې د دې يو کس په زړه باندې غم او شك راځي چې دوی څه کوي، ايا زما په باره کې کومه منصوبه يا څه پلان جوړوي او که څه؟ دا بحث خو د صحيح او جائز

مجلس باره کې وو، که غیر شرعي مجلس کوي، نو بیا خو په هر صورت کې حرام او ناجائز دی، برابره خبره ده چې مقابل کې یې هر څومره کسان زیات هم وي، الله ﷻ فرمایي: یاأیها الذین آمنوا إذا تناجیتم فلا تتناجوا بالإثم والعدوان ومعصیة الرسول" اې مؤمنانو! کله چې تاسو څه مجلس او پټې خبرې کوئ، نو د ګناه او ظلم په کارونو کې او د رسول الله ﷺ په مخالفت کې مجلسونه او پټې خبرې مه کوئ!

يوازې پټې خبرې کول منع دي

"وعن ابن مسعود ﷛: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً، فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الْآخَرِ" د عبد الله بن مسعود ﷛ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې تاسو درې کسان یئ، نو بیا دې دوه کسان په خپل مینځ کې سرګوشي نه کوي چې هغه بل کس پرېږدي، "حَتَّى تَخْتَلِطُوا بِالنَّاسِ، مِنْ أَجْلِ أَنَّ ذَلِكَ يُحْزِنُهُ" تر څو چې نور خلک هلته نه وي راغلي، ددې وجې نه چې دریم کس ته به تکلیف ورسیږي. متفق علیه

لغوي تحقيق: تختلطوا: خلط یلخط: باب ضرب یضرب دی، ددې معنی ده: یو ځای کول، ملاول.

تشريح: فلا يتناجي إثنان دون الآخر: دوه کسان دې ځانله پټې خبرې نه کوي چې دریم کس تنها پرېږدي، د حرمت وجه یې دا ده چې دریم کس به په سوچ کې شي چې دوی څه کوي، ایا زما په خلاف خو به کومه منصوبه یا پلان نه تیاروي او مسلمان ته تکلیف ورکول حرام دي، الله ﷻ فرمایي: "والذين يؤذون المؤمنين والمؤمنات بغير ما اكتسبوا فقد احتملوا بهتاناً وإثماً مبيناً" کوم خلک چې مسلمانانو سړو یا مسلمانانو ښځو ته تکلیف رسوي، نو دا خلک ډېر لوی بهتان تړي او ځان په لویه واضحه ګناه کې اچوي.

باب النهي عن تعذيب العبد والدابة والمرأة والولد بغير سبب شرعي أو زائد على قدر الأدب

د شرعي ضرورت څخه بغیر د سزا ورکولو نه ممانعت

"قَالَ اللهُ تعالى: وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى" الله ﷻ فرمایي: د مور پلار سره نیکي کوئ، د خپلوانو سره، یتیمانو سره، مسکینانو سره او نږدې خپلوانو سره، "وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالاً فَخُوراً" او د لرې خپلوانو سره او په څنګ کې ناست ملګري سره او د غلامانو سره او د مسافرو سره، بې شکه چې الله ﷻ نه خوښوي کوم کس چې تکبر او غرور کوونکي وي. [النساء الآية: ۳۶].

تشريح: دا آیت په وړاندې (باب حق الجار والوصية) کې ذکر شوی دی، د آیت خلاصه دا ده چې په دې آیت کې د ډېرو خلکو سره د ښې معاملې او معاشرت حکم ورکړل شوی دی، مثلاً: د مور

پلار سره ښه كول، په قرآن كريم كې دې باره كې ګڼ شمېر ايتونو كې ددې ترغيب راغلى دى، بيا انسانانو كې تر ټولو زيات حقونه د مور - پلار دي، دغه شان د خپلوانو سره د صله رحمى سلوك او يتيمانانو سره ښه سلوك او مسكينانو سره ښه سلوك بيان شوى دى، "والصاحب بالجنب" او په څنګ كې درسره ناست ملګرى، ددې نه مراد د سفر ملګرى دى يا چې په كار كې درسره شريك وي، يا چې په طالب العلم په يوه كمره كې درسره اوسيږي، يا د كاروبار په سلسله كې متعلقين وي، دا ټول پكې داخل دي، "وما ملكت أيمانكم" غلام، وينزه او نن سبا چې كوم خلك درسره په كور كې كار كوي يا په كارخانه كې وي يا په بازارونو وغيره كې وي، دا ټول پكې داخل دي.

إن اللّـــه لا يحب من كان مختالاً فخوراً: الله ﷻ متكبر، فخر كوونكي او ريا كوونكي خلك نه خوښوي، غرور او تكبر الله ﷻ ته ناخوښ عمل دى، په يو روايت كې دي چې د چا په زړه كې ذره برابر تكبر وي، هغه به جنت ته داخل نه شي، په دې آيت كې په ځانګړې توګه د تكبر مذمت بيان شوى دى.

ښځې ته د پيشو په وجه عذاب وركول

"وعن ابن عمر رضي اللّــــه عنهما: أنّ رسول اللّــــه ﷺ قَالَ: عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ سَجَنَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ، فَدَخَلَتْ فِيْهَا النَّارَ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يوې ښځې ته به دې وجه عذاب وركړى شو چې يوه پيشو يې بندي كړې وه، هغه بيا د لوږې له وجې مړه شوه، په دې وجه هغه ښځه جهنم ته داخله شوه، "لَاهِيَ أَطْعَمَتْهَا وَسَقَتْهَا، إِذْ حَبَسَتْهَا، وَلَاهِيَ تَرَكَتْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ" نه خو هغې ښځې څه خوراك وركولو او نه يې څښاك وركولو، كله يې چې بندي كړې وه او دې ته يې هم نه پرېښودل چې هغه د ځمكې نه څه خوراك وكړي. متفق عليه

خَشَاشُ الأرض بفتح الخاء المعجمة وبالشين المعجمة المكررة، وهي: هَوَامُّهَا وَحَشَرَاتُهَا: د خشاش الارض نه مراد د ځمكې مختلف قسم ځناور دي، لكه: مږه، كربوړى، چرمښكى وغيره.....

تشريح: علامه نواب محمد قطب الدين رحمه الله فرمايي: ددې حديث څخه معلومه شوه چې د ځارويو او ځناورو سره بد سلوكي كول او هغوى ته تعذيب وركول هم د الله ﷻ قهر او عذاب ته دعوت وركول دي، ځاروي تړل او هغوى ته څه خوراك نه وركول وږي تږي يې ساتل حرام دي، كه ځاروي ساتې، نو د هغې د خوراك هم مناسب اقدام كوه، ابن حجر رحمه الله فرمايي: دا واقعه په بني اسرائيلو كې تيره شوې وه.

ساه والاشى به نه نخښه كوي

"وَعَنْهُ: أَنَّهُ مَرَّ بِفِتْيَانٍ مِنْ قُرَيْشٍ قَدْ نَصَبُوا طَيْراً وَهُمْ يَرْمُونَهُ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى، فرمايي چې يوه ورځ د قريشو په يو څو ځوانانو تېرېدم، په داسې حال كې چې هغوى يو ژوندى مارغه ځانته نخښه ګرځولې وه او د غشو وارې يې پرې كول، "وَقَدْ جَعَلُوا لِصَاحِبِ الطَّيْرِ كُلَّ خَاطِئَةٍ مِنْ نَبْلِهِمْ" د مارغه مالك

نه يې دا شرط لګولی ووچې کوم غشی به خطاء شو نو هغه ستا شو، "فَلَمَّا رَأَوْا ابْنَ عُمَرَ تَفَرَّقُوا فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: مَنْ فَعَلَ هٰذَا؟ لَعَنَ اللهُ مَنْ فَعَلَ هٰذَا" کله چې هغوی عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وليدو، نو منډه يې کړه، ابن عمر رضي الله عنه وفرمايل: دا کار چا کړی دی؟ د الله لعنت دي وي په هغه چا چې دا کار يې کړی دی. "إِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ لَعَنَ مَنِ اتَّخَذَ شَيْئاً فِيهِ الرُّوحُ غَرَضاً" ځکه چې رسول الله ﷺ لعنت فرمايلی دی په هغه چا باندې چې ژوندی شی نخښه وګرځوي. متفق عليه

الْغَرَضُ بِفَتْحِ الْغَيْنِ الْمُعْجَمَةِ وَالرَّاءِ وَهُوَ الْهَدَفُ وَالشَّيْءُ الَّذِي يُرْمَى إِلَيْهِ: د الغرض نه مراد نخښه ده کومه چې په غشو ويشتلی شي.

تشريح: د ساه والا شيان که ځناور وي او که ځاروي وي نخښه يې جوړول حرام دي، دا ممانعت په ګڼ شمېر احاديثو کې راغلی دی، مثلاً: په دې حديث کې دي چې: "لعن من اتخذ شيئاً فيه الروح غرضاً" رسول الله ﷺ په هغه کس باندې لعنت ويلی دی چې ځاروي ځانته نخښه جوړه کړي، دغه شان په يو بل روايت کې دي چې: "لا تتخذ شيئاً فيه الروح غرضاً" هغه شيان ځانته نخښه مه جوړوئ چې ساه پکې وي، "لعنت من اتخذ شيئاً الخ" په حديث کې په هغو کسانو لعنت ويل شوی دی چې ساه لرونکي شيانو ځخه نخښه جوړه کړي، محدثين فرمايي: کله چې په احاديثو کې لفظ د (لعنت) ذکر شي، مراد ترې کبيره ګناه ده، يعنې دا عمل په ګناه کبيره کې شمار دی.

د ځارويو ځخه نخښه جوړول حرام دي

"وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ تُصْبَرَ الْبَهَائِمُ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده چې ژوندی حيوان وتړل شي او بيا د هغه نه نخښه جوړه کړي او ډزې پرې کوي. متفق عليه

وَمَعْنَاهُ: تُحْبَسُ لِلْقَتْلِ: ددې مطلب دا دی چې د ژوندي حيوان ځخه نخښه جوړه کړی شي او بيا هغه په ډزو وويشتل شي.

تشريح: ځناور چې وتړل شي او بيا په غشو او نيزو باندې وويشتل شي دا حرام دي، موجب د لعنت دي، که ځاروی مړ کول غواړې، نو شريعت يې خپله طريقه ښودلې ده چې د هغه په مرۍ ښه تېزه چاړه کېږده او راکش يې کړه چې تکليف يې کم شي، نو دغه شان ځاروی به هم حلال شي او خوراک به يې هم جائز وي، که چېرته په غشو او نېزو وويشتل شي او حلال نه کړل شي، بلکې د ذبح نه وړاندې ترې ساه ووتل، نو بيا دا ځاروی حرام دی، خوراک يې حرام دی.

غلام ازادول

"وَعَنْ أَبِي عَلِيٍّ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ رضي الله عنه قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُنِي سَابِعَ سَبْعَةٍ مِنْ بَنِي مُقَرِّنٍ مَا لَنَا خَادِمٌ إِلَّا وَاحِدَةٌ" د أبو علی سويد بن مقرن رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې زه د مقرن په اوه زامنو کې وم، زموږ سره صرف يو خادم

وو، "لَطَمَهَا أَصْغَرُنَا فَأَمَرَنَا رَسُولُ اللّٰـــهِ ﷺ أَنْ نُعْتِقَهَا" په موږ کې چې کوم کشر وو، هغه دې غلام ته څپېړه ورکړه نو رسول الله ﷺ موږ ته امر وکړو چې دغه غلام آزاد کړئ! رواه مسلم

وفي رواية: سَابِعَ إِخْوَةٍ لِي: په يو بل روايت کې دي چې زما سره زما اووه ورونه وو.

تشريح: سابع سبعة: په اوه کسانو کې زه اوم وم، د نزهة المتقين مصنف فرمايي: دا اوه واړه صحابه وو او اوه واړه مهاجر هم وو، بغير د کوم شرعي جرم نه وهل رټل او بې عزتي يې کول حرام دي، په شريعت کې ددې کفاره دا ښودل شوې ده چې هغه دې آزاد کړل شي، يا په بله کومه طريقه دې هغه راضي کړل شي، کنه نو عند الله به زياتي کونکي شمارل کيږي.

د راوي سويد بن مقرن ﷺ حالات:

اصلي نوم يې سويد ﷺ دی، کنيت يې ابوعلي دی، د پلار نوم يې مقرن دی، پوره سلسله نسب يې داسې دی: سويد بن مقرن بن عائذ بن منجا بن هجير بن نضر الخ...، د مور نوم يې مزينه بنت ملك بن وبره وه، په کوفه کې اوسېده.

مرويات: ځينې وايي چې دوی د رسول الله ﷺ څخه شپږ او د ځينو په نزد درې احاديث نقل کړي دي، يو روايت په مسلم کې هم شته، د دوی نه د دوی زوی معاويه او بلال بن يساف روايات نقل کړي دي

ناحقه غلام وهل د الهي عذاب ذريعه ده

"وعن أبي مسعود البدري ﷺ قَالَ: كُنْتُ أَضْرِبُ غُلَامًا لِي بِالسَّوْطِ، فَسَمِعْتُ صَوْتًا مِنْ خَلْفِي: اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ فَلَمْ أَفْهَمِ الصَّوْتَ مِنَ الْغَضَبِ" د ابو مسعود بدري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي: ما خپل غلام په کوړه وهلو، د شا له طرفه په ما باندې آواز وشو، چا وويل: اې ابومسعوده! ځان خبر کړه! زه د ډېرې غوسې له امله په خبره پوه نه شوم، "فَلَمَّا دَنَا مِنِّي إِذَا هُوَ رَسُولُ اللّٰـــهِ ﷺ فَإِذَا هُوَ يَقُولُ: إِعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ أَنَّ اللهَ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَى هٰذَا الْغُلَامِ" کله چې رانږدې شو، نو هغه رسول الله ﷺ وو، وې فرمايل: اې ابو مسعود ﷺ! پوه شه چې الله ﷻ په تا باندې ستا ددې غلام څخه ډېر قدرت لري، "فَقُلْتُ: لَا أَضْرِبُ مَمْلُوكًا بَعْدَهُ أَبَدًا" ما وويل: ددې نه وروسته بيا به چېرته هم زه غلام ونه وهم.

وفي رواية: فَسَقَطَ السَّوْطُ مِنْ يَدِي مِنْ هَيْبَتِهِ: او په يو بل روايت کې دي چې زما د لاس نه هغه کوړه د ډېر هيبت له امله پرېوتل.

وفي رواية: فَقُلْتُ: يَارَسُولَ اللهِ، هُوَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللهِ تَعَالَى، فَقَالَ: أَمَا لَوْ لَمْ تَفْعَلْ، لَلَفَحَتْكَ النَّارُ، أَوْ لَمَسَّتْكَ النَّارُ: په يو بل روايت کې دي: ما وويل چې يارسول الله ﷺ! دا غلام د الله ﷻ د رضا، لپاره آزاد دی، نبي کريم ﷺ وفرمايل: که چېرته دې دا کار نه وی کړی، نو د جهنم اور به سوځولی وې او يا يې داسې وفرمايل: د جهنم اور به مسح کړی وې. رواه مسلم بهذه الروايات

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې ناحقه غلام وهل د الله ﷻ د ناراضۍ سبب دی، ددې ګناه کفاره دا ده چې دغه وهل شوی غلام بايد آزاد کړی شي، لکه څرنګه چې د ابو مسعود بدري ﷺ د

حديث څخه معلومه شوه، علماء فرمايي: غلام آزادول مستحب دي واجب نه دي، كه غلام آزاد نه كړي، نو ګناهګار به نه وي، علامه نووي رحمه الله فرمايي: د حديث څخه معلومه شوه چې د غلام سره نرمي پكار ده، ناحقه يې وهل او رټل يې جرم او سخته ګناه ده.

د غلام وهلو كفاره دا ده چې آزاد كړى شي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: مَنْ ضَرَبَ غُلَامًا لَهُ حَدًّا لَمْ يَأْتِهِ، أَوْ لَطَمَهُ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې په تاسو كې په خپل غلام باندې ناحقه څه حد ولګوي او يا څپېړه وركړي، "فَإِنَّ كَفَّارَتَهُ أَنْ يُعْتِقَهُ" نو د هغه كفاره دا ده چې غلام دې آزاد كړي رواه مسلم

لغوي تحقيق: لطمه لطمة: باب ضرب يضرب دى، معنى يې ده: په مخ باندې څپېړه وهل

تشريح: أو لطمه: يا هغه په مخ باندې په څپېړه ووهي، هسې هم په شريعت كې په مخ باندې څپېړه وركول منع دي، په دې حديث كې په ځانګړې توګه غلام ته په مخ څپېړه وركول منع شوي دي، ددې تاوان دا دى چې هغه غلام دې آزاد كړل شي، قاضي عياض رحمه الله فرمايي: په دې خبره د فقهاوو اتفاق دى چې په دې صورت كې د غلام آزادول واجب نه دي، صرف مستحب دي، خو بيا هم د آزادولو ثواب يې زيات دى، ليكن د ناحقه وهلو كفاره هم جوړيږي.

خلكو ته تكليف رسول حرام دي

"وعن هشام بن حكيم بن حزام رضي الله عنهما: أَنَّهُ مَرَّ بِالشَّامِ عَلَى أُنَاسٍ مِنَ الأَنْبَاطِ، وَقَدْ أُقِيمُوا فِي الشَّمْسِ، وَصُبَّ عَلَى رُؤُوسِهِمُ الزَّيْتُ!" د هشام بن حكيم بن حزام رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې زه يوه ورځ د شام په علاقه انباط كې په يوه ډله باندې تېر شوم چې هغوى لمر ته درول شوي وو او د هغوى په سرونو دپاسه د زيتونو تېل اچول شوي وو، "فَقَالَ: مَا هَذَا؟ قِيلَ: يُعَذَّبُونَ فِي الخَرَاجِ -وفي رواية: حُبِسُوا فِي الجِزْيَةِ" ما ووېل: دا ولې؟ چا راته ووېل: دوى ته د خراج/ ټيكس په بدله كې سزا وركول كيږي او په يو بل روايت كې دي چې دوى د جزيې/ ټيكس په بدله كې بنديان دي، "فَقَالَ هِشَامٌ: أَشْهَدُ لَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ: إِنَّ اللهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا. فَدَخَلَ عَلَى الأَمِيرِ، فَحَدَّثَهُ، فَأَمَرَ بِهِمْ فَخُلُّوا" هشام رضي الله عنه فرمايي، ما ووېل: زه ددې خبرې شاهدي وركوم چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: بې شكه الله ﷻ هغو كسانو ته عذاب وركوي چې په دنيا كې خلكو ته تكليف كوي، هشام رضي الله عنه ددې علاقې امير ته لاړو او د هغه سره يې خبره وكړه، نو هغه ټول بنديان خوشې كړل. رواه مسلم

الأَنْبَاطُ الفَلَّاحُونَ مِنَ العَجَمِ: انباط: عجمي زميندار او دهقان ته وايي.

تشريح: انباط عجمي قوم دى چې د عراقين ترمينځ آباد دي، "مر بالشام على أناس من الانباط" په شام كې يو داسې قوم باندې تېر شو چې خلك يې زميندار وو، په څينو رواياتو كې د شام په ځاى حمص راغلى دى، دا هم په شام كې د يو ښار نوم دى، "يعذبون في الخراج" د خراج باره كې هغوى ته سزا وركول كېده

په خراج، عشر او جزيه کې فرق:

د غير مسلمو څخه چې د هغوی د ځمکو نه د محصول په صورت کې کوم پيداوار/ حاصلات اخيستل کيږي هغې ته خراج ويل کيږي، د مسلمانانو د ځمکو نه چې کوم حاصلات اخيستل کيږي هغې ته عشر ويل کيږي او جزيه هغه سالانه/ کلنۍ پيسو ته وايي چې په يو اسلامي هيواد کې اوسېدونکو کفارو څخه يې مسلمان ملت اخلي او ددې په بدله کې د کفارو د سر، مال او عزت دفاع ورڅخه کوي.

مطلب دا چې په سخته ګرمۍ کې يې په سرونو باندې ورته تېل اچول او بيا ګرمۍ ته درول داسې سزا خو د جهنميانو وي، دې ته مشابه چې څوک نورو ته سزاګانې ورکوي، نو الله ﷻ په دې باندې ناراضه کيږي، دا حديث چې کله د هغې علاقې والي واورېدو، نو سمدستي يې سزا موقوف کړه، ځينې علماء فرمايي: دا وعيد هغه وخت دی کله چې ناحقه څوک چاته سزا ورکوي، بل ددې حديث څخه دا هم معلومه شوه چې ظالم به د ظلم څخه منع کوي، هغه ته به ډار ورکوي، ددې لپاره چې د خپل ظلم څخه لاس واخلي.

د راوي هشام بن حکيم بن حزام رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې هشام رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې حکيم دی، خديجه رضي الله عنها د حکيم ترور وه، د مکې فتحې په ورځ مسلمان شو، رسول الله ﷺ هغوی ته يو څو سورتونه هم وریاد کړي وو، د دوی خانګړې صفت دا وو چې په هر ځای کې به يې امر بالمعروف او نهي عن المنکر کولو، عمر رضي الله عنه به په دوی باندې ډېر زيات اعتماد ساتلو، کله چې به کومه واقعه پېښه شوه او هشام رضي الله عنه به نه خوښول، نو عمر رضي الله عنه به وويل چې تر څو هشام رضي الله عنه او زه ژوندي يو، نو داسې به ونه شي.

د عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې وفات شو، ځينې وايي چې د اجنادين په جنګ کې شهيد شو، ليکن دا خبره صحيح نه ده، د دوی څخه يو څو روايات منقول دي، يو روايت يې په صحيح مسلم کې شته.

څاروي ته داغ ورکول

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: رأى رسولُ الله ﷺ حِمَاراً مَوْسُومَ الوَجْهِ، فَأنْكَرَ ذلِكَ؟ فَقَالَ: واللهِ لا أسِمُهُ إلاَّ أقْصَى شَيْءٍ مِنَ الوَجْهِ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يو خر وليد چې د هغه مخ داغ شوی وو، نبي کريم ﷺ په دې ډېر خفه شو، بيا يې وفرمايل: قسم په الله ﷻ زه به داغ نه ورکوم مګر هغه ځای ته چې د مخ نه ډېر لرې وي، "وأمَرَ بِحِمَارِهِ فَكُوِيَ في جَاعِرَتَيْهِ، فَهُوَ أوَّلُ مَنْ كَوَى الجَاعِرَتَيْنِ" نبي کريم ﷺ خپل سورلۍ، والا خر راوغوښتلو، هغه د پتو په ځای کې داغ کړو، نو نبي کريم ﷺ اولنۍ هغه شخصيت دی چې په پتو يې داغونه ولګول. رواه مسلم

الجَاعِرَتَانِ: نَاحِيَةُ الوَرِكَيْنِ حَوْلَ الدُّبُرِ" جاعرتان د کوناټو نه شا وخوا ځای ته ويل کيږي.

تشريح: علماء فرمايي: د حديث مطلب دا دی چې که د امتياز لپاره کوم څاروي ته د داغلو ضرورت پېښ شي، نو د مخ نه علاوه دي په بل کوم ځای باندې داغ ورکړي، ځکه چې مخ په ټول بدن کې شرف لري، په يو حديث کې په مخ باندې د وهلو څخه منع راغلې ده، نو بيا به داغل څنګه جائز شي؟

په مخ باندې د داغ لګولو څخه منع شوې ده

"وعنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ مَرَّ عَلَيْهِ حِمَارٌ قَدْ وُسِمَ فِي وَجْهِهِ" د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يو خر وليدو چې هغه ته په مخ باندې داغ ورکړی شوی و، "فَقَالَ: لَعَنَ اللهُ الَّذِي وَسَمَهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ دې لعنت وکړي په هغه سړي چې دا کار يې کړی وي. رواه مسلم

"وفي رواية لمسلم أيضاً: نهى رسول الله ﷺ عَنِ الضَّرْبِ فِي الْوَجْهِ، وَعَنِ الْوَسْمِ فِي الْوَجْهِ" او د مسلم په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ په مخ باندې د وهلو نه او په مخ باندې د داغ لګولو څخه منع فرمايلې ده.

لغوي تحقيق: وسم: الوسم: مصدر دی، معنی يې ده: علامه، داغ او نخښه.

تشريح: په حديث کې په مخ باندې د داغ لګولو څخه منع راغلې ده او څوک چې دا کار کوي، هغه د الله ﷻ په قهر مبتلا کيږي، بل دا چې که چېرته چاته سزا ورکول شي، نو پکار ده چې د مخ نه علاوه په کوم بل ځای باندې مناسبه سزا ورکړل شي، بل ددې حديث څخه دا هم معلومه شوه چې رسول الله ﷺ به د څارويو سره څومره مينه او محبت ساتلو او په څارويو به يې څومره نرمي کول.

باب تحريم التعذيب بالنار في كل حيوان حتَّى النملة ونحوها

په اور باندې هر قسم څاروی سوځول حرام دي، تردې چې مېږی به هم نه سوځوي

"عن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فِي بَعْثٍ، فَقَالَ: إِنْ وَجَدْتُمْ فُلَاناً وَفُلَاناً لِرَجُلَيْنِ مِنْ قُرَيْشٍ سَمَّاهُمَا فَأَحْرِقُوهُمَا بِالنَّارِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ مونږ يو جنګ ته روان کړو، راته يې وفرمايل: که چېرته مو فلانکی او فلانکی وموندلو، (دا د قريشو يو څو کسان وو) هغوی په اور وسوځوئ د هغوی نومونه يې هم راته واخيستل، "ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ حِيْنَ أَرَدْنَا الْخُرُوجَ: إِنِّي كُنْتُ أَمَرْتُكُمْ أَنْ تُحْرِقُوا فُلَاناً وَفُلَاناً، وَإِنَّ النَّارَ لَا يُعَذِّبُ بِهَا إِلَّا اللهُ، فَإِنْ وَجَدْتُمُوهُمَا فَاقْتُلُوهُمَا" کله چې مونږ د روانېدو اراده وکړه، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل: ما تاسو ته امر درکړی وو چې فلانکی فلانکی په اور باندې وسوځوئ، ليکن مسئله دا ده چې په اور باندې سوځول نه کوي، مګر الله ﷻ يې کوي، بس که تاسو هغه وموندلو، نو قتل يې کړئ. رواه البخاري

تشريح: إن وجدتم فلاناً وفلاناً لرجلين من قريش: که چېرته تاسو په قريشو کې فلانکی او فلانکی کس وموندلو، نو په اور يې وسوځوئ او د هغو کسانو نومونه دا دي: هبار بن الاسود، نافع بن قيس.

وان النار لا يعذب بها إلا الله: په اور باندې سوځول نه کوي مګر يو الله ﷻ، معلومه شوه چې د

او ر سزا چاته هم ورکول پکار نه ده، داسې عذاب به الله ﷻ کافرانو او مشرکانو ته په جهنم کې ورکوي، په کومو رواياتو کې چې راځي: څينو صحابه کرامو په اور سزا ورکړې ده، نو علماء فرمايي: هغه حکم منسوخ دی، اوس چاته په اور سزا نه شي ورکولی.

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه قَالَ: كُنَّا مَعَ رسول الله ﷺ فِي سَفَرٍ، فَانْطَلَقَ لِحَاجَتِهِ، فَرَأَيْنَا حُمَّرَةً مَعَهَا فَرْخَانِ، فَأَخَذْنَا فَرْخَيْهَا، فَجَاءَتِ الْحُمَرَةُ فَجَعَلَتْ تَعْرِشُ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ د رسول الله ﷺ سره په يو سفر روان وو، نبي کريم ﷺ د خه حاجت لپاره يو ځای ته تشريف يوړو، نو موږ يوه چنچړه (چوغکه) وليده چې د هغې سره د هغې بچي هم وو، موږ د هغې چنچړې بچي ونيولو، د بچو مور بې راغله او په خپلو بچو يې وزرې وغوړولې، "فَجَاءَ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ: مَنْ فَجَعَ هذِهِ بِوَلَدِهَا؟، رُدُّوا وَلَدَهَا إِلَيْهَا" نبي کريم ﷺ تشريف راوړو، وې فرمايل: دا کوم کس ددې بچو مور په خپلو بچيانو باندې وزوروله؟ دې مور ته يې دغه بچي واپس کړئ! "ورأى قَرْيَةَ نَمْلٍ قَدْ حَرَّقْنَاهَا، فَقَالَ: مَنْ حَرَّقَ هذِهِ؟ قُلْنَا: نَحْنُ قَالَ: إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي أَنْ يُعَذِّبَ بِالنَّارِ إِلَّا رَبُّ النَّارِ" موږ بيا د مېږو يو مېږتون وليدو چې موږ تول وسوځول، نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا چا سوځولي دي؟ موږ وويل: دا موږ، نبي کريم ﷺ وفرمايل: په اور باندې سوځول نه کوي مگر د اور رب يې سوځول کوي، (يعنې الله ﷻ په اور باندې سوځول کوي. رواه أبوداود بإسناد صحيح

قَوْله: قَرْيَةُ نَمْلٍ مَعْنَاهُ: مَوْضِعُ النَّمْلِ مَعَ النَّمْلِ: قرية نمل: نه مراد مېږتون دی.

تشريح: فرأينا حمرة: حمرة يو مارغه دی چې په سره رنگ کې يوه چرچنه ده، مطلب دا چې: مارغانو بچي نيول او په هغې سره د هغې مور - پلار ته تکليف رسول، دغه شان د ځمکې حشران سوځول يا کوم بل تکليف ورته رسول حرام دي، "رأى قرية نمل قد حرقناها" نبي کريم ﷺ مېږتون وليدو چې موږ سوځولي وو، لکه څرنگه چې وړاندې معلومه شوه چې د اور سزا چاته ورکول حرام دي، د مېږو په باره کې علماء کرام رحمهم الله فرمايي: که مېږي تنگول شروع کړي، نو د هغې ختمول جائز دي او که انسان ته تکليف نه رسوي، نو بيا يې وژل جائز نه دي، دغه شان کوم مېږي چې درباندې چك لگولی دی، د هغه وژل جائز دي، ليکن ددې په وجه نور مېږي وژل حرام دي.

باب تحريم مطل الغني بحقٍّ طلبه صاحبه

د حق په ادا کولو کې د مالداره سړي ټال متول کول حرام دي

"قَالَ اللهُ تعالى: إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا" الله ﷻ فرمايي: بې شکه الله ﷻ حکم کړی دی چې تاسو خپلو حقدارانو ته امانتونه ورسوئ" [النساء:۵۸]

تشريح: علماء فرمايي: دا آيت په بيت الله شريف کې دننه نازل شوی دی، لکه څرنگه چې د عمر رضي الله عنه د روايت څخه معلومېږي، فرمايي چې کله رسول الله ﷺ د بيت الله شريف څخه بهر راووتلو، نو په ژبه يې دا آيت ويلو، ددې نه وړاندې موږ دا آيت نه ؤ اورېدلی، د آيت خلاصه دا ده چې کوم سړي

نه امانت وسپارل شو، باید د امانت پوره خیال وساتي، هیڅ نقصان او کمی پکې ونه کړي، ددې آیت مضمون ددې حدیث څخه هم معلومیږي چې: "لاإيمان لمن لا أمانة له" په چا کې چې د امانتداری صفت نه وي، په هغه کې ایمان نشته.

انس ﷺ فرمايي: د جمعې په ورځ ډېره کمه داسې خطبه رسول الله ﷺ ویلې وي چې په هغې کې بې دا حدیث ویلی نه وي، بل ددې حدیث څخه دا هم معلومه شوه چې په کوم کس کې د امانت صفت نه وي او په امانت کې خیانت کوي، داسې کس منافق دی.

"وقال تعالى: فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضاً فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهُ" الله ﷻ فرمايي: که چېرته په تاسو کې کوم کس بل سړی په یو کار باندې امین وګرځوي، نو باید چې د امانت حق ادا کړي. [البقرة:۲۸۳]

تشريح: مفسرين فرمايي: دلته د امانت څخه قرض مراد دی، که په يو بل مو اعتماد وي، نو بيا بې له ګرو/ رهن څخه هم قرض ورکولی شي، کنه نو د ځان سره ګرو کېښودل پکار دي چې بیا وروسته افسوس نه کوي، په آیت کې د قرض نه تعبیر په امانت سره شوی دی، وجه بې دا ده چې په دې کې د تحریر یا ګرو کېښودلو ضرورت نه دی ګڼل شوی او قرضدار پکې امین ګڼل شوی دی، په دې وجه دلته د قرض څخه تعبير په امانت سره شوی دی.

فإن أمِنَ: په عام قرائت کې هم دغه شان دي او په قرآن کريم کې همدغه شان ليکل شوي دي، ليکن د أبي بن کعب ﷺ په قرائت کې داسې ويل کيږي: "فإن ائتمن" ليکن د (امن) او (ائتمن) دواړو يوه معنی ده.

د مالداره سړي ټال متول حرام دی

"وعن أبي هريرة ﷺ: أن رسول الله ﷺ قال: مَطْلُ الغَنِيِّ ظُلْمٌ" د أبو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د حق په ادا کولو کې د مالداره سړي ټال متول ظلم دی، (يعني د حق په اداء کولو قدرت لري او بيا بې هم نه اداء کوي) "وَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيءٍ فَلْيَتْبَعْ" که چېرته ستاسو حق د کوم مالداره سړي په حواله شي، نو هغه پسې کېدل پکار دي، (يعني که چېرته يو کس درته ووايي چې د فلانکي سړي نه خپل قرض واخله! هغه ته بې بيا زه ورکوم، نو هغه ته ورتلل پکار دي). متفق عليه

معنی أتبع: أحيل: د (اتبع) معنی ده - حواله ورکول

تشريح: مطل الغني ظلم: د مالداره سړي تاخير کول، د ټال متول نه کار اخيستل حرام دي، محدثينو ددې جملې مطلب داسې بيان کړی دی، مثلاً: يو کس يو شی واخلي او د هغه شي قيمت بې نه وي ورکړی، کله چې هم دده نه د قيمت مطالبه وشي، نو دی ورته وايي چې نن بې درکوم سبا بې درکوم، نو داسې کول ظلم دی او په ګناه کبيره کې سړی مبتلا کيږي، بلکې ددې عمل په وجه د هغه شاهدي هم نه قبليږي.

وإذا اتبع أحدکم: او کله چې د کوم مالدار سړي حواله درکړل شي چې ورشه فلانکي سړی به زما

قرض درکړي، نو هغه ته پکار دي چې د هغه کس حواله قبوله کړي، محدثينو ددې جملې مطلب داسې بيان کړی دی چې: د يو کس په چا باندې قرض دی او هغه قرضداری سړی قرض نه شي اداکولی، نو هغه دې کس ته ووايي چې فلانکي کس ته ورشه او ورته ووايه چې زه فلانکي راليږلی يم، په هغه مې قرض دی، هغه ستاسو حواله راکړې ده، تاسو زما قرض ادا کړئ، مالدار سړی هم ورته ووايي چې صحيح ده، نو اوس قرض خوا ته پکار ده چې حواله قبوله کړي او د هغه نه خپلې پيسې وصول کړي، داسې نه چې قرضداري ته ووايي: ماته به يې بس ته راکوې، د بل نه يې نه اخلم.

باب كراهة عود الإنسان في هبة لم يسلمها إلى الموهوب له وفي هبة وهبها لولده وسلمها أو لم يسلمها وكراهة شرائه شيئاً تصدق به من الذي تصدق عليه أو أخرجه عن زكاة أو كفارة ونحوها ولا بأس بشرائه من شخص آخر قد انتقل إليه

هديه او زکوة وغيره واپس اخيستل مکروه دي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أن رسول الله ﷺ قال: الذي يعود في هبته كالكلب يرجع في قيئه" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه کس چې خپله هديه واپس اخلي، داسې دی لکه سپی، چې قی وکړي او بيا يې واپس څټي. متفق عليه

"وفي رواية: مثل الذي يرجع في صدقته، كمثل الكلب يقيء، ثم يعود في قيئه فيأكله" او په يو بل روايت کې دي: د هغه سړي مثال چې خپله صدقه واپس اخلي، لکه سپی، چې قی وکړي او بيا واپس خپل قي ته راځي او هغه خوري، "وفي رواية: العائد في هبته كالعائد في قيئه" او په يو بل روايت کې دي: هغه کس چې خپله هديه ډالۍ واپس اخلي، هغه داسې دی لکه خپل قی چې واپس خوري.

تشريح: د ابن ملك رحمه الله په نزد صدقه واپس کول حرامه ده، ليکن جمهور علماء ورته مکروه وايي، "كمثل الكلب يقيء" د سپي د قي په شان دي، سپی، چې کله قی وکړي، نو واپس يې بيا څټي، په دې جمله کې اصلاً د زکات، خيرات او صدقې وغيره واپس اخيستلو قباحت واضح شوی دی، څوک چې صدقه، زکات او ډالۍ واپس اخلي، هغه داسې دی لکه سپی، چې قی وکړي او واپس يې بيا څټي، علامه طيبي رحمه الله فرمايي: ددې حديث څخه زيات نه زيات کراهت تنزيهي ثابتيږي، نه کراهت تحريمي

خپله هديه اخيستل هم منع دي

"وعن عمر بن الخطاب ﷺ قَالَ: حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَأَضَاعَهُ الَّذِي كَانَ عِنْدَهُ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهُ، وَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَبِيعُهُ بِرُخْصٍ" د عمر بن خطاب ﷺ روايت دی، فرمايي: ما يو کس ته د سورلۍ لپاره اس ورکړو، هغه ددې اس ساتنه سمه ونه کړه، ما اراده وکړه چې زه يې ترې واپس په پيسو واخلم او ما ګومان هم وکړو چې دی به يې په لږو پيسو خرڅوي، "فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ: لَا تَشْتَرِهِ وَلَا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ وَإِنْ أَعْطَاكَهُ بِدِرْهَمٍ، فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالْعَائِدِ فِي قَيْئِهِ" ما د رسول الله ﷺ نه دې باره کې پوښتنه وکړه، نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: داسې مه کوه اګرچې هغه يې په يو درهم درکوي، ځکه چې خپله هديه او صدقه واپس اخيستل داسې دي لکه يو سړی چې قی وکړي او بيا يې خوري. متفق عليه

"قوله: حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ مَعْنَاهُ: تَصَدَّقْتُ بِهِ عَلَى بَعْضِ الْمُجَاهِدِينَ" دا قول چې (حملت على فرس الخ.....) ددې مطلب دا دی چې يو مجاهد ته مې (في سبيل الله) اس ورکړو، دا صدقه وه.

تشريح: ظننت أنه يبيعه برخص: زما خيال وو چې هغه به يې په ډېر کم قيمت خرڅ کړي، محدثين فرمايي: د کم قيمت خيال عمر ﷺ ته ځکه ورغلو چې هغه اس يې کمزوری کړی ؤ، ظاهري حالت ته په کتلو اوس د وړانديني قيمت قابل نه ؤ، يا هسې هم د هر سړي په زړه کې دا خيال وي چې ما خو ورسره ښه کړي وو، نو ځکه اوس کېدای شي چې زما سره په قيمت کې رعايت وکړي.

لاتعد في صدقتك: خپله صدقه واپس مه اخله، مطلب دا چې خپله ورکړل شوي صدقه اخيستل جائز نه دي، ځينو علماوو دې ته حرام هم ويلي دي، ليکن اکثره علماء په کراهيت تنزيهي باندې قائل دي.

باب تأكيد تحريم مال اليتيم

د يتيم مال خوړل حرام دي

"قَالَ اللهُ تعالى: إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا" بې شکه څوک چې د يتيم مال په ظلم سره خوري، داسې کسان په خپله خېټه کې د جهنم اور اچوي او دوی به ډېر زر دې جهنم ته داخل شي. [النساء:۱۰] "وقال تعالى: وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ" الله ﷻ فرمايي: د يتيم مال ته مه نږدې کېږئ! مګر په هغه طريقه چې ښکلې وي، (يعني که د مال د ساتنې په طور او يا يې د تجارت په طور واخلئ او بيا يې ورته واپس کړئ نو بيا خير دی) [الأنعام:۱۵۲] "وقال تعالى: وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَىٰ قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ خَيْرٌ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ" الله ﷻ فرمايي: دوی ستاسو نه د يتيمانانو باره کې پوښتنه کوي، اې پېغمبره! ورته ووايه چې دوی ته اصلاح کول ښه کار دی او که چېرته تاسو ورسره خپل مال ګډوډ کړو، نو دا ستاسو وروڼه دي او الله ﷻ فساد کوونکي او مصلح خلک پېژني. [البقرة:۲۲۰]

تشريح: په آيت کې د يتيم مال خوړلو تشبيه د جهنم د اور خوړلو سره ورکړل شوې ده، عام مفسرين د يتيم مال خوړلو تشبيه د جهنم د اور سره د کنايې په توګه ورکوي، يعنې د يتيم مال خوړل داسې دي لکه د جهنم اور چې خوري.

ليکن د ځينو نورو مفسرينو په نزد دا کنايه نه ده، بلکې په حقيقت باندې محمول دی، اګرچې د يتيم مال اوس حقيقتا د اور په شکل کې نه معلوميږي، ليکن وروسته به معلومه شي چې کله سترګې پټې شي، ددې مثال داسې دی لکه د ماچس تېلۍ / اور لګيت لرګی؛ ګوګرت چې خلک وايي دا اور دی، هغه په سترګو نه ليدل کيږي چې اور دی ليکن که د اورلګيت د ډبې سره يې کش کړې، نو سمدستي به اور پرې بل شي، دغه شان د يتيم مال دی، اوس خو پته نه لګيږي، ليکن کله چې سترګې پټې شي، بيا به درته پته ولګيږي.

په يو روايت کې دي چې څوك د يتيم مال خوري، د قيامت په ورځ به دده حشر په داسې حال کې وي چې د هغه د خيټې نه به د اور لمبې راوځي، همدا راز د خولې، سترګو او پوزې نه به يې هم اور لمبې راوځي، علامه ابن کثير رحمه الله يو روايت نقل کړی دی چې په هغې کې دي: د قيامت په ورځ به د ځينو خلکو داسې حشر وشي چې د هغوی خولې به د اور نه ډکې وي، صحابه کرامو عرض وکړو چې يارسول الله ﷺ! دا به څوك وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو قرآن نه دی ويلی: "الذين ياكلون أموال اليتامى ظلماً" ددې آيت په تفسير کې مفسرين رحمهم الله فرمايي: په دې کې د يتيم ولي ته خطاب دی، څوك يې چې ساتي، هغوی دې د يتيم مال په ناحقه او ناجائزه طريقه نه خوري، البته که د هغوی مال په داسې ځای کې مصرف شي، مثلاً تجارت پرې وشي چې په هغې کې عمومي طور د نقصان خطره نه وي، نو داسې کول جائز دي.

ويسئلونك عن اليتامى: دا آيت او: "ولاتقربوا مال اليتيم إلا بالتي هي أحسن" او دا آيت: "ان الذين ياكلون أموال اليتامى ظلماً" کله چې دا آيتونه نازل شول، نو مسلمانان ويرېدل تر دې چې هغوی د يتيمانانو مالونه د خپلو مالونو څخه جدا کړل، د هغوی د خوراك څښاك سامان غرض هر څه يې جدا کړل، که څه بچ شو، نو هغه به يې نه خوړل، هغه به خراب شول، ددې څخه وروسته ځينو صحابه کرامو د رسول الله ﷺ څخه ددې باره کې پوښتنه وکړه، نو دغه پورتنی آيت نازل شو.

د آيت مطلب دا دی چې د اصلاح او بهترۍ په غرض ددې يتيمانو مالونه د خپلو مالونو سره يو ځای کولی شي، ليکن ددې يو ځای کېدو په وخت کې به نيت دا وي چې د هغوی د مال حفاظت وشي، نه دا چې د هغوی مال ته غل شي او مال يې ضايع کړي، څوك چې په صفا نيت وي او څوك چې په خراب نيت وي، ددې علم خالص يو الله ﷻ ته کيږي، هر چاته د هغه د نيت موافق جزاء ورکول کيږي.

اوه / ۷ لوی ګناهونه

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: اجْتَنِبُوا السَّبْعَ المُوبِقَاتِ! قَالُوا: يَارَسُولَ اللّٰـهِ، وَمَاهُنَّ؟" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د اوه/ ۷ هلاکوونکو شيانو څخه ځانونه وساتئ اصحابه کرامو وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! هغه اوه / ۷ شيان څه شئ دي؟ "قَالَ: الشِّرْكُ بِاللّٰـهِ، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالحَقِّ، وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ اليَتِيمِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ سره شريك جوړول، جادو کول، هغه نفس وژل چې الله ﷻ حرام کړی دی، مګر په حق سره، سود خوړل او د يتيم مال خوړل، "وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ المُحْصَنَاتِ المُؤْمِنَاتِ الغَافِلَاتِ" او د جنګ نه تښتېدل، په نېکو او پاك لمنو ښځو باندې تهمت لګول. متفق عليه

المُوبِقَاتِ: المُهْلِكَات: د موبقات نه مراد هلاك کوونکي شيان دي.

لغوي تحقيق: قذف: قذف قذفاً باب ضرب يضرب دی، ددې لغوي معنی ده: قی کول، په اصطلاح کې په چا باندې تهمت لګولو ته وايي.

تشريح: دې حديث کې اوه هغه ګناهونه بيان شوي دي چې لوی ګناهونه دي او د تباهی باعث دي، اول: (الشرک بالله) دی، د الله ﷻ سره (نعوذ بالله) شريک نيول دي، دا لويه ګناه ده، په دې کې کفر هم داخل دی. شرك داسې ګناه ده چې مرتکب به يې همېش په جهنم کې سوځي، کله به هم ترې خارج نه شي، ددې برعکس که يو کس ګناهګار وي، ليکن مشرك نه وي يا کافر (کتابي) نه وي، نو د سزا ګاللو وروسته يا د الله ﷻ په فضل به جنت ته داخل شي

السحر: جادو کول، امام مالك رحمه الله او داسې نور علماء فرمايي: جادو ګر سړی کافر يا مشرك وي، يعنې څوك چې جادو کوي، هغه د امام مالك رحمه الله په نزد کافر او مشرك دی، وجه يې دا ده چې جادو عمومي طور په شرك باندې بناء وي چې په هغې کې د غير الله تعظيم وي، د ستورو نه غوښتنې يا عبادت وغيره وي، د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد جادو ګر سړی فاسق وي او جاد زده کول حرام دي، که په زده کړه کې د غير الله عبادت شامل وي، نو بيا صفا مشرك دی، يا د الله ﷻ د تعظيم په شان د غير الله تعظيم پکې داخل وي، نو بيا هم مشرك دی

وقتل النفس التي حرم اللّٰـه إلا بالحق: يو مسلمان ناحقه قتلول، په درې ځايونو کې قتل جائز دی، اول دا چې قصاصاً قتل شي، دويم دا چې اسلام پرېږدي او مرتد شي، نو ددې سړي قتل هم جائز دی، بل دا چې واده يې کړی وي او زنا وکړي، نو ددې قتل هم جائز دی

واكل الربا: سود خوړل، کوم خلك چې سود خوري، هغوی د لويې ګناه مرتکب دي او د سود خور سړي سره د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ له لورې د جنګ اعلان دی، څوك چې سود خوري، هغوی داسې دي لکه د خپلې مور سره چې زنا کوي

واكل مال اليتيم: د يتيم مال خوړل، يتيم هغه ځانته وايي چې د هغه پلار مړ شي او زوی يې بالغ

تشریح: مینځنی آیت او د هغه ترجمه: "واللّٰه لایحب کل کفار أثیم،إن الذین آمنوا وعملوا الصالحات وأقاموا الصلوة وآتوا الزکوة لهم أجرهم عند ربهم ولاخوف علیهم ولاهم یحزنون" الله ﷻ مینه نه کوي د کافر ګناهګار سره، بې شکه هغه کسان چې ایمان يې راوړو او نېک عمل کوي او د لمانځه پابندي کوي او زکوة ورکوي، د دوی لپاره به د الله ﷻ په نزد اجر وي، نه به وي څه وېره په دوی باندې او نه به غمجن وي، په دې آیت کې د سود حرمت بیان شوی دی.

د ربا لغوي او اصطلاحي معنی

الربوٰفي اللغة الزیادة: ربٰو په لغت کې مطلق زیاتوالي ته وايي او په اصطلاح کې: "**هو القرض المشروط به الأجل وزیادة مال علی المستقرض**" یعنې ربٰو په اصطلاح کې هغه قرض ته وايي چې په یوه مقرره نیټه سره چاته قرض ورکړل شي، په دې شرط چې د اصل مال نه لږ زیات مال به په واپس کولی شي، په قرآن او نبوي احادیثو کې ددې ډېر زیات مذمت بیان شوی دی.

د سود د حرمت عقلي وجوهات:

نقلي دلائل خو ډېر زیات دي کوم چې په قرآن او حدیث کې ذکر دي، لیکن دلته به مونږ عقلي وجې ذکر کوو چې څرنګه په سود کې عام وولس ته نقصان دی، مثلاً: (۱) عمومي طور اکثره خلک په مالداره خلکو پسې منډې وهي، (ماتحت الاسباب) دنیا د مالدارانو په لاس کې وي، چاته چې څومره وغواړي زیات مال نفع ورکړي او چاته نه، (۲) د ټولو شیانو قیمت د مالدارو او سرمایه دارو خلکو په لاس کې وي، کوم مال ته چې څومره وغواړي ریټ اوچت کړي یا د مال خرڅول بند کړي، (۳) د انسان نه د سخاوت ماده وځي، (۴) کوم خلک چې د پیسو زیاتولو په تکلیف کې ګېر وي، مثلاً: قرض پرې ختلی وي، نو د داسې کسانو سره د همدردۍ په ځای د دوی د تکلیف څخه ناجائزه فایده اخیستلو په فکر کې وي، (۵) د سود خورۍ په وجه د مال حرص دومره زیات شي چې بیا د ښه او بد تمیز ورک شي، "یتخبطه الشیطان من المس" د شیطان څخه مراد پیرۍ دی او د (یتخبطه) نه مراد سختي ده، مطلب دا دی چې کوم خلک سود خوري هغوی به د قیامت په ورځ د قبرونو څخه داسې راپاځي لکه پیریان چې ورباندې وي، یعنې لیوني او سرګردانه به وي، قرآن کریم خالص داسې نه دي ویلي چې هغه به لیوني وي، بلکې داسې يې وویل چې شیطان پیرۍ به ورباندې ناست وي او هغه به خبطي کړې دي او څکه يې لیوني ونه ویل چې لیوني خو کله کله چوپ هم ناست وي، لیکن کوم کس چې خبطي وي، پیریان ورباندې ناست وي، نو هغه ډېر خبطي شي، خو وس يې کار پرېږدي، فضول خبرې او غیر اختیاري حرکات او توپونه شروع کړي، څوک يې په آسانه نشي قلارولی.

ذلك بأنهم قالوا انما البیع مثل الربوا: او دغه دول عذاب به دوی ته څکه ورکول کیږي چې دوی به دوه جرمونه کول: یو دا چې د سود حرام مال ته به يې حلال ویل او بل دا چې سود به يې د بیع او شراء په شان حلال ګڼلو.

يمحق اللّــه الربوا ويربي الصدقات: الله ﷻ سود ختموي او صدقې زياتوي، ځيني مفسرين دا د آخرت سره متعلق کوي، يعنې د آخرت په لحاظ سره سود مال ختموي او صدقې يې زياتوي، يا دنيوي لحاظ سره هم د سود په وجه مال ختميږي او په صدقو کې الله ﷻ برکت اچوي، لکه په يو روايت کې چې دي: "إن الربوا وإن كثر فإن عاقبته تصير إلى قل" اګرچې سود هر څومره زيات وي، ليکن انجام يې دا دی چې په آخر کې کميږي.

يا أيها الذين آمنوا اتقوا اللّــه وذروا ما بقي من الربوا: ددې آيت په تفسير کې علماء فرمايي: کله چې د سود حرمت نازل شو، نو مسلمانانو سودي معاملات پرېښودل، دغه وخت د بنو ثقيف قبيلې ځينو خلکو د بنو مخزوم قبيلې څخه د سود مطالبه وکړه، بنو مخزوم مسلمان شوي وو او د بنو ثقيف ځيني خلک نه وو مسلمان شوي، نو بنو مخزوم قبيلې د هغوی مطالبه ونه منل، بني مخزوم وويل: د سود د حرمت نه پس به موږ خپلې پيسې کله هم په حرام ځای ونه لګوو، په دې باندې دغه آيت نازل شو، په دې کې دا بيان وشو چې يو ځل په اسلام کې داخل شوئ، نو ددې وروسته به د سود ټول بقايه معاملات ختم کړئ، وراندې سود به هم نه اخلئ، خالص خپل اصلي د سر پيسې به وصول کړئ.

وأما الأحاديث فكثيرة في الصحيح مشهورة، مِنْهَا حديث أبي هريرة السابق في الباب قبله: دې باره کې ډېر زيات حديثونه دي، مخکې هم د أبو هريره ﷺ يو حديث تېر شوی دی.

سود خور سړی او په چا باندې چې سود خوري، په دواړو باندې لعنت دی

"وعن ابن مسعود ﷺ قَالَ: لَعَنَ رسول اللّــه ﷺ آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ لعنت فرمايلی دی په سود خور باندې او ورکونکي باندې، "رواه مسلم، زاد الترمذي وغيره: وَشَاهِدَيْهِ وَكَاتِبَهُ" امام ترمذي ﷫ په خپل صحيح کې څه حصه زياتي کړې ده چې نبي کريم ﷺ لعنت فرمايلی دی د سود په شاهدانو باندې او په ليکونکي باندې هم.

تشريح: اكل الربا وموكله: خوړونکي او ورباندې خوړونکي نه مراد اخيستونکي او ورکوونکي مراد دي، سود په لغت کې زياتوالي ته وايي او په اصطلاح کې داسې زياتوالي ته وايي چې د مالي معاوضې نه پرته حاصل شي، "شاهد وكاتبه" په سود باندې شاهد جوړېدونکي باندې هم لعنت دی او په ليکونکي يې هم لعنت دی، د سود د حرمت سختوالی ددې څخه هم معلوميږي چې سود اخيستونکي سره په دې معامله کې شاهد جوړېدونکي او ليکونکي باندې هم لعنت دی، حال دا چې شاهد او ليکونکي ته پکې هيڅ برخه نه ملاويږي، ليکن دا هم حرام دي، دا هم د دوی سره يو قسم مرسته ده، خلاصه دا چې سودي نظام او سودي کاروبار موجب د لعنت دی، د الله ﷻ د قهر او عذاب ذريعه ده، سود يو معاشرتي لعنت دی چې ددې په وجه ټول اقتصادي نظام تباه کيږي، سودي نظام سره مالداره نور هم مالداره کيږي او غريب ورځ په ورځ په قرضو کې ډوبيږي او د غربت لاندې ژوند تېروي، په دې وجه په قرآن کريم کې ډېر په سختو ټکو غندل شوی دی، "فإن لم تفعلوا فأذنوا بحرب من اللّــه ورسوله" که

ناسو د سودي کاروبار څخه منع نه شوئ، نو بيا داسې خلکو ته د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ له لوري د جنګ اعلان دی.

حکيم الامت مجدد ملت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي: ځينې بې خونده خلك وايي: د سودي نظام نه پرته نن سبا وخت نه تيريږي، نو ددې جواب دا دی چې تر دولس سوه کاله پورې سودي نظام نه وو او نه هم چا سود پيژندلو او تجربه موږ ته ښيي چې هغه دور ډېر د خوند نه ډك او سکون والا ژوند وو چې ددې برعکس نن سبا يعنې ديارلسمه او څوالسمه پېړۍ ا صدۍ چې په دې کې مسلمانانو سود اخيستل شروع کړي دي، نو ددې صدۍ تجربه هم موږ ته ښايي چې دا صدۍ ډېره د غم او مصيبتونو څخه ډکه ده، اوس دي هم مسلمانان سود پرېږدي، نو ډېر د خوند او اطيمنان ژوند به شروع کړي.

باب تحريم الرياء

رياکاري حرامه ده

"قَالَ اللّٰـــــه تعالى: وَمَآ أُمِرُوٓا۟ إِلَّا لِيَعْبُدُوا۟ ٱللَّـــــهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ" الله ﷻ فرمايي: دوی ته امر نه وو شوی، مګر ددې خبرې چې الله ﷻ دې خپل دين د شرك څخه خالص کړي په داسې حال کې چې په ملت حنفيت باندې ولاړ وي. [البينة:۵]

تشريح: دا آيت وړاندې په (باب الاخلاص وإحضار النية) کې تېر شوی دی، د آيت خلاصه دا ده چې د اهل کتابو په کتابونو کې همدا حکم وو چې دوی به خالص د يو الله ﷻ عبادت کوي او همدغه حکم په قرآن کريم کې هم دی، ليکن اهل کتاب د ضد او عناد په وجه منلو ته تيار نه دي.

حنفاء: د ټولو باطلو مذاهبو څخه اعراض کول او خالص فطري دين چې اسلام دی دېته غاړه اېښودلو ته حنيف وايي، لکه څرنګه چې ابراهيم عليه السلام ټول باطل دينونه پرېښودل او يو الله ﷻ ته يې رجوع وکړه، ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: په تورات او انجيل دواړو کې اهل کتابو ته دا حکم شوی وو چې د توحيد عقيده به ساتي او په اخلاص سره به د الله ﷻ عبادت کوي.

خپلې صدقې مه بربادوئ

"وقَالَ تعالى: لَا تُبْطِلُوا۟ صَدَقَـٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ كَٱلَّذِى يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ" الله ﷻ فرمايي: خپلې صدقې او خيراتونه په احسان اړولو او په تکليف رسولو سره مه خرابوئ د هغه کس په شان چې خلکو ته د ښودنې لپاره مال خرچ کوي. [البقرة:۲۶۴]

تشريح: دا آيت هم وړاندې په (باب النهي عن المن بالعطية ونحوها) کې تېر شوی دی، خلاصه دا چې په دې آيت کې ترغيب ورکول شوی دی چې صدقه ورکوئ، نو داسې صدقه ورکوئ چې د الله ﷻ په نزد قبوله شي، داسې نه چې د الله ﷻ په نزد د قبلېدو په ځای رد کړل شي، صدقه د دوه شيانو

په وجه رد کیږي: اول دا چې صدقه ورکوې، نو چاته چې یې ورکوې، ایا په هغه باندې احسان اړوې؟ که په هغه دې احسان بار کړو، نو خپله صدقه دې باطله کړه، دویم دا چې چاته دې صدقه ورکړې نو ایا هغه خو به عملاً ذلیل او خوار نه ګڼې؟ که داسې معامله دې ورسره اختیار کړه چې په هغې کې صدقه اخیستونکی سړی خپل ځان سپك وګڼي، نو په دې سره هم خپله صدقه ضایع کړې، "کالذي ينفق ماله" هغه کس چې خپل مال په دې نیت خرج کوي چې خلك ورته ښه سړی ووایي، نو په دې نیت هم صدقه باطله ګرځي، ځکه چې دا کار د مسلمانو نه شي کېدلی، داسې کارونه خو منافق خلك کوي، منافقانو چې به کومې صدقې ورکړې، نو بیا به یې ورباندې یا احسان اړولو او یا به یې سپك ګڼلو

د منافقینو د لمانځه حال

"وقال تعالى: يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا" الله فرمایي: دوی خلکو ته ځانونه ښیي او دوی الله ﷻ نه یادوي، مګر ډېر لږ وخت. [النساء:۴۲].

تشریح: په آیت کې د منافقینو د لمانځه حال ذکر دی، منافقین به اول لمانځه ته نه راتلل او که راتلل به هم، نو ډېر په سستۍ سره به راتلل او په دې کې به یې هم دا چل کولو چې خلکو ته ځان وښيي، د دوی دا مقصد نه وو چې الله ﷻ راضي کړي، بس چې خلك يې ووینې، په یو روایت کې دي چې: کوم خلك د خلکو په وړاندې ډېر په خشوع او خضوع سره لمونځ کوي او ځانته یې کوي، نو بیا یې خراب کړي، نو داسې خلك لمونځ سپك ګڼي او په دې کې دده خپل سپکوالی دی.

الله ﷻ د مشرکانو د شرك څخه بېزاره دی

"وعن أبي هريرة ﷺ قال: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقولُ: قَالَ اللهُ تعالى: أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ" د ابو هریره ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه د شریك کونکو د شرك نه بې نیازه یم، "مَنْ عَمِلَ عَمَلاً أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ" کوم کس چې داسې عمل وکړي چې په هغې کې زما سره بل څوك شریك کړي، نو زه هغه او د هغه شریك دواړه سره پرېږدم، (یعنې د قیامت په ورځ به ورته ووېل شي چې ورشه د هغه چا نه خپل اجر وغواړه چې کوم چاته چې تا عمل کړی دی). رواه مسلم

تشریح: من عمل عملاً أشرك فيه: څوك چې داسې عمل وکړي چې په هغې کې بل څوك د الله ﷻ سره شریك کړي، نو الله ﷻ هغه کس او د هغه شرك سره ځانله پرېږدي، په حدیث کې ریاکارۍ ته شرك ویل شوي دي، دېته شرك اصغر یا شرك خفي هم وایي، ددې په مرتکب باندې د همېش لپاره جنت نه حرامیږي، د سزا ګاللو وروسته به جنت ته لاړ شي، لیکن په اسلام کې داسې عمل ته په ښه نظر نه دی کتل شوي، "أشرك فيه معي غيري" زما سره بل څوك په هغې کې شریك کړي، مطلب دا چې بل چاته د ښودلو لپاره عمل وکړي، په هغې کې خالص د الله ﷻ رضا نه وي، کومه دنیوي ګټه یې نظر وي یا شهرت دې یا دا چې خلك دا ووایي چې فلانکی ډېر ښه سړی دی، وغیره....، "تركته وشركه" الله ﷻ فرمایي: زه هغه کس او د هغه عمل ځانته سره پرېږدم، خلاصه دا چې د هغې عمل اجر او ثواب ختم شي

جهنم ته اول تلونکي درې کسان

"وعنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: إنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ القِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ، فَأُتِيَ بِهِ، فَعَرَّفَهُ نِعْمَتَهُ، فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به د ټولو نه مخکې د يو داسې سړي فيصله کيږي چې شهيد شوى وي، هغه به راوبلل شي، هغه ته به ټول نعمتونه وښودل شي کوم چې ده ته په دنيا کې ورکړل شوي وو، نو هغه به يې وپېژني، الله ﷻ به ورته ووايي چې تا په دنيا کې څه عمل کړى وو؟ "قَالَ: قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ. قَالَ: كَذَبْتَ، وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ: جَرِيءٌ! فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ" هغه به ووايي: ستا لپاره مې جهاد کړى وو، تردې چې شهيد شوم، الله ﷻ به ورته ووايي: دروغ دې وويل: تا خو ددې لپاره جهاد کړى وو چې خلك درته غيرتي او زړور انسان ووايي، لهذا تاته په دنيا کې غيرتي وويل شو، ده ته به امر وکړى شي چې دا په جهنم کې پړمخ واچوئ، نو په جهنم کې به پړمخې واچول شي، "وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ العِلْمَ وَعَلَّمَهُ، وَقَرَأَ القُرْآنَ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا. قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟" بيا به يو عالم راوستل شي، هغه به ټول عمر درس تدريس کړى وي او قرآن به يې لوستلى وي، ده ته به هم هغه نعمتونه وښودل شي چې په دنيا کې ورکړل شوي وو، هغه به يې وپېژني، نو الله ﷻ به ترې پوښتنه وکړي چې په دې کې دې څه عمل کړي وو؟ "قَالَ: تَعَلَّمْتُ العِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ، وَقَرَأْتُ فِيكَ القُرْآنَ، قَالَ: كَذَبْتَ، وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ لِيُقَالَ: عَالِمٌ! وَقَرَأْتَ القُرْآنَ لِيُقَالَ: هُوَ قَارِئٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ" هغه به ووايي: اې الله! علم مې حاصل کړى وو، نورو ته مې ښودلو او د قرآن کريم تلاوت مې کړى وو، الله ﷻ به ورته ووايي چې دروغ دې وويل، تا خو ددې لپاره علم حاصل کړى ؤ چې خلك درته عالم ووايي او د قرآن کريم تلاوت به دې کولو، ددې لپاره چې خلك درته قاري ووايي، لهذا تاته عالم او قاري په دنيا کې ويل شوي دي، بيا به ده ته هم امر وشي چې پړمخې يې جهنم ته واچوئ، نو هغه به هم په جهنم کې پړمخې واچول شي، "وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ، وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ المَالِ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ، فَعَرَفَهَا. قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ" بيا به يو مالداره سړى راوستل شي چې په دنيا کې ورته مختلفې پيسې: دراهم او دينارونه ريا د نن سبا ريالونه او ډالر ورکړل شوي وو، هغه ته به هغه نعمتونه وښودل شي کوم چې يې په دنيا کې ورته ورکړي وو، نو هغه به يې اعتراف وکړي او ويې به پېژني، الله ﷻ به ترې پوښتنه وکړي چې ددې په بدله کې دې څه عمل زما لپاره کړى وو، هغه به ووايي: اې الله! داسې يو ځاى نه وو چې تا پکې خوښولې چې دلته دې مال خرچ شي، مګر دا چې هلته ما مال خرچ کړى دى، "قَالَ: كَذَبْتَ، وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ: جَوَادٌ! فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ" ده ته به هم ويل کيږي چې دروغ دې وويل، تا خو ددې لپاره مال خرچ کولو چې خلك درته سخي ووايي، لهذا تا ته په دنيا کې سخي وويل شو، ده ته به هم حکم وشي چې په جهنم کې يې پړمخې وغورځوئ نو هغه به هم په جهنم کې پړمخې وغورځول شي. رواه مسلم. جَرِيءٌ بفتح الجيم وكسر الراء وبالمد: أي شُجَاعٌ حَاذِقٌ: د جري معنى ده: بهادر، زړور او غيرتي.

لغوي تحقيق: نُحسب: ددې معنی ده: رابنکل.

تشريح: په يو بل روايت کې د ابو هريره ﷺ څخه منقول دي، فرمايي چې ددهنه وروسته رسول الله ﷺ زما په زنګون باندې لاس مبارک وهلو، وې فرمايل: اې ابوهريره ﷺ! دا درې وارده الله ﷻ هغه مخلوق دي چې د قيامت په ورځ به دوزخ په دوی باندې تېزولی شي.

په ترمذي کې چې چېرته دا روايت راشي نو هلته ددې اضافه هم ورسره کيږي چې کله به ابوهريره ﷺ دا روايت د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته نقل کولو، نو بې هوشه به شو، کله چې به په هوش کې راغلو او بيا به يې د نقل کولو اراده وفرمايل، نو بيا به بې هوشه شو، درې ځله ورسره داسې وشو، کله چې دريم ځل د بې هوشي نه په هوش کې راغلو، نو بيا يې دا ارشاد بيان کړو.

دغه شان کله چې امير معاويه ﷺ ته دا حديث ورسېدو، نو وې فرمايل: کله چې ددې درې کسانو سره داسې معامله کيږي، نو بيا د دوی نه علاوه هغه خلک چې نيتونه يې بيخي خالص نه دي، د دوی د خلاصون څه اميد به وشي؟ کله چې معاويه ﷺ داسې وفرمايل: نو دومره په ژړا شو چې په مجلس کې ناستو خلکو دا ګومان وکړو چې دده نه به نن روح وځي.

د فضيل بن عياض رحمه الله قول دی چې د قيامت په ورځ به فاسق عالم د بت پرستانو څخه وړاندې نيولی شي، دا ځکه چې رانده خلک يعني جاهل کفار او بينا خلک يعني علماء برابر نه دي، لکه څرنګه چې په دې شيانو کې اخلاص او للهيت ضروري دی، نو دغه شان په هر عمل کې اخلاص او للهيت ضروري دی، که اخلاص نه وي، نو لوی لوی عملونه به بېکاره وي او جنت ته به يې تلل مشکل شي، جنت خو شکي خبره ده، بلکې جهنم ته به يې د ورتللو وېره وي.

د غلطو خبرو تصديق کول هم نفاق دی

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أن ناساً قالوا له: إنا ندخل على سلاطيننا فنقول لهم بخلاف ما نتكلم إذا خرجنا من عندهم؟" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې ځينو خلکو ماته ووېل: موږ خپلو اميرانو سره ملاقاتونه کوو، نو کله چې د دوی سره ناست وو يو رقم خبرې کووا و کله چې رابهر شو؛ نو بيا بل قسم خبرې کوو، "قال ابن عمر رضي الله عنهما: كنا نعد هذا نفاقاً على عهد رسول الله ﷺ" ابن عمر رضي الله عنهما ورته وفرمايل: د رسول الله ﷺ په زمانه کې به داسې کارونو ته موږ د منافقت کارونه ويل. رواه البخاري

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب ذي الوجهين) کې تېر شوی دی، علامه نووي رحمه الله دلته ځکه راوړو چې په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې کوم خلک د بادشاهانو چاپلوسي کوي او دروغ ورته وايي، دا هم په منافقت کې شمار دی او لويه ګناه ده، د اخلاص تقاضا دا دی چې د بادشاه په وړاندې صفا صفا او روغې خبرې وکړل شي، ددې لپاره چې هغه د رعايا/ عوامو صحيح خدمت وکړي او په کرمه دوکه کې واقع نه شي.

په عمل کې رياکاري کول

"وعن جُندب بن عبد اللّـــهِ بن سفيان ﷺ قَالَ: قَالَ النبيُّ ﷺ: مَن سَمَّعَ سَمَّعَ اللّـــهُ بِهِ" د جندب بن عبد الله بن سفيان ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې يو کار د شهرت لپاره کوي، الله ﷻ به يې د قيامت په ورځ په رسوايی سره مشهور کوي، "وَمَنْ يُرائِي يُرائِي اللّـــهُ بِهِ" او کوم کس چې خلکو ته د ښودنې لپاره يو عمل کوي، الله ﷻ به هم هغه ته د رياکارانو په شان بدله ورکړي.

متفق عَلَيْهِ ورواه مسلم أيضاً من رواية ابن عباس رضي اللّـــه عنهما.

سَمَّعَ بتشديد الميم، ومعناه: أظهر عمله للناس رياءً. سَمَّعَ اللهُ بِهِ أيْ: فَضَحَهُ يومَ القِيامَةِ: د (سمع) مطلب دی خلکو ته خپل عمل ښودل، يعنې رياکاري کول او د (سمع الله) معنی دا ده: چې الله ﷻ به يې د قيامت په ورځ وشرموي، "ومعنى: مَنْ رَاءَى أيْ: مَنْ أظْهَرَ لِلنَّاسِ العَمَلَ الصَّالِحَ لِيَعْظُمَ عِنْدَهُمْ" او د (من راءي) معنی ده: کوم کس چې نېک عمل د خلکو د ښودنې لپاره کوي چې په خلکو کې مې ښه شهرت وشي، "رَاءَى اللّـــهُ بِهِ أيْ: أظْهَرَ سَرِيرَتَهُ عَلَى رُؤُوسِ الخَلائِقِ" نو الله ﷻ به هم د قيامت په ورځ دده پټ رازونه د خلکو په مخ کې څرګند کړي.

تشريح: ددې حديث مطلب خپله علامه نووي رحمه الله بيان کړی دی، بهر حال په حديث کې د اخلاص اهميت او مقام ته اشاره ده، ځکه چې کوم نېک کار په دې نيت وکړي چې د خلکو په نظر کې پرهېزګار جوړ شم، خلک راته ښه سړی ووايي، نو ددې عمل په ذريعه به دا خو په ځای پرېږده چې خلک به ورته ښه ووايي، بلکې نور به يې هم الله ﷻ ذليله کړي، د قيامت په ورځ به د ذلت سره مخ شي، ددې برعکس کوم خلک چې په اخلاص سره عمل کوي، اګرچې هيڅوک يې په عمل نه ويني، ددې باوجود به يې الله ﷻ د خلکو په زړونو کې مينه او محبت واچوي او د قيامت په ورځ به هم د الله ﷻ مقرب بنده شمار کړل شي.

ديني علم د دنيا لپاره زده کول حرام دي

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ تَعَلَّمَ عِلْماً مِمَّا يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللّـــهِ ﷻ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې داسې علم حاصل کړو په کوم سره چې د الله ﷻ رضاء حاصليږي، "لاَ يَتَعَلَّمُهُ إلاَّ لِيُصِيبَ بِهِ عَرَضاً مِنَ الدُّنْيَا، لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الجَنَّةِ يَوْمَ القِيَامَةِ يعني: رِيحَهَا" دی دغه علم ددې لپاره حاصل کړي چې په دې سره ورته دنيا حاصله شي، نو داسې کس به د جنت بوی هم محسوس نه کړي. رواه أبو داود بإسنادٍ صحيحٍ والأحاديث في الباب كثيرةٌ مشهورةٌ.

تشريح: دا حديث په کتاب العلم کې تېر شوی دی، امام نووي رحمه الله دلته يو ځل بيا راوړو، په دې کې اشاره دې خبرې ته چې په ځان باندې اخلاص لازمول پکار دي، ديني علم د دنيا لپاره حاصلول حرام دي او په دې ډېر سخت وعيدات راغلي دي، په يو روايت کې دي چې: ځوک علم په دې نيت حاصلوي چې په علماوو باندې فخر وکړي، د جاهلانو سره حجت، دلايل وربانديې وايي، جګړې او بې

ځایه مناظرې وربانديې کوي او په مجلس کې په اوچت ځای باندې کېني، نو د داسې کس لپاره جهنم ځای دی.

مکحول رحمه الله فرمايي: څوک چې حديث په دې نيت حاصل کړي چې د جاهلانو سره به پرې بحث مباحثې/ مناظرې وکړي، په علماوو باندې فخر وکړي، خلك ځانته متوجه/ جلب کړي، نو داسې کس به سيده جهنم ته ځي، يزيد بن قود رحمه الله فرمايي: هغه زمانه نزدې ده چې خلك به علم حاصل کړي او په دې به فخر کوي او داسې فخر او غرور به کوي، لکه څرنګه چې فساق او فجار په ښکلې ښځو باندې فخر کوي.

لم يجد عرف الجنة يوم القيامة: د قيامت په ورځ به د جنت خوشبو هم محسوس نه کړي، دا جمله کنايه ده ددې نه چې جنت ته به نه ځي يا دا چې جنت ته به لاړ شي، ليکن په جنت کې به د جنتي خوشبو څخه محروم وي يا دا مطلب چې په شروع کې به داسې وشي چې د جنت خوشبو به محسوسه نه کړي بيا به وروسته ورکړل شي.

باب ما يتوهم أنه رياء وليس هُوَ رياء

هغه شی چې د رياکارۍ شک پرې کېږي، ليکن په حقيقت کې رياکاري نه وي

"وعن أبي ذر رضي الله عنه قال: قيل لرسول الله ﷺ: أرأيت الرجل الذي يعمل العمل من الخير، ويحمده الناس عليه؟" د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه يو کس پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! که يو کس نېک عمل وکړي او خلك پرې دده تعريف وکړي، (يعنې ايا دا هم په رياکارۍ کې راځي؟) "قال: تلك عاجل بشرى المؤمن" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا خو د مومن لپاره عاجل زېرې او انعام دی. رواه مسلم

تشريح: محدثين د حديث مطلب داسې بيانوي چې که يو کس خپل نيت صفا وساتي، خالص د الله ﷻ د رضا په خاطر اعمال کوي، نو بيا که خلك دده کوم عمل وستايي، نو د خطرې خبره نه ده، بلکې دا دده لپاره يو زېری دی چې په آخرت کې الله ﷻ ده ته څه ورکوي، د هغې نه څه برخه په دې دنيا کې هم ورکوي، ددېنه معلومه شوه چې د خلکو تعريف کول د اخلاص منافي نه دي، بلکې دا د مقبوليت علامه او دليل دی، هغه دا چې الله ﷻ د خلکو په زړونو کې دده مينه او محبت واچوي.

باب تحريم النظر إلى المرأة الأجنبية والأمرد الحسن لغير حاجة شرعية

بې ضرورته پردۍ ښځې ته کتل يا ښکلي هلك ته کتل حرام دي

"قال الله تعالى: قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ" الله ﷻ فرمايي: اې پېغمبر ﷺ! دې خلکو ته ووايه چې خپل نظرونه ښکته ساتي. [النور: ۳۰]

تشريح: علماء فرمايي: د (يغضوا) معنی ده: نظر ښکته ساتل، مطلب دا چې سترګې د هغه

طرف ته نه اړول د کوم طرف څخه چې شريعت منع فرمايلې وي، ددې آيت څخه ثابته شوه چې پردی
ښځې ته قصداً بې ضرورته کتل حرام دي، دغه شان ښکلي بې ږيري هلك ته هم په شهوت سره کتل
حرام دي، په دې کې دا هم داخل دي چې د چا کور ته د دروازې څخه کتل هم حرام دي، کوم کس چې د
نظر حفاظت نه کوي، نو الله ﷻ به يې د ايمان د لذت او خوند څخه محروم کړي، (نعوذبالله من ذالك)
ابن کثير رحمه الله د نبي کريم ﷺ دا ارشاد نقل کړی دی چې: "النظر سهم من سهام ابليس مسموم من ترکها مخافتي
ابدله ايماناً يجد حلاوته في قلبه" نظر د شيطان د زهر لړونکي غشو څخه يو غشی دی، څوک چې يې زما د
وېرې له وجې خپل نظر ښکته وساتي او پردی ښځې ته ونه ګوري، الله ﷻ به ده ته داسې پوخ ايمان
ورکړي چې د هغې خوند به په زړه کې محسوس کړي.

دلاس، ښپاو سترګو نه به پوښتنه کيږي

"وقال تعالى: إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا" بې شکه الله ﷻ به د غوږونو، سترګو او
زړه نه ددې ټولو څخه پوښتنې کوي [الإسراء:۳۶]

تشريح: دا آيت وړاندې په (كتاب الامور المنهي عنها) او (باب تحريم سماع الغيبة) کې هم
ذکر شوی دی، خلاصه دا چې د انسان په بدن کې کوم قيمتي اندامونه دي، ددې په باره کې به ترې
پوښتنه کيږي، چې په غوږونو يې څه واورېدل؟ ايا داسې خبرې خو به نه اوري چې شريعت منع کړي
دي؟ په سترګو به دې څه کتل؟ ايا په سترګو خو به يې هغه څه نه وي کتلي کوم څه چې الله ﷻ منع
کړي وي؟ په يو روايت کې دي: څوک چې پردی ښځې ته په شهوت سره وګوري، نو د داسې کس په
سترګو کې به د قيامت په ورځ ويلې شوې تانبه اچوي، په فارسی کې يو شعر دی.

چشم بند گوش بند لب بند .... گرنه بينی نور حق برمن بخند

ژباړه: سترګې بندې کړه، غوږونه بند کړه او خوله بند کړه چې بيا هم نور حق ونه وينې، نو په ما
پورې وخانده

دغه شان د زړه باره کې به هم درنه پوښتنه کيږي، په دې باندې دې کوم کوم فکرونه او پلانونه
جوړول، په يو روايت کې راځي چې: که زړه صحيح شو، نو بيا به ټول بدن صحيح کار کوي او که زړه
خراب شو، نو بيا به ټول بدن خراب چليږي

"وقال تعالى: يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ" الله ﷻ فرمايي: زه د خيانتګر سړي د سترګو په
خيانت باندې پوهېږم [غافر:۱۹]

تشريح: دا آيت هم وړاندې په (كتاب المامورات باب المراقبة) کې ذکر شوی دی، خلاصه دا
چې که يو انسان د بل انسان نه ځان پټ کړي، ليکن عالم الغيب ذات چې الله ﷻ دی، د هغه نه به
چېرته پټيږي، د هغه نه خو چېرته هم نشې پټيدی، بل په دې آيت کې اشاره ده دې خبرې ته چې د الله
ﷻ علم محيط دی، په ټول مخلوقات باندې تصرف او قدرت لري، ترڅو چې د انسان په زړه کې څه

تيريږي د هغه علم هم ورسره دی، کوم خيالات چې لا تر اوسه د انسان په زړه کې راغلي نه دي، د دې علم هم د الله ﷻ سره شته چې اوس به دده په زړه کې دا دا خيالات راځي.

"وقال تعالى: إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ" الله ﷻ فرمايي: بې شکه ستا رب په مورچه گاه کې دی، يعنې په هر څه باندې يې نظر دی، هيڅ شی د هغه د نظر او علم څخه پټ نه دی [الفجر:۱۴].

تشريح: دا آيت هم وړاندې ذکر شوی دی، مطلب دا چې الله ﷻ د مخلوق په ټول حال او احوال باندې خبر دی، که هغوی ښه کوي او که بد کوي، الله ﷻ ورباندې علم لري، د قيامت په ورځ به د ټولو ښو او بدو بدله ورکوي.

د سترګو، خولې او غوږونو زنا

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: كُتِبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَصِيبُهُ مِنَ الزِّنَا مُدْرِكٌ ذَلِكَ لَا مَحَالَةَ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د انسان په تقدير کې چې کومه زنا ليکل شوې وي، هغه به ورته خامخا رسيږي، "الْعَيْنَانِ زِنَاهُمَا النَّظَرُ، وَالْأُذُنَانِ زِنَاهُمَا الِاسْتِمَاعُ، وَاللِّسَانُ زِنَاهُ الْكَلَامُ" سترګې هم زنا کوي، د سترګو زنا کتل دي، غوږونه هم زنا کوي او د غوږونو زنا اوريدل دي، ژبه هم زنا کوي او د ژبې زنا خبرې دي، "وَالْيَدُ زِنَاهَا الْبَطْشُ، وَالرِّجْلُ زِنَاهَا الْخُطَا، وَالْقَلْبُ يَهْوَى وَيَتَمَنَّى، وَيُصَدِّقُ ذَلِكَ الْفَرْجُ أَوْ يُكَذِّبُهُ" او لاس هم زنا کوي او د لاس زنا نيول دي، پښې هم زنا کوي او د پښو زنا تلل دي، زړه ددې زنا ارمان او خواهش لري او عورت ددې خواهش او ارمان په پوره کېدو کې يا ددې تصديق کوي او يا يې تکذيب کوي، (يعنې که زنا وشوه نو د زړه ارمان او خواهش پوره شو او که زنا يې ونه کړه، د زړه ارمان او خواهش يې پوره نه شو. متفق عَلَيْهِ. هَذَا لفظ مسلم، ورواية البخاري مختصرةٌ.

تشريح: په دې کې د زنا او د هغې د اسبابو څخه د ځان ساتلو تاکيد راغلی دی، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې ارشاد دی: "ولاتقربوا الزنی" زنا ته نژدې هم مه ورځئ! بل په دې حديث کې په سترګو سره کتل، په لاس نيول او په غوږونو د اورېدو څخه تعبير په زنا سره شوی دی، علامه ابن بطال رحمه الله فرمايي: دلته يې سبب مجازا د مسبب په توګه ذکر کړی دی، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې د هغو شيانو څخه هم ځان ساتل پکار دي چې انسان زنا ته متوجه کوي، يعنې دواعي د زنا چې هغه کتل شو، ورتلل شو، نيول شو او بيا ددې ټولو شيانو تصديق يا تکذيب په عورت (شرمګاه سره) کيږي، نو کوم کس چې د زنا له اسبابو څخه ځان وساتي، نو داسې کس د عين زنا څخه ځان وساتلو.

علامه نووي رحمه الله او علامه سيوطي رحمه الله ددې حديث مطلب داسې بيان کړی دی چې کتل، ورتلل او اورېدل دا ټول د زنا مجازي ډولونه دي، کله کله د شرمګاه په ذريعه دغه مجازي زنا حقيقي زنا وګرځي او که شرمګاه يې تصديق ونه کړي، نو مجازي زنا به په خپل مجاز باندې پاتې شي.

د لارې حقونه

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قال: إياكم والجلوس في الطرقات! قالوا: يا رسول الله، ما لنا من مجالسنا بد، نتحدث فيها" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په لارو کې د مجلسونو نه ځان وساتئ، صحابه کرامو وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! مجلسونو ته زمونږ ضرورت دی، ددې څخه زمونږ خلاصی نشته، "فقال رسول الله ﷺ: فإذا أبيتم إلا المجلس، فأعطوا الطريق حقه قالوا: وما حق الطريق يا رسول الله" نبي کريم ﷺ وفرمايل: که بيا تاسو خامخا کښېنئ، نو بيا د لارې حق ادا کړئ! صحابه وو فرمايل: يا رسول الله ﷺ! د لارې څه حق دی؟ "قال: غض البصر، وكف الأذى، ورد السلام، والأمر بالمعروف والنهي عن المنكر" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د سترګو د نظر خيال وساتئ او د تکليف رسولو نه هم ځان وساتئ او د سلام ځواب ورکوئ، امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوئ! متفق عليه

تشريح: دا حديث وړاندې په (کتاب المامورات باب الامر بالمعروف والنهي عن المنکر) کې ذکر شوی دی، په حديث کې په لارو د ناستې څخه منع راغلې ده او که څوك کښيني، نو د لارې خپل حق به ادا کوي

(۱) د سترګو نظر به ښکته ساتي، هسې نه چې په غير محرم زنانه باندې يې نظر پرېوځي، (۲) په لاره کې چې کوم شی تکليف ورکوونکی وي، لکه: ازغی، کانړی يا نور ضرري شيان وي، نو هغه به لرې کوي، (۳) يا به سلام کوي او يا به د سلام جواب ورکوي، (۴) د نيکی حکم به کوي (۵) او د بدو کارونو څخه به منع کوي.

په هر مسلمان باندې لازم دي چې هغه به نېکي خپروي او د بدی څخه به ځان هم ساتي او نور خلك به هم د بدی څخه منع کوي، د لارې ټول حقونه يو شاعر په دې شعر کې جمع کړي دي:

آداب من يجلس في الطريق ...... من قول طه خذه بالطريق
افش السلام واحسن الكلام عن ...... مظلوم اللهفان عث رفيقي
ومر بعرف وانه عن نكر وكف ...... آذي وغض الطرف يا صديقي
وشمت العاطس ان يحمدا عن ...... في الحمل واكثر ذكرى ذي التوفيق
ورد تسليما واهد حائرا ...... والزم تقى الديان بالتحقيق

د لارې نور حقونه

"وعن أبي طلحة زيد بن سهل رضي الله عنه قال: كنا قعودا بالأفنية نتحدث فيها فجاء رسول الله ﷺ فقام علينا، فقال: ما لكم ولمجالس الصعدات؟ اجتنبوا مجالس الصعدات" د ابو طلحه زيد بن سهل رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ د خپل کور مخې ته په لاره کې ناست وو، خبرې مو کولې چې ناڅاپه رسول الله ﷺ تشريف راوړو، موږ يې شنګ ته ودرېدو او وې فرمايل: دلته څه کوئ؟ په لارو کې مجلسونه مه جوړوئ! "فقلنا: إنما قعدنا لغير ما بأس، قعدنا نتذاكر، ونتحدث" موږ وويل: يارسول الله ﷺ! موږ د کوم خراب کار باره کې د مجلس

لپاره ناست نه يو، مور خو هسې خبرې کوو، "قَالَ: إِمَّا لَا فَأَدُّوا حَقَّهَا: غَضُّ الْبَصَرِ، وَرَدُّ السَّلَامِ، وَحُسْنُ الْكَلَامِ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: كه بيا ډېر ضرورت وي، نو د لارې حق ادا کړئ هغه دا چې د سترګو: نظر حفاظت کوئ، د سلام ځواب ورکوئ او ښکلي خبرې کوئ. رواه مسلم

الصُّعُدَات بضم الصاد والعين: أَيِ الطُّرُقَاتِ: د الصعدات نه مراد لارې دي.

تشريح: په حديث کې منع راغلې ده چې يو انسان دې په لاره کې کيني، ليکن که بيا ډېر ضرورت وي، نو د لارې چې کوم حقونه دي هغه بايد پوره کړي، هغه دا چې سلام اچونکي ته به جواب ورکولې شي، د سترګو نظر به ښکته ساتي، امر بالمعروف او نهي عن المنکر به کوي. علامه نووي رحمه الله فرمايي: په حديث کې منع راغلې ده چې يو انسان دې فضول په لارو کې کيني او په لارو کې فضول کېنستل مکروه دي، وجه يې دا ده چې اکثر وخت د ګناه باعث جوړېږي. کله کله نامحرمه ښځه روانه وي او ستا نظر وربانديې ولګيږي، نو د هغې باره کې به ستا په زړه کې مختلف سوچونه او فکرونه راځي، دغه شان د پردې نامحرمې ښځې نظر به هم په هغه باندې پرېوځي، نو هغه به هم د دې په وجه په ګناه کې مبتلا شي، بل دا چې د سستۍ له امله به کله کله د سلام جواب نه ورکوي، داسې نور ډېر کارونه دي چې د هغې نه معلومېږي: په لارو کې فضول کېنستل مکروه دي.

د راوي ابوطلحه زيد بن سهل رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې زيد رضي الله عنه دى، کنيت يې ابوطلحه دى، د نجار خاندان عمرو بن مالک سره يې تعلق درلود، د پلار نوم يې سهل بن اسود دى، د مور نوم يې عباده دى، د جاهليت په زمانه کې به يې د عامو عربو په شان بت پرستي کول او شراب به يې هم څښل.

تقريباً د شلو کالو په عمر کې يې اسلام قبول کړو، واقعه داسې وه چې دوى ام سليم رضي الله عنها ته د نکاح پيغام ولېږلو، هغوى ورسره دا شرط ولګولو چې مسلمان شه؛ بيا به نکاح وکړو، په هغه باندې د اسلام حقيقت ښکاره شو او مسلمان شو، د رسول الله ﷺ سره په هره غزا کې شريک شوى دى او ښه ميړانه يې پکې ښودلې ده، همدغه صحابي دى چې رسول الله ﷺ ته يې قبر مبارک کنستلى وو، کله چې رسول الله ﷺ وفات شو، نو دوى هم د مدينې منورې څخه هجرت وکړو او شام ته لاړو، عمر رضي الله عنه چې د شپږو کسانو کومه کميټي جوړه کړې وه، په هغې کې يو ابوطلحه رضي الله عنه هم وو.

د دوى په سن وفات کې اختلاف دى، ځينې ۳۱ هجري ښيي، ځينې ۵۱ هجري ښيي، ليکن زيات اصح قول همدغه دى، د دوى څخه ۹۱ احاديث نقل شوي دي.

لومړى نظر معاف دى

"وَعَنْ جَرِيرٍ رضي الله عنه قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ عَنْ نَظَرِ الْفَجْأَةِ فَقَالَ: اصْرِفْ بَصَرَكَ" د جرير رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي: ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! که چېرته په کومه نامحرمه ښځه باندې ناڅاپي نظر ولګيږي، ددې څه حکم دى؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: بيا خپل نظر واړوه. رواه مسلم

تشريح: محدثين د دې حديث مطلب داسې بيانوي: کله چې په کومه نامحرمه ښځه باندې نظر پرېوځي، نو سمدستي بل طرفته نظر اړول واجب دي، لومړی نظر چې بې ارادې پرېوتلی دی، هغه معاف دی، ليکن که اولنی نظر هم نه لرې کوي او هم هغې ورته ګوري، نو دا جائز نه دي، په قرآن کريم کې ارشاد دی: "قل للمؤمنين يغضوا من أبصارهم" اې پېغمبره ﷺ! مؤمنانو ته ووايه: چې دوی خپل نظرونه ښکته وساتي، په يو روايت کې دي چې: "قال: قال رسول الله ﷺ لعلي: يا علي! لا تتبع النظرة النظرة فإن لك الأولى وليست لك الآخرة" رسول الله ﷺ علي رضي الله عنه ته وفرمايل: اې علي رضي الله عنه! په يو نظر پسې بل نظر مه تابع کوه، ستا لپاره اولنی نظر معاف دی، ليکن دويم نظر معاف نه دی.

ښځې به د ړوند سړي نه هم پرده کوي

"وعن أم سلمة رضي الله عنها، قالت: كنت عند رسول الله ﷺ، وعنده ميمونة، فأقبل ابن أم مكتوم، وذلك بعد أن أمرنا بالحجاب فقال النبي ﷺ: احتجبا منه" د ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې زه او ميمونه رضي الله عنها د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وو چې ناڅاپه ابن ام مکتوم رضي الله عنه راغلو او دا واقعه د پردې د حکم نازلېدو وروسته وه، نبي کريم ﷺ موږ ته حکم وکړو چې تاسو دواړه پرده وکړئ! "فقلنا: يا رسول الله، أليس هو أعمى! لا يبصرنا، ولا يعرفنا؟ فقال النبي ﷺ: أفعمياوان أنتما ألستما تبصرانه!؟" موږ ووېل: يارسول الله ﷺ! ايا هغه ړوند نه دی، هغه خو موږ نه پېژني؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه ړوند دی، تاسو خو ړندې نه يئ، ايا تاسو هغه نه وينئ؟ رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح

تشريح: د حديث څخه معلومه شوه چې لکه څرنګه د سړو کتل ښځو ته حرام دي، دغه شان ښځې به هم سړو ته نه ګوري، ليکن علماء ليکي چې ښځې د جنسي خواهشاتو څخه بغير سړو ته کتلی شي، لکه د عايشې رضي الله عنها د واقعې څخه معلومېږي چې کله حبشيانو نيزه بازي کول، نو عايشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ شاته ولاړه وه او هغوی ته يې کتل، دا واقعه د نهمې هجري سره تعلق لري او په دې وخت کې د عايشې رضي الله عنها عمر شپاړس کاله وو او د پردې حکم هم نازل شوی وو.

ليکن ځينې علماء فرمايي: دا په تقوی باندې محمول دی، اګرچې کتل جائز دي، ليکن نه کتل عين تقوی ده، البته که جنسي خواهشات پکې داخل وي، نو بيا خو کتل صراحتاً حرام دي، نن سبا هسې هم د خواهشاتو زمانه ده، لهذا د فتنې په دې دور کې به ښځې هم د سړو څخه پوره پرده کوي او هغوی ته به نه ګوري.

سړي به د سړي عورت او ښځه به د ښځې عورت نه ګوري

"وعن أبي سعيد رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ قال: لا ينظر الرجل إلى عورة الرجل، ولا المرأة إلى عورة المرأة" د أبو سعيد رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: يو سړی دې د بل سړي عورت ته نه ګوري او نه دې يوه ښځه د بلې ښځې عورت ته ګوري، "ولا يفضي الرجل إلى الرجل في ثوب واحد، ولا تفضي المرأة إلى المرأة في الثوب الواحد" او نه دې يو سړی د بل سړي سره په يوه کپړه کې بربنډ (لوڅ بدن څملي او نه دې يوه

ښځه د بلې ښځې سره په يوه کپړه کې بربنده/ لوڅ بدن څملي. رواه مسلم

تشريح: لاينظر الرجل إلى عورة الرجل: نه دې سړې د يو بل عورت ګوري، د سړي عورت د نامه څخه لاندې تر زنګون پورې دی، دغه برخه بې ضرورته کتل حرام دي، نه به يې سړي ګوري او نه به يې ښځې ګوري، البته که ښځه يې وي يا يې وينزه وي، نو هغوی ته کتل جائز دي، "ولاالمرأة عورة المرأة" او نه به ښځه د بلې ښځې عورت ګوري، د يوې ښځې عورت بلې ښځې ته د نامه د وهښتو څخه لاندې تر زنګون پورې دی، لهذا د سختې مجبورۍ څخه بغير به دا ځای ښځه هم نه ګوري، ليکن د سړي په حق کې ټوله ښځه عورت ده، پرده به ترې کوي

د ښځې عورت (ملا، خېټه، د نامه نه لاندې تر زنګون پورې) دا برخې د محرم (هغه کسان چې ددې ښځې سره يې نکاح نه کيږي) لپاره بې ضرورته کتل حرام دي، ليکن وېښتان، مخ، لاسونه وغيره يې کتل جائز دي، ليکن په دې کې هم شرط دا دی چې جنسي خواهشات به پکې داخل نه وي، علامه نووي رحمه الله ليکلي دي: کوم هلك چې په مخ ږيره نه لري، هغه هم په دې حکم کې شامل دی

ولايفضی الرجل إلى الرجل في ثوب واحد: او نه به يو کس د بل کس سره بربنډ په يوه کپړه کې پټيږي، په دې حديث کې راغلل چې بربنډ به يو ځای نه څملي، که جامې يې اغوستې وي نو بيا به جائز وي، دغه شان بربنډې ښځې به سر يو ځای نه څملي، ځکه چې دا کار د هر د بې حيايي او بې غيرتي دی

باب تحريم الخلوة بالأجنبية

د پردۍ ښځې سره يوازې کېدل حرام دي

"قَالَ اللّٰــــه تعالی: وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعاً فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ" الله ﷻ فرمايي: کله چې تاسو د دې بيبيانو نه کوم سوال کول غواړئ، نو د پردې ترشا سوال کوئ؛ [الأحزاب:۵۳].

تشريح: مفسرين فرمايي: په آيت کې اګرچې خطاب خاص ازواج مطهرات (رضی الله عنهن) ته دی، ليکن حکم يې عام دی، "وإذا سألتموهن متاعًا فاسئلوهن من ورآء حجاب" يوه ورځ عمر ﷺ رسول الله ﷺ ته ووېل: يارسول الله ﷺ! ستاسو په مجلس کې هر نېك او بد خلك حاضري کوي، که تاسو ازواج مطهرات ته د پردې حکم وکړئ، نو ښه به وي، په دې باندې دغه آيت نازل شو، علماء فرمايي: دا خبره قابل د فکر ده چې د پردې حکم ښځو او سړو ته ورکړل شو، په دې کې ازواج مطهرات هم داخلې دي چې د هغوی زړونه پاك او صفا وو، بل طرف صحابه کرام ﷺ دي چې د رسول الله ﷺ بلاواسطه شاګردان دي، د داسې خلکو ترمينځ د پردې حکم رانازل شو، نو نن سبا زه او ته پکې څوک يو چې خپل نفسونه د صحابه کرامو ﷺ د نفسونو څخه زيات پاك ګڼو او د پاکۍ دعوه کوو؟

لېـــور خو مرګ دی

"وعن عقبة بن عامر ﷺ: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ!" د عقبة بن عامر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پردیو ښځو ته مه ورځئ! ددې نه ځان وساتئ! (يعنې پردیو ښځو ته مه ورځئ) "فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ: أَفَرَأَيْتَ الحَمْوَ؟ قَالَ: الحَمْوُ المَوْتُ!" يو انصاري صحابي پوښتنه وکړه، يارسول الله ﷺ: لېور به هم نه دا خلېږي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: لېور خو مرګ دی! متفق عَلَيْهِ

الحَمْو: قَرِيبُ الزَّوْجِ كَأَخِيهِ، وَابْنِ أَخِيهِ، وَابْنِ عَمِّهِ: د (الحمو) نه مراد د خاوند نزدې نارينه خپلوان دي، لکه: لېور، وراره او د تره زوی.

تشريح: الحمو الموت: حمو خو مرګ دی، محدثين ددې جملې مطلب داسې بيانوي: لکه څرنګه چې په مرګ سره د سړي دنيوي ژوند ختمېږي، دغه شان (لېور) يا پردي سړي سره د ښځې اختلاط د ښځې ژوند بربادوي، د لېور لفظ ځکه په ځانګړې توګه ذکر شو چې عام طور خلك د لېور سره اختلاط کول بد نه ګڼي، نو ځکه د ښځو سره د لېور تلل راتلل ډېر زيات کېږي او بل دا چې تعبير يې په مرګ سره ترې وکړو، ددې لپاره وجه دا ده چې اهل عرب عام طور د خطري شي څخه تعبير په مرګ سره کوي، مثلاً: (اسدٌ الموت) مطلب دا چې زمري ته نزدې کېدل مرګ ته غاړه ورکول دي، نو لېور ته نزدې کېدل هم تباهي او بربادۍ ته غاړه ورکول دي.

د پردی ښځې سره يو ځای کېدل حرام دي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّ رسولَ الله ﷺ قَالَ: لاَ يَخْلُوَنَّ أَحَدُكُمْ بِامْرَأَةٍ إِلاَّ مَعَ ذِي مَحْرَمٍ" د ابن عباس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې هيڅکله دې په تاسو کې يو کس د يوې ښځې سره ځانته خلوت نه کوي، مګر دا چې ذي محرم ورسره وي. متفق عَلَيْهِ

لغوي تحقيق: لايخلون: يو ځای کېدل، ځانته کېدل.

تشريح: دا حديث وړاندې په (کتاب اداب السفر وتحريم سفر المرأة وحدها) کې ذکر شوی دی، خلاصه دا چې يوه ښځه دې د پردي سړي سره په خلوت کې ملاقات نه کوي، دا ملاقات به ورته حرام وي، ځکه چې په خلوت کې ملاقات کول باعث د ګناه وي.

د مجاهدينو ښځې هم د قدر وړ دي

"وعن بُرَيْدَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: حُرْمَةُ نِسَاءِ المُجَاهِدِينَ عَلَى القَاعِدِينَ كَحُرْمَةِ أُمَّهَاتِهِمْ" د بريدة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مجاهدينو د ښځو حرمت د جهاد څخه ناستو خلکو باندې داسې دی لکه: د دوی د مورګانو حرمت چې په دوی باندې دی، "مَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ القَاعِدِينَ يَخْلُفُ رَجُلاً مِنَ المُجَاهِدِينَ فِي أَهْلِهِ، فَيَخُونُهُ فِيهِمْ" داسې يو سړی نشته د جهاد څخه په ناستو خلکو کې چې هغه دې د مجاهد په کورني کې خيانت وکړي، "إِلاَّ وُقِفَ لَهُ يَوْمَ القِيَامَةِ، فَيَأْخُذُ مِنْ حَسَنَاتِهِ مَا شَاءَ حَتَّى يَرْضَى" مګر دا چې

دا كس به د قيامت په ورځ ودرول شي او دده څخه به نيكى راخيستلى شي او مجاهد ته به وركولى شي، تردې چې مجاهد راضي شي، "ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فَقَالَ: مَا ظَنُّكُمْ؟" بيا نبي كريم ﷺ موږ ته وكتل او وې فرمايل: ستاسو څه خيال دى؟ رواه مسلم.

لغوي تحقيق: حرمة: تقدس، عزت.

تشريح: د حديث څخه معلومه شوه چې كوم مجاهدين جهاد ته لاړ شي، نو د هغوى د خاندان خيال ساتل چې څومره زيات اجر لري، دغه شان د هغوى د خاندان سره خيانت هم دومره لويه گناه ده، "ماظنكم"؟ ستاسو څه خيال دى؟ علماوو ددې جملې درې مطلبونه بيان كړي دي: يو دا چې ستا څه خيال دى، هغه مجاهد به د خيانت كونكي سره څه نېكي پرېږدي؟ بلكې د هغه ټولې نېكى به واخلي، بل مطلب يې دا دى چې ستا څه خيال دى چې د مجاهد سره كوم خيانت شوى دى، ددې خيانت بدله به ورنه كړل شي، په دې كې څه شك دى؟ كله چې شك پكې نشته، نو بيا د مجاهدينو د كورنى سره هيڅ خيانت مه كوئ، بل مطلب يې دا دى چې الله ﷻ مجاهدينو ته كوم لوړ مقام وركړى دى، ستاسو څه خيال دى چې بس همدغه به وي، نور څه به نه شي وركول كېدى؟ نه! ددې مقام نه پرته نور مقامات به هم الله ﷻ وركوي.

باب تحريم تشبه الرجال بالنساء وتشبه النساء بالرجال في لباس وحركة وغير ذلك

د سړو او د ښځو د يو بل سره په لباس او حركاتو كې مشابهت حرام دى

"عن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ الْمُخَنَّثِينَ مِنَ الرِّجَالِ، وَالْمُتَرَجِّلَاتِ مِنَ النِّسَاءِ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ لعنت فرمايلى دى په هغه چا چې سړي د ښځو سره مشابهت كوي او ښځې د سړو سره مشابهت كوي.

"وفي رواية: لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ، وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ" او په يو بل روايت كې دي چې رسول الله ﷺ لعنت فرمايلى دي په هغه سړيو باندې چې د ښځو سره مشابهت اختياروي او په هغو ښځو چې د سړيو سره مشابهت اختياروي. رواه البخاري.

لغوي تحقيق: لعن: لعن باب فتح يفتح دى، ددې معنى ده: لعنت ويل

تشريح: مخنث داسې كس ته ويلى شي چې د ښځو سره په خبرو كې مشابهت اختياروي، د ښځو په شان غړيږي، دغه شان حركات او سكنات يې د ښځو په شان وي، داسې كس ته زموږ په لهجه كې هيجړا ويل كيږي، يا ورته نرښځى ويلى شي، د مخنث دوه ډوله دي: يو دا چې پيدايښي د هغه په خبرو كې چال چلن د ښځو سره مشابهت لري، دويم هغه چې پيدايښي نه وي، ليكن قصداً داسې

شکل اختياروي چې د ښځو سره مشابهت لري، په دې دويم قسم مخنث باندې لعنت ويل شوي دي، اولنی قسم خو معذور دی، دغه شان هغه ښځې چې د سړيو شکل او صورت په خبرو، چال چلن او لباس جامه وغيره کې اختياروي، نو په داسې ښځو باندې هم لعنت ويل شوی دی.

هغه ښځې چې د سړو شکل او صورت اختياروي

"وعن أبي هريرة ﷺ قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللّـٰه ﷺ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ، وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ لعنت فرمايلی دی په هغه سړي چې د ښځو په شان جامې اغوندي او په هغو ښځو چې د سړيو په شان جامې اغوندي. رواه أبوداود بإسناد صحيح

لغوي تحقيق: يلبس: جامې اغوستل.

تشريح: علماء ليکي لکه څرنګه چې سړي د ښځو سره په جامو، په ډول او سنګار وغيره کې مشابهت کوي، نو دا حرام دي، دغه شان ښځې چې هم د سړو سره مشابهت کوي، دا هم حرام دي، خلاصه دا چې کوم شيان د سړيو سره خاص وي، هغه په ښځو حرام دي، دغه شان کوم کارونه چې د ښځو سره خاص وي، د سړو لپاره د هغې استعمال حرام دی، دا کار موجب د لعنت او لويه ګناه ده، بل دا چې کومه ښځه په علم، عقل او حکمت کې د سړيو سره مشابهت اختياروي، ددې ښځې دا فعل حرام نه دی، لکه څرنګه چې د عائشې ﷺ په باره کې دي چې د هغې عقل د سړيو د عقل په څېر وو

ځينې ښځې جامې اغوندي، ليکن لوڅې وي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسولُ اللّـٰه ﷺ: صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا: قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه قسمه خلک جهنميان دي چې تر اوسه ما نه دي ليدلي، يو هغه خلك دي چې د غوايانو د لکۍ په شان قمچينې به ورسره وي، په دې باندې به خلك وهي، "وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ" او دويم به داسې ښځې وي چې جامې به يې اغوستلې وي، "عَارِيَاتٌ" خو د ډېرې باريکۍ له وجې به لوڅې وي، "مُمِيلاَتٌ" خلك به خان ته مائله کوي، "مَائِلاَتٌ" خپله به هم خلکو ته مائله کيږي، "رُؤُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ" د سرونو وېښتان به يې داسې راټاو کړي وي او اوچت به يې جوړ کړي وي، لکه د بختي اوښ کوب چې يو طرفته مائل وي، "لاَ يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ، وَلاَ يَجِدْنَ رِيحَهَا، وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا" نه به جنت ته داخلې شي او نه به د جنت خوشبو محسوسه کړي او حال دا چې د جنت خوشبو د دومره دومره لرې مسافې نه زيات محسوسولی شي. رواه مسلم

معنی كَاسِيَاتٌ أي: مِنْ نِعْمَةِ اللهِ: د کاسيات معنی ده: د الله ﷻ د نعمتونو نه به خالي وي، "عَارِيَاتٌ مِنْ شُكْرِهَا" عاريات معنی ده: د الله ﷻ د شکر ادا کولو نه به هم خالي وي، "وَقِيلَ مَعْنَاهُ: تَسْتُرُ بَعْضَ بَدَنِهَا، وَتَكْشِفُ بَعْضَهُ إظْهَاراً لِجَمَالِهَا وَنَحْوِهِ" چا ويلي دي چې داسې کيږي به اغوندي چې نيم بدن به يې پټ وي او نيم بدن به يې لوڅ وي، په دې سره به د خپل بدن ښايست ظاهروي، "وَقِيلَ: تَلْبَسُ ثَوْباً رَقِيقاً يَصِفُ لَوْنَ بَدَنِهَا" او چا ويلي

دي چې داسې نرى جامې به يې اغوستلي وي چې بدن به يې ترې ليدل ښکاري، "ومعنى مائلات: قيل عن طاعة الله وما يلزمهن حفظه" د (مائلات) معنى چا داسې کړې ده چې د الله ﷻ د اطاعت څخه به يې خير وي، دې طرفته به يې ميلان نه وي، "مميلات أي: يعلمن غيرهن فعلهن المذموم" د (مميلات) معنى ده: څېل مذموم فعل يعني د بدن ښکلا او ښايست به نورو ته ښيي او خلك به خان طرفته مائل کوي، "وقيل: مائلات يمشين متبخترات" چا ويلي دي: مائلات معنى ده: په تکبر او غرور سره مزل او قدم اخيستل "مميلات لأكتافهن" او د (مميلات) معنى ده: خپل سر به يې يو طرفته مائل کړی او په لاره به روانه وي، "وقيل: مائلات يمتشطن المشطة الميلاء: وهي مشطة البغايا" او چا ويلي دي چې د (مائلات) معنى ده: داسې مزل به کوي لکه غلط کار ته چې سړی مائل کوي چې هغه د زنا کارو ښځو مزل دی، (يعنې په اشارو او قدم کې به يې داسې چل وي چې سړی به پرې پوهېږي چې دا ښځه صحيح نه ده) "ومميلات يمشطن غيرهن تلك المشطة" داسې ډول او سنګار ته به نور خلك هم ترغيب؛ دعوت کړي، "رؤوسهن كأسنمة البخت أي: يكبرنها ويعظمنها بلف عمامة أو عصابة أو نحوها" دا لفظ چې (رؤوسهن الخ) ددې معنى ده: خپل ويښتان به يې په ټوټه سره يا بل څه سره داسې تاو کړي وي چې غوټه کړي به يې او دنګه لوټه به يې ترې جوړه کړې وي، داسې به ښکاري لکه د بختي اوښ بوک چې دی.

لغوي تحقيق: سياط: جمع د سوط ده، معنى يې ده: کوړه يا دوره.

تشريح: علامه نووي رحمه الله ددې حديث تشريح خپله کوي، دا حديث د رسول الله ﷺ په نبوت او په معجزه باندې واضح دليل دی، په دې کې د آخري وخت ښځو د حالاتو بيان دی، کوم چې بالکل حقيقي او رښتونيې ثابت شو، ددې حديث څخه يو څو مسئلې ثابتيږي:

(۱): خلکو ته ناحقه تکليف ورکول حرام دي، (۲) ښځو ته پکې خاص تنبيه ده چې هغوی دې د پردې اهتمام وکړي، د دنيادارو ښځو په شان دې بې پردې نه ګرځي، (۳) ښځو ته تنبيه ورکول دي چې هغوی دې الله ﷻ نه ناراضه کوي، کنه نو د هميش لپاره به په جهنم کې وي.

لا يدخلن الجنة: داسې ښځې به جنت ته نه داخليږي، قاضي عياض رحمه الله فرمايي: ددې جملې مطلب دا نه دی چې داسې ښځې به کله هم جنت ته نه ځي، بلکې مطلب يې دا دی چې په لومړي ځل به جنت ته نه ځي، د سزا خوړلو څخه وروسته به جنت ته ځي.

ولا يجدون ريحها: د جنت خوشبو به هم محسوسه نه کړي، دا جمله د زجر او سزا په توګه فرمايل شوې ده، يا دا چې په اول ځل به ورته د جنت خوشبو نه ملاويږي، خو وروسته به ورته ملاو شي

باب النهی عن التشبه بالشیطان والکفار

د شیطان یا د کافر په شان ځان جوړولو نه منع شوې ده

"عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لَا تَأْكُلُوا بِالشِّمَالِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ وَيَشْرَبُ بِالشِّمَالِ" د جابر رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په چپ لاس خوراك مه كوئ ځكه چې شيطان په چپ لاس خوراك څښاك كوي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: الشيطان: د شيطان معنى ده: مخالفت كول، خبره نه منل

تشريح: ددې حديث په شان د عايشه صديقه رضي الله عنها روايت هم دى، فرمايي چې كوم كس په چپ لاس خوراك كوي، شيطان د هغه سره شريك دى او د هغه سره خوراك كوي، ځينې علماء ليكي چې په ښي لاس خوراك كول واجب دي. ددې تائيد د سلمه بن اكوع رضي الله عنه ددې خبرې څخه كيږي چې رسول الله ﷺ يو كس وليد چې په چپ لاس يې خوراك كولو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: په ښي لاس خوراك كوه، هغه كس وويل: په ښي لاس خوراك نه شم كولى، راوي وايي: هغه كس دا خبره د ډېر تكبر له امله وكړه، حال دا چې د هغه لاس ښه روغ وو، رسول الله ﷺ وفرمايل چې تاته دې په ښي لاس د خوراك كولو قدرت حاصل نه شي، هم دا وجه وه چې ددې نه وروسته هغه كس تر مرګه پورې خپل ښى لاس خولې ته نژدې نه كړو، د جمهورو په نزد په ښي لاس خوراك كول سنت دي او هغوى دغه شان روايات په زجر او توبيخ باندې حمل كوي.

شيطان هم په چپ لاس خوراك كوي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: لَا يَأْكُلَنَّ أَحَدُكُمْ بِشِمَالِهِ، وَلَا يَشْرَبَنَّ بِهَا، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِهَا" د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو كې دې يو كس هم په چپ لاس خوراك نه كوي او نه دې په چپ لاس اوبه څښي، ځكه چې شيطان په چپ لاس خوراك هم كوي او په چپ لاس اوبه هم څښي. رواه مسلم

تشرح: يأكل بشماله ويشرب بها: شيطان هم په چپ لاس خوراك كوي او په چپ لاس اوبه څښي، علامه توربشتي رحمه الله ددې مجازي معنى اخلي او داسې وايي: كوم خلك چې د شيطان تابعداري كوي نو شيطان لعين هغوى په چپ لاس خوراك كولو باندې اماده كوي او علامه طيبي رحمه الله ددې جملې ظاهري معنى اخلي، فرمايي چې دا حقيقت دى چې شيطان په چپ لاس خوراك كوي او په چپ لاس اوبه څښي، حسن بن سفيان رحمه الله د أبو هريره رضي الله عنه څخه روايت نقل كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كه په تاسو كې كوم كس څه خوراك كول غواړي، نو بايد چې په ښي لاس خوراك وكړي او كه اوبه څښل غواړي، نو هم بايد په ښي لاس اوبه وڅښي او كه چاته څه وركول غواړي، نو هم بايد په ښي لاس يې وركړي، ځكه چې شيطان په چپ لاس خوراك كوي، په چپ لاس اوبه څښي او په چپ لاس نيول كوي

وېښتانو ته نکریزي ورکول

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ، قَالَ: إِنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى لَا يَصْبُغُونَ، فَخَالِفُوهُمْ" د ابو هریره ﷺ نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يهوديان خپلې ږيرې او د سر وېښتان نه رنګوي، تاسو د هغوی مخالفت وکړئ (يعني خپلې ږيرې او وېښتان رنګ کړئ) متفق عليه

المُرَادُ: خِضَابُ شَعْرِ اللِّحْيَةِ وَالرَّأْسِ الأَبْيَضِ بِصُفْرَةٍ أَوْ حُمْرَةٍ: ددې نه مراد د سر او ږيرې سپينو وېښتانو ته زېړ يا سور رنګ ورکول مراد دي، "وَأَمَّا السَّوَادُ، فَمَنْهِيٌّ عَنْهُ كَمَا سَنَذْكُرُهُ فِي الْبَابِ بَعْدَهُ، إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى" هر چې تور رنګ دی، نو هغه منع دی، په راتلونکي باب کې به يې موږ ذکر کړو، که د الله ﷻ خوښه وي.

تشريح: وېښتانو ته خضاب (نکريزي) ورکول په شريعت کې جائز دي، ليکن د تور خضاب څخه به ځان ساتي، دا ځکه چې په دې کې د يهودو او عيسايانو څخه مخالفت دی چې هغوی خپلې ږيرې او وېښتان نه رنګوي. ددې حديث څخه معلومه شوه چې مسلمانان بايد د کفارو: عيسايانو او يهوديانو سره د مشابهت څخه بيخي ځان وساتي، په مجمع البحار کې دي چې په دې حديث کې: خضاب لګولو حکم هغه چاته شوی دی چې ټول وېښتان يې سپين وي او د کوم کس نيم وېښتان چې تور او نيمايي سپين وي، هغوی ته دا حکم نه دی.

باب نهي الرجل والمرأة عن خضاب شعرهما بسواد

سړي او ښځه به خپل وېښتان په خضاب يعني تور رنګ نه رنګوي

"عن جابر ﷺ قَالَ: أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ وَالِدِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رضى الله عنهما، يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ بَيَاضاً" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د ابو بکر ﷺ پلار ابو قحافه ﷺ د فتح مکې په ورځ راوستل شو او د هغه د سر او ږيرې وېښتان تک سپين ځلېدل، "فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: غَيِّرُوا هٰذَا وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دې ږيرې او د سر وېښتانو ته په خضاب سره تغير ورکړئ، ليکن پام کوئ ځان د تور رنګ څخه وساتئ! رواه مسلم

لغوي تحقيق: الثغامة: داسې ونې بوټي چې د هغې ميوه او ګلان دواړه سپين وي

تشريح: أتى بأبي قحافة والد أبي بكر الصديق: د ابوبکر صديق ﷺ د پلار نوم عثمان بن عامر وو، کنيت يې ابو قحافه وو، د مکې د فتحې په ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او اسلام يې قبول کړو، بيا د عمر ﷺ په دور خلافت کې وفات شو، "ثغامة" دا په غره کې د يو بوټي نوم دی چې وچ شي نو بيا د واورې په شان تک سپين شي، ځينې وايي چې دا يو بل شان بوټی دی چې سپينې ميوې او سپين ګلان نيسي

إجتنبوا السواد: د تور خضاب څخه ځانونه وساتئ، شاه عبدالحق محدث دهلوي ﷫ فرمايي: تور خضاب لګول حرام دي، په يو روايت کې دي چې د وېښتانو سپينوالی ختم کړئ، ليکن د تور

خضاب ځکه ځانونه وساتئ؛ کوم کس چې جهاد ته ځي او هغه دښمن ته د رعب اچولو په خاطر تور خضاب ولګوي، نو دا جائز وي، د ځينو صحابه کرامو او تابعينو باره کې چې راځي هغوی به تور خضاب استعمالول، نو د هغې وجه دا وه چې هغوی مجاهدين وو، ليکن شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله فرمايي: د هغوی خضاب به خالص تور نه وو، بلکې سور رنګ به وو چې توروالي ته به مائل وو.

باب النهي عن القزع وهو حلق بعض الرأس دون بعض، وإباحة حلقه كلّه للرجل دون المرأة

د قزع نه منع شوې ده، قزع دې ته ويل کيږي چې د سر نيم ويښتان وخريي او نيم پرېږدي يا به تول خروي يا به تول پرېږدي

"عن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ القَزَعِ" د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د قزع نه منع فرمايلې ده، (قزع دې ته وايي چې د سر نيمايي ويښتان وخريي او نيمايي پرېږدي). متفق عَلَيهِ

تشريح: علامه نووي رحمه الله فرمايي: قزع دې ته وايي چې د سر نيم ويښتان کل کړی شي او نيم هسې پرېږدي، همدغه معنی جمهورو علماوو خوښه کړې ده، قزع لکه څرنګه چې د لوی سړي په حق کې حرام کار دی، دغه شان د ماشومانو په حق کې هم حرام کار دی او د حرمت وجه يې دا ده چې په دې کې د کفارو سره مشابهت دی.

يا به تول ويښتان خروي يا به تول پرېږدي

"وعنه، قَالَ: رأى رَسُولُ اللهِ ﷺ صَبِيّاً قَدْ حَلَقَ بَعْضَ شَعْرِ رَأْسِهِ وَتَرَكَ بَعْضَهُ، فَنَهَاهُمْ عَنْ ذَلِكَ، وَقَالَ: اِحْلِقُوهُ كُلَّهُ، أَوِ اتْرُكُوهُ كُلَّهُ" د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يو ماشوم وليدلو چې د هغه د سر ويښتان نيم خرېيول شوي وو او نيم يې پرېښي وو، نبي کريم ﷺ ددې نه منع وفرمايل او وې فرمايل: يا خو تول سر وخرېيوه او يا تول سر پرېږده؛ (يعنې داسې مه کوئ چې نيم ويښتان کل کړي او نيم پرېږدي. رواه أبو داود بإسناد صحيح على شرط البخاري ومسلم

تشريح: په دې حديث کې ددې نه منع راغلې ده چې يو کس دې نيمايي ويښتان وخريوي او نيمايي دې پرېږدي، دغسې کارونه خو اهل کتاب کوي او د اهل کتابو سره مشابهت اختيارول حرام دي، يا دا چې فاسقان او فاجران عموما داسې کوي

که د علاج په طور داسې وکړي يا کوم بل عذر وي، نو بيا ګنجايش شته.

رسول الله ﷺ د جعفر رضي الله عنه د بچو وېښتان کل کړي وو

"وعن عبدالله بن جعفر رضي الله عنهما: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَمْهَلَ آلَ جَعْفَرٍ ثَلَاثًا ثُمَّ أَتَاهُمْ فَقَالَ: لَا تَبْكُوا عَلَى أَخِي بَعْدَ الْيَوْمِ" د عبد الله بن جعفر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د جعفر رضي الله عنه خاندان ته درې ورځو پورې د ژړا اجازه ورکړه، بيا يې درې ورځې وروسته وفرمايل: بس اوس به د دې ځځه وروسته زما په ورور باندې څوک ژړا نه کوي، "ثُمَّ قَالَ: ادْعُوا لِي بَنِي أَخِي فَجِيءَ بِنَا كَأَنَّنَا أَفْرُخٌ فَقَالَ: ادْعُوا لِي الْحَلَّاقَ فَأَمَرَهُ فَحَلَقَ رُؤُوسَنَا" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: ما ته زما د ورور بچي راولئ، موږ يې راوستلو، لکه موږ چې د چنچړې بچي يو، (يعني دومره وړوکي وو) بيا نبي کريم ﷺ يو نايي راوغوښتلو، هغه ته يې حکم وکړو چې د دوی سرونه وخربوه؛ زموږ سرونه يې وخرول. رواه أبوداود بإسناد صحيح على شرط البخاري ومسلم

تشريح: آل جعفر: د جعفر رضي الله عنه د کورنۍ خلك. جعفر رضي الله عنه د ابو طالب زوی وو او د علي رضي الله عنه حقيقي ورور وو، د موته په غزا کې شهيد شوی وو، (امهل) معنی دوی ته يې مهلت ورکړو، د دې ځځه معلومه شوه چې په مړي باندې د درې ورځو ځځه زياتې ژړاګانې کول جائز نه دي او دا قول چې بني اخي: د دې نه محمد رضي الله عنه، عبد الله رضي الله عنه او عوف رضي الله عنه مراد دي.

أدعوالي الحلاق: ما ته نايي راولئ؛ د هغوی ټولو سرونه يې وخرول، علماء ليکي: د حج او عمرې په موقع وېښتان خرېول افضل دي، ليکن په عامو وختونو کې د سر وېښتان پرېښودل غوره دي، په دې حديث کې ذکر شو چې رسول الله ﷺ د جعفر رضي الله عنه د بچيانو وېښتان وخرېول، وجه يې دا وه چې د هغوی مور اسماء بنت عميس رضي الله عنها د خپل خاوند په غم کې وه، هغې د خپلو بچيانو د صفايي خيال نه ساتلو، علامه عيني رحمه الله فرمايي: د وېښتانو په خرېولو کې کراهت نشته، د دغه شان ملا علي قاري رحمه الله هم فرمايي: د حج او عمرې پرمهال وېښتان خرول افضل دي، ليکن په عامو وختونو کې وېښتان پرېښودل غوره دي.

ښځې به سر نه خريي

"وعن علي رضي الله عنه قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا" د علي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ د دې نه منع فرمايلې ده چې ښځه دې خپل سر وخروي. رواه النسائي

تشريح: د شريعت په رڼا کې د ښځو لپاره د وېښتانو اهميت دومره دی لکه څومره چې د سړيو په حق کې د ږيرې اهميت دی، يعنې ږيره خرېول حرام دي، لهذا د ښځو لپاره د سر وېښتان خرېول هم حرام دي، په تکمله بحر الرائق کې دي چې په اسمانانو کې د پرښتو تسبيح دا ده چې: "سبحان من زين الرجال باللحى والنساء بالذوائب" پاکي ده هغه ذات لره چې سړي يې په ږيرو ښايسته کړل او ميرمنې يې د سر په وېښتانو ښايسته کړل خلاصه دا چې ښځې به نه وېښتان خروي او نه به يې کموي، علماء فرمايي: که يوې ښځې ته خپل خاوند د تزئين او د ول سنګار په خاطر ووايي چې وېښتان وخربوه يا يې لنډ کړه نو بيا هم جائز نه دي؛ ځکه چې په دې کې د رسول الله ﷺ د حکم نافرماني ده، په داسې کار کې د خاوند اطاعت جائز نه دی

باب تحريم وصل الشعر والوشم والوشر وهو تحديد الأسنان

ويښتان لګول او خالونه وهل او په غاښونو کې تغير راوستل حرام دي

"قال اللّـهُ تعالى: إِن يَدْعُونَ مِن دُونِهِ إِلاَّ إِنَاثاً وَإِن يَدْعُونَ إِلاَّ شَيْطَاناً مَّرِيداً" الله ﷻ فرمايي: دوی چيغې نه وهي، مګر ښځو ته او دوی بلنې او چيغې نه وهي مګر سر کشه شيطان ته، "لَعَنَهُ اللهُ وَقَالَ لأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيباً مَّفْرُوضاً" الله ﷻ په شيطان لعنت کړی دی او شيطان ويلي دي چې زه به ستا په بندګانو کې خپله حصه مقرره نيسم، "وَلأُضِلَّنَّهُمْ وَلأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الأَنْعَامِ وَلآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّـهِ" زه به دوی ګمراه کوم اميدونه به ورا چوم او دوی ته به زه امر کوم، دوی به د چارپايانو غوږونه پرې کوي او دوی ته به زه امر کوم، نو دوی به د الله ﷻ په مخلوقاتو کې تغير راولي. [النساء: ۱۱۷-۱۱۹].

تشريح: إن يدعون من دونه إلا إناثاً: هغوی به د يو څو ښځو عبادت کولو، بوتانو ته يې ښځې وويل، ځکه چې عربو به بوتانو ته ښځې ويل، د هغوی نومونه به يې مونث ايښودل، لکه مناة، عزی، لات وغيره..... حسن بصري رحمه الله او قتادة رضي الله عنه فرمايي: د (إناثاً) نه مراد هغه شيان دي چې روح نه وي، لکه څرنګه چې مؤنث د مذکر په مقابل کې بې روح وي، دغه شان د ساه لرونکي شيانو په مقابل کې بې روح شيان حقير او سپک وي، نو ځکه يې بې روحه شيان په (إناثاً) لفظ سره تعبير کړل.

ولأضلنهم: د خلکو په زړونو کې به وسوسې اچوم، نفساني خواهشات به يې په سترګو کې مزين کوم او هغوی به پرې ګمراه کوم. علماء ليکي: د ګمراهی نسبت شيطان ته وشو، دا نسبت مجازي دی، ځکه چې اسبابو ته نسبت مجازاً وي، کنه په حقيقت کې هدايت او ګمراهي د الله ﷻ له لورې وي، دا کار د الله ﷻ وي نه د شيطان له لورې.

ولأمنينهم: هغوی ته به په زړه کې اميدونه اچوم، يعنې دا به ورته وايم چې نه قيامت شته، نه دوزخ شته، نه جنت شته او مرګ خو ډېر لرې دی، خپلې مزې کوه! "ولآمرنهم فليبتكن آذان الانعام" هغوی ته به وايم چې د خارويو غوږونه پرې کړئ، د جاهليت په زمانه کې د مشرکانو عادت دا وو چې هغوی به د خارويو غوږونه پرې کړل او د بوتانو په نوم به يې نذر کړل چې دا عين شرک دی، نه به د دغه خاروی چا نيولو، نه به يې شيدې ترې لوشلې او نه به يې خړڅولو. مطلب دا چې شيطان به ورته د حلالو شيانو باره کې د حرمت ترغيب ورکولو.

ولآمرنهم فليغيرن خلق اللّـه: زه به دوی ته امر کوم چې د الله ﷻ جوړ شوي شيانو کې تغير او تبديل کوئ، يعنې داسې کارونه کوئ چې شريعت حرام کړي دي، د هغې به مرتکب کيږي، مثلاً: خال لګول، يا غلام خصي کول، مثله کول، يعنې پوزه سترګې او غوږونه ترې پرې کول او داسې نور.....

مصنوعي وېښتان لګول حرام دي

"وعن أسماء رضى الله عنها: أَنَّ امْرَأَةً سَأَلَتِ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَتْ: يَارسولَ اللهِ إِنَّ ابْنَتِي أَصَابَتْهَا الْحَصْبَةُ، فَتَمَرَّقَ شَعْرُهَا، وَإِنِّي زَوَّجْتُهَا، أَفَأَصِلُ فِيهِ؟" د اسماء رضي الله عنها نه روايت دى هغه فرمايي چې ما يوه ورځ د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! زما لور ده د هغې د سر وېښتان رژيږي، ايا زه د هغې په سر کې وېښتان لګولی شم، حال دا چې د هغې د واده نېټه هم نژدې ده؟ "فقال: لَعَنَ اللّٰــهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمَوْصُولَةَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل د الله ﷻ لعنت دي وي په هغو ښځو چې وېښتان لګوي او کومو ته چې لګولی شي. متفق عليه

وفي رواية: الْوَاصِلَةَ، وَالْمُسْتَوْصِلَةَ: په بل روايت کې دي. کومې ښځې ته چې وېښتان لګيږي، په هغې او کومه يې چې ورته لګوي په دوی دواړو لعنت دی.

قَوْلُهَا: فَتَمَرَّقَ هو بالراء ومعناه: انْتَثَرَ وَسَقَطَ: دا قول چې (فتمرق) دی، ددې مطلب دا دی چې ګنجې شوه، "وَالْوَاصِلَةُ: الَّتِى تَصِلُ شَعْرَهَا، أَوْشَعْرَ غَيْرِهَا بِشَعْرٍ آخَرَ" د (واصلة) نه مراد هغه ښځه ده چې د بل چا وېښتان بلې ښځې ته لګوي، "وَالْمَوْصُولَةُ: الَّتِى يُوصَلُ شَعْرُهَا" او د (موصلة) نه مراد هغه ښځه ده چې وېښتان ورته لګيږي، "وَالْمُسْتَوْصِلَةُ: الَّتِى تَسْأَلُ مَنْ يَفْعَلُ لَهَا ذَلِكَ" او (مستوصلة) نه مراد هغه ښځه ده چې مطالبه ترې کيږي چې را شه ماته وېښتان ولګوه! "وعن عائشة رضى اللّٰــه عنها نحوهُ" متفق عليه د عائشې رضي الله عنها نه هم داسې روايت شوی دی.

تشريح: د حديث مفهوم دا دی چې د ځينو ښځو وېښتان کم وي يا لنډ وي، هغه د بلې ښځې د ول او سنګار لپاره په خپل سر کې وېښتان لګوي، نن سبا په بازارونو کې داسې وېښتان په پيسو ملاويږي، ددې لګول هم حرام دي او څوک چې يې ورته لګوي، نو هغه هم د حرامو مرتکب شو، که د سر وېښتان د بيمارۍ يا د کوم بل سبب له امله ختم شوي وي، نو بيا هم د بلې ښځې وېښتان په سر کې لګول حرام دي، په داسې ښځو باندې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ له لورې لعنت ويل شوی دی، البته که داسې دوايي يا ترکيب ولګوي چې په هغې سره وېښتان نه لوېږي يا يې خپل وېښتان وړاندې شنه شي، نو بيا جائز ده.

د بني اسرائيلو ښځو به مصنوعي وېښتان لګول

"وعن حُمَيدِ بن عبد الرحمان: أَنَّهُ سَمِعَ مُعَاوِيَةَ رضي الله عنه، عَامَ حَجَّ عَلَى الْمِنْبَرِ وَتَنَاوَلَ قُصَّةً مِنْ شَعْرٍ كَانَتْ فِي يَدِ حَرَسِيٍّ فَقَالَ" د حميد بن عبد الرحمان رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي: ما امير معاويه رضي الله عنه د حج په موسم کې وليدو چې هغه د يو غلام نه د وېښتو يوه غونچه په لاس کې راواخيسته او بيا يې وفرمايل: "يَا أَهْلَ الْمَدِينَةِ أَيْنَ عُلَمَاؤُكُمْ؟! سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ، يَنْهَى عَنْ مِثْلِ هٰذِهِ، وَيَقُولُ: إِنَّمَا هَلَكَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ حِينَ اتَّخَذَهَا نِسَاؤُهُمْ" اې د مدينې منورې اوسېدونکو! ستاسو علماء چېرته دي؟ ما خپله د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې ددې نه يې منع فرمايلې ده، (يعنې وېښتان مه لګوئ) بيا يې وفرمايل: ستاسو نه مخکې بني اسرائيل هم په دې وجه هلاک شوي وو چې د هغوی ښځو دا کارونه شروع کړل، (يعنې هغوی به پردي وېښتان په خپلو سرونو کې لګول. متفق عليه

تشريح: ددې حديث څخه ډېرې مسئلې مستنبط شوي دي، مثلاً: کومو خلکو ته چې الله ﷻ د اولس مشري ورکړې ده، هغوی ته پکار ده چې خلك ددې ګناه څخه منع کړي او علماوو ته هم پکار ده چې خلك ددې ګناه څخه وويروي، دويم دا چې د بدی څخه يې منع کړي، که منع نه شي، نو هغوی د الله ﷻ قهر او عذاب ته دعوت ورکوي، دريم دا چې د بني اسرائيلو ښځې هم په دې عمل کې مبتلا وې، نو په هغوی باندې هم د الله ﷻ قهر او عذاب نازل شو.

د راوي حميد بن عبدالرحمن رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې حميد دی، د پلار نوم يې عَبدالرحمن بن عوف الزهري المدني دی، په اکابرو تابعينو کې شمار دی، محدثين يې په ثقات کې شماري، دده باره کې راځي چې دوی زياتره علم د خپلې مور ام کلثوم بنت عقبه رحمها الله او د خپل ماما عثمان رضي الله عنه څخه حاصل کړی دی، وفات يې په ۱۰۵ هجري کې شوی دی، د دوی څخه عموماً زوی يې عبدالرحمن او وراره يې سعد او زهري روايات نقل کړي دي

خال لګول حرام دي

"وعن ابن عمر رضى اللّٰـه عنهما: أنّ رسُولَ اللّٰـه ﷺ لَعَنَ الوَاصِلَةَ والمُستَوصِلَةَ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ لعنت فرمايلی دی په هغه ښځه باندې چې وېښتان لګوي او کومه يې چې ورته لګوي، "والوَاشِمَةَ والمُستَوشِمَةَ" او کومې ښځې ته چې خال لګيږي او کومه ښځه چې ورته خال لګوي. متفق عليه

لغوي تحقيق: المستوصلة: وصل يصل وصلاً وصلة: پيوسته کېدل، جوړ لګول.

تشريح: په دې حديث کې په څلور ډوله ښځو باندې لعنت ويل شوی دی: (۱) الواصلة وېښتان لګونکې ښځه، (۲) المستوصلة: د بلې ښځې وېښتان لګولو لپاره طلب کونکې، علامه نووي رحمه الله فرمايي: ددې حديث څخه معلومېږي چې وېښتان لګول حرام دي، امام شافعي رحمه الله فرمايي: د بل انسان وېښتان لګول بالاتفاق حرام دي او که چېرته د کوم څاروي يا ښاور وېښتان په سر کې ولګول شي، نو ددې ګنجائش به وي، د احنافو مستند کتاب فتاوی عالمګيري کې دي چې د بل چا د سر وېښتان په خپل سر کې لګول حرام او ناجائز کار دی.

دغه شان خال لګول هم حرام دي، (۱) الواشمة: واشمة هغې ښځې ته وايي چې خال لګوي، په خال لګولو کې ماهره وي او (۲) المستوشمة: هغې ښځې ته وايي چې خال لګولی شي، يعنې لګول يې مقصد وي، (وشم) دېته وايي چې په ستنې يا په کوم بل شي سره بدن سوری کړل شي چې د هغې نه وينه روانه شي بيا په دې کې رانجه يا کوم بل رنګ واچول شي، دېته خال وايي، دا د جاهليت د زمانې رسم دی او اوس هم هندوان او ځينې جاهله مسلمانان دا حرام کار کوي، که کوم مسلمان خال ولګولو، نو د علاج په واسطه هغه لرې کول واجب دي، که چېرته د هغې په علاج سره هغه ځای خرابېږي يا د

بدن کومه برخه ورسره له منځه ځي يا کوم لوی عيب په بدن کې ظاهرېږي، نو بيا دي خالص توبه او استغفار ووايي او په خپلو کړو دي پښېمانه شي.

د الله ﷻ په خلقت کې تغير راوستل حرام دي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال: لَعَنَ اللّٰـهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د الله ﷻ لعنت دي وي په هغه ښځه باندې چې خال لګوي او کومه يې چې ورته لګوي، "وَالْمُتَنَمِّصَاتِ" او کومه ښځه چې د وروځو وېښتان وباسي، "وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ" او کوم خلك چې د حسن لپاره غاښونه نري کوي، "الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللّٰهِ" داسې خلك د الله ﷻ په تخليق کې تغير راولي، "فَقَالَتْ لَهُ امْرَأَةٌ فِي ذٰلِكَ فَقَالَ: وَمَالِي لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَهُ رَسُولُ اللّٰـهِ ﷺ وَهُوَ فِي كِتَابِ اللّٰـهِ؟" په دې اورېدو سره يوې ښځې ووېل: داسې خبره تاسو څنګه کوئ؟ عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ورته وفرمايل: زه به ولې په هغه کس باندې لعنت نه وايم په کوم کس باندې چې رسول الله ﷺ لعنت ويلی دی او دا خبره د قرآن نه ثابته ده، "قَالَ اللّٰـهُ تعالى: وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا" الله فرمايي: کوم څه چې تاسو ته رسول الله ﷺ د کولو حکم درکوي، هغه کوئ او اخلئ يې او د کوم شي څخه چې مو منع کوي، د هغه څخه منع شئ! [سورة الحشر: ۷] متفق عليه

الْمُتَفَلِّجَةُ هِيَ: الَّتِي تَبْرُدُ مِنْ أَسْنَانِهَا لِيَتَبَاعَدَ بَعْضُهَا عَنْ بَعْضٍ قَلِيلاً، وَتُحَسِّنُهَا وَهُوَ الْوَشْرُ: دا قول چې (المتفلجة) دی، ددې معنی ده: د حسن/ ښايست لپاره غاښونه تيره او نري کول او دېته (وشر) هم ويل کيږي، "وَالنَّامِصَةُ: الَّتِي تَأْخُذُ مِنْ شَعْرِ حَاجِبِ غَيْرِهَا، وَتُرَقِّقُهُ لِيَصِيرَ حَسَناً" دا قول چې (النامصة) دی، ددې مطلب دا دی چې د خپلو وروځو نه وېښتان ددې لپاره نري کوي چې حسن پکې پيدا شي، "وَالْمُتَنَمِّصَةُ: الَّتِي تَأْمُرُ مَنْ يَفْعَلُ بِهَا ذٰلِكَ" دا قول چې (المتنمصة) دی، ددې مطلب دا دی چې کومې ښځې ته ويلی شي چې راشه زما وروځې نري کړه!

تشريح: حديث کې په ډېرو ښځو باندې لعنت ويل شوی دی، لومړی پکې: (الواشمات والمستوشمة) دي، (واشمة) هغې ښځې ته وايي چې خال لګوي، يعنې د لګولو چل زده وي او هغه ښځه چې خال لګول غواړي، هغه بلې ښځې ته وايي چې راشه ماته خال ولګوه، دا دواړه کارونه حرام دي، ددې وضاحت وړاندې وشو، "المتنمصات" هغه ښځه چې وروځې وغيره وباسي، يو صورت يې دا دی چې د کومې ښځې په مخ د سړي په شان وېښتان وشي، نو ددې ويستل جائز دي، ليکن ددې نه بغير وروځې وغيره ويستل حرام دي.

المتفلجات للحسن: د غاښونو ترمينځ خلاصوالی راوستل او دا د سنګار/ ښايست لپاره کوي، يعنې غاښونه نري/ تيره کوي او ددې ترمينځ چې کومه تنګي ده، هغه لرې کوي او خلاصوالی پکې پيدا کوي، عام طور د وړوکي ماشومانو غاښونه هم دغسې وي، ليکن په عربو کې چې به کومې ښځې د زيات عمر شوې، نو هغوی به په خپلو غاښونو باندې ريتي يا نوره يا بله دوايي استعمال کړه

چې په هغې سره به يې خپل غاښونه سم کړل، مقصد به يې دا ؤ چې خپل عمر پټ کړي، اصلي عمر خلکو ته ښکاره نه شي، نو شريعت دا حرام وګرځولو.

المتغيرات لخلق الله: دا جمله د ټولو سره لګيږي، دا ټولې ښځې چې اوس بيان شوې، الله ﷻ چې کوم شی په کوم رنګ جوړ کړی دی، هغوی يې د خپل خواهش مطابق تغير او تبديل کوي او ترميم پکې راولي، دا کار ناروا دی.

ما آتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا: نبي کريم ﷺ چې څه شی حکم درکوي، هغه کوئ او د کوم شی څخه چې مو منع کوي، د هغې نه منع شئ، مطلب دا چې رسول الله ﷺ کوم شی درکړي يا چې د کوم شي څخه تاسو منع کړي، نو دا حکم يا منع په حقيقت کې د الله ﷻ له لورې وي،، دا د پېغمبر ﷺ د ځان نه حکم يا منع نه وي، علامه طيبي رحمه الله فرمايي: په دې ذکر شويو ښځو باندې د رسول الله ﷺ له لورې لعنت ويل په حقيقت کې د الله ﷻ له طرفه لعنت دی، نو ځکه ددې کارونو څخه منع کېدل فرض دي.

باب النهي عن نتف الشيب من اللحية والرأس وغيرهما، وعن نتف الأمرد شعر لحيته عند أول طلوعه

د ږيرې يا د سر نه سپين ويښتان ويستل

"عن عمرو بن شعيب، عن أبيه، عن جدِّه رضي الله عنه، عن النبيِّ ﷺ قال: لَا تَنْتِفُوا الشَّيْبَ، فَإِنَّهُ نُورُ الْمُسْلِمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" د عمرو بن شعيب رحمه الله نه روايت دی هغه يې د خپل پلار نه هغه يې د نيکه نه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سپين ويښتان مه وباسئ؛ ځکه چې دا به د مؤمن لپاره د قيامت په ورځ نور وي. حديث حسن

رواه أبوداود، والترمذي، والنسائي بأسانيد حسنة، قال الترمذي: هو حديث حسن.

تشريح: لا تنتفوا الشيب فإنه نور المسلم يوم القيامة: سپين ويښتان مه وباسئ؛ ځکه چې دا به د قيامت په ورځ د مسلمان لپاره رڼا وي، په حديث کې راځي چې د ټولو نه اول چې د چا ويښتان سپين شوي دي، هغه ابراهيم عليه السلام دی، کله چې هغوی عليه السلام سپين ويښتان وليدل، نو تعجب يې وکړو او پوښتنه يې وکړه چې اې الله دا څه شی دي؟ الله ﷻ ورته وفرمايل: دا عزت دی، ابراهيم عليه السلام وويل: نو بيا خو اې الله! دا عزت مې نور هم زيات کړې.

علماء ليکي: د قيامت په ورځ به سخته تياره وي، هلته به د يو څو شيانو نه رڼا حاصليږي چې د هغې په وجه به انسان جنت ته ځي، "يسعى نورهم بين أيديهم وبأيمانهم" په هغې کې يو شی سپين ويښتان هم دي چې ددې د رڼا په سبب به انسان جنت ته داخل شي، د حديث څخه معلومه شوه چې سپين ويښتان ويستل مکروه دي.

بدعت حرام دي

"وعن عائشة رضي اللـــه عنها، قالت: قال رسول اللـــه ﷺ: مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ" د عائشې ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې يو داسې عمل وکړو چې په دې باندې زموږ امر نه وي، هغه عمل او کار رد دى. رواه‌مسلم

تشريح: دا حديث وړاندې په (کتاب المامورات باب النهي عن البدع ومحدثات الامور) کې ذکر شوى دى، خلاصه دا چې د کوم کار حکم رسول الله ﷺ نه وي ورکړى او په هغې باندې کوم شرعي دليل نه وي، نو هغه عمل که هر څومره په سترګو ښه ولیدل شي، خو بيا هم حرام او بدعت دى.

باب كراهة الإستنجاء باليمين ومس الفرج باليمين من غير عذر

په ښي لاس استنجاء کول او بې ضرورته په ښي لاس باندې عورت مسح کول مکروه دي

"وعن أبي قتادة ﷺ، عن النبيّ ﷺ، قال: إذا بَالَ أَحَدُكُمْ، فَلاَ يَأْخُذَنَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ" د أبو قتادة ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې يو کس اودس ماتى وکړي، نو هغه دې خپل ذکر په لاس کې نه نيسي، "وَلاَ يَسْتَنْجِ بِيَمِينِهِ، وَلاَ يَتَنَفَّسْ فِي الإِنَاءِ" او نه دې په ښي لاس استنجاء کوي او نه دې په لوښي کې ساه اخلي. متفق‌عليه

وفي الباب أحاديث كثيرة صحيحة

تشريح: ددې حديث څخه يوه قاعده معلومه شوه هغه دا چې د ناخوښه کارونو لپاره بايد چپ لاس استعمال شي او د ښو کارونو لپاره ښى لاس استعمال شي، ددې لپاره چې د ښي لاس احترام او وقار باقي پاتې شي، په دې حديث کې واضح حکم دى چې خپل عورتونه او شرمګاه په ښي لاس مه نيسئ، بلکې په چپ لاس يې نيسئ.

ولا يتنفس فى الإناء: په لوښي کې ساه مه اخلئ، مطلب دا چې کله اوبه څښئ نو ساه چې اخلئ، خپله خوله د لوښي څخه بهر کړئ، په لوښي کې ساه مه اخلئ، د رسول الله ﷺ باره کې نقل دي چې کله به يې اوبه څښلې او ساه به يې اخيستلې، نو لوښى به يې د خولې مبارکې څخه لرې کړو، بيا به يې ساه واخيسته.

باب كراهة المشي في نعل واحدة أو خف واحد لغير عذر وكراهة لبس النعل والخف قائماً لغير عذر

په يوه څپلى يا په يوه موزه کې بې ضرورته ګرځېدل مکروه دي

"عن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قال: لاَ يَمْشِ أَحَدُكُمْ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې دې يو کس هم په يوه څپلى کې مزل نه کوي،

"لِيُنْعِلْهُمَا جَمِيعاً أَوْ لِيَخْلَعْهُمَا جَمِيعاً" يا دې دواړه څپلۍ په پښو کړي او يا دې دواړه وباسي.

وفي رواية: أَوْ لِيُحْفِهِمَا جَمِيعاً: په يو بل روايت کې داسې هم شته چې يا دې دواړه پښې لوڅې کړي

متفق عليه

تشريح: په يوه پښه کې چې څپلۍ وي او په بله کې نه وي، نو داسې عمل مکروه دی، محدثين د حديث مطلب داسې بيانوي چې په يوه پښه کې دې څپلۍ وي او په بله کې نه وي، نو دا کار د عزت او وقار خلاف دی، بل دا چې په مزل کولو کې انسان ته تکليف وي، توازن باقي نه پاتې کيږي او بل دا چې خلك به دربانديې رشخند وهي.

چې د يو بوټ تسمه وشليږي نو څه به کوي؟

"وعنه، قال: سمعت رسولَ الله ﷺ يقول: إِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ نَعْلِ أَحَدِكُمْ، فَلَا يَمْشِ فِي الْأُخْرَى حَتَّى يُصْلِحَهَا" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کله چې په تاسو کې د کوم کس د څپلو تسمې وشليږي، نو بيا دې په بله څپلۍ کې نه ګرځي، تر څو يې چې هغه تسمه نه وي جوړه کړې. رواهُ مسلم

تشريح: د رسول الله ﷺ په زمانه کې د بوټانو تسمې به داسې وې چې د هغې نه بغير به پښه په بوټ کې نه ټينګېدل، بلکې پښه به يې ترې وتل، تسمه چې به وشلېده، نو بيا بوټ په پښو کول او مزل کول ناممکن وو، بلکې هغه به يې ويستلې او بوټ به يې د پښو څخه وويستلو، نو يوه پښه به خوشې پاتې شوه او په بله کې به بوټ وو او موږ ته دا خبره وړاندې په حديث کې ذکر شوه چې په يوه پښه کې بوټ وي او په بله کې نه وي، نو دا کار مکروه دی.

په ولاړه څپلۍ، بوټان په پښو کول منع دي

"وعن جابر ﷺ: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ نَهَى أَنْ يَنْتَعِلَ الرَّجُلُ قَائِماً" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده ددې نه چې سړی په ولاړه څپلۍ واچوي. رواهُ أبو داود بإسناد حسن

تشريح: په حديث کې د بوټانو يا څپليو په پښو کولو اداب بيانيږي، انسان ته پکار ده چې په ناسته بوټان يا څپلۍ په پښو کړي، که يو کس يې په ولاړه په پښو کوي، يعنې هغه ولاړ وي او د ولاړې په حالت کې بوټان يا څپلۍ پښو ته پوره نه کوي نو دا کار مکروه دی، علماوو ددې حديث حکم په کراهت تنزيهي باندې حمل کړی دی، يعنې په ولاړه څپلۍ په پښو کول مکروه تنزيهي دي.

باب النهي عن ترك النار في البيت عند النوم ونحوه سواء كانت في سراج أو غيره

د خوب پر مهال بل اور پرېښودل منع دي

"عن ابن عمر رضي اللّه عنهما، عن النبيّ ﷺ قال: لاَ تَتْرُكُوا النَّارَ فِي بُيُوتِكُمْ حِينَ تَنَامُونَ" د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل بل اور ونه په کورونو کې مه پرېږدئ کله چې تاسو ويده کېږئ! متفق عليه

تشريح: لا تتركوا النار: بل اور مه پرېږدئ! علماء فرمايي د اور څخه هغه اور مراد دی چې د هغې نه د يو شي د سوځېدو خطر وي، که هغه ډيوه/ څراغ وي يا نغری وي او داسې نور ..... خو نن سبا د برق برقونه (يا د شمسي برقونه شول) که اور وربانديې ولګيږي هيڅ قسم خطره پکې نه وي، نو ګ چالان پرېښودل شي پروا نه کوي، شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله فرمايي که چېرته داسې برق، برېښنا/ بجلي وي چې د هغې نه د اور لګېدو خطره نه وي، نو که بل پرېښودل شي پروا نه کوي

اور دښمن دی

"وعن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه، قال: احْتَرَقَ بَيْتٌ بِالْمَدِينَةِ عَلَى أَهْلِهِ مِنَ اللَّيْلِ" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې په مدينه منوره کې د شپې يو کور اور واخيستلو، "فَلَمَّا حُدِّثَ رَسُولُ اللّهِ ﷺ بِشَأْنِهِمْ، قَالَ: إِنَّ هَذِهِ النَّارَ عَدُوٌّ لَكُمْ، فَإِذَا نِمْتُمْ، فَأَطْفِئُوهَا" ددې واقعې اظهار نبي کريم ﷺ ته وشو، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې دا اور ونه ستاسو دښمنان دي، کله چې تاسو ويده کېږئ نو اور ونه مړه کړئ! متفق عليه

تشريح: په دې حديث کې د شپې له خوا د اور مړ کېدو حکم دی، ځکه چې ډېر خله داسې کيږي چې د انسان فکر نه وي، او ترې بل پاتې شي چې پوره ټول خاندان او کور ته پکې نقصان پېښيږي، نو ښه دا ده چې د خوب نه وړاندې بايد چې اور مړ کړل شي.

هذه النار عدو لكم: دا اور ستاسو دښمن دی، مطلب دا چې لکه څرنګه دښمن د انسان د ځان او مال لپاره خطر وي، دغه اور هم د انسان د ځان او مال باعث د خطر دی، نو ځکه دا مړ کول پکار دي

د خوب نه وړاندې لوښي پټول پکار دي

"وعن جابر رضي الله عنه، عن رسولِ اللّهِ ﷺ قال: غَطُّوا الإِنَاءَ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل لوښي پټ کړئ! "وَأَوْكُوا السِّقَاءَ" او د مشکيزو خولې بندې کړئ! "وَأَغْلِقُوا الأَبْوَابَ" او دروازې بندوئ! "وَأَطْفِئُوا السِّرَاجَ" او ډيوې مړې کړئ! "فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لاَ يَحُلُّ سِقَاءً، وَلاَ يَفْتَحُ بَاباً، وَلاَ يَكْشِفُ إِنَاءً" ځکه چې شيطان نه مشکيزه خلاصولی شي او نه هم بنده دروازه خلاصولی شي او د لوښي نه سر پورته کولی شي، "فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلاَّ أَنْ يَعْرُضَ عَلَى إِنَائِهِ عُوداً، وَيَذْكُرَ اسْمَ اللّهِ، فَلْيَفْعَلْ" که چېرته ستاسو سره د لوښي

سر پټولو لپاره څه نه وي، نو بيا دي يو پلن لرګی وړاندې کېږدي او د الله ﷻ نوم دې واخلي، نو دا هم صحيح دی، "فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ تُضْرِمُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ بَيْتَهُمْ" او دا ځکه چې موږکان د خلکو په کورونو باندې اور لګوي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

الْفُوَيْسِقَةُ: الْفَأْرَةُ: فويسقة: موږك ته وايي.

وَتُضْرِمُ: تُحْرِقُ: د (تضرم) معنی ده: سوځول.

تشريح: علامه نووي رحمه الله فرمايي: که د حديث په مضمون باندې غور وکړل شي، نو په يو يو هدايت به په اسانی سره عمل وشي، ځکه چې په دې کې ډېرې زياتې فايدې دي، بيا په ځانګړې توګه دې کې دا تعليم دی چې په هر وخت او هر حرکت او هر سکون کې بايد د الله ﷻ نوم واخيستل شي، يعنې بسم الله ويل پکار دي، ډېر زيات آسان عمل دی چې په دې سره انسان د ډېرو زياتو مصيبتونو څخه په حفاظت کې پاتې کيږي، علماء فرمايي: په دې حديث کې چې کوم احکام ورکړل شوي دي، هغه ټول د استحباب په طور دي، د وجوب لپاره نه دي، ددې احکاماتو مقصد خالص هغو امورو ته هدايت کول دي کوم چې زموږ د شپې او د ورځې په ژوند کې د خير او مصلحت متقاضي دی.

باب النهي عن التكلف وهو فعل وقول ما لا مصلحة فيه بمشقة

د تکلف نه منع، تکلف دې ته وايي چې په يو کار او يا قول کې مصلحت نه وي

"قال الله تعالى: قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ" الله ﷻ فرمايي چې: اې پېغمبره ﷺ! دوی ته ووايه چې زه په دې تبليغ باندې ستاسو نه مزدوري هم نه اخلم او نه تکلف کونکی يم. [ص: ۸۶].

تشريح: مفسرينو د آيت مطلب داسې بيان کړی دی چې ورته ووايه اې پېغمبره ﷺ! زه په خپل نبوت، رسالت، علم او حکمت کې د تصنع اظهار نه کوم، بلکې د الله ﷻ احکامات صحيح صحيح طور سره رسوم، د تکلف مذمت په ګڼ شمېر احاديثو کې راغلی دی، مثلاً: په يو روايت کې دي چې اې خلکو! په تاسو کې چې چاته څه مسئله معلومه وي هغه دې خلکو ته بيان کړي او چاته چې د مسئلې علم نه وي، هغه دې الله أعلم يا (لا أدري) ووايي، ځکه چې الله ﷻ د خپل پېغمبر ﷺ باره کې فرمايي: "قل ما أسئلكم عليه من أجر وما أنا من المتكلفين" زه په دې تبليغ باندې پيسې نه اخلم او نه زه تکلف کونکی يم.

دغه شان علامه بغوي رحمه الله فرمايي: يو ځل مسروق رحمه الله وويل: زه د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په خدمت کې ناست وم، هغوی وويل چاته چې د کومې مسئلې علم وي نو بايد چې بيان يې کړي او که علم ورته نه وي، نو بايد چې الله اعلم ووايي، يعنې الله ﷻ ښه پوهيږي، ځکه چې الله أعلم ويل هم د علم يوه برخه ده، الله ﷻ خپل نبي ﷺ ته فرمايلي دي چې: "قل ما أسئلكم عليه من أجر وما أنا من المتكلفين".

رسول الله ﷺ د تکلف څخه منع فرمايلې ده

"وعن عمر رضي الله عنه قال: نُهِينَا عَنِ التَّكَلُّفِ" د عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ موږ د تکلف نه منع کړي يو. رواه البخاري

لغوي تحقيق: التكلف: سخت کار زغمل، سختي برداشت کول.

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې انسان ته پکار دي چې د هر نوع تکلف څخه ځان وساتي، برابره خبره ده چې هغه تکلف په خبرو کې وي يا په جامو کې وي يا په مزل او قدم اخيستلو وغيره کې وي، خلاصه دا چې تکلف ښه کار نه دی، يو ناخوښ عمل دی، دغه شان علماء ليکي چې په خوراک کې، په څښاک کې، په واده کې، په مېلمستيا وغيره کې د خپل ضرورت څخه زيات خرچ کول هم په تکلف کې داخل دي.

د کومې مسئلې علم چې درسره نه وي، لا أعلم ووايه!

"وعن مسروق، قال: دَخَلْنَا عَلَى عَبدِ اللّٰهِ بنِ مَسعُودٍ رضي الله عنه فقال: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، مَنْ عَلِمَ شَيْئاً فَلْيَقُلْ بِهِ، وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلْ: اللّٰـهُ أَعْلَمُ" د مسروق رحمه الله نه روايت دی هغه فرمايي چې زه يوه ورځ د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په خدمت کې حاضر شوم، هغه وفرمايل: اې خلکو! کوم کس چې په تاسو کې په کومه خبره پوه شي نو هغه دي بيان کړي او په کومه خبره چې نه پوهيږي، نو داسې دي ووايي: الله ﷻ ډېر ښه پوهيږي، "فَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ أَنْ يَقُولَ لِمَا لَا يَعْلَمُ: اللّٰـهُ أَعْلَمُ" ځکه چې دا هم علم دی چې يو سړی په يوه مسئله باندې نه پوهيږي او دی ووايي چې الله ﷻ ډېر ښه پوهيږي، زه نه پوهېږم، "قَالَ اللّٰـهُ تعالى لِنَبِيِّهِ ﷺ: قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ" الله ﷻ خپل پېغمبر ﷺ ته فرمايلي دي چې ورته ووايه اې پېغمبره ﷺ! زه په دې تبليغ کولو باندې ستاسو نه مزدوري نه غواړم او نه زه تکلف کوونکی يم. رواه البخاري

تشريح: د لاعلمی اعتراف هم علم دی، ددې حديث باره کې علماء فرمايي چې انسان ته د کومې مسئلې علم نه وي، هلته خالص د ګومان مطابق خبرې کول پکار نه دي، د خپلې لاعلمی اعتراف پکار دی، ځکه چې (لا اعلم) هم يوه علمي خبره ده، عبد الله بن يزيد بن هرمز د امام مالك رحمه الله څخه نقل کوي چې هغه به فرمايل: ماته دا خبره خوښه ده چې د خپل ځان څخه وروسته (لا ادري) کلمه پرېږدم، ددې لپاره چې خلك ورپسې ګمراه نه شي، د مجاهد رحمه الله نه د ميراث يوې مسئلې پوښتنه وشوه، هغه ورته ووېل: ماته ددې مسئلې علم نشته، هغه ته ووېل شو چې تاسو اصلاً جواب نه ورکوئ؟ هغه ووېل: عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ته به چې د کومې مسئلې علم نه وو، نو صفا به يې ووېل: ماته په دې مسئله باندې علم نشته، ابن وهب رحمه الله فرمايي: که موږ د امام مالك رحمه الله د ژبې څخه راوتلي (لا ادري) ليکل شروع کړو، نو پوره يو دفتر به وليکو.

عبد الرزاق راوي دی چې امام مالك رحمه الله د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دا قول نقل کړی دی چې عالم کله (لا ادري) ويل هېر کړي، نو هغه ډغرې خوري، ابو درداء رضي الله عنه فرمايي: لا ادري ويل نيم علم دی، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: هر هغه کس چې په هره مسئله کې فتوی ورکوي، نو داسې کس ليونی دی.

د راوي مسروق رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې مسروق رحمه الله دی، کنيت يې ابو عايشه دی، د پلار نوم يې د جاهليت په زمانه کې اجدع او اسلامي نوم يې عبدالرحمن دی، د يمن اوسېدونکی وو، دومره معلومات شته چې د ابوبکر رضي الله عنه په زمانه کې مسلمان شوی وو، خپله وايي چې ما په ابوبکر صديق رضي الله عنه پسې لمونځ کړی دی، د عمر رضي الله عنه په زمانه کې چې کله مدينې منورې ته راغلو، نو عمر رضي الله عنه د هغه نه د نوم پوښتنه وکړه، دوی رحمه الله ورته ووېل: مسروق بن اجدع دی، عمر رضي الله عنه ووېل: نه، بلکې ستا نوم مسروق بن عبدالرحمن دی.

علامه شعبي رحمه الله فرمايي: د مسروق رحمه الله په څېر د حديثو د علم شوقين طالب علم ما بل څوک نه دی ليدلی، عايشې رضي الله عنها به د زوی په څېر ورته کتل، د عايشې رضي الله عنها څخه يې هم زيات برخه د علم حاصل کړې ده، حافظ ذهبي رحمه الله فرمايي: مسروق رحمه الله فقيه دی، علامه نووي رحمه الله فرمايي: د دوی په جلالت شان، توثيق، فضيلت او امامت باندې د ټولو محدثينو اتفاق دی، د الله ﷻ نه ډېر زيات وېرېدلو او ډېر زيات عابد او زاهد انسان وو، د دنيا څخه يې سخت نفرت درلود، د الله ﷻ په ذات باندې يې کلك اعتماد او توکل درلود، په ۶۳ هجري کې ددې فاني دنيا څخه وفات شو.

باب تحريم النياحة على الميت ولطم الخد وشق الجيب ونتف الشعر وحلقه والدعاء بالويل والثبور

په مړي ماتم کول حرام دي، دغه شان مخ وهل، ګرېوان شلول، وېښتان ويستل او د جاهليت زمانې خبرې کول حرام دي

مړي ته په نوحه باندې عذاب ملاوېږي

"عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: قال النبي ﷺ: الْمَيِّتُ يُعَذَّبُ فِي قَبْرِهِ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ" د عمر بن خطاب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د ماتم په ذريعه مړي ته په قبر کې سزا ملاوېږي.

وفي رواية: مَا نِيحَ عَلَيْهِ: او په يو روايت کې (ما نِيح) راغلی دی. متفق عليه

تشريح: د حديث مفهوم دا دی چې مړي ته د کور والا په ژړا سره سزا ملاوېږي، ليکن دلته يوه پوښتنه ده او ځلور يې جوابونه دي، سوال دا دی چې کله په قرآن مجيد کې راغلي چې: "ولا تزر وازرة وزر أخرى" د يو کس ګناه د بل په سر نه وراچول کېږي، په ظاهر کې د آيت او حديث تعارض دی؟

جواب: محدثينو ددې ګڼ شمېر جوابونه ليکلي دي، مثلاً: لومړی جواب امام بخاري رحمه الله ورکړی دی چې دا حديث (د سزا حکم) د هغه کس په باره کې دی چې کله دی مړ کېږي او خپلې کورنۍ

ته وصیت ونه کړي چې په ما به نوحه/ ژړاګانې نه کوئ، ځکه چې په قرآن شریف کې دي چې: "يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا" اې مؤمنانو! خپل ځانونه او خپله کورنۍ د جهنم د اور څخه وساتئ، د دغه شان په یو حدیث کې دي چې: "أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" په تاسو کې هر کس شپونکی دې او د هر کس نه به د هغه د ماتحت خلکو باره کې پوښتنه کیږي، نو دا کوتاهي دده له طرفه شوې ده، (د نه منع کولو له وجې هغه ته سزا ورکولی شي) نو په دې وجه هغه ته سزا ورکولی شي.

دويم جواب: علامه نووي رحمه الله فرمايي: په حديث کې د عذاب وعده د هغه کس متعلق ده چې مړ کيږي او د مرګ په حالت کې خپلې کورنۍ ته وصيت وکړي: زه چې کله مړ شم، نو په ما باندې ښه شور او نوحه جوړه کړئ.

دريم جواب: علامه شوکاني رحمه الله د اسماعيلي رحمه الله او ابن حزم رحمه الله څخه ددې مطلب داسې نقل کړی دی چې مړي ته د ژړا کونکو په وجه سزا نه ملاويږي، بلکې د مرګ په حالت کې چې کوم خلک غلط الفاظ د خولې نه وباسي، ددې غلطو الفاظو په سبب دغه مړي ته سزا ورکولی شي.

څلورم جواب: عايشه رضي الله عنها فرمايي: ددې حديث تعلق د يهودي سړي او يهودی ښځې سره دی چې دوی ته به د ژړا په وجه نه، بلکې په کفر کې د مرګ راتللو په وجه به سزا ورکولی شي، دا حديث عام نه دی، په مسلمان باندې د ژړا په صورت کې به مړي ته سزا نه ورکول کيږي، ځکه چې هغه خو د اسلام په حالت کې مړ دی.

ګريوان شلول يا مخ وهل حرام دي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُودَ، وَشَقَّ الْجُيُوبَ، وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ":

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه کس زموږ سره تعلق نه ساتي چې په مړي باندې ژړا کوي، خپل مخونه وهي او ګريوانونه شلوي او د جاهليت د زمانې چيغې او سورې وهي. متفق عليه

لغوي تحقيق: الخدود: الخدود جمع د خد ده، خد مخ ته وايي.

تشريح: ليس منا من ضرب الخدود: هغه کس زموږ څخه نه دی چې خپل مخ وهي، ددې څه مطلب دی چې (زموږ څخه نه دی) دې باره کې محدثين داسې فرمايي: د پر هغه کارونه چې د جاهليت په زمانه کې کېدل يا شريعت ورته په ښه نظر نه دې کتلي، نو د داسې کارونو څخه شريعت په (ليس منا) سره تعبير کړی دی، ددې دا مطلب نه دی چې ددې مرتکب به د اسلام د دايرې څخه وځي، بلکې دا يې د زجر او مبالغې په توګه ويلی دی، لکه يو پلار چې خپل بچي ته ووايي: ته زما زوی نه يې او نه زه ستا پلار يم.

يا ددې جملې مطلب دا دی چې هغه په کامل دين کې نه دی. يا دا چې داسې حرام کارونه حلال ومني، نو په داسې حال کې به د (ليس منا) معنی دا شي چې هغه له سره مسلمان نه دی، ځکه چې حرامو ته حلال ويل کفر دي.

ودعابدعوى الجاهلية: او د جاهليت د زمانې ويرونه شروع كړي، مطلب دا چې څوك مړ كيږي، په هغه د جاهليت د زمانې خبرې او ويرونه شروع كړي، داسې خبرې كول لويه گناه ده، په دې كې د الله ﷻ په فيصله او تقدير باندې رضايت ختميږي.

ژړا كول او گريوان شكول حرام دي

"وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ، قَالَ: وَجِعَ أَبُو مُوسَى، فَغُشِيَ عَلَيْهِ، وَرَأْسُهُ فِي حِجْرِ امْرَأَةٍ مِنْ أَهْلِهِ، فَأَقْبَلَتْ تَصِيحُ بِرَنَّةٍ فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهَا شَيْئًا" د أبو بردة رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې په ابوموسى رضي الله عنه باندې درد راغلو، هغه ترې بې هوښه شو، د هغه سر بې د كورنۍ د يوې ميرمنې په غېږ كې وو، هغې ښځې په چيغو چيغو ژړا شروع كړه، د ابوموسى اشعري رضي الله عنه وس نه وو چې هغه منع كړي، "فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ: أَنَا بَرِيءٌ مِمَّنْ بَرِئَ مِنْهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ" كله چې په هوش راغلو، نو هغه وفرمايل: زه بري يم د هغه نه چې رسول الله ﷺ ترې بري او بېزاره وو، "بَرِيءٌ مِنَ الصَّالِقَةِ، وَالْحَالِقَةِ، وَالشَّاقَّةِ" رسول الله ﷺ په چيغو چيغو ژړا كونكې، سر خرونكې او گريوان شلونكې نه بېزاره وو. متفق عليه

الصَّالِقَةُ: اَلَّتِي تَرْفَعُ صَوْتَهَا بِالنِّيَاحَةِ وَالنَّدْبِ: الصالقة هغې ښځې ته وايي چې خپل اواز په ژړا كې په تېزى سره وباسي، "وَالْحَالِقَةُ: اَلَّتِي تَحْلِقُ رَأْسَهَا عِنْدَ الْمُصِيبَةِ" او (حالقة) هغې ښځې ته وايي چې د مصيبت په وخت كې خپل سر خريي، "وَالشَّاقَّةُ: اَلَّتِي تَشُقُّ ثَوْبَهَا" او (الشاقة) هغې ښځې ته وايي چې خپل گريوان او جامې شلوي.

تشريح: في حجرامرأة: د هغه سر د هغه د ښځې په غېږ كې وو، د هغه د ښځې نوم ام عبد الله صفيه بنت ورم وو، د حديث څخه معلومه شوه چې داسې الفاظ ويل د جاهليت د زمانې د ښځو كارونه وو، نو څكه شريعت د دې قسم الفاظو څخه منع وفرمايل، داسې الفاظ ويونكې ته د رسول الله ﷺ له لورې د برائت اعلان دى، د برائت الفاظ د سختې غوسې او سخت حرمت ته اشاره كوي، بلكه دا چې په داسې كس كې كامل ايمان نه وي او نه د الله ﷻ په تقدير باندې راضي وي، بل د دې حديث څخه د صحابه كرامو رضي الله عنهم د اتباع سنت جذبه هم معلومه شوه چې په دوى كې د رسول الله ﷺ د سنتو څومره زياته تابعداري موجوده وه.

وير كول حرام دي

"وعن المغيرة بن شعبة رضي الله عنه قال: سمعتُ رسُولَ اللهِ ﷺ يقولُ: مَنْ نِيحَ عَلَيْهِ، فَإِنَّهُ يُعَذَّبُ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" د مغيرة بن شعبة رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: كوم كس چې په مړي باندې په چيغو چيغو سره او د ماتم په توگه ژړا كوي، هغه ته به د قيامت په ورځ عذاب ور كول كيږي. متفق عليه

لغوي تحقيق: نيح: د ماضي مجهول صيغه ده، ناح ينوح نوحاً باب نصر ينصر دى، د دې معنى ده: وير كول.

تشريح: د حديث څخه معلومه شوه چې وير كول او د مړي ښه خصلتونه په چيغو چيغو سره بيانول، بل دا چې په چيغو چيغو ژړا كول، مخ وهل، گريوان شلول او په سر باندې خاورې اچول دا ټول هغه كارونه دي چې د جاهليت په زمانه كې به كېدل او دا ټول شريعت حرام كړي دي، ليكن پرته له چيغو خالص ژړل او د سترگو څخه اوښكې روانېدل حرام نه دي او په شريعت كې منع هم نه دي، دا يو فطري شى دى، دا نامكن هم دي، ځكه چې د يو انسان دي خپلوان مړه كيږي، د هغه له سترگو څخه دې اوښكې هم روانې نه شي، داسې كول په شريعت كې منع نه دي، بلكې وير كول منع دي، مخ وهل منع دي او گريوان شلول منع دي.

د رسول الله ﷺ د ښځو څخه بيعت اخيستل

"وعن أُمِّ عَطِيَّةَ نُسَيْبَةَ -بِضَمِّ النون وفتحها- رضي الله عنها، قالت: أَخَذَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ عِنْدَ البَيْعَةِ أَنْ لَا نَنُوحَ" د ام عطية نسيبة رضي الله عنها نه روايت دى هغه فرمايي چې د بيعت په وخت كې رسول الله ﷺ زموږ نه د دې خبرې وعده اخيستې وه چې موږ به په مړي باندې ماتم نه كوو. متفق عليه

تشريح: أخذ علينا رسول الله ﷺ عند البيعة أن لا ننوح: د بيعت پرمهال رسول الله ﷺ زموږ څخه وعده واخيسته چې موږ به نوحه (ويرونه) نه كوو، د حديث څخه معلومه شوه چې نوحه كول د شريعت په نظر كې څومره لويه گناه ده چې پېغمبر ﷺ ورباندې بيعت هم اخلي چې دا كار به نه كوئ، بل دا چې د ښځو څخه يې بيعت واخيستو، وجه يې دا ده چې اكثر وخت نوحه كول د ښځو كار دى، ډېر كم سړي دا كار كوي، كه نو كه سړو هم دا كار شروع كړو، نو بيا به هم دا كار حرام وي.

بې ځايه د مړي تعريف كول حرام دي

"وعن النعمان بن بشير رضي الله عنهما، قال: أُغْمِيَ عَلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ رَوَاحَةَ ﷺ، فَجَعَلَتْ أُخْتُهُ تَبْكِي، وَتَقُولُ: وَاجَبَلَاهُ، وَاكَذَا، وَاكَذَا: تُعَدِّدُ عَلَيْهِ" د نعمان بن بشير ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې كله عبد الله بن رواحه ﷺ بې هوشه شو، نو د هغه خور ورباندې ژړا شروع كړه او د هغه تعريفونه يې شروع كړل چې ته خو داسې وې او داسې وې، "فَقَالَ حِينَ أَفَاقَ: مَا قُلْتِ شَيْئاً إِلَّا قِيلَ لِي أَنْتَ كَذَلِكَ؟" كله چې عبد الله ﷺ په هوش كې راغلو، نو وې ويل: تا چې څه ويل د هغې متعلق به زمانه پوښتنه كېدل چې واقعي ايا ته داسې تكړه يې؟ رواه البخاري

تشريح: أخته: د هغوى د خور نوم عمرة بنت رواحه وو، دا د نعمان بن بشير ﷺ مور ده، علماء فرمايي: كله چې د مړي داسې تعريف كيږي چې په هغه كې نه وي، نو پرښتې هغه ته سزا وركوي، د هغه نه پوښتنه كوي چې په تا كې دا تعريف شته چې دوى يې بيانوي. البته كه په هغه كې دا صفات موجود وي، نو بيا منع نه دي

په مړي ژړل او غم كول روا دي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: اشْتَكَى سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ ﷺ شَكْوَى، فَأَتَاهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَعُودُهُ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمَانِ بْنِ

عوف، وسَعْدِ بن أبي وقاص، وعبد الله بن مسعود ﷺ . فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ، وَجَدَهُ فِي غَشْيَةٍ فَقَالَ: أَقَضَى؟" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې سعد بن عبادة ﷺ ته د بيمارى شكايت وشو، د رسول الله ﷺ سره عبدالرحمن بن عوف، سعد بن أبي وقاص او عبد الله بن مسعود ﷺ د هغه پوښتنې ته ورغلل، كله چې دوى ورداخل شول، نو هغه بې هوشه پروت وو، نبي كريم ﷺ وفرمايل: ايا وفات شوى دى؟ "قالوا: لا يا رسول الله، فَبَكَى رسولُ اللهِ ﷺ، فَلَمَّا رَأَى القَوْمُ بُكَاءَ النَّبِيِّ ﷺ بَكَوْا" هغوى ورته وويل: نه يا رسول الله ﷺ! وفات شوى نه دى، نو رسول الله ﷺ په ژړا شو. كله چې نورو صحابه وو وليد چې رسول الله ﷺ وژړل، نو هغوى هم په ژړا شول. "قال: أَلَا تَسْمَعُونَ؟ إِنَّ اللهَ لَا يُعَذِّبُ بِدَمْعِ العَيْنِ، وَلَا بِحُزْنِ القَلْبِ، وَلَكِنْ يُعَذِّبُ بِهَذَا -وَأَشَارَ إِلَى لِسَانِهِ- أَوْ يَرْحَمُ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: گورئ! الله ﷻ د سترگو نه اوښكې تيولو سره او يا د زړه په غم سره سړي ته سزا نه وركوي، بلكې په دې سره سزا وركوي او يا هم په دې سره ورباندې رحم كوي او نبي كريم ﷺ خپلې ژبې مباركې ته اشاره وكړه. متفق عليه

تشريح: بكى: رسول الله ﷺ په ژړا شو، ددې نه معلومه شوه چې د غم او پرېشانى پرمهال بې اختياره د سترگو څخه اوښكې روانيدل او ژړل گناه نه ده، البته په داسې وخت كې كه څينې خبرې د خولې څخه وباسي چې شريعت منع كړي وي، نو بيا هم ناجائز او گناه ده.

يعود: رسول الله ﷺ د هغه پوښتنې لپاره تشريف يوړو، د ناروغ پوښتنې ته تلل د رسول الله ﷺ سنت دي، د يو مسلمان په بل مسلمان باندې پنځه حقونه دي: په هغې كې يو دا هم دى چې كله بيمار شي، نو پوښتنه به يې كوي، د رسول الله ﷺ د خلكو پوښتنې ته تلل دا په كمال تواضع باندې دليل دى.

ألا تسمعون: ايا تاسو نه اورئ! ددې نه معلومه شوه چې د خبرو څخه وړاندې بايد خلك خانله متوجه كړل شي، ددې لپاره چې هغوى پوره په توجه سره خبره واوري، "إن اللـه لايعذب" الله ﷻ عذاب نه وركوي، معلومه شوه چې د محل او موقع په مناسبت سره د احكامو تلقين پكار دى، څكه چې هم دغه خايونه وي چې خبره په زړه كې ښه راسخه كيږي او عمل ته انسان متوجه كيږي، "أويرحم" يا رحم وكړي، كه صحيح كلمه وويل شي، مثلاً د مرگ نه وروسته داسې وويل شي چې: "لاحول ولا قوة الا بالله يا: إنا لله وإنا إليه راجعون" دغه شان جملې ويل مراد دي.

نوحه كونكو ښځو ته به د قيامت په ورځ د تاركولو (قير) كميس واچول شي

"وعن أبي مالك الأشعري ﷺ قال: قال رسول اللـه ﷺ: النَّائِحَةُ إِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ مَوْتِهَا" د أبو مالك اشعري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: هغه ښځه چې ماتمونه كوي، كله چې مره شي، په داسې حال كې چې توبه يې نه وي ويستلې، "تُقَامُ يَوْمَ القِيَامَةِ وَعَلَيْهَا سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ، وَدِرْعٌ مِنْ جَرَبٍ" نو د قيامت په ورځ به هغې ته د قطران (تانبې) كړيس او د اوسپنې څادر واغوستل شي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: درغ: (درغ) باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: د تور سپين او سره بدن والا.

تشريح: په دې حديث کې په هغو کسانو باندې سخت وعيد راغلی دی چې وير کوي، که هغه د مرګ څخه وړاندې توبه ونه وباسي او د الله ﷻ نه يې معافي ونه غوښتل، نو داسې کس ته به د قيامت په ورځ د تارکولو/ قير کميس واچول شي او خارښتي مخصوص زغره به ورته واچول شي.

د نبي کريم ﷺ د ښځو څخه وعده اخيستل

"وعن أسيد بن أبي أسيد التابعي، عن امرأة من المبايعات، قالت: كان فيما أخذ علينا رسول الله ﷺ في المعروف الذي أخذ علينا أن لا نعصيه فيه" د اسيد بن ابي اسيد تابعي رحمه الله نه روايت دی هغه د يوې ښځې نه روايت کوي چې په بيعت کې شامله وه، فرمايي چې زموږ نه رسول الله ﷺ په بيعت کې د کومو نيکو کارونو وعده اخيستې وه او د بدو کارونو نه يې منع کړې وو، د هغو بدو کارونو څخه دا هم دي چې: "أن لا نخمش وجها، ولا ندعو ويلا، ولا نشق جيبا، وأن لا ننشر شعرا" موږ به خپل مخونه شو کول، نه به د جاهليت د زمانې کنځل/ښيرا/ بد دعاوې کوو، نه به ګريوانونه شلوو او نه به وېښتان خريو. رواه أبو داود بإسناد حسن

لغوي تحقيق: نشق: شلول، څيرې کول.

تشريح: په دې حديث کې د هغو کارونو څخه منع راغلې ده کوم چې په مړي باندې کولی شي، هغه دا چې ځينې ښځې مخ شکوي، د هلاکت ښيرې کوي، ګريوان شلوي او وېښتان بير کړي، دا ټول کارونه په شريعت کې منع دي، ځکه چې دا ټول کارونه د جاهليت د زمانې دي، اسلام د جاهليت د زمانې کارونو ختمولو لپاره راغلی دی، نو مسلمانانو ښځو ته پکار دي چې د جاهليت د زمانې د رواجونو څخه په کلکه نفرت وکړي.

د راوي اسيد بن ابو اسيد رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې اسيد رحمه الله دی، د پلار نوم يې يزيد او کنيت يې ابو اسيد دی، په جليل القدر تابعينو کې شمار دی، د مدينې منورې اوسېدونکی وو، د عبد الله بن ابي قتاده رضي الله عنه څخه يې د علم استفاده کړې ده، بيا د دوی څخه ابن جريج رحمه الله او سليمان بن هلال رحمه الله علم حاصل کړو، د منصور عباسي په خلافت کې وفات شو.

مړي ته سزا ورکول

"وعن أبي موسى رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ قال: ما من ميت يموت فيقوم باكيهم فيقول: واجبلاه، واسيداه، أو نحو ذلك" د ابو موسی اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نشته داسې يو مړی چې په هغه باندې ژړاګانې او ماتمونه کيږي او د هغه تعريفونه بيانولی شي، لکه اې د غره په شان استقامت لرونکيه! اې مشره! او داسې نور..... "إلا وكل به ملكان يلهزانه: أهكذا كنت؟" مګر دا چې دوه پرښتې د هغه سره ولاړې وي، هغه په سوکانو وهي او ورته وايي: ته داسې وې؟ ته

داسې دې؟ رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

اللهز: الدفع بجمع اليد في الصدر، اللهز سو كونوته ويل كيږي.

تشريح: مامن ميت يموت الخ: كله چې هم يو كس مړ كيږي، علماء فرمايي: په دې كې دوه احتماله دي، يا خو د مړي نه عين مړى مراد دى او يا هغه څوك مراد دى چې مرگ ته نژدې وي، بل د دې حديث څخه دا هم معلومه شوه چې كله د مړي بې ځايه تعريف كيږي، نو پرښتې مړي ته وايي چې ته داسې وې، لكه څرنگه چې دوى وايي؟ كه هغه ووايي: نه نو پرښتې هغه مړى ووهي، بل دا هم ترې معلومه شوه چې كه په مړي كې هغه صفات وي كوم صفات چې خلك بيانوي، نو بيا سزا نه وركوي

كفر ته رسونكي خبرې

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: اثنتان في الناس هما بهم كفر: الطعن في النسب، والنياحة على الميت" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه قسمه خلك د كفر په عمل مرتكب كيږي، يو په نسب كې طعنه كونكي، يعنې د نسب په اعتبار سره څوك سپك گڼل، دويم په مړي باندې ماتم او نوحه كونكي. رواه مسلم

تشريح: دا حديث وړاندې په (كتاب الامور والمنهي عنها، باب تحريم الطعن في الانساب الخ كې ذكر شوى دى، خلاصه دا چې د خلكو په نسب كې عيب لگول او په مړو ويرونه كول دواړه د جاهليت د زمانې كارونه دي او څوك چې دا كارونه كوي، نو لكه د جاهليت د زمانې كارونه چې يو خل بيا تازه كوي، نو ځكه شريعت دا كارونه حرام گرځولي دي.

باب النهي عن إتيان الكهان والمنجمين والعراف وأصحاب الرمل والطوارق بالحصى وبالشعير ونحو ذلك

د كاهنانو او نجوميانو نه ځان ساتل فرض دي

"عن عائشة رضي الله عنها، قالت: سأل رسول الله ﷺ أناس عن الكهان، فقال: ليسوا بشيء فقالوا: يا رسول الله إنهم يحدثونا أحياناً بشيء فيكون حقاً" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دى هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه كله د كاهنانو متعلق پوښتنه وشوه، نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا هيڅ شى نه دي او نه حقيقت لري، صحابه وو ترې پوښتنه وكړه چې يارسول الله ﷺ دوى موږ ته ځينې وخت څه خبره وكړي، نو هغه كله صحيح راوځي؟ "فقال رسول الله ﷺ: تلك الكلمة من الحق يخطفها الجني فيقرها في أذن وليه، فيخلطون معها مائة كذبة" نبي كريم ﷺ وفرمايل: هغه صحيح خبره يو پيرى د يوې پرښتې نه په غلا سره وتښتوي او خپل دوست (كاهن) ته يې په غوږ كې وكړي كومه چې هغه كاهن د سل دروغو خبرو سره گډوډه كړي او بيا يې بيان كړي. متفق عليه

"وفي رواية للبخاري عن عائشة رضي الله عنها: أنها سمعت رسول الله ﷺ يقول: إن الملائكة تنزل في العنان - وهو

"السَّحَابَ" او د بخاري شريف په يو روايت کې دي چې عائشې ﷺ وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: پرښتې چې کله کومه فيصله واخلي او په فضاء (ورېځو) کې راروانې وي، "فَتَذْكُرُ الْأَمْرَ قُضِيَ فِي السَّمَاءِ" نو دغه پرښتې په دې معامله باندې په خپل مينځ کې څه بحث او خبرې شروع کړي، "فَيَسْتَرِقُ الشَّيْطَانُ السَّمْعَ، فَيَسْمَعُهُ" شيطان ورته غوږ نيسي، نو هغه خبره واوري، "فَيُوحِيَهُ إِلَى الْكُهَّانِ، فَيَكْذِبُونَ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ" نو دغه خبره شيطان کاهن ته راوړي، دغه کاهن بيا د خپل ځان له طرفه سل خبرې نورې دروغ ورسره ملاو کړي

قَوْلُهُ: فَيَقُرُّهَا هو بفتح الياء وضم القاف والراء، أي: يُلْقِيهَا: دا قول چې (فيقرها) ددې معنى ده: واچوي.

"والعَنَانِ بفتح العين" لفظ د (العنان) په فتحې د عين سره دى.

تشريح: علامه طيبي رحمه الله فرمايي: کاهن هر هغه کس ته وايي چې د علم غيب دعوه لري، د رسول الله ﷺ د بعثت څخه وړاندې په عربو کې ددې جهل ډېر زيات رواج وو، دوى به د نجوميانو او کاهنانو په خبرو ډېر زيات اعتماد درلود، د رسول الله ﷺ د بعثت څخه وړاندې شيطانان به په غلا او پټه پورته اسمان ته ختل او په دنيا کې راتلونکي چې کوم واقعات به وو، پرښتو به په خپل مينځ کې د هغو واقعاتو تذکره کول، نو دوى به ورته غوږ نيولو، خبرې به يې ترې واورېدې او کاهن ته به يې راوړې، بيا به دوى ورسره له خانه سل خبرې نورې اضافي کړې، ليکن کله چې د رسول الله ﷺ بعثت وشو، نو شيطانان اوس پورته اسمان ته نه شي ختلى، که کوم شيطان اوس ددې کوشش کوي، نو په هغه پسې شهاب ثاقب شي، د اور په لمبه هغه وويشتل شي، لکه څرنګه چې په قران کريم کې ارشاد دى "إلا من استرق السمع فأتبعه شهاب ثاقب"

فيخلطون فيها أكثر من مائة كذبة: نو هغوى پکې له خانه سل نورې خبرې اضافه کړې، کومې خبرې چې شيطانانو د پرښتو څخه اورېدلي وي، هغه صحيح وي، ليکن کومې چې يې له ځانه پکې سل نورې خبرې اضافه کړي وي نو په هغې باندې د دروغو خبرو غلبه وشوه او اوس خو شيطانان اسمان ته ختلى هم نه شي، نو ځکه شريعت د کاهنانو په خبرو د يقين کولو څخه په سختى سره منع فرمايلې ده.

د کاهن په خبرو يقين ساتلو سره څلوېښت ورځې لمونځ نه قبليږي

"وعن صَفِيَّةَ بنتِ أبي عُبيدٍ، عن بعضِ أزواجِ النبيِّ ﷺ ورَضِيَ اللهُ عنها، عن النبيِّ ﷺ، قال: مَنْ أَتَى عَرَّافاً فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ فَصَدَّقَهُ" د صفيه بنت أبي عبيد رضي الله عنها نه روايت دى، هغه يې د نبي کريم ﷺ د يوې مېرمنې څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې عراف (د ورک شوي شي خبر ورکونکي) ته ورشي او هغه يې تصديق وکړي چې هو، داسې ده، "لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ يَوْماً" نو د داسې سړي تر څلوېښتو ورځو پورې لمونځونه نه قبليږي. رواه مسلم

تشريح: أتى عرافاً: څوك چې عراف ته ورشي، عراف دا هم د كهانت يوه برخه ده، ددې زده كول او
مل ته ښودل دواړه د شريعت په نظر كې حرام دي.

لم تقبل له صلوة: د هغه لمونځ نه قبليږي، په دې جمله كې يو قسم اخطار دی چې لمونځ يو د هر
هم عبادت دی، په اسلام كې تر ټولو زيات فضيلت لري، په پرېښودلو يې سخت وعيد بيان شوی
دی، عراف (نجومي) ته چې څوك ورشي د هغه لمونځ نه قبليږي، هر كله چې لمونځ نه قبليږي، نو نور
عبادات به يې څنګه قبول شي؟

علماء فرمايي: د لمونځ نه قبلېدو مطلب دا دی چې د هغه ثواب ورته نه ملاويږي، اګر چې
فرضي ذمه يې فارغه شي، "أربعين ليلة" په څلوېښتو شپو كې ورځې هم داخلې دي، دا مطلب نه دی چې
د شپې لمونځ يې نه قبليږي، خو د ورځې قبليږي، بلكې د شپې او ورځې ټول لمونځونه يې نه قبليږي.

د نه قبلېدو بله وجه يې دا هم ده چې د ټولو مسلمانانو عقيده ده چې د غيب علم خاص يو الله
ﷻ ته حاصل دی، څوك چې كاهن يا نجومي ته ورشي، نو د هغه عقيده خرابه شي، څكه چې هغه دا
ګومان كوي چې دا كاهن يا نجومي د غيب په علم باندې خبر دی، حال دا چې د غيب علم د يو الله ﷻ
نه سېوا د بل چا سره نشته، نو دا يو نوع شرك دی او د مشرك سړي لمونځ نه قبليږي.

د راويه صفيه بنت ابن مسعود رضي الله عنها حالات:

اصلي نوم يې صفيه رضي الله عنها ده، د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه لور ده، د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما مېرمن
ده، ثقه راويه ده، علماوو په اكابرو تابعينو كې شمار كړې ده، ددې څخه امام بخاري رحمه الله په (كتاب
الادب) كې، امام مسلم رحمه الله، امام ابوداود رحمه الله او ابن ماجه رحمه الله په شان محدثينو په خپلو
كتابونو كې ترې روايات نقل كړي دي.

د جاهليت د زماني غلطي عقيدې

"وَعَنْ قَبِيصَةَ بنِ المُخَارِقِ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يقولُ: العِيَافَةُ، وَالطِّيَرَةُ، وَالطَّرْقُ، مِنَ الجِبْتِ" د
قبيصه بن مخارق رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل
يې: د مارغانو الوځولو سره فال نيول، يا د شړو سره عمل كول، يا بدفالي نيول دا ټول د شرك كارونه
دي، "رواه أبوداود بإسناد حسن. وقال: الطَّرْقُ هُوَ الزَّجْرُ: أي زَجْرُ الطَّيْرِ وَهُوَ أن يَتَيَمَّنَ أو يَتَشَاءمَ بِطَيَرَانِهِ" الطرق: الزجر ته وايي،
يعني مارغه الوځول، د هغه په ښي طرف الوتل، نېک فال نيول او په چپ طرف بد فال نيول، "فإن طَارَ
إلى جِهَةِ اليَمِينِ، تَيَمَّنَ، وإنْ طَارَ إلى جِهَةِ اليَسَارِ، تَشَاءمَ" دوی چې به كله په سفر وتل، نو يو مارغه به يې راونيولو،
هغه به يې والوځولو، كه هغه مارغه به په ښي طرف روان شو، نو دوی به ويل: زه اوس دې سفر بختور
دی، نېک فال به يې ونيولو او كه په چپ طرف به والوتلو، نو ويل به يې: چې په سفر مه ځه كار خراب
دی، بد فال به يې ونيولو، "قال أبوداود: والعِيَافَةُ: الخَطُّ" امام ابوداود رحمه الله فرمايي: العيافة: خطونو او
كرښو ته وايي.

قَالَ الْجَوْهَرِيُّ فِي الصِّحَاحِ: الْجِبْتُ كَلِمَةٌ تَقَعُ عَلَى الصَّنَمِ وَالْكَاهِنِ وَالسَّاحِرِ وَنَحْوِ ذٰلِكَ: امام جوهري رحمه الله فرمايي: لفظ د جبت بت ته هم ويل كيږي، كاهن او جادوګر ته هم ويل كيږي او په دېرو داسې نورو باندې هم اطلاق كيږي.

لغوي تحقيق: تشاءم: تشاءم واستشام: بد فالي نيول.

تشريح: په حديث كې د جاهليت د زمانې د ډېرو هغو كارونو ذكر شوى دى چې مسلمانان منع شوي دي چې په شريعت كې حرام دي او انسان د شرك په دروازه كې دروي.

(۱) العيافة: ددې ګڼ شمېر تعريفونه شوي دي، مثلاً: كاهن په خمكه ډېرې كرښې كش كړي، بيا هغه دوه دوه كرښې ختموي، كه په آخر كې دوه كرښې پاتې شي، نو د كاميابى اميد ساتي او كه يوه كرښه پاتې شي، نو د ناكامى علامه يې بولي، يا دا چې عيافه د مارغانو نومونه او اوازونه دي چې د هغوى په الوتلو سره فال نيسي.

(۲) الطرق: ددې يو تفسير مصنف علامه نووي رحمه الله خپله كړى دى، ځينې نور علماء فرمايي چې طرق كاڼي / شګو ويشتلو ته وايي، د جاهليت په زمانه كې به ځينو ښځو د فال نيولو په وخت كې كاڼي غورځول، دا كار هم حرام دى.

الجبت: ددې لفظ هم ډېر تفسيرونه بيان شوي دي، مثلاً: ددې يو تفسير دا دى: هر هغه شى چې په هغه كې خير نه وي يا هر هغه شى چې د الله ﷻ نه سېوا د هغه عبادت وكړل شي او ځينو علماوو هر شيطاني كار ته جبت ويلى دى.

د راوي قبيصه بن مخارق رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې قبيصه رضي الله عنه دى، د پلار نوم يې مخارق بن عبد الله بن شداد دى، د عامري قبيلې سره يې تعلق درلود، د رسول الله ﷺ په خدمت كې د يو وفد سره راغلو او په اسلام باندې مشرف شو، د ژوند په آخري پړاو كې په بصره كې اوسېدلو، هم هلته بيا وفات شو، د دوى څخه ټول شپږ روايات نقل شوي دي.

نجوم علم د جادو يوه برخه ده

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: مَنِ اقْتَبَسَ عِلْمًا مِنَ النُّجُومِ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چې د علم نجوم څخه څه زده كړي، "اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ زَادَ مَا زَادَ" نو هغه د جادو يوه حصه زده كړه، دى چې څومره په دې علم نجوم كې مخكې ځي او ترقي كوي، دومره به په سحر او جادوګرى كې ځي، "رواه أبوداود بإسناد صحيح".

لغوي تحقيق: السحر: دا لفظ مصدر دى، معنى يې ده: هر هغه شى چې د هغه ماخذ لطيف او دقيق وي، باطل د حق په صورت كې ظاهروي، جادو ته ويل كيږي.

تشريح: د نجوم علم د جادو برخه ده، وجه يې دا ده چې په علم نجوم کې هم د غيب خبرو متعلق پيش گويي کولی شي، نو لکه څرنگه چې د جادو علم حرام دی، دغه شان علم نجوم هم حرام دی. علامه علان رحمه الله د امام خطابي رحمه الله څخه نقل کړي دي چې د علم نجوم ممانعت په حديث کې راغلی دی، هغه دا دی چې اهل نجوم په دنيا کې د راتلونکو واقعو باره کې دعوه لري چې داسې داسې به کيږي، ليکن دا محض دعوه ده چې د حقيقت سره هيڅ تړاو نه لري، ځکه چې دا د غيبو علم دی او د غيبو علم د الله ﷻ نه سيوا بل چا سره نشته او څوک چې پرې يقين ساتي، داسې کس شرک نه نزدې کيږي.

شعبة من السحر: په حديث کې د علم نجوم تشبيه د جادو سره ورکړل شوې ده، مطلب دا چې لکه څرنگه جادو زده کول حرام دي، دغه شان علم نجوم زده کول هم حرام دي، ځکه چې په دې دواړو کې د شريعت څخه مخالف کارونه اختيارولی شي او د علم غيب دعوه پکې شامله ده، حال دا چې د غيب علم د الله ﷻ نه سيوا د بل چا سره نشته.

د رمل علم زده کول هم حرام دي

"وعن مُعاويَةَ بنِ الحَكَمِ رضي الله عنه قال: قلتُ: يارسولَ اللهِ إني حديثُ عَهْدٍ بالجاهليةِ، وقد جاءَ اللهُ تعالى بالإسلامِ، وإنَّ مِنَّا رِجالاً يأتونَ الكُهّانَ؟" د معاويه بن حکم رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې ما يوه ورځ رسول الله ﷺ ته وويل: يا رسول الله ﷺ! زما د جاهليت زمانه نزدې ده، يعنې اوس نوی تازه مسلمان شوی يم او الله ﷻ دين اسلام موږ ته راکړو، په موږ کې ځينې داسې کسان شته چې هغوی کاهنانو ته ورځي؟ "قال: فلا تأتِهِم. قلتُ: ومِنّا رِجالٌ يتطيّرونَ؟ قال: ذلكَ شيءٌ يَجِدونَهُ في صُدورِهِم، فلا يَصُدَّنَّهُم" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دوی ته مه ورځئ! ما وويل: يا رسول الله ﷺ! په موږ کې ځينې کسان بد فالي نيسي، نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دې سلسله کې چې ستاسو په زړه کې هر قسم وسوسه راشي نو د هغې په وجه د خپل کار څخه مه منع کيږئ "قلتُ: ومِنّا رِجالٌ يَخُطّونَ؟ قال: كانَ نبيٌّ مِنَ الأنبياءِ يَخُطُّ، فمَن وافَقَ خَطَّهُ فذاكَ" بيا مې پوښتنه وکړه چې په موږ کې ځينې کسان خط راکاږي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا د کرښو کار به مخکې يو پيغمبر عليه السلام کولو او که چېرته د چا خط د هغه د کرښو سره موافق شي، نو هغه به صحيح وي. رواه مسلم

تشريح: دا حديث وړاندې په (كتاب الادب باب الوعظ والاقتصاد فيه) کې ذکر شوی دی، خلاصه دا چې يو پيغمبر عليه السلام وو چې هغه ته د رمل علم ورکړل شوی وو، ليکن اوس ختم شوی دی، دغه علم باقي پاتې نه دی.

هغه کوم پيغمبر وو؟

ځينې دانيال عليه السلام نبي، ځينې ادريس عليه السلام نبي، "يخط فمن وافق خطه فذاك" بس د چا کرښې چې د هغه نبي د کرښو سره مطابق شوې، نو هغه به صحيح وو، محدثينو ددې جملې مطلب داسې بيان کړی دی چې د کرښو ويستلو علم ته د رمل علم هم ويل کيږي، ددې علم الله ﷻ خپل يو نبي

عليه‌السلام ته ورکړې وو کوم چې د هغه اصول او ضوابط پېژندل چې د هغې په ذريعه به يې خپنې خبرې خلکو ته ښودلې، ليکن کله چې هغه نبي وفات شو، نو اوس هغه علم هم ددې دنيا څخه ختم شو، اوس دې څوک ددې علم زده کولو دعوه نه لري، ددې علم زده کولو دعوه لرل هم حرام دي

د سپي او بدکارې ښځې مزدوري حرامه ده

وعن أبي مسعودٍ البدريِّ رضي الله عنه: أنَّ رسُولَ اللَّـهِ ﷺ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الكَلْبِ، وَمَهْرِ البَغِيِّ، وَحُلْوَانِ الكَاهِنِ: د ابو مسعود بدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده د سپي د پيسو، د زنا له ګټې او د کاهن د حلوا نه. متفق عَلَيْهِ

تشريح: نهى عن ثمن الكلب: د سپي د قيمت څخه يې منع فرمايلې ده، د حديث ظاهري الفاظو ته خپنې علماوو کتلي دي، دوی وايي چې د هر قسم سپي قيمت حرام دی، هغه که ښکاري وي او که نه. ليکن امام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله او خپنو نورو امامانو دا حديث په دې پاندې محمول کړی دی چې ددې څخه غير ښکاري (ناپوه) سپی مراد دی، که چا په سپي باندې محنت او خواري وکړه او سپی ښکاري شو، اوس ښکار کولی شي، نو هغه محنت او خواري چې په ښکاري جوړولو باندې لګيدلې ده هغه اخيستی شي. يا دا چې ددې حديث تعلق د هغه وخت سره دی کله چې رسول الله ﷺ د سپو د وژلو حکم کړی وو، وروسته دا حکم منسوخ شو.

ومهرالبغي: او د بد کارې ښځې د بدکارۍ مزدوري حرامه ده، مطلب دا چې زناکارې ښځې ته چې کومه مزدوري په زنا کې ملاويږي، هغه د ټولو علماوو په اتفاق سره حرامه ده.

وحلوان الكاهن: د کاهن حلوه، دا هم منع ده، کاهن ته به په اجرت کې کله نا کله حلوه ورکولی شوه، دغو کاهنانو ته تلل، هغوی ته مزدوري ورکول يا حلوا ورکول د هغوی په خبرو يقين ساتل ټول په شريعت کې حرام دي

باب النهي عن التَّطَيُّرِ

بد فالي منع ده

"فيه الأحاديث السابقة في الباب قبله" دې باره کې مخکې حديثونه تېر شوي دي، "وعن أنس رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ اللَّـهِ ﷺ: لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، وَيُعْجِبُنِي الفَأْلُ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو نه بل ته بيماري لګېدل او بد فالي نيول بې حقيقته خبرې دي او نېک فال زما خوښ دی، "قَالُوا: وَمَا الفَأْلُ؟ قَالَ: كَلِمَةٌ طَيِّبَةٌ" صحابه وو وفرمايل: يارسول الله ﷺ فال څه شی دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: ښکلې خبره. متفق عَلَيْهِ

لغوي تحقيق: طيرة: جمع د طائر ده، کله کله يې په مفرد هم اطلاق کيږي، تطير بد فال ته ويلی شي

تشریح: لاعدوی: بیماري د یو نه بل ته نه لګیږي، ددې جملې ګڼ شمېر معناګانې دي، ښکلی مطلب یې دا دی چې د یو کس نه بل ته بیماري نه لګیږي، یا دلته د نفي په معنی سره ده، یعنې تاسو کومه بیماري متعدي مه ګڼئ چې فلانکی کس د فلانکي سړي د بیماری په وجه بیمار شو، بلکې څرنګه چې لومړی کس الله ﷻ بیمار کړی دی، دغه شان دویم کس هم الله ﷻ بیمار کړو.

الکلمة الصالحة: ښکلی او ښه فال نیول صحیح دي، بدفال نیول حرام دي، د ښه فال یا ښې کلمې مثال، لکه: یو کس یوه جمله ووایي او په هغې سره ته نېک فال ونیسې او د خپل منزل مقصود د پیدا کېدو کلك امید دې د خدای څخه پیدا شي، مثلاً: یو کس خپل سامان ګوري، هغه چاته اواز وکړو چې (یا واجد) اې موندونکیه! یا دغه شان کوم کس نه لاره ورکه شي او د لارې په لټون کې وي چې هغه د کوم کس اواز واورېدو وغیره

که سپېره والی وای نو په درې شیانو کې به وو

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لاَعَدْوَى وَلاَطِيَرَةَ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د یو نه بل ته بیماري لګېدل نشته او نه بد فالي شته، "وَإِنْ كَانَ الشُّؤْمُ فِي شَيْءٍ فَفِي الدَّارِ، وَالْمَرْأَةِ، وَالفَرَسِ" او که بدفالي (نحوست) سپېره توب په څه شي کې وي، نو هغه به په کور، ښځه او اس کې وي، (ددې شکل داسې کېدی شي چې کور ډېر تنګ وي، ګاونډیان خراب وي او ښځه دا چې شنډه وي، یا بد اخلاقه وي او په اس کې دا چې اس په شا څوك نه پرېږدي متفق عَلَيْه

تشریح: لاعدوی: د خدای ﷻ له حکم پرته یوه بیماري هم بل ته نه لګیږي، ددې بحث وړاندې ذکر شو، "ولاطیرة" بد فالي او نحوست په هیڅ شي کې نشته او که چېرته په کوم شي کې وي، نو هغه به اس، کور او په ښځه کې وي، ددې جملې مطلب محدثین داسې بیانوي چې بد فالي او سپېره والی بالکل نشته او بالفرض که چېرته وای، نو هغه به په اس، په کور او په ښځه کې وای او کله چې په دې درې شیانو کې نشته، نو بیا بالکل په هیڅ شي کې نشته. دا تشریح قاضي عیاض هم خوښه کړې ده.

ځیني علماء لیکي: دلته د نحوست څخه شرعي نحوست مراد نه دی، ځکه چې په هیڅ شي کې نحوست نشته، بلکې دلته د نحوست څخه طبعي نحوست مراد دی چې دا شیان هغه ته ناخوښ وي، ځیني نور علماء فرمايي: په ظاهره په دې شیانو کې نحوست لیدل کیږي، لیکن په حقیقت کې پکې نشته

د کور نحوست: په کور کې نحوست دا دی چې کور تنګ وي، ګاونډیان یې شر خوښني وي، د هغه ځای اوبه او هوا مناسبه نه وي

په اس کې نحوست: د اس نحوست دا دی چې هغه مالك ته نه دربیږي، بلکې تو پونه وهي، ډېر خوراك کوي، لیکن مزل کم کوي، قیمت یې ډېر زیات وي، لیکن په کار کې سستي کوي.

په ښځه کې نحوست: په ښځه کې نحوست دا دی چې هغه بد زبانه وي، بې حياء وي، بد کرداره وي، د خاوند نافرماني کوي، شکل بې خراب وي، نو په دې ټولو خرابيو په وجه دې نه نحوست وويل شو، کنه نو په شريعت کې نحوست منل مطلقاً حرام دي.

په اسلام کې بدفالي نشته

"وعن بُرَيْدَةَ ﷺ: أَنَّ النبيَّ ﷺ كَانَ لايَتَطَيَّرُ" د بريدة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ به کله هم بد فالي نه کول. رواه أبوداود بإسناد صحيح

لغوي تحقيق: تطير: د (طير) څخه ماخوذ دی، ددې معنی ده: بې سر او بې بنياده خبره کول، يا د اصل څخه بغير په کوم شي باندې عقيده ساتل، دېته بد فال هم وايي.

تشريح: مطلب دا چې رسول الله ﷺ به د بدفالي نه نيول، بلکې ښه فال به يې نيولو، مونږ ته پکار دي چې د رسول الله ﷺ اتباع وکړو او د بدفال څخه ځانونه وساتو او د هر شي متعلق بايد ښه گومان وکړل شي.

چې سختي دربا ندې راشي، نو دادعاء کوه

"وعن عُروة بن عامر ﷺ قال: ذُكِرَتِ الطِّيَرَةُ عِنْدَ رَسولِ اللهِ ﷺ، فقالَ: أَحْسَنُهَا الفَأْلُ. وَلاَ تَرُدُّ مُسْلِماً" د عروة بن عامر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ په وړاندې د بدفالي ذکر وشو، رسول الله ﷺ وفرمايل: ددې دا اړخ خوښ دی چې ددې نه کومه ښه معنی واخيستل شي، ليکن د يو مسلمان لپاره ددې په وجه يو کار پرېښودل پکار نه دي، "فإذا رأى أحَدُكُمْ مَا يَكْرَهُ، فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ لاَ يَأْتِي بِالحَسَنَاتِ إلاَّ أنْتَ، وَلاَ يَدْفَعُ السَّيِّئَاتِ إلاَّ أنْتَ، وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إلاَّ بِكَ" که چېرته په تاسو کې څوک په زړه کې د چانه څه ووينې يا څه خبره واوري، خراب اړخ يې ذهن ته راشي، نو دغه وخت دا کلمات ويل پکار دي: **ترجمه:** اې الله ﷻ! د خير رسوونکی هم ته يې او بدي لرې کوونکی هم ته يې او د نيکی حاصلولو او بدی دفع کولو قوت او طاقت هم ته ورکوې. حديث صحيح رواه أبوداود بإسناد صحيح

لغوي تحقيق: الفال: نېک شگون او نېک فال. لکه يو بيمار سړی د چا د خولې نه داسې جمله واوري چې: يا سالم! نو ددې څخه داسې فال ونيسي چې که خير وي، ماته به الله ﷻ صحت او شفاء راکوي.

تشريح: الطيرة: د طيرة اطلاق په نېک او بد فال دواړو باندې کيږي، مسلمان ته پکار دي چې نېک گومان او نېک فال ونيسي، بد فال بايد ونه نيسي، مسلمان خو مؤثر حقيقي الله ﷻ مني چې هر څه کيږي هغه ټول د الله ﷻ د مشيت او ارادې لاندې کيږي.

فإذا رأى أحدكم ما يكره فليقل: کله چې تاسو کومه ناخوښه خبره واورئ، نو بايد چې داسې دعاء ووايئ، علماء ليکي: د کوم شي نه چې عام خلك بدفالي نيسي يا يې په زړه کې غلط خيال او وسوسه

پیدا کیږي، نو په دې وخت کې دا دعاء ویل پکار ده: "اللهم لا یأتي بالحسنات إلا أنت، ولا یدفع السیئات إلا أنت، ولا حول ولا قوة إلا بك" ددې دعاء په برکت د الله ﷻ مرسته راځي، د بد خیال او بدفال نه به انسان خلاصی ومومي

د راوي عروة بن عامر رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې عروة بن عامر رضي الله عنه دی، د مکې اوسېدونکی وو، دده په صحابیت کې اختلاف دی، ابن حبان رحمه الله په ثقه تابعینو کې شمار کړی دی، دده مرویات د بخاري او مسلم نه علاوه ټولو اصحاب السنن نقل کړي دي.

باب تحريم تصوير الحيوان في بساط أو حجر أو ثوب أو درهم أو مخدة أو دينار أو وسادة وغير ذلك وتحريم اتخاذ الصور في حائط وسقف وستر وعمامة وثوب ونحوها والأمر بإتلاف الصورة

د ژوندي شي تصوير جوړول: که په بستره وي، په بالښت وي او که په ټوټه وي حرام دي او ددې د ورانولو حکم شوی دی

"عن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قال: إِنَّ الَّذِينَ يَصْنَعُونَ هٰذِهِ الصُّوَرَ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه کسان چې تصویرونه جوړوي، دوی ته به د قیامت په ورځ عذاب ورکول کیږي، "يُقَالُ لَهُمْ: أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ" دوی ته به وویل شي چې اوس په دې تصویرونو کې روح واچوئ! متفق علیه

تشريح: إن الذين يصنعون هذه الصور يعذبون يوم القيامة: هغه خلك چې تصویرونه جوړوي، هغوی ته به د قیامت په ورځ عذاب ورکوي، علماء فرمایي: کوم کس چې تصویر په دې نیت جوړوي چې د الله ﷻ سره مشابهت اختیار کړي، نو داسې کس کافر دی او څوك چې ددې نیت څخه بغیر تصویر جوړوي، نو داسې کس فاسق دی، د تصویر څخه د ساه لرونکي شي تصویر مراد دی او په کوم شي کې چې ساه نه وي، مثلاً: ونه، بوټی، عمارت، دریابونه وغیره ...، نو ددې تصویر جوړول ګناه نه ده.

يقال لهم: أحيوا ما خلقتم: هغه ته به وویل شي چې کوم تصویر دې جوړ کړی دی، اوس په هغې کې روح واچوه، دا خبره ظاهره ده چې په هغې کې به روح وانه شي اچولی، نو ځکه هغه ته به عذاب ورکولی شي، که ایمان لري نو د ایمان په برکت به کله نا کله د جهنم څخه خلاصون ومومي، لیکن په حدیث کې هغو خلکو ته سخت وعید دی چې تصویرونه جوړوي.

په پرده هم تصوير جوړول حرام دی

"وعن عائشة رضی اللّه عنها، قالت: قدم رسول اللّه ﷺ من سفر، وقد سترت سهوة لي بقرام فيه تماثيل فلما رآه رسول اللّه ﷺ تلون وجهه" د عائشې ﷞ نه روایت دی هغه فرمايي چې یوه ورځ رسول الله ﷺ د سفر نه تشریف راوړو او ما د دروازې په درشل کې یوه توټه زوړنده کړې وه، په کومه باندې چې تصویران لګېدلي وو، رسول الله ﷺ چې کله تصویران ولیدل، نو رنګ مبارك یې بدل شو، (سخت ناراضه شو) "وقال: يا عائشة، أشد الناس عذابا عند اللّه يوم القيامة الذين يضاهون بخلق اللّه!" او وې فرمايل اې عائشې ﷞! د قیامت په ورځ به د الله په نزد ډېر سخت عذاب هغو خلکو ته وي چې د الله ﷻ د خالقيت نقل غواړي، "قالت: فقطعناه فجعلنا منه وسادة أو وسادتين" عائشه ﷞ فرمايي: ما هغه توټه وشلول او د هغې نه مې یوه یا دوې تکیه ګانې جوړې کړې. متفق عليه

القرام بكسر القاف هو: الستر. القرام پردې ته ویل کیږي، "والسهوة بفتح السين المهملة وهي: الصفة تكون بين يدي البيت" (السهوة) د صحن مخې ته دېوال چې په هغې کې دروازه وي، "وقيل: هي الطاق النافذ في الحائط" او چا ویلي دي چې ددې نه مراد روشندان دی.

لغوي تحقيق: الوسادة: وسادة بالبنت او تکيې ته وايي

تشريح: دا حديث وړاندې په (كتاب المامورات باب الغضب إذا انتهكت حرمات الشرع) کې ذکر شوی دی، د حديث خلاصه دا ده چې تصوير که په کور کې وي یا په نورو ځایونو کې وي لوېه ګناه ده، که په جامو یا توټه وغیره باندې لګېدلي وي، نو هغه به وشلول شي او داسې شی باید تري جوړ شي چې قابل احترام نه وي او خلك يې د پښو لاندې کوي، لکه څرنګه چې عایشې ﷞ هغه توټه وشلول او د هغې څخه یې تکیه جوړه کړه.

یوه پوښتنه او درې جوابونه:

سوال: که په جامه باندې تصوير وي، نو بیا تکیه جوړول څرنګه جائز شو؟

جواب: علماء فرمايي: په هغه پرده باندې تصویران نه وو، رسول الله ﷺ ځکه هغه وشلول چې د ضرورت څخه بغیر په کور کې زوړنده وه کوم چې د عیش او عشرت نخښه ګڼل کېده او د شتمنو خلکو په کورونو کې دومره زیاتي پردې د اسراف په توګه لګېدلي وې

جواب: که بالفرض تصوير پکې وای، نو د توټې شلولو سره هغه تصوير هم ختم شو، (ځکه چې توټه توټه شو) بیا هغه تصوير نه معلومېدل، نو ځکه د هغې نه یې تکیه جوړه کړه

جواب: رسول الله ﷺ هغه وشلول، د شلولو څخه وروسته یې تصويران هم ختم کړل

تصوير جوړونکي جهنمي دي

"وعن ابن عباس رضی اللّه عنهما، قال: سمعت رسول اللّه ﷺ يقول: كل مصور في النار يجعل له بكل صورة صورها

نَفْسٌ فَيُعَذِّبُهُ فِي جَهَنَّمَ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې فرمايل يې: هر تصوير جوړونکی به جهنم ته ځي او د هغه يو يو جوړ شوي تصوير په مقابله کې يو يو سړی وي چې ده ته به عذاب ورکوي، "قال ابن عباس: فَإِنْ كُنْتَ لَابُدَّ فَاعِلًا، فَاصْنَعِ الشَّجَرَ وَمَا لَا رُوحَ فِيهِ" عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: که چېرته نه منع کيږې، خامخا تصويرونه جوړوې، نو بيا د ونې يا د هغه شي تصوير جوړ کړه چې ساه او روح پکې نه وي. متفق عليه

تشريح: د حديث څخه معلومه شوه چې په دنيا کې تصوير جوړونکی کس چې هر څومره زيات تصويرونه جوړ کړي، هغومره به په آخرت کې په سخت او زيات عذاب کې مبتلا وي، علماء ليکي: په دې خبره اتفاق دی چې که تصوير په لاس جوړ شي او که د کيمرې وي، ټول حرام دي. جوړونکی او چاته چې د شرعي څخه بغير جوړيږي، دواړه به جهنميان وي

فَإِنْ كُنْتَ لَابُدَّ فَاعِلًا: که خامخا ته تصوير جوړول غواړې، نو بيا د داسې شيانو تصوير جوړ کړه چې روح پکې نه وي، لکه عمارت، ونه، بوټي، غرونه او سمندرونه وغيره... ځينې خلک وايي چې په عام طور سره د تصوير جوړونکي اطلاق په هغه کس باندې کيږي چې د ساه لرونکي شيانو تصويرونه جوړوي او که د بې روح شيانو تصوير جوړوي، لکه سمندر او غرونه وغيره...، نو دې ته نقاش وايي

د قيامت په ورځ تصوير جوړونکي ته عذاب

"وعنه، قال: سمعتُ رسولَ الله ﷺ يقول: مَنْ صَوَّرَ صُورَةً فِي الدُّنْيَا، كُلِّفَ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې فرمايل يې: کوم کس چې په دنيا کې تصوير جوړ کړي، هغه به په دې خبره مکلف کړی شي چې اوس په دې تصوير کې روح واچوه او حال دا چې په دې تصوير کې به روح نه شي اچولی. متفق عليه

تشريح: علماء فرمايي: څوک چې تصوير جوړوي، که هغه يې ځانته جائز بولي، نو دا کس به کافر وي او بيا به د همېش لپاره په جهنم کې وي، که حرام يې مني، نو بيا به هم جهنم ته ځي، ليکن د ايمان په برکت به د جهنم څخه خلاصی مومي او جنت ته به ځي

ان ينفخ فيها الروح: هغه دې پکې روح واچوي، مطلب دا چې تصوير جوړونکی انسان د الله ﷻ نقل کوي، د قيامت په ورځ به ورته وويل شي چې تا کوم مشابهت اختيار کړی وو، اوس هغه مکمل کړه، يعنې په دې کې روح واچوه او حال دا چې روح به په هغه تصوير کې نه شي اچولی، ځکه چې روح اچول د الله ﷻ کار دی، نو ده ته به عذاب ورکول شي، که د ايمان خاوند وي، نو يوه نه يوه ورځ به د جهنم څخه خلاصی ومومي

د قيامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب چاته وي؟

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال: سمعتُ رسولَ الله ﷺ يقول: إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې فرمايل يې: د قيامت

په ورځ به سخت عذاب هغه كس ته وي چې تصويرونه جوړوي. متفق عليه

تشريح: إن أشد الناس عذاباً يوم القيامة المصورون: تر ټولو سخت عذاب به تصوير جوړونكي ته وي، ځينو علماوو دلته د (مصورون) څخه هغه كسان مراد كړي دي چې بوتان جوړوي، دا به يې ځكه جوړول چې خلك د دې بوتانو عبادت وكړي، جوړونكى په دې عمل سره كافر ګرځي، ځينو علماوو د (مصورون) څخه مطلقاً معنى اخيستې ده، برابره خبره ده چې بوتان جوړوي او كه د ساه والا شيانو تصويران جوړوي.

خلاصه دا چې په حديث كې د انځور يا ويډيو/ فلم جوړولو سخت وعيد دى، وجه يې دا ده، چې داسې خلك د الله ﷻ سره په صفت د خالقيت كې مشابهت اختياروي، د حديث په وعيد كې غير ذي روح شيان داخل نه دي، ځكه چې د غير ذي روح شيانو تصوير جوړولو اجازه خپله په احاديثو كې موجوده ده.

تصوير جوړونكي تر ټولو زيات ظالمان دي

"وعن أبي هريرة ﷺ قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: قال الله تعالى: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ يَخْلُقُ كَخَلْقِي؟" د ابو هريره ﷺ روايت دى، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې. الله ﷻ فرمايي ددې نه لوى ظالم بل څوك دى چې په خلقت كې زما مقابله كوي؟ "فَلْيَخْلُقُوا ذَرَّةً أَوْ لِيَخْلُقُوا حَبَّةً أَوْ لِيَخْلُقُوا شَعِيرَةً" كه دى دومره ځان ته تكړه وايي، نو هغه خو دې يو مېږى جوړ كړي يا دې يوه دانه جوړه كړي، دا خو پرېږده يوه وربشه دې جوړه كړي! متفق عليه

تشريح: د تصوير د حرمت يوه وجه دا ده چې تصوير او تخليق د الله ﷻ ځانګړي صفتونه دي چې څوك ورسره پكې شريك نشته، بل دا چې د الله ﷻ په نومونو كې يو نوم خالق او بل مصور دى، په غير الله يې اطلاق جائز نه دى، "هو الله الخالق البارئ المصور" په دې آيت كې د خالق او مصور كېدو صفات د الله ﷻ سره خاص دي، نو اوس چې څوك تصوير جوړوي، لكه هغه چې د الله ﷻ په صفت د تخليق او تصوير كې د شركت كولو عملي دعوه وكړه، نو ځكه به هغه ته وويل شي چې ته خو د غنمو يوه دانه پيدا كړه، ساه لرونكي شيان خو ډېره لرې خبره ده.

په كوم كور كې چې تصوير يا سپى وي د هغه كور حالت

"وعن أبي طلحة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قال: لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتاً فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ" د ابو طلحه ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه كور ته به هيڅكله د رحمت پرښتې داخلې نه شي چې تصوير يا سپى پكې وي. متفق عليه

تشريح: هغه كور ته د رحمت پرښتې نه راځي چې تصويران يا سپى پكې وي، سپي ساتل سخته ګناه ده، ليكن د سپي نه هغه سپى مراد دى چې د هغې ساتل حرام وي او د كومو سپيانو ساتل چې روا دي هغه په دې كې داخل نه دي، مثلاً: د ښكار لپاره سپى ساتل، د فصلونو/ كښت د حفاظت

لپاره سپی ساتل، یا د ښکارويو ساتلو لپاره سپی ساتل، د داسې سپيو ساتلو اجازه شته، که څوک داسې سپی وساتي، نو پرښتې نه منع کیږي.

د تصویر څخه هغه تصویر مراد دی چې د هغې ساتل یا استعمال حرام وي، که هغه تصویر دې کوم چې ډېر زیات ووړکی وي یا د بغیر ساه لرونکي شیانو وي، نو د داسې تصویرانو په موجودګی هم د رحمت پرښتې کور ته راځي، لیکن ځینې محدثین فرمایي: د حدیث حکم عام دی، په دې کې هر قسم سپی او تصویر داخل دی، مطلقاً په کور کې چې سپی یا تصویر وي، د رحمت پرښتې کور ته نه راځي.

د پرښتو څخه د رحمت پرښتې مراد دي، د اعمالو لیکلو پرښتې یا د حفاظت پرښتې خو د انسان سره په هر حال کې وي.

د سپي په وجه جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ کور ته داخل نه شو

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: وَعَدَ رَسُولَ اللهِ ﷺ جِبْرِيلُ أَنْ يَأْتِيَهُ، فَرَاثَ عَلَيْهِ حَتَّى اشْتَدَّ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَخَرَجَ فَلَقِيَهُ جِبْرِيلُ فَشَكَا إِلَيْهِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی هغه فرمايي چې یو ځل د رسول الله ﷺ سره جبرئیل علیه السلام د ملاقات وعده وکړه، لیکن هغه وروسته شو، نبي کریم ﷺ ورسره بیا وروسته ملاقات وکړو، هغه ته یې د نه راتلو شکایت وکړو، "فَقَالَ: إِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ" جبرئیل علیه السلام وفرمایل: موږ (پرښتې) هغه کور ته نه داخلیږو چې سپی یا تصویر پکې وي. رواه البخاري

راث: أبطأ، وهو بالثاء المثلثة: د راث معنی ده: وروسته والی.

تشریح: لکه څرنګه چې وړاندې په حدیث کې ذکر شول چې په کوم کور کې سپی وي، هغه کور ته پرښتې نه راځي، همدغه شان واقعه د رسول الله ﷺ سره پېښه شوه، یو ځل جبرئیل علیه السلام د راتلو وعده وکړه چې رسول الله ﷺ د هغوی ډېر زیات انتظار وکړو، لیکن جبرئیل علیه السلام رانغلو، کله چې رسول الله ﷺ بهر ته تشریف یوړو، نو جبرئیل علیه السلام تشریف راوړو، رسول الله ﷺ شکایت وکړو چې ولې دې ناوخته کړو؟ جبرئیل علیه السلام وویل: په کور کې سپی وو، ځکه رانغلم، موږ هغه کور ته نه داخلیږو چې سپی پکې وي، ددې وجه علماء فرمايي: چې سپی نجاست او مرداري خوري، نو په دې وجه سپي ته شیطان هم ویل شوي دي او پرښته روحاني وي، دا د شیطان ضد دی، پرښتې د نجاست څخه سخته کرکه لري، نو ځکه دواړه یو ځای نه شي جمع کېدلی.

سپی چې ووتلو، نو جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ داخل شو

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: واعد رسولَ اللهِ ﷺ جبريلُ عليه السلام في ساعة أن يأتيه، فجاءت تلك الساعةُ ولم يأته! قالت: وكان بيده عصاً، فطرحها من يده وهو يقول: ما يُخلف اللهُ وعدَه ولا رسلُه" د عائشې رضي الله عنها نه روایت دی هغه فرمايي چې یو ځل جبرئیل علیه السلام د نبي کریم ﷺ سره په یو مقرر وخت کې د راتلو وعده وکړه، هغه وخت داخل شو، لیکن جبرئیل علیه السلام رانغلو، د نبي کریم ﷺ په لاس مبارک کې امساء وه، هغه یې

وغورځول، بيا يې وفرمايل: دا خو کېدی نه شي چې الله ﷻ او د هغه قاصد د وعدې مخالفت وکړي. "ثُمَّ الْتَفَتَ، فَإِذَا جِرْوُ كَلْبٍ تَحْتَ سَرِيرِهِ، فَقَالَ: مَتَى دَخَلَ هَذَا الْكَلْبُ؟" بيا نبي کريم ﷺ ناڅاپه د خپل کټ لاندې نظر وکړو، نو وې کتل چې لاندې د سپي يو بچی پروت دی، نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا کله راداخل شوی دی؟ "فَقُلْتُ: وَاللهِ مَا دَرَيْتُ بِهِ، فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ، فَجَاءَهُ جِبْرِيلُ عليه السلام، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: وَعَدْتَنِي فَجَلَسْتُ لَكَ وَلَمْ تَأْتِنِي" ما ورته وويل: قسم په الله ﷻ! ماته هيڅ پته نشته، د سپي د ويستلو امر يې وکړو، نو هغه وويستل شو، بيا جبرئيل عليه السلام راداخل شو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو زما سره وعده کړې وه چې په فلانکي وخت کې به راځم، ما درته انتظار کولو خو تاسو رانغلئ؟ "فَقَالَ: مَنَعَنِي الْكَلْبُ الَّذِي كَانَ فِي بَيْتِكَ، إِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتاً فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ" جبرئيل عليه السلام وفرمايل: دې سپي په وجه زه داخل نه شوم، کوم چې ستاسو په کور کې وو، موږ هغه کور ته نه داخلېږو چې سپی يا تصوير پکې وي. رواه مسلم

تشريح: د سپي او تصوير په موجودګی کې د پرښتو عدم دخول ولې تخصيص شو، نور شيان ولې ذکر نه شول؟

جواب: په حقيقت کې د سپي او تصوير کوم خاص خصوصيت نشته، نور هم د هر شيان دي چې د هغې نه پرښتې نفرت کوي.

شيخ الاسلام علامه جعفر کتاني مالکي رحمه الله په دې باندې يوه مستقله رساله ليکلې ده،⑴ په هغې کې دي چې نور هم ډېر زيات شيان داسې دي چې په کور کې وي، نو د رحمت پرښتې نه داخلېږي، په هغې کې: تشي متيازې، ډکې متيازې، دغه راز داسې ښځه په کور کې وي چې سر يې لوڅ وي، خپل سر نه پټوي.

تصويران ختمول

"وَعَنْ أَبِي الْهَيَّاجِ حَيَّانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: قَالَ لِي عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رضي الله عنه: أَلَا أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ ﷺ؟" د أبو الهياج حيان بن حصين رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته علي رضي الله عنه وفرمايل: اې أبو الهياج! ايا زه تا په هغه کار پسې روان نه کړم د کوم کار پسې چې زه رسول الله ﷺ واستولم؟ "أَنْ لَا تَدَعَ صُورَةً إِلَّا طَمَسْتَهَا، وَلَا قَبْراً مُشْرِفاً إِلَّا سَوَّيْتَهُ" هغه دا چې داسې يو تصوير پاتې نه شي چې وران کړی دی نه وي او نه داسې کوم قبر پريږدې چې ډېر اوچت وي او هغه دې سم کړی نه وي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: طمستها: طمس باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: ختمول، له بېخه ويستل

تشريح: تصويران او اوچت قبرونه داسې منکرات دي چې د هغې ختمول د يو مسلمان حکمران په ذمه دارۍ کې داخل دي، ځکه چې شريعت د يوه لوېشت څخه زيات اوچت قبر جوړول منع کړي دي.

⑴ د هغه کتاب نوم: بلوغ القصد والمرام ببيان بعض ما تنفر عنه الملائكة الكرام.

ولا قبرا إلا سويته: او نه کوم قبر وي، مګر دا چې هغه برابر کړه، دا مطلب نه دی چې هغه بالکل ختم کړه او د ځمکې سره يې برابر کړه چې بيخي نه معلوميږي، بيا به خلکو ته پته نه لګيږي چې دلته هم قبر شته او که نه، بلکې مطلب دا دی چې اوچت قبرونه برابر کړه چې د شريعت سره سمون وخوري

د راوي ابوالهياج حيان بن حصين رحمة الله عليه حالات:

اصلي نوم يې حيان رحمه الله دی، کنيت يې ابوالهياج دی، د پلار نوم يې حصين دی، د بنو اسد سره تعلق لري، د اسماء الرجال عالمانو په نزد په اوسطو تابعينو کې دی، د عمر رضي الله عنه او علي رضي الله عنه څخه روايات نقل کوي، ابن حبان رحمه الله په ثقاتو کې شمار کړی دی، د دوی څخه يې زوی منصور، جرير او شعبي رحمهم الله روايات نقل کوي

باب تحريم اتخاذ الكلب إلا لصيد أو ماشية أو زرع

سپي ساتل حرام دي، مګر د ښکار او حفاظت لپاره

"عن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: من اقتنى كلباً إلا كلب صيد أو ماشية فإنه ينقص من أجره كل يوم قيراطان" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه خپله اوريدلي دي چې فرمايل يې: کوم کس چې په کور کې سپی وساتي، مګر د ښکار او د څارويو د حفاظت څخه سوا، نو د هغه د عملنامې نه به هره ورځ دوه قيراطه ثواب کميږي "متفق عليه، وفي رواية: قيراط" او په يو روايت کې دي چې يو قيراط ترې کميږي

لغوي تحقيق: قيراط: نصف دانق او د ځينې په قول د دينار ۴ - ۲ برخه او د ځينو په نزد د دينار د لسمي برخې نيمايي حصه، د ځينو په نزد ځلرويشتمه برخه ده.

تشريح: من اقتنى كلباً: څوک چې د ښکار يا څارويو حفاظت نه پرته سپی وساتي، د تفريح لپاره سپی ساتل بالکل حرام دي، البته که د څارويو د حفاظت په خاطر وي يا د ښکار لپاره وي، يا د پټيانو / فصلونو لپاره وي، نو په شريعت کې بيا ددې اجازه شته، ددې نه علاوه د سير او تفريح په توګه سپي ساتل حرام دي، په فتاوى عالمګيري کې دي چې د ضرورت پرمهال د غلو څخه د حفاظت په خاطر هم د سپي ساتل جائز دي، څوک چې بغير عذر سپي ساتي، نو هره ورځ يې يو قيراط او په يو بل روايت کې دي چې دوه قيراطه ثواب يې کميږي

د قيراط تحقيق دا دی چې شپږ رتۍ برابر ته قيراط وايي، د ځينو په نزد يو دينار ۴ - ۲ برخه يا د ځينو په قول د دينار لسمه برخه ده، د ځينو په رواياتو کې د قيراط وزن د احد د غره برابر دی، خلاصه دا چې د شرعي ضرورت څخه بغير سپي ساتلو سره د انسان اعمال ضايع کيږي

د ځينې وجوهاتو په بناء سپي ساتل جواز لري

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: من أمسك كلباً، فإنه ينقص من عمله كل يوم قيراط إلا كلب حرث أو

مَاشِيَةٍ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په كوم كور كې چې سپى وساتي، د هغه د عمل نه هره ورځ يو قيراط ثواب كميږي، مګر دا چې د فصل او څارويو د حفاظت لپاره وساتل شي. متفق عليه

"وفي رواية لمسلم: مَنْ اقْتَنَى كَلْباً لَيْسَ بِكَلْبِ صَيْدٍ، وَلاَ مَاشِيَةٍ وَلاَ أَرْضٍ، فَإِنَّهُ يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ قِيرَاطَانِ كُلَّ يَوْمٍ" د مسلم رحمه الله په يو روايت كې داسې هم شته چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: كوم كس داسې سپى وساتي چې نه د ښكار لپاره وي، نه د څارويو د حفاظت لپاره وي او نه د فصل ساتلو لپاره وي، نو د داسې كس نه هره ورځ دوه قيراطه ثواب كميږي.

لغوي تحقيق: حرث: الحرث مصدر دى، ددې معنى ده: پټي او فصلونه.

سوال: په يو روايت كې يو قيراط عمل كميږي او په يو بل روايت كې دوه قيراطه عمل كميږي، ظاهراً د دواړو رواياتو ترمنځ تعارض دى؟

جواب: ځينې عالمان وايي: ځينې سپي تكليف رسوي، كه داسې سپي څوك ساتي، د هغه نه دوه قيراطه عمل ثواب كميږي او كوم سپي چې لږ تكليف رسوي، نو د داسې كس نه يو قيراط ثواب كميږي

بل جواب دا دى چې په مقدسو ځايونو كې، لكه: مكه او مدينه منوره وغيره ځايونو كې سپي ساتلو سره دوه قيراطه عمل ثواب كميږي او په پاتې نورو ځايونو كې يو قيراط ثواب كميږي

دريم جواب دا دى چې په ښار او بازار كې د سپي په ساتلو سره دوه قيراطه ثواب كميږي او په كليو كې د سپي په ساتلو سره يو قيراط ثواب كميږي.

څلورم جواب دا دى چې په شروع كې د يو قيراط كمېدو وعيد وو، ليكن كله چې په دې كې زياتوالى راغلو، په كثرت سره يې ساتنه شروع شوه، نو بيا د دوه قيراطه ثواب كمېدو وعيد وشو، اوس به د دوه قيراطه په حديث باندې عمل كيږي

باب كراهية تعليق الجرس في البعير وغيره من الدواب وكراهية استصحاب الكلب والجرس في السفر

په څارويو كې شپېلى ترل، دغه راز په سفر كې د ځان سره سپى يا ګړنجى ورل مكروه دي

"عن أبي هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: لاَ تَصْحَبُ المَلاَئِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا كَلْبٌ أَوْ جَرَسٌ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د داسې ډلې سره پرښتې نه كيني په كومه ډله كې چې سپى وي يا ګونجى / شپېلى وي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: جرس: ګونجي/ ژغږغه.

تشريح: لاتصحب الملائكة: پرښتې ورسره نه ملګري کيږي، دلته د پرښتو څخه د رحمت پرښتې مراد دي، د حفاظت يا اعمال نامې ليکونکي پرښتې مراد نه دي.

کلب: ددې څخه هغه سپي مراد دی چې د هغه ساتل حرام وي، د کومو سپيو ساتلو اجازت چې وي هغه په درې قسمه دي: ښکار کوونکي سپي، د فصلونو د حفاظت سپي، د څارويو د حفاظت سپي.

جرس: ګړنجو په وجه هم پرښتې د انسان نه لرې کيږي، ځکه چې جرس د ناقوس سره مشابهت لري چې د غير مسلمو علامه او نخښه ده، يا دا چې ددې آواز په شريعت کې اوريدل ناجائز دي، په يو روايت کې دي چې يوه ماشومه د عايشې رضي الله عنها په خدمت کې حاضره شوه، د هغې په پښو کې ګړنجي/ ژغژغې وې، عايشې رضي الله عنها وفرمايل: زما له خوا څخه هغه شيان لرې کړئ چې د هغې نه پرښتې هم ځان ساتي.

شپېلۍ د شيطان سازاو سامان ده

"وعنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قال: الجَرَسُ مَزَامِيرُ الشَّيْطَانِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ګړنجې د شيطان ساز او سرود دی. رواه مسلم

تشريح: مزامير الشيطان: مزامير د مزمار جمع ده، په اصل کې شپېلۍ ته وايي، په دې کې ساز او سرود شپېلۍ سندرې ټولې شاملې دي، خلاصه دا چې د سندرو او سرود ټول سامان پکې داخل دي، شپېلۍ ته د شيطان د سرود آله وويل شو، په يو بل روايت کې دي چې د هرې شپېلۍ سره شيطان وي يا دا چې ددې په وجه انسان د الله د ذکر څخه لرې کيږي، امام شافعي رحمه الله فرمايي: شپېلۍ زنديقانو ايجاد کړې ده، ددې لپاره چې مسلمانان د لمانځه ذکر او تلاوت څخه غافل کړي

باب كراهة ركوب الجَلاَّلة وهي البعير أو الناقة التى تأكل العَذِرَة فإن أكلت علفاً طاهراً فطاب لحمُهَا، زالت الكراهة

کله چې صفا وابښه خوري هغه اوبښه يا اوښ چې مرداره خوري، په هغې باندې سپريدل مکروه دي، بيا يې خوړل جائز دي او پرې سپريدل هم جائز دي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ الجَلاَّلَةِ فِي الإبِلِ أَنْ يُرْكَبَ عَلَيْهَا" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده په هغه اوښ باندې د سپريدو نه چې مرداره خوري. رواه أبوداود بإسناد صحيح

تشريح: په حديث کې د جلاله د خوړلو څخه منع راغلې ده، جلاله هغه څاروي ته وايي چې د هغې غوښه خوړل جائز وي، ليکن خيله مرداري خوري، تردې چې د هغې په غوښه او شيدو کې هم

بدبويي پيدا شي، دې باره کې امام ابوحنيفه رحمه الله امام شافعي رحمه الله او امام محمد رحمه الله فرمايي: داسې څاروی دې يو څو ورځې بند وساتل شي، بيا دې په هغې پاك خوراك وکړل شي چې د هغې د غوښې او شيدو څخه بدبويي ختمه شي، نو اوس د هغې خوړل جائز دي.

امام مالك رحمه الله فرمايي: بايد وتړل شي او ښه پاك خوراك دې پرې وکړل شي او بل طرف بايد هغې ته د غسل ورکولو پوره اهتمام هم وکړل شي، په داسې څاروي باندې د سوارلی کولو څخه هم منع راغلې ده، د هغې غوښه او څرمن د ناپاك خوراك څخه جوړه شوې ده، نو ددې غوښې خوله د هغه په بدن لګيږي، ليکن کوم څاروی چې کله نا کله ګندګي خوري او د هغې په څرمن او غوښه کې بدبويي نه پيدا کيږي، نو د هغې خوړل جائز دي.

باب النهى عن البصاق فى المسجد والأمر بإزالته منه إذا وجد فيه والأمر بتنزيه المسجد عن الأقذار

په جوماتونو کې لاړې تو کول حرام دي، د جومات صفا ساتلو حکم شوی دی

"عن أنس رضي الله عنه: أَنَّ رسولَ اللّٰهِ ﷺ قال: البُصَاقُ في المَسْجِدِ خَطِيئَةٌ، وكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل په جومات کې لاړې تو کول ګناه ده او ددې کفاره دا ده چې هغه لاړې دې دفن کړی شي. متفق عليه

والمرادُ بِدَفْنِهَا إذا كانَ المَسْجِدُ تُرَاباً أَوْ رَمْلاً ونَحْوَهُ، فَيُوارِيهَا تَحْتَ تُرَابِهِ: د دفن کولو مطلب دا دی چې که جومات د خاورو يا شګو وي، نو د خاورو لاندې دې پټ کړی شي. "قالَ أبو المحاسِنِ الرُّويَانِي مِنْ أَصحابِنا في كِتابِهِ "البحر" وقِيلَ: المُرادُ بِدَفْنِهَا إخْرَاجُهَا مِنَ المَسْجِدِ" ابوالحسن الروياني د خپلو ملګرو نه په (البحر) کې روايت کړی دی چې د دفن نه مراد دا دی چې هغه لاړې دې د جومات نه وويستل شي. "أَمَّا إذا كانَ المَسْجِدُ مُبَلَّطاً أَوْ مُجَصَّصاً، فَدَلَكَهَا عَلَيْهِ بِمَدَاسِهِ أَوْ بِغَيْرِهِ كَمَا يَفْعَلُهُ كَثِيرٌ مِنَ الجُهَّالِ، فَلَيْسَ ذَلِكَ بِدَفْنٍ، بَلْ زِيَادَةٌ في الخَطِيئَةِ وَتَكْثِيرٌ لِلقَذَرِ في المَسْجِدِ" او که چېرته جومات سيمنټي (خښتو والا وي) يا چونه او ګچ وي او دغه لاړې يې په جارو يا په کوم بل شي سره ومږلې، لکه ډېر کم عقل خلك داسې کوي نو دېته دفن نه شي ويل کيدی، بلکې دې سره خو نور هم جومات خرابيږي او زيادت په خطاء کې راځي. "وَعَلَى مَنْ فَعَلَ ذَلِكَ أَنْ يَمْسَحَهُ بَعْدَ ذَلِكَ بِثَوْبِهِ أَوْ بِيَدِهِ أَوْ غَيْرِهِ أَوْ يَغْسِلَهُ" او کوم کس چې داسې وکړي په هغه لازم دي چې هغه دې ددې نه وروسته په لاس يا په کپړه سره پاك کړي او يا دې ووينځي.

لغوي تحقيق: البصاق: لاړې، کله چې په خوله کې وي هغې ته ريق وايي.

تشريح: د احاديثو په کتابونو کې داسې نور احاديث هم شته، ددې حديث تشريح علامه نووي رحمه الله خپله کړې ده، بل دا چې په يو بل روايت کې هم دي چې "من اخرج أذى من المسجد بنى اللّٰه له بيتاً في الجنة" څوك چې د جومات څخه ګندګي وباسي، نو ددې په بدله کې به الله ﷻ هغه ته په جنت کې

کور جوړ کړي، په بل روایت کې دي چې: "عرضت علی أجور أمتي حتی القذاة یخرجها الرجل من المسجد" په ما باندې زما د امت اعمال وړاندې شول، نو په هغې کې هغه اعمال هم وو چې یو کس د جومات څخه ګندګي وباسي، یعنې ددې اجر او ثواب بې هم راته وښودلو.

ځینې علماء فرمایي چې: "الصحیح عند النووي في التحقیق تحریم البصاق في المسجد، قال سواء فیه داخله وخارجه" د علامه نووي رحمه الله په نزد تحقیقي خبره هم دا ده چې په جومات کې لاړې توکول حرام دي، برابره خبره ده چې توکونکی په جومات کې وي یا د جومات څخه بهر وي.

د جوماتو صفایي کول

"وعن عائشة رضي الله عنها: أن رسول الله ﷺ رأی في جدار القبلة مخاطا، أو بزاقا، أو نخامة، فحکه" د عائشې رضي الله عنها روایت دی، فرمایي: که رسول الله ﷺ به د جومات د قبلې طرف ته کوم بلغم، لاړې یا نزله ولیده، نو هغه به یې ختم کړل او وران به یې کړل متفق علیه.

تشریح: انسان طبعاً پاکي خوښونکی دی، د هغه ارمان دا وي چې خپله دې هم پاك او سیړې او د هغه کور دې هم پاك وي، نو ددې څخه اندازه ولګوئ چې د الله ﷻ د کور (جومات) پاکي څومره ضروري ده، چېرته چې انسان د خپل حقیقي مولی عبادت کوي، امام شعراني رحمه الله فرمایي: د رسول الله ﷺ د احادیثو څخه معلومیږي چې رسول الله ﷺ زموږ څخه عهد اخیستی دی چې موږ به جوماتونه د هر قسم ناپاکۍ څخه پاك ساتو. لیکن نن سبا مسلمانان ددې باره کې انتهائي غفلت کې دي، رسول الله ﷺ به خپله د جومات صفائي کول، په یو روایت کې دي چې: "إن النبي ﷺ کان یتبع غبار المسجد بجریدة" رسول الله ﷺ به د جومات ګرد د خورما په څانګه پاکول، دغه شان علامه یوسف بنوري رحمه الله فرمایي: "وفي العمدة: وقد ورد عن النبي ﷺ أنه کنس المسجد الخ....".

جوماتونه د الله ﷻ د ذکر لپاره وي

"وعن أنس رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ قال: إن هذه المساجد لا تصلح لشيء من هذا البول ولا القذر" د انس رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دغه جوماتونه ددې لپاره نه دي چې په دې کې تشې یا ډکې متیازې وشي، "إنما هي لذکر الله تعالی، وقراءة القرآن أو کما قال رسول الله ﷺ" بلکې دا خو د الله ﷻ د ذکر او د قرآن کریم د تلاوت لپاره جوړ شوي دي، یا دا چې څنګه رسول الله ﷺ فرمایلي دي. رواه مسلم

لغوي تحقیق: القذر: د (القذر) معنی ده: مرداري، تشې یا ډکې متیازې.

تشریح: علماء فرمایي: رسول الله ﷺ دا ارشاد هغه وخت وفرمایلو چې کله یو کوچې په جومات کې متیازې وکړې، خلکو یې د منع کولو اراده وکړه، لیکن رسول الله ﷺ ډیر په حکمت سره پوه کړو چې جوماتونه خالص د الله ﷻ د ذکر لپاره دي، د دعاء او تلاوت لپاره وي، په دې کې هم دغه کارونه جائز دي، امام شعراني رحمه الله فرمایي چې: "بل تراه إذا رأی ولده الصغیر بال أو تغوط علی باب قصر الملك

يبادر على الفور بإزالته وتطهيره وربما مسحه بردائه أو قميصه أن يطلع عليه ذالك السلطان، ولو أنه رأى مثل ذالك في المسجد ما كان مسحه بردائه ولا بقميصه قط، بل يقول: أنظروا الراشة يطهر هذا المكان، ولو أنه لو يجده إلى آخر النهار لترك النجاسة في المسجد وكل ذالك استهانة بجانب الله تعالى الخ. ژباړه: د دنيا بادشاه د دروازې بهر چې يو ماشوم متيازې وکړي، نو هغه کس ته تر هغه آرام نه ورځي تر څو پې چې هغه مرداري پاکه کړې نه وي، ترديې چې که نور څه نه وي، نو په خپل څادر يا کميس يې هم پاکوي، وايي: هسې نه چې بادشاه خبر شي او که هم دغه معامله د الله ﷻ د يو کور سره وشي، نن سبا خو د جومات ترڅنګ تر ما ښامه ګندګي پرته وي، د هغې هيڅ پروا به نه کوي، دا ولې؟ دا ځکه چې د الله ﷻ او د هغه د کور قدر او عزت ورسره نشته

باب كراهة الخصومة في المسجد ورفع الصوت فيه ونشد الضالة والبيع والشراء والإجارة ونحوها من المعاملات

په جوماتکې جګړې کول او په اوچت اواز سره خبرې کول او د ورک شوي شي اعلان کول او اخيستل خرڅول مکروه دي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أنه سمع رسول الله ﷺ يقول: مَن سَمِعَ رَجُلاً يَنْشُدُ ضَالَّةً في المَسْجِدِ فَلْيَقُلْ: لاَرَدَّهَا اللهُ عَلَيْكَ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: په تاسو کې چې کوم کس په جومات کې د ورک شي اعلان واوري، نو په ځواب کې دې ورته ووايي: الله ﷻ دې تاته دغه ورک شوی شی نه واپس کوي، "فَإِنَّ المَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهٰذَا" ځکه چې جوماتونه ددې لپاره نه دي جوړ شوي. رواه مسلم

تشريح: صاحب د سبل السلام فرمايي: "والحديث دليل تحريم السوال عن ضالة الحيوان" حديث ددې دليل دی چې په جومات کې د ورک شي اعلان حرام دی، علامه يوسف بنوري رحمه الله فرمايي: "وأما إنشاد الضالة فله صورتان: أحدهما وهي أقبح وأشنع: بأن يضل شيء خارج المسجد ثم ينشد في المسجد لأجل إجتماع الناس فيه، والثانية: أن يضل في المسجد نفسه، فينشده فيه، وهذا يجوز إذا كان من غير لغط وشغب الخ" ژباړه: په جومات کې د ورک شي اعلان دوه صورته لري: يو يې زيات قبيح دی، هغه دا چې يو شی د جومات څخه بهر ورک شي او بيا جومات ته راشي، هلته يې اعلان کوي، دا کار ډېر زيات قبيح او حرام دی، بل صورت دا دی چې يو شي درنه په جومات کې ورک شي، نو د هغې اعلان هم په جومات کې وکړل شي، دا دويم صورت هغه مهال جائز دی چې کله د جومات احترام ملحوظ وساتل شي او د شور څخه ځان وساتل شي.

لا ردها الله عليك: الله ﷻ دې تاته هغه ورک شی نه واپس کوي، علماء فرمايي: دا جمله بايد نبه په زوره ووېل شي، ددې لپاره چې اعلان کوونکي ته په زجر او توبيخ سره عبرت حاصل شي او هغه ته خپله مناسب سزا ملاو شي او د بيا لپاره داسې غير شرعي حرکت ونه کړي

په جوماتونو کې تجارت کول منع دي

"وعنه: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَبِيعُ أَوْ يَبْتَاعُ فِي الْمَسْجِدِ، فَقُولُوا: لَا أَرْبَحَ اللهُ تِجَارَتَكَ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله په تاسو کې څوک داسې کس وويني چې هغه په جومات کې اخيستل خرڅول کوي، نو داسې دعاء ورته کوئ: الله جل جلاله دې تاته په دې تجارت کې ګټه نه درکوي، "وَإِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَنْشُدُ ضَالَّةً فَقُولُوا: لَا رَدَّهَا اللهُ عَلَيْكَ" او کله چې داسې کس ووينئ چې هغه د ورک شوي شي اعلان کوي، نو داسې دعاء ورته کوئ چې الله جل جلاله دې تاته هغه شی نه واپس کوي.

رواه الترمذي، وقال: حديث حسن

لغوي تحقيق: لااربح: ستا په تجارت کې دې ګټه ونه شي.

تشريح: اذا رأيتم من يبيع: کله چې يو کس په جومات کې ووينې چې اخيستل خرڅول کوي، جوماتونه د عبادت، ذکر او تلاوت ځايونه دي، که يو کس پکې اخيستل شروع کړي، نو د خلکو په عبادت وغيره کې به خلل راشي، که چېرته داسې څوک وي چې هغه دا قبيح کار کوي، نو خلکو ته پکار دي چې هغه ته په زوره زوره ووايي چې الله جل جلاله دې ستا په تجارت کې فايده نه درکوي.

واذا رأيتم من ينشد ضالة الخ: که يو کس مو وليدلو چې په جومات کې د ورک شي اعلان کوي، نو هغه ته داسې وايئ چې الله جل جلاله دې تاته هغه ورک شی واپس نه کړي، په جومات کې د ورک شوي شي اعلان کول حرام دي، البته يو جائز صورت يې شته، هغه دا چې د چا نه څه شی ورک شوی دی، هغه دې د جومات په دروازه کې کېني او څوک چې راځي د هغه نه دې پوښتنه کوي، په دې شان سره به د جومات احترام هم باقي پاتې شي او ورک شوی شی به هم پيدا شي.

په جومات کې د ورک شوي شي اعلان منع دی

"وعن بُرَيْدَةَ رضي الله عنه: أَنَّ رَجُلاً نَشَدَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ: مَنْ دَعَا إِلَى الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ؟" د بريدة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي: يو کس د ورک شوي اوښ معلومولو لپاره په جومات کې اعلان کړی ؤ، هغه وويل «د سور اوښ لپاره چا اواز کړی وو؟» "فَقَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: لَا وَجَدْتَ، إِنَّمَا بُنِيَتِ الْمَسَاجِدُ لِمَا بُنِيَتْ لَهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه دې تاته ملاو نه شي، جوماتونه د هغه کار لپاره دي د کوم لپاره چې جوړ شوي دي. رواه مسلم

تشريح: علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: "وهذا يدل على ان اصلا ان لا يعمل في المساجد غير الصلوات والاذكار وقراة القرآن" په جومات کې هر هغه کار منع دی چې د جومات د غرض جوړولو څخه منافي وي او جوماتونه خو خالص د الله جل جلاله ذکر لپاره جوړ دي، د کوم بل کار لپاره جوړ نه دي، د حديث باره کې قطب الارشاد مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله فرمايي چې "وأما إنشاد الضالة فالنهي عن رفع الصوت بذلك، إذ فيه الأضرار دون غيره وفيه سوء تأديب لسنة المسجد، وقد يعد فيه رفع الصوت قريبا فكيف بنداء من ينشد ضالة الخ" د ورک شوي شي

لپاره په جوماتو کې شور کول منع دي، ځکه چې د جومات د احترام سره ټکر خوري، بل دا چې په دې سره په لمانځه کې خلل پيدا کيږي، پوره توجه نه وي

يو ځل عمر ﷺ په جوماتو کې ناست وو چې يو کس په تېزه اوازونه شروع کړل، عمر رضي الله عنه ورته فرمايل: تاته پته شته چې ته چېرته ولاړ يې؟ الفاظ دا دي: "إن عمر ﷺ سمع رجلاً رافعاً صوته في المسجد فقال اتدري أين أنت؟.

په جوماتو کې غلط شعرونه ويل منع دي

"وعن عمرو بن شعيب، عن أبيه، عن جدّهِ ﷺ: أَنَّ رسولَ اللّٰــــه ﷺ نَهَى عَنِ الشِّراءِ والبَيْعِ في المَسْجِدِ" د عمرو بن شعيب ﷺ نه روايت دی هغه يې د خپل پلار نه هغه يې د خپل نيکه نه روايت کوي چې رسول الله ﷺ د اخيستلو او خرڅولو نه په جوماتو کې منع فرمايلې ده، "وَأَنْ تُنْشَدَ فِيهِ ضَالَّةٌ، أَوْيُنْشَدَ فِيهِ شِعْرٌ" او يا دي پکې د ورک شوي شي لپاره اعلان وکړی شي او يا دي پکې د شعر او شاعرۍ محفلونه جوړ کړی شي. رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسنٌ

تشريح: ددې حديث څخه درې مسئلې معلومې شوې په جوماتو کې اخيستل خرڅول منع دي، مولانا محمد يوسف بنوري رحمه الله فرمايي: فقهاوو د معتکف لپاره د ضرورت په اندازه اخيستلو او خرڅولو اجازه ورکړې ده، خو په دې شرط چې جوماتو ته به سامان نه راوړي، صرف قيمت به سره معلوم کړي او عقد د بيع به خلاص کړي، د معتکف نه علاوه نورو خلکو ته دا کار مکروه دی.

د ورک شوي شي په اعلان باندې فقهاء متفق دي چې دا کار حرام او منع دی

أو ينشد فيه شعر: يا په جوماتو کې غلط شعرونه ووايي، محدثين فرمايي ددې څخه هغه شعرونه مراد دي چې دروغ، لغو او غلطې خبرې پکې وي، جوماتونه د الله ﷻ کورونه دي، نو ځکه هلته داسې خبرې کول منع دي، البته که داسې اشعار وي چې د الله ﷻ توحيد، د رسول الله ﷺ د رسالت بيان وي، د ديني علم او حکمت خبرې وي، نو داسې اشعار ويل جائز دي. لکه څرنګه چې به د رسول الله ﷺ په زمانه کې حسان بن ثابت ﷺ په جوماتو کې په منبر باندې ودريدو او د کفارو د سپکوالي او د رسول الله ﷺ عزت به يې پکې بيانولو او جبرئيل عليه السلام به دده د اشعارو تائيد کولو.

په جوماتو کې په زوره خبرې کول منع دي

"وعن السائب بن يزيد الصحابي ﷺ قال: كُنْتُ في المَسْجِدِ فَحَصَبَنِي رَجُلٌ، فَنَظَرْتُ فَإذَا عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ ﷺ فَقَالَ: اذْهَبْ فَأْتِنِي بِهذَيْنِ، فَجِئْتُهُ بِهِمَا، فَقَالَ: مِنْ أَيْنَ أَنْتُمَا؟ فَقَالاَ: مِنْ أَهْلِ الطَّائِفِ" د سائب بن يزيد صحابي ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي: زه يو ځل په جوماتو کې ناست وم چې ناڅاپه يو کس په شګې وويشتلم، شاته مې وکتل عمر ﷺ وو، هغه راته وفرمايل: لاړ شه او دغه دوه کسان ماته راوله، زه لاړم هغه مې ورته راوستل، عمر ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې تاسو د کوم ځای يئ؟ هغوی ورته وويل: د طائف اوسېدونکي يو،

فقال: لَوْكُنْتُمَا مِنْ أَهْلِ الْبَلَدِ، لأَوْجَعْتُكُمَا، تَرْفَعَانِ أَصْوَاتَكُمَا فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللّـــهِ ﷺ" عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: كه چېرته تاسو د مدينې منورې اوسېدونكي واى، نو تاسو ته به مي سزا دركړې وه، تاسو د رسول الله ﷺ په جومات كې اوازونه پورته كوئ؟! رواه البخاري

تشريح: ددې حديث څخه معلومه شوه چې كوم كس په جومات كې شور كوي، هغه ته مناسبه سزا وركول جائز دي، لكه څرنګه چې عمر رضي الله عنه هغه دوه طائفي كسانو ته تنبيه وركړه، په مؤطاء امام مالك رحمه الله كې دي چې عمر رضي الله عنه هم ددې وجوهاتو په بنياد د جومات په كناره باندې يو چبوتره جوړه كړې وه، ددې وروسته عمر رضي الله عنه اعلان وكړو، څوك چې شور كوي يا لغو كوي يا اشعار او يا كوم بل داسې كار چې په هغې كې په اوچت اواز خبرې كيږي، نو هغه دې په دې چبوتره كې كوي، جومات ته دې نه راځي.

باب نهي من اكل ثوماً أو بصلاً أو كراثاً أو غيره مما له رائحة كريهة عن دخول المسجد قبل زوال رائحته إلّا لضرورة

دوږې يا پياز خوړلو په وخت جومات ته د داخلېدو نه منع فرمايل

"عن ابن عمر رضي اللّـــه عنهما: أنّ النبيّ ﷺ قَالَ: مَنْ أَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ -يعني: الثُّومَ- فَلاَ يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې دغه بوټى وخوري، يعني وږه وخوري، نو هغه دې زمونږ جومات ته نه رانږدې كيږي متفق عليه

وفي رواية لمسلم: مساجدنا: او د مسلم په يو بل روايت كې دي چې زمونږ جوماتونو ته دې نه رانږدې كيږي

لغوي تحقيق: الثوم: وږه.

تشريح: هذه الشجرة: ددې څخه پياز يا وږه مراد ده، په يو بل روايت كې دي چې "من أكل فجلا فلا يقربه مسجدنا" كوم كس چې مولۍ وخوري، هغه دې زمونږ جومات ته نږدې نه راځي، علماء فرمايي: مراد صرف پياز، وږه يا مولۍ نه ده، بلكې هر بد بو لرونكى شى پكې داخل دى چې هر رنګ بدبودار شى يې وخوړلو، بايد چې جومات ته داخل نه شي، تر څو چې يې د خولې څخه هغه بدبويي ختمه شوې نه وي.

وكذا الحكم من رائحة ثياب كريهة الزياتين والدباغين ون مالك ان الزياتين يتاخرون ولايتقدمون الى الصف الاول، ويقعدون في أخريات الناس: دغه ډول د چا د جامو څخه چې بدبويي راځي، لكه څرنګه چې د غوړو مستريانو يا موچيانو د جامو څخه راځي، هغه به هم جومات ته نه داخليږي، امام مالك رحمه الله فرمايي: كه د مستري يا موچي او لوهار جامې صفا نه وي، هغه به د جومات په اول صف كې نه دريږي.

څوک چې پياز يا وږه وخوري، هغه به جومات ته نه راځي

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: مَنْ أَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّا، وَلَا يُصَلِّيَنَّ مَعَنَا" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې وږه وخوري، موږ ته دې نه نږدې كيږي او نه دې زموږ سره لمونځ كوي متفق عَلَيْهِ

لغوي تحقيق: الشجر: عامه ونه ترې مراد ده، يا كومه خاص ونه ده چې د هغې نه بدبويي راځي، يعنې د پيازو او يا وږه وغيره.

تشريح: په دې حديث كې هم د بدبوداره شيانو د خوراك څخه منع راغلې ده او بيا جومات ته د راتلو څخه منع شوې ده، تر څو چې هغه بدبويي د خولې څخه ختمه شوې نه وي، په څينو رواياتو كې دي چې د رسول الله ﷺ په زمانه كې به كوم كس پياز يا وږه وخوړل او د خولې څخه به يې بد بوي راتلو، نو هغه به د لاسه ونيولو او تر جنت البقيع پورې به يې رسولو.

صاحب د رد المحتار رحمه الله ليكلي دي چې "والحق بعضهم بذلك من بفيه بخر، أوبه جرح له رائحة وكذلك القصاب والسماك والمجذوم والابرص أولى بالإلحاق" د كوم كس د خولې څخه يا د زخم څخه چې بوى راځي، دغه شان څوك چې غوښې خرڅوي يا ماهيان خرڅوي يا جذامي وي يا د برص ناروغ وي، نو داسې كسان به هم جومات ته نه راځي

د بدبوداره شيانو نه پرښتو ته تكليف وي

"وعن جابر ﷺ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: مَنْ أَكَلَ ثُوماً أَوْبَصَلاً فَلْيَعْتَزِلْنَا، أَوفَلْيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا" د جابر ﷺ نه روا دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: كوم كس چې وږه وخوري يا پياز وخوري، نو زموږ څخه دې جدا شي او يا يې داسې وفرمايل: زموږ د جومات څخه دې جدا شي متفق عَلَيْهِ

"وفي رواية لمسلم: مَنْ أَكَلَ الْبَصَلَ، وَالثُّومَ، وَالْكُرَّاثَ، فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذّٰى مِمَّا يَتَأَذّٰى مِنْهُ بَنُوآدَمَ" او د مسلم په يو روايت كې داسې هم دي چې كوم كس وږه وخوري يا پياز او يا كراث وخوري، نو زموږ جومات ته دې نه رانږدې كيږي، ځكه چې پرښتو ته هم د هغه شي څخه تكليف رسيږي د كوم شي نه چې انسان ته تكليف رسيږي

لغوي تحقيق: بصلاً البصل: معنى ده: پياز.

تشريح: په دې حديث كې د بدبودار سړي جومات ته د راتلو څخه د ممانعت وجه بيان شوې ده، هغه دا چې د بدبودار شي خوړلو سره پرښتو ته تكليف رسيږي، د ملائكه څخه هغه پرښتې مراد دي چې د عبادت په ځايونو كې حاضريږي، كومې پرښتې چې د انسان په حفاظت باندې ماموري دي هغه خو ورسره هر وخت وي. لكه څرنګه چې شرح طريقه محمديه كې ليكل شوي دي چې: "والمراد بالملائكة الحاضرون في مواضع العبادات لا الملازمون للانسان في جميع الاوقات" د ملائكه څخه هغه پرښتې مراد دي چې

د عبادت ځايونو ته حاضريږي، هغه پرښتې مراد نه دي چې د انسان سره هر وخت د حفاظت په طور ملازمې وي، په دې کې مفتي شفيع رحمه الله سګريټ، چلم، تمباکو، پان او د خاورو تېل وغيره حساب کړي دي، صاحب د مجالس الابرار ليکلي دي چې: "قال الفقهاء كل من وجد فيه رائحة كريهة يتاذى به الانسان يلزم اخراجه ولو بجر من يده او رجليه دون لحيته وشعر راسه" فقهاوو ليکلي دي چې د کوم کس د بدن څخه بدبويي راځي چې د هغې په وجه خلکو ته تکليف وي، نو داسې کس د جوماټ څخه ويستل پکار دي، اګر چې له لاسه يې ونيسي او په زوره يې بهر کړي، البته د ږيرې او د سر د وېښتانو څخه به يې نه نيسي.

"وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه: أنه خطب يوم الجمعة فقال في خطبته: ثم إنكم أيها الناس تأكلون شجرتين ما أراهما إلا خبيثتين: البصل، والثوم" د عمر بن خطاب رضي الله عنه نه روايت دی چې هغه د جمعې په ورځ خطبه وکړه او په خطبه کې يې ووېل: اې خلکو! تاسو خو دغه دوه شيان خورئ يعني وږه او پياز، ليکن زما په نظر کې دا دواړه ډېر خبيث شيان دي، "لقد رأيت رسول الله ﷺ، إذا وجد ريحهما من الرجل في المسجد أمر به، فأخرج إلى البقيع، فمن أكلهما، فليمتهما طبخاً" ما په خپله رسول الله ﷺ ليدلی دی چې کله به يې په کوم سړي پورې دغه بوی محسوس کړو، نو هغه ته به يې تر بقيع هديرې پورې د جوماټ نه د ويستلو حکم فرمايلو. اوس که څوك دا خوړل غواړي، نو په پخولو سره يې بايد بوی ختم کړي بيا دي وخوري. رواه مسلم

تشريح: خبيثتين: دوه خبيث شيان دي، يعني پياز او وږه. د خبيث لفظ اطلاق په حرام، مکروه او ناخوښه شيانو باندې کيږي، که يو سړی پياز يا تازه وږه وخوري، يعني کومه چې په کټوئ کې پخه شوې نه وي، نو جوماټ ته به د راتلو څخه ډډه کوي، البته که پوخ يې کړي او بيا يې وخوري چې بد بويي پکې ختمه شي، نو بيا ورباندې د خبيث اطلاق نه کيږي، علامه قرطبي رحمه الله ليکلي دي چې: "قال العلماء: إذا كانت العلة أي اخراجه من المسجد انه يتاذى به ففي القياس ان كل من يتاذى به جيرانه في المسجد بأن يكون ذرب اللسان سفيها عليهم" علماء فرمايي: کچه پياز يا وږه چې څوك وخوري، نو هغه به د جوماټ څخه وباسل شي، علت يې دا دی چې دده په وجه خلکو ته تکليف رسيږي، نو په دې باندې قياس کړه هر هغه کس چې خلکو ته په جوماټ کې تکليف رسوي، په دا شان چې يا خو هغه بد ژبانه وي او يا کم عقل وي، غلطې غلطې خبرې کوي، نو داسې کس به هم د جوماټ څخه وباسلی شي، تر څو چې هغه د خپلې غلطی اصلاح ونه کړي، دې باره کې علامه ابن القيم رحمه الله ليکلي دي چې کوم کس به شروع کې په رسول الله ﷺ باندې درود شريف ووايي، نو ددې په برکت سره به د هغه د خولې څخه بدبويي نه راځي.

باب كراهة الإحتباء يوم الجمعة والإمام يخطب لأنه يجلب النوم فيفوت استماع الخطبة ويخاف إنتقاض الوضوء

د جمعې په ورځ د احتباء (زنګنونه چې د خېټې سره ملاوشي) په شان کښېنستلو نه منع راغلې ده، ځکه چې په دې کښېنستلو باندې سړي ته خوب ورځي

"عن معاذ بن أنس الجهني رضي الله عنه: أن النبي ﷺ نهى عن الحبوة يوم الجمعة والإمام يخطب" د معاذ بن انس جهني رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ منع وفرمايل، كله چې امام خطبه وايي نو د الحبوة په شان مه كينئ! (كوم چې په يو خاص هيئت سره كېنستل دي) الحبوة دې ته وايي چې دواړه پښې ودرول شي، دواړه زنګنونه د خېټې سره ملاو كړى شي، دواړه لاسونه دايره كړى شي يا په دسمال وغيره سره وتړل شي، دې قسم كښېنستلو ته حبوة ويل كيږي. رواه أبوداود والترمذي، وقالا: حديث حسن

لغوي تحقيق: الحبوة: هغه تو ته چې د هغې په وجه انسان خپله خېټه او زنګون سره راغونډ كړي او بيا يې وتړي

تشريح: په حديث كې لفظ د (الحبوة) راغلى دى، ددې صورت دا دى چې په څادر/ دسمال سره خپل زنګونونه د خېټې سره نزدې يا په لاسونو باندې داسې طريقه اختيار كړى شي، لكه ځرنګه چې ځيني خلك خپل دواړه لاسونه د زنګونونو څخه تاو كړي او د خپلې خېټې سره يې جخت كړي، ددې د ممانعت وجه دا ده چې په دې صورت كې انسان ته خوب ورځي چې له امله يې انسان د خطبې د اوريدو څخه محرومه پاتې كيږي او اودس يې هم ماتيږي، بيا به د اودس لپاره ځي، نو د خلكو تكليف باعث به جوړ شي.

باب نهي من دخل عليه عشر ذي الحجة وأراد أن يضحي عن أخذ شيء من شعره أو أظفاره حتى يضحي

كوم كس چې د قرباني كولو اراده لري، هغه به د اولې ذي الحجې نه تر لسمې ذي الحجې پورې نوكان او وېښتان وغيره نه كاټوي

"عن أم سلمة رضي الله عنها، قالت: قال رسول الله ﷺ: من كان له ذبح يذبحه، فإذا أهل هلال ذي الحجة" د ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د كوم كس سره چې د قرباني څاروى وي او هغه يې قرباني كول غواړي، نو بيا چې كله د ذي الحجې مياشت داخله شي. "فلا يأخذن من شعره ولا من أظفاره شيئا حتى يضحي" نو بيا دې خپل وېښتان او نوكان نه كاټوي تر څو يې چې قرباني نه وي كړې

رواه مسلم

تشريح: فلا يأخذن من شعره: كوم كس چې د قرباني اراده كړې وي، نو هغه دې خپل وېښتان نه كاټوي او نه دې نوكان كاټوي، حكمت پكې دا دى چې په دې ورځو كې حاجيان صاحبان حج كوي او احرام تړي، دوى هم دا شيان نه كاټوي، نو د دوى سره به يو قسم مشابهت راشي، فقهاوو دا حديث په كراهت تنزيهي باندې حمل كړى دى، يعنې كه يو كس په دې ورځو كې نوكان او وېښتان وغيره كاټ كړي، نو هغه مكروه كار وكړو او نه كاټول يې مستحب دي.

باب النهي عن الحلف بمخلوق كالنبي والكعبة والملائكة والسماء والآباء والحياة والروح والرأس وحياة السلطان ونعمة السلطان وتربة فلان والأمانة، وهي من أشدها نهياً

په غير الله باندې قسم خوړل حرام دي

"عن ابن عمر رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قال: إِنَّ اللّٰهَ تعالى يَنْهَاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ منع فرمايلې ده دې نه چې سړى په خپل پلار قسم وكړي، "فَمَنْ كَانَ حَالِفاً، فَلْيَحْلِفْ بِاللّٰهِ، أَوْ لِيَصْمُتْ" كوم كس چې قسم كول غواړي نو په الله ﷻ دې وكړي، كنه نو چوپ دې پاتې شي متفق عليه

"وفي رواية في الصحيح: فَمَنْ كَانَ حَالِفاً فَلَا يَحْلِفْ إِلَّا بِاللّٰهِ، أَوْ لِيَسْكُتْ" او په يو بل روايت كې دي چې كوم كس قسم خوړل غواړي، نو قسم دې نه كوي، مگر په الله ﷻ باندې او يا دې خاموش پاتې شي

تشريح: لاتحلفوا بآبائكم: په خپلو پلرونو باندې قسمونه مه كوئ: پلار او نيكه خو هسې د مثال په توگه ذكر شول، كنه نو ددې څخه مراد دا دى چې په غير الله باندې قسمونه مه كوئ يعنې په هيڅ غير الله باندې قسم مه كوئ! خكه چې دا شرك دى، دلته پلار خكه ذكر شو چې د جاهليت په زمانه كې به هم مشركانو په خپلو پلرونو باندې قسمونه كول.

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: كه سل خله د الله ﷻ په نوم قسم وخورم او هغه مات كړم، دا ماته ددې نه ډېر زيات خوښ دي چې زه د غير الله په نوم قسم وخورم او هغه پوره كړم، البته كوم قسمونه چې الله ﷻ په غير الله باندې خوړلي دي هغه جائز دي، دا قانون صرف مخلوق ته دى.

د بوتانو په نوم قسم كول حرام دي

"وعن عبد الرحمان بن سَمُرَة رضي الله عنه قال: قَالَ رسولُ الله ﷺ: لَا تَحْلِفُوا بِالطَّوَاغِي، وَلَا بِآبَائِكُمْ" د عبد الرحمن بن سمرة رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو په بوتانو او پلارانو باندې قسمونه مه كوئ! رواه مسلم

الطَّوَاغِي: جَمْعُ طَاغِيَةٍ، وهِيَ الأَصنامُ، وَمِنْهُ الحَدِيثُ: هٰذِهِ طَاغِيَةُ دَوْسٍ أَيْ: صَنَمُهُمْ وَمَعْبُودُهُمْ: لفظ د (الطواغي)

جمع د طاغية ده، بوتانو ته ويل کيږي او ددې معنى په مخکې حديث کې تېره شوې ده چې په بعضې کې (هذه طاغية دوس) يعنې دا د دوی بوتان او معبودان دي: "وَرُوِيَ فِي غَيْرِ مُسْلِمٍ: بِالطَّوَاغِيتِ جَمْعُ طَاغُوتٍ وَهُوَ الشَّيْطَانُ وَالصَّنَمُ" په مسلم او نورو کتابون کې هم لفظ د (الطواغيت) راغلی دی چې شيطان او بوت ته ويل کيږي.

تشريح: لاتحلفوا بالطواغي: د بوتانو په نوم قسمونه مه کوئ! لکه څرنګه چې د جاهليت په زمانه کې د لات او عزى په نوم قسمونه کېدل، شريعت دا منع کړي دي، که څوک قسم کوي، نو د الله ﷻ په نوم به يې کوي، د بل چا په نوم به قسمونه نه کوي، "ولابآبائكم" او نه به د پلرونو په نوم قسمونه کوئ!

سوال: په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ خپله وفرمايل: "أفلح وأبيه" په دې کې خو رسول الله ﷺ خپله د پلار په نوم قسم وکړو، حال دا چې رسول الله ﷺ خو په پلار باندې د قسم کولو څخه منع فرمايلې ده؟

جواب: رسول الله ﷺ چې کوم قسم کړی دی، هغه د ممانعت څخه وړاندې وو، دويم جواب دا دی چې دا قسم رسول الله ﷺ قصداً او عمداً نه وو کړی، بلکې د ارادې پرته د رسول الله ﷺ په ژبه مبارکه باندې جاري شوی وو.

په لفظ د امانت باندې قسم کول

"وعن بُرَيْدَةَ رضي الله عنه: أَنَّ رسولَ اللَّـهِ ﷺ، قَالَ: مَنْ حَلَفَ بِالْأَمَانَةِ فَلَيْسَ مِنَّا" د بريدة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په امانت باندې قسم وکړي، هغه زمونږ څخه نه دی.

حديث صحيح، رواه أبوداود بإسناد صحيح

تشريح: من حلف بالامانة: چا چې په امانت قسم وکړو، د امانت څخه د اسلام فرضي ارکان مراد دي، لکه: لمونځ، حج، روژه، د توحيد کلمه، په دې باندې قسم کول هم په شريعت کې منع دي، ځکه چې قسم خالص د الله ﷻ اسم ذاتي يا په اسماء صفاتو سره کيږي، علماء فرمايي: که يو کس په امانت قسم کوي، نو اوامر او نواهي، يعنې: لمونځ روژه حج وغيره به د الله ﷻ د اسماء صفات سره مشابه جوړ شي، کوم چې صحيح نه دي

که يو کس په امانت قسم وکړي، مثلاً: دا سې ووايي: "أمانة اللّـه" د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دا به قسم جوړ شي او ددې په ماتولو سره به کفاره لازم شي، ځکه چې داسې قسم خوړل معتبر دي، ځکه چې امانت به په دې صورت کې د الله نوم جوړ شي او بيا به قسم صحيح شي، امام شافعي رحمه الله فرمايي: (امانة الله) ويلو سره به نه قسم جوړيږي او نه به ددې په ماتولو سره کفاره لازميږي.

د اسلام څخه د برائت قسم کول

"وعنه قَالَ: قَالَ رسولُ اللَّـهِ ﷺ: مَنْ حَلَفَ فَقَالَ: إِنِّي بَرِيءٌ مِنَ الْإِسْلَامِ، فَإِنْ كَانَ كَاذِبًا، فَهُوَ كَمَا قَالَ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د اسلام نه د بېزاره

کېدو قسم وکړي، نو که چېرته د هغه دا قسم د دروغو وي، هغه دده د وينا مطابق دی، "وَإِنْ كَانَ صَادِقاً، فَلَنْ يَرْجِعَ إِلَى الإِسْلَامِ سَالِماً" او که چېرته په قسم کې رښتنی وي، نو بيا به هم اسلام ته صحيح او سالم نه واپس کيږي رواه أبوداود

تشريح: إني بريء من الاسلام: زه د اسلام څخه بېزاره يم، علماء ددې حديث په تشريح کې فرمايي: که يو کس داسې ووايي چې که فلانکی کار مې وکړو، نو زه به د اسلام څخه بېزاره يم، نو اوس نه هغه په خپل قسم کې دروغجن وي، يعنې واقعي هغه دغه کار وکړو، نو هغه د اسلام څخه بېزاره شو، دا خبره به سخت ممانعت او مبالغه باندې حمل ده او که هغه دغه کار ونه وکړه، نو بيا هم د گناه څخه خبره خالي نه ده، ځکه چې دا ډول قسم خوړل په شريعت کې منع دي

دلته کوم قسم مراد دی؟

شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله فرمايي: دلته به دغه شان قسم په قسم باندې حمل کوو، ددې لپاره چې په راتلونکې زمانه کې به د يو کار متعلق کولو يا نه کولو قسم جوړ شي او ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: دا رنگ قسمونه په يمين غموس کې شمار دي، يمين غموس هغه قسم ته وايي چې په تېره شوې زمانه کې په يو کار باندې په دروغه قسم وخوړل شي، ليکن متاخرين علماء ددې قسم څخه دواړه قسمونه مراد اخلي، يعنې يمين منعقد او يمين غموس

په غير الله باندې قسم کول شرک دی

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّهُ سَمِعَ رَجُلاً يَقُولُ: لَا وَالْكَعْبَةِ، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: لَا تَحْلِفْ بِغَيْرِ اللهِ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د يو سړي نه دا خبره واورېده چې ويل يې نه داسې خبره نه ده چې په کعبې مې دې قسم وي، عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ورته وفرمايل: چوپ شه! په غير الله باندې قسمونه مه کوه؛ ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: "مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ، فَقَدْ كَفَرَ أَوْ أَشْرَكَ" څوک چې په غير الله باندې قسم کوي، هغه کفر وکړو او يا يې داسې وفرمايل: هغه شرک وکړو. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن

وفسر بعض العلماء قوله: كفر أو أشرك على التغليظ، كما روي أن النبي ﷺ قال: الرياء شرك: ځينو علماوو د نبي کريم ﷺ ددې قول چې (کفر او اشرك) تفسير داسې بيان کړی دی چې نبي کريم ﷺ دا الفاظ د سختی او زورنې په توگه وفرمايل، لکه روايت دی چې نبي کريم ﷺ د رياء کاری متعلق وفرمايل: هغه شرک دی او خپله امام ترمذي رحمه الله ددې حديث په تشريح کې ليکلي دي چې دلته د غير الله قسم داسې شرک نبودل شوی دی، لکه په نورو حديثونو کې چې رياء ته شرک ويل شوي دي، د دواړو حديثونو مطلب په حقيقت کې د شرک حکم لگول نه دي، بلکې ددې افعالو د غلط نبودلو سختې ظاهرول دي چې ددې نه دومره اجتناب وکړئ څومره چې د کفر او شرک نه کولی شي

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې که يو کس په غير الله باندې قسم وکړي، نو ددې دوه

صورتونه دي: يو دا چې د غيرالله د عظمت عقيده بې وي، نو د اکثره علماوو په نزد داسې کس مشرك دى، ځکه چې هغه د غيرالله تعظيم هغسې وکړو څنګه تعظيم چې د الله ﷻ پکار دى.

دويم صورت دا دى چې لکه څرنګه د جاهليت د زمانې رواج وو، يعنې په هغې کې د غيرالله تعظيم مراد نه وي، هسې بس د خولې نه بې وباسي، لکه څرنګه چې د نن سبا زمانې خلکو حالت دى چې د چا سره بې مينه وي، د هغه په سر قسم کوي، لکه: د بچي په سر مې قسم وي، يا ستا په سر مې قسم وي، يا ستا په ځان مې قسم وي او داسې نور ..... نو دغه ډول قسمونه خوړل هم د ګناه څخه خالي نه دي، ددې صورت باره کې امام نووي رحمه الله فرمايي. په حديث کې دغه ډول قسمونه خوړل هم په کفر او شرك سره تعبير شوي دي او دا د زجر او تنبيه په توګه ويل شوي دي.

باب تغليظ اليمين الكاذبة عمداً

قصداً په دروغه بانديې قسم کول

"عن ابن مسعود رضي الله عنه: أَنَّ النبيَّ ﷺ، قَالَ: مَنْ حَلَفَ عَلَى مَالِ امْرِءٍ مُسْلِمٍ بِغَيْرِ حَقِّهِ، لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د پردي سړي په مال باندې په دروغه قسم کوي (چې په دې سره پردى مال خپل کړي) نو داسې سړى به د قيامت په ورځ د الله ﷻ سره په داسې حالت کې مخامخ کيږي چې الله ﷻ به هغه ته په غوسه وي، "قَالَ: ثُمَّ قَرَأَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ، مِصْدَاقَهُ مِنْ كِتَابِ اللهِ ﷻ: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَناً قَلِيلاً" بيا رسول الله ﷺ د تصديق لپاره د قرآن کريم آيت (ان الذين يشترون بعهد الله وأيمانهم ثمناً قليلاً) تلاوت کړو، ترجمه: بې شکه کوم خلك چې د الله ﷻ په عهد او قسمونو په حواله لږ مال حاصلوي د هغوى په آخرت کې هيڅ حصه نشته. إِلَى آخِرِ الآيَةِ [آل عمران:۷۷] متفق عَلَيْهِ

تشريح: ددې حديث تعلق د حقوق العباد سره دى. لکه څرنګه چې په يو مسلمان باندې لازم دي چې هغه به د حقوق الله خيال ساتي، دغه شان د حقوق العباد خيال به هم ساتي، "مال امرىء مسلم" د يو مسلمان مال په دروغه قسم خوړلو سره حاصل کړي، محدثين فرمايي. په دې جمله کې تنبيه ده چې ځان ته مسلمان وايي، ځانته د رسول الله ﷺ امتي وايي او بيا هم د يو مسلمان مال ته غل وي او پردى مال په ناجائزه طريقه خوري، بل دا چې په لفظ د مسلم کې ذمي هم داخل دى، ځکه چې د دوى باره کې هم ارشاد دى: "دمائهم كدمائنا وأموالهم كأموالنا" د دوى وينې داسې حرامې دي، لکه څرنګه چې زموږ وينې حرامې دي او د دوى مالونه په ناجائزه طريقه اخيستل داسې حرام دي، لکه څرنګه چې زموږ مالونه حرام دي

وهو عليه غضبان: او الله ﷻ به هغه ته غوسه وي، ځينې علماء فرمايي الله ﷻ به ورته سزا ورکوي، خو په دې شرط چې د مرګ نه بې وړاندې توبه نه وي ويستلې، "إن الذين يشترون بعهد الله" په

قرآن کې هم د هغه حديث په شان مضمون دی، ځکه خو رسول الله ﷺ د پورتني آيت تلاوت وفرمايلو، يا د هغې وضاحت يې د دې حديث په رڼا کې وکړو.

ناحقه پردی مال اخيستل

"وعن أبي أمامة إياس بن ثعلبة الحارثي رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ قال: من اقتطع حق امرئ مسلم بيمينه فقد أوجب الله له النار، وحرم عليه الجنة" د أبو امامة اياس بن ثعلبة حارثي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې ناحقه قسم وکړو او د مسلمان حق يې وخوړلو، الله ﷻ پاك په هغه باندې د دوزخ اور واجب کړو او جنت يې پرې حرام کړو، "فقال له رجل: وإن كان شيئا يسيرا يا رسول الله؟ قال: وإن كان قضيبا من أراك" په دې خبره باندې يو صحابي پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ اگر که هغه معمولي شی وي بيا به هم دوزخ ته ځي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو! اگرچې د کيکر د ونې يوه معمولي څانگه وي. رواه مسلم

تشريح: دا حديث وړاندې په (کتاب المامورات باب تحريم الظلم) کې ذکر شوی دی، خلاصه دا چې هر څوك په دروغه قسم خوري او په دې سره د يو مسلمان مال ناحقه خوري، نو د داسې کس لپاره د جهنم اور تيار دی او جنت وړباندې حرام دی، "فقد أوجب الله له النار وحرم عليه الجنة" الله ﷻ په هغه باندې جهنم واجب کړو او جنت يې وړباندې حرام کړو.

يو سوال او د هغه جواب:

خالص دومره ويل پکار وو چې: (أوجب الله له النار) د (وحرم الله عليه الجنة) جملې ضرورت څه وو؟

علامه طيبي رحمه الله د دې جواب داسې ورکړی دی چې د دې جملې څخه "فقد أوجب الله له النار" دومره معلوم شو چې داسې کس به جهنم ته خامخا روان وي، ليکن دا نه معلومېږي چې هغه به د همېش لپاره په جهنم کې وي او که وي، نو د همېش او سېدلو لپاره دغه دويمه جمله راوړل شوه

سوال: نو ايا د يو مسلمان مال خوړلو سره به يو انسان د همېش لپاره په جهنم کې وي؟

جواب: که حرام مال يې ځانته حلال وگڼلو، نو خود به کافر وي او کافر سړی به په جهنم کې د همېش لپاره وي، بل جواب دا دی چې دا جمله د زجر او تنبيه په توگه فرمايل شوې ده، انسان ته پکار دي چې د پردي مال څخه ځان وساتي.

وان كان قضيبا من اراك: اگرچه د کيکر د څانگې برابر ولې نه وي، علامه نووي رحمه الله د دې جملې داسې تشريح کوي چې لږ مال واخيستل شي او که زيات په گناه کې سره برابر دي او اخيستل يې حرام دي، په دې کې هم تنبيه ده چې پردي مال ندې اخيستل اگرچه هرڅومره لږ وي، البته دا خانله خبره ده چې په لږ مال به سزا لږه وي او په ډېر مال به ډېره سزاوي ليکن په حرمت کې سره دواړه برابر دي

ځینې لوی ګناهونه

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قال: الكبائر: الاشراك بالله، وعقوق الوالدين" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: لوی ګناهونه دا دي چې: د الله ﷻ سره شريک جوړول او د مور پلار نافرماني كول، "وقتل النفس، واليمين الغموس" او بې ګناه مسلمان قتلول او په دروغه قسم كول. رواه البخاري

"وفي رواية له: أن أعرابيا جاء الى النبي ﷺ، فقال: يا رسول الله ما الكبائر؟ قال: الاشراك بالله قال: ثم ماذا؟ قال: اليمين الغموس" په يو بل روايت كې دي چې يو كوچی د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شو، وې ويل يا رسول الله ﷺ! لوی ګناهونه كوم كوم دي؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ سره شريک جوړول، هغه كس وويل: بيا كوم دي؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: د دروغو قسم كول، "قلت: وما اليمين الغموس؟ قال: الذي يقتطع مال امرئ مسلم!" هغه بيا وويل: يمين غموس څه شی دی؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: د دروغو داسې قسم كول چې د يو مسلمان مال په ناحقه پرې وخوړل شي، "يعني بيمين هو فيها كاذب" يعنې داسې قسم كول چې هغه پكې دروغجن وي.

لغوي تحقيق: الغموس: غموس د غمس څخه دی، غمس غوپې ته وايي، په دروغه قسم كول.

تشريح: دا حديث هم وړاندې په (كتاب المامورات باب تحريم العقوق وقطيعة الرحم) كې ذكر شوی دی، خلاصه دا چې كوم لوی ګناهونه چې په حديث كې ذكر شوي دي، په هغې كې يو يمين غموس هم دی، يمين غموس دې ته وايي چې په ماضي يا حال باندې يو كس قسم وكړي چې فلانكی كار داسې وو او حال دا چې هغه داسې نه وي، يعنې په دروغه قسم وكړي، نو دې ته يمين غموس وايي، دغسې قسم خوړونكی سخت ګناهګار دی، بس صرف توبه او استغفار دې كوي، د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد په دې باندې كفاره نشته او د امام شافعي رحمه الله په نزد په داسې كس باندې كفاره شته، په حديث كې د ناحق قتل او د دروغه قسم خوړلو څخه په سختۍ سره ممانعت راغلی دی

باب ندب من حلف على يمين فرأى غيرها خيرا منها أن يفعل ذلك المحلوف عليه ثم يكفر عن يمينه

قسم ماتول

"عن عبد الرحمان بن سمرة رضي الله عنه قال: قال لي رسول الله ﷺ: وإذا حلفت على يمين، فرأيت غيرها خيرا منها" د عبد الرحمان بن سمره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې ته د څه خبرې لپاره قسم وكړې بيا دې د هغې خلاف څه نيكي او بهتري په نظر راشي، "فأت الذي هو خير وكفر عن يمينك" نو هغه نيكي اختيار كړه او د خپل قسم كفاره اداء كړه. متفق عليه

لغوي تحقيق: كفر: كفر كفراً ددې معنى ده: يو شى پټول

تشريح: دا حديث وړاندې په (كتاب المامورات باب النهي عن سؤال الإمارة) كې ذكر شوى دى، خلاصه دا چې كه يو كس د يو شي نه قسم وخوري او بيا د كوم شي نه چې يې قسم خوړلى دى، د هغه په غير كې ورته ښه والى معلوم شي، نو پكار ده چې هغه كار وكړي او د قسم كفاره اداء كړي، مثلاً: يو كس قسم وكړي چې زه به د چا سره ښه نه كوم او دده چې غير دى يعنې ښه كول دا ښه شى دى، نو ښه دې وكړي او د قسم كفاره دې اداء كړي.

د ښه كار نه قسم كول

"وعن أبي هريرة ﷺ: أنّ رسولَ اللـهِ ﷺ، قَالَ: مَنْ حَلَفَ عَلى يَمِينٍ، فَرَأى غَيْرَهَا خَيْراً مِنْهَا" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې كوم سړى په تاسو كې د يو كار نه قسم وكړي او بيا په خلاف قسم خيره كې ځه نيكي او خير ووينې، "فَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ، وَلْيَفْعَلِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ" نو د خپل قسم كفاره دې ادا كړي او هغه كار دې وكړي چې كوم كار غوره او بهتر دى. رواه مسلم

تشريح: د حديث مطلب دا دى چې كه يو كس د يو كار ښه د نه كولو ښه قسم وخوري، بيا ورته معلومه شي چې په هغه كار كې ثواب دى او ښه هم دا ده چې هغه كار دې وكړل شي، نو قسم دې مات كړي او كار دې وكړي او د قسم كفاره دې وركړي

د قسم كفاره:

تر ټولو اول دا چې غلام دې آزاد كړي يا دې لسو مسكينانو ته سهار او ماښام ډوډۍ وركړي، يا دې لسو مسكينانو ته جامې وركړي يا دې درې ورځې مسلسل روژې ونيسي.

د قسم سره ان شاء الله ويل

"وعن أبي موسى ﷺ: أنّ رسولَ اللهِ ﷺ قَالَ: انى واللهِ إنْ شاءَ اللهُ لا أحْلِفُ عَلى يَمِينٍ، ثُمَّ أرَى خيراً مِنْهَا إلاَّ كَفَّرْتُ عَنْ يَمِينِي" د ابو موسى ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: والله ﷻ چې كه الله ﷻ وغواړي، نو زه به په ځه خبره باندې قسم ونه كړم، كه چېرته يې وكړم، بيا ماته ددې قسم ځخه خلاف خبره كې ځه بهترې ښكاره شي، "وَأَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ" نو زه به د خپل قسم كفاره وركړم، هغه بهتره خبره به اختيار كړم متفق عليه

تشريح: إن شاء اللـه لا أحلف على يمين: كه الله ﷻ وغواړي، نو زه به قسم نه كوم، مطلب دا چې كه د قسم سره متصل ان شاء الله وويل شي، نو هغه قسم نه شو او هر كله چې قسم نه شو، نو په حانث كېدو يې كفاره هم نشته، "ثم أرى خيراً منها الا كفرت عن يميني" د هغه غوره صورت ووينم نو هغه قسم مات كړم او د خپل قسم كفاره وركړم، مثلاً: يو كس ووايي چې زه به د خپل پلار سره يوه مياشت خبرې نه كوم، نو په دې صورت كې د خپل پلار سره خبرې كول ضروري دي او د خپل قسم كفاره وركول واجب

دي، که چېرته ددې قسم سره متصل ان شاء الله ووايي، نو اوس دا قسم قسم نه شو، که د خپل پلار سره يې په مباشت کې دننه خبرې شروع کړې، نو حانث هم نه دی.

په قسم باندې کلک درېدل منع دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ اللّـــهِ ﷺ: لأَنْ يَلَجَّ أَحَدُكُمْ في يَمِينِهِ في أَهْلِهِ آثَمُ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که چېرته ستاسو نه څوک د خپل کوروالا په معامله کې په خپل قسم باندې مضبوط پاتې شي، نو د الله جل جلاله په نزد دا ډېره لويه ګناه ده، "لَهُ عِنْدَ اللّـــهِ تعالى مِنْ أَنْ يُعْطِيَ كَفَّارَتَهُ الَّتي فَرَضَ اللهُ عَلَيْهِ" هغه ته پکار دي چې قسم مات کړي، د الله مقرر شوې کفاره دي اداء کړي متفق عليه

قَوْلُهُ: يَلَجَّ بفتح اللام وتشديد الجيم أي: يَتَمَادَى فِيهَا، وَلاَ يُكَفِّرُ: دا قول چې (يلج) ددې مطلب دا دی چې په قسم باندې ټينګ ولاړ وي، کفاره ورنه کړي، "وَقَوْلُهُ: آثَمُ هُوَ بالثاء المثلثة، أيْ: أَكْثَرُ إِثْماً" دا قول چې (آثم) يعني ډېر زيات ګناهګار شو.

تشريح: د اهل څخه ښځې ماشومان، مور - پلار مراد دي، د دوی باره کې يو کس قسم وخوري او بيا ورته غوره والی معلوم شي، نو په قسم باندې درېدل پکار نه دي، بلکې په داسې حال کې ښه خبره دا ده چې قسم مات کړي او بيا د قسم کفاره ورکړي

علماء فرمايي: د قسم خوړلو ډېر قسمونه دي، مثلاً: يو کس قسم وخوري چې فرض لمونځ به نه کوم، (معاذ الله) يا ووايي: شراب به څښم، نو په داسې صورت کې قسم ماتول فرض دي، يعنې لمونځ به شروع کوي او شراب به نه څښي او که چېرته د کوم مستحب کار نه کولو څخه قسم وکړي، نو په داسې صورت کې قسم ماتول مستحب دي او د مباح شي نه قسم خوړلو په صورت کې قسم ماتول مباح دي.

کفاره به د قسم ماتولو څخه وروسته ورکوي، لکه څرنګه چې دا مسلك د امام ابوحنيفه رحمه الله دی، ليکن د امام شافعي او امام احمد رحمه الله په نزد د قسم ماتولو څخه وړاندې هم کفاره ورکولی شي

باب العفو عن لغو اليمين وأنه لا كفارة فيه، وهو ما يجري على اللسان بغير قصد اليمين كقوله على العادة: لا والله، وبلى والله، ونحو ذلك

کوم کسان چې عادي قسمونه خوري په دې کې کفاره نشته

"قَالَ اللّـــهُ تعالى: لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّـــهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ الأَيْمَانَ" الله جل جلاله فرمايي: الله جل جلاله تاسو په لغوه قسمونو خوړلو باندې نه نيسي، ليکن تاسو به په هغو قسمونو نيسي چې قصداً شوي وي، "فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ" نو د داسې

قسمونو کفاره دا ده چې لسو مسکينانو ته دي درميانه ډوډۍ ورکړي، يا دي لس جوړه جامې ورکړي او يا دي يو غلام آزاد کړي، "فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ذَٰلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ وَاحْفَظُوا أَيْمَانَكُمْ" که داسې کفارې نه شي ادا کولی، نو بيا دي درې ورځې روژې ونيسي. دا ستاسو د قسمونو کفاره ده، کله چې تاسو په خپلو قسمونو کې حانث شئ او د خپلو قسمونو حفاظت وکړئ! [المائدة:۸۹].

تشريح: په آيت کې د يمين لغو بيان دی، يمين لغو د ېته وايي چې بې ارادې د ژبې څخه د قسم الفاظ ووېستل شي، ددې حکم دا دی چې په داسې قسم خوړلو نه ګناه شته او نه هم کفاره شته.

فكفارته إطعام عشرة مساكين: که کوم کس په راتلونکي زمانه کې د يو کار متعلق کولو يا نه کولو قسم وخوري، چې دا کار به کوم يا به يې نه کوم او بيا د هغې خلاف کار وکړي، نو په داسې صورت کې به کفاره واجب شي او په کفاره کې به په درې امورو کې يو امر څانته خوښ کړي، يا به لسو مسکينانو ته دوه وخته ډوډۍ ورکوي، يعنې سهار او ماښام، دومره خوراک چې د هغوی خېټه پرې مړېږي، يا يو يو مسکين ته د فطرانې په اندازه دوه دوه سېره غنم يا به ددې قيمت ورکوي يا به لسو مسکينانو ته يوه يوه جوړه جامې ورکړي او يا دي يو غلام آزاد کړي.

فمن لم يجد فصيام ثلاثة أيام: روژه نيول هغه وخت دي کله چې په دې درې شيانو کې يو هم پيدا نه شي، په څينو رواياتو کې دي چې مسلسل درې ورځې روژې به نيسي، که په دې کې يوه ورځ هم قضائي راشي، بيا به يې له سره شروع کوي، "ذالك كفارة أيمانكم إذا حلفتم" د امام ابوحنيفه رحمه الله مسلك دا دی چې د قسم کفاره د قسم ماتولو څخه وروسته واجب ده، کوم کس چې د قسم ماتولو څخه وړاندې کفاره ورکړي، هغه به معتبره نه وي. څکه چې د کفارې سبب قسم ماتول دي او تر څو پورې چې قسم مات نه وي، نو کفاره هم نشته، لکه لمونځ چې څوک د وخت څخه وړاندې وکړي، نو هغه لمونځ به څرنګه ادا شي؟

واحفظوا أيمانكم: د خپلو قسمونو حفاظت وکړئ! که جائز قسم وي، نو هغه پوره کول پکار دي، تر څو چې سخته مجبوري نه وي.

په خبرو خبرو کې قسم کول

"وعن عائشة رضي الله عنها قالت: أُنزِلَتْ هذه الآية: لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ فِي قَوْلِ الرَّجُلِ: لا والله وَبَلَى والله" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې دا آيت: "لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ" د داسې خلکو باره کې نازل شوی دی چې په خپلو خبرو کې به يې (لا والله، نه په الله جل جلاله قسم (هاء په الله جل جلاله قسم) دی. رواه البخاري

تشريح: في قول الرجل لا والله وبلى والله: د هغه کس په باره کې چې په خبرو خبرو کې وايي: نه قسم په الله، او ولې نه قسم په الله، محدثين فرمايي: د عربو عادت دا وو چې په خبرو خبرو کې به يې ويل: (لا والله، بلى والله) په دې الفاظو سره د هغه مقصد قسم کول نه وي، بلکې د تکيه کلام په توګه به يې وايي، نو د داسې کس باره کې په حديث کې ارشاد دی چې په داسې قسم سره قسم نه منعقد کېږي.

د يمين لغو په تعريف کې اختلاف

د امام شافعي رحمه الله په نزد د يمين لغو تعريف دا دی چې يو کس په ماضي يا حال يا استقبال زمانه کې قسم وخوري او د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد يمين لغو د هغه وايي چې يو کس په داسې کار باندې قسم وخوري چې د هغه په ګومان کې هغه کار هغسې وي، څرنګه چې دی ګومان کوي او حال دا چې هغه هغسې نه وي، د يمين لغو حکم دا دی چې د الله ﷻ ذات رحيم کريم دی، اميد دی چې په داسې قسمونو سره به مواخذه ونه کړي.

باب كراهة الحلف في البيع وإن كان صادقاً

په اخيستلو او خرڅولو کې رښتونی قسم کول هم مکروه دي

"عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: الحلف منفقة للسلعة، ممحقة للكسب" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې فرمايل يې: د اخيستلو او خرڅولو په وخت قسم کولو کې ګټه زياته وي، خو په داسې ګټه کې برکت نه وي متفق عليه

لغوي تحقيق: السلعة: د تجارت سامان

تشريح: الحلف منفقة للسلعة: د قسم په سر سودا زياته خرڅيږي، مطلب دا چې کوم کس په سودا کې زيات قسمونه خوري، که رښتوني وي او که دروغجن وي، وقتي طور خو به سودا ورباندې زياته خرڅه شي چې خلك به دده په قسمونو اعتبار وکړي، ليکن په داسې ګټه کې به هيڅ برکت نه وي، په يو بل روايت کې دي چې "اليمين الكاذبة منفقة للسلعة" په دروغجنو قسمونو سره مال زيات خرڅيږي، ليکن اصل خبره دا ده چې "ممحقة للكسب" د کسب/ تجارت برکت ختموي، خلاصه دا چې په قسمونو سره خو به مال زيات شي، ليکن په دې کې يوه ذره برکت هم نه وي يا به دې مال ضايع شي يا به دې بچي بيمار شي يا به خپله بيمار شي يا به دې ښځه، مور - پلار وغيره بيمار شي چې پيسې به ورباندې خرچ شي، نو کومې پيسې چې يې په قسمونو ګټلې وي، هغه ټولې به ورنه لاړې شي.

په تجارت کې د زياتو قسمونو څخه ځان وساته

"وعن أبي قتادة رضي الله عنه: أنه سمع رسول الله ﷺ يقول: إياكم وكثرة الحلف في البيع، فإنه ينفق ثم يمحق" د ابو قتادة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چې فرمايل يې: د ډېرو قسمونو خوړلو نه ځان وساتئ؛ ځکه چې په دې سره خو ګټه کيږي، ليکن بيا هم ګټه ورسره ختميږي رواه مسلم

تشريح: محدثينو ددې په حديث تشريح کې فرمايلي دي چې په تجارت کې په زياتو قسمونو سره خو به مال زيات شي، ليکن برکت به پکې نه وي، که يو کس رښتوني قسمونه وکړي چې زه خو رښتونی يم، خو دده عادت به جوړ شي چې بيا به د دروغو قسمونو څخه هم لاس نه شي اخيستلی، نو په داسې حال کې په باطني طور سره د هغه د تجارت نه برکت ختم شي، په مزه مزه د خلکو اعتماد

وربانديِ ختم شي، خلکو ته پته ولګيږي چې دا خو په هره خبره کې قسم کوي، پته نه لګيږي چې مال به راکوي او که خراب، نو د داسې کس نتيجه دا شي چې تجارت کې يې نقصان شروع شي، بل دا چې عامو فقهاوو ددې حديث څخه دا مسئله مستنبط کړې ده چې ربښتوني قسم کول مکروه دي او په دروغه قسم کول خو هسې هم حرام دي.

باب كراهة أن يسأل الإنسان بوجه الله ﷻ غير الجنة وكراهة منع من سأل بالله تعالى وتشفع به

د الله ﷻ په نامه سوال کول

"عن جابر ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: لَا يُسْأَلُ بِوَجْهِ اللّٰهِ إِلَّا الْجَنَّةُ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ په واسطه سوال نه کيږي، مګر د جنت. رواه أبوداود

لغوي تحقيق: وجه: جانب، قصد او نيت ته ويل کيږي، کوم عمل ته چې انسان متوجه وي، عزت او مرتبې ته هم ويل کيږي

تشريح: علماء فرمايي: د حديث مطلب دا دی: انسان ته پکار دي چې د الله ﷻ واسطه چاته ورنه کړي او بيا په خانګړې توګه د دنيا غوندې حقير شي د حاصلولو لپاره، البته که د الله ﷻ واسطه جوړول غواړي، نو د جنت حاصلېدو لپاره دې واسطه کړي، مثلاً: داسې دوايه چې اې الله! زه ستا په وسيله ستا څخه سوال کوم چې ماته جنت راکړې

څوک چې د الله ﷻ په نوم پناه وغواړي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: مَنِ اسْتَعَاذَ بِاللّٰهِ، فَأَعِيذُوهُ، وَمَنْ سَأَلَ بِاللّٰهِ، فَأَعْطُوهُ، وَمَنْ دَعَاكُمْ، فَأَجِيبُوهُ" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو نه چې کوم کس په الله ﷻ سره پناه وغواړي، هغه ته پناه ورکړئ او ستاسو نه چې کوم کس د الله ﷻ په واسطه سوال وکړي، هغه ته څه ورکړئ او کوم کس چې درته دعوت وکړي، نو د هغه دعوت قبول کړئ "وَمَنْ صَنَعَ إِلَيْكُمْ مَعْرُوفاً فَكَافِئُوهُ" او کوم کس چې درسره نيکي وکړي، نو هغه ته بدله ورکړئ "فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا مَا تُكَافِئُونَهُ بِهِ فَادْعُوا لَهُ حَتَّى تَرَوْا أَنَّكُمْ قَدْ كَافَأْتُمُوهُ" که چېرته هغه ته د بدلې ورکولو لپاره درسره څه نه وي، نو هغه ته دومره دعاء وکړئ چې زړه مو ووايي چې بس دی د هغه بدله پوره شوه. حديث صحيح رواه أبو داود والنسائي بأسانيد الصحيحين.

تشريح: من استعاذ بالله فأعيذوه: څوک چې د الله ﷻ په نوم سره پناه وغواړي، نو پناه ورکړه، مطلب دا چې که يو کس د چا د ذات نه يا د بلې کومې وجې نه تنګ وي او په تکليف کې وي بيا هغه کس تا ته راشي، هغه ووايي چې ما ددې تکليف څخه خلاص کړه، نو اوس د الله ﷻ د نوم تعظيم کول پکار دي او هغه ته د هغې تکليف څخه نجات ورکول پکار دي

ومن سأل اللّـه فأعطوه: څوك چې د الله ﷻ په نوم درڅخه څه شي وغواړي، نو هغه ته يې ورکړه. په دې کې علماوو دا خبره کړې ده چې که هغه واقعي فقير او غريب وي، نو بيا يې ورکړه او که ستا پوخ يقين وي چې دا خو کاريګر فقير او سوالګر دی. يعنې دده پيشه هم دا ده چې سوال کوي، چې د خوارۍ مزدوري نه کوي، نو بيا هغه ته ورکول پکار نه دي، ددې لپاره چې د هغه حوصله شکنې وشي.

فادعوا له: که څه نه ورکوئ، نو بيا هغه ته دعاء وکړئ، په يو بل حديث کې دي چې هغه ته جزاك الله خيراً، ووايه او په يو بل روايت کې دي چې دا جمله وويل، نو هغه ډېره ښکلي بدله ورکړه، ځکه چې په دې جمله کې هغه کس الله ﷻ ته وسپارل شو او الله ﷻ تر ټولو ښکلی او غوره بدله ورکونکی دی.

باب تحريم قوله: شاهنشاه للسلطان وغيره لأن معناه ملك الملوك، ولا يوصف بذلك غير الله سبحانه وتعالى

د شهنشاه نوم ايښودلو حرمت

"وعن أبي هريرة ﷺ عن النبي ﷺ قال: إِنَّ أَخْنَعَ اسْمٍ عِنْدَ اللّـهِ ﷻ رَجُلٌ تَسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ په نزد هغه سړی ډېر زيات ذليل دی چې په خپل ځان باندې ملك الاملاك (د بادشاهانو بادشاه) نوم ږدي. متفق عليه

قال سُفيانُ بن عُيَيْنَةَ: مَلِكُ الْأَمْلَاكِ مِثْلُ: شَاهِنْ شَاهِ: سفيان بن عيينه ﷺ فرمايي: ملك الاملاك هم د شهنشاه په شان نوم دی.

تشريح: إن اخنع اسم عند اللّـه عزوجل: تر ټولو ډېر خراب نوم دی، مطلب دا چې الله ﷻ ته عاجزي خوښه ده، غرور يې نه خوښيږي، د شهنشاه نوم په ايښودلو سره انسان کې د عاجزۍ پر ځای تکبر پيدا کيږي، د لفظ شهنشاه معنی ده (د بادشاهانو بادشاه) دا د الله ﷻ صفت دی چې د الله ﷻ سره خاص دی، په دې صفت کې د الله ﷻ سره د هيڅ مخلوق د شرکت وهم او ګومان هم نه شي کېدی.

باب النهي عن مخاطبة الفاسق والمبتدع ونحوهما بِسَيِّدٍ ونحوه

منافق او بدعتي سړی مشر جوړول حرام دي

"عن بُرَيْدَةَ ﷺ قال: قال رسول اللّـه ﷺ: لَا تَقُولُوا لِلْمُنَافِقِ سَيِّدٌ، فَإِنَّهُ إِنْ يَكُ سَيِّدًا فَقَدْ أَسْخَطْتُمْ رَبَّكُمْ ﷻ" د بريده ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو منافق سړي ته مشر مه وايئ، که هغه په حقيقت کې هم مشر وي، نو بيا هم تاسو په دې خبره خپل رب ناراضه کوئ، رواه أبوداود بإسناد صحيح.

لغوي تحقيق: اسخطتم: غوسه کېدل، په غوسه کې راتلل، يعنې تاسو الله ﷻ ناراضه کړو

تشريح: لا تقولوا للمنافق سيد: منافق سړي ته سيد مه وايئ، سيد سردار او مشر ته وايي، ظاهره

خبره ده چې منافق سړی مشر نه شي جوړېدلی، اګر چې هغه سړی في نفسه په خپل قوم کې مشر وي، خو د دې باوجود بيا به هم هغه ته سيد نه وايي، ځکه چې په دې سره الله ﷻ د ېر سخت ناراضه کېږي، ځکه چې سيد لفظ د تکريم او عزت لپاره استعمالېږي او منافق سړی د اهانت قابل وي، علماوو کافر او ګمراه سړی هم په دې کې شمار کړی دی چې کافر او ګمراه سړي ته سيد ويلو سره الله ﷻ ناراضه کېږي

سوال: په حديث کې خالص منافق سړی ولې ذکر شو، په دې کې خو ټول باطل خلك داخل دي؟

جواب: د منافق سړي ذکر په خصوصي توګه ځکه وشو چې منافق سړي ته خلک په ظاهره مسلمان وايي، نو ځکه عام خلك د هغه په تعريف کې مبتلا کېدل. شريعت هم د منافق سړي ذکر وکړو چې هغه ته مشر مه وايئ!

باب كراهة سب الحمّى

تبې او بيمارۍ ته ښيرا کول مکروه دي

"عن جابر ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ دَخَلَ عَلَى أُمِّ السَّائِبِ، أَوْ أُمِّ الْمُسَيَّبِ فَقَالَ: مَا لَكِ يَا أُمَّ السَّائِبِ - أَوْ يَا أُمَّ الْمُسَيَّبِ - تُزَفْزِفِينَ؟" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ ام سائب او يا ام المسيب ﷺ کره تشريف يوړو، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: اې سائب يا ام المسيب ﷺ تاسو ولې دومره لړځېږئ؟ "قَالَتْ: الْحُمَّى لَا بَارَكَ اللهُ فِيهَا!" هغې ووېل: تبې نيولی يم. الله ﷻ دې په دې کې برکت نه اچوي، "فَقَالَ: لَا تَسُبِّي الْحُمَّى فَإِنَّهَا تُذْهِبُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ كَمَا يُذْهِبُ الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: تبې ته ښيرې مه کوه! ځکه چې په دې سره ګناهونه داسې رژېږي، لکه څنګه چې د بټۍ (بټی) اور د اوسپنې زنګ لرې کوي. رواه مسلم

تُزَفْزِفِينَ أَيْ تَتَحَرَّكِينَ حَرَكَةً سَرِيعَةً، وَمَعْنَاهُ: تَرْتَعِدُ. وَهُوَ بِضَمِّ التَّاءِ وَبِالزَّايِ الْمُكَرَّرَةِ وَالْفَاءِ الْمُكَرَّرَةِ، وَرُوِيَ أَيْضاً بِالرَّاءِ الْمُكَرَّرَةِ وَالْقَافَيْنِ: دا قول چې (تزفزفين) ددې معنی ده: لړځېدل او په تيزۍ سره حرکت کول.

لغوي تحقيق: الكير: د آهنګر، لوهار، بټی ته وايي

تشريح: علماء فرمايي: په بيمارۍ، تکليفونو او سختۍ سره د انسان ګناهونه معاف کېږي، نو ځکه دغو شيانو ته بد رد ويل پکار نه دي، بلکې د الله ﷻ د تقدير او مشيت برخه ګڼل يې پکار دي، ځوك چې بد رد وايي هغه د الله ﷻ په تقدير د ناخوښۍ اظهار کوي. البته ددې دا مطلب هم نه دی چې بيمارۍ يا تکليف لرې کولو کوشش دې هم ونه شي، په جائزه طريقه د هغې دفع کول هم سنت دي.

باب النهي عن سب الريح، وبيان ما يقال عند هبوبها

باد (سېلۍ) ته ښېرې کول منع دي

"عن أبي المنذر أبي بن كعب ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: لَا تَسُبُّوا الرِّيحَ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ مَا تَكْرَهُونَ، فَقُولُوا: اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ

مِنْ خَيْرِ هٰذِهِ الرِّيحِ وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَخَيْرِ مَا أُمِرَتْ بِهِ" د أبو المنذر ابي بن كعب ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: باد سبلى ته ښيرې مه كوئ كله چې تاسو په دې كې د نقصان كومه خبره ووينئ، نو داسې دعا كوئ: اې الله! موږ ستا نه ددې هوا د خير او د هغه خير سوال كوو چې په دې كې وي او د هغه خير سوال هم كوو د كوم لپاره چې رالېږل شوې وي، "وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هٰذِهِ الرِّيحِ وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُمِرَتْ بِهِ" او اې الله! موږ په تا سره پناه غواړو ددې هوا د شر نه او د هغه شر نه چې په دې هوا كې وي او د هغه شر نه هم چې د كوم لپاره راليږل شوې ده. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: فإذا ريتم ماتكرهون: كله چې تاسو كوم ناخوښه كار ووينئ، نو په دې وخت كې هغه پورتنى دعاء ووايئ، "خير هذه الريح" هغه خير چې په دې سبلى كې دى، ددې څخه وريځې جمع كېدل او باران وربدل مراد دي، "ما أمرت به" ددې څخه د ظالمانو تباهي مراد ده، لكه د عاد او ثمود وغيره قومونه چې هغوى يې په هوا سره تباه كړل.

لا تسبوا الريح: هوا ته ښيرې مه كوئ: علماوو په دې كې يوه نكته بيان كړې ده، هغه دا چې كله لفظ د ريح مفرد استعمال شي، نو عموماً د عذاب لپاره استعماليږي او كله چې لفظ د جمع يعني رياح ذكر شي، نو بيا عموماً د رحمت لپاره استعماليږي.

هوا ته بدرد مه وايئ

"وعن أبي هريرة ﷺ قال: سمعتُ رسُولَ اللهِ ﷺ يقولُ: الرِّيحُ مِنْ رَوحِ اللهِ، تَأْتِي بِالرَّحْمَةِ، وَتَأْتِي بِالْعَذَابِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: هوا او سبلى د الله ﷻ رحمت دى چې د الله ﷻ رحمت هم راوړي او عذاب هم راوړي، "فَإِذَا رَأَيْتُمُوهَا فَلَا تَسُبُّوهَا، وَسَلُوا اللهَ خَيْرَهَا، وَاسْتَعِيذُوا بِاللهِ مِنْ شَرِّهَا" كله چې تاسو تېزه هوا ووينئ، نو ښيرې، كنځلې ورته مه كوئ او د الله ﷻ نه ددې د خير او نيكى غوښتنه كوئ او په الله ﷻ سره ددې د شر نه پناه غواړئ؛ رواه أبوداود بإسناد حسن.

قوله ﷺ: مِنْ رَوْحِ اللهِ هو بفتح الراء: أي رَحْمَتِهِ بِعِبَادِهِ: دا قول چې (من روح الله) دى، يعني د الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې يو خاص رحمت دى.

لغوي تحقيق: تسبوها: ښيرې كول، كنځلې كول.

تشريح: فلاتسبوها: هوا ته كنځلې مه كوئ علماء فرمايي. تور طوفان او سختې هواګانې د نافرمانو خلكو لپاره د تباهى ذريعه وي، نو هغه هم په حقيقت كې د الله ﷻ رحمت وي، ځكه چې په دې سره نافرمان او ګمراه خلك الله ﷻ تباه كوي او الله ﷻ خپل نېك بندګان ساتي. لكه څرنګه چې د نوح عليه السلام په قوم باندې طوفان راغلى وو، نو هغه خالص په نافرمانو خلكو باندې راغلو. الله ﷻ ترې خپل نېك بندګان بچ كړل، نو ځكه په حديث كې دې خبرې ته ترغيب وركول شوى دى چې كله هم هوا چليږي، نو د الله ﷻ نه د خير سوال پكار دى، داسې ويل پكار دي چې اې الله! ددې هوا په ذريعه په موږ باندې رحمت نازل كړې

د طوفان پرمهال بله دعاء

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كان النبي ﷺ إذا عصفت الريح قال: اللهم إني أسألك خيرها وخير ما فيها وخير ما أرسلت به" د عائشې ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې كله به هوا تېزه شوه، نو رسول الله ﷺ به داسې دعاء كول اې الله! زه ستا نه ددې سېلۍ د خير باره كې سوال كوم او د هغه خير سوال كوم چې پكې دى او د هغه خير سوال هم كوم چې د څه لپاره رالېږل شوې ده، "وأعوذ بك من شرها وشر ما فيها وشر ما أرسلت به" او اې الله زه پناه غواړم په تا سره ددې سېلۍ د شر نه، د هغه شر نه هم چې پكې دى او د هغه شر نه هم چې ددې لپاره دې رالېږلې ده. رواه مسلم

تشريح: علماء فرمايي: هوا هم د الله ﷻ لوى نعمت دى، الله ﷻ په دې كې ډېرې لويې ګټې انسانانو ته ايښي دي، نو هوا ته بدرد ويل پكار نه دي، البته ددې په ذريعه كله كله د الله ﷻ عذاب هم راځي، نو موږ ته پكار دي چې د الله ﷻ نه ددې خير وغواړو او په الله ﷻ سره ددې د شر نه پنا وغواړو.

باب كراهة سب الديك

چرګ ته كنځل كول مكروه دي

"عن زيد بن خالد الجهني ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: لا تسبوا الديك فإنه يوقظ للصلاة" د زيد بن خالد جهني ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چرګ ته كنځل مه كوئ ځكه چې دا سړى لمانځه ته رابيداره كوي. رواه أبوداود بإسناد صحيح

تشريح: يوقظ للصلوة: خلك لمونځ ته ويښوي، د ځينو علماوو رايه دا ده چې د لمانځه څخه د تهجدو لمونځ مراد دى، لكه څرنګه چې د رسول الله ﷺ باره كې راځي چې دوى به هغه وخت د تهجدو لپاره پاځېدل كله چې به چرګ اذان وكړو، د ځينو نورو رايه دا ده چې ددې څخه د سهار لمونځ مراد دى، يعنې چرګ په خپل اذان سره خلك د سهار لمانځه ته ويښوي، علماوو ددې حديث څخه يوه د تعجب خبره ليكلې ده، هغه دا چې كله په ځاروي كې ښكلې خصلت وي، نو هغه ته بد رد ويل پكار نه دي، نو بيا مؤمن سړي ته بد رد ويل به څرنګه جائز شي، ځكه چې په يو مسلمان كې خامخا څه نا څه ښه خصلت موجود وي

باب النهي عن قول الإنسان: مُطِرنا بنوء كذا

باران كې د ستورو لپاره هيڅ دخل نشته

"عن زيد بن خالد ﷺ قال: صلى بنا رسول الله ﷺ صلاة الصبح بالحديبية في إثر سماء كانت من الليل، فلما انصرف أقبل على الناس" د زيد بن خالد ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ موږ ته د سهار لمونځ راكړو، په حديبية مقام كې د شپې باران هم شوى وو، كله چې رسول الله ﷺ سلام وګرځولو،

خلکو ته يې مخ کړو، "فَقَالَ: هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟ قَالُوا: اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو پوهېږئ چې ستاسو رب څه ويلي دي؟ صحابه کرامو وفرمايل: الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ډېر ښه پوهېږي، "قَالَ: قَالَ: أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي، وَكَافِرٌ، فَأَمَّا مَنْ قَالَ: مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللّٰهِ وَرَحْمَتِهِ، فَذٰلِكَ مُؤْمِنٌ بِي كَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ فرمايلي چې دوه قسمه خلک سهار کړي: يو په ما باندې ايمان راوړونکي وي او بل په ما باندې کفر کوونکي وي، هر چې مؤمن دی، نو هغه وايي چې په موږ باندې د الله ﷻ په فضل سره باران وشو، نو داسې کس په ما باندې مؤمن دی او په ستورو باندې کافر (منکر) دی، "وَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا، فَذٰلِكَ كَافِرٌ بِي مُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ" او کوم کس چې ووايي: په موږ باندې د فلانکي فلانکي ستورې په وجه باران وشو، نو داسې کس په ستورو ايمان لري او په ما باندې کافر دی، "متفق عليه وَالسَّمَاءُ هُنَا: الْمَطَرُ" دلته د آسمان نه مراد باران دی.

تشريح: مطرنا بنوء كذا وكذا: په موږ باندې باران فلانکي او فلانکي ستورې وکړو، په دې حديث کې د ستورو مؤثر بالذات ګڼلو عقيده باطلول مقصود ده. داسې عقيده ساتل کفر او شرک دی، امام نووي رحمه الله فرمايي: د باران نسبت ستورو ته صريحي کفر او شرک دی او که د باران نسبت ستورو ته د يوې علامې په توګه وشي، نو بيا به کفر نه وي، خو بيا هم داسې الفاظ ويل غلط دي.

مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله فرمايي: په حديث کې حقيقي او مجازي کفر دواړه مراد کېدی شي، که حقيقي کفر مراد شي، نو بيا ددې تائيد په "فيصبحوا مشركين" چې هغوی مشرکان شول الفاظو سره کېدی شي کوم چې په ځينو رواياتو کې راغلي دي او که مجازي کفر مراد شي، نو د نسائي په روايت سره (کفر نعمتي) الفاظ راغلي دي، دا به هغه وخت وي چې کله ستورې مؤثر بالذات وګڼل شي، ابن قتيبه رحمه الله فرمايي: په عربو کې دوه ډوله خلک وو، ځينو به ستورې مؤثر بالذات ګڼل او ځينو به د تجربې په طور محض علامې ګڼل، د لومړي قسم څخه تعبير په کفر او شرک سره وشو او د دويم قسم څخه تعبير په کفران نعمت سره وشو، نو دلته د لفظ کفر څخه دواړه معناګانې مراد کېدی شي، ددې لپاره چې د عربو دواړه طبقې په حديث کې شاملې شي.

باب تحريم قوله لمسلم. يا كافر

مسلمان ته کافر ويل حرام دي

"عن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: إِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِأَخِيهِ: يَا كَافِرُ، فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې يو سړی خپل مسلمان ورور ته ووايي: اې کافره! نو دا الفاظ به په يو باندې خامخا صادقېږي، "فَإِنْ كَانَ كَمَا قَالَ وَإِلَّا رَجَعَتْ عَلَيْهِ" که چېرته هغه کس هم هغسې وي، څرنګه چې هغه ورته ويلي وي نو صحيح ده او که داسې نه وي، نو بيا ده ته دغه الفاظ واپس کېږي. متفق عليه

لغوي تحقيق: باء: واپس کېدل.

تشريح: علماء فرمايي: لکه څرنګه چې د نيکو اعمالو په وجه يو کافر ته څوك مسلمان نه شي وېلی، دغه شان يو مسلمان ته د ګناه په وجه کافر ويل ګناه ده، په اسلام کې يو کافر ته مسلمان ويل يا مسلمان ته کافر ويل په سختۍ سره منع دي، د حديث ظاهري مفهوم دا دی چې که يو مسلمان بل مسلمان ته کافر ووايي او په حقيقت کې هغه کافر نه وي، نو دی خپله کافر شو، چا چې بل ته کافر ويلی وي، حال دا چې په دې سره انسان نه کافر کېږي، په دې حديث کې علماوو داسې تاويل کړی دی چې که يو کس بل کس ته کافر ووايي، نو که دا ځانته حلال وګڼي، نو خپله به کافر شي، ځکه چې حرام نه يې حلال وويل يا دا مطلب چې که يو کس بل ته کافر ووايي او هغه کافر نه وي، نو هغه ته خو به هيڅ نقصان ونه رسيږي، البته ځان به ګناهګار کړي.

چا ته کافر يا د الله ﷻ دښمن ويل ګناه ده

"وعن أبي ذر ﷺ: أنه سمع رسول الله ﷺ يقول: مَنْ دَعَا رَجُلاً بِالْكُفْرِ، أو قال: عَدُوَّ الله، وَلَيْسَ كَذٰلِكَ إِلاَّ حَارَ عَلَيْهِ" د ابو ذر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايي: کوم کس چې بل سړي ته ووايي: اې کافره! يا داسې ورته ووايي چې د خدای دښمنه! حال دا چې هغه داسې نه وي، نو دغه الفاظ ده ته واپس کېږي. **متفق عليه**

لغوي تحقيق: "حَارَ: رَجَعَ" د حار معنی ده: رجوع کول او واپس کېدل.

تشريح: کوم مسلمان ته کافر ويل يا د الله ﷻ دښمن ويل په شريعت کې حرام دي، البته که د هغه نه داسې کوم کار يا خبره وشي چې په هغې سره انسان کفر ته رسيږي، نو بيا په هغه باندې د کفر فتوی ورکول جائز دي، د دې لپاره چې مسلمان د دې فتنې څخه محفوظ پاتې شي.

دغه شان په بل مسلمان باندې لعنت ويل هم حرام دي، په يو روايت کې دي چې کله يو مسلمان په بل مسلمان لعنت ووايي، نو هغه لعنت آسمان ته خيژي، کله چې د هغه ځای دروازې بندې ووينې، نو بيا چې په چا لعنت ويل شوی دی، که هغه د دې مستحق وي، په هغه راځي او که هغه يې مستحق نه وي، نو بيا چې چا لعنت ويلی وي د هغه په سر راپرېوځي.

باب النهي عن الفحش وبذاء اللسان

د فحش او بدو خبرو څخه منع شوې ده

"عن ابن مسعود ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مؤمن سړي شان دا دی چې طعن تشنيع کوونکی نه وي، "وَلاَ اللَّعَّانِ" نه هم لعنت کوونکی وي، "وَلاَ الْفَاحِشِ" نه هم فحش وينا کوونکی وي، "وَلاَ الْبَذِيءِ" او نه هم خرابه وينا د هغه عادت وي. رواه الترمذي وقال: حديث حسن.

تشريح: دا حديث وړاندې په (كتاب الامور والمنهي عنها او په باب غلظ تحريم شهادة الزور) كې ذكر شوى دى، د حديث خلاصه دا ده چې كه د كامل ايمان لپاره اخلاق جوړول ضروري دي نو د غه شان د بدو اخلاقو ښخه ځان ساتل هم د ايمان يوه بنيادي برخه ده.

د بې حياء خبرو څخه ځان ساتل

"وعن أنس ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: مَاكَانَ الْفُحْشُ فِي شَيْءٍ إِلاَّ شَانَهُ" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: فحش شى چې په هر شي كې وي د هغه حيثيت ختموي، "وَمَاكَانَ الْحَيَاءُ فِي شَيْءٍ إِلاَّ زَانَهُ" او په هر شي كې چې حياء وي هغه ښايسته كوي. رواه الترمذي وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق: زان: زان يزين زيناً: باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: ښايسته كول.

تشريح: ددې حديث په تشريح كې علامه طيبي رحمه الله فرمايي: فحش يعني بد اخلاقي، بدزباني او بې حياء خبرې كول ددې په مقابل كې حياء، نرمې خبرې كول او ښه اخلاق استعمالول. ددې تاثير يې د مبالغې په توګه ذكر كړو. كه بالفرض فحش او بې حيايي په كوم كاڼي يا لرګي كې هم پيدا شي، نو هم به عيب پكې پيدا كيږي، بل دا چې سختې خبرې كول او بد اخلاقي استعمالول به په شخصيت كې عيب پيدا كوي، دغه شان نرمې خبرې كول او ښه اخلاق استعمالول هم په شخصيت كې وقار او عزت پيدا كوي.

باب كراهة التقعير في الكلام بالتشدق فيه وتكلف الفصاحة واستعمال وحشي اللغة ودقائق الإعراب في مخاطبة العوام ونحوهم

په تكلف سره خبرې كول مكروه دي

"عن ابن مسعود ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُونَ قَالَهَا ثَلاَثاً" د عبد الله بن مسعود ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مبالغه كونكي او تكلف كونكي خلك په هلاكت كې دي، نبي كريم ﷺ دا جمله درې ځله وفرمايل. رواه مسلم.

الْمُتَنَطِّعُونَ: الْمُبَالِغُونَ فِي الأُمُورِ: د (المتنطعون) معنى ده. مبالغه او تكلف كونكي خلك.

لغوي تحقيق: تنطع في الكلام: په خبرو كې د مبالغې څخه كار اخيستل.

تشريح: دا حديث هم وړاندې په (كتاب المامورات باب في الاقتصاد في العبادة) كې ذكر شوى دى، علامه خطابي رحمه الله فرمايي: كوم خلك چې له ځانه په زوره خبرې راوباسي او خبرې جوړوي، ددې لپاره چې د فصاحت او بلاغت څخه كار واخلي، نو د داسې كسانو لپاره د هلاكت دعاء شوې ده، علامه ابن اثير رحمه الله فرمايي: ددې نه هغه خلك مراد دي چې د ډېرې غټې غټې خبرې كوي او په خبرو كې د مبالغې څخه كار اخلي، خپله خوله په خبرو كې تاووي او راتاووي، "قالها ثلاثاً" دا جمله

بې درې ځله وفرمايل، د درې ځله ويلو وجه دا ده چې د مبالغې او تکلف ځخه د خلکو په زړونو کې نفرت پيدا کيږي.

د مبالغې ځخه ډکې خبرې الله ﷻ ته ناخوښې دي

"وعن عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قال: إِنَّ اللهَ يُبْغِضُ الْبَلِيغَ مِنَ الرِّجَالِ الَّذِي يَتَخَلَّلُ بِلِسَانِهِ كَمَا تَتَخَلَّلُ الْبَقَرَةُ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ته هغه سړی زيات ناخوښ دی چې د بلاغت پيدا کولو لپاره خپله ژبه تاووي او راتاووي، لکه ځرنګه چې غوايې د واښو خوړلو په وخت کې خپله ژبه اړوي او را اړوي. رواه أبو داود والترمذي وقال: حديث حسن.

تشريح: ان الله يبغض البليغ من الرجال: الله ﷻ هغه کسان نه خوښوي چې په خبرو کې د مبالغې ځخه کار اخلي، خلاصه دا چې د حد ځخه زيات د فصاحت او بلاغت مظاهره کول د مبالغې ځخه کار اخيستل او الفاظ په خوله کې اړول او رااړول، غټې غټې خبرې کول په شريعت کې ښه کار نه دی، د داسې خلکو سره الله ﷻ مينه نه کوي، هغه خبرې خوند کوي چې د ضرورت مطابق او صفا وي، کومې خبرې چې سيده او ساده وي هغه خبرې په زړه باندې ډېر زيات اثر کوي او کومې خبرې چې د مبالغې ځخه ډکې وي، نو وقتي طور خو خلک ورباندې خوشحاله شي، ليکن بيا يې په زړه باندې اثر نه وي.

ښکلي اخلاق

"وعن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قال: إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي مَجْلِساً يَوْمَ الْقِيَامَةِ، أَحَاسِنَكُمْ أَخْلَاقاً" د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې ډېر خوښ او د قيامت په ورځ به ماته نژدې هغه کس وي چې اخلاق يې ښکلي وي، "وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ إِلَيَّ، وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، الثَّرْثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ وَالْمُتَفَيْهِقُونَ" او په تاسو کې ماته ډېر ناخوښه او د قيامت په ورځ زمانه لرې به هغه کس وي چې جوولو جوولو سره خبرې کوي او د خلکو سره اوږدې اوږدې خبرې کوي او خپلې خبرې ډېرې خپروي او په متکبرانه انداز کې تقريرونه کوي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن. وقد سبق شرحه في بَابِ حُسْنِ الْخُلُقِ.

لغوي تحقيق: اخلاق: اخلاق جمع د خلق ده، ددې معنی عادت.

تشريح: دا حديث ددې ځخه وړاندې په (کتاب الماموراتباب حسن الخلق) کې ذکر شوی دی، د الفاظو مختصره تشريح دا ده چې "ثرثارون" ثرثار جمع ده: ددې معنی ده په تکلف سره خبرې کول.

متشدقون: جمع د (متشدق) ده، ددې معنی ده: په خلاصه خوله باندې غټې غټې خبرې کول

متفيهقون: دا د (متفيهق) جمع ده، ددې معنی ده: اوږدل، ددې نه مراد هغه خلک دي چې په ډکه

خوله رګونه خلاص کړي او خبرې کوي، دا ټول الفاظ دي ته اشاره کوي چې په خبرو کې تکلف کول حرام دي او ګناه ده.

د حديث څخه معلومه شوه چې د اخلاقو په کمال کې دا خبره هم داخله ده چې په خپلو خبرو کې بايد انسان د تکلف څخه ځان وساتي، بل دا چې انسان ته پکار دي چې کله خبرې کوي، نو د بلاغت او فصاحت څخه ځان وساتي، بلکې سيده او ساده او عام فهمې خبرې بايد وکړي

باب كراهة قوله: خَبُثَتْ نَفْسِي

خپل ځان ته خبيث ويل مکروه دي

"عن عائشة رضى الله عنها، عن النبي ﷺ، قال: لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ: خَبُثَتْ نَفْسِي" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: په تاسو کې دې يو کس هم داسې نه وايي چې زما نفس خبيث شو، "وَلٰكِنْ لِيَقُلْ: لَقِسَتْ نَفْسِي" بلکې داسې دې ووايي: زما نفس وران شو. متفق عليه

قَالَ الْعُلَمَاءُ: معنى خَبُثَتْ: غَثَتْ: عالمانو فرمايلي دي: د خبثت معنى ده: خرابېدل، "وَهُوَ معنى: لَقِسَتْ وَلٰكِنْ كَرِهَ لَفْظَ الْخُبْثِ" او لفظ د قست هم اګرچې ددې هم معنى دی، ليکن بيا هم د ځان لپاره خبيث لفظ استعمال بد ګڼل شوي دي، که څېرته خامخا ويل وي، نو لفظ د (قست نفسي) ويل پکار دي

تشريح: علماء فرمايي: خبيث او لقست دواړه هم معنى الفاظ دي، ليکن په حديث کې ددې جمله ويلو څخه منع شوې ده چې انسان بايد خپل ځان ته داسې ونه وايي: (خبثت نفسي) بلکې داسې ويل پکار دي چې (لقست نفسي) ځکه چې په خبثت کې د قباحت الفاظ موجود دي او په لقست کې قباحت نشته.

علامه خطابي رحمه الله فرمايي: شريعت انسانانو ته د خبرو چل هم ښودلی دی، په دې کې دا اصول بيان شوي دي چې ښه الفاظ استعمالوه او د بدو الفاظو د استعمال څخه ځان وساته، دا دواړه اګرچې هم معنى الفاظ دي، خو بيا هم ځان ساتل ترې پکار دي.

باب كراهة تسمية العنب كرماً

انګورو ته کرم ويل مکروه دي

"عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: لَا تُسَمُّوا الْعِنَبَ الْكَرْمَ، فَإِنَّ الْكَرْمَ الْمُسْلِمُ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: انګورو ته کرم مه وايئ، ځکه چې کرم لفظ د مسلمانانو سره لګيږي. متفق عليه، وهذا لفظ مسلم

وفي رواية: فَإِنَّمَا الْكَرْمُ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ: او په يو روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: کرم خو صرف د مؤمن سرې زړه دی، "وفي رواية للبخاري ومسلم: يَقُولُونَ الْكَرْمُ، إِنَّمَا الْكَرْمُ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ" او په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: خلك انګورو ته کرم وايي او حال دا چې کرم صرف د مؤمن سرې زړه دی.

تشريح: د حديث خلاصه دا ده چې انګورو ته عنب ويل پکار دي، يعنې خپل نوم ورته اخيستل پکار دي، نه دا چې کرم ورته وويل شي، ددې حديث شان ورود دا دی چې د جاهليت په زمانه کې به عربو چې څوك شراب وڅښې، نو په هغه کې سخاوت، همت او پاکيزګي پيدا کيږي، ليکن کله چې شريعت شراب څښل حرام کړل، نوا نګورو ته کرم ويل هم منع شو، ځکه چې دا خبره غلطه ده چې څوك د انګورو شراب وڅښې، نو په هغه کې د سخاوت، همت او پاکيزګی په څېر صفتونه پيدا کيږي، دومره ښکلی نوم يو داسې شي ته اېښودل چې شريعت حرام کړي وي هيڅ مناسب نه دي

فإن الكرم قلب المؤمن: کرم داسې ښکلی او جامع نوم دی چې د خپلې وسيع معنی او مفهوم په لحاظ ټول خير او ټولو برکتونو ته شامل دی. د مؤمن زړه کرم دی، په دې معنی سره د مؤمن زړه ځکه کرم کېدلی شي چې هغه هم د تقوی پرهېزګاری او د هدايت رڼا مرکز او منبع دی.

انګوروته عنب يا حبله ويل پکاردي

"وعن وائل بن حُجرٍ رضي الله عنه، عن النبيِّ صلى الله عليه وسلم، قال: لَاتَقُولُوا: الكَرْمُ، وَلٰكِنْ قُولُوا: العِنَبُ، والحَبَلَةُ" د وائل بن حجر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: انګورو ته کرم مه وايئ، بلکې داسې وايئ چې (العنب يا الحبلة) "رواه مسلم. الحَبَلَةُ بفتح الحاء والباء، ويقال أيضاً بإسكان الباء" لفظ د (الحبلة) په فتحې د (ح او ب) سره دی او په سکون د (ب) سره هم ويل کيږي

تشريح: ولكن قولوا العنب والحبلة: بلکې انګورو ته عنب يا حبله وايئ، حبله د انګورو ونې ته وايي، ځينې وايي: د انګورو جرړې يا شاخ ته ويل کيږي، ځينې وخت مجازاً انګورو ته حبله ويل کيږي. علامه ابن الجوزي رحمه الله فرمايي: د انګورو شرابو ته کرم ويل کيږي، خو په شريعت کې دا نوم ويل منع شوي دي، ځکه چې د جاهليت په زمانه کې به خلکو دا عقيده ساتل چې څوك د انګورو شراب وڅښې، نو د هغه په زړه کې سخاوت او ځوانمردي پيدا کيږي، نو د شرابو په مذمت کې داسې مدحيه الفاظ استعمالول انګورو ته هم منع شو، وجه يې دا ده چې د شرابو ځخه پوره نفرت په زړونو کې راسخ شي، نو ځکه شراب په ښو الفاظو سره يادول هم منع شو.

باب النهي عن وصف محاسن المرأة لرجل إلّا أن يحتاج إلى ذلك لغرض شرعي كنكاحها ونحوه

پردي سړي ته د پردو ښځو بدني صفتونو بيانولو حرمت

"عن ابن مسعودٍ رضي الله عنه، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لَاتُبَاشِرِ المَرْأَةُ المَرْأَةَ، فَتَصِفَهَا لِزَوْجِهَا كَأَنَّهُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يوه ښځه دې د بلې ښځې د جسماني اعضاوو نقشه د خپل خاوند په وړاندې داسې نه بيانوي لکه هغه چې ښځې ته په خپله ګوري. متفق عليه

تشريح: لاتباشروا: يوه ښځه دې د بلې ښځې سره مباشرت نه کوي، د مباشرت معنی ده: دوه جسمونه يو ځای کول يا صرف ليدل او کتل، علماء فرمايي: په حديث کې د لفظ مباشرت څخه دواړه معناګانې مراد کېدی شي، اصلي معنی هم مراد کېدی شي يعنې چې يو جسم د بل جسم سره متصل شي او مجازي معنی هم مراد کېدی شي، يعنې صرف ليدل او يو بل ته مخامخ کېدل، اصلي معنی خو بې دا ده چې يو بدن د بل بدن سره پيوست شي، نو د هغې ټول ښايست او خوبی ورته معلومې شي. خلاصه دا چې که يوه ښځه د بلې ښځې سره څېرته پيوست شي چې په هره معنی سره (حقيقي وي او که مجازي) وي، نو د هغې د بدن خوبی، ښايست او ډول سنګار وغيره خپل خاوند ته بيانولو باندې سخت وعيد راغلی دی او دا ډېر سخت عيب ناک حرکت دی، بلکې په دې کې د دې خبرې خطر دی چې کېدی شي د هغې ښځې خاوند د هغې ښځې په طلب کې شي، د کومې ښځې تعريف چې ورته د خپلې ښځې له طرفه کيږي، يا کم نه کم دومره خو به وشي چې د هغې ښځې ګنده او خراب سوچونه به د ده سړي په زړه او دماغو کې ګرځي.

باب کراهة قول الإنسان: اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي إِنْ شِئْتَ بل يجزم بالطلب

په دعاء کې داسې ويل مکروه دي: چې اې الله! که ستا خوښه وي نو ما وبخښه!

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ قال: لَايَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي إِنْ شِئْتَ، اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنِي إِنْ شِئْتَ" د ابو هريره ﷺ روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې دې يو کس هم په دعاء کې داسې نه وايي چې اې الله! که ستا خوښه وي نو ما وبخښه او که ستا خوښه وي، نو په ما رحم وکړه: "لِيَعْزِمِ الْمَسْأَلَةَ، فَإِنَّهُ لَامُكْرِهَ لَهُ" بلکې د الله ﷻ نه په عزم او يقين سره دعاء غواړئ. ځکه چې په هغه باندې د چا زور نه چليږي. متفق عليه

وفي رواية لمسلم: وَلٰكِنْ لِيَعْزِمْ وَلْيُعَظِّمِ الرَّغْبَةَ فَإِنَّ اللّٰهَ تعالى لَايَتَعَاظَمُهُ شَيْءٌ أَعْطَاهُ: او په يو بل روايت کې دي چې په يقين او عزم سره د الله ﷻ نه سوال کوئ: ځکه چې الله ﷻ څه ورکوي، هغه د هغه په نزد څه لوی شی نه دی

لغوي تحقيق: اللهم: د دې معنی ده: اې الله!

تشريح: ليعزم المسألة: مطلب دا چې کله د الله ﷻ نه سوال کوئ، نو په ښه پوره يقين او پوخ عزم سره يې ترې وغواړئ، د کمزورۍ اظهار مه کوئ، داسې مه وايه چې اې الله! که ته غواړې نو په ما رحم وکړې، "فإنه لامكره له" دا ځکه چې په الله ﷻ باندې د چا زور نه چليږي، مطلب دا چې په غوښتنه کې غير يقيني طريقه اختيارول پکار نه دي او نه د الله ﷻ په مشيت باندې موقوف کول پکار دي، بلکې پوره په شدت او يقين سره د الله ﷻ نه سوال کول پکار دي، ځکه چې الله ﷻ په هر څه قادر دی، هر چاته هر څه ورکولی شي، ځکه چې د هغه ذات کريم دی.

دعاء په يقين سره غوښتل پکار دي

"وعن أنس ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: إذا دعا أحدكم فليعزم المسألة" د انس ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې تاسو د الله ﷻ نه سوال کوئ، نو په پوره يقين او عزم سره ترې سوال کوئ، "ولا يقولن: اللهم إن شئت، فأعطني، فإنه لا مستكره له" او داسې مه وايئ چې اې الله! که ستا خوښه وي، نو راېې کړه، ځکه چې په الله ﷻ باندې د چازور نه چليږي. متفق عليه

تشريح: فليعزم المسألة: کله چې د الله ﷻ نه سوال کوئ، نو په پوره يقين او کامل اطمينان سره ترې سوال کوئ، د الله ﷻ مشيت پورې يې موقوف کول منع دي، ځکه چې په داسې حال کې د بنده له طرفه د بې نيازۍ اظهار کيږي او حال دا چې بنده هر وخت الله ﷻ ته محتاج دی

ولا يقولن اللهم ان شئت فاعطني: داسې مه وايئ چې اې الله! که ته وغواړې، نو راېې کړه، علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمايي: داسې سوالونه په شريعت کې منع دي، برابره خبره ده که په دنيوي امورو کې وي يا ديني امورو کې وي، ځکه چې په داسې سوالونو کې د استغناء بوی وي او بنده هر وخت الله ﷻ ته محتاج دی.

باب كراهة قول: ماشاء الله وشاء فلان

که الله ﷻ وغواړي او ته وغواړې، نو داسې ويل حرام دي

"عن حذيفة بن اليمان ﷺ، عن النبي ﷺ، قال: لا تقولوا: ما شاء الله وشاء فلان" د حذيفه بن يمان ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: داسې مه وايئ چې که الله ﷻ وغواړي او فلانکی کس وغواړي، "ولكن قولوا: ما شاء الله، ثم شاء فلان" ليکن داسې وايئ چې که اول الله ﷻ وغواړي او بيا د هغې نه وروسته فلانکی وغواړي، (يعنې واسطه پکې جوړول پکار دي). رواه أبوداود بإسناد صحيح.

تشريح: ولا تقولوا: ما شاء الله وشاء فلان: داسې مه وايئ چې که الله ﷻ وغواړي او فلانکی يې وغواړي، داسې ويل په شريعت کې منع دي، ځکه چې دلته په يو وخت کې د الله ﷻ او د انسان مشيت جمع شوي دي او دا خلاف واقع او غلط کار دی

ولكن قولوا: ما شاء الله ثم شاء فلان: ليکن داسې ووايئ چې که الله ﷻ وغواړي او بيا د هغې نه وروسته فلانکی وغواړي، داسې ويل جائز دي، ځکه چې په دې کې د الله ﷻ مشيت اول ذکر شو او بيا وروسته د انسان مشيت ذکر دی کوم چې د الله ﷻ د مشيت تابع دی، نو داسې ويل جائز دي، د دې داسې مثال دی. لکه يو کس چې ووايي: زما اسره الله ﷻ دی او ته يې، نو داسې ويل غلط دي، ځکه چې په دې کې الله ﷻ او بنده برابر شوي دي، داسې ويل چې زما اسره خو الله ﷻ دی او بيا د هغې نه وروسته ته يې، داسې ويل جائز دي، ځکه چې په دې کې الله ﷻ مقدم ذکر دی، وروسته بيا د انسان ذکر شوی دی، په دې کې انسان د الله ﷻ تابع ګرځول شوی دی.

د خبرې خلاصه دا ده چې په اولنى جمله كې لفظ د (واو) استعمالول حرام دي، كوم چې د جمع لپاره راځي، ځكه چې په دې كې الله ﷻ او بنده جمع شوي دي كوم چې حرام دي، دويم صورت دا دى چې لفظ د (ثم) ذكر شي كوم چې د تراخي لپاره راځي، يعني اول د الله ﷻ د مشيت ذكر وشي، وروسته بيا د انسان مشيت ذكر شي، نو داسې صورت جائز دى.

باب كراهة الحديث بعد العشاء الآخرة

د ماسخوتن د لمانځه وروسته فضول خبرې كول مكروه دي

"والمرادُ بِه الحديثُ الذي يَكونُ مُباحاً في غيرِهذا الوقتِ، وفعلُهُ وتركُهُ سواء" ددې نه هغه خبرې مراد دي چې ددې وخت نه سيوا په نورو وختونو كې مباح وي، "فأمّا الحديثُ المُحرَّمُ أو المكروهُ في غيرِهذا الوقتِ، فهُوَ في هذا الوقت أشدُّ تحريماً وكَراهةً" او كومې خبرې چې ددې وخت نه علاوه په نورو وختونو كې حرامې يا مكروه دي، نو هغه خو په دې وخت كې نورې هم سختې حرامې او مكروه دي، "وأمّا الحديثُ في الخيرِ كمُذاكرةِ العِلمِ وحِكاياتِ الصّالحينَ، ومَكارِمِ الأخلاقِ، والحديث مع الضّيفِ" او كومې خبرې چې د خير دي، لكه درس، تدريس، حقيقي واقعي، كيسې كول او ښكلي اخلاق زده كول او د ميلمه سره خبرې كول، "ومع طالبِ حاجَةٍ، ونحو ذلك، فلا كَراهَةَ فيه بل هُوَ مُستَحبٌّ، وكذا الحديثُ لِعُذرٍ وعارِضٍ لا كَراهَةَ فيه" او يا د ضرورت خبرې كول او داسې نور كارونه شول، نو په دې كې هيڅ كراهت نشته، بلكې دا مستحب دي او همدغه شان كه څه عذر پېښ شي يا سمدستي د خبرو كولو ضرورت پېښ شي، نو كراهت پكې نشته، "وقد تظاهَرَتِ الأحاديثُ الصَّحيحةُ على كُلِّ ما ذكَرتُهُ" په دې باره كې ډېر حديثونه ظاهر شوي دي.

د ماسخوتن لمانځه نه وړاندې ويده كېدل او وروسته ترې خبرې منع دي

"عن أبي برزةَ ؓ: أنّ رسولَ الله ﷺ كان يكرهُ النومَ قبلَ العِشاءِ والحديثَ بَعدَها" د أبو برزة ؓ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د ماسخوتن لمانځه نه مخكې خوب كول او وروسته خبرې كول مكروه ګڼل. متفق عليه

تشريح: يكره النوم قبل العشاء: د ماسخوتن لمانځه نه وړاندې خوب كول منع دي، وجه يې دا ده چې په دې كې د انسان څخه د ماسخوتن د لمانځه فوت كېدو وېره وي، "والحديث بعدها" او د ماسخوتن لمانځه نه وروسته خبرې كول هم منع دي، د جاهليت په زمانه كې به خلكو د ماسخوتن لمانځه نه وروسته تر ناوخته پورې كيسې او ډرامې كولې، په دې كې ډېرې زياتې خرابياني دي، يوه خرابي د وخت ضايع كول دي، رسول الله ﷺ ددې رسم ماتولو په خاطر ددې څخه منع وفرمايل، د ماسخوتن په لمانځه سره د انسان د نن ورځې ټول حساب كتاب ختم شي، نو ځكه شريعت دا خوښه كړه چې د لمانځه وروسته بل څه ونه كړل شي او بس سيده د نن ورځې ټول حساب كتاب په لمانځه ختم كړي او بل دا چې څوك وختي ويده كيږي هغه ته د تهجدو لپاره پاڅېدل اسان وي او څوك چې ناوخته ويده

کېږي، نو داسې خلك كله هم د تهجدو نعمت نه شي ترلاسه کولی.

د عمر ﷺ باره کې راځي چې هغه به څوك د ماسخوتن لمانځه نه وروسته په گپ شپ او توکو باندې وليدل، نو تنبيه به يې ورکول او ځينې وخت به يې کسان وهل، ارشاد به يې فرمايلو چې زر ويده کيږئ، کېدی شي چې د شپې د تهجدو توفيق درته ملاو شي.

د راوي ابوبرزه ﷺ حالات:

اصلي نوم يې نضله ﷺ دی، کنيت يې ابوبرزه دی، د اسلام په شروع کې يې ايمان راوړی وو، په ټولو جهادونو کې يې شرکت کړی دی، د رسول الله ﷺ په ژوند کې په مدينه منوره کې اوسېدلو، ليکن د عمر ﷺ په زمانه د خلافت کې بصرې ته لاړو، د صفين په جنگ کې د علي ﷺ د پلويانو څخه وو، په نهروان کې يې د خوارجو سره هم جنگ کړی دی، بيا د خراسان په فتوحاتو کې يې هم کارنامې کړي دي، دوی به د مسکينانو سره ډېره مينه کول، د دوی سره به ډېر لوی لوښی وو، سهار او ماښام به يې په دې کې ډوډۍ ماتول او په مسکينانو، غريبانانو او يتيمانو به يې خوړل، د دوی څخه ۲۴ احاديث نقل دي، وفات يې په ۲۵ هجري کې شوی دی.

د سلو کالو وروسته به څوك ژوندی نه وي

"عن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رَسولَ اللهِ ﷺ صَلَّى العِشَاءَ فِي آخِرِ حَيَاتِهِ، فَلَمَّا سَلَّمَ قَالَ: أَرَأَيْتَكُمْ لَيْلَتَكُمْ هٰذِهِ؟" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د ژوند په آخري شپو او ورځو کې مونږ ته د ماسخوتن جمعه راکړه، کله چې يې سلام واړلو، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: که ددې شپې متعلق تاسو ته څه خاص خبره معلومه وي، بيا نبي کريم ﷺ خپله وفرمايل چې: "فَإِنَّ عَلَى رَأْسِ مِئَةِ سَنَةٍ لَا يَبْقَى مِمَّنْ هُوَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ الْيَوْمَ أَحَدٌ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: په سر د ځمکې به سل کاله وروسته يو سړی هم ژوندی نه وي کوم چې نن د ځمکې په مخ ژوندی دی. متفق عليه

تشريح: لايبقى ممن هو على ظهر الأرض اليوم أحدٌ: د سلو کالو په آخر کې به څوك هم ژوندی پاتې نه شي، علماء فرمايي: دا د رسول الله ﷺ پېش گويي ده، ددې دوه مطلبه دي: لومړی دا چې دا حديث عام دی چې هر سل کاله وروسته به د اولنی صدی/ پېړۍ خلك پاتې نه وي او که چېرته کوم يو نيم کس د مخکې صدی څخه پاتې شي، نو بيا هم د پېش گويي خلاف نه دی.

حقيقت دا دی چې ټول صحابه کرام ﷺ د اولنی هجري په پای کې وفات شول، ځکه چې په ټولو کې آخري صحابي ابو الطفيل عمار بن وائله ﷺ دی چې د هغه وفات په ۱۱۰ هجري کې وشو، د رسول الله ﷺ د فرمان مطابق د هغه ځيني وايي ددې څخه د رسول الله ﷺ صدی/ پېړۍ مراد ده، خلاصه دا چې په دې کې ترغيب دی چې انسان ته انتقال پوره سل کاله پوره کېدو وروسته وشو، خلاصه دا چې په دې کې ترغيب دی چې انسان ته پکار دي چې په نېکو اعمالو کې رغبت وکړي، ځکه چې د مرگ هيڅ پته نه لگيږي.

دلمانځه په انتظار کې پاتې کېدو سره انسان ته دلمانځه ثواب ملاویږي

"وعن أنس ﷺ: أنهم انتظروا النبي ﷺ فجاءهم قريباً من شطر الليل فصلى بهم - يعني: العشاء- ثم خطبنا فقال" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې صحابه کرامو د نبي کريم ﷺ تر نيمه شپه پورې انتظار وکړو، بيا نبي کريم ﷺ ورته نيمه شپه تشريف راوړو، دوی ته يې لمونځ ورکړو، بيا يې خطبه ووېل، په دې کې يې وفرمايل "ألا إن الناس قد صلوا، ثم رقدوا، وإنكم لن تزالوا في صلاة ما انتظرتم الصلاة" خلکو لمونځ وکړو او ويده شول او تاسو چې تر کومه پورې په انتظار کې پاتې شوئ، ستاسو دا ټول وخت په لمونځ کې شمار کړی شو. رواه البخاري

تشريح: دا حديث وړاندې په (کتاب الفضائل باب فضل انتظار الصلاة) کې ذکر شوی دی، علماء فرمايي: ددې حديث څخه ګڼ شمېر مسائل تخريج شوي دي، مثلاً: د ماسخوتن لمونځ د شپې په آخري برخه کې کول جائز دي، د لمانځه په انتظار کې پاتې کېدو ثواب د لمانځه په شان ملاويږي، د جماعت په انتظار کې ويښ پاتې کېدل تردې پورې چې په جماعت سره لمونځ وشي، يوازې لمونځ کول پکار نه دي، اګرچې جمع هر څومره وروسته کيږي، د ماسخوتن لمانځه څخه وروسته د دين خبرې کول جائز دي، ددې حديث څخه معلومه شوه چې رسول الله ﷺ کله تشريف راوړو، نو خطبه يې ورکړه او بيا يې پورتنی حديث وفرمايلو.

باب تحريم امتناع المرأة من فراش زوجها إذا دعاها ولم يكن لها عذر شرعي

خاوند چې ښځه د کوروالي لپاره راوبولي، د شرعي عذر څخه بغير د هغې انکار حرام دی

"عن أبي هريرة ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: إذا دعا الرجل امرأته إلى فراشه فأبت، فبات غضبان عليها" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې يو خاوند خپله ښځه خپلې بسترې ته د (کوروالي) لپاره راوبولي او هغه انکار وکړي، بيا خاوند په داسې حال کې شپه تېره کړي چې هغه ترې ناراضه وي، "لعنتها الملائكة حتى تصبح" نو تر سهاره پورې په دې ښځه باندې پرښتې لعنت وايي متفق عليه

وفي رواية: حتى ترجع: او په يو بل روايت کې دي چې تر څو ورته راغلې نه وي

لغوي تحقيق: لعن: لعن يلعن لعناً: لعنت کول، ښيرې کول

تشريح: دا حديث وړاندې په (کتاب المامورات باب حق الزوج على إمرأته) کې ذکر شوی دی، "إلى فراشه" فراشه د جماع څخه کنايه ده، ددې حديث څخه معلومه شوه چې که خاوند خپله ميرمن د جماع لپاره راوبولي او هغه د شرعي عذر څخه بغير انکار وکړي، نو سخته ګناهګاره به شي، بلکې د الله ﷻ او پرښتو له لورې به په داسې ښځه باندې لعنت وي، "فبات غضبان" خاوند شپه په غوسه کې تېره کړه، د شپې ذکر څکه په خانګړې توګه وشو چې عمومي طور جماع د شپې کيږي، د ورځې انسان

په دنيوي دندو کې مشغول وي، علماء فرمايي په لفظ د غضبان کې اشاره ده دې خبرې ته چې که خاوند ناراضه شي، که څېرته ښځې ته معلومه وي چې خاوند مې نه ناراضه کيږي، نو بيا به دغه وعيد نه وي، ليکن بيا هم افضل همدغه دي چې د خاوند خبره ومني، ددې لپاره چې په مينه او محبت کې شپه تېره شي، په دې کې څه کمې رانشي

باب تحريم صوم المرأة تطوعاً وزوجها حاضر إلا بإذنه

چې خاوند په کور کې وي، ښځه به نفلي روژه نه نيسي، مګر د هغه په اجازه

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا يحل للمرأة أن تصوم وزوجها شاهد إلا بإذنه" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يوې ښځې لپاره دا خبره جائز نه ده چې هغه دې نفلي روژه ونيسي او د هغې خاوند دي په کور کې وي، مګر د هغه په اجازه يې نيولی شي. "ولا تأذن في بيته إلا بإذنه" او نه به چاته کور ته د داخلېدو اجازه ورکوي، مګر د هغه په اجازه سره متفق عليه

تشريح: دا حديث هم وړاندې په (باب حق الزوج على المرأة) کې ذکر شوی دی، ددې حديث څخه معلومه شوه چې کله خاوند په کور کې وي مېرمن به بې نفلي روژې هم نه نيسي، ځکه چې په دې کې د خاوند حق ضايع کيږي. که چېرته مېرمن د خاوند د اجازې څخه بغير روژه ونيسي، نو خاوند ته اجازه شته چې روژه ورباندې ماته کړي، د نزهة المتقين مصنف ددې وجه دا سې فرمايي چې د زوجيت په معاملاتو کې عزت او عصمت مقدم وي د نفلي عباداتو څخه. "ولا تأذن في بيته إلا بإذنه" او مېرمن ته جائز نه دي چې د خاوند بې اجازې نور خلک کور ته رادننه کړي

باب تحريم رفع المأموم رأسه من الركوع أو السجود قبل الإمام

د امام نه وړاندې د رکوع يا سجدې نه سر پورته کول حرام دي

"عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: أما يخشى أحدكم إذا رفع رأسه قبل الإمام أن يجعل الله رأسه رأس حمار!" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو ددې خبرې نه ويريږئ چې کله هغه خپل سر په رکوع يا سجده کې د امام نه مخکې راپورته کړي چې د هغه سر الله ﷻ ورته د خر سر وګرځوي، "أو يجعل الله صورته صورة حمار" او يا د هغه صورت او شکل د خره د صورت او شکل په شان کړي متفق عليه

تشريح: يرفع رأسه قبل الإمام: خپل سر د امام څخه وړاندې پورته کړي، مطلب دا چې د لمانځه رکنونه د امام څخه وړاندې ادا کوي، مثلاً رکوع ته د امام څخه وړاندې ځي او د سجدې څخه د امام څخه وړاندې سر پورته کوي، په دې حديث کې هغو کسانو ته سخت وعيد دی چې دغسې فضول او غير شرعي حرکت کوي، ځينې علماوو دا حديث په حقيقي معنی باندې نه دی حمل کړی، يعنې

حقيقتاً به الله ﷻ دغسې فضول حركت والا كس ښخه خر جوړ كړي، بلكې مطلب دا دى چې دغسې انسان به د خره په شان كم فهمه او كم عقل جوړ كړي، ځكه چې په ښناورو كې تر ټولو زيات كم عقل ښناور خر دى، ځيني نور علماء فرمايي: په هغوى كې علامه خطابي رحمه الله هم دى، كه دا په حقيقي معنى باندې هم حمل كړل شي، نو بيا هم صحيح ده، همدغه خبره حافظ ابن حجر رحمه الله هم كړې ده چې حقيقتا به دده ښخه خر جوړ شي او په كومو رواياتو كې چې دي زما امت به نه مسخ كيږي، نو هغه په عمومي معنى باندې حمل دي، جزوي طور كېدى شي.

عبرتناكه واقعه

علامه ابن حجر رحمه الله يوه ډېره عبرتناكه واقعه نقل كړې ده چې د هغې خلاصه دا ده: د حديثو يو طالب د دمشق مشهور عالم ته ورغلو چې په خپل علم او فضل كې يې شهرت درلود، ليكن هغه به د همېش لپاره د پردې ښخه هغه طرفته طالبانو ته سبق ښودلو، يو ځل دې طالب علم ډېر زيات اصرار وكړو چې صيب! ماته خپل مخ وښيه، هغه چې ورته خپل مخ ښكاره كړو، نو د هغه ټول شكل د خره په شان وو، طالب علم پوښتنه وكړه، چې صيب! دا ولې؟ هغه ورويل: ما يو حديث اورېدلى وو چې څوك د امام ښخه وړاندې د سجدې نه سر پورته كړي، د هغه سر به د خره په شان وي، نو ما په دې حديث باندې تجربه كول، الله ﷻ زما مخ دغه شان كړو، لكه څرنګه چې اوس تاته ښكارم.

باب كراهة وضع اليد على الخاصرة في الصلاة

په لمونځ كې په تشو باندې لاس ايښودل مكروه دي

"عن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رسولَ اللّــهِ ﷺ نَهَى عن الخَصْرِ في الصَّلَاةِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده ددې نه چې په لمانځه كې په خپلو تشو باندې لاس كېښودل شي متفق عليه

لغوي تحقيق: الخصر: خصر خصراً: تشي نيول، ډډ نيول

تشريح: نهى عن الخصر في الصلوة: رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده ددې نه چې يو انسان دې په لمانځه كې په تشو باندې لاس كيږدي، خصر دېته وايي چې په ملا يا تشي باندې لاس كېښودل شي، د ممانعت وجوهات يې مختلف دي: په ځينو رواياتو كې دي: د قيامت په ورځ چې كله حساب كتاب ته خلك په انتظار وي، نو په دې وخت كې به ځيني خلك چې جهنميان وي هغوى به په ملا او تشو باندې خپل لاسونه ږدي، ددې لپاره چې لږ ارام ورته ورسيږي، نو د جهنميانو سره د مشابهت په وجه داسې كول حرام دي.

بله وجه دا ده چې كله شيطان دنيا ته راښكته شو او ملعون كړل شو، نو په دې وخت كې هغه په تشو باندې لاس ايښي وو، بله وجه يې دا ده چې په دنيا كې داسې عمل د هيجړاګانو وي، ددې مشابهت په وجه داسې كول حرام شو.

باب كراهة الصلاة بحضرة الطعام ونفسه تتوق إليه أو مع مدافعة الأخبثين: وهما البول والغائط

د ډوډۍ په موجودګۍ کې لمونځ مکروه دی، کله چې يې ورته شوق کيږي

"عن عائشة رضى الله عنها، قالت: سمعت رسول الله ﷺ يقول: لاصلاة بحضرة طعام" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: کله چې ډوډۍ حاضره شي، نو لمونځ مه کوئ "ولا وهو يدافعه الأخبثان" او نه دې په هغه وخت کې لمونځ کوي کله چې ورته واړه يا غټ بول ورځي. رواه مسلم

تشريح: لاصلوة بحضرة الطعام: د ډوډۍ په موجودګۍ کې لمونځ مکروه دی، علامه نووي رحمه الله فرمايي: ددې مطلب دا دی چې کله ډوډۍ حاضره شي او لوږه هم سخته وي، يا دغه شان سختي متيازې ورته ورغلي وي، نو په داسې حالاتو کې لمونځ مکروه دی، دغه شان هر هغه عمل چې د لمونځ کوونکي په لمانځه کې خلل پيدا کوي، په داسې حالاتو کې لمونځ مکروه دی، البته که د لمانځه وخت کم وي، دا وېره وي چې ډوډۍ وخورم يا تشې او ډکې متيازې کوم، نو شايد چې لمونځ به رانه قضاء شي، په داسې وخت کې اول لمونځ کول او بيا ډوډۍ خوړل فرض دي.

باب النهى عن رفع البصر إلى السماء فى الصلاة

په لمانځه کې به اسمان ته نه ګوري

"عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: مابال أقوام يرفعون أبصارهم إلى السماء فى صلاتهم!" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغو خلکو څه حال دی چې په خپل لمونځ کې اسمان ته ګوري، "فاشتد قوله فى ذلك حتى قال: لينتهن عن ذلك، أو لتخطفن أبصارهم" په دې اړه د نبي کريم ﷺ ډېر سخت تاکيد دی، نبي کريم ﷺ وفرمايل: يا خو دې ددغه کار نه منع شي او يا به يې د سترګو نظر ختم شي. رواه البخاری

لغوي تحقيق: الخطف: خطف خطفاً باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: په تېزۍ سره يو شی وړل

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې کله يو انسان لمانځه ته ودرېږي، نو پکار ده چې خپل نظر ښکته وساتي، اخوا دېخوا ونه ګوري، مسئله دا ده چې که د نظر اړولو سره يې سينه هم د قبلې څخه واوښته، نو بيا يې بالکل لمونځ نه دی شوی او که صرف نظر يې اخوا دېخوا کړو، سينه يې د قبلې څخه نه وي اوښتلې، نو بيا مکروه دی، په دې حديث کې هغه کس ته سخت وعيد دی چې په لمانځه کې اخوا دېخوا ګوري، هغه دا چې امکان شته چې د هغه د سترګو نظر ختم شي او په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ به په شروع کې په لمانځه کې خپل نظر پورته اسمان ته اړولو، خو کله چې دغه آيت چې "والذين هم فى صلوتهم خاشعون" نازل شو، نو بيا به يې خپل نظر مبارک ښکته ساتلو.

باب كراهة الالتفات فى الصلاة لغير عذر

په لمانځه کې اخوا دېخوا کتل حرام دي

"عن عائشة رضى اللّٰه عنها، قالت: سألت رسول اللّٰه ﷺ عن الالتفات فى الصلاة، فقال" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! په لمانځه کې اخوا دېخوا کتل څنګه دي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل "هو اختلاس يختلسه الشيطان من صلاة العبد" دا د شيطان يوه حمله ده چې د بنده د لمونځ نه يې دېر زر اخلي. رواه البخاري

لغوي تحقيق: الشيطان: د شيطان اصلي معنی ده: مخالفت کول.

تشريح: عن الالتفات فى الصلوة: په لمانځه کې اخوا دېخوا کتل منع دي، په لمانځه کې غلط نظر کول اګرچې د سترګو په کږو سره وي د خشوع او خضوع خلاف دی. که په کتلو کې يې خوله د قبلې څخه واوړي، نو مکروه دي او که ټوله سينه يې واوړي، نو لمونځ يې فاسد شو.

هو اختلاس يختلسه الشيطان: دا د شيطان اختطافګري ده چې هغه يې کوي، اختطاف دې ته وايي چې يو کس په ناخبری کې څه شيان په تيزی سره واخلي. نو دغه شان کوم کس چې په لمانځه کې اخوا دېخوا ګوري، نو شيطان د لمونځ کوونکي څخه د لمانځه کمال خشوع او خضوع په تيزی سره اخلي، د هغه لمونځ بې اثره کړي.

په لمانځه کې اخوا دېخوا کتل حرام دي

"وعن أنس رضي الله عنه قال: قال رسول اللّٰه ﷺ: إياك والالتفات فى الصلاة، فإن الالتفات فى الصلاة هلكة" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په لمانځه کې د اخوا دېخوا کتلو نه ځان وساتئ: ځکه چې په لمانځه کې اخوا دېخوا کتل يو قسم هلاکت دی. "فإن كان لابد، ففى التطوع لا فى الفريضة" که چېرته خامخا کتل غواړې، نو په نفلي لمونځ کې دي وکړي نه په فرضي لمونځ کې. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح

تشريح: د حديث څخه معلومه شوه چې په لمانځه کې اخوا دېخوا کتل د آخرت د تباهي سبب او ذريعه ده، ځکه چې دا کارونه په انسان باندې شيطان کوي او شيطان د انسان آخرت تباه کوي.

فإن كان لابد ففى التطوع لا فى الفريضة: که خامخا نظر اړول غواړې، نو په نفلي لمانځه کې يې کوئ، په فرض لمانځه کې نظر کول حرام دي، وجه يې دا ده چې لمونځ په کمال خشوع او خضوع سره ادا کول پکار دي او بيا په خانګړې توګه فرض لمونځ کې خو بېخي خيال ساتل پکار دي، ځکه چې د قيامت په ورځ به تر هر څه مخکې د فرض لمونځ باره کې پوښتنه کيږي، که يو کس ډېر مجبور وي، نو په نفلي لمونځ کې نظر کولی شي، خو په فرضي کې يې نه شي کولی، خو بيا هم که په نفلي لمانځه کې يې د خشوع او خضوع خيال وساتلو، نو بيا خو به نور علی نور شي.

باب النهي عن الصلاة إلى القبور

قبر ته به لمونځ نه کوئ

"عن أبي مرثد كناز بن الحصين ﷺ قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: لا تصلوا إلى القبور، ولا تجلسوا عليها" د أبو مرثد كناز بن الحصين ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: قبرونو ته لمونځ مه کوئ او مه ورباندې کېنئ! رواه مسلم

تشريح: لا تصلوا إلى القبور: قبر ته لمونځ مه کوئ! علماء ليکي: که يو کس قبر ته په دې نيت لمونځ کوي چې د صاحب قبر تعظيم يې پکې مقصود وي، نو بيا خو دغه سړی کافر دی، که تعظيم يې مقصود نه وي، نو بيا خو مکروه تحريمي دی، "ولا تجلسوا عليها" او په قبر باندې ناسته مه کوئ! په قبرونو باندې ناسته مکروه ده، ليکن دلته يو سوال دی چې د علي ﷺ او ابن عمر ﷺ څخه خو دا ثابت دي چې قبر ته دوی تکيه لګولې ده؟ جواب دا دی چې دوی ته علم نه وو چې دلته به قبر وي، کنه نو دوی به چېرته د رسول الله ﷺ د احاديثو مخالفت کولو، بل دا چې په قبر باندې کېښستلو سره د صاحب قبر تذليل او تخفيف کيږي چې ددې برعکس الله ﷻ د يو مسلمان انسان د توقير او عزت کولو حکم کړی دی، علامه نووي رحمه الله فرمايي: قبر سيمنټي کول مکروه تحريمي دي او په هغه تکيه لګول يا کېښستل وغيره حرام دي.

د راوي ابو مرثد بن كناز بن الحصين ﷺ حالات:

اصلي نوم يې مرثد ﷺ دی، د پلار نوم يې کناز بن حصين بن يربوع بن جنبينه دی، په مکه کې مسلمان شوی وو، د بدر څخه يې وړاندې هجرت کړی وو او مدينې منورې ته راغلو، رسول الله ﷺ د دوی ﷺ مواخات د اوس بن صامت ﷺ سره کړی وو، د بدر په غزا کې يې شرکت کړی دی، د بنو عضل خلکو چې کله اسلام قبول کړو، نو رسول الله ﷺ د مذهبي تعليم لپاره د مرثد ﷺ يا د عاصم ﷺ په امارت کې د صحابه کرامو يوه دلګۍ روانه کړه، په لاره کې ورته د رجيع په مقام کې بنو هذيل کمين ونيولو چې جنګ شروع شو، نو عاصم ﷺ مرثد ﷺ او خالد ﷺ درې واړه پکې شهيدان شول.

باب تحريم المرور بين يدي المصلي

د لمونځ کوونکي وړاندې تېرېدل حرام دي

"عن أبي الجهيم عبد الله بن الحارث بن الصمة الأنصاري ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: لو يعلم المار بين يدي المصلي ماذا عليه" د أبو الجهيم عبد الله بن الحارث بن الصمة الانصاري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم سړی چې د لمونځ کوونکي وړاندې تېر شي څومره ګناه لري؟ "لكان أن يقف أربعين خيرا له من أن يمر بين يديه" نو ده ته به دا خبره ښه ولګيږي چې زه دې څلوېښت کاله دلته ولاړ يم،

ليکن د لمونځ مخې ته به تېر نه شم، "قَالَ الراوی: لا أَدْرِي قَالَ: أَرْبَعِينَ يَوماً، أَوْ أَرْبَعِينَ شَهراً، أَوْ أَرْبَعِينَ سَنَةً" راوي وايي: زه پوه نه شوم چې څلوېښت ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل، که څلوېښت مياشتې او که څلوېښت کاله يې ياد کړل متفق عليه

لغوي تحقيق: المار: د اسم فاعل صيغه ده، ددې معنى ده: وړاندې تېرېدونکى.

تشريح: أن يقف أربعين خيراً له: که څلوېښت ودرېږي، نو دا به دده په حق کې غوره وي، د څلوېښتو څخه څه مراد دي، ايا څلوېښت کاله، يا څلوېښت مياشتې يا څلوېښت ورځې؟ دې باره کې امام طحاوي رحمه الله فرمايي: دلته د څلوېښتو څخه څلوېښت کاله مراد دي، بيا امام طحاوي رحمه الله د أبو هريره رضي الله عنه يو روايت نقل کړى دى چې د هغې څخه معلومېږي: کوم کس چې د خپل ورور وړاندې په داسې حال کې تېر شي چې هغه د خپل رب سره مناجات (لمونځ) کوي، نو هغه دې په دې باندې پوه شي چې که دى هم په خپل ځاى پوره سل کاله ودرېږي، نو دا به ترې بهتر وي د هغې نه چې د خپل مسلمان ورور وړاندې تېر شي، خلاصه دا چې په حديث کې د هغه کس لپاره سخت وعيد دى چې د لمونځ کوونکي وړاندې تېر شي، که څلوېښت کاله يا سل کاله په خپل ځاى ودرېږي، نو دا به ترې بهتر وي، د هغې نه چې د يو لمونځ کوونکي مخې ته تېر شي.

د راوي ابوالجهيم عبدالله بن حارث بن الصمة الانصاري رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې عبد الله رضي الله عنه دى، د پلار نوم يې حارث دى، کنيت يې ابوالجهيم دى، دا د مشهور صحابي أبي بن کعب رضي الله عنه خوريى وو، د دوى څخه د احاديثو په کتابونو کې دوه روايات نقل دي او دا هم عجيبه اتفاق دى چې دواړه په بخاري او مسلم کې دي.

باب کراهة شروع المأموم في نافلة بعد شروع المؤذن في إقامة الصلاة سواء کانت النافلة سنة تلك الصلاة أو غيرها

چې فرض لمونځ ودرېږي، نو نفل مکروه دى

"عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ قال: إذا أقيمت الصلاة فلا صلاة إلا المكتوبة" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې د جماعت لمونځ ودرېږي، نو بيا به هيڅ (نفلي يا واجب) لمونځ نه کېږي، مګر دا چې فرضي لمونځ به کولى شي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: صلوة: کله په معنى د دعاء سره وي، کله په معنى د لمانځه سره وي.

تشريح: علامه زيلعي رحمه الله فرمايي: د سهار سنتو څخه بغير د نورو وختونو په سنتو کولو کې دا شرط دى چې د رکوع څخه وړاندې به د امام سره ملاوېږي، نو دا بيا صحيح دى، که نو سنت دې مؤخر کړي، وروسته دې وکړي، په دې باندې د ټولو امامانو اتفاق دى.

د سهار سنتو باره کې اختلاف دی، امام شافعي رحمه الله فرمايي: کله چې اقامت شروع شي، نو د سهار سنت کول مکروه دي، ليکن د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله مسلک دا دی چې جائز دي، د احنافو مسلک دا دی چې سنت به د جومات څخه بهر کوي يا به کم نه کم د امام نه لرې وي، د سهار سنت به نه پرېږدي تر څو چې د امام سره په دويم رکعت کې د شرکت اميد وي، ابن ملک رحمه الله فرمايي: د سهار سنت ددې حديث د حکم څخه مستثنی دی، څکه چې رسول الله ﷺ فرمايي: "صلوها وان طردتکم الخيل" د سهار سنت کوئ اگرچې تاسو اسونه د پښو لاندې پايمال کړي، ابن همام رحمه الله فرمايي: د سهار سنت په ټولو سنتو کې زيات اهميت لري، ترديې چې د حسن رحمه الله په روايت کې دي چې د امام ابوحنيفه رحمه الله مسلک دا دی چې د سهار سنت د عذر څخه بغير په ناسته کول جائز نه دي

باب كراهة تخصيص يوم الجمعة بصيام أوليلته بصلاة من بين الليالي

د جمعې ورځ د روژې لپاره خاص کول يا يې شپه د عبادت لپاره خاص کول مکروه دي

"عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: لا تَخُصُّوا لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ بِقِيَامٍ مِنْ بَيْنِ اللَّيَالِي" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د جمعې شپه د عبادت لپاره مه خاص کوئ په نسبت سره نورو شپو نه، "وَلاَ تَخُصُّوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصِيَامٍ مِنْ بَيْنِ الأَيَّامِ" او نه د جمعې ورځ د نورو ورځو په نسبت د روژې لپاره خاص کوئ! "إلاَّ أنْ يَكُونَ فِي صَوْمٍ يَصُومُهُ أَحَدُكُمْ" مگر دا چې د مخکې څخه يې عادت وي، د جمعې په ورځ روژه نيول. رواه مسلم

تشريح: په دې حديث کې د جمعې د شپې قيام او د ورځې روژه نيولو تخصيص څخه منع راغلې ده، ليکن په دې کې دا هم شته چې که په کوم خاص تاريخ د روژې نيولو عادت يې جوړ وي چې په هغه تاريخ د همېش لپاره روژه نيسي او هغه تاريخ اتفاقي طور د جمعې ورځ راشي، نو بيا د جمعې په ورځ روژه نيول منع نه دي، د جمعې په ورځ د روژې نيولو څخه د منعې مختلفې وجهې علماوو بيان کړي دي، مثلاً که د جمعې په ورځ د کوم خاص ثواب اعتقاد پکې وي، نو په دې صورت کې منع ده، دويم دا چې شاه انور شاه کشميري رحمه الله فرمايي: که د جمعې په ورځ روژه نيولو کې کومه منشاء د عقيدې د فساد گرځېده، نو بيا خو منع ده، که داسې نه وي بيا حرج پکې نشته.

خاص د جمعې په ورځ روژه نيول منع دي

"وعنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ يقولُ: لاَ يَصُومَنَّ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إلاَّ يَوماً قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: د روژې نيولو لپاره د جمعې ورځ مه خاص کوئ، مگر دا چې يوه ورځ مخکې ترې روژې ونيسئ يا يې وروسته ونيسي بيا خير دی. متفق عليه

تشريح: د جمعې په ورځ د روژې نه د منعې وجه دا ده چې د جمعې په ورځ ذکرونه نفلي عبادتونه دعاګانې وغيره کولې شي، روژه پکې منع ده، ددې لپاره چې د غه عبادتونه په ښه توګه ادا کړل شي، لکه څرنګه چې د عرفې په ورځ حاجيانو ته روژه نيول صحيح نه دي، ځينو يې وجه داسې بيان کړې ده چې د جمعې ورځې ته يوم العيد هم ويل شوي دي، لکه څرنګه چې راځي: "يوم الجمعة يوم عيد، فلا تجعلوا يوم عيدكم يوم صيامكم" د جمعې ورځ د اختر ورځ وي، د اختر په ورځ روژه مه نيسئ او ځينو علماء يې وجه داسې بيان کړې ده چې مبالغه في التعظيم پکې ونه شي، لکه څرنګه چې يهوديانو د هفتې ورځ او عيسايان د يکشنبې په ورځ مبالغې کوي، خطره ده چې مسلمانان دا کار شروع نه کړي، اصلي وجه يې هم دا ده.

د جمعې په ورځ د روژې څخه منع شوې ده

"وعن محمد بن عبَّادٍ، قَالَ: سَأَلْتُ جَابِراً رضي الله عنه: أَنَهَى النَّبِيُّ ﷺ عَنْ صَومِ الجُمُعَةِ؟ قَالَ: نَعَمْ" د محمد بن عباد رحمه الله نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د جابر رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چې رښتيا نبي کريم ﷺ د جمعې په ورځ روژې نيولو څخه منع فرمايلې ده؟ هغه وفرمايل: هو! متفق عَلَيْهِ

لغوي تحقيق: **نعم:** د ايجاب کلمه ده، په دې کې څلور لغوي تحقيقه دي: نَعِمْ، نِعِمْ، نِعَم او نَعَمْ، د څلور معناګانو لپاره راځي، کله چې د خبر څخه وروسته واقع شي، نو حرف تصديق به وي. لکه: قائم زيدٌ، په جواب کې وويل شي: چې نعم، نو ددې معنی به د قائم کيږي، دويم د امر او نهي نه وروسته چې واقع شي، نو بيا به حرف وعد وي، لکه: اضرب زيداً په جواب کې چې وويل شي نو د (نعم اعدك بضربه) په معنی کې به وي، دريم د استفهام وروسته چې واقع شي، نو بيا به حرف اعلام وي، لکه د (اقام زيدٌ) په جواب کې وويل شي چې (نعم اعلمك بقيامه)، څلورم دا چې کله په صدر د کلام کې واقع شي، نو بيا به د تاکيد فايده ورکوي، لکه نعم ان ربي قادرٌ

تشريح: د جمعې په ورځ روژه نيولو کې د فقهاوو پنځه مسلکونه دي: لومړی په هر حال کې مکروه دی، دا مسلك د ابراهيم نخعي رحمه الله، زهري رحمه الله او د مجاهد رحمه الله دی، دويم په هر حال کې مباح دی، مکروه نه دی، دا مسلك د امام مالك رحمه الله او امام ابوحنيفه رحمه الله وغيره دی، دريم که يوه ورځ وړاندې يا يوه ورځ وروسته ورپسې روژه ونيول شي، نو بيا مکروه نه دی، دا مسلك د امام ابن سيرين رحمه الله دی، څلورم دا چې وړاندې هفته کې د هفتې ورځې څخه وروسته يا راتلونکې هفته کې د جمعې د ورځې څخه چې په هره ورځ وي، خو چې روژه ونيول شي، نو بيا به د جمعې په ورځ روژه نيول مکروه نه وي، پنځم خالص د جمعې په ورځ روژه نيول حرام دي، که وړاندې يا وروسته يوه روژه ونيول شي، نو بيا به جائز وي، دا مسلك د ابن حزم رحمه الله وغيره دی، شامي چې د فقه حنفي رحمه الله مستند کتاب دی، په هغې کې دي چې د جمعې په ورځ روژه نيول مستحب دي، وجه يې دا ده چې اوس د عقيدې د فساد خطره نشته.

د راوي محمد بن عباد رحمة الله عليه حالات:

اصلي نوم يې محمد رحمة الله عليه دی، د پلار نوم يې عباد دی، د مخزوم قبيلې سره تعلق لري، جليل القدر تابعي دی، علماوو په ثقاتو کې شمار کړی دی، د دوی څخه په صحاح سته کې روايات موجود دي

که چا د جمعې په ورځ روژه ونيوله؟

"وعن أم المؤمنين جويرية بنت الحارث رضى الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ دَخَلَ عَلَيْهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَهِيَ صَائِمَةٌ، فَقَالَ: أَصُمْتِ أَمْسِ؟ قالت: لا" د ام المؤمنين جويريه بنت الحارث ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د جمعې په ورځ رسول الله ﷺ موږ کره تشريف راوړو او ما روژه نيولې وه، نبي کريم ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چې پرون دې روژه نيولې وه؟ ما وويل: نه! "قَالَ: تُرِيدِينَ أَنْ تَصُومِي غَداً؟ قالت: لا. قَالَ: فَأَفْطِرِي" نبي کريم ﷺ وفرمايل: سبا دې د روژې نيولو اراده شته؟ ما وويل: نه! نبي کريم ﷺ وفرمايل: بيا روژه ماته کړه! رواه البخاري

تشريح: په دې حديث کې رسول الله ﷺ خالص د جمعې په ورځ د روژې نيولو څخه منع فرمايلې ده، بلکې د هغې د ماتولو حکم يې هم کړی دی، ددې وجه علماء داسې فرمايي: په شروع کې رسول الله ﷺ وفرمايل چې د يهوديانو او عيسويانو مخالفت وکړئ، ځکه چې هغوی د هفتې او يکشنبې په ورځ خپل مخصوص عبادت کوي، په همدې ورځ هر څه بند ګڼي چې ددې برعکس اسلام ټولې ورځې د عبادت لپاره برابر شماري، د عبادت لپاره کومه ورځ خاص کول د اهل کتابو سره مشابهت راځي، نو ځکه رسول الله ﷺ منع وفرمايل او کله چې عقيده صحيح شوه، نو بيا د جمعې په ورځ رسول الله ﷺ خپله روژه ونيول. لکه څرنګه چې د عبد الله بن مسعود ﷺ په روايت کې دي چې: "وعن عبد الله بن مسعود ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ يصوم من غيره كل شهر ثلاثة أيام وقلما كان يفطر يوم الجمعة" عبد الله بن مسعود ﷺ فرمايي چې رسول الله ﷺ به د مياشتې په شروع کې درې ورځې روژې نيولې او داسې به ډېر کم کېدل چې د جمعې په ورځ به يې روژه نه وه.

باب تحريم الوصال في الصوم وَهُوَ أَنْ يَصُومَ يَوْمَيْنِ أَوْ أَكْثَرَ وَلَا يَأْكُلَ وَلَا يَشْرَبَ بَيْنَهُمَا

په روژو کې وصال حرام دی

"عن أبي هريرة وعائشة رضى الله عنهما: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عَنِ الْوِصَالِ" د ابو هريره ﷺ او عائشې ﷺ نه روايت دی هغوی دواړه فرمايي چې رسول الله ﷺ د وصال نه منع فرمايلې ده، (وصال دې ته ويل کېږي چې يو کس مسلسل روژه نيول شروع کړي او نه يې ماتوي) متفق عَلَيْه

لغوي تحقيق: الوصال: ددې معنی ده: پرلپسې روژې نيول او په مينځ کې روژه ماتی - خوراک او څښاک نه کول

تشريح: په حديث کې د صوم وصال څخه منعه راغلې ده، صوم وصال دې ته وايي چې يو کس داسې روژه ونيسي چې په مينځ کې پکې پيشمنې او روژه ماتی نه کوي، پرلپسې روژې نيولو څخه شريعت منع کړې ده، ځکه چې په دې سره انسان کمزوری کيږي چې په نتيجه کې د نورو عباداتو څخه وځي، په صوم وصال کې د فقهاوو اختلاف دی، لومړی مسلک د امام ابوحنيفه رحمه الله، امام مالک رحمه الله، سفيان ثوري رحمه الله او په يو روايت کې د امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله څخه نقل دي چې صوم وصال مکروه ده، بل مسلك د امام شافعي رحمه الله او اهل ظواهرو دی، د دوی په نزد صوم وصال حرام ده، دريم مسلك د اسحاق بن راهويه رحمه الله او د ځينو موالکو دی، هغه دا چې که څوک يې نيولی شي او تکليف ورته نه وي، هغه ته يې نيول جائز دي او څوک يې چې توان نه شي لرلی، هغه ته يې نيول حرام دي.

رسول الله ﷺ ته پرلپسې روژې نيول جائز وو

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ الوِصَالِ. قالوا: إِنَّكَ تُوَاصِلُ؟" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ د وصال روژې نه منع فرمايلې ده، صحابه کرامو ورته وفرمايل: يارسول الله ﷺ تاسو خو هم د وصال روژه نيسئ؟ "قَالَ: إِنِّي لَسْتُ مِثْلَكُمْ، إِنِّي أُطْعَمُ وَأُسْقَى" نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه ستاسو په شان نه يم، ماته خوراک او څښاک راکولی شي. متفق عَلَيْهِ وهذا لفظ البخاري

تشريح: په پورتني حديث کې راغله چې صوم وصال په شريعت کې منع ده، ددې حديث څخه معلومه شوه چې رسول الله ﷺ به خپله صوم وصال نيولو، ددې وجه خپله په حديث کې ذکر ده چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ماته زما رب خوراک هم راکوي او څښاک هم راکوي

إني أطعم وأسقى: ماته زما رب خوراک هم راکوي او اوبه هم راکوي، يعنې الله ﷻ خپل رسول ته دومره طاقت ورکړی وو چې د هغې په وجه به رسول الله ﷺ څو څو ورځې د خوراک او څښاک څخه بغير روژې نيولې، خپله رسول الله ﷺ فرمايي: "إني أطعم وأسقى" ماته زما رب دودی هم راکوي او اوبه هم راکوي، محدثينو ددې جملې ډېر زيات مطلبونه بيان کړي دي. يو دا چې دا جمله په حقيقت باندې محمول ده چې د الله ﷻ له لورې رسول الله ﷺ ته دودی هم ورکولی شوه او اوبه هم ورکول کېدې، نو بيا اعتراض دا کيږي چې روژه ولې نه ماتېدل؟ جواب دا دی چې د دنيا په اوبو او خوراک روژه ماتيږي، هغه به د جنت خوراک وو چې په هغې روژه نه ماتيږي، بل مطلب يې دا هم دی چې حقيقي خوراک څښاک مراد نه دی، بلکې مقصود ترې طاقت دی چې رسول الله ﷺ ته الله ﷻ ورکړی وو، بل مطلب يې علامه ابن قيم رحمه الله دا بيان کړی دی چې په روژه کې به رسول الله ﷺ د الله ﷻ د انوارا تو او برکاتو دومره زياته مشاهده کول چې د دنيا خوراک او څښاک ته به يې بالکل توجه نه کېدل

باب تحريم الجلوس على القبر

په قبر باندې کېنستل حرام دي

"عن أبي هريرة ﷺ قَالَ: قَالَ رسولُ اللّه ﷺ: لأنْ يَجْلِسَ أحدُكُم على جَمْرَةٍ، فَتُحْرِقَ ثِيَابَهُ فَتَخْلُصَ إلى جِلْدِهِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې يو کس په سکروټه باندې کيني او د هغه جامې وسوځي او بيا دغه سوځېدل څرمنې ته راورسيږي، "خَيْرٌ لَهُ مِنْ أنْ يَجْلِسَ على قَبْرٍ" دا به ده لپاره ډېره ښه وي ددې څخه چې د قبر دپاسه کيني. رواه مسلم

تشريح: لأن يجلس أحدكم على جمرة: که يو کس په سکروټه کيني، تردې چې جامې يې وسوځي او دغه سوځېدل يې څرمنې ته ورسيږي، نو دا تکليف به ده لپاره ددې څخه زيات ښه وي چې د قبر دپاسه کيني او بيا ورته الله ﷻ عذاب ورکوي

باب النهي عن تجصيص القبر والبناء عليه

په قبرونو باندې تعميرونه جوړول او يا يې سيمټي کول حرام دي

"عن جابر ﷺ قَالَ: نَهَى رسولُ اللّه ﷺ أنْ يُجَصَّصَ القَبْرُ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده ددې نه چې قبر دې سيمټي کړی شي، "وأنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ وأنْ يُبْنَى عَلَيْهِ" او يا دې پرې څوك کيني او يا دې پرې تعمير جوړ کړي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: القبر: د انسان د ښخېدو ځای

تشريح: ان يجصص القبر: په شريعت کې قبر سيمټي کول حرام دي، که د قبر پورته طرفته وي او که لاندې وي، دواړو حالاتو کې قبر ته پوښ جوړول حرام دي، "وأن يقعد عليه" په قبر کېنستل حرام دي، ځکه چې په دې سره د صاحب قبر توهين کيږي، ځينې خلك د قبر دپاسه کيني، ددې لپاره چې د غم اظهار ښه وکړي، ليکن د سې کوز هم حرام دي، "وأن يبنى عليه" يا دا چې د قبر دپاسه عمارت جوړ کړي، لکه ګنبد يا چت ورباندې واچوي، نو دا هم په شريعت کې منع دي، بلکې که چا ورباندې ګنبد وغيره جوړ کړی وي، نو د هغې ورانول واجب دي، لکه څرنګه چې د علي ﷺ د روايت څخه معلوميږي چې يو ځل رسول الله ﷺ د قبرونو دپاسه ګنبد خرابولو لپاره روان کړو، علامه توربشتي رحمه الله فرمايي: د جاهليت په زمانه کې به دا رواج وو چې کفارو به د قبر دپاسه ترلسو ورځو پورې ګنبدې جوړولې، ددې مشابهت په بنياد د قبر دپاسه ګنبد جوړول حرام دي.

دلته به زه يوه مختصره واقعه نقل کړم. هغه دا چې يو ځل عربو د قبرونو دپاسه ګنبدونه ورانول شروع کړل، تول يې وران کړل، کله چې د رسول الله ﷺ روضې مبارکې ته خبره راورسېده، نو دوی توقف وکړو چې اوس څه وکړو، په عربو کې چې چېرته جيد علماء وو، د هغوی څخه يې مشورې واخيستې،

ليکن چا ورته تسلي بخش جواب ورنه کړو، آخر دار العلوم ديوبند ته مسئله راورسيده، د دار العلوم ديوبند مشرانو د حکيم الامت مجدد الملت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله څخه فتوى وغوښتل، دوى ورته ووېل: ګورئ! په حديث کې راغلي دي چې د قبر دپاسه به ګنبدې نه جوړوئ، رسول الله ﷺ چې په کوم ځاى کې ښخ کړى شو، هلته د اول نه ګنبد موجود وو چې هغه د عائشې رضي الله عنها کوټه وه، خلاصه دا چې په قبر باندې ګنبد جوړول په شريعت کې منع دي او د رسول الله ﷺ ګنبد د اول څخه موجود وو، الله ﷻ دغه مسئله په اسانى سره حل کړه او دي ته وايي: "فقيه واحد أشد على الشيطان من ألف عابد" که دا مسئله د نن سبا زماني ملايانو ته راوړل شي، نو الله ﷻ عالم چې دوى به څه فتوى ورکولى او بيا په ځانګړې توګه د نن سبا خوارج (داعشيان چې په افغانستان او شام کې يې د وينو سېلابونه روان کړل، ډېر لوى علماء او مجاهدين يې شهيدان کړل، دوى به سمدستي ويل چې (نعوذ بالله) وران يې کړئ؛ په دې څوك څه کوي، دا خبره له ځانه نه کوم، زه يې مزاج پېژنم. مترجم)

باب تغليظ تحريم إباق العبد من سيده

نافرمانه غلام

"عن جرير رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ، فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ" د جرير رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم غلام چې نافرماني شروع کړي، هغه د ذمه دارى نه خارج شو. رواه مسلم

وعنه، عن النبيّ ﷺ: إذا أَبَقَ العَبْدُ، لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلاَةٌ: د جرير رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې غلام نافرماني شروع کړي، نو د هغه لمونځ نه قبلېږي. رواه مسلم

وفي رواية: فَقَدْ كَفَرَ: او په يو بل روايت کې دي: چې هغه کفر وکړو

لغوي تحقيق: ابق: معنى يې ده: تښتېدل، منډې وهل.

تشريح: فقدبرئت منه الذمة: د اسلام د ذمه دارى څخه خارج شو، مطلب دا چې که کوم غلام د خپل مشر نه وتښتي، د دارالاسلام څخه دار الحرب ته لاړ شي او معاذ الله مرتد شي، نو په داسې حال کې د اسلام ذمه داري د هغه څخه ختمه شي، کومه ذمه داري چې د اسلام په وجه ورته حاصله وه هغه دا چې د هغه مال او ځان به دار الاسلام کې خوندي وو، اوس ورته دا نشته، بلکې چېرته چې ومونډل شو، د ارتداد په وجه به مړ کولى شي، که غلام مرتد نه شو او نه دارالحرب ته لاړو، نو اوس د هغه قتلول حرام دي او که چېرته د يو مسلمان په هېواد کې داخل شو، نو اوس به بيا ددې جملې مطلب دا وي چې د حکومت د حفاظت ذمه داري د هغه نه ختمه شوه

باب تحريم الشفاعة فى الحدود

په حد کې سفارشي جوړېدل حرام دي

"قَالَ اللّٰـهُ تعالى: اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ" الله ﷻ فرمايي: زنا کاره ښځه او زنا کار سړي هر يو سل دورې ووهئ! "وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللّٰـهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّٰـهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ" او په دوی باندې دې ستاسو زړونه نرمي نه اخلي، که چېرته تاسو په الله ﷻ او په ورځ د آخرت باندې ايمان لرئ. [النور:۲].

تشريح: په آيت کې ذکر شو چې کومه ښځه او سړی زنا وکړي، ليکن واده شوي نه وي، دوی ته به سل سل دورې سزا ورکولی شي، لکه څرنګه چې علامه ابن کثير رحمه الله فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل "خذوا عني خذوا عني قد جعل اللّٰـه لهن سبيلا، البـكر بالبكر جلد مائة وتغريب عام والثيب بالثيب جلد مائة والرجم" زما څخه علم حاصل کړئ، زما څخه علم حاصل کړئ، الله ﷻ د زنا کار سړي او زنا کارې ښځې لپاره هغه وعده کومه يې چې په سورة نور کې ورسره کړې وه، هغه دا چې کومه ښځه او کوم سړی چې واده شوي نه وي د دوی لپاره سل سل دورې دي او جلا وطني ده او کومه ښځه او کوم سړی چې واده شوي وي سل کوړې او رجم دی، "ولا تأخذكم بهما رأفة فى دين الله" د زنا سزا په ظاهري توګه سخته ده، نو احتمال شته چې څوك سزا ورکوي د هغه ورباندې زړه وسوځي، نو ځکه وفرمايل شو چې د الله ﷻ په فريضه ادا کولو کې په مجرمانو باندې ترس ونه کړئ.

د غلا واقعه

"وعن عائشة رضي الله عنها: أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الْمَخْزُومِيَّةِ الَّتِي سَرَقَتْ، فَقَالُوا: مَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ؟ فَقَالُوا: وَمَنْ يَجْتَرِئُ عَلَيْهِ إِلَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ حِبُّ رَسُولِ اللّٰـهِ ﷺ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې قريش د يوې مخزومي ښځې د غلا کولو په وجه سخت پريشان وو، دوی مشوره وکړه چې رسول الله ﷺ ته به څوك ددې ښځې باره کې سفارش وکړي او خوشي به يې کړي؟ دوی په خپلو کې وويل: اسامه بن زيد رضي الله عنه ښه دی، ځکه چې هغه د رسول الله ﷺ سره ناسته ولاړه زياته کوي، هغه به ورسره خبره وکړي او بل دا چې هغه رسول الله ﷺ ته ډېر زيات ګران هم دی، "فَكَلَّمَهُ أُسَامَةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰـهِ ﷺ: أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللّٰـهِ تعالى؟" اسامه رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ سره دې باره کې خبره وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا ته د الله ﷻ په حدودو کې سفارشي جوړېږې؟ "ثُمَّ قَامَ فَاخْتَطَبَ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ قَبْلَكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ، وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ، أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ" بيا نبي کريم ﷺ پاڅېدو او خطبه يې ووېل، په دې کې يې وفرمايل چې ستاسو نه مخکې خلك هم په دې وجه هلاك شوي وو چې کله به په دوی کې مالداره او غټې کورنۍ والا سړي غلا وکړه، هغه به يې پرېښودلو او که غريب يا کمزوري سړي به غلا وکړه، په هغه به يې حد جاري کړو، "وَايْمُ اللّٰـهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا" قسم په الله ﷻ! که فاطمه رضي الله عنها

د محمد ﷺ لور چېرته غلا وكړي، نو بيا به هم زه د هغې لاس پرې كوم. متفق عليه

وفي رواية: فَتَلَوَّنَ وَجْهُ رَسُولِ اللهِ ﷺ، فَقَالَ: أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ!؟ په يو بل روايت كې دي چې د رسول الله ﷺ مخ مبارك رنګ متغير شو او وې فرمايل چې: ايا ته د الله ﷻ په حدودو كې سفارشي جوړيږې؟ "فَقَالَ أُسَامَةُ: اسْتَغْفِرْ لِي يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: ثُمَّ أَمَرَ بِتِلْكَ الْمَرْأَةِ فَقُطِعَتْ يَدُهَا" اسامه ﷺ وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! ماته بخښنه وغواړه! بيا په دې ښځه باندې د لاس پرې كولو قضاوت وشو، د هغې لاس پرې كړى شو

تشريح: دا حديث وړاندې په (كتاب المامورات باب الغضب إذا انتهكت حرمات الشرع كې ذكر شوى دى، ددې ښځې نوم فاطمه بنت اسود بن عبدالاسود وو، د ابوسلمه ﷺ د ورور لور وه. (رضى الله عنها).

أتشفع في حد من حدود الله تعالى: ايا ته د الله ﷻ په حدودو كې سفارشي جوړيږې، كله چې يو ځل حد ثابت شي، نو د هغې په وړاندې بيا سفارشي جوړېدل او حد منع كول حرام دي، سفارشي جوړېدل هم حرام دي او سفارشي جوړول هم حرام دي، البته كه قاضي ته مقدمه نه وي رسيدلې، ددې ځخه وړاندې وړاندې سفارشي جوړ شي، نو بيا سفارشي جوړېدل جائز دي، "**فقطعت يدها**" د هغې لاس به پرې كړل شي، ددې ښځې عادت دا وو چې د خلكو نه به يې څه شى د عاريت په توګه واخيستلو، بيا به يې انكار كولو چې زما سره ستا هيڅ شى نشته، په داسې صورت كې علماء فرمايي: لاس به نه شي پرې كولى، امام احمد رحمه الله او اسحاق رحمه الله فرمايي: بيا به لاس پرې كولى شي او ددې ښځې لاس پرې كولو حكم چې رسول الله ﷺ وكړو، وجه يې دا وه چې دې ښځې غلا كړې وه.

باب النهي عن التغوط في طريق الناس وظلهم وموارد الماء ونحوها

په لاروكې يا د خلكو د سورې لاندې اودس ماتول حرام دي

"قَالَ اللهُ تَعَالَى: وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا" الله ﷻ فرمايي: هغه خلك چې بې ګناه مسلمانان زوروي، نو دوى په خپلو ځانونو باندې بهتان او ښكاره ګناه باروي [الأحزاب:۵۸].

تشريح: دا آيت وړاندې ځو ځو ځله ذكر شوى دى او هلته يې پوره تفسير هم بيان شوى دى

دوه لعنتي كارونه

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: اتَّقُوا اللَّاعِنَيْنِ قَالُوا: وَمَا اللَّاعِنَانِ؟ قَالَ: الَّذِي يَتَخَلَّى فِي طَرِيقِ النَّاسِ أَوْ فِي ظِلِّهِمْ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د (اللاعنين لعنت كونكو ځايونو نه ځان وساتئ! صحابه كرامو وفرمايل: يا رسول الله ﷺ اللاعنان څه وي؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: هغه سړى چې د خلكو په لارو يا د سورې لاندې اودس ماتوي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: اللاعنان: لعنت په اصل کې (بعد عن الرحمة) ته وايي، ليکن په اصطلاح کې بېرا ره چې د الله تعالی د رحمت څخه لرې شي.

تشريح: په دې حديث کې ددې خبرې ترغيب ورکول شوی چې بايد داسې کارونه ونه کړل شي چې بل مسلمان ته پکې تکليف وي، په لاره يا د داسې ونې لاندې چې سيوری لري بولي/ تشي يا ډکي متيازي ونه شي، بلکې کول يې حرام دي، ځکه چې په لاره خلك سفر کوي او د ونې د سيوري لاندې خلک د ارام لپاره کيني، علماء فرمايي: که کوم داسې ځای وي چې هلته غله ډاکوان وغيره کيني چې په خپل مېنځ کې د غلا او ډاکې مشورې کوي، يا داسې نور ګمراه خلك هلته کيني، نو بيا په داسې ځايونو کې متيازې کول جائز دي، دغه شان علماء فرمايي چې لکه څرنګه د ګرمی په موسم کې سيوري لرونکي ځايونه اهميت لري، دغه شان په ژمي کې ګرم ځايونه اهميت لري، نو هلته متيازې کول هم حرام دي.

باب النهى عن البول ونحوه فى الماء الراكد

په ولاړو اوبو کې اودس ماتی حرام دی

"عن جابر ﷺ: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ نَهَى أَنْ يُبَالَ فِي المَاءِ الرَّاكِدِ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ په ولاړو اوبو کې د متيازو کولو نه منع فرمايلې ده. رواه مسلم

لغوي تحقيق: الراکد: د راکد معنی ده: ولاړې اوبه

تشريح: نهى أن يبال فى الماء الراکد: په ولاړو اوبو کې متيازې کول په شريعت کې منع دي، د ولاړو اوبو څخه هغه اوبه مراد دي چې کمې وي او که زياتې وي، هغه په حکم د جاري کې دي او جاري اوبه نه مرداريږي، ځينې علماء فرمايي: په زياتو اوبو کې هم متيازې کول پکار نه دي، ځکه چې عادت به بې جوړ شي او نور خلك به هم عادتي شي چې بيا به په مزه مزه نجسې وکړځي، د اوبو خوند، رنګ او بوی به بدل شي، په حديث کې چې لکه څرنګه د متيازو څخه منع راغلې ده، دغه شان د ډکو متيازو څخه په طريق اولی منع راغلې ده.

کمې اوبه هغه دي چې يو طرف ته يې حرکت ورکړل شي، نو د ډنډ بل طرف ته حرکت رسيږي، يا هغه اوبه چې لس په لسو کې نه وي او که د يو طرف څخه بل طرف ته حرکت نه رسېدو يا لس په لسو کې وو نو بيا دې ته ماء کثير (زياتې اوبه) وايي.

باب كراهة تفضيل الوالد بعض أولاده على بعض فى الهبة

يو بچي ته په ډالی ورکولو باندې بل بچي ته ترجيح ورکول مکروه ده

"عن النعمان بن بشير رضى الله عنهما: أَنَّ أَبَاهُ أَتَى بِهِ رَسُولَ اللهِ ﷺ فقال: إِنِّي نَحَلْتُ ابْنِي هَذَا غُلَامًا كَانَ لِي" د نعمان بن بشير ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې زما پلار زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر کړم، زما

پلار وويل: يا رسول الله ﷺ! زما يو غلام دى. هغه مې دغه بچي ته ورکړو، "فقال رسول الله ﷺ: أكُلَّ وَلَدِكَ نَحَلْتَهُ مِثْلَ هٰذَا؟ فقال: لا، فقال رسولُ الله ﷺ: فَأَرْجِعهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا هر بچي ته دې غلام ورکړو؟ پلار مې ورته وويل: نه! نبي کريم ﷺ وفرمايل: بيا دا غلام دده نه واپس واخله!

وفي رواية: فقال رسول الله ﷺ: أَفَعَلْتَ هٰذَا بِوَلَدِكَ كُلِّهِمْ؟ قال: لا: او په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا تولو بچيانو ته دې غلامان ورکړل؟ زما پلار ورته وويل: نه! "قال: اتَّقُوا اللّٰهَ واعْدِلُوا فِي أَوْلَادِكُمْ. فَرَجَعَ أَبِي، فَرَدَّ تِلْكَ الصَّدَقَةَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ نه ووېرېږه! او د خپلو بچيانو په مېنځ کې انصاف کوه! زما پلار د خپلې خبرې نه واپس شو او دغه صدقه يې واپس کړه.

وفي رواية: فقال رسولُ الله ﷺ: يَا بَشِيرُ أَلَكَ وَلَدٌ سِوَى هٰذَا؟ فقال: نَعَمْ، قال: أَكُلَّهُمْ وَهَبْتَ لَهُ مِثْلَ هٰذَا؟ او په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې بشير ﷺ! ددې بچي نه سيوا نور بچيان لرې؟ پلار مې ورته وويل: هو! نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تولو ته دې دغه شان غلامان هبه کړي دي؟ "قال: لا، قال: فَلَا تُشْهِدْنِي إِذًا فَإِنِّي لَا أَشْهَدُ عَلَى جَوْرٍ" پلار مې ورته وويل: نه! نبي کريم ﷺ وفرمايل: بيا ما مه شاهد جوړوه! ځکه چې زه په ظلم باندې نه شاهد کېږم، "وفي رواية: لَا تُشْهِدْنِي عَلَى جَوْرٍ" او په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: بيا مې په ظلم باندې شاهد مه جوړوئ!

وفي رواية: أَشْهِدْ عَلَى هٰذَا غَيْرِي! ثُمَّ قال: أَيَسُرُّكَ أَنْ يَكُونُوا إِلَيْكَ فِي الْبِرِّ سَوَاءً؟ قال: بَلَى، قال: فَلَا إِذًا: او په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دې باندې زمانه سيوا بل څوک شاهد وګرځوه! بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا ته دا خبره بنه ګڼې چې ستا سره دې تول بچي په نيکۍ کې برابر وي؟ پلار مې ورته وويل: ولې نه! يارسول الله ﷺ! نبي کريم ﷺ وفرمايل: بيا داسې مه کوه! (يعنې که بچو ته څه ورکوې، نو تولو ته يې برابر ورکړه او امتيازي سلوک مه کوه! متفق عليه

تشريح: إعدلوا بين أولادكم: د خپل اولاد ترمېنځ انصاف کوئ. معلومه شوه چې د اولاد ترمېنځ نا انصافي يا يوه ته پکې ترجيح ورکول ډېره غلطه خبره ده، که ماشومان وي او که جينکۍ وي، ددې ترجيح له امله داسې خرابي مخې ته راځي چې د هغې په وجه پوره خاندان په اور کې وسوځي، "فارجعه" دا واپس کړه! علماء فرمايي: دا حکم د استحباب په توګه وو، دغه شان که يو کس په خپل اولاد کې يو کس ته هبه ورکوي او بل ته يې نه ورکوي، نو دا کار جائز دى، ليکن د کراهت سره، دا مسلك د امام ابوحنيفه رحمه الله امام شافعي رحمه الله او امام مالك رحمه الله دى، ليکن ددې برعکس د امام احمد رحمه الله او سفيان ثوري رحمه الله وغيره په نزد حرام دى، "إشهد على هذا غيري" زما نه علاوه بل څوك په دې شاهد وګرځوه! ددې جملې څخه امام مالك رحمه الله امام شافعي رحمه الله او امام ابوحنيفه رحمه الله استدلال کړى دى چې که دا کار ناجائز واى، نو بيا رسول الله ﷺ ولې دا جمله فرمايل چې په دې باندې بل څوك شاهد جوړ کړه! رسول الله ﷺ پرې شاهد جوړ نه شو، ځکه چې دا کار د ناخوښۍ وو

باب تحريم إحداد المرأة على ميت فوق ثلاثة أيام إلا على زوجها أربعة أشهر وعشرة أيام

د ښځې لپاره په مړي باندې د درې ورځو نه زيات ښايست پرېښودل حرام دي، مګر په خاوند باندې څلور مياشتو او لس ورځو پورې ښايست پرېښودل جائز دي

"عن زينب بنت أبي سلمة رضي الله عنهما، قالت: دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ حَبِيبَةَ رضي الله عنها، زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ، حِينَ تُوُفِّيَ أَبُوهَا أَبُو سُفْيَانَ بن حرب ﷺ، فَدَعَتْ بِطِيبٍ فِيهِ صُفْرَةُ خَلُوقٍ أَوْ غَيْرِهِ" د زينب بنت أبي سلمه ﷺ بيان دی، هغه فرمايي چې زه ام حبيبة ﷺ ته ورغلم چې د نبي کريم ﷺ مېرمن (او د مسلمانانو مور) ده، د هغې پلار ابوسفيان بن حرب ﷺ وفات شوی وو، هغې د عطرو يوه شيشه راوغوښته، په دې عطرو کې څه زېړوالی يا بل څه شی ملاو شوی وو، "فَدَهَنَتْ مِنْهُ جَارِيَةً، ثُمَّ مَسَّتْ بِعَارِضَيْهَا، ثُمَّ قَالَتْ: وَاللهِ مَا لِي بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ، غَيْرَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ" هغې په يوه جينۍ باندې عطر ولګول او څه يې په خپلو انګو باندې ومږل، بيا يې وفرمايل: قسم په الله ﷻ! زما عطر لګولو ته هيڅ ضرورت نشته، ليکن صرف دومره خبره ده چې ما د رسول الله ﷺ نه په منبر باندې اورېدلي دي چې فرمايل يې: "لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ، إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا" د يوې ښځې لپاره دا جائز نه دي چې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت ايمان لري چې هغه دې ډول او سنګار پرېږدي په مړي باندې زيات د درې ورځو نه، خو که خاوند يې مړ شي، نو بيا به څلور مياشتې او څلوېښت ورځې ډول او سنګار پرېږدي.

"قَالَتْ زَيْنَبُ: ثُمَّ دَخَلْتُ عَلَى زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ رضي الله عنها حِينَ تُوُفِّيَ أَخُوهَا، فَدَعَتْ بِطِيبٍ فَمَسَّتْ مِنْهُ ثُمَّ قَالَتْ: أَمَا وَاللهِ مَا لِي بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ" زينب وايي: زه د زينب بنت جحش ﷺ په خدمت کې حاضره شوم، کله چې د هغې ورور مړ شوی وو، هغې د عطرو شيشه راوغوښته او په خپل ځان يې عطر ولګول، بيا يې وفرمايل: قسم په الله ﷻ! ماته د عطرو هيڅ حاجت نشته، "غَيْرَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ: لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ، إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا" ليکن دومره خبره ده چې ما د رسول الله ﷺ نه په منبر باندې اورېدلي دي چې فرمايل يې: د يوې ښځې لپاره دا جائز نه ده چې هغه دې په مړي باندې د درې ورځو نه زيات خپل ډول او سنګار پرېږدي، ليکن په خپل خاوند چې هغه دې څلور مياشتې او لسو ورځو پورې ډول او سنګار پرېږدي. متفق عليه

لغوي تحقيق: دهنت: دهن يدهنا دهنا باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: تېل لګول

تشريح: تحد على ميت فوق ثلاث ليال: هيڅ ښځې ته جائز نه دي چې هغه دې پرته له درې ورځو څخه زياتې ژړاګانې او خفګان وکړي، احداد دې ته وايي چې ښځه ډول، سنګار، خوشبو او رانجه وغيره پرېږدي، د خپل خاوند په وفات باندې څلور مياشتې او لس ورځې ښايست پرېښودل جائز دي او د عام سړي په مرګ باندې ورته تر درې ورځو پورې زينت پرېښودل جائز دي، ددې څخه زيات ورته حرام

دی، په دې بنیاد ام حبیبه رضي الله عنها د خپل پلار په وفات باندې درې ورځې بنایست پرېښودلو. کله چې درې ورځې تیرې شوې، نو خوشبو یې استعمال کړه، ددې لپاره چې په دې حدیث باندې عمل وشي

عدت به د کوم وخت څخه شروع کیږي؟

دې باره کې د جمهورو (امام ابوحنیفه رحمه الله، امام مالك رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله) مسلك دا دی چې کله خاوند وفات شي، نو په وفات پسې سمدستي عدت شروع کیږي. اګر چې د خاوند د مرګ خبر ورته ډېر وروسته ورسیږي، تردې چې که د خاوند د مرګ خبر ورته څلور میاشتې او لس ورځې وروسته ورسېږي، نو بس عدت یې پوره دی.

د راویه زینب بنت ابي سلمه رضي الله عنها حالات:

اصلي نوم یې زینب رضي الله عنها دی، د مخزوم قبیلې سره تعلق لري، د ام سلمه رضي الله عنها څخه پیدا ده، دوی ته اسماء بنت أبي بکر رضي الله عنهما شیدې ورکړې دي، د دوی نوم بره وه، بیا رسول الله ﷺ ورته نوم بدل کړو او زینب یې ورباندې کېښودلو، په ۴۰ هجري کې یې خاوند ابوسلمه رضي الله عنه وفات شو، نو دغه شان د ام سلمه رضي الله عنها نکاح د رسول الله ﷺ سره وشوه، په دې وخت کې زینب رضي الله عنها د شیدو څښلو ماشومه وه، د خپلې مور سره د رسول الله ﷺ کور ته راغله، رسول الله ﷺ به چې غسل وکړو، نو د خپلې خولې مبارکې اوبه یې د ډېرې مینې نه د زینب رضي الله عنها په مخ واچولې، نو ددې برکت دا شو چې زینب رضي الله عنها بوډۍ شوه، خو په مخ کې یې تازګي ختمه نه شوه، هغسې ځوان مخ یې وو، د عبد الله بن زمعه رضي الله عنه سره یې واده وشو، دوه بچي یې ترې پیدا شول، په ۶۳ هجري کې د حره په واقعه کې دواړه شهیدان شول.

باب تحريم بيع الحاضر للبادء وتلقي الركبان والبيع على بيع أخيه والخِطبة على خطبته إلا أنْ يأذن أو يردّ

د یو سړي لپاره جائز نه دي چې کلیوال سړي ته په دلالی سره اخیستل او خرڅول وکړي یا یوې تجارتي قافلې ته د ښار نه بهر ورشي

بازاري سړی به د کلیوال سره په تنهایی کې سودا نه کوي

"عن أنس رضي الله عنه، قال: نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ أنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ وإنْ كَانَ أخَاهُ لأَبِيهِ وأُمِّهِ" د انس رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ ددې نه منع فرمایلې ده چې ښاري سړی به کلیوال سړي ته سودا نه خرڅوي، اګر که هغه دده د مور او پلار نه سکه ورور وي، (دا څکه چې دلال (کمېشن کار) سړی به د کلیوال سړي نه خپل کمېشن اخلي، نو کلیوال ته به د خپل شي پوره قیمت نه ملاویږي. متفق علیه

تشریح: أن يبيع حاضرٌ لبادٍ: هیڅ بازاري سړی به کلیوال کس ته سودا نه خرڅوي، ددې یو مطلب پورته په عبارت کې هم بیان شو، لیکن ددې بل مطلب دا هم دی چې کوم بازاري کس کلیوال سړي نه

ودايي چې ته خپله غله وغيره زما سره په دوکان کې پرېږده! څه موده پس چې ددې غلې قيمت په بازار کې زيات شي، نو بيا به يې درته خرڅ کړم، دا کار ځکه حرام دی چې دا د احتکار (ذخيره) کولو يوه نوعه ده، ليکن دا کار هغه وخت ناجائز دی کله چې په دې کې ضرر عامه لازميږي، يعنې عام ولس ته پکې ضرر پروت وي، مبالغةً فرمايي: دا کار ناجائز دی، اګرچې کوټکی يې سکه ورور وي

د تجارتي قافلو سره په لاروکې ملاقات مه کوئ

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: قَالَ رسولُ اللّٰـهِ ﷺ: لَا تَتَلَقَّوُا السِّلَعَ حَتّٰى يُهْبَطَ بِهَا إِلَى الْأَسْوَاقِ" د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل مال سامان بازارونو ته د راتللو نه مخکې بهر په بهر مه اخلئ! متفق عليه

لغوي تحقيق: السلعة: تجارتي سامان.

تشريح: لاتتلقوا السلع حتى يهبط بها إلى الأسواق: تاسو په لارو کې د سامانونو د مالکانو سره مه ملاويږئ ترڅو چې هغه سامان بازار ته رسيدلی نه وي، ددې مطلب دا دی چې فرض کړه کومه قافله د پاکستان څخه افغانستان ته سامان وړي، په لاره کې روانه وي، ورانديې له دې چې هغه قافله بازار ته داخله شي، ترڅو چې د بازار ريټ معلوم شوی نه وي، نو بازاري خلك به تر هغه په لارو کې د هغوی سره د سامان سودا نه کوي، علماء فرمايي: دا ممانعت هغه وخت دی چې کله د تاجرانو قافلې ته دوکه او نقصان ورسول شي، بلکې په يو بل حديث کې دي چې دغه کليوال خلک پرېږدئ چې هغوی خپل سامانونه بازار ته ورسوي کوم چې د هغوی په قسمت کې وي هغه به ورته ملاويږي

بازاري سړی به کليوال ته دلال نه جوړيږي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قال: قَالَ رسُولُ الله ﷺ: لَا تَتَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ، وَلَا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ" د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې تاسو بهر ته تللو سره د قافلې نه اخيستل مه کوئ او نه دې يو ښار والا سړي د يو کليوال سړي مال په دلالۍ (کميشن) خرڅوي، "فقَالَ لَهُ طَاوُوسٌ: مَا: لَا يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ؟ قال: لَا يَكُونُ لَهُ سِمْسَاراً" طاووس رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما نه پوښتنه وکړه چې ښاري سړی به د کليوال نه څنګه مال نه اخلي، يعنې صورت يې څه دی؟ هغه وفرمايل: د هغه دلال (کميشن کار) دې نه جوړيږي، (ځکه چې په دې صورت کې کليوال ته د خپل شي پوره قيمت نه ملاويږي، بلکې کميشن کار به ترې خپل کميشن اخلي) متفق عليه

تشريح: لاتتلقوا الركبان: د قافلې د خلکو سره په لارو کې ملاقات مه کوئ، ددې مطلب راندې په حديث کې ذکر شو، يعنې کوم کليوال خلك چې بازار ته خپل مالونه راوړي، هغوی ته د بازار قيمت معلوم نه وي، نو ځينې بازاري خلك ددې کليوال سره په لارو کې ملاقات کوي او د هغوی نه مالونه په لاره کې اخلي او دا کار ناجائز دی.

ولا يبيع حاضر لباد: بازاري سړی به کليوال ته سودا نه کوي، طاووس رحمه الله ددې مطلب داسې بيان

کړې دی چې بازاري سړی به کليوال سړي ته دلال نه جوړيږي، په دې کې به نقصان دا وشي چې هغه بازاري سړی چې کله د کليوال نه څه سامان په لاره کې واخلي، نو په يو قيمت به يې واخلي او کله چې بيې خرڅوي، نو په بل قيمت به يې خرڅوي. يعنې د خپل ځان نه به ريټونه لګوي او زيات ريټ به لګوي، نو دغه شان په سامانونو کې د قيمت کمېدو پرځای به زياتوالی راځي.

بل ته دوکه ورکول حرام دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: نَهَى رسولُ اللهِ ﷺ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا يَبِيعِ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلَا يَخْطُبْ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده ددې نه چې ښاري سړی دې کليوال سړي ته څه سودا خرڅه کړي، ددې نه يې هم منع فرمايلې ده چې بل ته د دوکه ورکولو لپاره د يو شي قيمت زيات ظاهر کړی شي او د ورور په سودا باندې د سودا کولو نه هم منع شوې ده، دا رنګ د ورور د واده پيغام لېږلو باندې د پيغام لېږلو نه هم منع فرمايل شوې ده. "وَلَا تَسْأَلِ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَكْفَأَ مَا فِي إِنَائِهَا" او ددې نه هم رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده چې يوه مسلمانه ښځه دې په خپله خور باندې د خاوند څخه د طلاق غوښتنه نه کوي، ددې لپاره چې خپله د هغه سره نکاح وکړي.

"وفي رواية قال: نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ التَّلَقِّي، وَأَنْ يَبْتَاعَ الْمُهَاجِرُ لِلْأَعْرَابِيِّ" او په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده ددې نه چې يو سړی د قافلې والا مخې ته ورشي او ددې نه يې هم منع فرمايلې ده چې يو مهاجر سړی دې کليوال سړي ته مال خرڅ کړي، "وَأَنْ تَشْتَرِطَ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا، وَأَنْ يَسْتَامَ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ، وَنَهَى عَنِ النَّجْشِ وَالتَّصْرِيَةِ" او بل دا چې يوه ښځه د يو سړي سره نکاح کولو لپاره د خپلې بلې مسلمانې خور د طلاق شرط ولګوي او د خپل ورور په سودا دې سودا نه کوي او بل ته دوکه ورکولو لپاره دې خامخا قيمت نه زياتوي او د ځارويو په تيونو کې د شيدو ايسارولو نه يې هم منع فرمايلې ده. متفق عليه

لغوي تحقيق: تناجشوا: نجش دوکه ورکول، د سامان قيمت زياتولو په خاطر دوکه ورکول

تشريح: ولاتناجشوا: د نجش معنی ده : رغبت ورکول، دوکه ورکول، علماوو ددې صورت دا ليکلی دی چې فرض کړه د دوه کسانو ترمينځ سودا کيږي، نو دريم کس راشي د هغه شي قيمت زياتولو په خاطر د هغه تعريفونه شروع کړي، د هغه مقصد اخيستل نه وي، بلکې اخيستونکي ته دوکه ورکوي چې دا سړی هم اخيستلو ته راغلی دی.

ولا يخطب على خطبة أخيه: د خپل ورور په کوزده کې به بل کس د هغې ښځې سره د کوزدې کولو کوشش نه کوي، ددې صورت دا دی چې يو کس چا کره د يوې ښځې سره د نکاح کولو پيغام واستولو، بل کس ته معلومه شوه چې فلانکي سړي فلانکۍ ښځې ته د نکاح پيغام ليږلی دی او تر اوسه يې هغوی ته څه مثبت يا منفي جواب نه دی ورکړی، نو ددې علم باوجود هغه هم ورته پيغام واستوي، دا غلط کار دی، په شريعت کې داسې کول حرام دي

ولا تسأل المرأة طلاق أختها لتكفأ ما في إنائها: ښځه دې د خپلې خور د طلاق سوال نه کوي، ددې چې د

ددې جملې چې: "لتكفأ ما في إنائها" ترجمه يې داسې کيږي: د هغې په هغې برخه هم ددې ته په لاس ورشي، ددې نه چې هغه واړوي، دا کنايه ده ددې نه چې هغه کس خپلې اولنۍ ښځې ته طلاق ورکړي او ددې بلې سره نکاح وکړي کومې چې ترې مطالبه کړې ده، په دې کې ددې ښځې مقصد دا وي چې ددې کس پوره توجه زما طرفته شي، نو دا کار حرام دی.

ونهى النجش والتصرية: د سامان قيمت زياتولو په خاطر دوکه ورکول حرام دي، دغه شان چې د خاروېو په تيونو کې څه موده شيدې پرېښودل شي، ددې لپاره چې هغه څاروي ښه وليدل شي او کتونکي ورباندې دوکه شي، هغه دا فکر وکړي چې ددې څاروي په تيونو کې خو ښه ډېرې شيدې دي او حال دا چې داسې نه وي.

التصرية: ددې مطلب هم دغه دی چې د څاروي په تيونو کې دومره موده شيدې پرېښودل شي چې کتونکي ورباندې دوکه شي چې دا خو به ډېرې شيدې ورکوي او حال دا چې داسې نه وي.

د چا په سودا باندې سودا مه کوئ!

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أن رسول الله ﷺ قال: لا يبع بعضكم على بيع بعض، ولا يخطب على خطبة أخيه إلا أن يأذن له" د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو سړی به د بل سړي په سودا باندې سودا نه کوي او نه به د خپل ورور د نکاح په پيغام باندې پيغام لېږي، ليکن که هغه اجازه ورکړي، نو بيا خير دی. متفق عليه، وهذا لفظ مسلم

تشريح: لا يبيع بعضكم على بيع بعض: يو کس دې د بل کس په سودا باندې سودا نه کوي، مطلب دا چې که يو کس سودا کوي، نو تر څو چې هغه اخيستې نه وي يا يې پرېښودلې نه وي، تر هغې به بل کس ورسره سودا نه کوي.

ولا يخطب على خطبة أخيه: او نه به د خپل ورور د کوژدې دپاسه د کوژده پيغام لېږي، مطلب دا چې يو کس د يوې ښځې سره نکاح کول غواړي، هغه پيغام واستولو، ليکن تر اوسه نکاح نه ده شوې، بل کس ته پته ولګېده هغه هم د نکاح پيغام ولېږلو، دا کار حرام دی، البته که هغه د نکاح اراده پرېښوده يا د ښځې له لورې خلکو انکار وکړو، نو بيا دغه دويم کس ته جائز دي چې د نکاح پيغام ولېږي.

د نکاح د پيغام دپاسه د نکاح پيغام لېږل حرام دي

"وعن عقبة بن عامر رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ قال: المؤمن أخو المؤمن، فلا يحل لمؤمن أن يبتاع على بيع أخيه ولا يخطب على خطبة أخيه حتى يذر" د عقبة بن عامر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، هيڅ مسلمان ته جائز نه دي چې هغه دې د خپل ورور په سودا باندې سودا وکړي يا دې د هغه د نکاح په پيغام باندې پيغام ولېږي. رواه مسلم

باب النهي عن إضاعة المال في غير وجوهه التي أذن الشرع فيها

بې ځايه مال خرچ کول ګناه ده

"عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: إِنَّ اللهَ تعالى يرضى لكم ثلاثاً، ويكره لكم ثلاثاً" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ درې شيان ستاسو لپاره خوښ کړي دي او درې شيان يې درته ناخوښ کړي دي. "فَيَرْضى لَكُمْ أَنْ تَعْبُدُوهُ، وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً، وَأَنْ تَعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعاً وَلَا تَفَرَّقُوا" هر چې د الله خوښ شوي شيان دي، هغه دا دي چې د يو الله ﷻ عبادت وکړئ، د هغه سره شريك مه جوړوئ او د الله ﷻ په دين باندې منګولې ولګوئ او ډلې ډلې مه جوړيږئ "وَيَكْرَهُ لَكُمْ: قِيلَ وَقَالَ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةَ الْمَالِ" او هر چې د الله ﷻ کوم ناخوښه شيان دي. هغه دا دي چې: قيل وقال (چا ويلي ما ويلي خبرې دي)، ډېر زيات سوالونه او پوښتنې کول او مال ضايع کول دي. رواه مسلم، وتقدم شرحه

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب تحريم العقوق) کې ذکر شوی دی.

امير معاويه رضي الله عنه ته د مغيره رضي الله عنه خط

"وعن ورّاد كاتب المغيرة قال: أملى علي المغيرة بن شعبة في كتاب إلى معاوية رضي الله عنه: أن النبي ﷺ كان يقول في دبر كل صلاة مكتوبة: لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، وهو على كل شيء قدير" د وراد رحمه الله نه روايت دی چې د مغيرة بن شعبة رضي الله عنه کاتب وو، فرمايي چې يو ځل مغيره رضي الله عنه يو خط په ما باندې امير معاويه رضي الله عنه ته وليکلو، په هغه خط کې دا ليکل شوي وو چې نبي کريم ﷺ به د هر فرض لمانځه وروسته دا سې دعاء کول، **ترجمه**: نشته لائق د عبادت سوا د الله ﷻ څخه چې (واحد لاشريك له ذات) دی، ده ته بادشاهي ده او هم ده ته ثناء او صفتونه دي او دغه ذات په هر څه قادر دی، "اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ" اې الله! چاته چې ته ورکړه وغواړې د هغې منع کونکی څوك نشته او چانه چې يې ته بند کړې هغه ته څوك ورکونکی نشته، "وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ" او د چا مال ستا په مقابله کې هيڅ نفع نه شي رسولی، "وَكَتَبَ إِلَيْهِ أَنَّهُ كَانَ يَنْهَى عَنْ قِيلَ وَقَالَ، وَإِضَاعَةِ الْمَالِ، وَكَثْرَةِ السُّؤَالِ" او په دې خط کې يې دا هم ورته وليکل چې نبي کريم ﷺ د ډېر (قيل وقال تا ويلي ما ويلي نه منع فرمايلې ده او د مال ضايع کولو نه يې هم منع فرمايلې ده او د ډېر سوال کولو څخه يې هم منع فرمايلې ده، "وَكَانَ يَنْهَى عَنْ عُقُوقِ الْأُمَّهَاتِ، وَوَأْدِ الْبَنَاتِ، وَمَنْعٍ وَهَاتِ" او نبي کريم ﷺ به د مور - پلار د نافرمانۍ کولو څخه هم منع کول او ژوندي لورګانې ښخولو نه يې هم منع فرمايلې ده او حقدار ته حق نه ورکول او په ظلم سره څه شي اخيستلو نه يې هم منع فرمايلې ده. متفق عليه، وسبق شرحه

تشريح: په حديث کې که يو طرف د الله ﷻ خالص عبادت ته اشاره ده، نو بل طرف په دين باندې قائم پاتې کېدو او په خپلو کې سره مينه او محبت ساتلو ته اشاره ده. د بې فايدې (لايعني

خيرو، فضول بحث مباحثو) څخه ډډه کول شريعت ته مطلوب امر دی، د الله ﷻ په رسۍ باندې مضبوطی سره منګولې لګول پکار دي، د تفرقه بازۍ او ډله بازۍ څخه ځان ساتل پکار دي.

د راوي وراد رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې وراد رحمه الله دی، کنيت يې ابو سعيد يا ابو الورد دی، د کوفې اوسېدونکی وو، د جليل القدر تابعينو څخه دی، په ثقاتو کې شمار دی، په صحاح سته کې د دوی مرويات شته.

باب النهي عن الإشارة إلى مسلم بسلاح ونحوه سواء كان جاداً أو مازحاً، والنهي عن تعاطي السيف مسلولاً

مسلمان ته د ټوپک شېلې نيول که په ټوکو کې وي او که په رښتيا وي او د توري تېره طرف هغه ته نيول

"عن أبي هريرة ﷺ، عن رسول الله ﷺ قال: لَا يُشِرْ أَحَدُكُمْ إِلَى أَخِيهِ بِالسِّلَاحِ" د ابو هريره ﷺ روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خپل مسلمان ورور ته په وسله باندې اشاره مه کوئ! "فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي لَعَلَّ الشَّيْطَانَ يَنْزِعُ فِي يَدِهِ، فَيَقَعَ فِي حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ" کېدی شي چې شيطان مداخلت وکړي، د هغه دلاس نه اسلحه ووځي او هغې سره مسلمان قتل شي او د هغې په وجه دی په جهنم کې پرېوځي. متفق عليه

وفي رواية لمسلم قال: قال أبو القاسم ﷺ: مَنْ أَشَارَ إِلَى أَخِيهِ بِحَدِيدَةٍ، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَلْعَنُهُ حَتَّى يَنْزِعَ، وَإِنْ كَانَ أَخَاهُ لِأَبِيهِ وَأُمِّهِ: په يو بل روايت کې دي چې ابو القاسم ﷺ وفرمايل: کوم کس چې خپل ورور ته په اوسپنې سره اشاره وکړي، (يعنې هغه طرفته يې ونيسي) نو پرښتې تر هغه پورې په هغه لعنت وايي چې تر څو يې د هغه طرفته هغه اوسپنه لرې کړې نه وي، اګر که هغه د دواړو د مور - پلار له طرفه ورور وي.

قوله ﷺ: يَنْزِعُ ضُبِطَ بِالعين المهملة مع كسر الزاي، وبالغين المعجمة مع فتحها، ومعناهما متقارب، ومعناه بالمهملة يَرْمِي، وبالمعجمة أيضاً يَرْمِي وَيُفْسِدُ. وَأَصْلُ النَّزْعِ: الطَّعْنُ وَالفَسَادُ: دا لفظ چې (ينزع) دی په غين سره هم را نقل شوی دی او په عين سره هم، د دواړو معنی متقاربه ده چې په عين سره شي، نو ويشتل ترې مراد دي او که په غين سره شي، نو بيا هم فساد جوړول ترې مراد دي، په اصل کې جګړې او فساد ته ويل کيږي.

سلاح څخه هغه وسله مراد ده چې انسان پرې وژل کيږي، لکه نيزه، توره او ټوپک شو، په دې شيانو سره رښتيا يا په ټوکو کې هم يو بل ته اشاره کول ګناه ده، ممکنه ده چې شيطان هغه وسله ډډه نه غير ارادي طور وچلوي او ددې په وجه جهنم ته لاړ شي، ځکه چې شيطان د انسان دښمن دی، هغه هر وخت په دې انتظار وي چې کله به موقع په لاس راشي چې انسان په ګناه کې اخته کړم، نو ځکه د مبالغې په توګه ارشاد وشو چې په وسلې سره چا ته اشاره مه کوئ، ويشتل او ټک کول خو لرې پرېږدئ چې دا خو صراحتاً حرام کار دی.

تشريح: په حديث کې د

د تيکي څخه ويستل شوې توره ورکول

"وعن جابر ﷺ قال: نهى رسول الله ﷺ أن يتعاطى السيف مسلولاً: د جابر ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ دې نه منع فرمايلې ده چې يو سړى دې بل کس ته د تيکي نه وتل شوې لوڅه توره په لاس ورکړي. رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن"

تشريح: ان يتعاطى السيف مسلولاً: د تيکي څخه ويستل شوې توره نيول هم گناه ده، د تيکي څخه ويستل شوې توره په لاس کې نيول ځکه گناه ده چې ممکنه ده د لاس څخه پرېوځي او کوم مسلمان به ورباندې زخمي شي، يا دا چې کوم مسلمان يې ووينې، نو هغه به وويرېږي چې په ما پسې يې راخيستې ده، د شريعت په نظر کې د انسان او بيا د مسلمان څومره قدر او احترام دى

باب كراهة الخروج من المسجد بعد الأذان إلا لعذر حتى يصلي المكتوبة

کله چې اذان وشي، د عذر څخه بغير د جومات نه وتل مکروه دي

"عن أبي الشعثاء، قال: كنا قعوداً مع أبي هريرة ﷺ في المسجد، فأذن المؤذن، فقام رجل من المسجد يمشي، فأتبعه أبو هريرة بصره حتى خرج من المسجد" د ابو الشعثاء رحمه الله نه روايت دى هغه فرمايي چې يو ځل موږ د ابو هريره ﷺ سره په جومات کې ناست وو، په دې وخت کې مؤذن آذان وکړو، يو کس د جومات څخه روان شو، ابو هريره ﷺ ورته کتل تردې چې د جومات نه ووتلو، "فقال أبوهريرة: أما هذا فقد عصى أبا القاسم ﷺ" ابو هريره ﷺ وفرمايل: هر چې دا کس دى، نو ده د ابو القاسم ﷺ نافرماني وکړه. رواه مسلم

تشريح: کله چې آذان وشي، نو بيا د جومات څخه وتل او جمع پرېښودل حرام دي، ځکه چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده، البته که چېرته شرعي عذر وي، لکه کوم بل ځاى امام وي يا مؤذن وي يا کومه بله ذمه واري يې په سر وي، نو په دې صورت کې بيا وتل جائز دي.

د راوي ابو الشعثاء رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې سليم رحمه الله دى، د پلار نوم يې الاسود دى، کنيت يې ابو شعثاء دى، جليل القدر تابعي دى، د ثقاتو څخه دى، د ابو هريره ﷺ څخه زيات روايات نقل کوي.

باب كراهة رد الريحان لغير عذر

د خوشبو تحفه د عذر څخه بغير واپس کول مکروه دي

"عن أبي هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: من عرض عليه ريحان، فلا يرده، فإنه خفيف المحمل، طيب الريح" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس ته چې د گل تحفه وړاندې شي، نو مه يې رد کوئ! ځکه چې گل سپک وي، په لاس کې هم راخيستل کېږي او خوشبو يې هم ښکلې وي. رواه مسلم

تشريح: د خوشبو تحفه قبلول يا خوشبولرونکي شيان په هديه کې اخيستل شرعا هم مطلوب دي، که يو کس تاته خوشبو درکوي يا د خوشبو په شان بله کومه هديه درکوي بايد چې قبوله شي، وجه يې دا ده چې خوشبو په هديه کې ورکول دومره ګران بوج نه وي او بل دا چې خوشبو ښه شی دی، معلومه شوه چې د خوشبو تحفه قبلول مستحب دي، بل د خوشبو استعمال هم مستحب دی او بل ته يې په هديه کې ورکول هم مستحب دي او جماعت د ته تلو څخه وړاندې يې استعمال مستحب دی.

د خوشبو هديه واپس اخيستل مناسب نه دي

"وعن أنس بن مالكٍ ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ لَا يَرُدُّ الطِّيبَ" د انس بن مالك ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ به کله هم خوشبو تحفه نه رد کول. رواه البخاري

تشريح: علامه عيني رحمه الله فرمايي: د رسول الله ﷺ زياتره مجلس به د پرښتو سره وو او پرښتې د بد بويي څخه سخت کرکه لري او د خوشبو سره مينه کوي، په دې وجه به رسول الله ﷺ خوشبو خوښول، ځينو علماوو هغه شيان په دې لاندې شعرونو کې رانغښتلي دي چې د هغې واپس کول مناسب نه دي.

قدكان من سنة خير الورى .... صلى الله عليه طول الزمن

ان لا يرد الطيب والمتكا .... والتمر أيضا يا أخي واللبن

باب كراهة المدح في الوجه لمن خيف عليه مفسدة من إعجاب ونحوه، وجوازه لمن أمِنَ ذلك في حقه

مخامخ د چا تعريف کول مکروه دي

"وعن أبي موسى الأشعري ﷺ قال: سَمِعَ النَّبِيُّ ﷺ رَجُلًا يُثْنِي عَلَى رَجُلٍ وَيُطْرِيهِ فِي المِدْحَةِ" د أبو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي: يو کس د بل سړي تعريفونه د حد څخه زيات شروع کړل، "فقال: أَهْلَكْتُمْ أَوْ قَطَعْتُمْ ظَهْرَ الرَّجُلِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو خو هغه په هلاکت کې واچولو او يا يې داسې وفرمايل: د هغه ملا خو تاسو ماته کړه. متفق عليه

وَالإِطْرَاءُ: المُبَالَغَةُ فِي المَدْحِ. الاطراء: په مدحه کې مبالغې ته ويل کيږي

تشريح: أهلكتم أو قطعتم ظهر الرجل: تا خو هغه هلاك کړو يا دې د هغه ملا ماته کړه، مطلب دا چې د چا په وړاندې مخامخ تعريف وکړې، نو په هغه کې تکبر پيدا شي، لکه څرنګه چې د يو انسان مرئ کاټ کړې او هلاك شي، دغه شان ستا دلاسه د هغه آخرت تباه شو، علامه خطابي رحمه الله فرمايي: د تعريف څخه هغه خلك مراد دي چې بې ځايه تعريفونه د چاپلوسی په شان کوي، نو داسې خلك په رښتيا او دروغو کې فرق نه کوي، بس له ځانه لګيا وي، نو دغه ناجائز دي، که څوك د دنيوي غرض

او د پيسو له لالچ څخه پرته د يو داسې شخص تعريف وکړي چې هغه واقعي د تعريف لائق وي او په هغه کې تکبر هم نه پيدا کيږي، نو بيا د داسې کس تعريف کول جائز دي

داسې ويل پکار دي چې زه په فلانکي کس داسې داسې ګومان کوم

"وعن أبي بكرة رضي الله عنه: أَنَّ رجلاً ذُكِرَ عند النبيِّ ﷺ، فَأَثْنَى عَلَيْهِ رَجُلٌ خَيْراً، فقال النبيُّ ﷺ: وَيْحَكَ! قَطَعْتَ عُنُقَ صَاحِبِكَ يَقُولُهُ مِرَاراً" د ابو بکرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د يو سړي يادګېرنه وشوه، يو بل کس يې تعريفونه شروع کړل، نبي کريم ﷺ وفرمايل: هلاک شې د هغه څټ خو دې پرې کړو، دا جمله يې څو ځله وفرمايل "إِنْ كَانَ أَحَدُكُمْ مَادِحاً لَا مَحَالَةَ فَلْيَقُلْ: أَحْسِبُ كَذَا وَكَذَا" که خامخا د چا صفت کول غواړې، نو بيا داسې وايه چې زه پرې داسې ګومان کوم، "إِنْ كَانَ يَرَى أَنَّهُ كَذَلِكَ وَحَسِيبُهُ اللهُ، وَلَا يُزَكِّي عَلَى اللهِ أَحَدٌ" په دې شرط چې دده پوخ ګومان وي چې دده په علم کې به هغه داسې وي او باقي الله جل جلاله د هغه حساب اخيستونکی دی، باقي هغه د الله جل جلاله په نظر کې څنګه دی، ددې پته چاته نشته. متفق عليه

تشريح: فأثنى عليه رجل خيراً: يو کس د هغه تعريف وکړو، علماء فرمايي: د چا تعريف کول په درې ډوله دي: (۱) د چا په مخامخ تعريف وکړې، نو دا جائز نه دي، (۲) تعريف خو غائبانه وشي، ليکن ددې خبرې ارمان وي چې زما تعريف بايد څوک ورته بيان کړي چې ستا تعريف يې کولو دا هم منع دي، (۳) تعريف خو غائبانه وشي، ليکن ددې پروا پکې نه وي چې زما تعريف دې څوک ورته بيان کړي يا نه، نو دا جائز دي

فليقل أحسب كذا وكذا: که د چا تعريف ضروري ګڼې، نو بيا داسې وايه چې زه په هغه داسې او داسې ګومان کوم، علماء ليکي: که په چا کې دې ښه خصلت وليدو، نو بيا هم په جزم او يقين سره د هغه تعريف مه کوه، بلکې داسې وايه چې زه په هغه ښه ګومان کوم، ممکنه ده چې هغه په ظاهر کې نيک وليدل شي، ليکن په باطن کې هغسې نه وي.

سوال: د ځينو صحابه کرامو تعريف خو رسول الله ﷺ په پوره يقين سره کړی دی، لکه عشره مبشره رضي الله عنهم او داسې نور صحابه کرام شو؟

جواب: د هغوی باره کې پوره په يقين سره معلوم وو چې دا خلک الله جل جلاله ته قبول دي.

په خوله کې خاورې شيندل

"وعن همام بن الحارث، عن المقداد رضي الله عنه: أَنَّ رَجُلاً جَعَلَ يَمْدَحُ عُثْمَانَ رضي الله عنه، فَعَمِدَ الْمِقْدَادُ، فَجَثَا عَلَى رُكْبَتَيْهِ، فَجَعَلَ يَحْثُو فِي وَجْهِهِ الْحَصْبَاءَ، فَقَالَ لَهُ عُثْمَانُ: مَا شَأْنُكَ؟" د همام بن حارث رحمه الله نه روايت دی هغه يې د مقداد رضي الله عنه نه روايت کوي چې يو سړي دده په وړاندې د عثمان رضي الله عنه مخامخ تعريفونه شروع کړل، هغه لږ شان راغوند شو او بيا په زنګونونو باندې کېنستلو او شروع شو، د هغه سړي په خوله کې يې د شګو لپې ويشتل شروع کړل، عثمان رضي الله عنه ورته وفرمايل: دا څه کوې؟ "فقال: إِنَّ رسول الله ﷺ قال: إِذَا رَأَيْتُمُ الْمَدَّاحِينَ، فَاحْثُوا فِي وُجُوهِهِمُ التُّرَابَ" هغه وويل: نبي کريم ﷺ وفرمايل: کله چې تاسو ووينئ چې د يو

سړي مخامخ تعريفونه بيانوي، نو د هغه په خوله کې خاورې واچوئ' رواه مسلم

فهذه الأحاديث في النهي، وجاء في الإباحة أحاديث كثيرة صحيحة : دا هغه حديثونه دي چې د تعريف نه پکې منع راغلې ده او دا ټول صحيح حديثونه دي.

قال العلماء: وطريق الجمع بين الأحاديث أن يُقَالَ: إن كان الممدوح عنده كمال إيمان ويقين، ورياضة نفس، ومعرفة تامة بحيث لا يفتتن، ولا يغتر بذلك، ولا تلعب به نفسه، فليس بحرام ولا مكروه: امام نووي رحمه الله فرمايي: علماوو ددې حديثونو په جمع او توفيق کې داسې رايه پيش کړې ده چې که ممدوح يعنې د چا صفت کېدلی شي، د هغه دومره کامل ايمان وي چې خپل نفس يې په رياضت سره مات کړی وي او پوره معرفت تامه ورته حاصل وي، که هغه ته پته ولګيږي چې خلک زما تعريف کوي، نو بيا هم په فتنه کې نه غورځيږي، نه دوکه کيږي او نه پکې عجب او تکبر راځي، نو بيا تعريف کول حرام نه دي، "وإن خيف عليه شيء من هذه الأمور، كره مدحه في وجهه كراهة شديدة، وعلى هذا التفصيل تنزل الأحاديث المختلفة في ذلك" او که چېرته په دې ذکر شوو شيانو کې د يو شي خوف او وېره پرې وي، نو بيا د هغه مدحه يا تعريف کول مکروه دي او اشد درجه مکروه دي، په دې تفصيل سره ذکر شوېو مختلفو حديثونو کې به تطبيق وکړی شي

"ومما جاء في الإباحة قوله ﷺ لأبي بكر ﷺ: أرجو أن تكون منهم أي من الذين يدعون من جميع أبواب الجنة لدخولها" او کوم چې د تعريف اباحت راغلی دی، لکه نبي کريم ﷺ چې ابو بکر ﷺ ته وفرمايل: زه اميد لرم چې ته به د هغو کسانو څخه يې چې د ټولو جنتي دروازو څخه به ورته آواز کولی شي

"وفي الحديث الآخر: لست منهم: أي لست من الذين يسبلون أزرهم خيلاء" د بل حديث په آخر کې راځي چې نبي کريم ﷺ ابو بکر ﷺ ته وفرمايل: تاسو په هغو کسانو کې نه يئ چې خپلې پايڅې د غرور او تکبر له امله لاندې زوړندې ساتئ!

"وقال ﷺ لعمر ﷺ: ما رآك الشيطان سالكا فجا إلا سلك فجا غير فجك" او يا لکه نبي کريم ﷺ عمر ﷺ ته وفرمايل: شيطان تا نه وينې چې په يوه لاره روان وي، مګر دا چې شيطان هغه لاره پرېږدي او په بله لاره روان شي، "والأحاديث في الإباحة كثيرة، وقد ذكرت جملة من أطرافها في كتاب "الأذكار"" د تعريف په اباحت باندې زيات حديثونه دي چې ما په کتاب الاذکار کې ذکر کړي دي

لغوي تحقيق: يسبلون: اسبال: پرده اچول.

تشريح: فجعل يحثو في وجهه الحصباء: مقداد ﷺ د تعريف کونکي په خوله کې خاورې شيندل شروع کړل، په يو بل روايت کې دي چې "إذا رأيتم المداحين فاحثوا في وجوههم التراب" کله چې تاسو داسې کس ووينئ چې هغه د خلکو تعريفونه کوي، نو د هغه په خوله کې خاورې واچوئ، مطلب دا چې کله ته داسې يو کس ووينې چې هغه ستا وړاندې ستا تعريف کوي، نو د هغه په خوله کې خاورې واچوه' يعنې د هغه په تعريف چوپ پاتې شه؛ هيڅ پرې مه وايه، کله چې کوم کس ستا تعريف شروع کړي، نو دا دعاء وايه: "اللهم اغفر لي ما لا يعلمون ولا تواخذني بما يقولون واجعلني خيرا مما يظنون"

د راوي همام بن الحارث رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې همام رحمه الله دی، د پلار نوم يې حارث بن قيس بن عمرو دی، د نخع قبيلې سره تعلق لري، د کوفې اوسېدونکی وو، جليل القدر تابعي وو، علماوو په ثقه راويانو کې شمار کړی دی، د شاګردانو تعداد يې زيات وو.

باب کراهة الخروج من بلد وقع فيها الوباء فرارا منه وکراهة القدوم عليه

په کوم کلي کې چې وبا خپره شي، د هغه ځای څخه وتل مکروه دي

"قال الله تعالى: أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ" الله ﷻ فرمايي: تاسو چې چېرته يئ، تاسو ته به خامخا مرګ راځي، اګرچې تاسو په مضبوطو قلاګانو او بنګلو کې يئ! [النساء:۷۸].

تشريح: منافقانو د شهيدانو باره کې دا خبره خپره کړه چې که دوی جهاد ته نه تللی او زموږ په شان دلته ناست وای، نو اوس به نه مړ کېدلی، الله ﷻ آيت نازل کړو چې د مرګ يو وخت مقرر دی، هغه به درته خامخا راځي، نو ځکه د جهاد څخه منډې وهل بيکاره عمل دی، "ولو کنتم في بروج مشيدة" اګرچې تاسو په مضبوطو قلعه ګانو کې ناست يئ، علامه قرطبي رحمه الله د دې آيت څخه استدلال کړی دی چې د مال او اسباب د حفاظت په خاطر که مضبوط مکان جوړ کړل شي، نو دا د توکل خلاف هم نه دی او د شريعت خلاف هم نه دی.

ځان د هلاکت کندې ته غورځول

"وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ" او يا لکه الله ﷻ چې فرمايي: په خپل لاس ځان د هلاکت کندې ته مه غورځوئ! [البقرة:۱۹۵].

شان نزول: ابو ايوب انصاري رضي الله عنه فرمايي: دا آيت زموږ په باره کې نازل شوی دی، وجه يې دا وه: کله چې الله ﷻ اسلام ته غلبه ورکړه، نو موږ په خپل مينځ کې خبرې وکړې چې بس دی، نور جهاد ونه کوو، نور به د خپل مال او بچيانو په اړه خبر اخلو، د هغوی تربيه به کوو، په دې باندې دغه آيت نازل شو چې جهاد مه پرېږدئ! ځکه چې جهاد پرېښودل د هلاکت او تباهي ذريعه ده.

همدغه خبره د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما، حذيفه رضي الله عنه، قتاده رضي الله عنه، مجاهد رحمه الله او ضحاك رحمه الله څخه هم منقول ده.

د طاعون ځای ته ورتلل منع دي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه خَرَجَ إِلَى الشَّامِ حَتَّى إِذَا كَانَ بِسَرْغَ لَقِيَهُ أُمَرَاءُ الْأَجْنَادِ - أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ وَأَصْحَابُهُ - فَأَخْبَرُوهُ أَنَّ الْوَبَاءَ قَدْ وَقَعَ بِالشَّامِ. قَالَ ابن عباس: فقال لي عمر: ادْعُ لِي الْمُهَاجِرِينَ الْأَوَّلِينَ، فَدَعَوْتُهُمْ فَاسْتَشَارَهُمْ وَأَخْبَرَهُمْ أَنَّ الْوَبَاءَ قَدْ وَقَعَ بِالشَّامِ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې عمر بن خطاب رضي الله عنه شام ته سفر شروع کړو، تردې چې سرغ (ځای) ته ورسېدو، نو په لاره کې د لښکر اميران ابو عبيده بن

جراح ﵁ او د هغه ملګري ورسره ملاو شول، هغوی ټولو خبر ورکړو چې په شام کې وبا (طاعون) راغلې دی، عبد الله بن عباس ﵄ فرمايي: عمر ﵁ وفرمايل: ماته اولني مهاجرين صحابه کرام راوغواړئ، ما دوی راوغوښتل: عمر ﵁ د دوی سره مشوره وکړه او ورته يې وفرمايل: په شام کې وبا، خپره شوې ده، دې باره کې ستاسو څه رايه ده. واپس شو او که شام ته لاړ شو. "فَاخْتَلَفُوا، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: خَرَجْتَ لِأَمْرٍ، وَلَا نَرَى أَنْ تَرْجِعَ عَنْهُ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: مَعَكَ بَقِيَّةُ النَّاسِ وَأَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ، وَلَا نَرَى أَنْ تُقْدِمَهُمْ عَلَى هَذَا الْوَبَاءِ، فَقَالَ: ارْتَفِعُوا عَنِّي" د دوی رايې مختلفې شوې، چا وويل: د کوم کار پسې چې روان يې هغه وکړه او واپس مه ځه، چا ورته وويل نه! ستاسو سره نور خلك هم شته او خصوصاً د رسول الله ﷺ صحابه کرام درسره دي، نو موږ دا خبره نه خوښوو چې تاسو دوی په وباء ورګډ کړئ! عمر ﵁ د دوی مجلس ختم کړو. "ثُمَّ قَالَ: ادْعُ لِيَ الْأَنْصَارَ، فَدَعَوْتُهُمْ، فَاسْتَشَارَهُمْ، فَسَلَكُوا سَبِيلَ الْمُهَاجِرِينَ، وَاخْتَلَفُوا كَاخْتِلَافِهِمْ، فَقَالَ: ارْتَفِعُوا عَنِّي. ثُمَّ قَالَ: ادْعُ لِي مَنْ كَانَ هَاهُنَا مِنْ مَشْيَخَةِ قُرَيْشٍ مِنْ مُهَاجِرَةِ الْفَتْحِ، فَدَعَوْتُهُمْ، فَلَمْ يَخْتَلِفْ عَلَيْهِ مِنْهُمْ رَجُلَانِ، فَقَالُوا: نَرَى أَنْ تَرْجِعَ بِالنَّاسِ، وَلَا تُقْدِمَهُمْ عَلَى هَذَا الْوَبَاءِ، فَنَادَى عُمَرُ ﵁ فِي النَّاسِ: إِنِّي مُصَبِّحٌ عَلَى ظَهْرٍ، فَأَصْبِحُوا عَلَيْهِ، فَقَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ ﵁:" بيا يې وفرمايل: ماته انصار صحابه راوغوړه! ما راوغوښتل. د هغوی سره هم مشوره وکړه چې څه وکړو؟ د دوی رايه هم مختلفه شوه، د نورو مهاجرو صحابه وو په څېر چا وويل: واپس ځو، چا ورته وويل: نه واپس کېږو. دوی هغه مجلس هم ختم کړو، بيا يې وفرمايل: د قريشو کوم مشران چې په فتح مکه کې شريك وو، هغوی راوغواړئ! ما ورته هغوی راوغوښتل، د هغوی سره يې مشوره وکړه، هغوی ټولو په اتفاق سره مشوره وکړه، تقريباً دوه کسانو به هم پکې اختلاف نه وي کړی، ټولو ورته وويل: تاسو واپس شئ او د وباء ځای ته مه ځئ! عمر ﵁ اعلان وکړو چې موږ به سهار واپس کېږو. "أَفِرَارًا مِنْ قَدَرِ اللَّهِ؟ فَقَالَ عُمَرُ ﵁: لَوْ غَيْرُكَ قَالَهَا يَا أَبَا عُبَيْدَةَ! -وَكَانَ عُمَرُ يَكْرَهُ خِلَافَهُ- نَعَمْ، نَفِرُّ مِنْ قَدَرِ اللَّهِ إِلَى قَدَرِ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ لَكَ إِبِلٌ فَهَبَطَتْ وَادِيًا لَهُ عُدْوَتَانِ، إِحْدَاهُمَا خَصْبَةٌ، وَالْأُخْرَى جَدْبَةٌ، أَلَيْسَ إِنْ رَعَيْتَ الْخَصْبَةَ رَعَيْتَهَا بِقَدَرِ اللَّهِ، وَإِنْ رَعَيْتَ الْجَدْبَةَ رَعَيْتَهَا بِقَدَرِ اللَّهِ؟" په دې کې عبيده ﵁ وفرمايل: اې عمره ﵁! د الله ﷻ د تقدير نه منډې وهې؟ عمر ﵁ ورته وفرمايل: ارمان چې دا خبره ستا نه سيوا بل چا کړې وای، عمر ﵁ دده دا مخالفت خوښ نه کړو، بيا عمر ﵁ وفرمايل: هو! موږ د الله ﷻ د يو تقدير څخه بل تقدير ته تښتو، اې عبيده ﵁! خبر راکړه! که چېرته ستا سره اوښان وي او ته په يو خوړ باندې ورسم شوې چې د هغه دوه لارې وي، په يوه لاره شنه واښه وي او په بله لاره شګې او کاڼي وي، نو ايا که ته د وښو په لاره ورسم شوې او کاڼو والا لار دې پرېښودل، نو دا به تقدير نه وي؟ "قَالَ: فَجَاءَ عَبْدُ الرَّحْمَانِ بْنُ عَوْفٍ ﵁، وَكَانَ مُتَغَيِّبًا فِي بَعْضِ حَاجَتِهِ، فَقَالَ: إِنَّ عِنْدِي مِنْ هَذَا عِلْمًا، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: إِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ، وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ. فَحَمِدَ اللَّهَ تَعَالَى عُمَرُ ﵁، وَانْصَرَفَ" راوي وايي: په دې وخت کې عبد الرحمان بن عوف ﵁ راښکاره شو، هغه د کوم کار لپاره چېرته تللی وو، هغه چې راغلو او صورتحال يې وليدو، نو وې فرمايل: په دې مسئله کې ماته څه نا څه علم شته، ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: کله چې تاسو واورئ چې په فلانکي کلي کې وباء ده، نو هغې ته مه ورځئ او کله چې په هغه کلي کې

وي په کوم کلي کې چې وباء وي، نو د هغې نه مه تښتئ! عمر ﷺ چې دا حديث واورېدو، نو د الله ﷻ ثناء او صفت يې بيان کړو او واپس شو. متفق عَلَيْهِ

لغوي تحقيق: والعُدْوَة: جانِبُ الوادِي: العدوة د خوړ لارې ته وايي.

تشريح: أجناد: ددې څخه د شام هيواد پنځه ښارونه مراد دي: فلسطين، اردن، دمشق، حمص، مدين، د حديث څخه ثابته شوه چې چېرته طاعون يا کوم بل وبايي مرض شروع وي، هلته تلل مناسب نه دي، ځکه که چېرته هلته لاړ شي او اتفاقي ورته مرض ولګېدو، نو بيا دا شبه کېدی شي چې هغه کس دا ووايي: دلته د راتلو په وجه ماته مرض ولګېدو، نو په دې کې د عقيدې د فساد وېره ده، د داسې ځای نه لرې پاتې کېدل پکار دي، ددې لپاره چې د داسې اعتقاد خيال هم رانشي، ځکه چې په دې وخت به کې نسبت ځای ته کيږي او خپل رب به يې هېر وي.

ددې څخه د موجوده زماني خلکو استدلال کړی دی چې ځينې مرضونه داسې دي چې هغه بل ته متعدي کيږي، يعنې د يو نه بل ته لګيږي، په غوړونو کې داسې جراثيم دي چې بل ته د لګېدو ذريعه جوړيږي، د جاهليت د زماني خلکو داسې عقيده وه چې مرض په خپله منتقل کيږي او حال دا چې مرض په خپله نه منتقليږي، شريعت ددې خلاف دی، بلکې الله ﷻ يې منتقلوي او هغه هم د جراثيمو په ذريعه، د يو کس بل نه بل ته جراثيم الله ﷻ منتقل کوي چې دا بيا د بيمارۍ سبب وګرځي، نو په دې کې دوه فايدې شوې: يو دا چې د بيمارۍ نه بچ کېدل او بل د عقيدې د فساد څخه ځان ساتل.

د طاعون ځای

"وعن أسامة بن زيد ﷺ، عن النبي ﷺ، قَالَ: إذا سَمِعْتُمُ الطّاعُونَ بِأَرْضٍ، فَلَا تَدْخُلُوهَا، وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ، وَأَنْتُمْ فِيهَا، فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا" د اسامه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: کله چې تاسو واورئ چې په يو کلي کې وباء (طاعون) راغلی دی، نو هغه کلي ته مه داخلېږئ او په يو کلي کې چې وبا (طاعون) راشي او تاسو په دې کلي کې يئ، نو بيا ددې څخه منډه مه وهئ! متفق عَلَيْهِ

تشريح: إذا سمعتم الطاعون بأرض: ددې حديث څخه ګڼ شمېر مسئلې راخارج شوي دي، مثلاً: د طاعون د ځای څخه بهر تلل جائز نه دي، مولانا ظفر احمد تهانوي رحمه الله فرمايي: په يو ښار کې د يو ځای څخه بل ځای ته تلل، يا د يوې کوڅې څخه بلې کوڅې ته تلل جائز دي، بل ددې حديث څخه دا هم معلومه شوه چې د طاعون د ځای څخه د طاعون په وجه منډې وهل جائز نه دي.

باب التغليظ في تحريم السحر

جادو حرام دی

قَالَ اللّٰه تعالی: وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ" الله ﷻ فرمايي: سليمان عليه السلام

كفر نه وو كړى، بلكې شيطانان كافران شوي وو، خلكو ته به يې د سحر / جادو تعليم وركولو.

[البقرة:۱۰۲]

تشريح: يهوديانو به ويل چې سليمان عليه السلام به د جادو په واسطه په خلكو حكومت كولو، (نعوذ بالله من ذالك) او حال دا چې الله جل جلاله فرمايي: سليمان عليه السلام به جادو نه كولو، ځكه چې جادو كفر دى او د الله جل جلاله يو پېغمبر څرنګه كفر كولى شي؟ جادو هغه منتر ته وايي چې په هغې باندې شيطانان خوشحالولى شي بيا د هغې په ذريعه شيطانان د جادوګر تابع شي، شيطانان په مختلفو طريقو خوشحالولى شي، لكه په منتر كې كفريه او شركيه الفاظ ويل يا په منتر كې د شيطان تعريف كول، يا هر هغه غلط كار چې د هغې په ذريعه شيطان خوشحالېږي، نو بيا د الله جل جلاله يو نبي عليه السلام كله داسې كولى شي چې شيطان دي خوشحاله كړي او بيا چې كفريه او شركيه الفاظ هم پكې وي، نو جادو زده كول او بل ته ښودل دواړه حرام دي، په دې باندې عمل كول هم حرام دي، كه د مسلمانانو څخه د ضرر دفع كولو په خاطر د ضرورت په اندازه زده شي؛ خو په دې شرط چې شركيه او كفريه الفاظ يا كوم بل د شريعت خلاف عمل يا منتر پكې نه وي، نو بيا ځينو علماوو د جواز فتوى وركړې ده او كه چيرې د شريعت خلاف الفاظ يا عمل وغيره پكې وي، نو بيا جائز نه دى. (۱)

اوه / ۷ هلاككونكي شيان

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ. قالوا: يَا رسولَ اللهِ، وَمَا هُنَّ؟ قال: الشِّرْكُ بِاللهِ، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تاسو د اوه هلاک کوونکو شيانو څخه ځان بچ کړئ، صحابه کرامو ترې پوښتنه وکړه چې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! هغه کوم کوم دي؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: د الله جل جلاله سره شريك جوړول، جادو كول، هغه چې الله جل جلاله د انسان وژل حرام كړي دي، مګر په حق سره، "وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ، وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلاَتِ" سود خوړل، د يتيم مال خوړل، د جنګ نه تښتېدل، په پاكلمنو ښځو باندې د زنا تهمت لګول. متفق عليه

لغوي تحقيق: قذف: ويشتل، بې فكره او بې غوره خبرې يا كار كولو ته وايي.

تشريح: دا حديث وړاندې په (كتاب الامور المنهي عنها باب تاكيد تحريم مال اليتيم) كې ذكر شوى دى، په دې حديث كې هم د جادو زده كولو حرمت بيان شوى دى، د دې سره نور څه شيان هم ذكر دي چې د هغې په وجه انسان د ګناه كبيره مرتكب ګرځي، د باب د مناسبت په وجه امام صاحب رحمه الله دا حديث ذكر كړو

---

(۱) د نورزيات وضاحت لپاره عالمګيري، شامي، تفسير قرطبي، او تفسير روح البيان كتلى شئ.

باب النهي عن المسافرة بالمصحف إلى بلاد الكفار إذا خيف وقوعه بأيدي العدوّ

د کفارو وطن ته د ځان سره قرآنکريم وړل حرام دي، کله چې د قرآن کريم د بې حرمتۍ وېره وي

"عن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: نَهَى رسولُ اللهِ ﷺ أنْ يُسَافَرَ بالقُرْآنِ إلَى أرْضِ العَدُوِّ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده ددې نه چې سړی د ځان سره قرآن کريم د دښمن ځای ته يوسي متفق عَلَيْه

تشريح: په دې حديث کې دا خبره ذکر شوې ده چې قرآن به هغه ځای ته نه وړل کېږي چېرته چې د قرآن کريم د بې حرمتۍ وېره وي. لکه د کفارو هېواد وغيره شو. البته که اطمينان وي چې بې حرمتي به پې ونه شي. نو بيا خير دی.

سوال: د رسول الله ﷺ په زمانه کې خو قرآن په کاغذ ليکل شوی نه وو. بيا ممانعت څنګه راغلو او د ممانعت مطلب څه شو؟

جواب: دا خبره رسول الله ﷺ د پېش ګويي په توګه کړې وه چې يو وخت به راشي چې قرآن به په يو مصف کې جمع شي، نو کله چې هغه جمع شي. د کفارو ځای ته به يې نه وړئ؛ هسې نه چې د هغه بې حرمتي وشي.

باب تحريم استعمال إناء الذهب وإناء الفضة في الأكل والشرب والطهارة وسائر وجوه الاستعمال

د سرو زرو او سپينو زرو لوښي استعمالول حرام دي.

"عن أمّ سلمة رضي الله عنها: أنّ رسولَ اللهِ ﷺ قَالَ: الَّذِي يَشْرَبُ فِي آنِيَةِ الفِضَّةِ، إنَّمَا يُجَرْجِرُ فِي بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ" د ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم خلك چې د سرو زرو په لوښو کې اوبه څښي، داسې خلك خپلو خېټو ته د جهنم اور داخلوي متفق عَلَيْه

وفي رواية لمسلم: إنَّ الَّذِي يَأكُلُ أَوْ يَشْرَبُ فِي آنِيَةِ الفِضَّةِ وَالذَّهَبِ: او د مسلم په يو روايت کې دي چې کوم کس د سرو زرو په لوښو کې اوبه څښي يا خوراك پکې کوي، داسې کسان خپلو خېټو ته د جهنم اور اچوي

تشريح: دا حديث هم وړاندې په (کتاب آداب الطعام باب جواز الشرب من جميع الأواني الطاهرة، کې ذکر شوی دی، مختصر دا چې د ائمه اربعه په دې اتفاق دی چې که سړی دې او که ښځه

وي، د دواړو لپاره د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو کې خوراک څښاک کول حرام دي، دغه شان په دې لوښو کې د اودس لپاره اوبه اچول، يا د عطرو لپاره استعمالول وغيره حرام دي، که چېرته د خوراک څښاک شيان د سرو يا سپينو زرو په لوښو کې يو ځل اېښودل شوي وي، بيا ترې راپورته کړی شو، په بل لوښي کې واچول شو، نو ايا ددې خوراک جائز دی او که نا جائز؟ علماء فرمايي: جائز دي، که چېرته ټول لوښی د سرو يا سپينو زرو نه وي، بلکې نيم د زرو وي او نيم نه وي، نو کوم طرف چې سره زر يا سپين زر وي، هغه طرف ته خوله لګول حرام دي

د وربښمو استعمال سړو ته حرام دی

"وعن حُذَيفَةَ ﷺ، قالَ: إنَّ النبيَّ ﷺ نهانا عن الحريرِ، وَالدِّيباجِ، وَالشُّربِ في آنيةِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ" د حذيفه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ موږ د نرمو او غټو وربښمو د استعمال نه منع کړي يو او ددې نه يې هم منع کړي يو چې د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو کې اوبه وڅښو. "وقالَ: هُنَّ لهُمْ في الدُّنيا، وَهِيَ لكُمْ في الآخِرَةِ" او بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: دغه ټول شيان په دې دنيا کې د کفارو لپاره دي او زموږ لپاره په آخرت کې دي. متفق عَلَيهِ

"وفي روايةٍ في الصحيحينِ عن حُذَيفَةَ ﷺ: سَمِعتُ رسولَ اللهِ ﷺ يقولُ: لاَ تَلبَسوا الحريرَ وَلاَ الدِّيباجَ، وَلاَ تَشرَبوا في آنيةِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ، وَلاَ تَأكُلُوا في صِحَافِهَا" د حذيفه ﷺ روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: نرم او غټ وربښم مه اغوندئ او مه هم د سپينو زرو او سرو زرو په لوښو کې اوبه څښئ او مه په کاسو کې خوراک کوئ!

تشريح: نهانا عن الحرير والديباج: د وړوکي وربښمو او غټو وربښمو څخه يې موږ منع کړي يو، مطلب دا چې د وربښمو استعمال د نارينه وو لپاره حرام دی او ښځو ته جائز دی، په يو روايت کې دي چې څوک په دنيا کې وربښم اغوندي، الله ﷻ به يې د قيامت په ورځ د وربښمي جامو څخه محروم کړي، دغه شان څوک چې په دنيا کې وربښم اغوندي، دغه کس ته په آخرت کې هيڅ برخه نشته.

علماء فرمايي: لکه څرنګه چې د وربښمو جامې سړو ته حرامې دي، دغه شان وړو ماشومانو ته هم حرامې دي، د دوی د ګناه وبال به په سړو باندې وي، په يو روايت کې دي چې: "من لبس الحرير في الدنيا ألبسه الله يوم القيامة ثوبا من نار" څوک چې په دنيا کې د وربښمو جامې اغوندي، دغه کس ته به په قيامت کې د اور جامې واغوستل شي

انس ﷺ د سپينو زرو لوښي استعمال نه کړل

"وعن أنس بن سيرين، قالَ: كنتُ مَعَ أنس بن مالك ﷺ، عِندَ نَفَرٍ مِنَ المَجُوسِ، فَجِيءَ بفَالُوذَجٍ على إنَاءٍ مِنْ فِضَّةٍ، فَلَمْ يَأكُلْهُ" د انس بن سيرين ﷫ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ د انس بن مالک ﷺ سره ناست وم، په داسې حال کې چې زموږ سره مجوسيان هم ناست وو، د سپينو زرو په لوښي کې فالوده راوړل شوه، د هغې د خوراک څخه يې انکار وکړو. "فَقيلَ لَهُ: حَوِّلْهُ، فَحَوَّلَهُ على إنَاءٍ مِنْ خَلَنْجٍ وَجِيءَ بِهِ فَأكَلَهُ" دوی

هغه كس ته وويل: دا فالوده په بل پليټ كې واچوه! هغه يې په بل لوښي كې واچول. بيا يې وخوړل رواه البيهقي بإسناد حسن

الخَلَنج: الجفنة: الخلنج پليټ ته ويل كيږي.

تشريح: ددې حديث څخه معلومه شوه چې كه د سرو زرو يا سپينو زرو په لوښي كې څه خوراك وي بيا هغه راپورته كړل شي په بل لوښي كې واچول شي او خوراك ترې وكړل شي، نو حرام به نه وي، لكه څرنګه چې د انس رضي الله عنه په وړاندې فالوده راوړل شوه كومه چې د سپينو زرو په لوښي كې وه، نو څكه انس رضي الله عنه ونه خوړل او كله چې د لرګي په لوښي كې راوړل شوه. نو وې خوړل. بل ددې حديث څخه دا هم معلومه شوه چې دين اسلام په خوراك، څښاك او جامو وغيره كې سادګي خوښه كړې ده او د كفارو سره يې د مشابهت يا پرتكلفه ژوند څخه د ځان ساتلو حكم كړى دى.

د راوي انس بن سيرين رحمة الله عليه حالات:

اصلي نوم يې انس رحمة الله عليه دى، د پلار نوم يې سيرين دى، په كنيت كې يې اختلاف دى. چا ابوحمزه ښودلى دى او چا ابو عبد الله ښودلى دى، د بصرې او سېدونكى وو، دا د محمد ورور دى او په تابعينو كې شمار دى، ثقه راوي دى، په صحاح سته كې ترې روايات نقل دي، په ۱۱۸ يا ۱۲۰ هجري كې وفات شوى دى.

باب تحريم لبس الرجل ثوباً مزعفراً

د سړو لپاره زعفراني جامه اغوستل حرام دي

"عن أنس رضي الله عنه قال: نهى النبيُّ صلى الله عليه وسلم أن يتزعفر الرجل" د انس رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم منع فرمايلې ده ددې نه چې سړى دې په زعفران باندې رنګ جوړه واغوندي. متفق عليه

تشريح: د سړو لپاره زعفراني رنګ جامه استعمالول حرام دي، په دې سلسله كې ګڼ شمېر احاديث راغلي دي، ليكن دلته سوال دا دى چې په ځينو رواياتو كې ددې جواز معلوميږي؟ جواب دا دى چې د اسلام په شروع كې جائز ؤ، بيا وروسته د سړو په حق كې منسوخ شو، ددې حكم لپاره ناسخ هغه پورتنى حديث دى، يا دا چې د جواز حكم په هغه زعفراني جامو پورې متعلق دى كومې چې معمولي شان په زعفرانو باندې رنګ وي يا د خوشبو په خاطر لږ شان په زعفرانو رنګ شوي وي، بيا به هغه ووينځل شوې چې رنګ به يې ختم شو، ليكن خوشبو به يې باقي وه، علامه بغوي رحمة الله عليه فرمايي: د ښځو لپاره زعفراني رنګ جامې اغوستل مباح دي.

د سړو لپاره زيړ رنګ جامې اغوستل صحيح نه دي

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قال: رأى النبيُّ صلى الله عليه وسلم عليّ ثوبين معصفرين فقال:" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم په ما باندې په زعفران سره

رنګ شوې کپړې وليدلې، نو وې فرمايل: "أُمُّكَ أَمَرَتْكَ بِهٰذَا؟ قلتُ: أَغْسِلُهُمَا؟ قَالَ: بَلْ أَحْرِقْهُمَا" ايا تاته ستا مور ويلي دي چې دا جامې واغونده؟ ما وويل: يارسول الله ﷺ وې وينځم؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: نه وې سوځوه!

وفي رواية، فقال: إِنَّ هٰذَا مِنْ ثِيَابِ الْكُفَّارِ فَلَا تَلْبَسْهَا: او په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا د زيړ رنګ جامې د کافرانو لباس دی، دا مه اغوندې! رواه مسلم

تشريح: ثوبين معصفرين: دوه جامې يې په زيړ رنګ باندې رنګ شوې اغوستې وې، د احنافو مسلك دا دی چې زيړ رنګ جامې اغوستل حرام دي او په دې کې لمونځ مکروه دی، "بل احرقهما" بلکې دا وسوځوه! زيړ رنګ جامې د ښځو لپاره جائز دي، ليکن مبالغة يې وفرمايل چې دا وسوځوئ، په يو بل روايت کې دي چې په دويمه ورځ عبد الله ﷺ بيا په مجلس کې حاضر شو، رسول الله ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې هغه جامې دې څه کړې؟ هغوی ورته وويل: هغه مې وسوځولې،نبي کريم ﷺ وفرمايل چې ښځو ته به دې ورکړې وې، د ښځو لپاره د هغې استعمال جائز دی، مطلب دا وو چې د خپل ملکيت څخه يې وباسه

باب النهى عن صمت يوم إلى الليل

تر شپې پورې چوپ کېنستل نشته

"عن علي ﷺ قَالَ: حَفِظْتُ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ: لَا يُتْمَ بَعْدَ احْتِلَامٍ، وَلَا صُمَاتَ يَوْمٍ إِلَى اللَّيْلِ" د علي ﷺ نه روايت دی، فرمايي ما د رسول الله ﷺ نه يو څو خبرې يادې کړې دي چې فرمايل يې: يتيم والی د بلوغ وروسته نشته، تر شپې پورې چوپ کېنستل نشته رواه أبوداود بإسناد حسن

"قَالَ الْخَطَّابِيُّ فِي تَفْسِيرِ هٰذَا الْحَدِيثِ: كَانَ مِنْ نُسُكِ الْجَاهِلِيَّةِ الصُّمَاتُ. فَنُهُوا فِي الْإِسْلَامِ عَنْ ذٰلِكَ وَأُمِرُوا بِالذِّكْرِ وَالْحَدِيثِ بِالْخَيْرِ" امام خطابي رحمه الله ددې حديث په تفسير کې فرمايي: د جاهليت د وخت په خلکو کې دا خبره رواج وه چې دوی به تر شپې پورې کله کله خاموش کېنستل، دين اسلام ددې نه منع کړه چې دا تول د جاهليت کارونه دي، دا مه کوئ! بلکې ذکر کوئ! د خير ښېګڼې خبرې کوئ! خو چوپ مه کېنئ!

تشريح: (لايتم بعد احتلام): د بلوغ وروسته يتيم والی نشته، په څناورو کې يتيم هغه څاروي ته وايي چې د هغه مور مړه شي، په انسانانو کې يتيم هغه انسان ته وايي چې دده د بلوغ نه وړاندې يې پلار مړ شي، "ولا صمات يوم إلى الليل" د ورځې څخه تر شپې ناوخته پورې چوپ کېنستل څه عبادت نه دی، ددې جملې وضاحت امام صاحب رحمه الله د علامه خطابي رحمه الله څخه داسې نقل کړی دی چې د جاهليت په زمانه کې به تو له ورځ چوپ کېنستل په عبادت کې شمارل کېدو، دين اسلام دا شيان ختم کړل، البته په روژه نيولو کې ثواب دی.

چوپ کېښستل عبادت ګڼل د جاهليت خبري دي

"وعن قيس بن أبي حازم، قال: دَخَلَ أبُو بكر الصِّدِّيق ﷺ على امْرَأةٍ مِنْ أحْمَسَ يُقَالُ لَهَا: زَيْنَبُ، فرآها لا تَتَكَلَّمُ، فقَالَ: مَا لَهَا لا تَتكلَّمُ؟" د قيس بن أبي حازم رحمه الله نه روايت دی هغه فرمايي چې يو ځل ابوبكر صديق ﷺ يوې ښځې ته تشريف يوړو چې د احمس قبيلې وه، د هغې نوم زينب وو، هغه يې وليده چې خبري يې نه کولې، هغه ورته وفرمايل: تاسو ولې خبرې نه کوئ؟ "فقالوا: حَجَّتْ مصمِتةً" خلکو ورته وويل: دې د چوپ کېښستو روژه نيولې ده، "فقال لها: تكلّمي، فإنّ هذا لا يَحِلُّ، هذا مِنْ عَمَلِ الجاهليّة، فتكلّمتْ" ابوبكر صديق ﷺ ورته وفرمايل: خبرې کوه! دا کوم کار چې تا شروع کړی دی دا جائز نه دی. دا د جاهليت زماني کار ونه دی، نو هغې خبرې شروع کړې. رواه البخاري

تشريح: په دين اسلام کې ددې خبرې هيڅ اهميت نشته چې يو سړی دې ټوله ورځ چوپ کيني، د هيڅا سره دې خبرې نه کوي. البته د بې حيا، خبرو، دروغ، غيبت او چغل خوری څخه چوپ کېښستل باعث د اجر او ثواب خبره ده، ليکن في نفسه چوپ کېښستل عبادت نه دی، ددې ښځې پوره نوم زينب بنت جابر الاحمسيه وه، أبو بكر ﷺ ورته وفرمايل: خبرې کوه! ددې جملې څخه معلومه شوه چې که يو کس ددې خبرې نذر ومنلو چې زه به نن ټوله ورځ چوپ کېنم، نو داسې نذر پوره کول هم ضروري نه دي، ځکه چې دا د شريعت خلاف امور دي، کوم شيان چې د شريعت خلاف وي، هغه پوره کول جائز نه دي.

باب تحريم انتساب الإنسان إلى غير أبيه وتولّيه إلى غير مواليه

د خپل نسب نسبت پردي پلار ته کول حرام دي

"عن سعد بن أبي وقاص ﷺ: أنّ النبيّ ﷺ، قَالَ: مَنِ ادَّعَى إِلى غَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ غَيْرُ أَبِيهِ، فالجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ" د سعد بن أبي وقاص ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د خپل نسب نسبت د بل پلار ته وکړي او دی په دې پوهيږي چې دا زما پلار نه دی، نو په داسې کس باندې جنت حرام دی. متفق عليه

تشريح: من ادعى إلى غير أبيه: چا چې د خپل پلار څخه بغير بل چاته خپل نسب منسوب کړو، دا هم د جاهليت د زمانې يو غير شرعي کار دی، په هغوی کې دا مرض وو چې د خپل پلار نه علاوه بل چاته به يې د خپل نسب نسبت کولو، شريعت دا کار حرام وګرځولو، "وهويعلم" هغه پرې پوهيږي چې زه خپل نسب د پلار څخه بغير بل چاته منسوب کوم، مطلب دا چې ښه په پوهې سره دا کار کوي، که په ناپوهی کې داسې کوي، نو ګناه ده او که حلال يې ګڼي، نو بيا خو کافر دی، ځکه چې حرامو ته حلال ويل کفر دی او که ګناه يې ګڼي، نو بيا کافر خو نه دی، ليکن ګناهګار دی.

نسب بدلول كفر دى

"وعن أبي هريرة ؓ، عن النبي ﷺ، قَالَ: لَاتَرْغَبُوا عَنْ آبَائِكُمْ، فَمَنْ رَغِبَ عَنْ أَبِيهِ، فَهُوَكُفْرٌ" د أبو هريره ؓ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د خپلو پلارانو نه بې رغبتي مه کوئ کوم کس چې د خپل پلار نه بې رغبتي وکړي، نو دا کفر دى. متفق عَلَيْهِ

تشريح: لاترغبوا عن آبائكم: د خپلو پلارانو او نيکه گانو څخه اعراض مه کوئ! په دې حديث کې ترغيبي الفاظ ذکر شوي دي او په وړاندې حديث کې ادعى ذکر شوې ده، د دواړو يوه معنى ده. خپل پلار پرېښودل او بل چاته د خپل نسب نسبت کول، که يو کس دا ومني چې دا کار حرام دى، ليکن بيا هم يې ځانته حلال گڼي، نو بيا کافر شو او که حرام يې مني. ليکن څه دنيوي لالچ او د پيسو غم ورسره وي، نو بيا کافر نه دى، ليکن اشد درجه گناهگار دى. شريعت د نسب باره کې دومره سخت حکم ځکه لگولى دى چې د انسان خپل مور پلار وروڼه خويندې وغيره معلوم وي، که نسب محفوظ نه وي، نو بيا انسان ته څه پته لگيږي چې زما پلار څوك دى او زما خويندې وغيره څوک دي؟

چاچې نسب بدل کړو، په هغه باندې لعنت دى

"وعن يزيد بن شريك بن طارق، قَالَ: رَأَيْتُ عَلِيًّا ؓ على المِنْبَرِ يَخْطُبُ، فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: لَاوَاللّٰهِ مَاعِنْدَنَا مِنْ كِتَابٍ نَقْرَؤُهُ إِلَّاكِتَابَ اللّٰهِ، وَمَا فِي هٰذِهِ الصَّحِيفَةِ، فَنَشَرَهَا فَإِذَا فِيهَا أَسْنَانُ الإِبِلِ، وَأَشْيَاءُ مِنَ الجِرَاحَاتِ، وَفِيهَا: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: المَدِينَةُ حَرَمٌ مَابَيْنَ عَيْرٍ إِلَى ثَوْرٍ، فَمَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا، أَوْآوَى مُحْدِثًا، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لَايَقْبَلُ اللّٰهُ مِنْهُ يَوْمَ القِيَامَةِ صَرْفًا وَلَاعَدْلًا" د يزيد بن شريك بن طارق رحمه الله نه روايت دى هغه فرمايي چې ما علي ؓ په منبر باندې وليدو چې خطبه يې ويل، د هغه څه مې واورېدل چې فرمايل يې: زموږ سره د الله ﷻ د کتاب څخه بغير بل هيڅ کتاب نشته او هغه چې په دې صحيفه کې دي چې په هغې کې د ديت مسئله ده، د اوښانو عمرونه پکې دي، د نورو زخمونو مسئلې پکې دي، په ديکې دا هم دي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: مدينه منوره د عير غر نه واخله تر ثور پورې حرم دى نو کوم سړى چې په ديکې څه بدعت وکړي يا يو بدعتي ته پکې ځاى ورکړي، نو په هغه باندې د الله ﷻ، د هغه د پرښتو او انسانانو لعنت دى، د قيامت په ورځ به نه د هغه توبه قبليږي او نه به يې فديه قبوله شي، "ذِمَّةُ المُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ، يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ، فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لَايَقْبَلُ اللّٰهُ مِنْهُ يَوْمَ القِيَامَةِ صَرْفًا وَلَاعَدْلًا" د مسلمانانو وعده يوه ده: هر ادنى او اعلى ذمه واري اخيستلى شي، څوك چې دا عهد مات کړي، په هغه باندې د الله ﷻ او د هغه د پرښتو او ټولو انسانانو له لورې لعنت دى، د هغه نه به نه توبه قبليږي او نه به يې فديه قبوله شي، "وَمَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ، أَوِانْتَمَى إِلَى غَيْرِ مَوَالِيهِ، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لَايَقْبَلُ اللّٰهُ مِنْهُ يَوْمَ القِيَامَةِ صَرْفًا وَلَاعَدْلًا" او کوم کس چې د خپل پلار نه سيوا بل کس ته نسبت وکړي چې دا زما پلار دى او يو غلام چې خپل مشر پرېږدي او بل کس ته د مشرى نسبت وکړي چې دا زما مشر دى، نو په داسې کسانو باندې د الله ﷻ او د هغه د پرښتو او ټولو انسانانو لعنت وي، نه به د دوى توبه قبليږي او نه به يې صدقه قبوله شي. متفق عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

ذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ أَيْ: عَهْدُهُمْ وَأَمَانَتُهُمْ: د ذمة المسلمين معنی ده: د دوی عهد او امانتونه

وَأَخْفَرَهُ: نَقَضَ عَهْدَهُ: د واخفره معنی ده: وعده ماتول.

وَالصَّرْفُ: التَّوْبَةُ، وَقِيلَ الْحِيلَةُ: د (الصرف) نه چا توبه مراد کړې ده او چا ويلي دي چې حيله ترې مراد ده.

وَالْعَدْلُ: الْفِدَاءُ: او د (العدل) نه مراد فديه او صدقه ده.

تشريح: المدينة حرم ما بين عير إلى ثور: مدينه منوره د عير نه واخله تر غار ثور پورې حرم دی، په مدينه منوره کې دا دوه غرونه دي، د ائمه ثلاثة په نزد د حرم شريف په شان مدينه منوره هم حرم دی، په مدينه ددې ونې بوټي ريبل کيږي او نه به پکې ښکار کولی شي، ليکن د احنافو په نزد مدينه منوره بابرکت ځای دی، هلته به هيڅ داسې يو کار نه شي کولی چې د شريعت خلاف وي. البته ښکار کول او ونې بوټي ريبل جائز دي، "أو آوی محدثاً فعليه لعنة الله الخ" چا چې پکې کوم بدعتي ته ځای ورکړو، نو په هغه به د الله ﷻ له لورې او د پرښتو له لورې او د ټولو خلکو له لورې لعنت وي، الله ﷻ به ترې قيامت په ورځ نه فرض قبلوي نه نفل، د صرف او عدل ګڼ شمېر معناګانې شوي دي، اکثره علماوو ترې فرض او نفل مراد کړي دي، ځينې وايي: توبه او معاوضه ترې مراد ده، "والله ما عندنا من كتاب نقرؤه إلا كتاب الله" کوم خلک چې وايي: رسول الله ﷺ علي ﷺ ته د راز څه خبرې ښودلې دي کومې چې د علي ﷺ نه علاوه بل چاته معلومې نه دي، نو دا خبره هم غلطه ثابته شوه.

د راوي يزيد بن شريک بن طارق رحمه الله عليه حالات:

اصلي نوم يې يزيد رحمه الله دی، د پلار نوم يې شريک دی، په مشرانو تابعينو کې شمار دی، د جاهليت او اسلام دواړه زمانه يې ليدلې ده، د خليفه عبد الملك په زمانه کې وفات شو.

پردی مال ناحقه اخيستل

"وعن أبي ذر ﷺ: أنه سمع رسول الله ﷺ يقول: لَيْسَ مِنْ رَجُلٍ ادَّعَى لِغَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُهُ إِلَّا كَفَرَ" د ابو ذر ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل، فرمايل يې: کوم کس چې بل چاته د خپل نسب نسبت وکړي چې دا زما پلار دی او دی په دې پوهيږي چې دا زما پلار نه دی، مګر دا چې دغه سړي کفر وکړو، "وَمَنِ ادَّعَى مَا لَيْسَ لَهُ، فَلَيْسَ مِنَّا، وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ" او کوم کس چې د يو داسې شي دعوه وکړي چې هغه دده نه وي دا زموږ څخه نه دی او داسې سړي ته په جهنم کې کنده ده، "وَمَنْ دَعَا رَجُلًا بِالْكُفْرِ أَوْ قَالَ: عَدُوَّ اللهِ، وَلَيْسَ كَذَلِكَ إِلَّا حَارَ عَلَيْهِ" او کوم کس چې بل سړي ته ووايي چې اې کافره! يا ورته ووايي: د الله ﷻ دښمنه! او هغه داسې نه وي، نو دا الفاظ بېرته دده ته واپس کيږي. متفق عليه، وهذا لفظ رواية مسلم.

تشريح: دا حديث وړاندې په (کتاب الامور المنهي عنها باب تحريم قوله لمسلم ياکافر) کې ذکر شوی دی، "وليتبوأ مقعده من النار" چا چې د يو داسې شي دعوه وکړه چې هغه دده نه وو، نو هغه دې

ځان ته په جهنم کې ځای جوړ کړي، علماء فرمايي: دا عامه ده: که مال وي، که علم وي او که نسب وي، مطلب دا چې هر شی چې وي، چا چې د هغې په باره کې دروغجنه دعوه وکړه، نو هغه ځان ته په جهنم کې ځای جوړ کړو، په لفظ د: "وليتبوأ مقعده" کې ګڼ شمېر احتمالات دي: (۱) يا دا چې دا صيغه بد دعاء ده، اصل کې رسول الله ﷺ داسې کس ته ښيرې کړې دي، (۲) يا دا چې دا صيغه په اسلوب کې د امر ده او په معنی د خبر سره ده، (۳) مطلب دا چې د هغه سزا جهنم ده، "ومن دعا رجلاً بالكفر الخ:" که چا بل ته کافر وويل يا يې ورته وويل: د خدای دښمنه! نو داسې ويل حرام دي او ګناه ده، علامه شامي رحمه الله فرمايي: چا چې داسې الفاظ وويل، نو داسې کس د تعزير مستحق دی، يعنې د وخت قاضي به هغه ته سزا ورکوي

باب التحذير من ارتكاب ما نهى الله أو رسوله عنه

د هغه شيانو څخه ځان ساتل چې الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ ترې منع کړې وي

"قَالَ اللّٰــهُ تعالى: فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ" الله فرمايي: ودې ويرېږي هغه کسان چې د الله جل جلاله د حکم خلاف کوي، دوی ته به په دنيا کې عذاب ورسيږي او په آخرت کې به ورته دردناک عذاب ورسيږي. [النور:۶۳]

تشريح: په آيت کې هغو کسانو ته سخت وعيد دی چې د الله جل جلاله د احکاماتو مخالفت کوي، د ايمان څخه د محرومه کېدو خطره يې ده، ځکه چې الله جل جلاله ته د خپل پېغمبر ﷺ طريقې ډېرې خوښې دي، څوک چې د پېغمبر ﷺ د طريقو خلاف کوي، "من عمل عملاً ليس عليه أمرنا فهو رد" چا چې داسې عمل وکړو چې په هغې باندې زموږ حکم او طريقه نه وه، نو هغه عمل رد دی، مجاهد رحمه الله فرمايي: د فتنې څخه دنيوي تکليفونه او د عذاب اليم څخه د آخرت لوی عذاب مراد دی، ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: د فتنې څخه مراد قتل دی، عطاء رحمه الله فرمايي: ددې څخه مراد زلزلې او تکليفونه دي، جعفر بن محمد رحمه الله فرمايي: مراد ترې ظالم بادشاه مسلط کېدل دي

الله جل جلاله تاسو د خپل ځان څخه وېروي

"وقال تعالى: وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰـــهُ نَفْسَهُ" الله جل جلاله تاسو د خپل ځان څخه وېروي. [آل عمران:۳۰]

تشريح: په ظاهر، باطن او په هر حال کې د الله جل جلاله څخه وېرېدل ضروري دي، که د الله جل جلاله نه وېره د زړه څخه ووځي، نو شيطان را باندې مسلط کېږي

د الله جل جلاله نيول ډېر سخت دي

"وقال تعالى: إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ" بې شکه ستا د رب نيول ډېر سخت دي. [البروج:۱۲] "وقال تعالى: وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَىٰ وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ" او د غه شان ستا د رب نيول دي کله چې هغه يو کلي راونيسي او هغوی په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی وي، بې شکه ستا د رب نيول ډېر زيات سخت دي. [هود:۱۰۲]

تشريح: د الله ﷻ قانون دا دی چې په اول ځل انسان په مړی کې نه نيسي، بلکې مهلت ورکوي، کله چې انسان په مهلت کې مست شي او توبه ونه باسي، بلکې په نافرمانۍ کې نور هم تېز شي، نو بيا يې الله ﷻ رانيسي او يو ځل يې چې راونيسي، نو بيا يې څوک تري نه شي خلاصولی. په يو روايت کې دي چې د هغې راوي ابوموسی اشعري ﷺ دی، يو ځل رسول الله ﷺ وفرمايل چې الله ﷻ ظالم سړي ته مهلت ورکوي. کله چې هغه راونيسي، نو بيا يې تري څوک نه شي خلاصولی، دا خبره چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نو بيا يې دا آيت تلاوت کړو چې: "وكذلك أخذ ربك" مطلب دا چې لکه څرنګه الله ﷻ وړاندېني قومونه د هغوی د ظلم او ګناهونو په وجه هلاک کړل، نو دا اوسني خلک هم هلاکولی شي، خو هغوی ته يې چې څنګه مهلت ورکړو، دوی ته هم مهلت ورکوي. په يو روايت کې دي چې الله ﷻ ظالم ته مهلت ورکوي، ليکن کله يې چې راونيسي، نو بيا يې تري څوک خلاصولی نه شي.

د الله ﷻ د غيرت تقاضا

وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَغَارُ، وَغَيْرَةُ اللهِ، أَنْ يَأْتِيَ الْمَرْءُ مَا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ. د أبي هريره ﷺ نه روايت دي به هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې الله ﷻ ډېر زيات غيرتي او عزت والا دی او هغه ته غيرت (عزت) هغه وخت بنه راځي چې کله يو انسان د هغه د حرام شوو څيزونو ارتکاب وکړي. متفق عليه

تشريح: إن اللـــه تعالى يغار الخ: بې شکه چې الله ﷻ ته غيرت ورځي، د الله ﷻ غيرت دا دی چې انسان هغه کار وکړي د کوم نه چې الله ﷻ منع کړې دی، د غيرت نسبت چې انسان ته وشي، نو د انسان دننه هغه پټ کيفيت او حالت ته وايي چې کله په خپل اهل او خاندان کې يو ناخوښه کار ووينې نو حالت يې متغير شي، کله چې يې نسبت الله ﷻ ته وشي، نو مطلب يې دا دی چې الله ﷻ خپل بندګان د ګناهونو څخه منع کوي، ددې لپاره چې هغوی د الله ﷻ په نږد مقبول بندګان جوړ شي، د الله ﷻ د غيرت تقاضا دا ده چې هغه کوم شيان حرام کړي دي او د هغې په کولو يې سزا مقرر کړې ده، خلک هغه کار وکړي، علامه قطب الدين ﷫ فرمايي: د غيرت باره کې هم دغه مشهوره ده چې انسان هغه خبره يا کار ناخوښ کړي او په هغې باندې ناراض هم شي کوم چې د هغه په ملکيت کې وي او بل څوک پکې تصرف وکړي، ګناه کوونکی سړی داسې وي لکه هغه چې د الله ﷻ په ملکيت کې تصرف کول غواړي، کوم شيان چې الله ﷻ حرام کړي دي هغه وکړي.

باب ما يقوله ويفعله من ارتكب منهياً عنه

د حرام شوي شيانو مرتکب ته به څه ويل کيږي

"قال اللـــه تعالى: وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّـــهِ" الله ﷻ فرمايي: کله چې شيطان تاسو په وسوسو کې اچول غواړي، نو په الله ﷻ سره پناه وغواړئ! [فصلت:۳۶]

تشريح: په آيت کې ارشاد دی: که چاته شيطان وسوسې اچوي، نو هغه ته پکار ده چې په الله سره پناه وغواړي، په يو روايت کې دي چې د نبي کريم ﷺ وړاندې دوه کسانو جنګ کولو، په دې کې يو کس ډېر زيات غوسه وو. نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه داسې کلمه پېژنم، که داسې کس يې ووايي نو ددهٔ دا غوسه به ختمه شي، هغه کلمه (اعوذ بالله من الشيطان الرجيم) ده.

د الله ﷻ ياد د شيطان وسوسه ختموي

"وقال تعالى: إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ" الله فرمايي: بې شکه هغه کسان چې متقيان دي، کله چې دوی ته شيطان وسوسه وراچوي، نو دوی الله ﷻ رايادوي، نو هغه وپېژني. [الأعراف:۲۰۱]

تشريح: طائف من الشيطان: طائف هغه خيال ته وايي چې په زړه يا خوب کې راشي، ليکن دلته ترې شيطاني وسوسه مراد ده، ځکه چې شيطاني وسوسه هم د خيالي تصوراتو سره مشابه وي، د شيطان څخه يو شيطان هم مراد کېدلی شي او ډېر هم مراد کېدی شي. مقاتل رحمه الله فرمايي: کله چې متقي انسان ته شيطان وسوسه واچوي، نو هغه الله ﷻ رایاد کړي، هغه پوه شي چې دا خو ګناه ده، نو د هغه ستر کې خلاصې شي، نو بيا هغه د الله ﷻ د حکم مخالفت څخه بهر شي.

يو بزرګ فرمايي: ما د الله ﷻ څخه سوال وکړو چې اې الله! ماته وښيه چې شيطان څرنګه انسان ته وسوسه غورځوي؟ نو هغه وايي: ما وکتل چې شيطان د انسان د زړه سره نږدې کيني او د ماشي په شان خپله سوږمه ورنږدې کړي، بوی کول يې شروع کړي، کله چې انسان الله ﷻ ياد کړي، نو هغه خپل بوبول بند کړي او کله چې بې غافله ووينې، نو بيا د هغه په زړه کيني او خپله پوزه په زړه کې وردننه کړي او بوبول يې شروع کړي چې ددې په وجه وسوسې شروع کړي، نو د شيطان نه د خلاصون يو ازينی لاربس د الله ﷻ ياد دی.

په ګناه سمدستي توبه ويستل پکار دي

"وقال تعالى: وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ" الله ﷻ فرمايي: هغه کسان چې کله دوی بې هوده کار وکړي او يا په خانونو باندې ظلم وکړي، نو الله ﷻ رایاد کړي او د الله ﷻ څخه د خپلو ګناهونو معافي وغواړي او د الله ﷻ نه سوا بل څوک دی چې ګناهونه به معاف کړي؟ هيڅوک نشته، "وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُم مَّغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ" او دوی همېشه والی نه کوي په هغه ګناه باندې او دوی پوهيږي، د داسې کسانو بدله د دوی بخښنه ده د رب له لورې يې او باغونه دي د کوم لاندې چې به نهرونه بهيږي، دوی به په دې کې همېش وي او د عمل کوونکو اجر ډېر ښه دی. [آل عمران:۱۳۵-۱۳۶]

تشريح: والذين إذا فعلوا فاحشة: فاحشه د فحش څخه ماخوذ دی، ددې معنی ده بې حيايي يا د حد څخه تجاوز کول، دلته د فاحشې څخه مراد کبيره ګناه ده، ددې په وجه انسان د حد څخه وځي، "أوظلموا أنفسهم" يا يې په ځانونو ظلم وکړو، مطلب دا چې د فاحشه ارتکاب يې قولاً کړی وي او د ظلم ارتکاب يې عملاً کړی وي يا فاحشه هغه ګناه ته وايي چې بل هم د ځان سره په ګناه کې شريک کړي، لکه: زنا وغيره او ظلم خالص هغه ګناه ته وايي چې په خپل ځان پورې يې محدود وي.

ذکروا اللّٰـــه فاستغفروا الذنوبهم: د ذکر څخه مراد د الله ﷻ عذاب يادول دي، دا احساس له ځان سره کول چې د قيامت په ورځ به الله ﷻ زما سره ددې حساب کوي، نو دوی توبه وباسي، مقاتل رحمه الله فرمايي: د ذکر څخه مراد په ژبه ذکر دی.

من يغفر الذنوب الا اللّٰـــه: د ګناهونو معافي خالص يو الله ﷻ کوي، په دنيا کې چې يو بل ته خلك معافي کوي هغه په حقيقت کې معافي نه وي، بلکې د خپل حق څخه تېرېدل دي، "ولم يصروا على ما فعلوا" ددې آيت څخه معلومه شوه چې لکه څرنګه د استغفار لپاره پښېمانتيا ضروري ده، دغه شان د ګناه پرېښودلو عزم هم ضروري دی. (بيا برابره خبره ده چې وروسته دا عزم فوت شي يعنې ګناه هم وشي) په يو روايت کې دي چې چا استغفار وويلو، نو هغه اصرار ونه کړو، اګرچې په ورځ کې يې سل ځله ګناه وکړه، صغيره ګناهونه نه پرېښودل او د هميش لپاره يې کول صغيره نه پاتې کيږي، بلکې هغه کبيره جوړ شي، دغه شان کبيره ګناهونه د استغفار ويلو سره کبيره نه پاتې کيږي، بلکې هغه ختميږي.

اې مسلمانانو! توبه وباسئ

"وقال تعالى: وَتُوبُوا إِلَى اللّٰـــهِ جَمِيعاً أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ" اې مؤمنانو تاسو ټول الله ﷻ ته توبه وباسئ! ددې لپاره چې تاسو کامياب شئ! [النور:۳۱].

تشريح: اول الله ﷻ د پردې حکم وکړو، بيا يې وفرمايل: اې مسلمانانو! الله ﷻ ته توبه وباسئ! وجه يې دا ده چې هر انسان (برابره خبره ده چې نر وي او که ښځه وي) نفساني خواهشات لري، الله ﷻ فرمايي: که کومه خطائي درڅخه وشي، نو په هغې توبه وباسئ او راتلونکي وخت کې پوره عزم وکړئ چې بيا به دا ګناه نه کوو.

په لات او عزی باندې د قسم کولو کفاره

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبيّ ﷺ قال: مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ: بِاللَّاتِ وَالْعُزَّى، فَلْيَقُلْ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰـــهُ، وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ: تَعَالَ أُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم سړی چې قسم وکړي او په قسم کې داسې ووايي: په لات او عزی مې قسم دی، نو ده ته پکار ده چې (لا اله الا الله) ووايي او کوم کس چې خپل ملګري ته ووايي: راځه جواري کوو، نو دی دې صدقه ورکړي. متفق عليه

تشريح: فليقل: لا إله إلا اللّٰـــه: څوك چې په لات او عزی باندې قسم وکړي، هغه ته پکار ده چې (لا

إله إلا الله ووايي، مطلب دا چې د چا د خولې څخه په غلطۍ سره په لات او عزی باندې قسم وخوړل شي، نو پکار ده چې هغه کلمه ووايي، ددې لپاره چې ګناه يې معاف شي، څکه چې په قرآن کريم کې دي چې "إن الحسنات يذهبن السيات" بې شکه چې نېک اعمال ګناهونه ختموي او که چېرته يې قصداً په لات او عزی باندې قسم کړی وي، نو کافر دی، تجديد د ايمان او نکاح به دوباره کوي.

أقامرك فليتصدق: څوک چې چاته ووايي: راځه چې جواري وکړو، نو هغه ته پکار ده چې صدقه ورکړي، د صدقې حکم د استحباب په توګه شوی دی، څوک چې جواری طرف ته دعوت ورکړي، هغه ته د صدقې ورکولو حکم دی، نو څوک چې بالفعل جواري کوي، د هغه به څه حال وي؟

كتاب المنثورات والملح

د قيامت علامې او نخښې

باب أحاديث الدجال وأشراط الساعة وغيرها

دجال راوتل او د قيامت علامې

"عن النواس بن سمعان ﷺ قال: ذكر رسول الله ﷺ الدجال ذات غداة، فخفض فيه ورفع حتى ظنناه في طائفة النخل. فلما رحنا إليه، عرف ذلك فينا، فقال: ما شأنكم؟ قلنا: يا رسول الله، ذكرت الدجال الغداة، فخفضت فيه ورفعت، حتى ظنناه في طائفة النخل" د نواس بن سمعان ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي: يوه ورځ د سهار په وخت کې رسول الله ﷺ د دجال خينې علامې بيان کړې، د خينو حالاتو څخه به اندازه لګېده چې د هغه حيثيت ډېر معمولي (سپک) دی، د بيان د انداز څخه به کله معلومېده چې هغه به غير معمولي (لوی) شخصيت وي، موږ خيال وکړو چې هغه دلته چېرته د خورما په يو باغ کې موجود دی، کله چې موږ د نبي کريم ﷺ په خدمت کې دوباره حاضر شو، نو هغوی به زموږ په مخونو باندې د فکر تاثرات محسوس کړل، وې فرمايل: ولې دومره پريشانه يئ؟ موږ ورته ووېل يا رسول الله ﷺ! سهار تاسو د دجال متعلق چې کوم حالات بيان کړي وو، کله به مو حقير شان ظاهر کړو او کله به غير معمولي، موږ ستاسو د بيان نه داسې خيال وکړو چې هغه به دلته چېرته د خورما په يو باغ کې پټ وي، "فقال: غير الدجال أخوفني عليكم، إن يخرج وأنا فيكم، فأنا حجيجه دونكم، وإن يخرج ولست فيكم، فامرؤ حجيج نفسه، والله خليفتي على كل مسلم" نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه په تاسو باندې د دجال نه علاوه نورو معلوماتو باندې هم فکرمند يم، که چېرته هغه زما په موجودګۍ کې ظاهر شول، نو زه به د هغه په مقابله کې ستاسو طرفدار جوړ شم او که چېرته د هغه خروج زمانه وروسته وشو، نو بيا تاسو خپله د هغه د معاملاتو مقابله وکړئ او زما په ځای به الله ﷻ د هر مسلمان حفاظت کوي، "إنه شاب قطط عينه طافية، كأني أشبهه بعبد العزى بن قطن، فمن أدركه منكم، فليقرأ عليه فواتح سورة الكهف، إنه خارج خلة بين الشام والعراق، فعاث يميناً وعاث شمالاً، يا عباد الله فاثبتوا" دجال به ګونګرېالو وېښتانو والا ځوان وي، د هغه يوه سترګه به د انګور د دانې په شان بهر پر سيدلې راوتلې وي، لکه هغه چې به د

عبدالعزى بن قطن (يو كافر دى) مشابه وي، كه چېرته د چا سره د هغه ملاقات وشي، نو هغه ته پكار دي چې د سورة كهف ابتدائي ايتونه د هغه په مخكې تلاوت كړي، د هغه د ظهور ځاى به د شام او عراق مينځنى علاقه وي، هغه به خپل ښي او چپ طرف ته قتلونه كوي او فساد سره به مخكې روان وي، اې د الله ﷻ بندګانو! هغه وخت ثابت قدم اوسېږئ! "قُلْنَا: يَارَسُولَ اللّٰهِ، وَمَا لُبْثُهُ فِي الْأَرْضِ؟ قَالَ: أَرْبَعُونَ يَوْمًا، يَوْمٌ كَسَنَةٍ، وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ، وَيَوْمٌ كَجُمُعَةٍ، وَسَائِرُ أَيَّامِهِ كَأَيَّامِكُمْ قُلْنَا: يَارَسُولَ اللّٰهِ، فَذَلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَسَنَةٍ أَتَكْفِينَا فِيهِ صَلَاةُ يَوْمٍ؟ قَالَ: لَا، اقْدُرُوا لَهُ قَدْرَهُ" مونږ ووېل: يارسول الله ﷺ! د هغه ژوند به څومره وي؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: څلوېښت ورځې، يوه ورځ به د يو كال برابر وي، دويمه ورځ به د يوې مياشتې او دريمه ورځ به د يوې اونۍ، هفتې برابر وي، باقي ورځې به د معمول مطابق وي، مونږ پوښتنه وكړه چې يارسول الله ﷺ! هغه ورځ كومه چې د يو كال برابر وي، ايا زمونږ لپاره به د يوې ورځې لمونځونه كافي وي؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: نه! بلكې د وخت په اندازې سره به لمونځونه كوي، "قُلْنَا: يَارَسُولَ اللّٰهِ، وَمَا إِسْرَاعُهُ فِي الْأَرْضِ؟ قَالَ: كَالْغَيْثِ اسْتَدْبَرَتْهُ الرِّيحُ، فَيَأْتِي عَلَى الْقَوْمِ، فَيَدْعُوهُمْ فَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَجِيبُونَ لَهُ، فَيَأْمُرُ السَّمَاءَ فَتُمْطِرُ، وَالْأَرْضَ فَتُنْبِتُ، فَتَرُوحُ عَلَيْهِمْ سَارِحَتُهُمْ أَطْوَلَ مَا كَانَتْ ذُرًى وَأَسْبَغَهُ ضُرُوعًا، وَأَمَدَّهُ خَوَاصِرَ" مونږ پوښتنه وكړه: د هغه د تللو رفتار به څرنګه وي؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: د هغې وريځې په شان چې هغه د وروسته نه هوا شړي، د خروج او ظهور نه وروسته به هغه يو قوم ته راشي هغه به ورته دعوت وركړي، هغوى به دده دعوت قبول كړي، د هغه د دعوو تصديق به وكړي، د هغه سره به ملګري شي، هغه به آسمان ته ووايي چې باران وكړه، نو باران به وشي، ځمكې ته به ووايي چې شنه شه! نو هغه به شنه شي، ددې قوم څاروي چې كله مابښام كور ته واپس راشي نو د هغوى كوبونه به زيات لوى وي، د هغوى غولانځې به اوږدې وي او ججورې به اوږده وي (مطلب دا چې دېې قوم ته او د هغوى څارويو ته به اسودګي ملاو شوې وي)، "ثُمَّ يَأْتِي الْقَوْمَ فَيَدْعُوهُمْ، فَيَرُدُّونَ عَلَيْهِ قَوْلَهُ، فَيَنْصَرِفُ عَنْهُمْ، فَيُصْبِحُونَ مُمْحِلِينَ لَيْسَ بِأَيْدِيهِمْ شَيْءٌ مِنْ أَمْوَالِهِمْ، وَيَمُرُّ بِالْخَرِبَةِ فَيَقُولُ لَهَا: أَخْرِجِي كُنُوزَكِ، فَتَتْبَعُهُ كُنُوزُهَا كَيَعَاسِيبِ النَّحْلِ" بيا به ددې نه وروسته يو بل قوم ته راشي هغه به دوى ته هم دعوت وركړي، ليكن هغوى به دده دعوت رد كړي، هغه به ددې قوم نه روان شي، ليكن دغه قوم به ډېر زيات مفلس او قحط زده پاتې شي، د هغوى د مال څارويو نه به د دوى سره هيڅ پاتې نه شي، ټول مالونه به يې قحط ختم كړي، هغه به په يوه غير آباده سيمه باندې تېر شي او هغه ځمكې ته به ووايي چې خپلې خزانې ماته راوباسه! د ځمكې خزانې به هغه ته داسې راځي، لكه د شهدو مچۍ چې په خپل مشر پسې روانې وي، "ثُمَّ يَدْعُو رَجُلًا مُمْتَلِئًا شَبَابًا فَيَضْرِبُهُ بِالسَّيْفِ، فَيَقْطَعُهُ جِزْلَتَيْنِ رَمْيَةَ الْغَرَضِ، ثُمَّ يَدْعُوهُ، فَيُقْبِلُ، وَيَتَهَلَّلُ وَجْهُهُ يَضْحَكُ، فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللّٰهُ تَعَالَى الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ ﷺ، فَيَنْزِلُ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ شَرْقِيَّ دِمَشْقَ بَيْنَ مَهْرُودَتَيْنِ، وَاضِعًا كَفَّيْهِ عَلَى أَجْنِحَةِ مَلَكَيْنِ" هغه به يو صحت مند ځوان د خپلې كارنامې ښودلو لپاره راوغواړي بيا به هغه په توره دوه ځايه كړي، دوه ټوټې به د غشي د ګزار په فاصله وغورځېږي، هغه ته به آواز وركړي، هغه ځوان به ژوندى صحيح سلامت په خنديدونكي حالت مخې ته ولاړ وي، هغه به هم دا رنګه حالاتو نه تېرېږي چې الله ﷻ به دغه وخت عيسى بن مريم عليه السلام راولېږي، د هغوى نزول به د دمشق (جامع جومات) په شرقي سپينه

مناره باندې وي، د هغه په بدن باندې به زيړ رنګ توته وي، هغه به د دوه پرښتو په وزرو باندې وهلې وي او په دې حالت کې به رابښکته شي، "إِذَا طَأْطَأَ رَأْسَهُ قَطَرَ، وَإِذَا رَفَعَهُ تَحَدَّرَ مِنْهُ جُمَانٌ كَاللُّؤْلُؤِ، فَلَا يَحِلُّ لِكَافِرٍ يَجِدُ رِيحَ نَفَسِهِ إِلَّا مَاتَ، وَنَفَسُهُ يَنْتَهِي إِلَى حَيْثُ يَنْتَهِي طَرْفُهُ، فَيَطْلُبُهُ حَتَّى يُدْرِكَهُ بِبَابِ لُدٍّ فَيَقْتُلُهُ" هغه چې سر ښکته کړي، نو د سپينو زرو د رنګ په شان څاڅکي به د هغوی د وېښتو نه راتوييږي او سر مبارك چې پورته کړي، نو د ملغلرو په څېر څاڅکي به يې د تندي څخه راتوی شي، د هغه ساه چې کوم کافر ته ورسيږي، هغه به سمدستي د مرګ اجل ته ورسيږي، د هغه د ساه مسافت به د هغه د نظر د انتهاء پورې وي، څومره لرې پورې چې د هغه نظر ځي د هغوی ساه به هم هغه ځای ته رسيږي، مسيح عليه‌السلام به د دجال په تلاش کې وي، دجال به د باب لد سره ومومي، هلته به يې قتل کړي (د لد دروازه بيت المقدس ته نږدې يوه آبادي ده) "ثُمَّ يَأْتِي عِيسَى ﷺ قَوْماً قَدْ عَصَمَهُمُ اللهُ مِنْهُ، فَيَمْسَحُ عَنْ وُجُوهِهِمْ وَيُحَدِّثُهُمْ بِدَرَجَاتِهِمْ فِي الْجَنَّةِ، فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ أَوْحَى اللّٰهُ تَعَالَى إِلَى عِيسَى عليه‌السلام: إِنِّي قَدْ أَخْرَجْتُ عِبَاداً لِي لَا يَدَانِ لِأَحَدٍ بِقِتَالِهِمْ، فَحَرِّزْ عِبَادِي إِلَى الطُّورِ. وَيَبْعَثُ اللّٰهُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ" د دجال د قتل نه وروسته به عيسى عليه‌السلام هغه خلکو ته تشريف راوړي څوك چې الله ﷻ په خپل فضل د دجال د دوکې نه بچ ساتلي وي، د هغوی د زړه د تفکراتو ګرد او غبار چې د هغوی د مخونو نه به ظاهريږي، هغه به لرې کړي، هغوی ته به د درجاتو زيری واوروي، د حالاتو طريقه به دا وي چې الله ﷻ به عيسى عليه‌السلام ته خبر ورکړي چې اوس زما د داسې مخلوق (بندګانو) د وتلو وخت راغلی دی چې د هغوی څخه څوك جنګ نه شي کولی، ددې وجې نه زما بندګان او خپل ملګري د ځان سره کړه او د طور غر ته يې بوځه! دغه وخت به الله ﷻ ياجوج ماجوج ته تولې لارې خلاصې کړي، دوی به په هر لوړه او ژور ځای باندې خپرږي او ټول ځايونه به لاندې کړي، په ټوله دنيا کې به خپاره شي، "فَيَمُرُّ أَوَائِلُهُمْ عَلَى بُحَيْرَةِ طَبَرِيَّةَ فَيَشْرَبُونَ مَا فِيهَا، وَيَمُرُّ آخِرُهُمْ فَيَقُولُونَ: لَقَدْ كَانَ بِهَذِهِ مَرَّةً مَاءٌ، وَيُحْصَرُ نَبِيُّ اللّٰهِ عِيسَى عليه‌السلام وَأَصْحَابُهُ حَتَّى يَكُونَ رَأْسُ الثَّوْرِ لِأَحَدِهِمْ خَيْراً مِنْ مِئَةِ دِينَارٍ لِأَحَدِكُمُ الْيَوْمَ" د دوی د شدت او زياتوالي اندازه ددې نه ولګوئ چې د هغوی اوله دسته به بحيره طبريه خليج فارس ته ورسيږي، د هغې اوبه به يو يو څاڅکی وڅښي، تردې چې کله د هغوی آخرينۍ دسته هلته راورسيږي چې هغه ځای ووينې، هغوی به ووايي: شايد دلته به چېرته اوبه وې، دغه وخت به عيسى عليه‌السلام د خپلو ملګرو سره د محاصرې په حالت کې وي، دغه وخت به هغوی ته د غوا يو سر ستاسو د سل ديناره نه زيات قيمتي وي، "فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللّٰهِ عِيسَى ﷺ وَأَصْحَابُهُ ﷺ إِلَى اللّٰهِ تَعَالَى، فَيُرْسِلُ اللّٰهُ تَعَالَى عَلَيْهِمُ النَّغَفَ فِي رِقَابِهِمْ، فَيُصْبِحُونَ فَرْسَى كَمَوْتِ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ، ثُمَّ يَهْبِطُ نَبِيُّ اللّٰهِ عِيسَى عليه‌السلام، وَأَصْحَابُهُ ﷺ إِلَى الْأَرْضِ، فَلَا يَجِدُونَ فِي الْأَرْضِ مَوْضِعَ شِبْرٍ إِلَّا مَلَأَهُ زَهَمُهُمْ وَنَتْنُهُمْ" دغه وخت به عيسى عليه‌السلام او د هغه ملګري د فراخۍ دعاء وغواړي، نو الله ﷻ به د ياجوج ماجوج په څټونو کې د يوې داسې بيماری چينجي پيدا کړي چې هغوی به سمدستي د مرګ په غېږ کې ويده شي او چې سهار شي، د هغوی يو تن به هم ژوندی پاتې نه شي، بيا به عيسى عليه‌السلام خپل ملګري روان کړي، د غر نه به يې رابښکته کړي، دغه وخت به حالت دا وي چې د ياجوج ماجوج د مړو څخه به د ځمکې مخ پټ وي، يو لوېشت ځمکه به هم داسې نه وي چې هلته څوك قدم کېږدي، د مړو د بدبويي له وجې به ساه اخيستل

کړان وي، "فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللّٰهِ عِيسَى عليه السلام وَأَصْحَابُهُ رضي الله عنهم إِلَى اللّٰهِ تَعَالَى، فَيُرْسِلُ اللّٰهُ تَعَالَى طَيْرًا كَأَعْنَاقِ الْبُخْتِ، فَتَحْمِلُهُمْ فَتَطْرَحُهُمْ حَيْثُ شَاءَ اللّٰهُ، ثُمَّ يُرْسِلُ اللّٰهُ عزوجل مَطَرًا لَا يَكُنُّ مِنْهُ بَيْتُ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ، فَيَغْسِلُ الْأَرْضَ حَتَّى يَتْرُكَهَا كَالزَّلَقَةِ، ثُمَّ يُقَالُ لِلْأَرْضِ: أَنْبِتِي ثَمَرَتَكِ، وَرُدِّي بَرَكَتَكِ" بيا به عيسى عليه السلام د الله جل جلاله نه سوال وکړي چې اې الله؛ دا تکليف او بدبويي ختمه کړې. دغه وخت به الله جل جلاله د بختي اوښانو په څېر غټو اندامونو والا مارغان رالېږي، هغوی به دا مړي پورته کړي، چېرته چې الله جل جلاله وغواړي هلته به يې وغورځوي، ددې نه وروسته به د الله جل جلاله په حکم باران وشي، ددغه باران څخه به نه د خټو کور بچ شي او نه به خيمه پاتې شي، ټوله ځمکه به وېنځل شي او داسې صفا به يې کړي، لکه شيشه، بيا به ځمکې ته وويل شي چې خپل پيداوار او برکات د مخکې په شان ظاهر کړه! "فَيَوْمَئِذٍ تَأْكُلُ الْعِصَابَةُ مِنَ الرُّمَّانَةِ، وَيَسْتَظِلُّونَ بِقِحْفِهَا، وَيُبَارَكُ فِي الرِّسْلِ حَتَّى أَنَّ اللِّقْحَةَ مِنَ الْإِبِلِ لَتَكْفِي الْفِئَامَ مِنَ النَّاسِ، وَاللِّقْحَةَ مِنَ الْبَقَرِ لَتَكْفِي الْقَبِيلَةَ مِنَ النَّاسِ، وَاللِّقْحَةَ مِنَ الْغَنَمِ لَتَكْفِي الْفَخِذَ مِنَ النَّاسِ" دغه وخت به په يو انار سره ټول جماعت مړېږي او د هغه خول (پوستکي) به د خيمې په شان وي چې خلك به پکې آرام کوي، د شيدو د برکت به دا حالت وي چې د يوې اوښې شيدې به د پوره ډلې لپاره کافي وي، د غوا شيدې به د قبيلې لپاره او د يوې چېلۍ شيدې به د پوره خاندان لپاره کافي وي، "فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللّٰهُ تَعَالَى رِيحًا طَيِّبَةً فَتَأْخُذُهُمْ تَحْتَ آبَاطِهِمْ فَتَقْبِضُ رُوحَ كُلِّ مُؤْمِنٍ وَكُلِّ مُسْلِمٍ، وَيَبْقَى شِرَارُ النَّاسِ يَتَهَارَجُونَ فِيهَا تَهَارُجَ الْحُمُرِ، فَعَلَيْهِمْ تَقُومُ السَّاعَةُ" بيا به په مقرر وخت باندې داسې نرمه ښايسته هوا وچلېږي چې هغې سره به هر نېك مؤمن متاثره شي او د هغې هوا سره به د دوی په ترخونو (بغلونو کې يوه دانه راښکاره شي چې د دوی د مرګ سبب به شي او هر مسلمان به مړ شي، صرف کافران، بدکاره او ډېر خراب خلك به پاتې شي، د دوی د فطرتي رذالت او بدکارۍ به دا حالت وي چې هغوی به على الاعلان ښکاره د ځناورو او خرو په شان يو بل باندې خېژي او بدکاري به کوي، قيامت به په داسې خلکو باندې قائمېږي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

قوله: خَلَّةً بَيْنَ الشَّامِ وَالْعِرَاقِ: أي طَرِيقًا بَيْنَهُمَا: خلة بين الشام والعراق. د شام او عراق په مينځ کې لاره ده.

وقوله: عَاثَ بالعين المهملة والثاء المثلثة، وَالْعَيْثُ: أَشَدُّ الْفَسَادِ: دا قول چې عاث دی، ددې مطلب دا دی چې سخت فساد کوونکي به وي

وَالذُّرَى: بضم الذال المعجمة وهو أعالي الأسنمة وهو جمع ذِروة بضم الذال وكسرها: د الذري معنى ده: د کوهان کوب والا. يعنې د موړ والي له وجې به يې کوبونه هم لوی او نسونه به يې چاغ وي

وَالْيَعَاسِيبُ: ذُكُورُ النَّحْلِ: د شهدو مچی.

وَجِزْلَتَيْنِ: أي قِطْعَتَيْنِ: دوه ټوټې

وَالْغَرَضُ: الْهَدَفُ الَّذِي يُرْمَى إِلَيْهِ بِالنُّشَّابِ، أَيْ: يَرْمِيهِ رَمْيَةً كَرَمْيَةِ النُّشَّابِ إِلَى الْهَدَفِ: د (الغرض) معنى ده په غشو باندې نخښه ويشتل

وَالْمَهْرُودَةُ بالدال المهملة والمعجمة، وهي: الثَّوْبُ الْمَصْبُوغُ: دا قول چې (المهرودة) دی. ددې معنی ده: رنګ شوې جامه

قَوْلُهُ: لَايَدَانِ: أَيْ لَاطَاقَةَ: دا قول چې (لايدان) ددې معنی ده: طاقت او وس یې نشته

وَالنَّغَفُ: دُودٌ: د (النغف) معنی ده: چینجي.

وَفَرْسَى: جَمْعُ فَرِيسٍ، وَهُوَالْقَتِيلُ: مړي.

وَالزَّلَفَةُ: بفتح الزای واللام وبالقاف، وَرُوِيَ: الزُّلْفَةُ بضم الزای وإسكان اللام وبالفاء وهي الْمِرْآةُ: صفا د شیشې په څېر به شي.

وَالْعِصَابَةُ: الْجَمَاعَةُ: ډله او جماعت.

وَالرِّسْلُ بكسر الراء: اللَّبَنُ: شیدې

وَاللِّقْحَةُ: اللَّبُونُ: شیدو والا.

وَالْفِئَامُ بكسر الفاء وبعدها همزة ممدودة: الجماعةُ: (الفئام) معنی ده: ډله او جماعت.

وَالْفَخِذُ مِنَ النَّاسِ: دُونَ الْقَبِيلَةِ: (والفخذ) معنی ده: د قبیلې نه کمه درجه خاندان.

تشريح: دلته یو څو اعتراضات دي: اول دا چې د عبدالعزی مرګ خو د رسول الله ﷺ د بعثت نه مخکې شوی دی، رسول الله ﷺ خو بالکل لیدلی نه دی، نو بیا څنګه رسول الله ﷺ د هغه سره تشبیه ورکړه؟ جواب دا دی چې رسول الله ﷺ ته عالم کشف یا په خوب کې ښودل شوي ؤ، نو څکه رسول الله ﷺ د هغه سره تشبیه ورکړه، "فليقراء عليه فواتح سورة الكهف" هغه ته پکار دي چې د سورت کهف اولني ایتونه پرې ووایي، د شروع نه واخله تر (ان یقولون الا کذبا) پورې، علامه طیبي رحمه الله فرمايي: د سورت کهف د اولني ایتونو خاصیت دا دی چې ددې ویونکی انسان به د دجال د فتنې څخه په امن کې وي، لکه څرنګه چې اصحاب کهف د فتنې څخه په امن کې شول

فينزل عند المنارة البيضاء شرقي دمشق بين مهرودتين: د اسمان څخه به د دمشق په شرق طرف سپینه مناره باندې زیړ رنګ جامو کې به راښکته شي، په یو بل روایت کې دي چې عیسی علیه السلام به په بیت المقدس کې راښکته شي. په یو بل روایت کې دي چې عیسی علیه السلام به د مسلمانانو په اجتماع کې راښکته شي، په دې ټولو روایاتو کې هیڅ تعارض نشته، عیسی علیه السلام به په بیت المقدس کې ښکته کیږي کوم چې د دمشق په طرف دی او په بیت المقدس کې به د مسلمانانو اجتماع وي

سوال: په حدیث کې د سپینې منارې ذکر هم دی، هغه خو په بیت المقدس کې نشته؟ جواب دا دی چې د عیسی علیه السلام د راښکته کېدو څخه وړاندې به په بیت المقدس کې سپینه مېناره جوړه شي، "فلا يحل لكافر يجد ريح نفسه إلا مات" کوم کافر ته چې د عیسی علیه السلام د ساه بوی ورسيږي، هغه به مردار شي.

سوال دا دی چې د عیسی علیه السلام د ساه بوی په وجه به دجال ولې نه مردا ریږي، هغه خو هم کافر دی؟ جواب دا دی چې الله ﷻ به دجال ددې نه مستثنی کړي، عیسی علیه السلام به یې خپله مردار کړي. د هغه

په وينو رنگ جامې به عيسى علیه‌السلام تولو مسلمانانو ته وښيي چې هغوى پرې مطمئن شي، يا دا چې كله عيسى علیه‌السلام د آسمان څخه راښكته شي، نو هغه ته به الله ﷻ دا معجزه وركړې وي چې د هغه د ساه په پوك سره به هر كافر مړ كيږي، ليكن وروسته به دا معجزه ختمه شي او دجال به ددې معجزې په ختمېدو سره راښكاره شي.

اللد: د شام په هيواد كې د غره نوم دى ځينې وايي چې په بيت المقدس كې د يو كلي نوم دى.

د دجال سره به اوبه او اور وي

"وعن ربعي بن حراش، قال: انطلقت مع أبي مسعود الأنصاري إلى حذيفة بن اليمان ﷺ فقال له أبو مسعود: حدثني ما سمعت من رسول الله ﷺ في الدجال، قال: إن الدجال يخرج، وإن معه ماء ونارا" د ربعي بن حراش رحمه‌الله نه روايت دى هغه فرمايي چې يوه ورځ زه د عبد الله بن مسعود ﷺ سره د حذيفه بن اليمان ﷺ پوښتنې ته ورغلم، ابو مسعود ﷺ ورته وفرمايل: كه تاسو موږ ته د دجال باره كې خبر راكړئ! كوم چې تاسو د رسول الله ﷺ نه اورېدلى دى، هغه وفرمايل: دجال به راوځي او د هغه سره به اوبه او اور وي، "فأما الذي يراه الناس ماء فنار تحرق" كومې اوبه چې خلكويني، هغه به په حقيقت كې اور وي چې سوځول به كوي، "وأما الذي يراه الناس نارا، فماء بارد عذب" او كوم اور چې خلك ويني، هغه به په حقيقت كې خوږې يخې اوبه وي، "فمن أدركه منكم، فليقع في الذي يراه نارا، فإنه ماء عذب طيب" بس كوم چې په تاسو كې دجال وويني، نو بايد چې هغه په نظر كې اور راتلونكى شي ته د شک څخه پرته ځان وغورځوي، ځكه چې هغه به په حقيقت كې خوږې يخې اوبه وي، "فقال أبو مسعود: وأنا قد سمعته" ابو مسعود ﷺ وفرمايل: ما خپله هم دغه شان د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي. متفق عليه

تشريح: إن معه ماء: د هغه سره به اوبه وي، ددې نه مراد په اسبابو كې د عيش او عشرت هغه شيان دي چې په ظاهر كې د اوبو سره تعلق لري، ليكن په حقيقت كې به د تكليف او اذيت باعث وي.

يراه الناس نارا: كوم اور چې خلك ويني، هغه به په حقيقت كې خوږې اوبه وي، لكه څرنگه چې ابراهيم علیه‌السلام ته د نمرود سور اور يخ او د سلامتيا والا جوړ شوى وو.

سوال: ايا په حقيقت كې به اوبه او اور وي؟

جواب: په حقيقت كې به اوبه او اور نه وي، بلكې دا به يو طلسماتي منتر وي چې د هغې په ذريعه به په ظاهر كې اور او اوبه ليدل كيږي، بل جواب دا دى چې ممكنه ده چې حقيقتاً به اوبه او اور وي، ليكن الله ﷻ به د هغې تاثير بدل كړي، اوبه به سوځول كوي او اور به يخ وي. الله ﷻ به اصلاً په خلكو باندې امتحان كوي.

تول مؤمنان به مړه شي

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: يخرج الدجال في أمتي فيمكث أربعين، لا أدري أربعين يوما أو أربعين شهرا، أو أربعين عاما، فيبعث الله تعالى عيسى ابن مريم ﷺ فيطلبه فيهلكه": عبد الله

بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دجال به زما په امت
کې راوځي او تر څلوېښت ورځو پورې به دی وخت تيروي، راوي وايي: معلومه نه ده چې څلوېښت
ورځې يې وښودلې او که څلوېښت مياشتې او که څلوېښت کاله، بيا به الله ﷻ عيسی عليه السلام رانازل
کړي، عيسی عليه السلام به د هغه په طلب کې روان شي، هغه به ووژني، "ثُمَّ يَمْكُثُ النَّاسُ سَبْعَ سِنِينَ لَيْسَ بَيْنَ اثْنَيْنِ
عَدَاوَةٌ، ثُمَّ يُرْسِلُ اللهُ ﷻ رِيحًا بَارِدَةً مِنْ قِبَلِ الشَّامِ، فَلَا يَبْقَى عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ أَوْ إِيمَانٍ إِلَّا قَبَضَتْهُ، حَتَّى لَوْ
أَنَّ أَحَدَكُمْ دَخَلَ فِي كَبِدِ جَبَلٍ، لَدَخَلَتْهُ عَلَيْهِ حَتَّى تَقْبِضَهُ" بيا به خلك تر اوه ۷ کالو پورې داسې ژوند تيروي چې د
دوه کسانو په خپل مينځ کې به هيڅ جنګ نه وي، بيا به الله ﷻ د شام له طرفه يوه هوا راوليږي د
ځمکې په مخ به داسې يو کس پاتې نه شي چې د هغه په زړه کې ذره برابر خير او ايمان وي، مګر دا
چې د هغه روح به قبض کړی شي، تردې چې که يو کس د غره په ښځ کې پټ ناست وي، نو هغه ته به هم
دې هوا اثر ورسيږي او د هغه روح به هم قبض کړی شي، "فَيَبْقَى شِرَارُ النَّاسِ فِي خِفَّةِ الطَّيْرِ، وَأَحْلَامِ السِّبَاعِ، لَا يَعْرِفُونَ
مَعْرُوفًا، وَلَا يُنْكِرُونَ مُنْكَرًا، فَيَتَمَثَّلُ لَهُمُ الشَّيْطَانُ، فَيَقُولُ: أَلَا تَسْتَجِيبُونَ؟ فَيَقُولُونَ: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ فَيَأْمُرُهُمْ بِعِبَادَةِ الْأَوْثَانِ، وَهُمْ فِي ذَلِكَ دَارٌّ
رِزْقُهُمْ، حَسَنٌ عَيْشُهُمْ" بيا به د ځمکې په مخ صرف او صرف بدکار خلك پاتې شي چې په شهوت پرستی کې
به د مارغانو په شان او په ظلم کې به د ځناورو په شان وي، د دوی په نظر کې به نه څه نيکي وي او نه
به څه بدی ته بدي وايي، شيطان به ورته د انسان په صورت کې راشي او ورته به ووايي: ايا تاسو زما
خبره نه منئ، دوی به ورته ووايي: ته څه وايې؟ هغه به ورته د بت پرستی دعوت ورکړي، هغوی به دده
دعوت قبول کړي او بت پرستي به شروع کړي، دغه وخت به دوی ډېر زيات په عيش عشرت کې وي،
"ثُمَّ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ، فَلَا يَسْمَعُهُ أَحَدٌ إِلَّا أَصْغَى لِيتًا وَرَفَعَ لِيتًا، وَأَوَّلُ مَنْ يَسْمَعُهُ رَجُلٌ يَلُوطُ حَوْضَ إِبِلِهِ فَيَصْعَقُ وَيَصْعَقُ النَّاسُ حَوْلَهُ، ثُمَّ يُرْسِلُ
اللهُ - أَوْ قَالَ: يُنْزِلُ اللهُ - مَطَرًا كَأَنَّهُ الطَّلُّ أَوِ الظِّلُّ، فَتَنْبُتُ مِنْهُ أَجْسَادُ النَّاسِ" بيا به په شپيلۍ کې پوك ووهل شي
چې څوك يې هم واوري، نوغوږ به ورته ږدي، د ټولو نه اول به اواز هغه کس اوري چې د خپل حوض
(ډنډ) اصلاح کوي او هغه به په خټو ليو وي، هغه به د اواز په اورېدو سره بې هوشه شي، د هغه نه
شاوخوا خلك به هم بې هوشه شي، بيا به الله ﷻ د پرخې په شان باران راوروي، الله ﷻ به بيا خلك
دوباره راژوندي کړي، "ثُمَّ يُنْفَخُ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ، ثُمَّ يُقَالُ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ هَلُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ، وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ،
ثُمَّ يُقَالُ: أَخْرِجُوا بَعْثَ النَّارِ فَيُقَالُ: مِنْ كَمْ؟ فَيُقَالُ: مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَمِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ، فَذَلِكَ يَوْمَ يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا، وَذَلِكَ يَوْمَ يُكْشَفُ
عَنْ سَاقٍ" بيا چې په دويم ځل شپيلۍ ووهل شي، نو خلك به ووينئ چې په خپلو خپلو ځايونو به ولاړ
وي، دوی ته به وويل شي چې خپل رب طرفته روان شئ! بيا به پرښتو ته وويل شي، دوی ودروئ چې
د دوی نه پوښتنې وشي، بيا ددې مرحلې نه وروسته به وويل شي چې په دوی کې دوزخيان راوباسئ،
عرض به وشي چې په کوم حساب سره؟ حکم به وشي چې په زرو کې نهه سوه نهه نوي، دا به هغه ورځ
وي چې ددې د هيبت نه به ماشومان بوډاګان شي او دا ورځ به ډېره هيبت ناکه او خطرناکه وي، د ټولو
کارونو حقيقتونه به ښکاره کړی شي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: اللِّيتُ : صَفْحَةُ الْعُنُقِ. وَمَعْنَاهُ يَضَعُ صَفْحَةَ عُنُقِهِ وَيَرْفَعُ صَفْحَتَهُ الْأُخْرَى: ددې معنى دا ده چې د څټ يو طرف به يې اوچت وي او بل طرف به يې ښکته وي

تشريح: ريحاً باردة من قبل الشام: د شام له طرفه به يخه هوا شروع شي. د ټولو مسلمانانو روحونه به قبض کړي. د روح قبض کېدل هوا طرفته نسبت مجازي دی، هوا روح نه قبض کوي. بلکې روح خو د الله ﷻ په حکم ملك الموت قبض کوي. "فتبقی شرار الناس" بد ترين خلك به د ځمکې پرمخ پاتې شي. څکه چې نېک خلك به ټول مړه وي. دغه شان به دې بدو خلکو به قيامت شروع شي. لکه ځرنګه چې په يو روايت کې دي چې تر څو د ځمکې په مخ الله الله ويونکی وي تر هغه به قيامت نه راځي

يوم يکشف عن ساق: همدغه ورځ به وي چې الله ﷻ به خپله پونډۍ خلاصه کړي. د پنډۍ خلاصېدو معنی څه ده، دا لفظ د متشابهاتو څخه دی، په معنی يې يو الله ﷻ ښه پوهيږي. ځينې متاخرين علماء فرمايي: ددې نه د قيامت سختي او تکليفونه مراد دي، په يو روايت کې دي چې د قيامت په ورځ به الله ﷻ خپله پونډۍ خلاصه کړي. لکه ځرنګه چې د هغه شان سره ښايېږي. هر مسلمان سړی او مسلمانه ښځه به سجده ولګوي. البته هغه خلك به سجده ونه شي لګولی کومو چې په دنيا کې د رياکارۍ په طور سجدې لګولي وي (يا منافقان وو). د هغوی ملا به تختې شي. الله ﷻ ته به سجده نه شي لګولی

د مکې مکرمې او مدينې منورې خصوصيت

"وعن أنس رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لَيْسَ مِنْ بَلَدٍ إِلَّا سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ إِلَّا مَكَّةَ وَالْمَدِينَةَ، وَلَيْسَ نَقْبٌ مِنْ أَنْقَابِهِمَا إِلَّا عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ صَافِّينَ تَحْرُسُهُمَا" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: داسې ښار او بازار او د ځمکې داسې يو کنډو به نه وي مګر دا چې دجال به يې پايمال کړي، سېوا د مکې او مدينې منورې څخه چې هلته به پرښتې متعين وي، صف په صف به ولاړې وي او ددې ښارونو حفاظت به کوي، "فَيَنْزِلُ بِالسَّبَخَةِ، فَتَرْجُفُ الْمَدِينَةُ ثَلَاثَ رَجَفَاتٍ، يُخْرِجُ اللهُ مِنْهَا كُلَّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ" هغه به د مدينې په ښوره ناکه ځمکې ډېره وي، دغه وخت به په مدينه کې درې ځله زلزله راشي چې د هغې په وجه به کافران او منافقان خلك د ويرې نه بهر ته منډه کړي. رواه مسلم

تشريح: د مکې مکرمې اومدينې منورې يو خصوصيت دا دی چې دې ته به دجال نه شي داخلېدلی، وجه به يې دا وي چې هلته به پرښتې په حفاظت باندې مامورې وي، دجال به د داخلېدو کوشش کوي، ليکن پرښتې به يې نه پرېږدي او په ځينو رواياتو کې د اقصی جومات (بيت المقدس) او جبل طور (د طور غر) ذکر هم دی.

د مکې مکرمې او مدينې منورې کوم خلك چې دجال مني، هلته به زلزله راشي چې د زلزلې له وجې به هغوی وتښتي او د دجال سره به يو ځای شي.

د دجال سره به اويا زره يهوديان وي

"وعنه رضي الله عنه: أنَّ رسُولَ اللّـــه ﷺ قال: يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ يَهُودِ أَصْبَهَانَ سَبْعُونَ أَلفاً عَلَيْهِمُ الطَّيَالِسَةُ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د دجال سره به د اصبهان اويا زره / ۷۰۰۰۰/ يهوديان ملګرتيا کوي کومو چې به طيلسان اغوستي وي. رواه مسلم

تشريح: يتبع الدجال: د دجال سره به ځينې ملګري هم وي، "اصفهان" د ايران يو مشهور بازار دی، "سبعون ألفاً" اويا زره (۷۰۰۰۰) يهوديان به ورسره وي، په يو بل روايت کې لس کم سل زره يهوديان به ورسره وي، "الطيالسة" د جامو نوم دی، کوم چې به د ځادرويو په شان وي، ددې ځادر په استعمال کې هيڅ قباحت نشته، په ځينو رواياتو کې دي چې انس رضي الله عنه هغه ناخوښ کړی دی، د هغې وجه دا ده چې د هغې رنګ به زيړ وي

خلک به د دجال له ويرې غرونو ته لاړ شي

"وعن أم شريكٍ رضي اللّـــه عنها: أنها سَمِعَتِ النَّبيَّ ﷺ يقولُ: لَيَنْفِرَنَّ النَّاسُ مِنَ الدَّجَّالِ فِي الجِبَالِ" د ام شريك رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: خلک به د دجال نه د بچ کېدو لپاره غرونو ته تښتي. رواه مسلم

تشريح: په يو بل روايت کې ددې جملې اضافه هم شوې ده چې ام شريک رضي الله عنها پوښتنه کوي چې "فأين العرب يومئذ؟ قال: هم قليل" په دې ورځو کې به عرب چېرته وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: په دې ورځو کې به عرب ډېر کم وي، په جنت کې به هم عربي ژبه وي

د حديث مطلب دا دی چې کله دجال راشي، نو نېک خلک به د ايمان د حفاظت په خاطر غرونو ته لاړ شي، ددې لپاره چې هسې نه په فتنه کې مبتلا شي، د ام شريک رضي الله عنها دغه پوښتنه چې عرب به چېرته وي؟ مطلب يې دا دی چې په عربو کې ايماني غيرت او د جهاد جذبه زياته ده، ايا هغوی به د دجال مقابله ونه کړي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: عرب به وي، ليکن ډېر کم به وي چې د مقابلې طاقت به يې نه وي

د راوي ام شريک رضي الله عنها حالات:

اصل نوم يې غزية رضي الله عنها ده، ليکن په غزيلة باندې مشهوره وه، کنيت يې ام شريک دی، د انصارو د قبيلې سره تعلق لري، په بخاري، ترمذي، مسلم او نسائي کې يې روايات موجود دي

د دجال فتنه تر ټولو سخته ده

"وعن عمران بن حُصينٍ رضي اللّـــه عنهما، قال: سمعتُ رسولَ اللّـــهِ ﷺ يقولُ: مَا بَيْنَ خَلْقِ آدَمَ إلى قِيَامِ السَّاعَةِ أَمْرٌ أَكْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ" د عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: د آدم عليه السلام د پيدا ايښت نه واخله تر قيامته پورې به د دجال نه زياته بله لويه فتنه نه وي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: الساعة: قيامت.

تشريح: د آدم عليه السلام د زماني نه تر قيامته پورې د دجال نه بله لويه فتنه نشته، په دې وجه هر پيغمبر عليه السلام خپل امت ددې فتنې څخه وېرولى دى، په دې فتنه کې به ډېر ښه ښه خلك راګير شي، ځکه چې د دجال سره به ډېر لوى جادو وي.

د دجال سره د يو ايماندار سړي مقابله

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ، عن النبي ﷺ قال: يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فَيَتَوَجَّهُ قِبَلَهُ رَجُلٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فَتَلْقَاهُ الْمَسَالِحُ: مَسَالِحُ الدَّجَّالِ. فَيَقُولُونَ لَهُ: إِلَى أَيْنَ تَعْمِدُ فَيَقُولُ: أَعْمِدُ إِلَى هَذَا الَّذِي خَرَجَ. فَيَقُولُونَ لَهُ: أَوَمَا تُؤْمِنُ بِرَبِّنَا؟ فَيَقُولُ: مَا بِرَبِّنَا خَفَاءٌ! فَيَقُولُونَ: اقْتُلُوهُ" د ابو سعيد خدري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو مسلمان به د دجال د خروج نه وروسته هغه ته ورشي، دغه مسلمان به د دجال د څوکيدار سره ملاقي شي، څوکيدار به ورته وايي: چېرته ځې؟ هغه به ورته وايي: هغه کس ته ورځم چې راوتلى دى، څوکيدار به ورته وايي: ته زموږ په رب ايمان نه لرې؟ هغه به ورته وايي: زموږ د رب صفتونه ښکاره دي، په هغه کې خو هيڅ پټ والى نشته، هغه خلك به په دې خبره غوسه شي، وبه وايي چې دا سړى قتل کړئ! "فَيَقُولُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: أَلَيْسَ قَدْ نَهَاكُمْ رَبُّكُمْ أَنْ تَقْتُلُوا أَحَداً دُونَهُ، فَيَنْطَلِقُونَ بِهِ إِلَى الدَّجَّالِ، فَإِذَا رَآهُ الْمُؤْمِنُ قَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ هَذَا الدَّجَّالُ الَّذِي ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ ﷺ، فَيَأْمُرُ الدَّجَّالُ بِهِ فَيُشَبَّحُ، فَيَقُولُ: خُذُوهُ وَشُجُّوهُ. فَيُوسَعُ ظَهْرُهُ وَبَطْنُهُ ضَرْباً، فَيَقُولُ: أَوَمَا تُؤْمِنُ بِي؟ فَيَقُولُ: أَنْتَ الْمَسِيحُ الْكَذَّابُ!" په دوى کې به يو کس وايي: ولې تاسو ته ستاسو مشر (دجال) نه وو ويلي چې په تاسو کې به څوك هم زمانه سېوا بل څوك قتل نه کوي، هغوى به دا مسلمان دجال ته بوځي، کله چې دا مسلمان دغه دجال ووينې، نو ټولو خلکو ته به وايي چې اې خلکو! دا هغه دجال دى چې رسول الله ﷺ يې اطلاع ورکړې وه، د هغه خبره چې واورې، دجال به خپلو خلکو ته وايي: دا کس ونيسئ او وې وهئ دده سر مات کړئ! شا او خېټه يې لوخه کړئ، وې وهئ! کله چې يې وهئ، نو دا پوښتنه به ترې کوي چې اوس په ما باندې ايمان راوړې او که نه؟ هغه به ورته وايي: ته واقعي مسيح کذاب يې! "فَيُؤْمَرُ بِهِ فَيُؤْشَرُ بِالْمِنْشَارِ مِنْ مَفْرِقِهِ حَتَّى يُفَرَّقَ بَيْنَ رِجْلَيْهِ، ثُمَّ يَمْشِي الدَّجَّالُ بَيْنَ الْقِطْعَتَيْنِ ثُمَّ يَقُولُ لَهُ: قُمْ، فَيَسْتَوِي قَائِماً. ثُمَّ يَقُولُ لَهُ: أَتُؤْمِنُ بِي؟ فَيَقُولُ: مَا ازْدَدْتُ فِيكَ إِلَّا بَصِيرَةً" بيا به دجال امر وکړي چې دى ونيسئ او په آرې سره يې د سر نه تر پښو پورې وشلوئ! دوه ټوټې به يې کړي، کله چې جسم دوه ټوټې شي، دجال به د دوه ټوټو په مېنځ کې روان شي، بيا به دواړو ټوټو ته مخاطب شي، هغه به وايي: ودرېږه! هغه مسلمان به صحيح سالم ودرېږي، دجال به ووايي: اوس وايه! ايمان راوړې او که نه؟ هغه به ورته وايي: اوس خو مې نور هم يقين زيات شو (چې ته واقعي مسيح دجال کذاب يې) "ثُمَّ يَقُولُ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَا يَفْعَلُ بَعْدِي بِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ فَيَأْخُذُهُ الدَّجَّالُ لِيَذْبَحَهُ، فَيَجْعَلُ اللهُ مَا بَيْنَ رَقَبَتِهِ إِلَى تَرْقُوَتِهِ نُحَاساً، فَلَا يَسْتَطِيعُ إِلَيْهِ سَبِيلاً، فَيَأْخُذُ بِيَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَيَقْذِفُ بِهِ، فَيَحْسَبُ النَّاسُ أَنَّهُ قَذَفَهُ إِلَى النَّارِ، وَإِنَّمَا أُلْقِيَ فِي الْجَنَّةِ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: هَذَا أَعْظَمُ النَّاسِ شَهَادَةً عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ" بيا به هغه مسلمان اعلان وکړي چې اې خلکو واورئ! زما څخه پس به دغه دجال د چا هيڅ نقصان نه شي کولى، دې وينا سره به دجال وغواړي چې د هغه مرى پرې کړي، ليکن الله ﷻ به ددې مؤمن د مرى نه تر ګوګو پورې

پورې حصه د پېتلو په شان سخته کړي چې نه به مرى پرې کولی شي او نه به يې ماتولی شي چې دجال په مجبور شي، لاس او پښې به يې وتړي او په اور کې به يې واچوي، خلك به گومان کوي چې دی په اور کې ولوېدو، ليکن په حقيقت کې به هغه په جنت کې وي، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: دا مؤمن بنده به د الله ﷻ په نزد تر ټولو لوی شهيد وي. رواه مسلم وروه البخاري بعضه بمعناه.

لغوي تحقيق: المسالح: هُمُ الخُفَرَاءُ وَالطَّلَائِعُ: د (المسالح) نه مراد څوکيداران دي.

تشريح: فيتوجه قبله رجل من المومنين: په مسلمانانو کې به د ايمان خاوند يو کس وروړاندې شي، په دې کې د يو مؤمن استقامت ته اشاره ده. دجال به دغه مسلمان شهيد کړي، بيا به دجال د هغه نه دوه ټوټې جوړې کړي او ددې دواړو ټوټو ترمينځ به هغه تېر شي، بيا به يې د جادو په ذريعه راژوندی کړي، (دلته يوه خبره د يادونې وړ ده، هغه دا چې دا ژوندي کول او مړه کول به په حقيقت کې الله ﷻ کوي، دجال ته نسبت خالص مجازاً شوی دی، لکه عيسى عليه السلام ته د مړي ژوندي کولو معجزه ورکول شوې ده، خو هلته هم په حقيقت کې ژوندي کول الله ﷻ کوي) بيا به دجال وغواړي چې هغه کس مړ کړي، ليکن په مړ کولو به يې قادر نه وي، بيا به الله ﷻ د هغه مسلمان سړي څټ نه تانبه (او سپنه) ناوه کړي، يعنې ددې څخه وروسته به د دجال مهلت ختم شي.

وإنما ألقي في الجنة: په حقيقت کې به هغه په جنت کې وي، د جنت نه مراد يا خو دنيوي خوندونه، راحت او سکون مراد دی يا ترې مراد دا دی چې دجال به يې په اور کې د اچولو کوشش وکړي چې هغه مسلمان وسوځوي، ليکن هغه اور به ده ته گل گلزار شي، لکه ابراهيم عليه السلام ته اور د راحت او سکون ذريعه جوړه شوه.

هذا اعظم الناس شهادة عند رب العالمين: د رب العالمين ذات په نزد به دا کس تر ټولو لوړ او پياوړی شهادت موندونکی وي، ده ته د هغه اولني مرگ په لحاظ شهيد وويل شو چې دجال په اول ځل په آره باندې شهيد کړی وو، ليکن بيا الله ﷻ راژوندی کړو.

دجال د الله ﷻ په مخ کې ذليل دی

"وعن المغيرة بن شعبة رضي الله عنه قال: ما سأل أحد رسول الله ﷺ عن الدجال أكثر مما سألته، وإنه قال لي: ما يضرك؟ قلت: إنهم يقولون: إن معه جبل خبز ونهر ماء، قال: هو أهون على الله من ذلك"

د مغيرة بن شعبة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د دجال باره کې به هيچا دومره پوښتنې د رسول الله ﷺ څخه نه کولې. لکه څومره چې به ما کولې، ماته يوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمايل: ته ولې دومره پرېشانه يې، هغه به تاته هيڅ ضرر نشي رسولی، ما وويل: يارسول الله ﷺ! خلك وايي: د هغه سره به د ډوډۍ غر او د اوبو نهر وي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: که چېرته داسې وي نو بيا هم د الله ﷻ په نزد دا څه لويه خبره نه ده، مسلمانانو ته به د ازمايش لپاره هغه ته ددې نه زيات طاقت ورکړي او بيا به هم مسلمانان د هغه د فتنې نه الله ﷻ محفوظ ساتي. متفق عليه

تشريح: إن معه جبل خبز ونهر ماء: د هغه سره به د ډوډۍ غر او د اوبو نهر وي، په دې وخت کې به قحط سالي وي، د هغه سره به ډوډۍ او اوبه ښه پرېمانه وي، خلك به د قحط په وجه هغه ته راځي. "هو أهون على اللّـــه من ذالك" هغه به د الله ﷻ په نزد په ټول مخلوق کې ذليل وي، د دجال سره به په حقيقت کې هيڅ نه وي، هغه به خالص ټوله دوکه وي، کله چې مؤمنان دغه دوکه ووينې، نو د دوی ايمان به نور هم مضبوط شي، په دجال کې به دومره طاقت نه وي چې ايمانداره خلك ګمراه کړي، هغوی به په خپله عقيده او ايمان دومره مضبوط ولاړ وي چې دجال څومره په هغوی زور لګوي، هغومره به د هغوي ايمان قوي کيږي

هر پيغمبر خپل امت د دجال د فتنې څخه وېرولی دی

"وعن أنس ﷺ قال: قال رسول اللّـــه ﷺ: مَا مِن نَبِيّ إلاوَقَد أنذَرَ أُمَّتَهُ الأَعوَرَ الكَذَّاب، أَلَا إنَّهُ أَعوَرُ وإنَّ رَبَّكُم ﷻ لَيسَ بِأَعوَرَ، مَكتُوبٌ بَينَ عَينَيهِ ك ف ر" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: داسې يو پيغمبر نه دی تېر شوی چې هغه خپل امت د ړوند دروغجن دجال څخه نه وي وېرولی، ياد ساتئ چې هغه په يوه سترګه ړوند دی او ستاسو رب ړوند نه دی، د هغه د دواړو سترګو په مينځ کې به ليکل شوي وي: (ك، ف، ر) متفق عليه

لغوي تحقيق: أعور: ټپه سترګه / ړوند.

تشريح: يو پيغمبر داسې نه دی تېر شوی چې هغه خپل امت د دې فتنې څخه نه وي وېرولی، مطلب دا چې الله ﷻ د دجال د راوتلو وخت مقرر کړی نه دی، صرف دومره بيان شوي دي چې هغه به د قيامت سره نژدې راوځي، د قيامت وخت معلوم نه دی کله هم راتلی شي، د دجال د راوتلو وخت هم متعين نه دی چې په دې ورځ يا کال به راوځي، "إنه أعور" دجال به ړوند وي، الله ﷻ ړوند نه دی، د مسلمانانو عقيده دا ده چې د الله ﷻ په ذات او صفاتو کې هيڅ عيب او نقصان نشته

مكتوب بين عينيه ك،ف،ر: د (ك،ف،ر) څخه كفر مراد دی چې هر عالم او جاهل به يې ويلی شي، بل دا چې دجال به خلك كفر طرفته رابولي، د رسول الله ﷺ په امت باندې د الله ﷻ لوی فضل او احسان دی چې هغه د دجال په مخ کافر ليکلی دی چې هر عالم او جاهل يې ويلی شي او د هغه په دجل او چل کې به نه شي راتلی.

دجال به ړوند وي

"وَعَن أبي هريرةَ ﷺ قال: قالَ رسولُ اللّـــهِ ﷺ: ألاأحدِّثكُم حديثاً عن الدجال ماحدَّث بِهِ نبيٌّ قومَهُ!" د أبو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ګورئ زه تاسو ته د دجال متعلق هغه خاص خبره بيانوم چې هيڅ نبي هغه نه ده بيان کړې: "إنَّهُ أعورُ، وأنَّهُ يجيءُ مَعَهُ بِمِثالِ الجنّةِ والنَّارِ، فالتي يقولُ إنَّها الجنَّةُ هي النَّار" هغه دا چې هغه به يو سترګی وي، د جنت او دوزخ په شان به دوه شيان هغه سره ملګري وي کوم ته چې هغه

جنت وايي، په حقيقت کې به هغه دوزخ وي متفق عليه

تشريح: إنه أعور: د دجال يوه سترګه به نه وي، ځيني وايي د اعور معنى ده عيب دار، يعني د هغه په سترګه کې به عيب وي، "بمثال الجنة والنار، والتي يقول إنها الجنة هي النار" مطلب دا چې دجال کوم شي ته دوزخ ووايي، هغه به په حقيقت کې جنت وي، څوک چې د دجال خبره نه مني دجال به پرې غوسه شي. په اور کې به يې واچوي، ليکن الله ﷻ به ورته په هغه اور کې راحت ورکړي او څوک چې د دجال خبره مني، هغه به يې د عيش، راحت او آرام لپاره په خپل جنت کې واچوي، هغوی به ګومان کوي چې بس مزې به پکې وي، ليکن په حقيقت کې به هغه په اور کې سوځي. د حديث مقصد دا دی چې خلک د دجال ښه ځان وساتي، د هغه په چل او دوکه کې رانشي، د هغه د دروغجن جنت ښه ځان ساتل پکار دي.

د دجال يوه سترګه دانګورو دانې په شان ده

"وعن ابن عمر رضي اللـــه عنهما: أَنَّ رسولَ الله ﷺ ذَكَرَ الدَّجَّالَ بَيْنَ ظَهْرَانَي النَّاسِ، فقَالَ: إِنَّ اللهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ، أَلَا إِنَّ المَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ العَيْنِ اليُمْنَى" د ابن عمر ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ؓ په وړاندې د دجال خبر ورکړو، نبي کريم ﷺ وفرمايل يقيناً چې الله ﷻ ړوند نه دی او مسيح دجال په ښي سترګه ړوند دی، "كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ" ګويا د هغه د هغه ړنده سترګه به داسې وي لکه د انګور دانه چې پړسيدلې وي، بې نوره به بهر ته راوتلې وي متفق عليه

لغوي تحقيق: المسيح: المسيح د عيسى عليه السلام لقب هم دی او د دجال لقب هم دی، د دجال لقب ځکه دی چې د هغه مخ مسح شوی دی، يعني د هغه يوه سترګه ړنده ده، د عيسى عليه السلام لقب په دې معنى دی چې عيسى عليه السلام په چا باندې لاس راښکي، نو ړوند به بينا شي، د مسيح ډېرې معناګانې دي، ډېر وړوکي قدوالا، بد صورت، ډېر زيات جماع کونکی

تشريح: أعور العين اليمنى كأن عينه عنبة طافية: د هغه ښي سترګه ړنده ده او هغه داسې ده لکه د انګور دانه چې وچوي، د طافية معنى ده: چودل شوې دانه، سوال دا دی چې په يو بل روايت کې دي چې د هغه سترګه "إنها ليست بطافية ولاجحراء" د هغه سترګه نه بهر راوتلې ده او نه ډوبه ده؟ جواب دا دی چې د هغه يوه سترګه خو دغسې ده لکه بهر چې راوتلې چودلې دانه او بله سترګه يې نه راوتلې ده او نه ډوبه ده، بهر حال علامه توربشتي رحمه الله فرمايي: د دجال د سترګې باره کې روايات مختلف دي، ليکن ددې ټولو خلاصه دا ده چې د هغه په دواړو سترګو کې عيب شته او دغه عيبونه په مختلفو طريقو سره بيان شوي دي.

د غرقدونې بيان

"وعن أبي هريرة ؓ: أَنَّ رسولَ اللـه ﷺ قَالَ: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ المُسْلِمُونَ اليَهُودَ، حَتَّى يَخْتَبِئَ اليَهُودِيُّ مِنْ وَرَاءِ الحَجَرِ وَالشَّجَرِ، فَيَقُولُ الحَجَرُ وَالشَّجَرُ" د ابو هريره ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل تر

هغې به قيامت قائم نه شي تر څو چې مسلمانان د يهوديانو سره جنګ ونه کړي، تردې چې يو يهودي به د کاڼي او ونې شاته پټيږي، دغه کاڼی او ونه به چغې وهي: "يَا مُسْلِمُ هٰذَا يَهُوْدِيٌّ خَلْفِي تَعَالَ فَاقْتُلْهُ، إِلَّا الْغَرْقَدَ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرِ الْيَهُوْدِ" اې مسلمانه! راشه دا يهودي دی، زما وروسته پټ دی، مردار يې کړه لیکن د غرقد ونه به حال نه وايي، ځکه چې هغه ونه به د يهوديانو حمايت کونکې وي. متفق عليه

تشريح: په حديث کې د قيامت علامې بيان شوي دي، هغه دا چې د يهوديانو سره به د مسلمانانو سخت جنګ کيږي او په دې حديث کې دا بشارت هم دی چې دا جنګ به مسلمانان ګټي، په دې وخت کې به کاڼي بوټي هر څه مسلمانانو ته د يهوديانو باره کې مخبري کوي، لیکن يوه ونه ده چې هغه ته غرقد ويل کيږي، دغه ونه به مسلمانانو ته د يهوديانو مخبري نه ورکوي، دا ونې په بيت المقدس کې ډېرې زياتې دي، ډېر زيات ازغي لري.

قيامت ته نزدې د يو انسان حالت

"وعنه رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتّٰى يَمُرَّ الرَّجُلُ عَلَى الْقَبْرِ فَيَتَمَرَّغَ عَلَيْهِ وَيَقُوْلُ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ترهغې به دنيا ختمه نه شي تر څو چې داسې کيفيت نه وي پيدا شوی چې يو سړی به په قبر تيريږي نو په هغه قبر باندې به ځان ورګوزار کړي او وايي به چې: "يَا لَيْتَنِي كُنْتُ مَكَانَ صَاحِبِ هٰذَا الْقَبْرِ، وَلَيْسَ بِهِ الدِّيْنُ، مَا بِهِ إِلَّا الْبَلَاءُ" ارمان دا چې زه ددې قبر والا په ځای دلته په قبر کې پروت وای، حال دا چې دا کار به دده د ديني جذبې له امله نه وي، بلکې تکليفونو به راګېر کړی وي. متفق عليه

تشريح: قيامت ته نزدې حالاتو کې به مشکلات او تکليفونه دومره زيات شي چې هر انسان به د ژوند په مقابله کې مرګ ته ترجيح ورکوي، "يمر الرجل بالقبر" انسان چې په قبر باندې تېر شي، ډېر زيات ارمان به کوي چې زه ددې صاحب قبر په ځای په دې قبر کې پروت وای، ددې وجه به دا نه وي چې په دين کې ورته څه تکليف رسېدلی دی، بلکې د دنيوي تکليفونو او مصيبتونو څخه به دومره زيات تنګ وي چې د هغې نه به ځان خلاصوي، د دين په وجه داسې ارمان جائز دی، لیکن د دنيا په وجه داسې ارمان کول حرام دي.

د فرات درياب څخه به د سرو زرو غر راوځي

"وعنه رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَحْسِرَ الْفُرَاتُ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ يُقْتَتَلُ عَلَيْهِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تر هغې به قيامت قائم نه شي تر څو چې د فورات نهر نه د سرو زرو غر راڅرګند نه شي، ددې غر په حاصلولو به جنګ وشي، "فَيُقْتَلُ مِنْ كُلِّ مِائَةٍ تِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ، فَيَقُوْلُ كُلُّ رَجُلٍ مِنْهُمْ: لَعَلِّي أَنْ أَكُوْنَ أَنَا أَنْجُو" دومره سخت جنګ به وشي چې په هر سلګون کې به نهه نوي خلک مړه شي او هر يو به اميد لري چې کېدی شي: زه ددې غر په حصول کې کامياب شم.

وفي رواية: يُوْشِكُ أَنْ يَحْسِرَ الْفُرَاتُ عَنْ كَنْزٍ مِنْ ذَهَبٍ، فَمَنْ حَضَرَهُ فَلَا يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا. او په يو بل روايت کې دي چې

رسول الله ﷺ وفرمايل: نږدې ده چې د فرات نه د سرو زرو خزانه راښکاره شي، دغه وخت موجوده خلګو ته پکار دي چې ددې څخه هيڅ وانخلي. متفق عليه

لغوي تحقيق: الفرات: دا يو لوی درياب دی چې په بحر فارس کې پرېوځي.

تشريح: يحسر الفرات: مطلب دا چې د فرات درياب اوبه به وچې شي، ددې لاندې به د سرو زرو يوه خزانه راوځي چې هغه به د غره په شان وي، په يو بل روايت کې دي چې: "من حضر فلا يأخذ منه شيئاً" څوک چې هلته موجود وي، هغه ته پکار ده چې ددې نه څه وانخلي، ليکن په حديث کې ذکر شو چې خلك به ډېر زيات حرص او لالچ اخيستي وي چې ددې په حصول کې به په سلو کې يو کم سل خلك مړه شي، هغه خزانه به د مغضوب او مکروه مال په حکم کې وي.

د مدينې منورې څخه وتل

"وعنه، قال: سمعتُ رسولَ اللّٰه ﷺ يقول: يَترُكُونَ المَدِينَةَ على خَيْرِ مَا كَانَتْ، لَا يَغْشَاهَا إلَّا العَوَافِي يُرِيد - عَوَافِي السِّبَاعِ والطَّيرِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه مي واورېدل، فرمايل يې: خلك به مدينه منوره د خير په حالت کې پرېږدي، قيامت ته نږدې وخت کې به ډېر راووځي، هلته به صرف حيوانات، ځناور او مارغان پاتې شي، "وَآخِرُ مَنْ يُحْشَرُ رَاعِيَانِ مِنْ مُزَيْنَةَ يُرِيدَانِ المَدِينَةَ يَنْعِقَانِ بِغَنَمِهِمَا فَيَجِدَانِهَا وُحُوشاً، حَتَّى إذَا بَلَغَا ثَنِيَّةَ الوَدَاعِ خَرَّا عَلَى وُجُوهِهِمَا" د ټولو نه وروسته حشر به د مزينه قبيلې د هغه دوه شپونکو وي چې د مدينې منورې په قصد به روان وي، د خپلو چېلو شړلو لپاره به آوازونه کوي، کله چې وګوري هغه به هم د ګورونو په ځای وحشي ځنګلونه ګرځېدلي وي، تردې چې کله هغوی ثنية الوداع ته راورسيږي، نو پرمخې به راوغورځيږي او ختم به شي. متفق عليه

تشريح: يترکون المدينة على خير: خلك به مدينه منوره پرېږدي، سره له دې چې مدينه منوره به ډېره ښه وي، د قيامت يوه علامه دا هم ده چې خلك به د خپلو خواهشاتو په وجه مدينه منوره پرېږدي او حال دا چې مدينه منوره په ټولو بازارونو کې تر ټولو ښکلی بازار دی.

په دې حديث کې پېشن ګويي شوې ده، ايا دا پېشن ګويي پوره شوې ده او که پاتې ده؟ اول احتمال دا دی چې لکه څرنګه قاضي عياض رحمه الله فرمايي: دا پېشن ګويي پوره شوې ده، اوس د مدينې منورې څخه خلافت عراق او شام ته منتقل شوی دی، حال دا چې په هغه وخت کې مدينه منوره د دين او دنيا په لحاظ تر ټولو ښکلی ښار وو، د دين په لحاظ خو ځکه چې ډېر زيات علماء پکې وو او د دنيا په لحاظ ځکه چې هلته ټول خير وو.

دويم احتمال دا دی چې دا پېشن ګويي باقي ده، تر اوسه نه ده پوره شوې، قيامت ته به نږدې دا پېشن ګويي پوره کيږي، ځکه چې کومې خبرې په حديث کې ذکر دي، هغه لا تر اوسه پوره نه دي، راجح قول دغه دويم دی.

قيامت ته نژدې د مسلمانانو د خليفه حال

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ: أنّ النبيّ ﷺ قال: يكون خليفة من خلفائكم في آخر الزمان يحثو المال ولا يعدّه" د ابو سعيد خدري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: قيامت ته نژدې زمانه كې به د مال دومره كثرت وي چې د هغې زمانې خليفه به مال دولت په لپو لپو بغير د شمارلو خلكو ته وركوي
رواه مسلم

تشريح: خليفة من خلفائكم: په خليفاگانو كې به يو خليفه وي، ددې خليفه نه مراد مهدي رحمه الله دى كوم چې به د ژوند په آخري وختونو كې راځي. ځينې وايي: ددې نه مراد عثمان بن عفان ﷺ دى، ددې خليفه بادشاهي او نظام حكمراني به ډېره په ښه انداز سره وي، د حكومت مالي حالت به ډېر زيات ښه وي، په دې زمانه كې به ډېر زيات فتوحات او مالي غنيمتونه مسلمانانو ته حاصليږي، هغه خليفه به مال دولت په خزانو كې نه بندوي، بلكې په مسلمانانو به يې خرچ كوي، د خرچ كيفيت په حديث كې بيان شوى دى چې ښه په لپو لپو به يې خرچ كوي او شماري به يې نه.

په دې كې ددې خبرې هم پيشن گويي ده چې په آخري زمانه كې به فتح اسلام ته حاصليږي، كفر به شكست خوري، هر ځاى به عدل او انصاف وي

قيامت ته به نژدې څوک صدقه قبلوونكى نه وي

"وعن أبي موسى الأشعري ﷺ: أنّ النبيّ ﷺ قال: ليأتينّ على الناس زمان يطوف الرجل فيه بالصدقة من الذهب فلا يجد أحداً يأخذها منه" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په خلكو باندې به داسې زمانه خامخا راځي چې په دوى كې به يو كس د خپلو سرو زرو زكات وباسي، هغه به گرځي، ليكن د هغې قبلوونكى به څوک نه وي، "ويرى الرجل الواحد يتبعه أربعون امرأة يلذن به من قلّة الرجال وكثرة النساء" او د ښځو به دومره كثرت وي چې د يو سړي په نگراني/ تربيه كې به څلوېښت ښځې وي. رواه مسلم

تشريح: دا حديث د نبوت د علاماتو څخه يوه علامه ده، په دې حديث كې د دوه پيشن گويانو ذكر دى، يو خو دا چې قيامت ته نژدې وخت كې به مال او دولت ډېر زيات شي، تردې چې داسې خلک به ورک شي چې هغوى صدقه اخلي، مطلب دا چې غريب به نه وي او بل دا چې قيامت ته نژدې د ډېرو جنگونو په وجه يا قيامت ته به نژدې د ښځو پيدايش ډېر زيات شي، تردې چې څلوېښت ښځې به د يو كس په غاړه كې وي.

د بني اسرائيلو واقعه

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن النبيّ ﷺ قال: اشترى رجل من رجل عقاراً، فوجد الذي اشترى العقار في عقاره جرّة فيها ذهب، فقال له الذي اشترى العقار: خذ ذهبك، إنّما اشتريت منك الأرض ولم أشتر الذهب" د ابو هريره ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تېره شوې زمانه كې يو سړي د بل نه ځمكه واخيسته، په دغه ځمكه

کې اخيستونکي ته د سرو زرو دفن شوی دېگ ملاو شو. هغه دغه دېگ راواخيست او د ځمکې خرڅونکي ته يې راوړو. ځمکې اخيستونکي (خپل بائع) خرڅونکي ته وويل: ما ستا نه ځمکه اخيستې وه، د سرو زرو دېگ مې درنه اخيستی نه ؤ. دا واخله "وَقَالَ الَّذِي لَهُ الأَرْضُ: إِنَّمَا بِعْتُكَ الأَرْضَ وَمَا فِيهَا، فَتَحَاكَمَا إِلَى رَجُلٍ، فَقَالَ الَّذِي تَحَاكَمَا إِلَيْهِ: أَلَكُمَا وَلَدٌ؟ قَالَ أَحَدُهُمَا: لِي غُلَامٌ، وَقَالَ الآخَرُ: لِي جَارِيَةٌ قَالَ: أَنْكِحَا الغُلَامَ الجَارِيَةَ، وَأَنْفِقَا عَلَى أَنْفُسِهِمَا مِنْهُ وَتَصَدَّقَا" خرڅونکي: ما په تا باندې ځمکه او هغه څه چې په ځمکه کې دي، ټول مې درباندې خرڅ کړي دي، زه نه غواړم چې دېگ درڅخه واخلم. دوی دواړو دريم کس ته فيصله راوړه، دريمګړي ووېل: ستاسو دواړو بچي شته؟ په هغوی کې يو کس ووېل: زما يو زوی دی، هغه بل ووېل: زما يوه لور شته، دريمګړي ووېل: ددې دواړو په خپل مينځ کې نکاح وکړئ او دا سره زر به دواړه په خپلو ځانونو باندې خرڅ کوي، هغوی دواړو ټول سره زر په ځانونو باندې مصرف کړل **متفق عليه**

تشريح: إشترى رجلٌ من رجلٍ عقاراً: يو کس د بل کس نه ځمکه واخيسته، دا واقعه د داود عليه السلام د زمانې ده، داود عليه السلام په ډېر کمال او ديانت سره داسې معتدل او انصاف والا فيصله وکړه کومه چې صرف يو نبي عليه السلام يې کولی شي، "فقال أنكحا الغلام الجارية" ددې ځوان نکاح ددې نجلۍ سره وکړه، په دې کې فيصله په سوله وشوه، دغه شان دواړه خوشحاله شول، علماء فرمايي: د دوه کسانو ترمينځ سوله کول د قاضي لپاره مستحب دي، دغه شان د غير قاضي لپاره هم مستحب دي چې هغه دې په سوله/ صلح فيصله وکړي

د سليمان عَلَيْهِ السَّلَام يوه حکيمانه فيصله

"وعنهُ رضي الله عنه: أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ: كَانَتِ امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا، جَاءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ بِابْنِ إِحْدَاهُمَا. فَقَالَتْ لِصَاحِبَتِهَا: إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ، وَقَالَتِ الأُخْرَى: إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ" د أبو هريره رضي الله عنه روايت دی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه ښځې وې چې د دواړو سره خپل بچي وو، شرمخ راغلو او د يوې ښځې بچی يې يوړو، په دې کې يوې ښځې ووېل: ستا بچی يې وخوړلو، هغې بلې ووېل: نه، ستا بچی يې وخوړلو، "فَتَحَاكَمَا إِلَى دَاوُدَ عليه السلام فَقَضَى بِهِ لِلْكُبْرَى، فَخَرَجَتَا عَلَى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ عليه السلام فَأَخْبَرَتَاهُ" دې دواړو داود عليه السلام ته فيصله راوړه، داود عليه السلام مشرې ښځې ته فيصله وکړه چې دا ستا بچی دی، دوی دواړه رابهر شول، په مخه ورته سليمان عليه السلام راغلو. هغوی ورته ټوله کيسه بيان کړه، "فَقَالَ: ائْتُونِي بِالسِّكِّينِ أَشُقُّهُ بَيْنَهُمَا، فَقَالَتِ الصُّغْرَى: لَا تَفْعَلْ رَحِمَكَ اللهُ، هُوَ ابْنُهَا، فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى" سليمان عليه السلام ووېل: ماته يوه چاړه راوړئ چې زه دغه ماشوم دوه ټوټې کړم، کشرې ښځې ووېل: نه، داسې مه کوئ، الله جل جلاله دې په تاسو رحم وکړي، سليمان عليه السلام فيصله وکړه چې دا ماشوم ددې کشرې ښځې دی **متفق عليه**

تشريح: كانت إمراتان معهما أبناهما: دوه ښځې وې چې د دواړو سره خپل بچي وو، په ظاهر کې دا معلومېږي چې د دواړو عمر يو وو، شکل او صورت يې هم يو شی وو. دا مقدمه په اول ځل داود عليه السلام ته راغله، هغه د مشرې ښځې په حق کې فيصله وکړه.

اِتَّقُوْا بِالسِّكِّيْنِ أَشُقُّهٗ بَيْنَكُمَا: ماته چاړه راوړئ چې زه دا ماشوم دوه ټوټې كړم، سليمان عليه السلام ته الله ﷻ ددې فيصلې فهم/ پوهه وركړه، دغه شان سليمان عليه السلام په خپله حيله كې كامياب شو، جائزې او شرعي حيلې په اسلام كې شته، لكه څرنګه چې سليمان عليه السلام حيله وكړه، ليكن ناجائزه او حرامه حيله چې په هغې سره د اسلام يو حكم ماتيږي، دغه حيله هم ناجائز او باطله ده.

سوال: سليمان عليه السلام د داود عليه السلام فيصله ماته كړه، حال دا چې د نبي فيصله نه شي ماتېدلی، اګر چې هغه اجتهادي ولې نه وي؟

جواب: د داود عليه السلام فيصله حتمي او حقيقي نه وه، بلكې وقتي تو ګه خالي د جګړې رفع كول وو، نو ځكه سليمان عليه السلام بله فيصله وكړه، يا ممكنه ده چې د هغوی په شريعت كې ددې ګنجائش موجود وو، هغه دا چې كومه فيصله د وحی نه علاوه د اجتهاد په طور وشي، هغه منسوخ كول جائز وو، نو ځكه سليمان عليه السلام بله فيصله وكړه.

د بدو خلكو مثال

"وعن مِرداس الأسلمي رضي الله عنه قال: قال النبيُّ ﷺ: يَذْهَبُ الصَّالِحُونَ الْأَوَّلُ فَالْأَوَّلُ" د مرداس الاسلمي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: نېک او ښه خلك به د يو بل نه وروسته ختميږي (وفات كيږي)، "وَيَبْقَى حُثَالَةٌ كَحُثَالَةِ الشَّعِيرِ أَوِ التَّمْرِ لَا يُبَالِيهِمُ اللّٰهُ بَالَةً" بيا به په آخر كې داسې بيكاره خلك پاتې شي لكه د وربشو بوس او يا يې وفرمايل: لكه د خورما بوس، د الله ﷻ په نزد به د هغوی هيڅ قدر او حيثيت نه وي. رواه البخاري

لغوي تحقيق: الحثالة: د وربشو يا د وريجو د دانو بوره.

تشريح: په دې حديث كې د قيامت يوه علامه بيان شوې ده، هغه دا چې قيامت ته نژدې به نېک خلك ټول مړه شي، هغه داسې چې يوه هوا به وچليږي چې د هغې په وجه به ناځاپه ټول نېک خلك مړه شي، وروسته به ټول ګناهګار خلك ژوندي پاتې شي، په حديث كې د داسې خلكو مثال د خورما د بورو سره وركړی شوی دی، يعنې لكه څرنګه چې د خورما په بوره څوك څه نه كوي، دغه شان ددې موجوده خلكو قدر او قيمت به هم د الله ﷻ په نزد هيڅ نه وي.

د راوي مرداس اسلمي رضي الله عنه حالات

اصل نوم مرداس رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې مالك دی، د بنو اسلم قبيلې سره يې تعلق درلود، په اصحاب شجره كې شمار دی، د كوفې اوسېدونكی وو، د دوی نه قيس بن حازم صرف دغه يو روايت نقل كړی دی.

د بدري صحابي فضيلت

"وعن رفاعة بن رافع الزُّرَقي رضي الله عنه قال: جاء جبريل إلى النبي ﷺ قال: مَا تَعُدُّونَ أَهْلَ بَدْرٍ فِيكُمْ؟ قال: مِنْ أَفْضَلِ

لَنَبِيِّين أَوْكَلِمَةً نَحْوَهَا" د رفاعة بن رافع زرقي رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې جبرئيل علیه السلام نبي کريم ﷺ ته تشريف راوړو او ورته يې وفرمايل: د بدر په موقع کې د شريك شويو خلکو مقام ستاسو په نزد څه دى؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د ټولو مسلمانانو نه غوره دي، يا يې ددې په شان څه جمله وفرمايل، "قال: وَكَذٰلِكَ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ" جبرئيل علیه السلام وفرمايل: په بدر کې د شريك شويو پرښتو هم دغه حال دى چې د نورو پرښتو نه غوره دي. رواه البخاري

تشريح: وماتعدون أهل بدر: بدري مجاهدين تاسو څنګه حسابوئ؟ د بدر جهاد د هجرت په دويم ۲ کال د رمضان په مياشت کې شوى وو، دا د مسلمانانو او کفارو اولنى جنګ وو، د مسلمانانو شمارهم لږ وو، د جنګ هم ورسره ډېر زيات کم وو، مسلمانانو خالص په الله ﷻ باندې توکل وکړو، نو ځکه د بدر مجاهدينو ته الله ﷻ ډېر زيات فضيلت ورکړو، علماء ليکي: (تعدون) د جمع صيغه ده او رسول الله ﷺ خو مخاطب مفرد دى، دلته د رسول الله ﷺ قدر او مقام ته پکې اشاره ده. دغه شان هغه پرښتې چې د بدر په جهاد کې شريکې شوي دي، هغوى ته هم په نورو پرښتو باندې فضيلت حاصل دى.

د راوي رفاعه بن رافع رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې رفاعه رضي الله عنه دى، کنيت يې ابو معاذ دى، د مور نوم يې ام مالك بنت أبي سلول دى، د عبد الله بن أبى (د منافقانو مشر وو) خور ده، د رفاعه رضي الله عنه پلار رافع رضي الله عنه د قبيله خزرج اولنى مسلمان شوى صحابي دى.

د بيعت عقبه نه دوه کاله وړاندې مسلمان شوى وو، د دوى رضي الله عنه مور هم ربښتونې ميرمن وه، خپله رفاعه رضي الله عنه په عقبه ثانيه کې د خپل پلار سره شريك ؤ، د رسول الله ﷺ په مبارکو لاسونو مسلمان شوى وو، په ټولو جهادونو کې يې شرکت کړى دى، په بخاري کې د بدر د جهاد ذکر شوى دى، ليکن په جنګ جمل او صفين کې د علي رضي الله عنه ملګرى وو.

د دوى وفات په ۴۱ يا ۴۲ هجري کې شوى دى، د امير معاويه رضي الله عنه د خلافت اولنى دور وو، د رسول الله ﷺ نه علاوه د ابوبکر رضي الله عنه او عباده رضي الله عنه څخه روايات نقل کوي، پنځلس / ۱۵ روايات ترې په بخاري کې نقل دي.

د قيامت په ورځ به نيک خلک د بدو خلکو څخه جدا وي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: إِذَا أَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى بِقَوْمٍ عَذَابًا، أَصَابَ الْعَذَابُ مَنْ كَانَ فِيهِمْ، ثُمَّ بُعِثُوا عَلَى أَعْمَالِهِمْ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ چې کله په يو قوم باندې عذاب نازلوي، نو په هغې سره نيک او بد خلك ټول متاثره شي، ليکن د قيامت په ورځ به د خپلو عملونو مطابق راپورته کولى شي. متفق عليه

تشريح: إذا أنزل الله تعالى بقوم عذابا أصاب العذاب من كان فيهم: کله چې الله ﷻ په کوم قوم باندې

عذاب نازلول غواړي، نو موجوده ټولو خلكو ته به رسوي، د حديث څخه معلومه شوه چې كله الله ﷻ په كومو فاسقو او فاجرو خلكو باندې عذاب نازلول غواړي، نو په هغې كې نېكان او بد خلك ټول راګير كړي، ليكن بيا به د قيامت په ورځ نېک خلك د بدو خلكو څخه جدا شي، لكه څرنګه چې د جابر رضي الله عنه د رواياتو څخه معلومېږي، "سمعت النبي ﷺ يقول: يبعث كل عبد على مامات عليه المومن على ايمانه والمنافق على نفاقه" د جابر رضي الله عنه څخه روايت دى فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: هر سړى به د قيامت په ورځ د هغه د نيت په اعتبار راپورته كولى شي، مؤمن به د ايمان سره، منافق به د نفاق سره راپورته كولى شي.

د اسطوانه حنانه واقعه

"وعن جابر رضي الله عنه قال: كَانَ جِذْعٌ يَقُومُ إِلَيْهِ النَّبِيُّ ﷺ -يعني فِي الْخُطْبَةِ فَلَمَّا وُضِعَ الْمِنْبَرُ سَمِعْنَا لِلْجِذْعِ مِثْلَ صَوْتِ الْعِشَارِ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې د خورما يوه تنه وه چې د خطبې په وخت به رسول الله ﷺ هغې ته تكيه لګول، كله چې نبي كريم ﷺ ته منبر جوړ شو، نو د دغې خورما له تنې څخه د اوښې د اواز په څېر ژړا شروع شوه، "حَتَّى نَزَلَ النَّبِيُّ ﷺ، فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَيْهِ فَسَكَنَ" نبي كريم ﷺ د منبر نه راښكته شو او په هغه تنه باندې يې لاس مبارك كېښودلو، نو بيا هغه په كلاره شوه.

"وفي رواية: فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ قَعَدَ النَّبِيُّ ﷺ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَصَاحَتِ النَّخْلَةُ الَّتِي كَانَ يَخْطُبُ عِنْدَهَا حَتَّى كَادَتْ أَنْ تَنْشَقَّ" په يو بل روايت كې دي چې كله د جمعې ورځ شوه او نبي كريم ﷺ په منبر باندې كېښستلو، نو د خورما تنې ژړا شروع كړه كومې سره چې به رسول الله ﷺ خطبه ويل او دومره به يې ژړل چې نژدې وه د ډېرې ژړا نه وچوي.

وفي رواية: فَصَاحَتْ صِيَاحَ الصَّبِيِّ، فَنَزَلَ النَّبِيُّ ﷺ، حَتَّى أَخَذَهَا فَضَمَّهَا إِلَيْهِ: او په يو بل روايت كې دي چې د خورما تنې د ماشوم په څېر ژړا شروع كړه، نبي كريم ﷺ د منبر نه راښكته شو او هغه تنه يې ځان سره نژدې ونيول، "فَجَعَلَتْ تَئِنُّ أَنِينَ الصَّبِيِّ الَّذِي يُسَكَّتُ حَتَّى اسْتَقَرَّتْ، قَالَ: بَكَتْ عَلَى مَا كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ" بيا هغې د ماشوم په شان په مزه مزه ژړل، آخر تردې پورې چې خاموشه شوه، نبي كريم ﷺ وفرمايل: ددې تنې د ژړا سبب دا وو چې دې به د الله ﷻ ذكر اورېدلو، نو د هغې نه محرومه شوه. رواه البخاري

تشريح: دا واقعه په ۷ يا په ۸ هجري كې شوې ده، د واقعې خلاصه دا ده: محدثينو ليكلي دي چې د رسول الله ﷺ په زمانه كې د نبوي جومات ستنې د خورما د وچې ونې څخه جوړې وې، تر څو منبر نه وو جوړ شوى ترهغې به رسول الله ﷺ يوې ستنې ته درېدلو او خطبه به يې ويل، كله چې منبر جوړ شو هغه ستنه ددې سعادت څخه محرومه شوه، نو په ژړا شوه، ددې واقعې وروسته دغې ستنې ته اسطوانه حنانه وايي، دا حديث ډېرو صحابه كرامو رضي الله عنهم نقل كړى دى، ځينو محدثينو رحمهم الله دا حديث په متواتر كې شمار كړى دى.

د حسن بصري رحمه الله نصيحت:

د حسن بصري رحمه الله باره کې نقل دي چې کله به دوی دغه حديث بيانولو، نو بې اختياره به بې وژړل او فرمايل به بې: اې خلکو! د خورما يوه وچه ونه د رسول الله ﷺ په فراق ژاړي، نو مونږ ته خو په خامخا پکار ده چې د رسول الله ﷺ په عشق او محبت کې وژاړو.

شعر: سنگے وگیاہے کہ در خاصیتے است .... زآدمی داں کہ درد معرفتی نیست.

فضول بحثونه پکار نه دي

"وعن أبي ثعلبة الخشني جرثوم بن ناشر رضي الله عنه، عن رسول الله ﷺ قال: إنَّ اللهَ تعالى فَرَضَ فَرائضَ فلا تُضَيِّعُوهَا" د أبو ثعلبه خشني رضي الله عنه نه روايت دی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ځينې شيان فرض کړي دي، تاسو هغه مه ضايع کوئ! "وَحَدَّ حُدُوداً فَلاَ تَعْتَدُوهَا، وَحَرَّمَ أَشْيَاءَ فَلاَ تَنْتَهِكُوهَا" څه حدونه بې مقرر کړي دي، د هغې نه تجاوز مه کوئ او ځينې شيان بې حرام کړي دي د هغې ارتکاب مه کوئ! "وَسَكَتَ عَنْ أَشْيَاءَ رَحْمَةً لَكُمْ غَيْرَ نِسْيَانٍ فَلاَ تَبْحَثُوا عَنْهَا" د ځينو خبرو څخه بې د بوهنې په اساس تاسو باندې د رحم په وجه سکوت کړی دی، نو د هغې په بحثونو کې مه واقع کېږئ! حديث حسن، رواه الدارقطني وغيره.

تشريح: امام سمعاني رحمه الله فرمايي: دا ډېر زيات اهم حديث دی، په دې کې د دين ډېرې ضروري او اهمې خبرې موجودې دي، څوک چې دا حديث ځانته مخې ته کړي او عمل پرې وکړي، هغه کامياب دی، په کومو کارونو کې چې شريعت چوپ پاتې شوی دی، په هغې کې بحثونه کول پکار نه دي، "فلا تبحث عنها" په دې کې بحث مه کوئ! ځينې علماء فرمايي: ددې جملې تعلق د نبوت د زمانې سره خاص دی، چې بس څنګه حکم دی، هغسې بې پوره کول ضروري وو، ځينې وايي: نه! دا حکم اوس هم باقي دی چې اوس هم څوک فقهي باريکي لټوي، هسې ځانته مشکل جوړوي.

ملخان خوړل

"وعن عبد اللّه بن أبي أوفى رضي الله عنهما، قال: غَزَوْنا مَعَ رسولِ اللّه ﷺ سَبْعَ غَزَوَاتٍ نَأْكُلُ الجَرَادَ" د عبد الله بن أبي اوفى رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې مونږ د رسول الله ﷺ سره پوره اووه جهادونه کړي دي، په دې کې به مونږ ملخان خوړل، "وفي رواية: نَأْكُلُ مَعَهُ الجَرَادَ" په يو بل روايت کې داسې هم دي چې مونږ به د رسول الله ﷺ سره ملخان خوړل. متفق عليه

لغوي تحقيق: الجراد: ملخ.

تشريح: نأكل معه الجراد: مونږ به د رسول الله ﷺ سره وو چې مونږ به ملخان خوړل، ملخ حلال دی، خکه چې صحابه کرامو رضي الله عنهم به ملخ خوړل او رسول الله ﷺ به ترې منع نه کول، خپله د رسول الله ﷺ نه ملخ خوړل ثابت نه دي، ملخان د ائمه اربعه په نزد حلال دي، که خپله مړه شي يا بې څوک ذبح کړي يا بې د ښکار په ذريعه مړه کړي، په هر حال ملخان حلال دي.

د يو مؤمن صفت

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ النبيّ ﷺ قال: لاَ يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ" د أبو هريره ﷺ روايت دى فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يوې سوړې څخه مؤمن دوه ځله نه چيچل کيږي. متفق عليه

لغوي تحقيق: يلدغ: لدغ په اصل کې د ماريا لړم ټك / چيچلو ته وايي.

تشريح: ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث شان ورود داسې بيانوي چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې يو شاعر وو، هغه به په خپلو شعرونو کې د مسلمانانو سپکوالى او هجوه کول، د بدر په غزا کې بندي شو، د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، د رسول الله ﷺ نه يې معافي وغوښتل، رسول الله ﷺ ترې عهد واخيست او بيا يې خوشې کړو، کله چې خوشي شو، هغه بيا هغه غلط حرکات شروع کړل، د احد په جهاد کې بيا بندي شو، هغه بيا د معافي غوښتنه وکړه، ليکن رسول الله ﷺ معاف نه کړو، بلکې مردار يې کړو، دې باره کې ځينو خلکو سفارشونه هم کړي وو، په دې موقع رسول الله ﷺ دغه حديث وفرمايلو چې مسلمان سړى د يو سوري څخه دوه ځله نه چيچل کيږي، که مسلمانان دغه حديث خانته مخې ته کېږدي او عمل پرې وکړي، نو د همېش لپاره به مسلمانان د دين اسلام د دښمنانو د شر او فساد څخه محفوظ پاتې شي.

درې قسمه خلك

"وعنه قال: قال رسول الله ﷺ: ثَلاَثَةٌ لاَ يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلاَ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ، وَلاَ يُزَكِّيهِمْ، وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ: رَجُلٌ عَلَى فَضْلِ مَاءٍ بِالْفَلاَةِ يَمْنَعُهُ مِنِ ابْنِ السَّبِيلِ" د أبو هريره ﷺ روايت دى فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: درې کسان داسې دي چې الله ﷻ به نه خبرې ورسره وکړي او نه به ورته د رحمت په نظر وګوري او نه به يې پاك کړي، د دوى لپاره لوى او دردناك عذاب شته، يو هغه سړى چې په دشته کې د مسافرو څخه زياتي اوبه منع کوي، "وَرَجُلٌ بَايَعَ رَجُلاً سِلْعَةً بَعْدَ الْعَصْرِ فَحَلَفَ بِاللهِ لَأَخَذَهَا بِكَذَا وَكَذَا فَصَدَّقَهُ وَهُوَ عَلَى غَيْرِ ذٰلِكَ" بل هغه کس چې د مازيګر نه وروسته په الله ﷻ قسم وخوري، ددغه قسم په حوالې سره سودا خرڅه کړي چې ما دا فلانکې شى د فلانکي نه په دومره اخيستى وو او اخيستونکى د هغه خبره رښتيا وګڼي، هغه شى واخلي، ليکن دا خبره حقيقت ونه لري، "وَرَجُلٌ بَايَعَ إِمَامًا لاَ يُبَايِعُهُ إِلاَّ لِلدُّنْيَا فَإِنْ أَعْطَاهُ مِنْهَا وَفَى وَإِنْ لَمْ يُعْطِهِ مِنْهَا لَمْ يَفِ" بل هغه سړى دى چې د وخت امام (خليفه) سره په دې شرط بيعت وکړي چې که پيسې ورته ملاويږي، نو په وعده به وفاء کوي او که پيسې نه وي بيا وفاء نشته. متفق عليه

تشريح: ثلاثة لايكلمهم الله يوم القيامة: درې قسمه خلك دي چې الله ﷻ به د هغوى سره د قيامت په ورځ خبرې نه کوي، محدثين ددې جملې په وضاحت کې فرمايي: د خبرې نه کولو مطلب دا دى چې د هغوى سره به د صالحينو په شان خبرې نه کوي، لکه څرنګه چې الله ﷻ د صالحينو سره خبرې کوي، يا دا چې دا جمله د اعراض څخه کنايه ده، يا دا چې الله ﷻ به د دوى سره داسې خبرې نه کوي چې هغوى پرې خوشحال شي، پرښتې به هغوى ته د سلام لپاره نه راځي، لکه څرنګه

چې مسلمانانو ته راځي او په هغوی باندې په سلام اچوي.

رجل على فضل ماء بالفلاة: هغه کس چې په ځنګل يا دشته کې د ضرورت نه زياتي اوبو مجازي مالك وي او بيا يې مسافرو ته نه ورکوي، زياتې اوبه خو خلك څاروو ته هم ورکوي، پاتې خو دا چې د انسان څخه يې وګرځوي، دا څومره لويه ګناه ده چې د ضرورت نه زياتي اوبه درسره وي او هلته بل څوك هم نه وي او کوم نهر وغيره وي او ته يو مسلمان د اوبو اخيستلو څخه منع کړې.

ورجل بايع رجلاً سلعة بعد العصر: د مازيګر نه وروسته سودا وکړي او بيا پرې قسم وخوري، د دروغو قسم خوړل هسې هم حرام دي بيا چې د مازيګر په وخت کې داسې قسم وشي، نو دا زياته ګناه لري، ځکه چې دغه وخت د پرښتو د اجتماع وخت وي، سهار او ماښام پرښتې جمع کيږي، دا وخت ډېر نازك وي، په دې وخت کې د دروغو قسم کول ډېره زياته ګناه لري.

ورجل بايع إماماً: د وخت امام سره بيعت وکړي او بيا د کوم دنيوي لالچ په وجه هغه بيعت مات کړي، په دې کې د الله ﷻ د نوم مبارك بې حرمتي ده او د وخت د امام سره دوکه ده، دوکه د مسلمان صفت نه دی، په دې کارونو سره وطن کې شر او فساد پيدا کيږي.

د دوه شپېليو ترمينځ فاصله

"وعنه عن النبي ﷺ قال: بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ قالوا: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَرْبَعُونَ يَوْماً؟ قَالَ: أَبَيْتُ. قَالُوا: أَرْبَعُونَ سَنَةً؟ قَالَ: أَبَيْتُ. قَالُوا: أَرْبَعُونَ شَهْراً؟ قَالَ: أَبَيْتُ" د ابو هريره ﷺ روايت دی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوه شپېليو په منځ کې به څلوېښت وي، خلکو پوښتنه وکړه چې ابوهريره! څلوېښت ورځې مراد دي؟ هغه ووېل: په يقين سره نه شم ويلی، هغوی بيا ووېل: څلوېښت کاله مراد دي؟ هغه ورته ووېل: په يقين سره نه شم ويلی، هغوی بيا ووېل: څلوېښت مياشتې؟ هغه ورته ووېل: په يقين سره نه شم ويلی، "وَيَبْلَى كُلُّ شَيْءٍ مِنَ الْإِنْسَانِ إِلَّا عَجْبَ الذَّنَبِ، فِيهِ يُرَكَّبُ الْخَلْقُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د انسان د جسم هر شی به فناء کيږي، مګر د ملا د تير آخريني حصه چې د دغې حصې څخه به دوباره تخليق کيږي، دغه حصه به نه فناء کيږي، "ثُمَّ يُنْزِلُ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيَنْبُتُونَ كَمَا يَنْبُتُ الْبَقْلُ" بيا به الله ﷻ باران وکړي، نو دا خلك به د ځمکې نه داسې راپورته کيږي لکه څنګه چې وابښه راپورته کيږي. متفق عليه

تشريح: په حديث کې ذکر شول چې اسرافيل عليه السلام به په شپېلۍ کې پوك ووهي، ټول خلك به مړه شي، دا به اولنی شپېلۍ وي بيا به دويم ځل په شپېلۍ کې پوك ووهل شي، الله ﷻ به ټول خلك راژوندي کړي، د دې دوه شپېليو ترمنځ به څومره فاصله وي؟ ابو هريره ﷺ په حديث کې د بې خبرۍ اظهار کړی دی، ليکن د نورو رواياتو څخه معلوميږي چې پوره څلوېښت کاله فاصله به وي.

عجب الذنب: د انبياء عليهم السلام نه علاوه نور ټول خلك به رژيږي، صرف عجب الذنب به باقي پاتې شي، ذنب هغه ځای ته وايي د کوم ځای څخه چې د څاروي لکۍ شروع کيږي، په پښتو کې ورته (د ملا د تير اخري برخه) چې انسان ورباندې کيني، الله ﷻ به يو ځل بيا انسان د دې ځای نه مرکب کړي

او ژوندی به يې کړي، الله ﷻ به انبياء (عليهم السلام)، شهيدان او اولياء د خاورې کېدو څخه محفوظ کړي.

کله چې نااهلوته امانت وسپارل شي، بيا د قيامت انتظار کوئ!

"وعنه، قال: بَيْنَمَا النَّبِيُّ ﷺ فِي مَجْلِسٍ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ، جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ: مَتَى السَّاعَةُ؟ فَمَضَى رَسُولُ اللهِ ﷺ يُحَدِّثُ، فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: سَمِعَ مَا قَالَ فَكَرِهَ مَا قَالَ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: بَلْ لَمْ يَسْمَعْ، حَتَّى إِذَا قَضَى حَدِيثَهُ قَالَ: أَيْنَ السَّائِلُ عَنِ السَّاعَةِ؟" د أبو هريره ؓ روايت دی فرمايي چې يوه ورځ موږ د رسول الله ﷺ سره په مجلس کې ناست وو چې په دې کې يو اعرابي (کوچې، راغلو، پوښتنه يې وکړه: يا رسول الله ﷺ قيامت به کله وي؟ نبي کريم ﷺ خپل بيان جاري وساتلو، په دې کې ځينو خلکو وويل: نبي کريم ﷺ خو خبره واورېده، ليکن ښه يې ونه ګڼل، ځينو وويل: نه، خبره يې وانه وريده، کله چې نبي کريم ﷺ خپل بيان ختم کړو، نو پوښتنه يې وکړه: سوال کوونکی چېرته دی؟ "قَالَ: هَا أَنَا يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: إِذَا ضُيِّعَتِ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ قَالَ: كَيْفَ إِضَاعَتُهَا؟ قَالَ: إِذَا وُسِّدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ" هغه کس وويل: دلته يم، اې د الله تعالى رسوله! نبي کريم ﷺ وفرمايل: کله چې امانتونه ضايع کول شروع شي، نو د قيامت انتظار کوه، هغه کس وويل: يا رسول الله ﷺ امانت به څنګه ضايع کولی شي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: کله چې مشري نااهله خلکو ته په لاس ورشي، نو بيا د قيامت انتظار کوه! رواه البخاري

تشريح: **إذا ضيعت الأمانة**: کله چې امانت ضايع شي، د امانت څخه مراد د شريعت احکامات او د دين ذمه واري ده، يا د خلکو حقونه مراد دي، دې باره کې نور ډېر اقوال شته، محدثين فرمايي (**الى غير أهله**) باره کې حکم عام دی: هره معامله چې غير اهل ته حواله شي او هغه د خلکو حقونه ضايع کړي، په دې حکم کې داخل دي، ځينې وايي: په حديث کې د (الامر) نه مراد حکومت دی چې د قيامت سره نږدې به حکومتي ذمه واري نا اهلو ته وسپارل شي کوم چې د حکومت چلولو په طريقه نه پوهيږي، لکه: ښځې، جاهلان خلک، فاسقان او بدکاره خلک (يا لکه نن سبا چې په ځينو هېوادونو کې هيجړاګان هم په انتخاباتو کې نوماند وي، غواړي چې په خلکو باندې حکومت وکړي) دوی ټول نااهله او بې کاره خلک دي او د قيامت لويه علامه ده فإلى الله المشتكى.

د حاکم اطاعت واجب دی

وعنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: يُصَلُّونَ لَكُمْ، فَإِنْ أَصَابُوا فَلَكُمْ، وَإِنْ أَخْطَئُوا فَلَكُمْ وَعَلَيْهِمْ" د أبو هريره ؓ روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو امراء حاکمان تاسو ته لمونځونه درکوي، نو که چېرته هغه صحيح وي، د هغې اجر او ثواب به تاسو ته هم ملاويږي او هغوی ته هم او که چېرته په لمونځ کې څه غلطي يا نقصان کوي، نو تاسو ته خو به ثواب ملاويږي، ليکن هغوی به ګناهګار وي. رواه البخاري

تشريح: په حديث کې مسلمانانو ته يوه ستره ذمه واري بيان شوې ده، هغه دا چې که په

لمانځه کې حاکم غلطي کوي، يعنې په وخت لمونځ نه کوي، يا يې د سنت مطابق نه کوي، نو تاسو د هغوی سره اختلاف مه کوئ! بلکې د هغوی سره جوړ شئ او په داسې حالت کې هم په هغوی پسې لمونځ کوئ په تاسو به د هغه د غلطی وبال نه وي، ځکه چې په هر فاسق او فاجر پسې لمونځ کېږي، که هغوی صحيح لمونځ اداکوي، نو بيا خو بيخي د هغوی پسې لمونځ ضروري دی.

دا غوره امت دی

"وعنه ﷺ: كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ" [البقرة: ۱۱۰] قال: خَيْرَ النَّاسِ لِلنَّاسِ يَأْتُونَ بِهِمْ فِي السَّلَاسِلِ فِي أَعْنَاقِهِمْ حَتَّى يَدْخُلُوا فِي الْإِسْلَامِ" د أبو هريره ﷺ روايت دی، د قرآن کريم دا آيت يې تلاوت کړو، ترجمه: تاسو بهترين امت يئ چې خلکو ته د تبليغ لپاره ويستل شوي يئ، بيا يې وفرمايل: په خلکو کې بهترين خلك هغه دي چې د خلکو په څټونو کې زنځيرونه واچوي او د اسلام په قلعه کې يې داخل کړي

ځينې خلك به په زنځيرونو کې جنت ته داخليږي

وعنه، عن النبيّ ﷺ قال: عَجِبَ اللَّهُ ﷻ مِنْ قَوْمٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ فِي السَّلَاسِلِ: د أبو هريره ﷺ روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ د هغه سړي نه زيات خوشحاليږي چې په زنځيرونو کې جنت ته داخل شي. رواه البخاري

معناه: يُؤْسَرُونَ وَيُقَيَّدُونَ ثُمَّ يُسْلِمُونَ فَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ: ددې مطلب دا دی چې دوی بنديان شي بيا اسلام راوړي او جنت ته داخل شي.

تشريح: كنتم خير امة: تاسو غوره امت يئ، ابن حجر ﷫ فرمايي: ددې نه ټول امت مراد دی، ځينې ترې صحابه کرام مخاطب کوي، مطلب دا چې د نورو امتونو په مقابله کې دا امت غوره دی

يأتون بهم في السلاسل في أعناقهم: د دوی په څټونو کې به زنځيرونه واچول شي او هغوی به په اسلام کې داخل کړل شي، مطلب دا چې د رسول الله ﷺ د امت د غوره والي يوه علامه دا هم ده چې هغوی د جنګ په ميدان کې کفار ونيسي، بيا هغوی مسلمانان کړي او د ابدي سعادت مستحق يې وګرځوي، ددې نه دا هم معلومه شوه چې جنګي قيديانو ته د دين اسلام دعوت ورکول ضروري دي، که مسلمانان شول، نو دغه زنځيرونه به د دوی لپاره د غاړې امېل جوړ شي

تر ټولو غوره ځايونه

"وعنه، عن النبيّ ﷺ قال: أَحَبُّ الْبِلَادِ إِلَى اللَّهِ مَسَاجِدُهَا، وَأَبْغَضُ الْبِلَادِ إِلَى اللَّهِ أَسْوَاقُهَا" د أبو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې الله ﷻ ته خوښ ځايونه جوماتونه دي او الله ﷻ ته ناخوښ ځايونه بازارونه دي. رواه مسلم

تشريح: أحب البلاد إلى الله مساجدها: الله ﷻ ته په دنيا کې تر ټولو خوښ ځايونه جوماتونه دي، مطلب دا چې څوك جومات ته راشي په هغه باندې الله ﷻ د خپل رحمت سوری کوي، هغه ته خير او

هدايت نصيب کوي، په يو روايت کې دي چې "المساجد بيوت الله في الأرض تضيء لأهل السماء كما تضئ نجوم السماء لأهل الأرض" جوماتونه د خداى کورونه دي، اسمان والا ته داسې ځليږي لکه څرنګه چې ستوري ځمکې والا ته ځليږي، ددې برعکس بازارونه هغه ځايونه دي چېرته چې شيطان خپلې اډې جوړوي، معلومه شوه چې بې ضرورته بازار ته ورتلل ښه نه دي، البته د ضرورت پرمهال بازار ته تللى شي

سوال: په دنيا کې نور هم ډېر بد ځايونه شته، لکه شراب خانه، بت خانه وغيره .... هغه يې ولې ذکر نه کړل؟

جواب: شريعت چې د کومو ځايونو د جوړولو اجازت ورکړى دى، لکه بازار شو، داسې ځايونه الله ﷻ ته ناخوښ دي، د بت خانو او شراب خانو جوړول په شريعت کې حرام دي

بازارونه د شيطان اډې دي

"وعن سلمان الفارسي ﷺ من قوله قال: لاتكونن إن استطعت أول من يدخل السوق، ولا آخر من يخرج منها" د سلمان فارسي ﷺ نه دا قول نقل دى چې هغه به فرمايل: داسې مه جوړېږه چې اول بازار ته داخلېدونکى شې او مه داسې کوه چې تر ټولو اخر وتونکى شې، دا خبره به ستاسو په حق کې غوره وي، "فإنها معركة الشيطان، وبها ينصب رايته" ځکه چې بازار د شيطان د جنګ ځاى دى او هم دلته دده جنډه درولى شي. رواه مسلم هكذا

"ورواه البرقاني في صحيحه عن سلمان، قال: قال رسول الله ﷺ: لاتكن أول من يدخل السوق، ولا آخر من يخرج منها. فيها باض الشيطان وفرخ" برقاني په خپل صحيح کې د سلمان فارسي ﷺ نه روايت کړى دى فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ته مه کېږه د هغه چانه چې د ټولو نه اول بازار ته داخليږي او نه د هغه چا په شان چې د ټولو په آخر کې د بازار نه وځي، ځکه چې هلته شيطان هګۍ او بچي اچوي

تشريح: د حديث څخه معلومه شوه چې هسې فضول بازار ته تلل خطر لري، هلته ټول شيطاني حرکات وي، د حرص، طمع، خيانت، بدنيتى، دروغ او د الله ﷻ د ياد څخه د محرومۍ سبب دى، په بازار کې خوشې ګرځېدل د شريعت په نظر کې ښه نه دي، که څه ضروري کار وي، سمدستي يې پوره کړه او بېرته واپس کور ته څه، د سهار نه تر ماښامه پورې په بازار کې ګرځېدل ښه نه دي

د بخښنې دعاء

"وعن عاصم الأحول، عن عبد الله بن سرجس ﷺ قال: قلت لرسول الله ﷺ: يارسول الله، غفر الله لك، قال: ولك" د عاصم احول ﷺ نه روايت دى هغه د عبد الله بن سرجس ﷺ نه روايت کوي، فرمايي چې يوه ورځ ما رسول الله ﷺ ته وويل: الله ﷻ دې تاسو ته بخښنه وکړي، نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله تعالى دې تاسو ته هم بخښنه وکړي، "قال عاصم: فقلت له: أستغفر لك رسول الله ﷺ؟ قال: نعم ولك، ثم تلا هذه الآية: واستغفر لذنبك وللمؤمنين والمؤمنات" عاصم رحمه الله فرمايي: ما ترې پوښتنه وکړه چې آيا رسول الله ﷺ هم تاسو ته د مغفرت دعاء وغوښتل؟ هغه راته وويل: هو؛ نه صرف زما لپاره بلکې ستاسو ټولو لپاره يې هم دعاء

وغوښتل، بيا يې دا آيت تلاوت کړو چې ترجمه يې دا ده: اې رسول الله ﷺ! د خپل ځان او مؤمنانو سړو او ښځو لپاره د ګناهونو معافي وغواړه! [محمد:۱۹]. رواه مسلم.

تشريح: د حديث څخه معلومه شوه چې د رسول الله ﷺ مغفرت شوی دی، "ليغفر لك الله ما تقدم من ذنبك وما تأخر الخ" الله ﷻ ستاسو د وړاندې او وروسته ټولو خطاګانو بخښنه کړې ده.

د رسول الله ﷺ عظمت او فضيلت په نظر کې نيولو سره رسول الله ﷺ ته د بخښنې دعاء جائز ده، دا هم په حقيقت کې د الله ﷻ له لورې په خپل پېغمبر باندې د عظمت اظهار دی، کنه نو په حقيقت کې رسول الله ﷺ معصوم دی، د هغه په ذمه هيڅ ګناه نشته، "واستغفر لذنبك وللمؤمنين والمؤمنات" تاسو د خپلې (خطاء) او مسلمانانو سړيو او ښځو لپاره د ګناهونو بخښنه وغواړئ، په دې حديث کې مکارم اخلاق ته اشاره ده او بل دا چې د نېکۍ بدله نيکي ده.

د راوي عاصم احول رحمه الله عليه حالات:

اصل نوم يې عاصم دی، د پلار نوم يې سليمان دی، کنيت يې ابو عبد الرحمن دی، د بصرې اوسېدونکی وو، په ثقه راويانو کې شمار دی، تابعي دی، په ۱۴۰ هجري کې وفات شوی دی، په صحاح سته کې يې مرويات شته.

بې حياء انسان

"وعن أبي مسعود الأنصاري رضي الله عنه قال: قال النبي ﷺ: إن مما أدرك الناس من كلام النبوة الأولى: إذا لم تستحي فاصنع ما شئت" د أبو مسعود انصاري رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د سابقه انبياوو د خبرو نه چې کومه خبره خلکو ته رارسېدلې ده، هغه دا دی چې کله بې حياء شې، نو بيا دې چې زړه څه وغواړي کوه يې! رواه البخاري

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې د حياء په ښه والي باندې د ټولو پېغمبرانو اتفاق دی، حياء داسې شی دی چې عقل يې هم ښه مني، ټولو پېغمبرانو ته د حياء حکم شوی دی، دا حکم هيڅکله منسوخ شوی نه دی، ځينې علماء فرمايي: "فاصنع ما شئت" څه چې دې زړه غواړي هغه کوه، دا جمله انشائيه ده، ليکن په حکم د خبر کې ده، مطلب يې دا دی چې حياء نه وي، نو په خپله مرضۍ به چليږي، په دې وجه دلته امر د استحباب لپاره دی، کله چې په يو انسان کې بې حيايي راشي نو څه چې د هغه زړه غواړي، هغه يې کوي، لکه يو شاعر ويلي دي:

إذا لم تخش عاقبة الليالي ...... ولم تستحي فاصنع ما تشاء
فلا والله ما في العيش خير ...... ولا الدنيا إذا ذهب الحياء
يعيش المرء ما استحيا بخير ...... ويبقى العود ما بقي اللحاء

ژباړه: که ته د شپې د انجام څخه نه وېرېږې او په تا کې شرم نه وي، نو بيا چې دې څه زړه غواړي کوه يې، په خدای قسم! په هغه ژوند کې هيڅ خير نشته او په دنيا کې خير شته کله چې حياء نه ...

وي، کله چې په انسان کې خير وي، په دنيا کې به په خير سره ژوند تېر کړي او حقيقت دا دی چې د ځانګې ژوند تر هغه پورې وي ترڅو چې په هغې پورې پوستکی وي.

د قيامت په ورځ به اول ناحق قتل فيصله کيږي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي الدِّمَاءِ" د ابن مسعود رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به د ټولو نه اول حساب د وينو کيږي. متفق عليه

تشريح: په حديث کې ذکر شول چې اول به د قيامت په ورځ د ناحق قتل باره کې فيصله کيږي، ليکن دلته يو سوال دی، هغه دا چې په يو بل روايت کې دي چې د قيامت په ورځ به تر ټولو اول د لمانځه حساب اخيستل کيږي؟ جواب دا دی چې حقونه په دوه ډوله دي: حقوق الله او بل حقوق العباد دي، په حقوق الله کې به اولنی حساب د لمانځه اخيستل کيږي او په حقوق العباد کې به اول حساب د ناحق قتل اخيستل کيږي، په دې حديث کې د ناحق قتل باره کې وعيد دی چې څوک ناحق قتل وکړي د هغه نه به اول ددې حساب اخيستلی شي، په قرآن کريم کې دي: "ومن يقتل مؤمنا متعمدا فجزآءه جهنم خالدا فيها وغضب الله عليه ولعنه وأعد له عذابا عظيما" ژباړه: څوک چې يو بې ګناه انسان مړ کړي، د هغه بدله جهنم دی، د همېش لپاره به پکې وي او الله ﷻ پرې غضب ويلی دی او لعنت يې پرې کړی دی او د هغه لپاره يې لوی عذاب تيار کړی دی.

د مخلوقاتو پيدايش

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: قال رسول الله ﷺ: خُلِقَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُورٍ، وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ، وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ" د عائشې رضي الله عنها روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پرښتې د نور څخه پيدا دي، پيريان د لمبې وهونکي اور نه پيدا دي او آدم عليه السلام چې د کوم شي نه پيدا شوی دی هغه خو تاسو ته بيان شوی دی. رواه مسلم

لغوي تحقيق: المارج: شغله وهونکی لمبه، نور رڼا ته ويل کيږي.

تشريح: مطلب دا چې پرښتې يې د نور څخه پيدا کړي دي او پرښتې يو نوراني مخلوق دی، د هغوی جسمونه داسې لطيف دي چې هر رنګ شکل او صورت اختيارولی شي، "وخلق الجان من مارج" او پېرې يې د اور څخه پيدا کړو، د جان معنی ده جن يا جنات يعنې د پيريانو په نسل کې د اور ماده ده، د پيريانو تعريف دا دی چې: (جسم ناريٌ يتشكل بأشكال مختلفة) يعنې دا يو داسې جسم دی چې د اور څخه پيدا شوی دی او مختلف صورتونه جوړولی شي، "وخلق آدم مما وصف لكم" او آدم عليه السلام يې د هغه څه نه پيدا کړی دی چې د هغې تعريف يې تاسو ته کړی دی، يعنې د خاورې څخه يې پيدا کړی دی. د انسانانو اصل يعنې د آدم عليه السلام پيدايش د خاورو څخه شوی دی

د رسول الله ﷺ اخلاق

"وعنها رضي اللّٰه عنها، قالت: كان خُلُقُ نبيّ اللّٰه ﷺ القرآن" د عايشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې د نبي كريم ﷺ اخلاق ټول قرآن كريم وو. رواه مسلم في جملة حديث طويل.

تشريح: ددې حديث مضمون په ګڼ شمېر احاديثو كې بيان شوی دی، په يو بل روايت كې دي چې يزيد د عايشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وكړه چې د رسول الله ﷺ اخلاق څنګه وو؟ هغوی ورته وويل: د رسول الله ﷺ اخلاق قرآن كريم وو، عايشې رضي الله عنها بيا وفرمايل: آيا تا په قرآن شريف كې سورت المؤمنون نه دی ويلی؟ هغه وويل: ويلی مې دی، هغوی ورته وويل: وې وايه! يزيد رحمه الله فرمايي: ما شروع ورباندې وكړه: "قد أفلح المؤمنون الخ" تر (الحافظون) پورې مې وويلو، هغوی راته وفرمايل: بس همدغه د رسول الله ﷺ اخلاق وو.

په يو بل روايت كې دي چې د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، فرمايي چې ما په دنيا كې د رسول الله ﷺ نه زيات ښكلي اخلاقي كس بل نه دی ليدلی، الله ﷻ د دوی تعريف خپله كوي: "إنك لعلى خلق عظيم".

د الله ﷻ د ملاقات شوق

"وعنها، قالت: قال رسولُ اللّٰهِ ﷺ: مَنْ أحبّ لِقاءَ اللّٰهِ أحبّ اللّٰهُ لِقاءهُ، ومَنْ كَرِهَ لِقاءَ اللّٰهِ كَرِهَ اللّٰهُ لِقاءهُ" د عائشې رضي الله عنها روايت دی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې د الله ﷻ سره ملاقات خوښوي، الله ﷻ يې هم ورسره خوښوي او كوم كس چې د الله ﷻ سره د ملاقات نه كركه كوي، الله ﷻ هم د داسې سړي ملاقات نه خوښوي، "فقلتُ: يا رسولَ اللهِ، أكراهيةُ الموتِ، فكلّنا نكرهُ الموتَ؟" عائشه رضي الله عنها فرمايي: ما وويل: يا رسول الله ﷺ: كه د مرګ خبره شي او ددې نه مراد مرګ شي، نو هر كس د مرګ نه كركه كوي او نه يې خوښوي؟ "قال: ليس كذلكِ، ولكنّ المؤمنَ إذا بُشِّرَ برحمةِ اللّٰهِ ورضوانهِ وجنّتهِ أحبّ لِقاءَ اللّٰهِ فأحبّ اللّٰهُ لِقاءهُ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: نه! دا خبره مراد نه ده، بلكې مطلب دا دی چې كله مسلمان ته د الله ﷻ د رحمت او د هغه د رضامندی او جنت زېری ملاو شي، نو د الله ﷻ ملاقات هغه ته ډېر محبوب شي او الله ﷻ هم د هغه ملاقات خوښوي، "وانّ الكافرَ إذا بُشِّرَ بعذابِ اللّٰهِ وسخطهِ كَرِهَ لِقاءَ اللّٰهِ وكَرِهَ اللّٰهُ لِقاءهُ" او كافر ته چې كله د الله ﷻ د عذاب، د هغه د ناراضګۍ خبر وركول شي، نو هغه د الله ﷻ د ملاقات څخه تښتي او نه يې خوښوي، نو دغه وخت الله ﷻ هم د هغه ملاقات نه خوښوي. رواه مسلم

تشريح: ولكن المؤمن إذا بشر برحمة اللّٰه ورضوانه: مسلمان ته چې د الله ﷻ رحمت او رضامندی زېری وركول شي، د حديث څخه معلومه شوه چې مسلمان ته د نزع په حالت كې د جنت زېری وركول كېږي، لكه په قرآن كريم كې چې دي: "نحن أولياءكم في الحيوة الدنيا وفي الآخرة ولكم فيها ما تشتهي أنفسكم ولكم فيها ما تدعون" د مسلمان نه ډېر په اسانی او تېزی سره روح ويستل كېږي او د كافر (فاسق) سړي روح په ډېره سختی او

تکليف سره ويستل کيږي، بل د حديث څخه دا هم معلومه شوه چې مؤمن سړي ته د نزع په حالت کې د جنت زيرې ورکولی شي او کافر ته د نزع په حالت کې جهنم ښودل کيږي.

شيطان د انسان په رګونو کې چليږي

"وَعَنْ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ رضي الله عنها، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ مُعْتَكِفًا، فَأَتَيْتُهُ أَزُورُهُ لَيْلًا، فَحَدَّثْتُهُ ثُمَّ قُمْتُ لِأَنْقَلِبَ فَقَامَ مَعِي لِيَقْلِبَنِي" د ام المومنين صفيه بنت حيي ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يو ځل نبي کريم ﷺ معتکف وو، يوه شپه زه د هغه ملاقات ته ورغلم، د هغه سره مې څه خبرې وکړې، بيا چې کله زه تللو ته اماده شوم، نو نبي کريم ﷺ هم زما سره لږ لرې رسولو لپاره پورته شو، "فَمَرَّ رَجُلَانِ مِنَ الْأَنْصَارِ رضي الله عنهما، فَلَمَّا رَأَيَا النَّبِيَّ ﷺ أَسْرَعَا. فَقَالَ ﷺ: عَلَى رِسْلِكُمَا، إِنَّهَا صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ فَقَالَا: سُبْحَانَ اللهِ يَا رَسُولَ اللهِ، فَقَالَ: إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنَ ابْنِ آدَمَ مَجْرَى الدَّمِ وَإِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا شَرًّا - أَوْ قَالَ: شَيْئًا" لاره کې دوه انصاري کسان مخامخ شول، هغوی چې رسول الله ﷺ وليدلو، نو تېز روان شول چې د هغوی نه مخکې شي، نبي کريم ﷺ هغوی ته وفرمايل: لږ په مزه ځئ، دا خو زما مېرمن صفيه ﷺ ده، هغوی عرض وکړو: سبحان الله ﷺ! يا رسول الله ﷺ! دا تاسو څه فرمايئ؟ موږ څنګه غلطه خبره سوچ کولی شو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: شيطان د انسان دننه د وينې په شان چلند کوي، زما سره وېره وه چې چېرته ستاسو په زړونو کې خراب سوچ پيدا نه کړي يا هغوی وفرمايل: څه شی وانچوي. متفق عليه

تشريح: فمر رجلان من الانصار: دوه انصاري صحابه کرام په لاره تېرېدل، د ټول امت په دې اتفاق دی چې د رسول الله ﷺ په شان کې معمولي بد ګوماني هم د ايمان خطر دی، نو ځکه رسول الله ﷺ احتياطاً دغو دوه صحابه کرامو ته وفرمايل: دا زما مېرمن ده، علماوو ددې حديث څخه دا مسئله راويستلې ده چې خواصو يعنې علماوو ته پکار ده چې د تهمت له ځای څخه ځان وساتي، ددې لپاره چې خلک ورباندې بد ګوماني ونه کړي، "سبحان الله يا رسول الله ﷺ!" دلته (سبحان الله) ويل د تعظيم او تعجب په توګه وويل شو، په قرآن کريم او احاديثو کې په دې معنی ډېر ځايونه استعمال شوی دی.

شيطان څنګه په رګونو کې چليږي؟

ان الشيطان يجري من ابن آدم مجرى الدم: شيطان د انسان په رګونو کې چليږي، د (مجرى) صيغه مصدر ميمي هم استعماليږي او ظرف مکان هم دی، که مصدر ميمي شي، نو معنی به يې دا شي چې شيطان د انسان په وينه کې دننه روان وي، که ظرف مکان شي، نو معنی به يې دا شي چې په انسان کې چېرته وينه چليږي، هلته شيطان هم منډې وي، علامه طيبي رحمه الله فرمايي: ددې مطلب دا دی چې لکه څرنګه وينه د انسان په رګونو کې ګرځي، دغه شان شيطان هم د انسان په رګونو کې ګرځي او د هغه ګمراه کولو کوشش کوي.

د حنين په غزا کې د رسول الله ﷺ غيرت

"وَعَنْ أَبِي الْفَضْلِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ ﷺ قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَوْمَ حُنَيْنٍ، فَلَزِمْتُ أَنَا وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ

الحارث بن عبد المطلب رسول الله ﷺ، فلم نفارقه، ورسول الله ﷺ على بغلة له بيضاء، فلما التقى المسلمون والمشركون ولى المسلمون مدبرين، فطفق رسول الله ﷺ يركض بغلته قبل الكفار، وأنا آخذ بلجام بغلة رسول الله ﷺ أكفها إرادة أن لا تسرع" د ابوالفضل عباس بن عبد المطلب ؓ نه روايت دی، فرمايي: زه د رسول الله ﷺ سره د حنين په جهاد کې شريك وم، زه او ابوسفيان بن حارث بن عبد المطلب به رسول الله ﷺ سره يو ځای وو، هيڅکله به ترې نه جدا کېدو، رسول الله ﷺ په يوه سپينه قچره باندې سپور وو، د مشرکانو سره د مقابلې په وخت مسلمانان واپس شول، خو رسول الله ﷺ خپلې قچرې ته پونده ورکول، د کافرانو طرف ته يې مخکې کول، د قچرې واګې زما په لاس کې وو، ما به د منع کولو کوشش کولو چې تېزه منډه ونه وهي، "وأبو سفيان آخذ بركاب رسول الله ﷺ فقال رسول الله ﷺ: أي عباس، ناد أصحاب السمرة. قال العباس -وكان رجلا صيتا- فقلت بأعلى صوتي: أين أصحاب السمرة، فوالله لكأن عطفتهم حين سمعوا صوتي عطفة البقر على أولادها، فقالوا: يا لبيك يا لبيك، فاقتتلوا هم والكفار، والدعوة في الأنصار يقولون: يا معشر الأنصار، يا معشر الأنصار، ثم قصرت الدعوة على بني الحارث بن الخزرج، فنظر رسول الله ﷺ وهو على بغلته كالمتطاول عليها إلى قتالهم، فقال: هذا حين حمي الوطيس" ابو سفيان ؓ د نبي کريم ﷺ د قچرې رکاب کلك نيولی وو، رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عباس ؓ! اصحاب سمرة ته اواز وکړه! عباس ؓ فرمايي: زما آواز ډېر اوچت ؤ، ما ښه په زوره آواز وکړو او ومې ويل: اصحاب سمرة چېرته دي؟ (هغوی دې دلته راشي)، په الله ﷻ قسم چې زما آواز اورېدلو سره هغه خلك داسې واپس راوګرځېدل لکه څرنګه چې غوا د خپلو بچو په اواز هغوی ته منډې وهي او د هغوی په ژبو لبيك لبيك يعنې موږ راځو - موږ راځو اوازونه وو او د راتللو سره يې په کافرانو باندې حمله وکړه، هغه وخت په ميدان کې د (اې انصارو! اې انصارو) اوازونه کېدل، بيا دغه اوازونه په بنو حارث بن خزرج باندې محدود شول، نبي کريم ﷺ د خپلې قچرې دپاسه د جنګ ميدان وکتلو او د جنګ جوش يې وليدلو، وې فرمايل: شاباش! د همت ښکاره کولو وخت همدا دی، د جنګ تنور ښه ګرم شوی دی، "ثم أخذ رسول الله ﷺ حصيات فرمى بهن وجوه الكفار، ثم قال: انهزموا ورب محمد، فذهبت أنظر فإذا القتال على هيئته فيما أرى، فوالله ما هو إلا أن رماهم بحصياته، فما زلت أرى حدهم كليلا وأمرهم مدبرا" بيا نبي کريم ﷺ د ځمکې څخه څو کاڼي / شګې راپورته کړل او هغه يې د کافرانو طرف ته وغورځول او وې فرمايل: د محمد ﷺ په رب قسم! کافرانو ماتې وخوړل، ما وليدل چې دلته نبي کريم ﷺ کاڼي / شګې غورځولي وو، هلته د کافرانو ټوله تېزي او چالاکي ختمه شوه او د ماتې خوړلو سره په منډو شول (سره ددې چې د دوی شمار زيات ؤ، ابتداء کې د مسلمانانو د ماتې خوړلو وجه دا بيان شوې وه چې په لښکر کې زيات شمېر داسې مسلمانان موجود وو چې په هغوی کې لا تر اوسه د ثابت قدمی صفت نه پوره محکم شوی نه وو). رواه مسلم

لغوي تحقيق : "الوطيس التنور" الوطيس تنور ته وايي، "ومعناه: اشتدت الحرب" ددې مطلب دا دی چې جنګ تېز شو، "وقوله: حدهم هو بالحاء المهملة: أي بأسهم" دا قول چې (حدهم) ددې مطلب دا دی چې د دوی جنګ.

تشريح: په حديث کې د حنين د غزا واقعه بيان شوې ده، حنين د مکې او طائف ترمينځ د يوې

درېيم نوم دی، دلته د عربو دوه قومونه هوازن او ثقيف اوسېدل، دې دوه قبيلو تقريباً شل زره خلك تيار کړل چې په مدينه منوره باندې حمله وکړي، مشر يې مالك بن عوف وو، د ځانونو سره يې ښځې او بچي راوستلي وې چې څوك ونه تښتي، بل طرف رسول الله ﷺ د هفتې په ورځ شپږم د شوال ۸ هجري کې دوولس زره مجاهدين ځان سره روان کړل، رسول الله ﷺ په دې غزا کې په خچر باندې سوارلي کړې وه، د خچر زين ابوسفيان بن حارث نيولی وُ.

أي عباس! ناد أصحاب السمرة: اې عباس رضي الله عنه! د ونې والا (بيعت رضوان والا) ته اواز وکړه، هغوی چې د ځانونو فدا کولو عهد يې کړی دی، تاريخ ليکي: کله چې عباس رضي الله عنه آواز وکړو، نو کومو کسانو چې اواز واورېدو، لکه د ليونو په څېر رامنډې يې کړې، دا ټول د رسول الله ﷺ نه ګېرچاپېره کېښنستل، کله چې د جنګ ميدان ګرم شو، نو رسول الله ﷺ شګې راواخيستې او د مشرکانو په لور يې وغورځول، دا شګې د هر مشرك په سترګو کې پرېوتلې، دا د رسول الله ﷺ معجزه وه. په دې کې د دښمنانو اويا کسان مردار شول او په مسلمانانو کې هم زيات شمېر کسان شهيدان شول.

حلال رزق

"**وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّباً، وإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ**" د أبو هريره رضي الله عنه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اې خلکو! الله تعالی پاك ذات دی، پاك مال قبلوي او الله جل جلاله مؤمنانو ته د هغه څه حکم کړی دی کوم چې يې خپلو پېغمبرانو ته حکم کړی دی، "**فقال تعالى: يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحاً**" [المؤمنون: ۵۱] الله جل جلاله فرمايي: اې زما پېغمبرانو! تاسو د پاکو شيانو څخه خورئ او نېک عمل کوئ! "**وقال تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ**" [البقرة: ۱۷۲] بل ځای الله جل جلاله فرمايي: اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی! د هغه څه چې موږ درکړي دي، پاك شيان خورئ! "**ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ: يَا رَبِّ يَا رَبِّ**" بيا نبي کريم ﷺ د يو داسې سړي بيان وکړو چې هغه اوږد سفر وکړي، وېښته يې ببر وي او جامې يې ګردجنې وي، هغه د اسمان طرفته دعاء کوي، لاسونه يې خپل رب ته پورته کړي وي او چغې وهي چې اې زما ربه! اې زما ربه! "**وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟**" او حال دا چې د هغه خوراك به حرام وي، څښاك به يې حرام وي، جامې به يې حرامې وي او د هغه ټول جسامت به په حرام مال لوی شوی وي، نو بيا د داسې کس دعاء به څنګه قبوله شي؟ رواه مسلم

تشريح: ان الله لايقبل الاطيباً: الله جل جلاله پاك صفا شيان قبلوي، په دې حديث کې د اسلام بنيادي احکامات بيان شوي دي، مطلب دا چې په حرام مال کې نجاست او بدبوئي وي، چې ددې برعکس په حلال مال کې صفائي او پاکي وي نو د عبديت تقاضا دا دی چې انسان د حرام مال څخه ځان وساتي او پاك صفا مال حاصل کړي، په دې سره انسان الله جل جلاله ته نږدې کيږي چې برعکس په حرام مال سره انسان د الله جل جلاله نه لرې کيږي، او هم دغه حکم الله جل جلاله ټولو انبياء عليهم السلام او بيا په آخر کې د رسول الله ﷺ

امت ته هم ورکړې دی چې حلال مال خورئ او د حرام څخه ځان وساتئ.

ثم ذكر الرجل يطيل السفر: بيا رسول الله ﷺ د يو داسې کس حال بيان کړو چې په ډېر اوږد سفر باندې روان وي، که چېرته هغه د حج په سفر روان وي يا د جهاد په سفر يا بل داسې ديني کار پسې روان وي چې په دې کې دعاګانې هم زياتې قبلېږي، ليکن په داسې حال کې يې هم دعاء نه قبلېږي، وجه به يې دا وي چې د هغه خوراك او څښاك به حرام وي، جامې به يې حرامې وي، يعنې داسې کس عمومي طور د حرام مال څخه ځان نه ساتي، بنيادي مسئله دا ده چې د دعاء قبلېدل په حلال مال باندې موقوف دي، په حديث کې د حرام مال څخه د ځان ساتلو او حلال مال حاصلولو ترغيب ورکول شوی دی.

درې کسانو ته الله ﷻ د رحمت په نظر نه ګوري

"وعنه ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يُزَكِّيهِمْ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ، وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ: شَيْخٌ زَانٍ، وَمَلِكٌ كَذَّابٌ، وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ" د أبو هريره ﷺ روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د درې کسانو سره به الله ﷻ د قيامت په ورځ خبرې ونه کړي او نه به يې د ګناه څخه پاك کړي او نه به ورته د رحمت په نظر وګوري، دوی ته درد ناك عذاب شته، په هغې کې يو بوډا زنا کار دی، بل دروغجن مشر دی او دريم متکبر فقير دی. رواه مسلم

لغوي تحقيق: العَائِلُ: الفَقِيرُ: د عائل نه مراد فقير دی.

تشريح: دا حديث وړاندې په کتاب المامورات باب تحريم الكبر والاعجاب کې ذکر شوی دی، مختصر دا چې داسې درې کسان الله ﷻ ته سخت ناخوښ دي، داسې کسانو ته الله ﷻ د رحمت په نظر نه ګوري، هغه درې کسان دا دي: (۱) بوډا زنا کار، (۲) دروغجن بادشاه، (۳) غريب سړی چې تکبر کوي، قاضي عياض رحمه الله فرمايي: دا درې کسان په ځانګړې توګه خکه ذکر شول، ځکه چې دوی بلاوجه د ګناه لار اختياروي، داسې کسان په اسانی سره د ګناه نه بچ کېدی شي، ځکه چې په داسې حالت کې د ګناه داعيه ډېره کمزورې وي، که ځوان کس زنا وکړي، نو عقل وايي صحيح ده مستي يې غالبه ده، خو که بوډا سړی زنا وکړي، نو بيا؟ دغه شان بادشاه ته د درغو ويلو ضرورت څه دی، دغه شان که مالداره سړی تکبر وکړي، نو په عقل کې راځي په عقل کې راتلل دا معنی نه ده چې مالداره سړي لپاره تکبر کول جائز دی، بلکې معنی دا چې د هغه سره خو مال دولت شته چې تکبر ورباندې کوي، نو غريب سړی ولې تکبر کوي؟ دغه درې کسان که معمولي حرکت وکړي او په ځان کې همت پيدا کړي، نو د ګناه څخه بچ کېدی شي، بيا هم څوک چې ځان نه بچ کوي، په داسې کسانو باندې د الله ﷻ له لوري سخت عتاب دی

د څلورو دريابونو فضيلت

"وعنهٔ ﷺ قال: قال رسولُ اللّٰهِ ﷺ: سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ وَالفُرَاتُ وَالنِّيلُ كُلٌّ مِنْ أَنْهَارِ الجَنَّةِ، رواه مسلم" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سيحان درياب، جيحان، فرات او نيل دريابونه ټول د جنت نهرونه دي.

تشريح: په دې حديث کې د څلورو دريابونو فضيلت بيان شوی دی، (۱) فرات په عراق کې د يو درياب نوم دی، (۲) نيل په مصر کې د درياب نوم دی، په دې دوارو باندې اتفاق دی، (۳) سيحان ځينې وايي چې په شام کې دی، (۴) جيحان په بلخ کې دی او ځينې وايي: سيحان د اوسني پاکستان په جغرافيه (صوبه سندھ) کې د يو درياب نوم دی چې دې ته دريای سندھ هم وايي، ځينې وايي: جيحان په خراسان کې دی په دې کې د علماوو نور اختلافات هم شته.

كل من أنهار جنة: دا ټول جنتي دريابونه دي، مطلب دا چې حقيقتاً ددې دريابونو سرچشمه جنت دی، ځينې وايي: جنت ته يې نسبت مجازاً شوی دی، وجه يې دا ده چې ددې دريابونو اوبه خوږې او يخې دي، غرض دا چې دې دريابونو ته په نورو دريابونو باندې فضيلت حاصل دی.

د کوم شي پيدايش په کومه ورځ وشو؟

"وعنه، قال: أَخَذَ رسُولُ اللّٰهِ ﷺ بِيَدِي فَقَالَ: خَلَقَ اللّٰهُ التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې يوه ورځ زه رسول الله ﷺ له لاسه ونيولم، راته يې وفرمايل: الله ﷻ د هفتې په ورځ ځمکه پيدا کړې ده، "وَخَلَقَ فِيهَا الجِبَالَ يَوْمَ الأَحَدِ" په دې ځمکه کې يې د يکشنبې په ورځ غرونه پيدا کړل، "وَخَلَقَ الشَّجَرَ يَوْمَ الاثْنَيْنِ" د دوشنبې په ورځ يې پکې ونې پيدا کړې، "وَخَلَقَ المَكْرُوهَ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ" ناخوښه شيان يې د سه شنبې په ورځ پيدا کړل، "وَخَلَقَ النُّورَ يَوْمَ الأَرْبِعَاءِ" رڼا يې د چارشنبې په ورځ پيدا کړه، "وَبَثَّ فِيهَا الدَّوَابَّ يَوْمَ الخَمِيسِ" او د پنج شنبې په ورځ يې ټول ځناور پکې خپاره کړل، "وَخَلَقَ آدَمَ ﷺ بَعْدَ العَصْرِ مِنْ يَوْمِ الجُمُعَةِ فِي آخِرِ الخَلْقِ فِي آخِرِ سَاعَةٍ مِنَ النَّهَارِ فِيمَا بَيْنَ العَصْرِ إِلَى اللَّيْلِ" بيا يې د ټولو مخلوقاتو په آخر کې آدم عليه السلام د جمعې په ورځ د ورځې په آخر وخت کې د ماز يګر نه وروسته تر شپې پورې پيدا کړو. رواه مسلم

تشريح: ځای په ځای قرآن کريم او احاديثو کې د ځمکې او اسمان د پيدايش تذکره شوې ده، په قرآن کريم کې دي چې: "ولقد خلقنا السموات والارض ومابينهما في ستة أيام" موږ اسمانونه او ځمکه او څه چې په دې کې دي په شپږ ورځو کې پيدا کړل، دا حديث د سورت فصلت د آيات څخه خلاف دی، په دې وجه علامه ابن کثير رحمه الله دا حديث غريب ښودلی دی، نورو علماوو هم په دې حديث باندې قيل او قال کړی دی.

خلق النور يوم الأربعاء: رڼا يې د چارشنبې په ورځ پيدا کړه، د مسلم په روايت کې همداسې دي، ليکن د مشکوة په ځينو نسخو کې د (النون) په ځای د نون / ماهي ذکر دی، په دې صورت کې به معنی داسې شي چې ماهيان او رڼا يې دواړه د چارشنبې په ورځ پيدا کړل، په دې طريقه به د

دواړو روايتونو ترمنځ تطبيق وشي او تعارض به ختم شي.

وخلق آدم بعد العصر من يوم الجمعة: آدم عليه السلام يې د جمعې په ورځ د مازيګر وروسته پيدا کړو، آدم عليه السلام يې په ټولو کې آخر پيدا کړو، په آدم عليه السلام باندې يې د دنيا د پيدائش سلسله ختمه کړه او ټول مخلوق يې په دې ځمکه کې جمع کړو، د ټولې دنيا تکميل يې د جمعې په ورځ وکړو او په همدې ورځ به ختميږي.

د خالد بن وليد رضي الله عنه شجاعت

"وعن أبي سليمان خالد بن الوليد رضي الله عنه قَالَ: لَقَدِ انْقَطَعَتْ فِي يَدِي يَوْمَ مُؤْتَةَ تِسْعَةُ أَسْيَافٍ، فَمَا بَقِيَ فِي يَدِي إِلَّا صَفِيحَةٌ يَمَانِيَةٌ"

د ابو سليمان خالد بن وليد رضي الله عنه څخه روايت دی، فرمايي چې د موته په غزا کې زما په لاس نهه تورې ماتې شوې، په آخر کې يوه يمني توره زما په لاس کې پاتې شوه. رواه البخاري

تشريح: غزوه موته د جمادی الاولی په مياشت ۸ هجري کې وشوه، موته د شام علاقې بلقاء کې د يو ځای نوم دی، ليکن نن سبا موته زياته برخه د اردن سره ده، ددې جهاد وجه دا وه چې د رسول الله ﷺ دعوتي خط حارث بن عمير رضي الله عنه روان کړی وو، د قيصر روم په طرف روان وو، په لاره کې د بلقاء مشر شرحبيل حارث رضي الله عنه شهيد کړو، رسول الله ﷺ د بدلې اخيستلو لپاره درې زره مجاهدين روان کړل، لومړی يې امير زيد بن حارثه رضي الله عنه وو، کله چې هغه شهيد شو، نو بيا يې جعفر بن أبي طالب رضي الله عنه امير شو، هغه هم شهيد شو، بيا عبد الله بن رواحه رضي الله عنه امير جوړ شو، کله چې دا هم شهيد شو، نو بيا يې خالد بن وليد رضي الله عنه امير شو، په دې جنګ کې د خالد رضي الله عنه نهه تورې ماتې شوې، بل په دې حديث کې د خالد رضي الله عنه د بهادری او شجاعت بيان دی چې د هغه نهه توري ماتې شوي وې، ليکن جنګ يې پرېنښودلو، همغسې جنګېدلو، تردې چې الله ﷻ ورته فتح او کاميابي نصيب کړه.

د راوي ابو سليمان خالد بن وليد رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې خالد رضي الله عنه دی، کنيت يې ابو سليمان دی، سيف الله يې لقب دی، د ام المومنين ميمونة رضي الله عنها نږدې خپلوان وو، د خالد رضي الله عنه خاندان په جاهليت کې هم ډېر عزتمند ګڼلی شو، د احد په غزا کې يې د مسلمانانو خلاف سخت جنګ کړی دی، په ۲ هجري يا د ځينو په قول ۸ هجري کې يې ايمان قبول کړی دی، د اسلام راوړلو وروسته اولنی جنګ يې د موته دی، په دې جنګ کې د دوی رضي الله عنه نهه تورې ماتې شوي وې، په دې وجه رسول الله ﷺ دوی رضي الله عنه ته د سيف الله لقب ورکړو، ددې وروسته د مکې فتح، حنين، د طائف، تبوک سريه، بنو خزيمه سريه، نجران سريه او يمن سريه نه علاوه په نورو ډېرو جنګونو کې شريک شوی دی، عمر رضي الله عنه په ۱۷ هجري کې دوی معزول کړو، وجه يې دا وه چې د عمر رضي الله عنه سره دا فکر پيدا شو چې هسې نه خلک ووايي: د اسلامي فتوحاتو دارومدار په خالد رضي الله عنه پورې تړلی دی او حال دا چې فتوحات وي او که شکست وي، دا هر څه د الله ﷻ له لورې دي.

عمر رضي الله عنه د حران او موته والي جوړ کړو، خو څه موده پس يې خپله دغه والي توب

پرېښودلو، د رسول الله ﷺ سره يې زياته مينه درلوده، دوی يوه خولۍ جوړه کړې وه چې په هغې کې يې د رسول الله ﷺ وېښتان مبارك ايښي وو، د جنګ په ميدان کې به يې هغه خولۍ په سر کول، د يرموك په جنګ کې تري چېرته لويدلې وه، خو بيا يې پيدا کړه

وفات: په مدينه منوره کې په ۲۴ هجري کې وفات شو، ځينو حمص ښودلی دی چې دلته وفات شوی دی، ليکن اولنی قول راجح دی، عمر ﷺ د دوی په جنازه کې شريك وو.

مرويات: د دوی څخه ۱۸/ اتلس مرويات نقل دي چې په هغې کې ۲ په بخاري او مسلم دواړو کې دي

مجتهد ته په اجتهاد ثواب ملاوېږي

"وعن عمرو بن العاص ﷺ: أنه سمع رسول اللّــه ﷺ يقول: إذا حكم الحاكم فاجتهد، ثم أصاب، فله أجران" د عمرو بن العاص ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: کله چې حاکم ښه سوچ او فکر وکړي، بيا وروسته فيصله وکړي او هغه صحيح وي، نو ده ته به دوه اجره ملاوېږي، "وإذا حكم واجتهد، فأخطأ، فله أجر" او کله چې حاکم ښه سوچ او فکر وکړي او غلطه فيصله تري صادره شي، نو بيا هم ورته يو اجر ليکل کېږي. متفق عليه

تشريح: علماء فرمايي: ددې حديث تعلق د هغه صورت سره دی کله چې هغه حکم يا فيصله په قرآن يا سنت يا په اسلامي فقه کې نه وي بيان شوې، ددې وروسته هغه د شريعت په رڼا کې تولو نظائرو او مشابه مسئلو کې غور وکړي او حکم وکړي، ليکن بيا هم خطاء شي، نو داسې کس ته به الله ﷻ اجر ورکوي، د حديث څخه دا هم معلومه شوه چې د اسلام قاضي او مفتي ته په داسې جزئياتو کې د اجتهاد اختيار حاصل دی چې په هغې کې د شريعت صريحي حکم نه وي

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد چې د کوم شي حکم په کتاب الله او نبوي احاديثو يا په اجماع کې نه ؤ، نو هغه به بيا د قياس څخه کار اخيستلو، قياس کول او په هغې باندې عمل کول واجب دي، ددې مثال داسې دی، لکه يو کس ته چې د قبلې رخ معلوم نه وي، نو هغه به تحري يا فکر کوي او لمونځ به کوي چې هر طرف ته يې لمونځ کړی وي صحيح ده، که د تحري او سوچ فکر وروسته ورته معلومه شي چې کوم طرف ته يې لمونځ کړی وو، هغه صحيح طرف نه وو، بيا يې هم لمونځ صحيح دی، په لمونځ کې يې هيڅ نقصان نه راځي

د راوي عمرو بن العاص ﷺ حالات:

اصلي نوم يې عمرو ﷺ دی، کنيت يې ابو عبد الله يا ابو محمد دی، د پلار نوم يې عاص دی او د مور نوم يې نابغه ده، قبيله بنو اسلم سره يې تعلق درلود، د جاهليت په زمانه کې هم دا قبيله ډېره معززه وه، تر څو يې چې اسلام نه وو راوړی، تر هغې به يې مسلمانانو ته په تکليف رسولو کې هيڅ کسر نه پرېښودلو، د مسلمانانو کومه ډله چې حبشې ته تللې وه او د حبشې څخه بېرته واپسی کې

راتلل، دغه وخت چې د قریشو کوم وفد/ پلاوی نجاشي بادشاه ته ورغلی وو، په هغوی تولو کې زیات تېز او وړاندې سړی همدغه عمرو بن العاص ﷛ وو، لیکن الله ﷻ د احزاب جهاد وروسته د اسلام دولت ورپه برخه کړو.

وروسته یې ټول ژوند د اسلام د خدمت لپاره وقف کړو، په ډېرو جهادونو کې یې شرکت کړی دی، مثلاً: سریه ذات السلاسل، سریه مراع، فتنه ارتداد، فتوحات شام، یرموك، فحل، بیت المقدس، فتوحات مصر، غزوه قریش، عین شمس یا فسطاط، فتح اسکندریه، فتوحات خوب برقه، طرابلس الضرب وغیره.

عمر ﷛ د مصر والي جوړ کړی وو، د دوی زیات ژوند په جهاد کې تېر شوی دی، په دوی کې الله ﷻ څه ځانګړې صفتونه ایښي وو، مثلاً: ایماني قوت، حق رویه، ښه سوچ او فکر، جهاد في سبیل الله، صدقات او خیرات، داسې نور ډېر صفتونه یې درلودل.

وفات: په ۴۳ یا ۵۱ هجري کې بیمار شو، دغه وخت لا په مصر کې وو، په بیماری کې یې د توحید کلمه ویل چې روح ترې ووتل، زوی یې ورباندې د جنازې لمونځ وکړو.

مرویات: د دوی د مروياتو شمېر تر ۳۹ پورې رسیږي، په دې کې درې متفق علیه دي، په یو کې امام بخاري ﷫ منفرد دی او په درې کې امام مسلم ﷫ منفرد دی.

په اوبو سره د تبې علاج

"وعن عائشة رضي اللّـه عنها: أَنَّ النبيَّ ﷺ، قَالَ: الحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَأَبْرِدُوهَا بِالمَاءِ" د عائشې ﷞ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تبه د جهنم یو پوك دی، دغه تبه په اوبو سره یخه کړئ! متفق عَلَيْهِ

لغوي تحقيق: فيح: پوك ته وایي او الحمي تبې ته وایي.

تشريح: علماء فرمایي چې ددې څخه هره تبه مراد نه ده، بلکې هغه تبه ترې مراد ده چې صفرا پکې وي کوم چې په اهل حجاز کې عمومي طور وه او ځینې تبې داسې وي چې په هغې کې د اوبو استعمال نقصان کوي، بلکې انسان هلاکېدلی هم شي، اسانه طریقه دا ده چې کوم هوښیار او معتمد طبیب نه باید دې باره کې پوښتنه وشي، علامه خطابي ﷫ فرمایي: د یو کس داسې تبه شوه چې په هغې کې اوبو نقصان کولو، هغه په ځان باندې اوبه واچولې، نو هغه په ځای ددې چې ښه شي، نور هم خراب شو، ددې نه معلومه شوه چې د اوبو د استعمال حکم د هرې تبې سره نه دی، بلکې د خاص تبې سره دی.

د مړي له طرفه روژې نیول

"وعنها رضي اللّـه عنها، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صَومٌ، صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ" د عایشې ﷞ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم کس چې مړ شي او په هغه قضائي روژې پاتې وي، نو د هغه له طرفه دې د هغه وارثان روژې ونیسي. متفق عَلَيْهِ

"وَالْمُخْتَارُ جَوَازُ الصَّوْمِ عَمَّنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صَوْمٌ لِهٰذَا الْحَدِيْثِ، وَالْمُرَادُ بِالْوَلِيِّ: الْقَرِيْبُ وَارِثًا كَانَ أَوْ غَيْرَ وَارِثٍ" ددې حديث نه معلومه شوه چې که په يو کس باندې روژې پاتې وي او هغه پوره کړې نه وي او دی مړ شي، نو وارثان بې دده له طرفه روژې نيولی شي او د ولي څخه مراد نږدې خلک دي، که هغه وارثان وي او که غير وارثان وي.

تشريح: ايا د مړي له طرفه د هغه وارثان روژې نيولی شي؟

په دې کې د فقهاء کرامو اختلاف دی: اولنی مذهب د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله، امام مالک رحمه الله او امام شافعي رحمه الله وغيره دی، هغه دا چې که يو کس مړ شي، نو وارثان يا بل څوک د هغه له طرفه روژې نه شي نيولی، بلکې د هغه د روژو فديه به ورکوي، بل مذهب د امام احمد رحمه الله دی، هغه وايي چې وارثان بې د مړي له طرفه روژې نيولی شي، ددې حديث څخه استدلال کوي، ددې نه جمهورو فقهاء کرامو جواب کړی دی، هغه دا چې وارثان بې بايد فديه ورکړي، ځکه چې فديه هم د روژې قائم مقام دی، بل جواب دا دی چې دا حديث منسوخ دی، دريم جواب دا دی چې علامه انورشاه کشميري رحمه الله فرمايي: وارثان به د مړي له طرفه روژې نيسي کومې روژې چې مړي خوړلي وي، خو د نيابت په طريقه بې نه شي نيولی، بلکې د ايصال ثواب په طريقه به بې نيسي، يعنې روژې به ونيسي او د هغې ثواب به مړي ته وبخښي، څلورم جواب دا دی چې په ژوند کې د کوم بدني عبادت بدل نه شي کېدلی، نو د مرګ وروسته به څرنګه وشي.

د عايشې او عبدالله بن زبير رضي الله عنهما خفګان

"وعن عوف بن مالك بن الطُّفَيْل: أَنَّ عائشة رضي اللّٰـه عنها، حُدِّثَتْ أَنَّ عبد اللّٰـه بن الزبير رضي اللّٰـه عنهما، قَالَ فِي بَيْعٍ أَوْ عَطَاءٍ أَعْطَتْهُ عَائِشَةُ رضي اللّٰـه تعالى عنها: وَاللّٰـهِ لَتَنْتَهِيَنَّ عَائِشَةُ أَوْ لَأَحْجُرَنَّ عَلَيْهَا، قَالَتْ: أَهُوَ قَالَ هٰذَا؟ قالوا: نَعَمْ. قَالَتْ: هُوَ لِلّٰـهِ عَلَى نَذْرٌ أَنْ لَا أُكَلِّمَ ابْنَ الزُّبَيْرِ أَبَدًا، فَاسْتَشْفَعَ ابْنُ الزُّبَيْرِ إِلَيْهَا حِيْنَ طَالَتِ الْهِجْرَةُ. فَقَالَتْ: لَا، وَاللّٰـهِ لَا أُشَفِّعُ فِيْهِ أَبَدًا، وَلَا أَتَحَنَّثُ إِلَى نَذْرِي. فَلَمَّا طَالَ ذٰلِكَ عَلَى ابْنِ الزُّبَيْرِ كَلَّمَ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ، وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ ابْنَ الْأَسْوَدِ بْنِ عَبْدِ يَغُوثَ وَقَالَ لَهُمَا" د عوف بن مالک بن طفيل څخه نقل دي چې ام المومنين عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي: چې هغې ته خبر ملاو شو چې عبد الله بن زبير رضي الله عنه د څه خريدارۍ يا هديه په اړه چې هغه ام المؤمنين رضي الله عنها ته ورکړې وه (او هغوی په فقيرانو باندې تقسيم کړې وه) دا ويلي دي چې په الله جل جلاله قسم! عائشه رضي الله عنها به يا د داسې کارونو څخه منع کيږي، کنه نو زه به په هغوی باندې پابندي ولګوم، ام المومنين عايشې رضي الله عنها وفرمايل: ايا رښتيا هغوی داسې ويلي دي؟ خلکو وويل: هو! همداسې بې ويلي دي، دغه وخت هغې قسم وکړو چې زه به د ابن الزبير رضي الله عنه سره هيڅکله خبرې ونه کړم، کله چې د خبرو پرېښودلو خپله موده تېره شوه، نو عبد الله بن زبير رضي الله عنه سفارش ولېږلو او راضي کول بې غوښتل، ليکن هغې وفرمايل: والله جل جلاله زه به د چا سفارش قبول نه کړم او نه به خپل قسم ماتوم، کله چې په همدې حالت باندې ډېره زمانه تېره شوه، نو عبد الله بن زبير رضي الله عنهما ميسور بن مخرمه او عبد الرحمن بن اسود رضي الله عنهما ته قسم ورکړو او ورته بې وفرمايل: "أَنْشُدُكُمَا اللّٰـهَ لَمَّا أَدْخَلْتُمَانِي عَلَى عَائِشَةَ رضي اللّٰـه عنها، فَإِنَّهَا لَا يَحِلُّ لَهَا أَنْ تَنْذِرَ قَطِيْعَتِي، فَأَقْبَلَ بِهِ الْمِسْوَرُ، وَعَبْدُ

الرحمان حتى استأذنا على عائشة فقالا: السلام عليك ورحمة الله وبركاته، أندخل؟ قالت عائشة: ادخلوا. قالوا: كلنا؟ قالت: نعم ادخلوا كلكم، ولا تعلم أن معهما ابن الزبير، فلما دخلوا دخل ابن الزبير الحجاب فاعتنق عائشة رضي الله عنها، وطفق يناشدها ويبكي" زه تاسو ته قسم درکوم چې تاسو ما ام المومنين عايشي رضي الله عنها ته بوځئ! دا خبره دومره نه ده چې هغوی زما سره د صله رحمی ختمولو قسم وکړو، دې دواړو صحابه وو هغه عائشې رضي الله عنها ته ورسولو او د هغې په مخ کې یې حاضر کړو، په هغې باندې یې سلام واچولو، د حاضرۍ اجازه یې وغوښته، هغې وفرمایل: راځئ! دوی ووېل: ایا مور! ټول درشو؟ هغې وفرمایل: هو! ټول راشئ، هغې ته پته نه وه چې عبد الله بن زبير رضي الله عنه هم د دوی سره ملګری دی، ټول کور ته ننوتل او ابن زبير رضي الله عنه پردې ته دننه لاړو، د ام المؤمنين سره یې ستړي مشي وکړه، هغه د ژړا په حالت کې معافي غوښتل، "وطفق المسور، وعبد الرحمان يناشدانها إلا كلمته وقبلت منه" دلته مسور او عبد الرحمن هم هغې ته قسم ورکولو، غرض یې دا وو چې دوی معاف کړي، "ويقولان: إن النبي ﷺ نهى عما قد علمت من الهجرة، ولا يحل لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلاث ليال، فلما أكثروا على عائشة من التذكرة والتحريج، طفقت تذكرهما وتبكي، وتقول: إني نذرت والنذر شديد، فلم يزالا بها حتى كلمت ابن الزبير، وأعتقت في نذرها ذلك أربعين رقبة، وكانت تذكر نذرها بعد ذلك فتبكي حتى تبل دموعها خمارها" دوی دواړو به ورته فرمایل: تاسو ته معلومه ده چې رسول الله ﷺ د تعلق ختمول نه خوښول او هيڅ مسلمان ته جائز نه دي چې د خپل ورور سره د درې ورځو نه زيات خبرې پرېږدي، دا خو ستاسو کشر دی، خوربی مو دی، غرض دا چې دې دواړو صحابه کرامو ډېر اصرار کولو، بيا بيا یې خبره وکړه او د صله رحمی په حواله یې بيا بيا خبره ورسره شريکه کړه، هغې هم د صله رحمی خبره وکړه او هغه هم په ژړا شوه، وې فرمایل: ما خو ډېر سخت قسم کړی دی، لیکن ددې دواړو اصرار زيات شو، بالاخره ام المؤمنين رضي الله عنها ابن الزبير رضي الله عنه معاف کړو، د هغه سره یې خبرې وکړې او د خپل قسم په بدله کې یې څلوېښت غلامان آزاد کړل، وروسته چې به کله هم هغې ته قسم وریاد شو، نو د سختۍ ژړا حالت به یې دا وو چې لوپټه/پړونی به یې په اوښکو لوند شو. رواه البخاري

تشريح: عبد الله بن زبير رضي الله عنه د اسماء رضي الله عنها زوی او د عايشې رضي الله عنها سکه وراره وو، عايشه رضي الله عنها ډېره زياته سخي وه، ابن زبير رضي الله عنه يوه ورځ ددې څخه منع کړه، هغه پرې سخته خفه شوه او د هغه سره یې خبرې بندي کړې، څه موده پس یې راضي کړه او هغه یې معاف کړو. دلته يو سوال دی، هغه دا چې د درې ورځو څخه زيات وخت خبرې بندول يو مسلمان ته جائز نه دي، نو عايشې رضي الله عنها څنګه د ابن زبير رضي الله عنه سره خبرې بندي کړې وې؟ جواب دا دی چې که ديني مصلحت وي، نو بيا د درې ورځو څخه زيات خبرې بندول جائز دي، لکه څرنګه چې هغه درې صحابه کرام رضي الله عنهم چې د جهاد څخه پاتې شول، نو د هغوی سره پنځوس ورځې خبرې بندي وې، دغه شان عبد الله بن عمر رضي الله عنه د خپل زوی بلال سره تر ډېره وخته خبرې بندي کړي وې، لیکن شرط دا دی چې نيت به صفا وي او په دې کې به کوم نفساني خواهشات نه وي او نه به کوم دنيوي غرض او لالچ وي

رسول الله ﷺ د احد شهيدانو ته دعاء وکړه

"وعن عُقْبَةَ بن عامرٍ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ خَرَجَ إِلَى قَتْلَى أُحُدٍ، فَصَلَّى عَلَيْهِمْ بَعْدَ ثَمَانِ سِنِينَ كَالْمُوَدِّعِ لِلأَحْيَاءِ وَالأَمْوَاتِ" د عقبة بن عامر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د احد د شهيدانو هديرې ته تشريف يوړو، هغوی ته يې اته کاله وروسته دعاء وکړه، داسې معلومېده لکه رسول الله ﷺ چې د دوی سره مخه ښه کوي، (خدای په اماني ورته وايي) د مړو او ژوندو ټولو سره، "ثُمَّ طَلَعَ إِلَى الْمِنْبَرِ، فَقَالَ: إِنِّي بَيْنَ أَيْدِيكُمْ فَرَطٌ وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ وَإِنَّ مَوْعِدَكُمُ الْحَوْضُ، وَإِنِّي لأَنْظُرُ إِلَيْهِ مِنْ مَقَامِي هَذَا" بيا نبي کريم ﷺ په منبر باندې کېښناستلو او داسې يې وفرمايل: زه ستاسو نه وړاندې تلونکی يم، زه به په تاسو باندې شاهدي ادا کوم، ستاسو سره به زما ملاقات په حوض کوثر باندې کيږي او هغه زه اوس د دې ځای نه ګورم، "أَلاَ وَإِنِّي لَسْتُ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا، وَلَكِنْ أَخْشَى عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا أَنْ تَنَافَسُوهَا" ګورئ! زه په تاسو باندې په دې خبره نه ويرېږم چې تاسو به مشرکان شئ، بلکې په دې خبره په تاسو يرېږم چې په تاسو باندې به دنيا فراخه شي، نو بيا به تاسو په هغې کې سم ورداخل شئ؛ (يعني هغې ته به کار ووايئ، د دين کارونه به درنه پاتې شي)، "قَالَ: فَكَانَتْ آخِرَ نَظْرَةٍ نَظَرْتُهَا إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ" صحابي فرمايي: دا زما اخرينې ليدل وو چې ما رسول الله ﷺ ته وکتل. متفق عليه

وفي رواية: وَلَكِنِّي أَخْشَى عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا: په يو بل روايت کې دي چې زه په تاسو باندې د دې خبرې وېره لرم چې دنيا به درباندې زياته شي، نو ستاسو مينه به ټوله د دنيا سره شي، "وَتَقْتَتِلُوا فَتَهْلِكُوا كَمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ. قَالَ عُقْبَةُ: فَكَانَ آخِرَ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ عَلَى الْمِنْبَرِ" ددې دنيا له خاطره به يو بل قتلوئ، نو تاسو به هلاک شئ، لکه څنګه چې ستاسو نه مخکې خلک هلاک شوي وو.

"وفي رواية قَالَ: إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ وَإِنِّي وَاللهِ لأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ، أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ" په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه ستاسو د قافلې څخه وړاندې تلونکی يم، زه په تاسو باندې شاهد يم او والله! زه اوس خپل حوض وينم، ماته د ځمکې د خزانو کلياني/ چابياني راکړل شوي دي او يا يې داسې وفرمايل: د ځمکې کلياني/ چابياني راکړل شوي دي، "وَإِنِّي وَاللهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، وَلَكِنْ أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا" قسم په الله! زه په تاسو باندې د شرک وېره نه لرم چې مشرکان به شئ، بلکې دا وېره خامخا لرم چې تاسو به د دنيا په حرص کې مبتلا شئ.

وَالْمُرَادُ بِالصَّلاَةِ عَلَى قَتْلَى أُحُدٍ: الدُّعَاءُ لَهُمْ، لاَ الصَّلاَةُ الْمَعْرُوفَةُ: د الصلاة نه مراد دعاء ده، جنازه مراد نه ده

تشريح: فصلى عليهم: رسول الله ﷺ د احد شهيدانو ته دعاء وکړه، ددې څخه معلومه شوه چې خپلو مړو ته دعاګانې کول او هغوی ته د الله ﷻ نه د مغفرت سوال کول مستحب دي، "وان موعدكم الحوض" ستاسو سره د وعدې ځای حوض کوثر دی، رسول الله ﷺ ته به د قيامت په ورځ د کوثر اوبه ورکړل شي او په حديثو کې د هغې صفات ذکر دي، "لأنظر اليه" زه يې ددې ځای څخه وينم، الله ﷻ يې په منځ کې پردې ختمې کړې وې او رسول الله ﷺ ته يې حوض کوثر ښکاره کړی و، ددې نه کشف هم

ثابت شو، "اعطيت مفاتيح خزائن الارض" ماته د ځمكې خزانې راكړل شوي وې، (ليكن رسول الله ﷺ قبولې نه كړې، په دې كې اشاره ده دې خبرې ته چې د رسول الله ﷺ مينه د دنيا سره ذره برابر هم نه وه، الله ﷻ غوښتل چې رسول الله ﷺ ته د ځمكې خزانې وركړي، (يعني الله ﷻ مالداره كول غوښتل چې زما پېغمبر ﷺ ته كوم مالي تكليف نه وي، خو نبي كريم ﷺ غريبي خوښه كړه) رسول الله ﷺ د دنيا سره مينه ونه كړه، باقي پاتې كېدونكې اخرت ته يې په فاني دنيا باندې ترجيح وركړه.

نبي كريم ﷺ ډېره زياته خطبه وويل

"وعن أبي زيد عمرو بن أخطب الأنصاري ﷺ قال: صلى بنا رسول الله ﷺ الفجر، وصعد المنبر فخطبنا حتى الظهر، فنزل فصلى، ثم صعد المنبر فخطبنا حتى العصر، ثم نزل فصلى، ثم صعد المنبر فخطبنا حتى غربت الشمس، فأخبرنا بما كان وبما هو كائن، فأعلمنا أحفظنا" د زيد بن عمرو بن اخطب انصاري ﷺ نه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ موږ ته د سهار جمعه راكړه، بيا منبر ته وختلو، تر ماسپښين پورې يې خطبه ووېل، تردې چې د ماسپښين لمانځه وخت راغلو، نو د منبر نه راښكته شو، جمعه يې راكړه، بيا منبر ته كېنستلو او خطبه يې شروع كړه تردې چې د مازيگر لمانځه وخت راغلو، د منبر نه راښكته شو، جمعه يې راكړه او بيا منبر ته وختلو، خطبه يې شروع كړه تر هغې يې خطبه ووېل چې لمر ډوب شو، (نبي كريم ﷺ ته چې كوم څه الله ﷻ د وحي په ذريعه ښودلي وو، هغه خبر او واقعې چې مخكې تيرې شوي وې او كومې چې به وروسته راځي) د هغې ټولو علم او خبر يې موږ ته راكړو، په موږ كې چې چا دا ټولې خبرې يادې كړې هغه تر ټولو لوى عالم دى. رواه مسلم

تشريح: په حديث كې د رسول الله ﷺ د ډېرې زياتې اوږدې خطبې بيان دى چې په هغې كې يې هغه اهمې واقعې بيان كړي دي كومې چې به قيامت ته نژدې راځي، "فأعلمنا وأحفظنا" په موږ كې تر ټولو زيات عالم هغه كس دى چا چې دغه واقعې يادې كړې وې، مطلب دا چې ښه عالم هغه دى چې علم يې زده كړى وي، بيا يې ياد هم وي، بل په دې حديث كې اشاره ده د رسول الله ﷺ شفقت او محبت ته چې د خپل امت سره يې څومره مينه درلوده، هغه دا چې رسول الله ﷺ هغه ټولې اهمې واقعې چې الله ﷻ نبي كريم ﷺ ته ښودلي وې او په وړاندې زمانه كې شوې وې، هغه يې د عبرت په توگه ذكر كړې او كومې اهمې واقعې چې الله ﷻ نبي كريم ﷺ ته ښودلي دي چې دا دا واقعې به كېږي، هغه يې هم امت ته د رهنمايي په توگه بيان كړې، (ليكن ددې څخه دا نه معلومېږي چې د رسول الله ﷺ سره علم غيب وو، د غيبو علم يوازې د الله ﷻ سره دى)

د راوي ابوزيد عمرو بن اخطب ﷺ حالات:

اصل نوم يې عمرو ﷺ دى، كنيت يې ابو اخطب دى، جليل القدر انصاري صحابي دى، په ديارلسو غزواتو كې يې د رسول الله ﷺ سره شركت كړى دى، په يوه موقع باندې رسول الله ﷺ د دوى ﷺ په سر باندې د شفقت لاس راښكلو او دعاء يې ورته وكړه، د دوى وفات په ۱۲۰ كالو كې وشو.

ليکن په سر کې يې يو څو وېښتان سپين وو، دا د رسول الله ﷺ د دعاء برکت وو، د دوی ځخه ځلور احاديث نقل دي.

د تابعداری نذر منل

"وعن عائشة رضي الله عنها قالت: قال النبي ﷺ: مَنْ نَذَرَ أَنْ يُطِيعَ اللّٰهَ فَلْيُطِعْهُ، وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَعْصِيَ اللّٰهَ فَلَا يَعْصِهِ" د عايشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې دديې خبرې نذر ومنې چې زه به د الله ﷻ تابعداري کوم، هغه بايد د الله ﷻ تابعدار شي او کوم کس چې دديې خبرې نذر ومني چې زه به د الله ﷻ نافرماني کوم، هغه دي د الله ﷻ نافرماني نه کوي. رواه البخاري

لغوي تحقيق: نذر: باب نصر ينصر دی، صيغه يې د مضارع باب افعال ځخه په معنی د اطاعت ده، يعني خبره منل.

تشريح: معلومه شوه چې که يو کس صحيح نذر ومني، مثلاً: هغه ووايي چې زما دي د الله ﷻ په نوم نذر وي چې زه به دوه رکعته نفل کوم، بايد چې خپل نذر پوره کړي او دوه رکعته نفل وکړي، د نذر صحيح کېدو لپاره د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد لاندې شرطونو سره نذر صحيح کيږي:

(۱) نذر به د اطاعت وي، د ګناه نذر به نه وي، (۲) اطاعت به مقصود وي، (۳) په ژبه به د نذر الفاظ وايي، که د نافرمانی نذر يې ومنلو، نو د هغې پوره کول ضروري نه دي، اوس په دې کې اختلاف دی چې ايا د نافرمانی په نذر کې کفاره واجب ده او که نه؟ د امام مالك رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد داسې نذر کې کفاره نشته. د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد په دې کې تفصيل دی: هغه دا چې که د نافرمانی نذر يې منلی وي، که هغه نافرماني لعينه وي، يعني معصيت لعينه وي، نو بيا داسې نذر منل صحيح نه دي او نه په دې کفاره شته، لکه: قتل کول او زنا شوه او که نافرماني لغيره وي، نو په داسې حال کې نذر منل صحيح دي، ليکن پوره کول يې ضروري نه دي او کفاره ورباندې شته، لکه په ايام تشريق (د لوی اختر په کومو ورځو کې چې روژه نيول منع وي) کې د روژې نذر منل، په هغې کې د روژې نيولو نذر يې د الله ﷻ په نوم ومنلو، نو دديې کفاره به ورکوي.

د کربوړي د وژلو حکم

"وعن أم شريك رضي الله عنها: أن رسول الله ﷺ أمرها بقتل الأوزاغ وقال: كَانَ يَنْفُخُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ" د ام شريك ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ امر وکړو چې کربوړه ووژنئ! ځکه چې ده به د ابراهيم عليه السلام اور ته پوکی وهلو. متفق عليه

لغوي تحقيق: أوزاغ: کربوړي ته وايي.

تشريح: ينفخ على ابراهيم: کربوړي به د ابراهيم عليه السلام اور ته پوکی ورکولو، کله چې نمرود ابراهيم عليه السلام په اور کې واچولو، نو په دې وخت کې کربوړې راغلو، اور ته به يې پوکی ورکولو، هغه خپل نيت ښکاره کړو، نور يې څه کولی نه شو، نو دديې خباثت په وجه شريعت دا حکم جاري کړو

چې كربوړې، چېرته وينئ نو وژنئ يې، په دې سره به تاسو ته ثواب ملاويږي، د ځناورو ماهرين وايي: په دې كې ډېر سخت زهر دي، په دې وجه ددې د وژلو حكم شوى دى. ددې حديث څخه دا هم معلومه شوه چې په بد كار كې كه معمولي شان شريك هم وي او ډېره لږه مرسته دې پكې كړې وي، بيا به هم عند الله ته مجرم يې، لكه د كربوړې پوك كول شو، چې د هغه په پوك څه نه كېدل. ليكن هغه خپل نيت ځرګند كړو، نو الله ﷻ مردود كړو او د هغه د وژلو حكم يې جاري كړو.

د كربوړې په وژلو كې ثواب دى

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ اللّٰهِ ﷺ: مَنْ قَتَلَ وَزَغَةً فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ فَلَهُ كَذَا وَكَذَا حَسَنَةً" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې كربوړې په اول واري سره ووژني، د هغه دومره دومره نېكي دي، (يعنې د هغه لپاره زياتې نېكي دي)، "وَمَنْ قَتَلَهَا فِي الضَّرْبَةِ الثَّانِيَةِ فَلَهُ كَذَا وَكَذَا حَسَنَةً دُونَ الأُولَى" او كوم كس چې يې په دويم واري سره مړ كړي، د هغه لپاره دومره دومره نېكي دي، خو د اولني واري څخه به كمې وي، "وَإِنْ قَتَلَهَا فِي الضَّرْبَةِ الثَّالِثَةِ فَلَهُ كَذَا وَكَذَا حَسَنَةً" او كوم كس يې چې په دريم ځل مړ كړي، د هغه لپاره دومره دومره نېكي دي، خو د اولني او دويم وار څخه به يې ثواب كم وي.

"وفي رواية: مَنْ قَتَلَ وَزَغاً فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ كُتِبَ لَهُ مِئَةُ حَسَنَةٍ" او په يو بل روايت كې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې په اول ځل كربوړې مړ كړي د هغه لپاره سل نېكي دي، "وفي الثَّانِيَةِ دُونَ ذٰلِكَ، وفي الثَّالِثَةِ دُونَ ذٰلِكَ" رواه مسلم او په دويم ځل د هغه نه كم اجر دى او په دريم ځل د هغه نه هم كم دي.

قَالَ أَهلُ اللُّغة: الوَزَغُ العِظَامُ مِنْ سَامِّ أَبْرَص: اهل لغت وايي: وزغ د چرمخكي نه غټ حيوان دى.

تشريح: په دې حديث كې ترغيب وركول شوى چې كربوړې هر چېرته ووينئ، نو هغه ختم كړئ، دا هغه ځناور دى چې د هغې د وژلو حكم په هر حالت كې شوى دى، كه د حرم په حدودو كې وي، بيا يې هم وژل پكار دي، كه په پوره طاقت او په اول وار ووژل شي، نو ثواب يې زيات دى، كه وارى يې كمزورى وي، په اول ځل مړ نه شي، نو په دويم وار وژلو سره به يې ثواب كم وي، نبه په زور سره يې وژل پكار دي، ځكه چې ډېر په تېزى سره منډې وهي.

د صحيح نيت بدله

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ، فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ سَارِقٍ، فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ: تُصُدِّقَ عَلَى سَارِقٍ! فَقَالَ: اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ لأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ، فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ زَانِيَةٍ، فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ: تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى زَانِيَةٍ! فَقَالَ: اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى زَانِيَةٍ!" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د يو سړي كيسه بيان كړه چې هغه په خپل زړه كې وويل: زه به نن د شپې په وخت كې خپل زكات وركوم، كله چې هغه زكات وركړو، نو هغه اتفاقاً غل وو، سهار خلكو كې ذكر كېدلو چې د شپې غل ته زكات وركړى دى، هغه چې دا واورېدل، نو وې ويل: اې الله! ستا شكر دى، خير دى كه غير مستحق ته زما زكات وركړى شو، زه به نن شپه نور زكات وركړم، كله چې يې دا ځل زكات واخيستلو

او روان شو، نو هغه يوې زناكارې ښځې ته پيسې وركړې وې، په خلكو كې سهار مشهوره شوه چې نن يې زنا كارې ته زكات وركړى دى، هغه چې واورېدل بيا يې وويل: اې الله زما مال چې ته چاته هم وركړې، زه به ستا شكر اداء كوم، "لأتصدقن بصدقة، فخرج بصدقته فوضعها في يد غني، فأصبحوا يتحدثون: تُصُدِّقَ على غني؟ فقال: اللهم لك الحمد على سارق وعلى زانية وعلى غني! فأتي فقيل له: أما صدقتك على سارق فلعله أن يستعف عن سرقته، وأما الزانية فلعلها تستعف عن زناها، وأما الغني فلعله أن يعتبر فينفق مما أعطاه الله" هغه بيا د ځان سره وويل: دا ځل به بيا زكات وركړم، كله چې يې زكات واخيستلو او د شپې روان شو، نو هغه اتفاقي دا ځل مالداره سړي ته زكات وركړو، سهار بيا په خلكو كې مشهوره شوه چې دا ځل يې كوم مالداره سړي ته زكات وركړى دى، هغه چې دا واورېدل نو وې ويل: اې الله! زما مال تاسو غل، زناكار، مالداره ته وركړو، ليكن بهر حال زه ستا شكر ادا كوم، د هغه وخت ځخه هغه ته په خوب كې وښودل شوه چې ستا كوم مال غل ته وركړل شوى دى، كېدى شي چې هغه ددې مال په وجه د غلا نه منع شي، باقي زناكاره ښځه ممكنه ده چې هغه ددې په وجه د زنا ځخه منع شي او مالداره كېدى شي ددې نه عبرت واخلي، هغه هم د خپل مال ځخه فرض زكات ادا كړي چې په هغه باندې دى، د الله ﷻ په لار كې به يې خرج كړي. رواه البخاري بلفظه ومسلم بمعناه.

تشريح: د حديث ځخه معلومه شوه چې د الله ﷻ په خاطر هر ډول صدقه وركولى شي، د هغې ثواب به صدقه كونكي ته د نيت په اندازه رسيږي، بلكه دا چې كه په روغ نيت صدقه وركړي، نو كه كوم غيرمستحق ته يې وركړي، بيا هم هغه عند الله مقبول دى، ابن حجر رحمه الله فرمايي: كه صدقه په غير مستحق ځاى كې خرج شي، نو پكار ده چې بيا يې خرج كړي، لكه ځرنګه چې هغه كس درې ځله خپله صدقه وركړه، علامه عيني رحمه الله فرمايي: الله ﷻ د (روغ نيت) ثواب انسان ته خامخا وركوي، ځكه چې اخلاص پكې وي.

شفاعت كبرى

"وعنه، قال: كنا مع رسول الله ﷺ في دعوة، فرفع إليه الذراع، وكانت تعجبه، فنهس منها نهسة وقال: أنا سيد الناس يوم القيامة، هل تدرون مم ذاك؟ يجمع الله الأولين والآخرين في صعيد واحد، فيبصرهم الناظر، ويسمعهم الداعي، وتدنو منهم الشمس، فيبلغ الناس من الغم والكرب ما لا يطيقون ولا يحتملون، فيقول الناس" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې يوه ورځ موږ د رسول الله ﷺ سره يو دعوت ته تللي وو، هلته نبي كريم ﷺ ته د چېلى/ بزې پخه شوې ليچه (پتون) پېش كړى شو، د ليچې غوښه د نبي كريم ﷺ زياته خوښه وه، هغوى په غاښونو شلول بيا به يې خوړل، وې فرمايل: د قيامت په ورځ به زه د ټولو خلكو سردار يم، تاسو ته معلومه ده ددې وجه به څه وي؟ هغه وخت به داسې وي چې د آدم عليه السلام نه واخله تردې وخته پورې ټول انسانان به الله ﷻ دغه ورځ په يو داسې هوار ميدان كې جمع كړي چې كتونكي به يې په يو نظر كتلى شي او هغوى به د يو خبرې كونكي اواز / غږ اوري، لمر به ورته ډېر نژدې وي، دوى به د سخت ناقبل برداشت تكليف سره مخ وي، خلك به په خپل مينځ كې وايي: "ألا ترون ما أنتم فيه إلى ما بلغكم، ألا تنظرون من يشفع لكم إلى ربكم؟

فَيَقُولُ بَعْضُ النَّاسِ لِبَعْضٍ: أَبُوكُمْ آدَمُ، فَيَأْتُونَهُ فَيَقُولُونَ: يَا آدَمُ أَنْتَ أَبُو الْبَشَرِ، خَلَقَكَ اللَّهُ بِيَدِهِ، وَنَفَخَ فِيكَ مِنْ رُوحِهِ، وَأَمَرَ الْمَلَائِكَةَ فَسَجَدُوا لَكَ، وَأَسْكَنَكَ الْجَنَّةَ، أَلَا تَشْفَعُ لَنَا إِلَى رَبِّكَ؟ أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ وَمَا بَلَغَنَا؟ فَقَالَ: إِنَّ رَبِّي غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَا يَغْضَبُ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنَّهُ نَهَانِي عَنِ الشَّجَرَةِ فَعَصَيْتُ، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى نُوحٍ" خپل حالت نه وینئ چې څومره غم او تکلیف سره مخامخ یئ، ولې د یو سړي تلاش نه کوئ چې د الله ﷻ په حضور کې ستاسو سفارش وکړي، بس ځینې خلك به ځینې نورو ته وایي: راځئ چې آدم علیه السلام ته لاړ شو کوم چې زموږ جد اعلی (پورتنی نیکه) دی، هغه ته به لاړ شو، دوی ټول به آدم علیه السلام ته راشي، هغوی به ورته ووایي: اې آدم علیه السلام تاسو خو د نوع انساني نیکه یئ! الله تعالی تاسو په خپل لاس او قدرت سره پیدا کړي یئ، په تاسو کې یې خپل روح واچولو، تاسو یې د ملایکو لپاره مسجود وګرځولئ، جنت ستاسو د اوسېدو ځای دی، ولې به تاسو نن ددې مصیبت په وخت کې الله ﷻ ته زموږ سفارش نه کوئ؟ ته ګورې چې موږ ټول په کوم حالت کې مبتلاء یو، په څومره تکلیف کې اخته یو؟ هغه به ځواب ورکړي، نن چې د الله ﷻ د غوسې او ناراضګۍ کوم کیفیت دی، هغه نه کله ددې نه مخکې وو او نه به آینده وي، زه الله ﷻ د ونې خوراك نه منع کړم، لیکن ما هغه وخوړل، نن زه د خپل ځان په غم کې مبتلاء یم، که زه ستاسو د سفارش لپاره لاړم، زما نه به خپل ځواب وغوښتل شي، نو زما سره به هیڅ شی نه وي، ددې وجې زما په ځای کوم بل چاته ورشئ! ګورئ! نوح علیه السلام ته لاړ شئ! "فَيَأْتُونَ نُوحًا فَيَقُولُونَ: يَا نُوحُ، أَنْتَ أَوَّلُ الرُّسُلِ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ، وَقَدْ سَمَّاكَ اللَّهُ عَبْدًا شَكُورًا، أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ، أَلَا تَرَى إِلَى مَا بَلَغَنَا، أَلَا تَشْفَعُ لَنَا إِلَى رَبِّكَ؟ فَيَقُولُ: إِنَّ رَبِّي غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنَّهُ قَدْ كَانَتْ لِي دَعْوَةٌ دَعَوْتُ بِهَا عَلَى قَوْمِي، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى إِبْرَاهِيمَ. فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ فَيَقُولُونَ: يَا إِبْرَاهِيمُ، أَنْتَ نَبِيُّ اللَّهِ وَخَلِيلُهُ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ؟ فَيَقُولُ لَهُمْ: إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنِّي كُنْتُ كَذَبْتُ ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى مُوسَى" نو دوی به نوح علیه السلام ته راشي، نوح علیه السلام ته به ووایي: اې نوح علیه السلام! د ځمکې په سر تاسو اولنی رسول یئ، تاسو ته الله ﷻ په شکر ګزار بنده سره لقب درکړی دی، تاسو خو زموږ دې حالت ته وګورئ چې څه حالت مو دی؟ تاسو باید خپل رب ته زموږ سفارش وکړئ، هغه به ورته فرمایل: نن چې الله ﷻ څومره غوسه دی، ددې نه مخکې نه دومره په غوسه وو او نه به ددې نه وروسته بیا چېرته دومره په غوسه شي، ماته د خپل قوم باره کې د شوې بد دعا بې په وجه زورنه راکړل شوې ده او خپل فکر راسره دی چې چېرته د هغې ځواب ونه غواړي، زه دومره همت نه لرم، تاسو بل چاته ورشئ، هو! ابراهیم علیه السلام ته لاړ شئ، دا خلك به ابراهیم علیه السلام ته راشي، ورته به ووایي چې: تاسو په دنیا کې د الله ﷻ د نبي کېدو سره د هغه خلیل هم وئ، زموږ دا تکلیف حالت وګورئ، د خپل رب نه زموږ لپاره سفارش وکړئ! هغه به وفرمایي: نن چې د الله ﷻ د غوسې کوم حالت دی هغه ددې نه مخکې هیڅکله هم نه وو او نه به کله راشي، زه په خپلو درې خبرو باندې د نیول کېدو څخه په ویره کې یم، زما سره نن خپل فکر دی، ما پرېږدئ کوم بل چاته ورشئ، هو! موسی علیه السلام ته ورشئ! "فَيَأْتُونَ مُوسَى فَيَقُولُونَ: يَا مُوسَى أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ، فَضَّلَكَ اللَّهُ بِرِسَالَاتِهِ وَبِكَلَامِهِ عَلَى النَّاسِ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ؟ فَيَقُولُ: إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنِّي قَدْ قَتَلْتُ نَفْسًا لَمْ

أَوْ مَرِيقَتْلِهَا، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى عِيسَى، فَيَأْتُونَ عِيسَى فَيَقُولُونَ: يَا عِيسَى، أَنْتَ رَسُولُ اللهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ، وَكَلَّمْتَ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ؟ فَيَقُولُ عِيسَى: إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ ذَنْبًا، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى مُحَمَّدٍ ﷺ" دوی به موسی علیه السلام ته راشي، ورته به ووايي: اې موسی علیه السلام! تاسو د الله ﷻ رسول يئ، په تاسو يې خپل فضل کړی دی، په خپل کلام او رسالت سره يې تاسو ته په نورو خلکو باندې فضيلت درکړی دی، تاسو خپل رب ته زموږ سفارش وکړئ؛ هغه به ورته وفرمايي: نن ورځ چې الله ﷻ خومره غوسه دی، دومره نه ددې نه مخکې په غوسه وو او نه به بيا چېرته دومره په غوسه شي، زما سره نن د خپل ځان فکر دی، تاسو عيسی علیه السلام ته لاړ شئ؛ هغوی به عيسی علیه السلام ته راشي، ورته به ووايي: اې عيسی علیه السلام! تاسو د الله ﷻ رسول يئ او د الله ﷻ کلمه (يعني لفظ (کن فيکون) سره پيدا شوي يئ، هغه کلمه چې ستاسو مور مريم عَلَيْهَا السَّلَام ته يې القاء کړې وه) او تاسو په زانګو کې د خلکو سره خبرې کړې دي، تاسو خپل رب ته زموږ سفارش وکړئ، تاسو زموږ دا بد حال نه وينئ؟ هغه به ورته وفرمايي: نن ورځ چې الله ﷻ خومره غوسه دی، دومره به چېرته نه مخکې په غوسه شوی وي او نه به ددې نه وروسته چېرته په غوسه شي، زما سره د خپل ځان فکر دی، تاسو محمد ﷺ ته ورشئ؛ دوی ټول به محمد ﷺ ته راشي.

"وَفِي رِوَايَةٍ: فَيَأْتُونِي فَيَقُولُونَ: يَا مُحَمَّدُ أَنْتَ رَسُولُ اللهِ وَخَاتَمُ الْأَنْبِيَاءِ، وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ؟ فَأَنْطَلِقُ فَآتِي تَحْتَ الْعَرْشِ فَأَقَعُ سَاجِدًا لِرَبِّي، ثُمَّ يَفْتَحُ اللهُ عَلَيَّ مِنْ مَحَامِدِهِ وَحُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِ شَيْئًا لَمْ يَفْتَحْهُ عَلَى أَحَدٍ قَبْلِي، ثُمَّ يُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ، سَلْ تُعْطَهْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ" په يو روايت کې دي چې دوی به نبي کريم ﷺ ته راشي، ورته به ووايي: اې محمد ﷺ! تاسو د الله ﷻ رسول يئ او د ختم نبوت مهر په تاسو وهل شوی دی، ستاسو مخکيني او وروستني ګناهونه معاف دي، تاسو خپل رب ته زموږ سفارش وکړئ، تاسو نه ګورئ چې موږ په څومره بد حالت کې يو؟ نبي کريم ﷺ فرمايي: زه به روان شم د عرش لاندې به الله ﷻ ته په سجده پرېوځم. بيا به الله ﷻ ماته داسې تعريفونه او ثناګانې په زړه کې راته القاء کړي چې زمانه مخکې به يې چاته نه وي ورښودلي، الله ﷻ به راته وفرمايي: سر پورته کړه اې محمد ﷺ! سوال کوه سوال به دې قبليږي او سفارش کوه سفارش به دې قبليږي، "فَأَرْفَعُ رَأْسِي، فَأَقُولُ: أُمَّتِي يَا رَبِّ، أُمَّتِي يَا رَبِّ، أُمَّتِي يَا رَبِّ، فَيُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ أَدْخِلْ مِنْ أُمَّتِكَ مَنْ لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ مِنَ الْبَابِ الْأَيْمَنِ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ، وَهُمْ شُرَكَاءُ النَّاسِ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الْأَبْوَابِ. ثُمَّ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَهَجَرَ أَوْ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَبُصْرَى" زه به خپل سر راپورته کړم او زه به وايم: اې زما ربه! زما امت، اې زما ربه! زما امت، اې زما ربه! زما امت، ماته به حکم وشي چې اې محمد ﷺ! د جنت په ښي دروازه باندې ځان سره بې حسابه خلک داخل کړه او دوی به د نورو خلکو سره نورو دروازو باندې داخليدو کې شريک وي، بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په قبضه کې ده چې ددې دروازو د چوکاټ په مينځ کې د خلاصوالي فاصله به دومره وي، لکه د مکې او هجر په مينځ کې چې څومره فاصله ده او يا يې داسې وفرمايل: لکه د مکې او بصرې ترمينځ چې څومره فاصله ده. متفق عليه

تشریح: د قیامت په ورځ به د رسول الله ﷺ فضیلت او مقام په ټولو انبیاء علیهم السلام باندې ظاهر کړل شي، هغه ورځ چې د پرېشانی له وجې به ډېره سخته وي او هر سړی به خفه وي، تردې چې انبیاء علیهم السلام به هم پرېشان وي، په دې وخت کې به رسول الله ﷺ د ټولو سفارش وکړي او د رسول الله ﷺ په سفارش به د الله ﷻ غوسه یخه شي.

سوال: د قیامت په ورځ به ټول خلك په نمبر نمبر یو یو پېغمبر ته راځي او په آخر کې به رسول الله ﷺ ته راشي، نو په لومړي ځل ولې رسول الله ﷺ ته نه راځي؟

جواب: دا ځکه چې په دې کې ستر حکمت پروت دی، هغه دا چې الله ﷻ به وغواړي چې د خپل محبوب فضیلت او مقام په ټول مخلوق باندې څرګند کړي، که په شروع کې داسې وشي، نو بیا به د فضیلت ښکاره کېدل مشکل شي، په دې کې الله ﷻ دا ښکاره کول غواړي چې د رسول الله ﷺ مقام او فضیلت ته نه کوم بل نبي علیه السلام رسېدلی شي او نه کومه پرښته.

کنت کذبت ثلاث کذبات: ابراهیم علیه السلام به ووایي: ما درې دروغ ویلي دي، علماء فرمایي: هغه دروغ نه وو، بلکې تعریض او توریه وه، په ظاهر کې دروغ معلومېدل، لیکن په حقیقت کې دروغ نه وو، هغه درې دا دي: (۱): زه بیمار یم، ستاسو سره میلې ته نه شم تللی، ظاهره ده چې په انسان کې څه نا څه بیماري خامخا وي، (۲) دا کار غټ بت کړی دی، د هغه څخه پوښتنه وکړئ، دا یې ځکه وویل چې په مشرکانو باندې د بوتانو حقیقت څرګند شي، ځکه چې بوتان نه څه کولی شي، نه څه اوري او نه څه ویني او نه هم تاسو ته ستاسو د پوښتنو جواب درکولی شي، هسې مجبور محض دي، نو بیا دوی څنګه خدایان شول، اې کم عقلو! تاسو دومره نه پوهېږئ؟ (۳) خپلې مېرمنې ته یې خور ویلې وو، اسلامي نکته نظر سره هر مسلمان د بل مسلمان ورور دی، مسلمانه ښځه د مسلمان سړي خور ده.

ولم یذکر ذنبا: عیسی علیه السلام به کوم عذر بیان نه کړي، ددې برعکس هر پېغمبر علیه السلام خپل خپل عذرونه بیان کړل، وجه یې دا ده چې په عیسی علیه السلام باندې خلکو یو تهمت لګولی وو، هغه دا چې عیسی علیه السلام نعوذ بالله د الله ﷻ زوی دی، ددې تهمت په وجه به عیسی علیه السلام دومره شرمنده او نادم وي چې چوپ به ولاړ وي او هیڅ به نه وایي.

خلاصه دا چې هر پېغمبر به خپل خپل عذرونه بیان کړي، وجه یې دا ده چې انبیاء علیهم السلام د ایمان او تقوی په اعلی درجه کې دي، د دوی لپاره معمولي لغزشونه سترې غلطیانې ګڼل کیږي، په دې باندې دوی خپل ځانونه مجرم تصور کوي، ځکه خو وایي چې: "حسنات الأبرار سیئات المقربین" د نېکو خلکو نیکیانې د مقربو خلکو په نزد سختې غلطیانې شمارل کیږي.

واشفع تشفع: سفارش کوئ، ستاسو سفارش به قبلیږي، ددې سفارش څخه وړاندې به رسول الله ﷺ د الله ﷻ حمد او ثناء ووایي، ددې نه معلومه شوه چې د الله ﷻ نه د سوال کولو څخه وړاندې د الله ﷻ حمد او ثناء ویل مستحب دي او دعاء ډېر زر قبلیږي، "مصاریع الجنة کما بین مکة وهجر" د جنت د

دروازو د چوکاټونو ترمينځ به دومره فاصله وي لکه د مکې او هجر ترمينځ چې څومره فاصله ده.

د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ او اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ واقعه

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: جَاءَ إبراهيم ﷺ بِأُمِّ إسماعيل وَبِابْنِهَا إِسْمَاعِيلَ وَهِيَ تُرْضِعُهُ، حَتَّى وَضَعَهَا عِنْدَ الْبَيْتِ، عِنْدَ دَوْحَةٍ فَوْقَ زَمْزَمَ فِي أَعْلَى الْمَسْجِدِ، وَلَيْسَ بِمَكَّةَ يَوْمَئِذٍ أَحَدٌ، وَلَيْسَ بِهَا مَاءٌ، فَوَضَعَهُمَا هُنَاكَ، وَوَضَعَ عِنْدَهُمَا جِرَابًا فِيهِ تَمْرٌ، وَسِقَاءً فِيهِ مَاءٌ" د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل شيدې رودونکى بچى او د هغه مور محترمه (هاجره) د مکې مکرمې په طرف روان کړل، هغوى يې خانه کعبې ته نږدې د يوې لويې ونې سره د زمزم نه پورته د مسجد حرام په اوچته حصه پاتې کړل، دغه وخت په مکه مکرمه کې نه څه ابادي وه، نه پکې اوبه پيدا کېدلې، د هغوى سره يې د خورما يوه خلته (بورى) او د اوبو يوه مشکيزه پرېښوده، "ثُمَّ قَفَّى إِبْرَاهِيمُ مُنْطَلِقاً، فَتَبِعَتْهُ أُمُّ إِسْمَاعِيلَ فَقَالَتْ: يَا إِبْرَاهِيمُ، أَيْنَ تَذْهَبُ وَتَتْرُكُنَا بِهَذَا الْوَادِي الَّذِي لَيْسَ فِيهِ أَنِيسٌ وَلَا شَيْءٌ؟ فَقَالَتْ لَهُ ذَلِكَ مِرَاراً، وَجَعَلَ لَا يَلْتَفِتُ إِلَيْهَا، قَالَتْ لَهُ: آللَّهُ أَمَرَكَ بِهَذَا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَتْ: إِذاً لَا يُضَيِّعُنَا" ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ واپس روان شو، ام اسماعيل هاجر (رَضِيَ اللهُ عَنْهَا) د هغه نه شاته روانه شوه، هغه ته يې وويل: تاسو مونږ په داسې ځاى کې پرېږدئ چې نه کوم انسان شته او نه کوم بل شى؟ هغې خپله خبره څو ځله تکرار کړه، ليکن هغوى څه ځواب ورنه کړو او نه يې هغوى ته کتل، دغه وخت يې مېرمنې ووېل: ايا تاسو دا کار د الله جَلَّ جَلَالُهُ په حکم سره کوئ؟ ابراهيم عليه السلام وفرمايل: هو! هغې ووېل: بيا څه پروا نشته، الله جَلَّ جَلَالُهُ به مونږ نه ضايع کوي، "ثُمَّ رَجَعَتْ، فَانْطَلَقَ إِبْرَاهِيمُ ﷺ، حَتَّى إِذَا كَانَ عِنْدَ الثَّنِيَّةِ حَيْثُ لَا يَرَوْنَهُ، اسْتَقْبَلَ بِوَجْهِهِ الْبَيْتَ، ثُمَّ دَعَا بِهَؤُلَاءِ الدَّعَوَاتِ، فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ: (رَبِّ إِنِّي أَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ حَتَّى بَلَغَ) يَشْكُرُونَ [ابراهيم: ۳۷]. وَجَعَلَتْ أُمُّ إِسْمَاعِيلَ تُرْضِعُ إِسْمَاعِيلَ وَتَشْرَبُ مِنْ ذَلِكَ الْمَاءِ، حَتَّى إِذَا نَفِدَ مَا فِي السِّقَاءِ عَطِشَتْ، وَعَطِشَ ابْنُهَا، وَجَعَلَتْ تَنْظُرُ إِلَيْهِ يَتَلَوَّى - أَوْ قَالَ يَتَلَبَّطُ - فَانْطَلَقَتْ كَرَاهِيَةَ أَنْ تَنْظُرَ إِلَيْهِ فَوَجَدَتِ الصَّفَا أَقْرَبَ جَبَلٍ فِي الْأَرْضِ يَلِيهَا، فَقَامَتْ عَلَيْهِ، ثُمَّ اسْتَقْبَلَتِ الْوَادِي تَنْظُرُ هَلْ تَرَى أَحَداً؟ فَلَمْ تَرَ أَحَداً. فَهَبَطَتْ مِنَ الصَّفَا حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْوَادِي، رَفَعَتْ طَرَفَ دِرْعِهَا، ثُمَّ سَعَتْ سَعْيَ الْإِنْسَانِ الْمَجْهُودِ حَتَّى جَاوَزَتِ الْوَادِي، ثُمَّ أَتَتِ الْمَرْوَةَ فَقَامَتْ عَلَيْهَا، فَنَظَرَتْ هَلْ تَرَى أَحَداً؟ فَلَمْ تَرَ أَحَداً، فَفَعَلَتْ ذَلِكَ سَبْعَ مَرَّاتٍ" هغه بيا واپس شوه او ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ مخ په وړاندې روان ؤ، کله چې هغوى داسې يوې غونډۍ ته ورسېدل چې اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ او د هغه مور هاجره (رَضِيَ اللهُ عَنْهَا) په نظر نه راتلل، نو د کعبې طرف ته يې مخ کړل او لاسونه يې راپورته کړل، دا دعاء يې وکړه، اې الله! زه خپل بچى په داسې وادۍ دره کې ستا د محترم کور سره پرېږدم چې په هغې کې د زراعت هيڅ نوم نشته، اې زما ربه! ددې لپاره چې هلته د لمانځه ترتيب برابر کړي، د خلکو زړونه دوى ته مائل کړه او د دوى شاوخوا سيمه اباده کړه او دوى ته رزق ورکړه چې دوى شکر وېستونکي شي، هاجرې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به خپل زوى ته شيدې ورکولې، په خپله به يې اوبه څښلې، بالاخره مشکيزه خالي شوه، هغه هم تږې شوه، خو بچى يې دومره سخت تږى شو چې هغه په ځمکه پروت وو، د تندې له وجې به تاوېدو او راتاوېدو، کله چې به هغه ته د کتلو طاقت پاتې نشو، نو هاجره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به پاڅېدل او د اوسېدلو ځاى ته به نږدې د صفا غر ته وختل، هلته ولاړه وه او د وادۍ درې طرف ته يې کتل چې کېدى شي څوک په نظر ورشي، خو څوک په نظر رانغلل، د صفاء له غونډۍ ځخه لاندې راښکته شوه چې د

غاړې طرفونه يې اوچت وو، بيا يې ډېر كوشش وكړو او منډه يې ووهل، په تكليف سره مروه ته راغله، هلته ودرېده، وې كتل چې څوك په نظر راشي، ليكن دلته هم څوك په نظر نه راتلل، غرض دا چې دې خاى نه هغې خاى ته يې پوره اوه چكرې ولګولې، "قَالَ ابنِ عباسٍ رضي اللّٰه عنهما: قَالَ النبيُّ ﷺ: فَلِذٰلِكَ سَعْيُ النَّاسِ بَيْنَهُمَا، فَلَمَّا أَشْرَفَتْ على الْمَرْوَةِ سَمِعَتْ صَوْتاً، فَقَالَتْ: صَهْ — تُرِيدُ نَفْسَهَا — ثُمَّ تَسَمَّعَتْ، فَسَمِعَتْ أَيضاً، فَقَالَتْ: قَدْ أَسْمَعْتَ إِنْ كَانَ عِنْدَكَ غَوَاثٌ، فَإِذَا هِيَ بِالْمَلَكِ عِنْدَ مَوْضِعِ زَمْزَمَ، فَبَحَثَ بِعَقِبِهِ — أَوْ قَالَ بِجَنَاحِهِ — حَتَّى ظَهَرَ الْمَاءُ، فَجَعَلَتْ تُحَوِّضُهُ وَتَقُولُ بِيَدِهَا هٰكَذَا، وَجَعَلَتْ تَغْرِفُ مِنَ الْمَاءِ فِي سِقَائِهَا وَهُوَ يَفُورُ بَعْدَ مَا تَغْرِفُ. وفي رواية: بِقَدَرِ مَا تَغْرِفُ. قَالَ ابنِ عباسٍ رضي اللّٰه عنهما: قَالَ النبيُّ ﷺ: رَحِمَ اللّٰهُ أُمَّ إِسْمَاعِيلَ لَوْ تَرَكَتْ زَمْزَمَ — أَوْ قَالَ لَوْ لَمْ تَغْرِفْ مِنَ الْمَاءِ — لَكَانَتْ زَمْزَمُ عَيْناً مَعِيناً" عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي حضور ﷺ وفرمايل: هم دا وجه ده چې اوس خلك د صفا مروه ترمنځ سعي/ منډې كوي، په اخري چكر كې هغه د مروه په طرف وه چې څه اواز يې واورېدو، ليكن هغې دا خيال وكړو چې اواز نه دى، هسې د زړه وهم دى، بيا يې غوږ ونيولو، توجه يې وكړه، نو هغې بيا دا اواز واورېدو، دغه وخت هغې ووېل: اواز خو ما واورېدو، كه چېرته څوك د مرستې لپاره راغلى وي، ناڅاپه هغې ته د زمزم سره نژدې يوه پرښته په نظر راغله چې هغې په خپله پونده ځمكه ووهل يا يې په خپل وزر سره ووهل او د ځمكې نه اوبه راووتلې، هغې زر زر ددې نه شاوخوا پولې جوړې كړې، حوض يې جوړ كړو او لپې يې ډكولې، په مشكيزه كې يې اوبه اچولې، دلته به هغې لپې ډكولې، اوبه به نورې هم زياتېدلې، په يو روايت كې دي چې څومره لپه به هغې ډكول، هغومره به اوبه راوتلې، ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: رسول الله ﷺ وفرمايل چې الله ﷻ دې په ام اسماعيل (عَلَيْهِمَا السَّلَام) باندې رحم وكړي، كه چېرته هغې د زمزم اوبه په خپل حال پرېښودلې واى، يا يې وفرمايل: په لپو يې نه واى راخيستې، نو زمزم به يوه بهېدونكې چينه ګرځېدلې وه، "قَالَ: فَشَرِبَتْ وَأَرْضَعَتْ وَلَدَهَا، فَقَالَ لَهَا الْمَلَكُ: لَا تَخَافُوا الضَّيْعَةَ فَإِنَّ هٰهُنَا بَيْتاً لِلّٰهِ يَبْنِيهِ هٰذَا الْغُلَامُ وَأَبُوهُ، وَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُضَيِّعُ أَهْلَهُ، وَكَانَ الْبَيْتُ مُرْتَفِعاً مِنَ الْأَرْضِ كَالرَّابِيَةِ، تَأْتِيهِ السُّيُولُ، فَتَأْخُذُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ، فَكَانَتْ كَذٰلِكَ حَتَّى مَرَّتْ بِهِمْ رُفْقَةٌ مِنْ جُرْهُمَ، أَوْ أَهْلُ بَيْتٍ مِنْ جُرْهُمَ مُقْبِلِينَ مِنْ طَرِيقِ كَدَاءٍ، فَنَزَلُوا فِي أَسْفَلِ مَكَّةَ، فَرَأَوْا طَائِراً عَائِفاً، فَقَالُوا: إِنَّ هٰذَا الطَّائِرَ لَيَدُورُ عَلَى مَاءٍ، لَعَهْدُنَا بِهٰذَا الْوَادِي وَمَا فِيهِ مَاءٌ، فَأَرْسَلُوا جَرِيّاً أَوْ جَرِيَّيْنِ، فَإِذَا هُمْ بِالْمَاءِ" راوي وايي: هغې په خپله هم اوبه وڅښلې او په بچي يې هم اوبه وڅښلې، بيا پرښتې ورته ووېل: د خپل هلاكت خيال د زړه نه وباسه؛ دلته د الله ﷻ د كور جوړېدو فيصله شوې ده چې هغه به دا ماشوم او دده پلار جوړوي، ددې سره په خوا كې اوسېدونكې به الله ﷻ نه ضايع كوي، دغه وخت كعبه د ځمكې نه پورته د يوه ډېركي په شان وه چې سيلاب به راتللو، نو ښي او چپ طرف ته به وتلو، په همدې حالت كې څه زمانه تېره شوه چې اتفاقاً د بني جرهم قبيلې ځينې خلك يا خاص د بني جرهم كورنۍ د كداء په لاره راتلل، په دې خاى باندې تېر شول او د مكې مكرمې په لاندينۍ برخه كې يې پړاؤ وكړو، كله چې دوى هلته مرغان وليدل، نو په حيرانتيا سره يې ووېل: موږ خو ډېر خله په دې خاى باندې تېر شوي يو، دلته خو چېرته د اوبو نښه هم نه وه، د معلوماتو لپاره يې يو دوه سړي ولېږل، هغوى چې راغلل وې ليدل، نو واقعي هلته اوبه موجودې وې، "فَرَجَعُوا فَأَخْبَرُوهُمْ، فَأَقْبَلُوا وَأُمُّ إِسْمَاعِيلَ عِنْدَ الْمَاءِ، فَقَالُوا: أَتَأْذَنِينَ لَنَا أَنْ نَنْزِلَ عِنْدَكِ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، وَلٰكِنْ لَا حَقَّ لَكُمْ فِي الْمَاءِ، قَالُوا: نَعَمْ. قَالَ ابنِ عباسٍ: قَالَ النبيُّ ﷺ: فَأَلْفَى ذٰلِكَ أُمَّ إِسْمَاعِيلَ، وَهِيَ تُحِبُّ الْأُنْسَ فَنَزَلُوا، فَأَرْسَلُوا إِلَى أَهْلِيهِمْ فَنَزَلُوا مَعَهُمْ، حَتَّى إِذَا كَانُوا بِهَا أَهْلَ أَبْيَاتٍ وَشَبَّ الْغُلَامُ وَتَعَلَّمَ الْعَرَبِيَّةَ مِنْهُمْ،

وَأَنْفَسَهُمْ وَأَعْجَبَهُمْ حِيْنَ شَبَّ، فَلَمَّا أَدْرَكَ زَوَّجُوهُ امْرَأَةً مِنْهُمْ: وَمَاتَتْ أُمُّ إِسْمَاعِيلَ" واپس لاړل د قبيلې خلکو ته يې خبر ورکړو، د قافلې خلک هلته راغلل، هلته يې هاجره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ومونده، د هغې نه يې اجازت وغوښتلو چې که ستاسو اجازه وي، نو موږ به ستاسو په ګاونډ کې ژوند وکړو، هغوی ورته په دې شرط اجازه ورکړه چې په اوبو به ستاسو ملکي حق نه وي، هغوی دا خبره ومنله، ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وفرمايل: دا خبره خو عين مراد وه، دا خو ام اسماعيل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ته ملګري ملاو شول، دا خلك هلته پاتې شول، خپله کورنۍ يې هلته راوبلل او هلته پاتې کېدو سره يې کلي اباد کړو، دلته د دوی څخه بغير د ډېرې زياتې کورنۍ اباد شوې، اسماعيل عليه السلام خوان شو، د خپل اصلي طبعيت په وجه يې ډېر زر عربي ژبه زده کړه، ښکلې خواني يې درلوده، د زيات ښايست په وجه د قافلې خلکو د هغه د خوانۍ ته رسېدو سره سم د خپلې قبيلې د يوې جينۍ سره د هغه واده وکړو، ام اسماعيل عَلَيْهِمَا السَّلَامُ وفات شوه، "فَجَاءَ إِبْرَاهِيمُ بَعْدَمَا تَزَوَّجَ إِسْمَاعِيلُ يُطَالِعُ تَرِكَتَهُ، فَلَمْ يَجِدْ إِسْمَاعِيلَ، فَسَأَلَ امْرَأَتَهُ عَنْهُ فَقَالَتْ: خَرَجَ يَبْتَغِي لَنَا - وَفِي رِوَايَةٍ: يَصِيدُ لَنَا - ثُمَّ سَأَلَهَا عَنْ عَيْشِهِمْ وَهَيْئَتِهِمْ، فَقَالَتْ: نَحْنُ بِشَرٍّ، نَحْنُ فِي ضِيقٍ وَشِدَّةٍ، وَشَكَتْ إِلَيْهِ، قَالَ: فَإِذَا جَاءَ زَوْجُكِ اقْرَئِي عَلَيْهِ السَّلَامَ، وَقُولِي لَهُ يُغَيِّرْ عَتَبَةَ بَابِهِ. فَلَمَّا جَاءَ إِسْمَاعِيلُ كَأَنَّهُ آنَسَ شَيْئاً، فَقَالَ: هَلْ جَاءَكُمْ مِنْ أَحَدٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، جَاءَنَا شَيْخٌ كَذَا وَكَذَا، فَسَأَلَنَا عَنْكَ فَأَخْبَرْتُهُ، فَسَأَلَنِي: كَيْفَ عَيْشُنَا، فَأَخْبَرْتُهُ أَنَّا فِي جَهْدٍ وَشِدَّةٍ، قَالَ: فَهَلْ أَوْصَاكِ بِشَيْءٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ السَّلَامَ، وَيَقُولُ: غَيِّرْ عَتَبَةَ بَابِكَ، قَالَ: ذَاكِ أَبِي وَقَدْ أَمَرَنِي أَنْ أُفَارِقَكِ! الْحَقِي بِأَهْلِكِ، فَطَلَّقَهَا وَتَزَوَّجَ مِنْهُمْ أُخْرَى" د هغه د واده نه ورسته د خپل پسماندګانو خبر اخيستلو لپاره ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ راغلو، اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ په کور کې موجود نه وو، د ښځې نه يې پوښتنه وکړه چې چېرته تللی دی؟ وې ويل: د رزق پيدا کولو لپاره تللی دی، په يو روايت کې دي چې د ښکار لپاره تللی دی، بيا يې پوښتنه وکړه چې حال او احوال مو څنګه دي؟ ژوند څنګه تيريږي؟ وې ويل: ډېر بد حال مو دی، د ډېرې تنګۍ او تکليف سره وخت تېروو، نور څه شکايت يې هم بيان کړل، ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: کله چې ستاسو خاوند راشي، نو هغه ته زما سلام ووايه او ورته ووايه چې د خپل کور د دروازې چوکاټ بدل کړه، کله چې اسماعيل عليه السلام واپس راغلو، نو هغه څه نوې خبره محسوس کړه، د ښځې نه يې پوښتنه وکړه چې کور ته څوك راغلي وو؟ وې ويل: د داسې شکل او صورت والا يو بوډا سړی راغلی وو، ستاسو په اړه يې پوښتنه وکړه، ما ورته حالت بيان کړو، بيا يې زمانه د ګزارې په اړه پوښتنه وکړه چې ژوند مو څنګه دی؟ ما ورته وويل: ډېر په تنګۍ او تکليف کې يو، اسماعيل عليه السلام وفرمايل: هغه تاته څه وصيت کړی دی؟ هغې وويل: هو! دا يې ويلي دي چې تاسو راشئ، نو هغه ته مې سلام وايې او دا پيغام ورته ورکړه چې د خپلې دروازې چوکاټ بدل کړې! اسماعيل عليه السلام وفرمايل: دا خو زما پلار وو، هغه فرمايلي دي چې زه تاسو د خپل ځان نه جدا کړم، تاسو د خپل پلار کور ته لاړه شئ، هغوی ورته طلاق ورکړو او د دغې قبيلې يوې بلې جينۍ سره يې نکاح وکړه، "فَلَبِثَ عَنْهُمْ إِبْرَاهِيمُ مَا شَاءَ اللَّهُ، ثُمَّ أَتَاهُمْ بَعْدُ فَلَمْ يَجِدْهُ، فَدَخَلَ عَلَى امْرَأَتِهِ فَسَأَلَ عَنْهُ. قَالَتْ: خَرَجَ يَبْتَغِي لَنَا قَالَ: كَيْفَ أَنْتُمْ؟ وَسَأَلَهَا عَنْ عَيْشِهِمْ وَهَيْئَتِهِمْ، فَقَالَتْ: نَحْنُ بِخَيْرٍ وَسَعَةٍ، وَأَثْنَتْ عَلَى اللَّهِ، فَقَالَ: مَا طَعَامُكُمْ؟ قَالَتْ: اللَّحْمُ، قَالَ: فَمَا شَرَابُكُمْ؟ قَالَتْ: الْمَاءُ، قَالَ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي اللَّحْمِ وَالْمَاءِ. قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ يَوْمَئِذٍ حَبٌّ وَلَوْ كَانَ لَهُمْ دَعَا لَهُمْ فِيهِ، قَالَ: فَهُمَا لَا يَخْلُو عَلَيْهِمَا أَحَدٌ بِغَيْرِ مَكَّةَ إِلَّا لَمْ يُوَافِقَاهُ" الله جل جلاله د خوښې مطابق څه زمانه تېره شوه، ابراهيم عليه السلام بيا هلته تشريف راوړو، دغه وخت هم اسماعيل عليه السلام

په کور کې نه وو، خپلې امږور نه يې پوښتنه وکړه چې چېرته تللی دی؟ هغې ورته وويل: د معاش ګټلو پسې وتلی دی، هغه د انږور/ مرور نه پوښتنه وکړه چې ژوند مو څنګه تيريږي؟ ښه دی او که نه؟ هغې ورته وويل: د الله ﷻ ډېر زيات شکر او احسان دی، موږ په ډېرې فراخی کې يو او بالکل خير دی، هغوی پوښتنه وکړه چې څه خورئ؟ وې فرمايل: غوښه او اوبه، ددې وينا په اورېدو سره ابراهيم عليه السلام دعاء وکړه چې اې الله! د دوی په غوښه او اوبو کې برکت واچوه! نبي کريم ﷺ وفرمايل: دغه وخت به دوی غله نه خوړل، څکه چې هلته پيداوار نه کېدو، کنه نو ابراهيم عليه السلام به د هغوی لپاره په غله کې د برکت پيدا کېدو دعاء کړې وای، ددې وجه نه اهل مکه کې به چا د غوښې او اوبو نه ماسوا په بل شي ګزاره نه کول او ددې څخه بغير بل شی به په چا باندې موافق هم نه راتلل.

"وفي رواية: فجاء فقال: أين إسماعيل؟ فقالت امرأته: ذهب يصيد، فقالت امرأته: ألا تنزل، فتطعم وتشرب؟ قال: وما طعامكم وما شرابكم؟ قالت: طعامنا اللحم وشرابنا الماء، قال: اللهم بارك لهم في طعامهم وشرابهم. قال: فقال أبو القاسم ﷺ: بركة دعوة إبراهيم. قال: فإذا جاء زوجك فاقرئي عليه السلام ومريه يثبت عتبة بابه. فلما جاء إسماعيل قال: هل أتاكم من أحد؟ قالت: نعم، أتانا شيخ حسن الهيئة، وأثنت عليه، فسألني عنك فأخبرته، فسألني كيف عيشنا فأخبرته أنا بخير" په يو بل روايت کې دي چې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ پوښتنه وکړه چې اسماعيل چېرته دی؟ د هغه مېرمن ورته وويل: د ښکار لپاره وتلی دی، انږور يې دا هم وويل: تاسو کينئ څه خوراك څښاك وکړئ! هغوی پوښتنه وکړه تاسو څه خورئ څښئ؟ وې ويل: زموږ خوراك غوښه او اوبه دي، هغوی ورته دعاء وکړه چې اې الله! د دوی په خوراك څښاك کې برکت واچوه، راوي وايي: نبي کريم ﷺ وفرمايل: چې د ابراهيم عليه السلام د دعاء برکت اوس هم په اهل مکه کې موجود دی، بيا ابراهيم عليه السلام وفرمايل: کله چې ستاسو خاوند راشي، نو هغه ته زما سلام وايه، زما دا هدايت هم ورته بيان کړه چې د دروازې چوکاټ برقرار وساته، کله چې اسماعيل عليه السلام راغی، نو ښځې نه يې پوښتنه وکړه چې زموږ کره څوك راغلي وو؟ ښځې ورته وويل: هو! يو ډېر ښايسته سپين ږيری بزرګ راغلی وو، د هغه يادونه يې په ښو الفاظو سره وکړه، زما څخه يې ستاسو په اړه پوښتني وکړې، ما ورته ستاسو خبر بيان کړو، بيا يې زما څخه پوښتنه وکړه چې ژوند مو څنګه تيريږي؟ ما ورته وويل: ډېر ښه په خوشحالي او فراخی سره تيريږي، "قال: فأوصاك بشيء؟ قالت: نعم، يقرأ عليك السلام ويأمرك أن تثبت عتبة بابك. قال: ذاك أبي، وأنت العتبة، أمرني أن أمسكك. ثم لبث عنهم ما شاء الله، ثم جاء بعد ذلك وإسماعيل يبري نبلا له تحت دوحة قريبا من زمزم، فلما رآه قام إليه، فصنعا كما يصنع الوالد بالولد والولد بالوالد. قال: يا إسماعيل، إن الله أمرني بأمر، قال: فاصنع ما أمرك ربك؟ قال: وتعينني، قال: وأعينك، قال: فإن الله أمرني أن أبني بيتا ها هنا، وأشار إلى أكمة مرتفعة على ما حولها، فعند ذلك رفع القواعد من البيت، فجعل إسماعيل يأتي بالحجارة وإبراهيم يبني حتى إذا ارتفع البناء، جاء بهذا الحجر فوضعه له فقام عليه، وهو يبني وإسماعيل يناوله الحجارة وهما يقولان: ربنا تقبل منا إنك أنت السميع العليم" اسماعيل عليه السلام وفرمايل: په تاسو يې تاسو ته خو يې څه وصيت نه دی پرېښودلی؟ هغې وويل: هو! څه وصيت خو يې کړی وو، اسماعيل سلام ويلو او داسې يې ورته وويل: خاوند ته دې ووايه چې د دروازې چوکاټ برقرار پريږدي، اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمايل: دا زما پلار وو او د دروازې چوکاټ تاسو يادوې، هغه ماته وصيت کړی دی چې خپله ښځه په نکاح کې وساته، طلاق ورنه کړې، بيا چې ترڅو الله ﷻ ته منظوره وه تر هغې پورې او ...

جدا اوسېدل، ددې نه وروسته چې کله هغوی دريم ځل راغلل، نو اسماعيل عليه السلام د زمزم سره نژدې د يوې ونې لاندې ناست وو، غشي يې جوړول چې پلار جان يې وليدو، نو اسماعيل عليه السلام د ېر په مينه د خپل پلار سره سترې مشي وکړه او غاړه يې يو ځای کړه، دغه وخت ابراهيم عليه السلام وفرمايل: اسماعيله عليه السلام! ماته الله ﷻ د يو کار حکم کړی دی، اسماعيل عليه السلام وفرمايل: تاسو يې خامخا عملي کړئ، وې فرمايل چې الله ﷻ ماته ددې ډېرې د ابادۍ حکم کړی دی. هغه ډيرې ته يې اشاره وکړه، د هغه ډېرکي نه يې شاوخوا د خانه کعبې د څلورو دېوالونو بنيادونه جوړ کړل، د تعمير کار يې شروع کړو، اسماعيل عليه السلام به کاڼي ورکول او ابراهيم عليه السلام به دېوال جوړولو، کله چې ديوالونه کافي اوچت شول، نو هغه يو کاڼی راوړو چې په هغې به درېدو، ابراهيم عليه السلام په دېوالونو باندې کاڼي کېښودل، د بيت الله د تعمير په وخت د دواړو پېغمبرانو په ژبه دا دعاء جاري وه، اې الله! زموږ نه دا کوشش قبول کړې، بې شکه تاسو اورېدونکي هم يئ او خبردار ذات هم يئ؛ [البقرة:۲۷].

"وفي رواية: إنَّ إبراهيمَ خرج بإسماعيلَ وأمِّ إسماعيلَ، معهم شَنَّةٌ فيها ماءٌ، فجعلت أمُّ إسماعيلَ تشربُ من الشَّنَّةِ فيدِرُّ لبنُها على صبيِّها حتى قدِم مكةَ، فوضعها تحت دَوحةٍ، ثم رجع إبراهيمُ إلى أهلِه، فاتَّبعته أمُّ إسماعيلَ حتى لما بلغوا كَداءَ نادته من ورائِه: يا إبراهيمُ إلى من تتركُنا؟ قال: إلى اللهِ، قالت: رضيتُ باللهِ، فرجعتْ وجعلتْ تشربُ من الشَّنَّةِ ويدِرُّ لبنُها على صبيِّها، حتى لما فَنِيَ الماءُ قالت: لو ذهبتُ فنظرتُ لعلي أُحِسُّ أحداً" په يو بل روايت کې دي چې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام اسماعيل عليه السلام او د هغه والده رضي الله عنها دواړه د ځان سره روان کړل، د دوی سره د اوبو يو مشك هم وو، ام اسماعيل رضي الله عنها به هغه اوبه څښلې او بچي ته به يې هم خپلې شيدې ورکولې، تردې چې دا قافله مکې مکرمې ته ورسېدل، هلته يې د يوې ونې لاندې پرېښودل، ابراهيم عليه السلام خپلې بلې کورنۍ ته د تللو لپاره واپس شول، هاجره رضي الله عنها د هغوی نه وروسته وروسته راتلل او کله چې مقام کداء ته راورسېدل، نو د وروسته څخه يې دوی ته اواز ورکړو چې اې ابراهيم عليه السلام! موږ دې د چا په اسره پرېښودلو؟ هغوی ځواب ورکړو چې د الله ﷻ په اسره؛ نو وې فرمايل: زه د الله ﷻ په حواله خوشحاله يم او واپس راغله، ترکومه چې يې په مشك کې اوبه وې هغه به يې څښلې او بچي ته به يې هم ورکولې، کله چې هغه اوبه ختمې شوې، نو وې ويل: اوس زما لره ذ اوبو لټون پکار دی، کېدی شي چې څوك په نظر راشي، "قال: فذهبت فصعدتِ الصَّفا، فنظرت ونظرت هل تُحِسُّ أحداً، فلم تُحِسَّ أحداً، فلما بلغتِ الوادي سعت، وأتتِ المروةَ، وفعلت ذلك أشواطاً، ثم قالت: لو ذهبتُ فنظرتُ ما فعل الصبيُّ، فذهبت فنظرت فإذا هو على حالِه، كأنَّه ينشَغُ للموتِ، فلم تُقِرَّها نفسُها فقالت: لو ذهبتُ فنظرتُ لعلي أُحِسُّ أحداً، فذهبت فصعدتِ الصَّفا، فنظرت ونظرت فلم تُحِسَّ أحداً، حتى أتمَّت سبعاً، ثم قالت: لو ذهبتُ فنظرتُ ما فعل، فإذا هي بصوتٍ، فقالت: أغِثْ إن كان عندك خيرٌ، فإذا جبريلُ فقال بعقبِه هكذا، وغمز بعقبِه على الأرضِ، فانبثق الماءُ فدهشت أمُّ إسماعيلَ، فجعلت تحفِنُ... وذكر الحديثَ بطولِه" نو د هغه ځای نه د صفا غونډۍ ته وختل، يو خوا بل خوا يې وکتل، ليکن هلته څوك په نظر رانغلل، د درې ښکته برخې ته راښکته شوه، د هغه ځای نه په منډه مروا باندې وختل، دغه شان يې څو چکرې ووهلې، بيا يې سوچ وکړو چې بچي ته کتل پکار دي، هلته چې راغله، نو وې کتل چې ماشوم هم هغه شان بې قراره پروت دی، داسې معلومېدو، لکه روح يې چې وتلې وي، په زړه کې يې وويل: بيا لاړه شه، کتل پکار دي چې کېدی شي څوك په نظر راشي، نو بيا د صفا غونډۍ ته راغله او يو خوا بل خوا يې کتل، ليکن

هلته هم څوك په نظر رانغلل، تردې چې په هم هغه بې ارامی کې يې د صفا او مروه په منځ کې اوه چکرې ولګولې، بيا يې دا خيال راغلو چې لاړه شم ماشوم وګوره چې په څه حال کې دی؟ دغه وخت يې يو اواز واورېدو، دې وويل: كه تاسو څوك نيكي كولی شئ، نو زمونږ امداد وكړئ، ناځاپه جبرئيل عليه السلام په نظر راغی چې هغه خپله پونده په ځمكه ووهل، نو د هغه ځای نه اوبه رواني شوې، هغې هر څه وليدل او حيرانه پاتې شوه او د اوبو نه يې شاوخوا كنده / حوض جوړول شروع كړل چې اوبه جمع شي، راوي ددې روايت نور تفصيل هم بيان كړی دی، دا ټول د بخاري روايات دي. رواه البخاري بهذه الروايات كلها.

الدَّوْحَةُ الشَّجَرَةُ الكَبِيرَةُ: الدوحة غټې ونې ته وايي، قولُهُ: قَفَّى: أيْ: وَلَّى، په شا باندې روان شو، وَالجَرِيُّ: الرَّسُولُ، استازی، وَأَلْفَى: معناه وَجَدَ، وې موندلو، قَوْلُهُ: يَنْشَغُ: أيْ: يَشْهَقُ د مندې له وجې ساه پورته او ښكته راتلل.

تشريح: بأم إسماعيل: د اسماعيل عليه السلام مور هاجره رضي الله عنها وه، اصلاً قبطيه وه، د مصر بادشاه ساره رضي الله عنها ته د خدمت لپاره وركړې وه، همدغې مېرمنې ابراهيم عليه السلام ته بيا په نكاح وركړه، الله ﷻ ورته يو زوی وركړو چې د هغه نوم اسماعيل عليه السلام دی، "ثم سعت سعى الإنسان المجهود" بيا هغې داسې منډې وهلې، لكه دردمند انسان چې څنګه منډې كوي، په دې كې د صفا او مروه تاريخي منډو ته اشاره ده، دا د صفا او مروه ترمينځ د هاجرې رضي الله عنها منډې وهل الله ﷻ ته دومره خوښې شوې چې اوس يې په حاجيانو باندې واجب ګرځولي دي، كوم حاجي چې حج كوي او د صفا مروه ترمينځ منډې ونه وهي، په هغه باندې يو دم يعنې پسه حلالول واجب دي، د امام شافعي رحمه الله په نزد دا سعي فرض ده، ليكن د احنافو په نزد واجب ده.

ويقول: غيّر عتبة بابك: ابراهيم عليه السلام ورته ووېل: د خپلې دروازې چوكاټ بدل كړه، دا د طلاق څخه كنايه ده، علماء فرمايي: كومه مېرمن چې د دين نه بې زاره وي او د دين پروا نه ساتي، نو كه پلار زوی ته ووايي چې ښځه دې پرېږده، په زوی باندې لازم دي چې د خپل پلار خبره ومني.

د (خريرې) اوبه ستركوته فايده وركوي

"وعن سعيد بن زيد رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يقول: الكَمْأَةُ مِنَ المَنِّ، وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلعَيْنِ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: خريرې د من (او سلوى) حصه ده او د هغې اوبه د نظر لپاره ګټورې دي. متفق عليه

لغوي تحقيق: الكماة: خريرې يو قسم بوټی دی چې زيات وخت په پسرلي كې كيږي.

تشريح: الكماة من المن: خريرې د الله ﷻ د نعمتونو څخه ډېر ستر نعمت دی كوم چې الله ﷻ خپلو بندګانو ته وركوي: ددې لپاره نه د كروندې ضرورت شته او نه د اوبو، الله ﷻ يې پرته له كروندې په پټو او پولو كې پيدا كوي، ځينې علماء فرمايي: د (من) څخه مراد د موسى عليه السلام د قوم (من او سلوى) دی، په دې صورت كې به مطلب دا شي چې لكه څرنګه د موسى عليه السلام په قوم باندې

(من نازلېدل چې په هغې باندې د کرلو تکليف نه وو، دغه شان خرېړې هم د کروندې او اوبو څخه بغير الله ﷻ پيدا کوي

وماءها شفاءٌ للعين: ددې اوبه د سترګو لپاره شفاء ده، علامه نووي رحمه الله فرمايي: ځينې علماء فرمايي: د خرېړې خالصې اوبه چې بل شی يا دوايي پکې شامله نه وي، د سترګو لپاره مفيد دی، ځينې وايي: که کومه بله دوايي ورسره شامله شي، نو بيا هم ګټوره ده، خو ښه خبره دا ده چې د کوم ماهر او هوښيار طبيب سره دې باره کې مشوره وشي چې کوم مرض سترګو ته ونه رسيږي.

كتاب الإستغفار

د الله ﷻ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غوښتل

باب الأمر بالاستغفار وفضله

د استغفار ويلو حکم شوی او د هغې فضيلت

"**قال الله تعالى:** وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ" الله ﷻ فرمايي: د خپلو ګناهونو لپاره د مؤمنانو سړو او ښځو لپاره د الله ﷻ نه بخښنه وغواړه! [محمد:۱۹]

تشريح: په آيت کې رسول الله ﷺ ته د استغفار ويلو حکم شوی دی، سوال دا دی چې رسول الله ﷺ خو معصوم ذات وو، د ګناهونو څخه پاك وو، نو هغه ته بيا څنګه د استغفار ويلو حکم شوی دی؟ جواب دا دی چې کله کله به اجتهادي غلطي وشوه، اګرچې هغه د شريعت په نظر کې ګناه نه وه، بلکې اجتهادي غلطي به وه، خو بيا هم په اجتهاد باندې ثواب شته، ليکن انبياء عليهم السلام د خپل اوچت شان له وجې دې ته هم ګناه وايي، نو په دې وجه به رسول الله ﷺ کثرت استغفار کولو، د ابن عمر رضي الله عنهما په روايت کې دي چې رسول الله ﷺ به په يو مجلس کې سل ځله استغفار کولو.

د الله ﷻ نه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړه

"وقال تعالى: وَاسْتَغْفِرِ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا" او د الله ﷻ څخه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړه! بې شکه چې الله ﷻ بخښونکی مهربان دی. [النساء:۱۰۶]

تشريح: د آيت څخه معلومه شوه چې کوم کس ګناه وکړي يا په خپل ځان ظلم وکړي يعنې داسې کومه ګناه ونه کړي چې د هغې اثر بل ته رسيږي، بلکې په هغه پورې موقوف وي او بيا هغه د الله ﷻ نه د شريعت مطابق معافي وغواړي چې په هغې کې د بندګانو حقونه هم داخل دي، نو الله ﷻ به يې معاف کړي، ځکه چې الله ﷻ ډېر زيات بخښونکی او رحم کونکی ذات دی.

د خپل رب تسبيح او تحميد بيان کړه

"وقال تعالى: فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا" د خپل رب پاکي په ثناء سره بيانوه او د خپلو ګناهونو بخښنه غواړه، بې شکه دغه الله ﷻ توبه قبلونکې ذات دی. [النصر:۳]

تشريح: مفسرين رحمهم الله ليکي: سورت النصر د قرآن کريم آخرينی سورت دی، ددې څخه وروسته په مکمله توګه کوم سورت نه دی نازل شوی، په دې سورت کې رسول الله ﷺ ته الله ﷻ حکم ورکوي چې تاسو د الله ﷻ نه بخښنه وغواړئ، عايشه رضي الله عنها فرمايي: ددې سورت نازلېدو نه وروسته رسول الله ﷺ به د هر لمانځه لپاره (سبحانك ربنا وبحمدك اللهم اغفرلي) ويلو چې ددې خبرې حکم په پورتني آيت کې ورکړل شوی دی، تسبيح، تحميد او استغفار ټول به يې سره جمع کړل، ام سلمه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ به په ولاړه، په ناسته، تلو راتلو کې، مطلب اکثره وختونو کې به يې دا کلمه ډېره ويل چې: سبحان الله وبحمده أستغفر الله وأتوب إليه.

مسلمان د سهار په وخت کې استغفار وايي

"وقال تعالى: لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ إلى قوله ﷻ: وَالْمُسْتَغْفِرِينَ بِالْأَسْحَارِ" ددې څ کو لپاره جنتونه شته کوم خلك چې د الله ﷻ نه ويرېږي، تر دې قول د الله ﷻ پورې چې: او په سـ ـر وخت کې د خپلو ګناهونو بخښنه غوښتونکي دي. [آل عمران:۱۵-۱۷]

تشريح: مکمل آيت: لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ وَرِضْوَانٌ مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ {۱۵} الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ {۱۶} الصَّابِرِينَ وَالصَّادِقِينَ وَالْقَانِتِينَ وَالْمُنْفِقِينَ وَالْمُسْتَغْفِرِينَ بِالْأَسْحَارِ {۱۷} لاندې به ترې نهرونه جاري وي، دوی به په دې جنت کې همېش وي او دوی ته به جنتي ميرمنې وي او د الله ﷻ له لورې به دوی ته رضامندي وي او الله ﷻ خپل بندګانويني، هغه خلك چې په خپلو دعاګانو کې وايي: اې الله! موږ ايمان راوړی دی، بس موږ ته زموږ ګناهونه وبخښه او موږ د جهنم له عذاب څخه بچ کړه، هغه خلك چې صبر کونکي دي، ربښتوني او تابعداري کونکي دي، هغه خلك چې د سهار پيشمني په وخت د خپلو ګناهونو معافي د الله ﷻ څخه غواړي، نو الله ﷻ فرمايي چې د داسې خلکو تعريف زه کوم.

مطلب دا چې دا ټول نعمتونه به هغه خلکو ته ملاوېږي چې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ خبره مني او په کومو خلکو کې چې دغه صفات وي: اول دا چې ايمان يې راوړی وي، په خپل ايمان کې د دوی هيڅ څه شك نه وي، بيا د الله ﷻ نه ويرېږي او د خپل رب څخه د خپلو ګناهونو معافي غواړي، په يو روايت کې دي چې د معاذ رضي الله عنه څخه روايت دی: رسول الله ﷺ وفرمايل چې په بندګانو باندې د الله ﷻ حق دا دی چې هغوی دې د الله ﷻ سره هيڅ شريك نه جوړوي او د بندګانو حق په الله ﷻ باندې دا دی چې الله ﷻ به عذاب نه ورکوي

الصادقين: يعني په کلمه طيبه (لا اله الا الله محمد رسول الله) کې ربښتونی وي، هيڅ شك يې

پکې نه وي، د زړه له اخلاصه يې اقرار کوي، "والمستغفرين بالأسحار" او د پيشمنۍ په وخت د خپلو ګناهونو معافي د الله ﷻ څخه غواړي، ځکه چې په دې وخت کې الله ﷻ اسمان دنيا ته نازليږي، (لکه څرنګه چې د هغه د شان سره لائقه وي) الله ﷻ فرمايي: څوک شته چې زما نه وغواړي او زه يې ورکړم، څوک شته چې زما څخه د ګناهونو معافي وغواړي او زه يې معاف کړم، نافع رحمه الله فرمايي عبد الله بن عمر رضي الله عنه به تهجد کول، بيا به يې ما ته وويل: سهار شو؟ ما به وويل: لا تر اوسه سهار شوی نه دی، هغه به بيا په لمانځه کې مشغول شو او کله چې به سهار شو، نو په استغفار کې به مشغول شو.

څوک چې د الله ﷻ نه معافي غواړي الله ﷻ معاف کوي

"وقال تعالى: وَمَن يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللَّهَ يَجِدِ اللَّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا" او کوم کس چې بد عمل وکړي يا په خان باندې ظلم وکړي او بيا د خپل خان لپاره د الله ﷻ څخه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړي، نو الله ﷻ بخښش کونکی مهربان ذات دی. [النساء:۱۱۰]

تشريح: په آيت کې مسلمانانو ته ترغيب ورکول شوی چې که ستاسو نه کومه غلطي يا ګناه وشي، برابره خبره ده چې په غلطۍ سره وي يا قصدا وي، که په پته وي او يا په ښکاره وي، که غټه ګناه وي او که وړه وي، بس په خپلو کړو پښېمانه کېدل پکار دي او الله ﷻ ته به توبه وباسي، نو د داسې کسانو توبه الله ﷻ قبلوي او د خپل رحمت څادر ورباندې غوړوي، کله کله خو داسې هم وشي چې د هغه ګناهونه معاف کړي او څومره ګناهونه يې چې کړي وي د هغې پر ځای ورته نېکۍ وليکي، (اللهم ارزقنا هذه البشارة) په هر حال کې استغفار ويل د فايدې څخه خالي نه وي چې د ګناهونو په بدله کې انسان ته نېکۍ ملاويږي، که نېکۍ ملاو نه شي، نو ګناهونه خو به معاف شي، په دې شرط چې د زړه له اخلاصه توبه وويستل شي.

د الله ﷻ د عذاب څخه د بچ کېدو دوه ذريعې دي

"وقال تعالى: وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ" او نه دی الله ﷻ چې دوی ته عذاب ورکړي په داسې حال کې چې تاسو د دوی په مېنځ کې يئ او نه دی الله ﷻ چې دوی ته عذاب ورکړي او حال دا چې دوی د خپلو ګناهونو بخښنه غواړي. [الأنفال:۳۳]

تشريح: وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ: او نه دی الله ﷻ چې دوی ته عذاب ورکړي په داسې حال کې چې تاسو د دوی په منځ کې يئ، مفسرين فرمايي: دا آيت مکي دی، کله چې نضر بن حارث يا ابو جهل د الهي عذاب څخه وبرول شو، نو دوی وويل چې: "اللهم إن كان هذا هو الحق من عندك فأمطر علينا حجارة من السماء وائتنا بعذاب أليم" په دې باندې دغه آيت نازل شو چې نبي کريم ﷺ تر څو په مکه کې وي تر هغې د مکې خلکو ته عذاب نه ورکوم او کله چې هجرت وکړي او مدينې منورې ته تشريف راوړي، نو په مکه کې کمزوري مسلمانان پاتې شول، تر څو چې دوی د الله ﷻ نه د خپلو ګناهونو معافي غواړي

تر هغې به عذاب نه راځي، ابو موسى اشعري ﷺ فرمايي : اې مسلمانانو! ستاسو د خلاصون خالص دوه لارې دي: يو دا چې استغفار به وايې او بل د رسول الله ﷺ ستاسو ترمينځ موجودګي، که نبي کريم ﷺ وفات شو، نو يوه لار به باقي پاتې وي او هغه دا چې استغفار به وايې.

په يو بل روايت کې دي چې ابو موسى اشعري ﷺ فرمايي رسول الله ﷺ وفرمايل : د عذاب څخه زما د امت د خلاصون لپاره دغه آيت نازل شو، "وماكان الله ليعذبهم وانت فيهم الخ" زه خو به د دنيا څخه کوچ وکړم، ليکن تاسو ته به تر قيامته پورې استغفار پرېږدم.

مفتي محمد شفيع رحمه الله فرمايي : ددې آيت څخه معلومه شوه چې کوم خلك استغفار وايي، په هغوى باندې الله ﷻ عذاب نه نازلوي او بل دا چې رسول الله ﷺ په خپله روضه مبارکه کې ژوندى او د رسول الله ﷺ رسالت تر قيامته پورې باقي دى، نو ځکه به دا امت تر قيامته پورې د عام عذاب څخه محفوظ وي.

په توبې سره لوى ګناهونه هم معاف کېږي

"وقال تعالى: وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ" او هغه خلك چې کله د بې حيايۍ کار وکړي او يا په ځانونو باندې ظلم وکړي او الله تعالى را ياد کړي او د خپلو ګناهونو بخښنه د الله ﷻ څخه وغواړي او څوك دي چې د الله ﷻ نه سيوا بل څوك ګناه معاف کړي او دوى همېش والى نه کوي په هغه ګناه چې کړې يې وي او دوى پوهېږي په دې خبره چې دا کار ښه نه دى. [آل عمران:۳۵] "والآيات في الباب كثيرة معلومة" په دې باب کې ايتونه ډېر زيات دي.

تشريح : دا آيت وراندې په (كتاب الأمور المنهي عنها ما يقوله ويفعله ومن ارتكب الخ ...) کې ذکر شوى دى.

ددې آيت شان نزول دا دى چې د يو کس کنيت ابو معبد وو، هغه ته يوه ښځه راغله د هغه نه يې خورما واخيسته، ابو معبد ورته ووېل : دننه کوټې ته راشه، هلته ښه خورما شته، کله چې هغه دننه راغله، نو هغه مچو (ښکل) کړه، په دې سره هغه سخت پرېشانه شو، د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او ټوله کيسه يې ورته بيان کړه، په دې باندې دغه آيت نازل شو، "ذكروا الله فاستغفروا لذنوبهم" الله ﷻ ياد کړئ، د خپلو ګناهونو بخښنه د الله ﷻ څخه وغواړئ، په يو روايت کې دي چې کله د يو انسان نه ګناه وشي او هغه دوه رکعته نفل وکړي او د الله ﷻ نه د خپلې ګناه معافي وغواړي، الله ﷻ يې معاف کوي، رسول الله ﷺ بيا دغه آيت تلاوت کړو: "والذين إذا فعلوا فاحشة أو ظلموا أنفسهم الخ...."

ولم يصروا على ما فعلوا: او په ګناه باندې همېشوالى ونه کړي، بلکې سمدستي يې پرېږدي، دا د توبې شرط دى، يو پښېمانتيا کول، بل ګناه پرېښودل او دريم دا چې د بيا لپاره به هغې ګناه ته نه ورځي، حسين بن فضيل رحمه الله فرمايي : مطلب دا چې هغه به په دې پوهېږي چې زما يو رب شته چې

ګناهونه معاف کوي، په دې وجه يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل، الله ﷻ فرمايي: کوم کس چې ددې اقرار کوي چې د ګناهونو معاف کوونکی زه يم، نو زه هغه بخښم او د هغه د ګناهونو زياتوالي هيڅ پروا نه کوم، خو په دې شرط چې زما سره به شريك نه جوړوي، په دې باب کې نور هم ډېر زيات ايتونه شته، لکه: "كانوا قليلاً مِّنَ الليل ما يهجعون وبالأسحار هُم يستغفرون، سورت الذاريات: (۲) ومن لم يتب فأولئك هم الظالمون، الحجرات: (۳) وتوبوا إلى الله جميعاً أيها المؤمنون لعلكم تفلحون، النور: (۴) قال رب إني ظلمت نفسي فاغفرلي فغفرله، القصص: (۵) ولمن صبروغفرإن ذالك لمن عزم الأمور، الشورى: (۶) وإن تغفرلهم فإنك أنت العزيز الحكيم: (۷) وإن لم تغفرلنا وترحمنا لنكونن من الخاسرين، الاعراف: (۸) وإلا تغفرلي وترحمني أكن من الخاسرين، الهود: (۹) أدخلوا الباب سجداً وقولوا حطة نغفرلكم خطاياكم، البقرة: (۱۰) فيغفرلمن يشاء ويعذب من يشاء، البقرة: (۱۱) ولله ما في السموات وما في الأرض يغفرلمن يشاء، آل عمران: (۱۲) إن الله لا يغفر أن يشرك به ويغفر ما دون ذالك لمن يشاء، النساء: (۱۳) لم يكن الله ليغفر لهم ولا ليهديهم طريقاً، النساء: (۱۴) لا تقنطوا من رحمة الله إن الله يغفر الذنوب جميعا، الزمر.

سل ځله استغفار ويل

وعن الأغر المزني ﷺ: أن رسول الله ﷺ قال: "إنه ليغان على قلبي، وإني لأستغفر الله في اليوم مئة مرة" د اغر مزني ﷺ روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله کله زما په زړه باندې پرده غوندې راشي او زه په ورځ کې پوره سل ځله استغفار وايم. رواه مسلم

لغوي تحقيق: ليغان: په زړه باندې پرده شان راتلل، غفلت راتلل.

تشريح: دا حديث وړاندې په باب کتاب المامورات باب التوبة کې ذکر شوی دی، مختصر وضاحت يې دا دی چې: "إنه ليغان على قلبي" پرده شان زما په زړه راشي، د (ليغان) جملې په معنی کې محدثين مختلف اقوال لري: (۱) يو دا چې رسول الله ﷺ چونکې دا غوښتل چې زما زړه د هميش لپاره د الله ﷻ په ياد کې مشغول وي، يو ذره غفلت دې پرې نه راځي او کله چې به په خوراك څښاك کې يا د خپلو ميرمنو سره مشغول پاتې شو، نو في الجمله غفلت به راتلو، نو دا به رسول الله ﷺ څه پرده او ګناه غوندې ګڼل او په دې به يې استغفار ويلو. (۲) دا حديث د متشابهاتو څخه دی، ددې علم الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ته دی چې د پردې څخه څه مراد دی، مونږ ته ددې علم نشته، (۳) د حديث محمول د خلاف اولی کارونو باره کې دی، کله کله به عزيمت پرېښودلی شو او په رخصت به عمل وشو يا خلاف اولی کار به يې اختيار کړو، په دې باندې به رسول الله ﷺ ډېر سخت خفه شو، ددې اثر به په زړه مبارك باندې پرېوتلو، نو ددې اثر لرې کولو لپاره به رسول الله ﷺ سل ځله استغفار وويلو، (۴) په طاعاتو او نېکيو باندې به يې هم استغفار ويل، يعنې څومره په اعلی طريقه سره چې عبادت پکار وو، هغسې ونه شو، نو په دې باندې به رسول الله ﷺ استغفار ويل، (۵) امام غزالي رحمه الله فرمايي: د رسول الله ﷺ په زړه مبارك به د الله ﷻ له لورې انوارات نازلېدل او برکات به منکشف کېدل، په دې کې به رسول الله ﷺ د هميش لپاره ترقي کول، نو څومره ترقي چې به يې کول هغومره به يې په سابقه حالت باندې استغفار ويلو.

داويا ځله نه زيات استغفار ويل

"وعن أبي هريرة ﷺ، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: والله اني لأستغفر الله وأتوب إليه في اليوم أكثر من سبعين مرة" د ابو هريره ﷺ روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: قسم په الله ﷻ چې زه په ورځ کې د اويا ځل نه زيات الله ﷻ ته استغفار او توبه وباسم. رواه البخاري

تشريح: نعوذ بالله د رسول الله ﷺ استغفار ويل په دې بنياد نه وو چې کنې د هغه څخه به کومه ګناه شوې وي او په هغې به يې استغفار ويلو، نه بلکې د عبادت چې کوم حق وو، ممکنه ده چې هغه نه وي پوره شوى، په هغې کې قصور شوى وي، نو په دې باندې به رسول الله ﷺ استغفار ويلو او ځينې محدثين فرمايي: د رسول الله ﷺ استغفار ويل اصلاً د امت لپاره تعليم دى، هغه دا چې رسول الله ﷺ اشرف المخلوقات دى، معصوم ذات دى، هغه استغفار وايي، نو امت خو بيخي ګناهګار دى. بايد دوى په طريق اولى سره زيات استغفار ووايي.

الله ﷻ بخښونکى ذات دى

"وعنه ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: والذي نفسي بيده لو لم تذنبوا لذهب الله تعالى بكم، ولجاء بقوم يذنبون، فيستغفرون الله تعالى، فيغفر لهم" د ابو هريره ﷺ روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح د هغه په قبضه کې ده، که چېرته تاسو ګناهونه پرېښودل، نو الله ﷻ به تاسو ورک کړي او يو داسې قوم به پيدا کړي چې هغوى به ګناه هم کوي او د الله ﷻ څخه به بخښنه هم غواړي او بيا به الله ﷻ هغوى ته بخښنه هم کوي. رواه مسلم

تشريح: دا حديث هم وړاندې په کتاب المامورات باب الرجاء کې ذکر شوى دى، خلاصه دا چې په دې حديث کې د الله ﷻ د غفوريت او کامل رحمت بيان دى، انسان چې کله ګناه وکړي، نو د هغه ګناه د الله ﷻ څخه پرته بل څوک نه شي معاف کولى، که د يو کس نه ګناه وشي، نو بايد تاخير پکې ونه کړي، بلکې سمدستي توبه وباسي، الله ﷻ به يې معاف کړي.

يوه غلطي او د هغې ازاله:

په دې حديث کې خداى مه کړه د ګناه ترغيب نه دى ورکول شوى، دا خو د انبياء عليهم السلام د بعثت خلاف خبره ده، مطلب يې دا دى چې که د بشريت په تقاضا کومه ګناه درنه وشي، نو سمدستي توبه ويستل پکار دي او کله چې توبه وباسي، نو بايد د الله ﷻ نه د معافى اميد وساتي، دې طرفته په حديث کې هم اشاره شوې ده، خلاصه دا چې په انسان کې د شر ماده اېښودل شوې ده، د همدې لپاره الله ﷻ د خپل صفت غفوريت مظاهره کوي او بنده الله ﷻ ته متوجه شي، بيا څنګه کېدى شي چې الله ﷻ به يې نه معاف کوي

په يو مجلس کې سل سل ځله استغفار ويل

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: كُنَّا نَعُدُّ لِرسولِ الله ﷺ في المَجْلِسِ الواحِدِ مِئَةَ مَرَّةٍ: رَبِّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ إنَّكَ أنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ سره يو ځل په مجلس کې ناست وو، مونږ د رسول الله ﷺ تسبيحات وشمارل، پوره سل ځله يې وويل، په دعاء کې به يې داسې ويل: **ترجمه**: اې الله! ماته بخښنه وکړې او زما توبه قبوله کړې او تاسو توبه قبلونکى او رحم کونکى ذات يې! رواه أبوداود والترمذي وقال: حديث حسن صحيح غريب.

تشريح: په حديث کې د رسول الله ﷺ عمل مبارك بيانيږي چې په يو مجلس کې به يې سل سل ځله استغفار ويلو، دا د ټول امت لپاره تعليم دى چې امت ته پکار ده په هر حال کې توبه او استغفار ووايي، د الله ﷻ په حضور کې د ګناهونو څخه پاك او صفا حاضر شي.

د توبې حقيقت

سيد الطائفة شيخ جنيد بغدادي رحمه الله څخه چا پوښتنه وکړه چې صيب! توبه څه ته وايي؟ هغوى ورته وويل: توبه دې ته وايي چې يو ځل د ګناه څخه توبه وباسې، نو د هغې ګناه خوند او لذت به هم د زړه څخه وباسې، سهيل تستري رحمه الله څخه پوښتنه وشوه چې د توبې حقيقت څه دى؟ وې فرمايل: ګناه مه هېروه، ددې لپاره چې د الله ﷻ د عذاب له وېرې اينده په ګناه باندې جرات مند نه شې، "رب اغفرلي وتب علي" اې الله! ما وبخښې او زما توبه قبوله کړې، کله چې د الله ﷻ نه د ګناهونو د بخښنې سوال کوې، نو بايد چې د الله ﷻ هغه صفتي نومونه ياد کړل شي چې په هغې کې د غفوريت او رحمت ماده ده، لکه: يا رحمن، يا رحيم يا کريم يا غفور او کله چې د الله ﷻ نه څه غواړې، نو پکار ده چې هغه نومونه ياد کړل شي چې په هغې کې د جود او کرم صفت وي، لکه: يا غني يا رزاق يا فتاح وغيره...

استغفار د هر کس غم ختموي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ لَزِمَ الاسْتِغْفَارَ جَعَلَ اللهُ لَهُ مِنْ كُلِّ ضِيقٍ مَخْرَجاً، وَمِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجاً، وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په لزوم او دوام سره استغفار وايي، الله ﷻ به د هغه لپاره د هرې تنګۍ نه لار وباسي، د هر غم نه به يې وساتي، د داسې ځاى نه به رزق ورکړي چې دده ګومان به هم نه وي. رواه أبوداود

تشريح: من لزم الاستغفار: څوك چې په ځان باندې استغفار ويل لازم کړي، مطلب دا چې په هر حالت کې استغفار وايي، برابره خبره ده چې بيماري وي، که راحت وي، غم وي او که خوشحالي وي، بله خبره دا چې په انسان باندې داسې يو حالت نه راځي چې هغه پکې استغفار ويلو ته ضرورت نه لري، نو الله ﷻ د هغه ګناهونه معاف کړي او د هر نوع پريشانۍ څخه يې وساتي او د داسې طرف څخه به ورته رزق ورکړي چې د هغه په وهم او ګومان کې به هم نه وي، په قرآن کريم کې ارشاد مبارك

دی "ومن یتق اللّٰه یجعل له مخرجا ویرزقه من حیث لا یحتسب" څوك چې د الله ﷻ نه ویریږي، الله ﷻ به ورته نولي لارې اساني کړي او د داسې ځای نه به ورته رزق ورکړي چې د هغه په ګومان کې به هم نه وي

په استغفار سره ستر/ لوی ګناهونه معاف کیږي

"وعن ابن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول اللّٰه ﷺ: مَنْ قَالَ: أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ وَأَتُوْبُ إِلَيْهِ، غُفِرَتْ ذُنُوْبُهُ، وَإِنْ كَانَ قَدْ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ" د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم کس چې داسې دعاء وکړي: زه بخښنه غواړم د هغه ذات نه چې نشته دده نه سیوا بل معبود، د همېش لپاره ژوندی ذات دی، زه ده ته توبه وباسم، دده به ټول ګناهونه معاف کړی شي، اګر که هغه د جهاد نه تښتېدلی وي، "رواه أبوداود والترمذي والحاکم وقال: حدیث صحیح علی شرط البخاري ومسلم".

تشریح: مطلب دا چې کله انسان د زړه له اخلاصه توبه وباسي، نو الله ﷻ د هغه توبه سمدستي قبلوي او د هغه ګناهونه معاف کړي او کله چې الله ﷻ د چا توبه قبوله کړي، نو بیا الله ﷻ ددې پروا نه کوي چې څنګه ګناهونه یې کړي وي او څومره یې کړي دي، ټول ګناهونه ورته الله ﷻ معاف کوي، تردې چې د جهاد نه تښتېدل څومره لویه ګناه ده، هغه هم ورته الله ﷻ معاف کوي، علامه ابن علان رحمه الله فرمایي: په دې جمله کې چې: "وإن کان قد فر من الزحف" اشاره ده دې خبرې ته چې الله ﷻ یې ټول ګناهونه معاف کوي، تردې چې د لویو ګناهونو د معافی زیری هم پکې شته، "حدیث صحیح علی شرط البخاري ومسلم" دا حدیث د بخاري او مسلم په شرط باندې صحیح دی، مطلب دا چې دا روایت د بخاري او مسلم د راویانو څخه نقل دی او په دې کې د هغه شرطونو خیال ساتل شوی چې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله یې لحاظ ساتلی دی.

سید الإستغفار

"وعن شدّاد بن أوس رضی الله عنه، عن النبيّ ﷺ، قال: سَيِّدُ الاسْتِغْفَارِ أَنْ يَقُوْلَ الْعَبْدُ: اَللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ" د شداد بن اوس رضی الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تر ټولو لویه توبه او استغفار دا دی چې یو بنده داسې ووایي: اې الله! ته زما رب یې، نشته لائق د عبادت سېوا ستا نه، زه تا پیدا کړی یم او زه ستا بنده یم، تر کومه چې زما وس او طاقت وي تر هغې به زه ستا په وعدو او عهد باندې کلك ولاړ یم، "أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوْءُ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا أَنْتَ. مَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوْقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ" اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د خپلو عملونو د شر نه، زه ستا د نعمتونو او د خپلو ګناهونو اعتراف کوم، بس تا سو ماته بخښنه وکړئ؛ ځکه چې بل څوك ګناهونه نه بخښي سېوا ستا نه، کوم کس چې دا دعاء په پوره یقین سره سهار ووایي او بیا د ماښام نه مخکې هغه مړ شي، دا سړی جنتي دی، "وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ، وَهُوَ مُوْقِنٌ بِهَا، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ" او کوم کس چې یې د شپې ووایي او په دې یې پوره یقین وي او د سهار کېدو نه مخکې وفات شي، نو دا کس جنتي دی. رواه البخاري

لغوي تحقيق: أبوءُ بباءِ مضمومةٍ ثم واوٍ وهمزةٍ ممدودةٍ ومعناه: أقرُّ وأعترِفُ: د ابوء معنی ده: اعتراف کول

تشريح: دې استغفار ته سيد الاستغفار ويل کيږي، علامه طيبي رحمه الله فرمايي: په دې کې تول مقصدونه جمع کيږي، نو ځکه ورته سيد الاستغفار ويل کيږي، "من شرما صنعت" يعنې د هغه عذاب نه چې د ګناه په وجه په انسان باندې راځي، ددې عذاب نه په تا سره پناه غوارم، ابن ابي جمره رحمه الله فرمايي: په دې حديث کې دومره ښکلي الفاظ او ښکلي معناګانې دي چې قابل ددې دي چې دې ته سيد الاستغفار وويل شي، په دې کې د الله ﷻ الوهيت سره د خالقيت اعتراف هم دی، ددې حقيقت اقرار هم پکې دی چې د انسان نه اخيستل شوی دی او د کوم شي وعده چې الله ﷻ فرمايلې ده د هغې اميد هم پکې شته او د هغې جرمونو اعتراف هم دی چې انسان کړي وي او مغفرت طرفته هم پکې رغبت دی او په پای کې ددې خبرې اعتراف هم دی چې په دې تولو شيانو باندې الله ﷻ قدرت او طاقت لري

د لمانځه وروسته به رسول الله ﷺ درې ځله استغفار ويل

"وعن ثوبان رضي الله عنه قال: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلَاتِهِ، اسْتَغْفَرَ اللّٰهَ ثَلَاثًا وَقَالَ: اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ" د ثوبان رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د سلام اړولو، نو درې ځله به يې استغفرالله وويل، بيا به يې داسې وويل: **ترجمه**: اې الله! ته سلام ذات يې او سلامتيا هم ته ورکوې، برکت والا ذات ته يې، تاسو خاوند د لويي او عزت والا يې! "قِيلَ لِلْأَوْزَاعِيِّ -وَهُوَ أَحَدُ رُوَاتِهِ-: كَيْفَ الْاِسْتِغْفَارُ؟ قَالَ: يَقُولُ: أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ، أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ" امام اوزاعي رحمه الله چې ددې حديث يو راوي دی، چا ووېل: استغفار به يې څنګه ويلو؟ هغه ورته وويل: داسې به يې درې ځله وويل: (استغفرالله استغفر' ستغفرالله). رواه مسلم

تشريح: دا حديث وړاندې په (کتاب الاذکار باب فضل الذکر والحث عليه) کې ذکر شوی دی، خلاصه دا چې د سلام اړولو وروسته ذکر شوې دعاء، يا کومه بله مختصر شان دعاء، لوستل د رسول الله ﷺ معمول وو، خو دا هغه وخت چې کله به د فرض نه وروسته سنت وو، لکه د ماسپښين، ماښام او ماسخوتن لمونځونه او د کومو فرضو څخه وروسته چې سنت نه وو، لکه: د سهار لمونځ يا د مازيګر لمونځ، نو د هغې نه وروسته به تر ډېره وخته پورې رسول الله ﷺ کښېناستلو، په دې وجه ډېر زيات علماء د سهار لمانځه وروسته تر لمر راختلو پورې او د مازيګر نه د لمر تر ډوبېدو پورې په ذکر کې مشغول وو.

رسول الله ﷺ د وفات څخه وړاندې زيات استغفار ويلو

"وعن عائشة رضي اللّٰه عنها، قالت: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ قَبْلَ مَوْتِهِ: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ، أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ، وَأَتُوبُ إِلَيْهِ" د عايشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د وفات کېدو نه لږ وړاندې داسې تسبيحات کول، اې الله! پاکي ده تا لره، اې الله! تا لره صفتونه دي او زه د خپلو ګناهونو بخښنه

ستاسو نه غواړم او اې الله! زه تاسو ته توبه وباسم. متفق عليه

تشريح: دا حديث وړاندې په (كتاب المأمورات باب الحث على الازدياد من الخير في أواخر العمر) كې تېر شوى دى، مطلب دا چې انسان ته پكار دي چې هر وخت توبه او استغفار كوي، ځكه چې ځينې ګناهونه د انسان نه غير اختياري كيږي، ددې د معافي يوه لاره همدغه ده چې زيات استغفار وويل شي، ليكن بيا د ژوند په اخري پړاو كې خو يې بيخي ويل پكار دي، يو خو دا د رسول الله ﷺ سنت دي او بل دا چې د انسان ملاقات د الله ﷻ سره كيږي، نو د ګناهونو ځخه به پاك او صفا وي.

انسان چې هر څومره ګناهونه وكړي الله ﷻ يې ورله معافوي

"وعن أنس ﷺ قال: سمعتُ رسولَ اللهِ ﷺ يقولُ: قَالَ اللّٰهُ تعالى: يَاابنَ آدمَ إِنَّكَ مَادَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي غَفَرْتُ لكَ على مَا كَانَ مِنكَ وَلاَ أُبَالِي، يَاابنَ آدمَ، لَوبَلَغتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ، ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي، غَفَرْتُ لكَ وَلاَ أُبَالِي" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ فرمايي: اې د آدم زويه! واوره! تر څو پورې چې زما ځخه غواړې او د اميد رشته باقي ساتې، نو زما به دا پروا نه وي چې تا څومره لوى جرم كړى دى، زه به ټول درته معاف كړم، اې د آدم زويه! كه ستا ګناه د آسمان تر ټوله فضاء ډكه كړي، د هغې نه وروسته هم ته زما ځخه مغفرت طلب كړې، نو زه به د هيڅ شي پروا كولو بغير تا معاف كړم، "يَاابنَ آدَمَ، إِنَّكَ لَوْ أَتَيْتَنِي بِقُرَابِ الأَرْضِ خَطَايَا، ثُمَّ لَقِيتَنِي لاتُشْرِكُ بِي شَيْئاً، لأَتَيْتُكَ بِقُرابِهَا مَغْفِرَةً" او اې د آدم زويه! كه چېرته ټوله ځمكه د ګناه نه ډكه كړې، خو په دې شرط چې زما سره دې شريك نه وي جوړ كړى، نو ستا ټول ګناهونه به لرې كړم، ستا سره به د مغفرت په حالت كې ملاو شم. رواه الترمذي، وقال: حديث حسنٌ.

لغوي تحقيق: عَنَانَ السَّمَاءِ بفتح العين: قِيلَ هُوَالسَّحَابُ، وَقِيلَ: هُوَمَاعَنَّ لَكَ مِنهَا، أَيْ ظَهَرَ: د عنان السماء نه مراد وريځې دي او څا ويلې دي چې ددې نه مراد هغه دى چې ظاهر وي، "وَقُرَابُ الأَرْضِ بضم القاف، وروي بكسرها، والضم أشهر، وَهُوَمَايُقَارِبُ مِلأَهَا" د قراب الارض نه مراد ډكه ځمكه ده.

تشريح: دا حديث هم وړاندې په (كتاب المامورات باب فضل الرجاء) كې ذكر شوى دى، په دې حديث كې ګناهګارو ته زېرى دى چې دوى كه هر څومره ګناهونه وكړي، خو چې د زړه له اخلاصه توبه وباسي او بل دا چې په ګناه اصرار ونه كړي، الله ﷻ يې معاف كوي، د توبې لپاره يو شرط دا دى چې په ګناه به اصرار نه كوي، بل دا چې په راتلونكي وخت كې به ترې ځان ساتي او په تېرو ګناهونو به پښېمانه وي، د لويو ګناهونو لپاره توبه شرط ده او صغيره يعنې وړوكي ګناهونه په نېكو اعمالو سره ختميږي، لكه: لمونځ، اودس، صدقه او خيرات وغيره

ښځوته د رسول الله ﷺ وصيت

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أن النبي ﷺ قال: يامعشر النساء تصدقن وأكثرن من الاستغفار فإني رأيتكن أكثر أهل النار قالت امرأة منهن: مالنا أكثر أهل النار؟ قال: تكثرن اللعن وتكفرن العشير" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ ښځو ته وفرمايل چې اې د ښځو ټوليه! تاسو صدقې ورکوئ او زيات استغفار وايئ، ځکه چې زه تاسو ډېرې زياتې په جهنم کې وينم، يوې ښځې پوښتنه وکړه: يا رسول الله ﷺ! دا څه وجه ده چې موږ به زياتي جهنم ته ځو؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: يوه وجه دا ده چې تاسو لعنت زيات وايئ او دويمه وجه دا ده چې د خپل خاوند زياته ناشکري کوئ؛ "ما رأيت من ناقصات عقل ودين أغلب لذي لب منكن" ستاسو نه زيات د کم عقل او ناقص دين په لحاظ سره زياته غلبه موندونکې په سړو باندې بل څوک نه دي ليدلي، "قالت: ما نقصان العقل والدين؟ قال: شهادة امرأتين بشهادة رجل، وتمكث الأيام لا تصلي" هغې ووېل: زموږ د عقل او دين څنګه کمزوري دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: کم عقلي خو دا ده چې ستاسو د دوه ښځو شاهدي د يو سړي برابره ده، د ناقص دين مطلب دا دی چې تاسو ډېرې ورځې انتظار کوئ چې لمونځ نه کوئ؛ (يعنې د حيض په موده کې تاسو نه روژه نيسئ او نه هم لمونځ کوئ!) رواه مسلم

تشريح: يامعشر النساء: اې د ښځو ډلې! رسول الله ﷺ په دې حديث کې د مسلمانانو ښځو اهميت ته اشاره کړې ده، "فإني رأيتكن أكثر أهل النار" ما په جهنم کې زياتې ښځې وليدلې، دا واقعه د معراج ده، هغه وخت رسول الله ﷺ ته د جنت او دوزخ دواړو نظارې وښودل شوې.

په حديث کې د ښځو يو فطري کمی او نقصان بيان شوی دی، هغه دا چې په دوی کې د عقل او دين کمی دی، په دې وجه شريعت د ښځو شاهدي د سړو د شاهدۍ په نيمايي باندې منلې ده، استغفار ويل او صدقه ورکول د جهنم نه د خلاصون لاره ده او ګناهونه ورسره معاف کيږي، نو ځکه رسول الله ﷺ ښځو ته ددې شيانو د اهتمام تاکيد وفرمايلو

باب بيان ما أعدّ الله تعالى للمؤمنين في الجنة

ددې بيان چې الله ﷻ د مؤمنانو لپاره څه تيار کړي دي

"قال الله تعالى: إن المتقين في جنات وعيون ادخلوها بسلام آمنين ونزعنا ما في صدورهم من غل إخوانا على سرر متقابلين" الله ﷻ فرمايي: بې شکه متقيان خلک به په جنت کې وي، په چينو کې به وي، دوی به په سلامتيا سره جنت ته داخل کړی شي او د دوی د سينو نه به هغه حسد وغيره راوباسي چې په دوی کې وو او دوی به ورونه ورونه شي، په تختو به يو بل ته مخامخ ناست وي، "لا يمسهم فيها نصب وما هم منها بمخرجين" دوی به په دې جنت کې نه ستړي کيږي او نه به دوی ددې جنت نه راوباسلی شي. [الحجر: ۴۵-۴۸]

تشريح: إن المتقين في جنت وعيون: بې شکه چې متقيان به په جنت او چينو کې وي، عبد الله بن

عباس رضي الله عنه فرمايي: جنتيان چې کله جنت ته داخلیږي، نو دوی ته به دوه ډوله چینې وړاندې کړي، د اولنۍ چینې نه چې اوبه وڅښي، نو ټول بغض او حسد چې بې د يو بل سره په زړونو کې وي، هغه به ووېنځل شي، ځکه چې بغض او حسد هم یو عذاب دی او په جنت کې هيڅ تکليف او مصيبت نشته، نو جنت ته د داخليدو نه وړاندې به دغه اثر ختم شي، "على سرر متقابلين" په تختو به يو بل ته مخامخ ناست وي، مجاهد رحمه الله فرمايي: په جنت کې به د چا شاته کېنستل نه وي او کله چې کوم جنتي د خپل مسلمان ورور سره ملاقات کول غواړي، نو هغه تختې به بې روان کړي او د هغه سره به مخامخ ملاقات وکړي.

په جنت کې هر څه دي

"وقال تعالى: يَا عِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا أَنْتُمْ تَحْزَنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا مُسْلِمِينَ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ أَنْتُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُونَ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِنْ ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ وَأَنْتُمْ فِيهَا خَالِدُونَ" الله جل جلاله فرمايي: اې زما بندګانو! په تاسو به نن ورځ نه څه وېره وي او نه به غمجن يئ، هغه کسان چې زما په ايتونو بې ايمان راوړی دی او دوی مسلمانان وي، (دوی ته به وويل شي) جنت ته تاسو او ستاسو ښځې د همېش لپاره داخل شئ! دوی ته به داسې لوښي راوړلي شي چې د سرو زرو او سپينو زرو څخه به جوړ وي او داسې جامونه به راوړي چې د شرابو څخه به ډک وي او دوی ته به په دې جنت کې هغه شيان وي چې د دوی سترګې پرې يخيږي او کوم څه چې دوی غواړي او دوی به په دې جنت کې د همېش لپاره وي، "وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ لَكُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِنْهَا تَأْكُلُونَ" او دغه جنت دی چې دوی ته په ميراث کې ملاو شو په سبب د هغو عملونو چې دوی کړي دي، دوی ته به په دې جنت کې ډېرې ميوې وي د کومو څخه چې به دوی خوراك کوي. [الزخرف: ۶۸-۷۳]

تشريح: معتمر بن سليمان د خپل پلار نه روايت کوي، وايي: يو ځل زما پلار وويل چې ما دا خبره اورېدلې ده چې کله خلك د قبرونو څخه راپورته شي، نو ټول به ويرې راخيستي وي، يو اواز کونکی به اواز وکړي چې: "يا عبادلاخوف عليكم اليوم ولا أنتم تحزنون" دا جمله چې ټول خلك واوري، نو خوشحاله به شي، بيا به اواز کونکی اواز وکړي چې: "الذين آمنوا بآياتنا وكانوا مسلمين" دا جمله چې کله واوري، نو هغه خلك چې خپل ژوند بې په ګمراهۍ کې ضايع کړی دی نا اميده به شي.

أنتم وأزواجكم تحبرون: علماء فرمايي: (تحبرون) داسې خوشحالۍ ته وايي چې د هغې اثر په مخ ظاهرېږي، جنتيان به په جنت کې داسې خوشحاله وي چې د هغې اثر به د دوی په مخونو ليدلی شي، "وفيها ما تشتهيه الأنفس وتلذ الأعين" دوی ته به په جنت کې هر هغه څه وي چې څه د دوی زړه غواړي او په دې سره به د دوی سترګې يخيږي، يو صحابي رضي الله عنه ووېل: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! زما اسونه ډېر خوښ دي، په جنت کې به اسونه وي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: که الله جل جلاله تا جنت ته داخل کړي، نو تاته به په جنت کې هغه څه ملاويږي چې ستا زړه غواړي او سترګو ته دې پکې خوشحالي ملاويږي، "تلك

الجنة التي أورثتموها بما كنتم تعملون" قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله فرمايي: د رسول الله ﷺ ارشاد دى چې د هر انسان يو كور په جنت كې او بل په جهنم كې دى، د كافر سرې جنتي كور به مؤمن مسلمان ته په ميراث كې وركړل شي او هم دغه ددې آيت مطلب دى. "لكن فيها فاكهة كثيرة" په يوه موقع باندې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه شام ته لاړو، هلته په يو مجلس كې د جنت تذكره شروع شوه، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وويل: د جنت يوه غونچه (ټوټه) دومره ده لكه ددې ځاى نه تر صنعاء (د يمن يو بازار دى) پورې، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: د جنتي ميوې اوږدوالى به دوولس ګزه وي او په مينځ كې به هډوكى نه لري

په جنت كې وريښمي جامې

"وقال تعالى: إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَابِلِينَ" الله جل جلاله فرمايي: بې شكه متقيان به د امن په ځاى كې وي، په باغونو كې به وي، په چينو كې به وي، دوى به نري او غټ وريښم اغوستي وي، "كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ آمِنِينَ" الله جل جلاله فرمايي: دغه شان موږ به دوى ته د غټو سترګو والا حورې په نكاح كې وركړو، دوى به ځان ته هر قسم ميوه رابولي، په داسې حال كې چې په امن كې به وي، "لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ وَوَقَاهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ" دوى به هلته مرګ نه څكي، مګر هغه اولنى مرګ چې په دنيا كې دوى ته ورسېدلو او الله جل جلاله به دوى د جهنم له عذابه وساتي، دا ستا د رب فضل دى او دغه لويه كاميابي ده. [الدخان: ۵۱–۵۷].

تشريح: په دې شپږو ايتونو كې د انسان هغه شپږ ضرورتونه بيان شوي دي چې هر وخت ورته اړتيا لري، هغه دا دي: (۱) كور، (۲) جامې، (۳) مېرمن، (۴) خوراك، (۵) ځښاك، دا نعمتونه چې تر ډېره اندازه موجود وي، نو (۶) غم او پريشاني هم نه وي، په جنت كې به دا شپږ شيان ملاويږي او په كامله توګه به ملاويږي چې ددې تصور او خيال هم په دنيا كې محال او ناممكن دى.

سندس واستبرق: دا جنتي جامې دي، كعب رضي الله عنه فرمايي: كه څوك په دنيا كې جنتي جامې واغوندي، نو د ډېرې ښكلا او ښايست په وجه به خلك بې هوښه شي، "وزوجناهم بحور عين" د تزويج معنى ده: جوړه يا نكاح، مطلب دا چې د جنتي مېرمنو چې حورې دي د هغوى نكاح به د جنتي انسان سره د اكرام او اعزاز په توګه وكړل شي او كه د جوړې معنى واخيستل شي، نو مطلب به يې دا شي چې جنتي حورې به جنتي انسان ته د جوړې په توګه وركړل شي، د نكاح ضرورت به پېښ نه شي، "لا يذوقون فيها الموت إلا الموتة الأولى" مطلب دا چې په دنيا كې يو ځل د مرګ پياله څښل كيږي، بيا به مرګ نه راځي، دا د جنتيانو لپاره يو زيرى دى چې دوى به پرې دومره خوشحاله شي چې حد به نه وي، ددې برعكس كله چې دا اعلان وشي چې بس بيا مرګ نشته، نو جهنميان به دومره خفه شي چې د خفګان به يې څه حد نه وي، ځكه چې دوى به پوه شي چې بس اوس په دې جهنم كې د همېش لپاره اوسېدل دي، وتل ترې نشته

د جنتيانو مخونه به تازه وي

"وقال تعالى: إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنْظُرُونَ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ يُسْقَوْنَ مِنْ رَحِيقٍ مَخْتُومٍ خِتَامُهُ مِسْكٌ وَفِي ذَلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ وَمِزَاجُهُ مِنْ تَسْنِيمٍ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ" الله ﷻ فرمايي: بې شکه نېک خلك به په نعمتونو کې وي، په تختو به ناست وي دوی به گوري، ته به د هغوی په مخونو باندې د جنت د نعمتونو اثرات پېژنې، په دوی به شراب څښلی شي، مهر (ټاپه) شوي به وي او مهر (ټاپه) به يې د مشکو وي، د خدای په دې نعمتونو کې دې خلك د يو بل نه وړاندې والی وکړي، د تسنيم گډون به پکې وي؛ تسنيم په جنت کې يوه چينه ده چې مقرب خلك به ترې اوبه څښي [المطففين: ۲۲-۲۸] والآيات في الباب كثيرة معلومة.

تشريح: على الأرآئك ينظرون: په تختونو به ناست وي د جنت سيل به کوي، قتاده رحمه الله فرمايي د بعض جنتيانو په قول به د جهنميانو سيلونه کوي چې څرنگه په عذاب کې مبتلا دي، قاضي ثناءالله رحمه الله فرمايي: د خپل رب نظاره به کوي او کفار به د الله ﷻ د ديدار څخه محروم وي.

يسقون من رحيق مختوم ختامه مسك: رحيق خالص شرابو ته وايي، په کومو کې چې هيڅ گډون نه وي، مختوم مهر/ ټاپې ته وايي، يعنې ټاپه به پرې وهل شوې وي، (لکه نن سبا چې سيل بند ورته ويل کيږي) او څينې وايي: مختوم مخلوط ته وايي: يعنې په دې شرابو کې به کستوري هم شامل وي چې د هغې خوند او مزه ورسره نوره هم زياته شي.

وفي ذالك فليتنافس المتنافسون: تنافس دې ته وايي چې يو څو کسان وي او دوی ته يو ښکلی شی مخې ته کېښودل شي او ورته وويل شي چې دا شی څوك تر ټولو وړاندې راواخلي د هغه به وي، نو هر کس دا کوشش کوي چې زه د هغه بل کس نه وړاندې شم، دلته الله ﷻ انسانانو ته ترغيب ورکوي چې د دنيا په شيانو کې خو د يو بل نه ښه وړاندې کيږئ او سره له دې چې دا ټول فاني دي، دلته د قناعت څخه کار واخلئ، اصل تنافس او مقابله او د يو بل څخه وړاندې والی خو د جنت په شيانو کې پکار دی کوم چې همېش او ابد الابد دي.

ومزاجه من تسنيم: په دې شرابو کې به تسنيم شريک وي. د تسنيم معنی ده: اوچت ځای، د اوبو کوهان ته هم تسنيم وايي. څکه چې هغه هم د اوبو په ټول بدن کې اوچت ځای دی، مطلب دا چې په شرابو کې به د تسنيم چينې څخه د لږ خوند لپاره ملاوټ هم وکړل شي، دا د جنت تر ټولو غوره او اعلی شراب دي. عبد الله بن عباس رضي الله عنه او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: تسنيم د مقربو خلکو لپاره خاص ده، مقرب خلك به يې د ملاوټ څخه بغير ددې نه څښي او د پاتې جنتيانو لپاره به پکې ملاوټ کيږي.

د جنتيانو خوراک

"وعن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: يَأْكُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فِيهَا، وَيَشْرَبُونَ، وَلَا يَتَغَوَّطُونَ، وَلَا يَمْتَخِطُونَ، وَلَا يَبُولُونَ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې جنتيان به د جنت نعمتونه خوري او اوبه به يې څښي، ليکن نه به ډک اودس ماتى کوي، نه به بلغم توی کوي او نه به متيازې کوي، "وَلٰكِنْ طَعَامُهُمْ ذٰلِكَ جُشَاءٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ" ليکن د دوى هضمه به ډرقى/ تېغ وي، ددې خوشبو به د مشکو په څېر وي، "يُلْهَمُونَ التَّسْبِيحَ وَالتَّكْبِيرَ، كَمَا يُلْهَمُونَ النَّفَسَ" دوی به سبحان الله الحمد لله داسې عادتي وايي، لکه ساه چې اخلې او بېرته يې وباسي. رواه مسلم

تشريح: په حديث کې د جنت ژوند بيان شوی دی، په جنت کې به هيڅ نجاست نه وي، نه به د پوزې څخه نزله او زکام وغيره خارجيږي او نه به لاټې تويولی شي، نه به پکې ډکې متيازې وي او نه نشې متيازې وي، بلکې ددې برعکس به ډرقی/ تېغ او خوله په بدن راځي چې په دې سره به ټول خوراک هضم شي.

سوال: په ځينو رواياتو کې ډرقی/ تېغ راځي او په ځينو کې خوله ذکر ده، ددې ترمينځ تطبيق څه دی؟

جواب: دا فرق به د اشخاصو او وختونو په اعتبار سره وي، يعنې ځينې وخت او د ځينو کسانو اودس ماتى به د ډرقي په ذريعه خارجيږي، په ځينې وخت او د ځينو کسانو د اودس ماتي څخه به خوله جوړه شي او خارجه به شي ترې، ځينې وايي چې خوراک به يې د ډرقي په شکل خارجيږي او څښاک به يې د خولې په شکل کې وي، "يلهمون التسبيح والتكبير كما يلهمون النفس" دوی ته به تسبيحات او تکبيرات داسې القاء شي، لکه څرنګه چې ساه اخلي، مطلب دا چې لکه څرنګه په ساه اخيستلو کې انسان ته څه تکليف نه وي، بلکې خپله به خارجيږي، هيڅ بوج به ورته نه محسوسيږي، نو دغه شان جنتي انسان به هم تسبيحات او تکبيرات داسې وايي، لکه ساه اخيستل شو چې په دې کې به دوی ته هيڅ قسم تکليف نه محسوسيږي، په خپله به د دوی په ژبه ذکر جاري وي، خلاصه دا چې د جنتيانو په هره ساه اخيستلو سره به د الله ﷻ شکر او ذکر ادا کيږي.

د جنت نعمتونه د چا په تصور کې هم نشته

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: قال الله تعالى: أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ فرمايي: ما د خپلو بندګانو لپاره هغه نعمتونه تيار کړي دي چې نه د دوی سترګو ليدلي دي، نه يې په غوږونو اورېدلي دي او نه يې په زړونو کې تېر شوي دي، "وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ: فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: دغه تلاوت وکړئ چې يو نفس نه پوهيږي چې ما ورته کوم د سترګو يخوالی پټ ساتلی دی، دا د دوی د نېکو عملونو بدله ده. [السجدة: ۱۷] متفق عليه

تشريح: کله چې رسول الله ﷺ د الله ﷻ ارشاد مبارك نقل کړو، نو دې ته حديث قدسي وايي، دا حديث هم حديث قدسي دی.

ما لَا عينٌ رأتْ: تر ننه پورې چا په سترګو نه دي ليدلي، مطلب دا چې د جنت اعلی مناظر، آوازونه، شکل او صورت، د هغه ځای نعمتونه تر ننه پورې چا په سترګو نه دي ليدلي، دغه شان دغه نعمتونه نه چا په غوږونو اورېدلي دي او نه د کوم انسان تصور او خيال ته رسېدلي دي.

قرة أعين: د سترګو يخوالی، مطلب دا چې انسان کله خپل خوښ شی ووينې، نو په سترګو کې يې يو خاص خوند او لذت محسوس شي چې د هغې اثر زړه ته رسيږي، تر څو يې چې خپل خوښ شی نه وي ليدلی، تر هغې به يې په زړه کې درد او بې خوندي وي.

په جنت کې د جنتيانو مخونه

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: أَوَّلُ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ على صُورَةِ القمرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ" د أبو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اولنۍ هغه جماعت چې جنت ته به داخل شي، د هغوی مخونه به د څوارلسمې سپوږمۍ په شان ځليږي، "ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ على أَشَدِّ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً" وروسته چې کوم جماعت داخل شي، د هغوی مخونه به د ځلېدونکو ستورو په شان وي کوم چې په آسمان کې ځليږي، "لاَ يَبُولُونَ" تشې متيازې به نه کوي، "وَلاَ يَتَغَوَّطُونَ" نه به ډکې متيازې کوي، "وَلاَ يَتْفُلُونَ" نه به لاړې توی کوي، "وَلاَ يَمْتَخِطُونَ" او نه به ګرنګ (نزله) توی کوي، "أَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ" ږمنځې به يې د سرو زرو وي، "وَرَشْحُهُمُ المِسْكُ" خوله به يې د مشکو په شان خوشبويه وي، "وَمَجَامِرُهُمُ الأَلُوَّةُ عُودُ الطِّيبِ" د دوی په نغريو / انګيټو کې به د عود لرګي د خوشبو لپاره وي، (ځينې طاقچې به داسې وي چې په هغې کې د عود لرګي ايښودلی شي او ور به ورته بل کړي، هغه به بيا خوشبو کوي) "أَزْوَاجُهُمُ الحُورُ العِينُ" د دوی مېرمنې به د غټو غټو سترګو والا حورې وي، "على خَلْقِ رَجُلٍ وَاحِدٍ، على صُورَةِ أَبِيهِمْ آدَمَ سِتُّونَ ذِرَاعاً فِي السَّمَاءِ" ټولې به د يو سړي په شکل کې د خپل پلار آدم عليه السلام په صورت وي، قدونه به يې شپېته ګزه وي. متفق عَلَيْهِ

وفي رواية البخاري ومسلم: آنِيَتُهُمْ فِيهَا الذَّهَبُ: د بخاري او مسلم په روايت کې دي چې د دوی لوښي به د سرو زرو وي، "وَرَشْحُهُمُ المِسْكُ" خوله به يې د مشکو په شان خوشبو کوي، "وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ" هر سړي ته به دوه دوه ښځې وي، "يُرَى مُخُّ سَاقِهِمَا مِنْ وَرَاءِ اللَّحْمِ مِنَ الحُسْنِ" د دوی د ښکلا دا حالت به وي چې د دوی د پنډو دننه هډوکي کې به حرام مغز ليدلی شي، "لاَ اخْتِلاَفَ بَيْنَهُمْ" د دوی په خپل مينځ کې به هيڅ اختلاف نه وي، "وَلاَ تَبَاغُضَ، قُلُوبُهُمْ قَلْبٌ وَاحِدٌ" او نه به بغض او کينه سره ساتي، د دوی زړونه به داسې سره يو شی وي، لکه د يو کس زړه چې وي، "يُسَبِّحُونَ اللَّهَ بُكْرَةً وَعَشِيّاً" سهار او ماښام به د الله ﷻ پاکي بيانوي.

قوله: على خَلْقِ رَجُلٍ واحِدٍ، رواه بعضهم بفتح الخاء واسكان اللام: دا قول (على خَلْقِ رَجُلٍ واحِدٍ) دا روايت ځينو راويانو په فتح د (خ) او په سکون د د (ل) سره نقل کړی دی. **"وبعضهم بضمها وكلاهما صحيح"** او ځينو په دواړو باندې په ضمې (پيښ) سره روايت کړی دی، خو دواړه صحيح دي.

تشريح : **"أول زمرة يدخلون الجنة"** دلته وايي چې جنتيان کله جنت ته داخليږي، نو په کوم کوم شکل او صورت کې به داخليږي، خلاصه دا چې د اعمالو په اندازه به دوی ته ښکلا ورکول شي، ځينې به د ستورو په شان ښکلي وي، ځينې به د مياشتې په شان ښکلي وي، ددې برعکس د جهنميانو مخونه به تک تور وي.

مجامرهم الالوة عد الطيب: د دوی په انګيټو کې به خوشبوداره لرګي وي، په دنيا کې خو په انګيټو / نغري کې معمولي شيان سوځول کيږي، لکه کويله، لرګي وغيره ... ليکن په جنت کې به داسې لرګي سوځولی شي چې ډېر زيات قيمتي او خوشبوداره وي.

أزواجهم الحور العين: حور د حوراء جمع ده او حوراء هغې ښکلې او حسينې ښځې ته وايي چې د هغې د سترګو سپينوالی بيخي سپين وي او توروالی يې بيخي تک تور وي او (عين) غټو سترګو ته وايي.

سوال : اول خو د ۷۲ حورو ذکر وو چې جنتيانو ته به ملاويږي او دلته د دوه حورو ذکر دی، ددې دواړو روايتونو ترمنځ ولې تضاد دی؟

جواب: په حديث کې د جنتي ښځو شمار نه دی بيان شوی، بلکې دلته صرف دا بيانيږي چې د جنتيانو په ښځو (حورو) کې به ځينې داسې وي چې که هغوی ځمکې ته خپل مخ راښکاره کړي، نو ځمکه او اسمان به ټول روښانه شي او د هغې لوپټه / پروني/ څادر د دنيا او ما فيها څخه غوره دی.

تر ټولو اخري جنتي

"وعن المغيرة بن شعبة رضي الله عنه عن رسول الله ﷺ قال: سَأَلَ مُوسَى عليه السلام رَبَّهُ: مَا أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً؟" د مغيرة بن شعبة رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : موسی عليه السلام چې د الله جل جلاله څخه پوښتنه وکړه چې په جنتيانو کې به تر ټولو کمې درجې والا جنتي څنګه وي؟ "قال: هُوَ رَجُلٌ يَجِيءُ بَعْدَ مَا أُدْخِلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، فَيُقَالُ لَهُ: ادْخُلِ الْجَنَّةَ" نو الله جل جلاله جواب ورکړو چې دا به هغه کس وي چې به ټولو کې به اخري کس وي، ټول جنتيان به جنت ته تللي وي، هغه ته به الله جل جلاله ووايي چې ځه جنت ته لاړ شه؛ "فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ، كَيْفَ وَقَدْ نَزَلَ النَّاسُ مَنَازِلَهُمْ، وَأَخَذُوا أَخَذَاتِهِمْ؟" هغه کس به ووايي : اې الله! زه څرنګه جنت ته داخل شم، ټول خلک خو زما څخه وړاندې تللي دي او په خپلو ځايونو باندې قابض دي؟ "فَيُقَالُ لَهُ: أَتَرْضَى أَنْ يَكُونَ لَكَ مِثْلُ مُلْكِ مَلِكٍ مِنْ مُلُوكِ الدُّنْيَا؟ فَيَقُولُ: رَضِيتُ رَبِّ، فَيَقُولُ: لَكَ ذَلِكَ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ" هغه ته به وويل شي . ايا ته په دې راضي يې چې تاته د دنيا د بادشاه په شان بادشاهي درکړل شي؟ هغه به ووايي : اې الله! زه به دې راضي يم، الله جل جلاله به ورته ووايي . دا هم ستا شو او ددې په مثل نور او ددې به مثل نور

او ددې په مثل نور او ددې په مثل نور هم، "فَيَقُولُ فِى الخَامِسَةِ. رَضِيتُ رَبِّ" په پنځم ځل به انسان ووايي: اې الله زه راضي يم، "فَيَقُولُ: هٰذَا لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ، وَلَكَ مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ، وَلَذَّتْ عَيْنُكَ. فَيَقُولُ: رَضِيتُ رَبِّ" الله ﷻ به ورته ووايي: دا هم ستا شو او ددې په مثل لس ځله نور هم ستا شو او تاته په دې جنت کې شته څه چې ستا زړه غواړي، د سترګو يخوالی، انسان به ووايي: اې الله زه راضي يم! "قَالَ: رَبِّ فَأَعْلَاهُمْ مَنْزِلَةً؟ قَالَ: أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَرَدْتُ، غَرَسْتُ كَرَامَتَهُمْ بِيَدِي" موسی علیه السلام وويل: نو د اعلی درجې والا جنتي به څه حال وي؟ الله ﷻ ورته وويل: دا هغه خلك دي چې زما مراد دي، دوی ته به په جنت کې ونې او بوټي ما په خپل لاس لګولي وي، "وَخَتَمْتُ عَلَيْهَا، فَلَمْ تَرَ عَيْنٌ، وَلَمْ تَسْمَعْ أُذُنٌ، وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ" په هغې مې مهر لګولی دی، بس هغه نه چا په سترګو ليدلي دي، نه چا په غوږونو اورېدلي دي او نه د چا په زړه کې د هغې تصور راغلی دی. رواه مسلم

تشريح: سل موسى علیه السلام: دلته هغه موسی علیه السلام مراد دی چې د الله ﷻ سره يې خبرې کړي دي: "وكلم الله موسى تكليماً" او خبرې وکړې الله ﷻ د موسی علیه السلام سره په خيرو کولو سره.

بيدي: دلته د الله ﷻ لاس ذکر دی، حال دا چې الله ﷻ د لاسونو څخه پاك دی؟ جواب دا دی چې د الله ﷻ لاسونه څرنګه دي؟ ددې حقيقت معلوم نه دی، په دې باندې ايمان راوړل واجب دي، موږ ايمان لرو چې الله ﷻ لره يد (لاس) شته، خو حقيقت يې الله ﷻ ته معلوم دی، بس موږ پرې ايمان لرو، ځکه چې د (يد، وجه او ساق) ذکر په قرآن کريم کې راغلی دی، موږ وايو چې "نؤمن كما جاءنا" يا دا چې د لاس نه مراد قدرت دی.

فيقول رضيت ربي: اې الله! زه راضي يم، دا به ادنی درجې والا جنتي وي چې معلومه نه ده څومره وخت به په جهنم کې وي او بيا به راوځي، کوم کس چې په اول ځل جنت ته ځي د هغې خو تصور هم محال دی، نو ځکه خو الله ﷻ د دوی په باره کې صرف دومره ويلي دي چې دوی ته ما هغه څه تيار کړي دي چې نه چا په سترګو ليدلي دي، نه چا په غوږونو اورېدلي دي او نه د چا په زړه کې ددې تصور او خيال هم راغلی دی.

په اخر کې جنت ته تلونکی انسان

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: انى لأعلم آخر أهل النار خروجاً منها، وآخر أهل الجنة دخولاً الجنة" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه هغه کس پېژنم چې د تولو څخه به په اخر کې د جهنم نه راوځي او د ټولو نه به اخر کې جنت ته داخليږي، "رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ حَبْوًا فَيَقُولُ اللهُ ﷻ لَهُ: اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ، فَيَأْتِيهَا، فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهَا مَلْأَى، فَيَرْجِعُ، فَيَقُولُ: يَارَبِّ وَجَدْتُهَا مَلْأَى!" دا به هغه کس وي چې په خېږو به د جنت نه راوځي، الله ﷻ به ورته ووايي: لاړ شه جنت ته داخل شه! هغه به راشي، نو د هغه په خيال کې به راشي چې جنت خو ډك دی، نو دی به بيا الله ﷻ ته سوال وکړي چې اې الله! جنت خو ډك دی! "فَيَقُولُ اللهُ ﷻ لَهُ: اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ، فَيَأْتِيهَا، فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهَا مَلْأَى، فَيَرْجِعُ. فَيَقُولُ: يَارَبِّ

وَجَدْتُهَا مَلأَى، فَيَقُولُ اللهُ ﷻ لَهُ: اذهبْ فَادخلِ الجَنَّةَ. فإنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وعَشرَةَ أمْثَالِهَا، أوْإنَّ لَكَ مِثْلَ عَشَرَةِ أمْثَالِ الدُّنْيَا" الله ﷻ به ورته ووايي: لاړ شه جنت ته داخل شه! هغه به راشي، نو د هغه په خيال کې به بيا داسې راشي چې جنت ډك دى، الله ﷻ ته به بيا واپس راشي او ورته به ووايي چې اې ربه! جنت خو ډك دى، الله ﷻ به ورته وفرمايي چې لاړ شه جنت ته داخل شه! ستا لپاره دومره جنت دى لکه دنيا او بيا ددې دنيا په لس برابره جنت دى او يا يې داسې وفرمايل: ستا لپاره د دنيا په مثل لس چنده جنت دى، "فَيَقُولُ: أتَسْخَرُ بِي، أوْتَضْحَكُ بِي وَأنْتَ المَلِكُ" هغه بنده به ووايي: اې الله! تاسو په ما پورې ټوقې کوئ او يا يې داسې وفرمايل: په ما پورې خندا کوئ او تاسو خو بادشاه ذات يئ! "قال: فَلَقَدْ رَأيْتُ رسولَ اللهِ ﷺ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ فَكَانَ يقولُ: ذلِكَ أدْنَى أهْلِ الجَنَّةِ مَنْزِلَةً" راوي وايي: ما رسول الله ﷺ وليدلو چې دومره يې وخندل چې د هغه نواجذ غاښونه ښکاره شول بيا به رسول الله ﷺ وفرمايل: دا د ټولو نه ادنى درجه جنتي دى. متفق عليه

تشريح: په حديث کې د هغه جنتي ذکر دى چې په ټولو کې به آخري جنتي وي، "فيقول: أتسخرني؟" هغه به ووايي: اې الله! ته زما سره ټوقې کوې؟ کله چې الله ﷻ هغه ته ووايي: جنت ته لاړ شه! کوم چې د نړۍ څخه لس چنده زيات غټ دى، په دې خبره به هغه انسان ووايي: اې الله! ته زما سره ټوقې کوې، دا جمله به دده د خولې نه بې اختياره او د ډېرې خوشحالۍ څخه ووځي، لکه په يو روايت کې دي چې د يو کس نه په دشت کې اوښ ورك شي، په کوم چې دده سامان پروت وي او بيا به ورته ملاو شي، نو هغه به د ډېرې خوشحالۍ څخه ووايي چې اې الله! ته مې بنده يې او زه دې رب يم، دا جمله يې د ډېرې خوشحالۍ او بې اختياره د خولې نه ووځي.

رأيت رسول اللــه ﷺ ضحك حتى بدت نواجذه: رسول الله ﷺ په دې خبره دومره وخندل چې د هغه نواجذ غاښونه هم ښکاره شول، د رسول الله ﷺ عام عادت دا وو چې اکثره به يې په خبره مسکا کول، ليکن دلته يو ادنى جنتي ته چې دومره انعامات ورکوي، نو په دې خبره رسول الله ﷺ بې اختياره دومره وخندل چې نواجذ غاښونه يې وليدل شول.

د جنتي خيمې اوږد والى شپېته ميله دى

وعن أبي موسى ﷺ: أنَّ النبيَّ ﷺ قال: إنَّ لِلْمُؤْمِنِ فِي الجَنَّةِ لَخَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ وَاحِدَةٍ مُجَوَّفَةٍ طُولُهَا في السَّمَاءِ سِتُّونَ مِيلاً" د أبو موسى اشعري ﷺ څخه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کې به د مؤمن لپاره يوه خيمه وي او هغه به د ملغلرو څخه جوړه وي چې مينځ به يې خالي وي، د هغې اوږد والى به شپېته ميله وي، "لِلْمُؤْمِنِ فِيهَا أهْلُونَ يَطُوفُ عَلَيْهِمُ المُؤْمِنُ فَلا يَرَى بَعْضُهُمْ بَعْضاً" په دې کې به د مسلمان لپاره خپلې ميرمنې وي، په دې ټولو به چکر لګوي، ليکن ميرمنې به په خپل مينځ کې د يو بل سره نه ويني. متفق عليه

لغوي تحقيق : (المِيلُ: سِتةآلافِ ذِراعٍ) ميل شپږ زره ګزه وي

تشريح : لؤلؤة واحدة مجوفة: خيمه به د ملغلرې نه جوړه وي چې مينځ به يې خالي وي، الله ﷻ جنت په ډېرو لويو تخليقاتو سره جوړ کړی دی چې په دنيا کې ددې تصور هم محال دی، "طولها ستون ميلاً" د هغې اوږدوالی شپېته ميله دی، په ځينو رواياتو کې ددې برعکس اوږدوالی بيان شوی دی، اصلاً د جنت فراخوالي او زيات بيانول مقصود دي، "أهلون" ددې نه مراد جنتي ښځې (حورې) دي، "يطوف عليهم المومن" مؤمن انسان به هغې ته د کوروالي لپاره ورځي.

د جنت ونه

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ، عن النبيّ ﷺ، قال: إنَّ في الجَنَّةِ شَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ الجَوادَ المُضَمَّرَ السَّرِيعَ مِئَةَ سَنَةٍ مَا يَقْطَعُهَا" د أبو سعيد خدري ﷺ روايت دی، فرمايي چې په جنت کې يوه ونه ده، که چېرته يو ځوان په اس باندې سپور شي او هغه د سلو کالو په اندازه منډه وکړي، نو بيا به هم ددې سوری ختم نه شي متفق عليه

ورواه في الصحيحين أيضاً من رواية أبي هريرة ﷺ قال: يَسيرُ الرَّاكِبُ في ظِلِّهَا مِئَةَ سَنَةٍ مَا يَقْطَعُهَا، او د هغه شان په صحيحنو کې د أبی هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې که چېرته يو سورسړی سل کالاد هغې ونې لاندې منډاووانبې نو بيا به هم د هغې سورې ختم نه کړلې شي).

لغوي تحقيق: الجواد: ښه طاقتوره او چاغه اسپه.

تشريح: الجواد المضمر السريع: تضمير شده هغه اسپو ته ويل کېږي چې ښه خوراك ورکړل شي، کله چې ښه چاغ شي، بيا د هغه خوراك په مزه مزه کم کړل شي، کله چې يې وزن ښه کم شي بيا دغسې اسپې ښې طاقتورې او په منډه کې تېزې وي

ظلهامائةسنةمايقطعها: که پوره سل کاله دغه اسپه ددې ونې د سورې لاندې منډه ووهي، نو بيا به يې هم سوری ختم نه کړي، د ونې ځانګې ترې مراد دي، اصلاً په حديث کې د جنت د ونو اوږدوالی او پلنوالی بيانول مقصود دی او د هغې وسعت ته اشاره ده.

په جنت کې د طوبى ونې ذکر

په حديث کې چې د کومې ونې ذکر دی هغې ته (شجرة طوبى) ويلی شي، په يو روايت کې دي چې يو کس د حوض کوثر او جنت د ونو او عهد په باره کې د رسول الله ﷺ ځخه پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : په جنت کې يوه ونه ده چې هغې ته طوبى ويلی شي، رسول الله ﷺ

ددې ونې تشبيه د دنيا د ونې جوزه سره وركړه، صحابي پوښتنه وكړه چې د هغې څانګې به څومره غټې وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغې مسافت به دومره وي چې كه يو مارغه مسلسل يوه مياشت والوځي او په مينځ كې دمه ونه كړي، ددې يوې مياشتې په مقدار به يې مسافت وي، صحابي بيا پوښتنه وكړه چې د هغې جرړې به څومره وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: كه ستا د كور كوم ځوان مسلسل اوښ روان كړي. نو د هغې د جرړو احاطه به نه شي كولى تردې چې هغه اوښ به زوړ شي، دغه شان هغه صحابي د انګورو وغيره باره كې هم پوښتنه وكړه.

د جنتيانو درجې

"وعنه، عن النبي ﷺ قال: إن أهل الجنة ليتراءون أهل الغرف من فوقهم كما تراءون الكوكب الدري الغابر في الأفق من المشرق أو المغرب" د أبو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل جنتيان به په جنت كې د ماڼيو څښتنان داسې ويني لكه تاسو چې په اسمان كې په مشرق كې يا په مغرب كې ځليدونكي ستورې وينئ، "لتفاضل ما بينهم" ځكه چې د دوى په منځ كې به د فضيلت په اعتبار سره فرق وي، "قالوا: يا رسول الله، تلك منازل الأنبياء لا يبلغها غيرهم" يو صحابي رضي الله عنه پوښتنه وكړه: اې د الله تعالى رسوله! دغه منزلونه به د انبياء عليهم السلام وي چې دوى نه به بل څوك نه شي رسېدلى؟ "قال: بلى والذي نفسي بيده، رجال آمنوا بالله وصدقوا المرسلين" رسول الله ﷺ وفرمايل: هو! ولې نه! زما دې په هغه ذات قسم وي چې دې ته به هغه خلك هم داخليږي چې په الله جل جلاله يې ايمان راوړى او د پيغمبرانو عليهم السلام تصديق يې كړى دى. متفق عليه

تشريح: محدثين فرمايي: په دې حديث كې د جنتيانو په مينځ كې فرق او مرتبې ته اشاره ده، ځينې جنتيان به په اعلى درجو كې وي او ځينې مينځنۍ درجې والا او ځينې به يې ادنى درجې والا دي، "رجال آمنوا بالله وصدقوا المرسلين" دا هغه خلك دي چې په الله جل جلاله يې ايمان راوړو او د هغه د پيغمبرانو تصديق يې وكړو، مطلب دا چې څوك په الله جل جلاله ايمان راوړي او د هغه په پيغمبرانو ايمان راوړي، نو داسې مؤمن انسان مسلمان دى، ځكه چې هغه د الله جل جلاله په حكمونو او د رسول الله ﷺ په طريقو باندې عمل كوي او د خپلو نفساني خواهشاتو څخه ځان ساتي.

د جنت يوه ټوټه د دنيا او ما فيها څخه غوره ده

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ قال: لقاب قوس في الجنة خير مما تطلع عليه الشمس أو تغرب" د أبو هريره رضي الله عنه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت كې د يوې لينډۍ په اندازه ځاى ددې څخه بهتر دى په كوم ځاى چې لمر راخيژي، (يعنې دغه د لينډۍ په اندازه ځاى

د دنيا او ما فيها څخه غوره دي. متفق عليه

تشريح: لقابُ قوسٍ في الجنة خيرٌ مما تطلع عليه الشمس: په جنت کې د يوې لينډې په اندازه ځای د ټولو هغو شيانو څخه غوره دی په کومو شيانو چې لمر راخيژي يا ډوبيږي، ددې څخه مراد ټوله دنيا ده، څکه چې لمر په دنيا باندې راخيژي او ډوبيږي، "أوتغرب" راوي ته شك دی چې رسول الله ﷺ طلوع لفظ استعمال کړو او که د غروب لفظ، ځيني وايي: دلته لفظ د (او) د تعجب د اظهار لپاره دی، ځيني نور بيا وايي چې لفظ د (او) په معنی د (و) سره دی، يعنې طلوع او غروب کيږي، ددې په مثل په يو بل روايت کې هم دي چې: "موضع سوط في الجنة خيرٌ من الدنيا وما فيها" په جنت کې د يوې کوړې برابر ځای ددې دنيا او څه چې په دې دنيا کې دي، ددې نه غوره او بهتر دی، يعنې په جنت کې معمولي ځای د دنيا او مافيها نه غوره دی، څکه چې دنيا او څه چې په دې کې دي دا ټول فنا، کېدونکي دي او آخرت او څه چې په هغې کې دي ټول باقي پاتې کېدونکي دي.

د جنت بازار

"وعن أنس رضي الله عنه: أنّ رسول اللّـه ﷺ قال: إنّ في الجنّة سوقاً يأتونها كلّ جمعة، فتهبّ ريح الشّمال، فتحثو في وجوههم وثيابهم، فيزدادون حسناً وجمالاً" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کې يو بازار دی چې هره جمعه به ورته جنتيان راځي، په دوی باندې به شمالي هوا لګيږي، دغه هوا به د دوی په مخونو او جامو باندې تيريږي، په دې سره به د دوی حسن او جمال نور هم زيات شي، "فيرجعون إلى أهليهم، وقد ازدادوا حسناً وجمالاً" خپلې کورنۍ ته به راشي او د دوی ښايست به نور هم زيات شوی وي، "فيقول لهم أهلوهم: واللّـه لقد ازددتم حسناً وجمالاً! فيقولون: وأنتم واللّـه لقد ازددتم بعدنا حسناً وجمالاً!" دوی ته به د خپلې کورنۍ خلك ووايي چې قسم په الله جل جلاله! ستاسو ښايست خو نور هم زيات شوی دی، دوی به هم خپلې کورنۍ ته ووايي چې زموږ د تللو نه پس قسم په الله جل جلاله! ستاسو ښايست هم زيات شوی دی. رواه مسلم

تشريح: إن في الجنة سوقاً: په جنت کې به يو بازار وي چې هلته به خلك جمع کيږي، هلته به ډول ډول ښکلي او ښايسته د خوند او مزې شيان وي، جنتي چې څه غواړي هغه به اخلي او بل دا چې د هغو شيانو قيمت به هم نه وي.

كل جمعة: د هرې جمعې په ورځ: "فتهب ريح الشمال" د شمال له طرفه به هوا چليږي، کومه هوا چې د شمال څخه وي عمومي طور په هغې کې باران هم کيږي، ددې هوا څخه عامه هوا مراد ده، انسان چې قبلې طرفته ودريږي، نو ښي طرف ته چې کومه هوا راځي دې ته شمالي هوا وايي، "لقد ازددتم حسناً"

جنتيان چې كله د دې بازار څخه خپلو ځايونو ته راشي، نو د دوی حسن به نور هم زيات شوی وي، د دوی د حسن او جمال عكس به د دوی په كورنی باندې ولګيږي، دوی ته به ووايي: ستاسو ښكلا خو ډېره زياته شوې ده.

د جنت په بازارونو كې به ښځې نه وي:

علماء فرمايي: په جنت كې به هم ښځې بازارونو ته نه ځي، صرف سړي به بازار ته ځي، دغه شان پكار دي چې په دنيا كې هم ښځې ډېرې بازارونو ته نه ځي، ځكه چې د دوی په باره كې الله ﷻ فرمايلي دي چې: "وقرن في بيوتكن" ښځې به په كورونو كې وي او د جاهليت د زمانې په شكل به نه ګرځي.

د جنت ماڼـــي

"وعن سهل بن سعد ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَيَتَرَاءَوْنَ الْغُرَفَ فِي الْجَنَّةِ" جنتيان به په جنت كې خپلې ماڼۍ داسې ويني، "كَمَا تَتَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ فِي السَّمَاءِ" لكه څرنګه چې تاسو په اسمان كې ستورې وينئ! متفق عليه

تشريح: په حديث كې د جنت مرتبې بيان شوې، په جنت كې به د جنتيانو مختلفې درجې وي، اعلى درجې والا خلك به لاندې درجې والا خلكو ته داسې ښكاري لكه په اسمان كې چې ستورې دي، په قرآن كريم كې الله ﷻ فرمايي: "هم درجات عند اللّـــه" جنتيانو ته د الله ﷻ په نزد خاصې درجې دي

د جنت خوندونه

"وعنه ﷺ، قَالَ: شَهِدْتُ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ مَجْلِساً وَصَفَ فِيهِ الْجَنَّةَ حَتَّى انْتَهَى، ثُمَّ قَالَ فِي آخِرِ حَدِيثِهِ: فِيهَا مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ" د سهل بن سعد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې زه يو ځل د رسول الله ﷺ سره په مجلس كې ناست وم، په دې كې يې د جنت صفتونه بيان كړل بيا يې په آخر كې وفرمايل: په دې جنت به هغه نعمتونه وي چې نه د چا سترګو ليدلي وي، "وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ" نه د چا غوږونو اورېدلي دي او نه د چا په زړه كې تېر شوي دي، "ثُمَّ قَرَأَ: تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ الى قوله تعالى: فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ" بيا نبي كريم ﷺ دا آيت تلاوت كړو چې د دوی ډډې لرې كيږي د بسترو نه ... تر دې قول د الله پورې چې يو نفس په دې خبره نه پوهيږي چې مونږ ورته كوم كوم نعمتونه او د سترګو يخوالی پټ ساتلی دی.

[السجدة: ١٦-١٧]. رواه البخاري

تشريح: په دې حديث كې رسول الله ﷺ د جنت د نعمتونو ذكر وفرمايلو او ورسره يې د تائيد

لپاره د قرآن کريم دغه آيت تلاوت کړو چې: (تتجافى جنوبهم عن المضاجع) ددې آيت مفهوم هغه دی چې په حديث کې د جنتيانو يو خاص صفت ذکر شو چې دوی د شپې له خوا د تهجدو لپاره پورته کيږيي او خپل ارخونه يې د بسترو څخه لرې ساتلي وي، په يو بل روايت کې دي چې الله ﷻ به د قيامت په ورځ ټول اولين او آخرين جمع کړي، بيا يو منادي اواز کونکی به اواز وکړي چې ټول خلك به يې واوري، اواز کونکی به ووايي: د محشر خلك به اوس پوه شي چې د الله ﷻ په نزد عزتمند خلك څوک دي؟ بيا به هغه اواز کونکی ووايي: هغه خلك دي ودريږي چې دا صفت يې وي: "تتجافى جنوبهم عن المضاجع" يعنې هغه خلک چې ارخونه يې د بسترو څخه لرې وي، په دې اواز سره به ځينې خلك ودريږي او بې حسابه به جنت ته داخل شي، بيا به د پاتې خلکو حساب شروع شي، رسول الله ﷺ بيا دغه آيت تلاوت کړو: "فلا تعلم نفس ما أخفي لهم من قرة أعين".

علماء فرمايي: رسول الله ﷺ چې کوم ذکر شوی آيت تلاوت کړو، ددې نه معلومه شوه چې احاديث د قرآن کريم شرح ده، دغه شان محققين علماء فرمايي چې د قرآن مفهوم او معنی د احاديثو څخه بغير معلومول مشکل دي، د قرآن کريم سره احاديث دواړه لازم او ملزوم دي

جنتيان به همېش روغ صحت والا وي

"وعن أبي سعيد وأبي هريرة رضي الله عنهما: أن رسول الله ﷺ قال: إذا دخل أهل الجنة الجنة ينادي مناد: إن لكم أن تحيوا، فلا تموتوا أبداً" د أبو سعيد خدري ؓ او أبو هريره ؓ نه روايت دی، دواړه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې جنتيان جنت ته داخل شي، نو يو اواز کونکی به اواز وکړي چې اې جنتيانو! تاسو به په دې جنت کې د همېش لپاره ژوندي يئ، کله به هم نه مرئ! "وإن لكم أن تصحوا، فلا تسقموا أبداً" او تاسو به په دې جنت کې روغ صحت والا يئ، کله به هم بيمار نه شئ، "وإن لكم أن تشبوا فلا تهرموا أبداً" او تاسو به په دې جنت کې د همېش لپاره ځوانان يئ، کله به هم بوډاګان نه شئ، "وإن لكم أن تنعموا، فلا تبأسوا أبداً" او تاسو به په دې جنت کې د همېش نعمتونه خورئ، کله به هم درباندې بند نه شي. رواه مسلم

تشريح: ان تحيوا فلا تموتوا أبداً: دلته به د همېش لپاره ژوندي ياست، کله به هم نه مرئ. که په دنيا کې انسان د څه وخت لپاره ژوندی وي، صحت يې روغ وي، مال او دولت ورسره وي، ليکن دا خطره ورسره وي چې معلومه نه ده، کله به ماته مرګ راځي او دغه شيان را نه پاتې کيږي، "وما تدري نفس بأى أرض تموت" انسان ته ددې هيڅ پته نشته چې کله او په کوم ځای کې به مري، بل ځای په قرآن کريم کې ارشاد دی: "لايذوقون فيها الموت الا الموتة الأولى" دوی به په جنت کې نه مري، مګر هغه مرګ چې دوی ته په دنيا کې راغلی وو.

أن تصحوا، فلا تسقموا أبداً: د همېش لپاره به روغ صحت والا يئ، کله به هم نه بيمار يږئ، په دنيا کې ددې خطره وي چې هسې نه بيمار شم يا خو ځينې پيدايشي بيمار وي، کله يې هم روغ صحت ليدلی نه وي، "وان لکم أن تشبوا فلا تهرموا أبداً" تاسو به د همېش لپاره ځوانان ياست، کله به هم نه بوډاګان کيږئ، په دنيا کې خو د همېش لپاره ځواني نه وي، په مزه مزه انسان ختميږي او بوډاتوب پرې راځي، غرض دا چې د دنيا يو نعمت دوامداره نه وي، ددې برعکس د جنت هر نعمت دوام لري، هلته د همېش لپاره ژوند دی مرګ نشته، صحت دی بيماري نشته، ځواني ده بوډاتوب نشته.

ادنی جنتي به اعلی درجې والا ته ګوري

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: إن أدنى مقعد أحدكم من الجنة أن يقول له: تمن" د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله جل جلاله به ادنی درجې والا جنتي ته وايي: غواړه چې څه دي زړه غواړي! "فيتمنى ويتمنى، فيقول له: هل تمنيت؟ فيقول: نعم" نو هغه به غواړي او بيا به وغواړي، الله جل جلاله به ورته ووايي: تا څه وغوښتل؟ هغه به ووايي: هو! ومي غوښتل، "فيقول له: فإن لك ما تمنيت ومثله معه" الله جل جلاله به ورته ووايي: څه چې دي وغوښتل هغه هم درکړل شول او ددې په مثل نور هم واخله! رواه مسلم

تشريح: د حديث څخه معلومه شوه چې په جنت کې اول ځل انسان ته کوم نعمتونه ملاو شي صرف دا به نه وي، بلکې په هغې کې به ورځ په ورځ اضافه کيږي، جنتيان چې د څه شي ارمان وکړي هغه به ورته ملاويږي، بل دا چې صرف ارماني شيان به ورته نه ملاويږي، بلکې ددې څخه زيات الله جل جلاله به ورته د خپل طرفه پکې اضافه کوي، علماء فرمايي: د جنتي انسان په زړه کې خپله ارمان نه راځي، بلکې الله جل جلاله به يې ورته په زړه کې اچوي، لکه په قرآن کريم کې چې ارشاد دی: "ولکم فيها ما تشتهي أنفسکم ولکم فيها ما تدعون".

په جنت کې به هر جنتي ته د الله جل جلاله رضا ملاويږي

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أن رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: إن الله عز وجل يقول لأهل الجنة: يا أهل الجنة، فيقولون: لبيك ربنا وسعديك، والخير في يديك، فيقول: هل رضيتم؟" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله جل جلاله به جنتيانو ته ووايي: اې جنتيانو! دوی به ورته ووايي: اې زمونږ ربه! مونږ حاضر يو، خوش بختي ستاسو په لاس کې ده او خير هم ستاسو په لاس کې دی، الله جل جلاله به ورته ووايي: ايا تاسو راضي يئ؟ "فيقولون: وما لنا لا نرضى يا ربنا وقد أعطيتنا ما لم تعط أحداً من خلقك" دوی به ووايي: اې الله! مونږ به څنګه نه راضي کېږو، حال دا چې تاسو مونږ ته هغه څه راکړي دي چې تاسو نورو خلکو

ته نه دي ور کړي، "فَيَقُولُ: أَلَا أُعْطِيكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ؟ فَيَقُولُونَ: وَأَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ ذٰلِكَ؟" الله ﷻ به ورته وفرمايي: ايا دديّ نه ډېر ښه څه درکړم؟ دوی به ووايي: اې الله! ددې نه به نور څه ښه وي؟ "فَيَقُولُ: أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَداً" الله ﷻ به ورته وفرمايي: د نن نه پس به زه ستاسو څخه راضي يم، ددې نه وروسته به کله هم ستاسو څخه ناراضه نه شم. متفق عليه

تشريح: فلا أسخط عليكم بعده أبداً: اوس به زه ستاسو نه راضي يم، کله به هم ستاسو څخه ناراضه نه شم، د الله ﷻ رضا د ټولو نعمتونو څخه ښه نعمت دی، د الله ﷻ ناراضي هم د ټولو بدبختيو څخه لويه بدبختي ده، د جنتيانو لپاره به ددې نه بل کوم لوی نعمت نه وي، دوی ته به دا زيری ورکړل شي چې زه ستاسو نه راضي يم او کله به هم درنه ناراضه نه شم، بهر حال د الله ﷻ رضا ډېر لوی سعادت دی چې په جنت کې به هر جنتي ته ملاوېږي، خپله د الله ﷻ ارشاد دی "ورضوانٌ من الله اكبر" د الله ﷻ رضا ډېر لوی نعمت او سعادت دی، "اللهم ارض عنا وارضنا" اې الله تعالی! زموږ څخه راضي شه او موږ ستا نه راضي کړه!

جنتيان به خپل رب ويني

"وعن جرير بن عبد الله ؓ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ" د جرير بن عبد الله ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه شپه موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چې رسول الله ﷺ په سپوږمۍ باندې نظر پرېوتلو، "وَقَالَ: إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ عِيَاناً كَمَا تَرَوْنَ هٰذَا الْقَمَرَ، لَا تُضَامُّونَ فِي رُؤْيَتِهِ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو به خپل رب داسې مخامخ وينئ لکه څرنګه چې تاسو اوس دغه سپوږمۍ وينئ چې ددې په کتلو کې يو بل ته ديکې نه ورکوئ! متفق عليه

تشريح: دا حديث وړاندې په (کتاب الفضائل باب صلوة الصبح والعصر) کې ذکر شوی دی، په حديث کې د الله ﷻ د ديدار (ليدلو) ذکر شوی دی، مسلمانان به د قيامت په ورځ د الله ﷻ ديدن کوي، په دې باندې د اهل حق اجماع ده، دا دومره ستر نعمت دی چې ددې په مقابل کې نور ټول نعمتونه هيڅ دي، دا خبره د قرآن کريم او متواترو احاديثو څخه ثابته ده، په فقه اکبر کتاب کې دي چې: "يراه المومنون وهم في الجنة بأعين رؤوسهم بلاتشبيه ولاكيفية ولاكمية ولايكون بينه وبين خلقه مسافة" مسلمانان به الله ﷻ په جنت کې په خپلو سترګو ويني، بغير د تشبيه نه او بغير د کميت نه، بغير د کيفيت نه، د الله ﷻ او د خلکو ترمنځ به هيڅ مسافت او لرې والی نه وي.

مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله د مشکوة په شرح کې د علامه ابن قيم رحمه الله قول نقل کړی دی، د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ؓ څخه دې باره کې متواتر احاديث نقل دي چې په جنت کې به

جنتيان خپل رب په خپلو سترګو ويني، دا خبره د ګڼ شمېر صحابه کرامو څخه ثابته ده، لکه: ابوبکر صديق رضي الله عنه، ابوهريره رضي الله عنه، ابوسعيد خدري رضي الله عنه، جرير بن عبد الله بجلي رضي الله عنه، صهيب بن سنان رومي رضي الله عنه، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه، علي رضي الله عنه بن ابي طالب، ابوموسى اشعري رضي الله عنه، عدي بن حاتم رضي الله عنه، انس بن مالک رضي الله عنه، بريده بن حصيب رضي الله عنه، ابو رزين عقيلي رضي الله عنه، جابر بن عبد الله رضي الله عنه، ابوامامه رضي الله عنه، زيد بن ثابت رضي الله عنه، عمار بن ياسر رضي الله عنه، ام المومنين عايشه رضي الله عنها، عبد الله بن عمر رضي الله عنهما، عماره بن زيبه رضي الله عنه، سلمان فارسي رضي الله عنه، حذيفه بن يمان رضي الله عنه، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما، عبد الله بن عمرو رضي الله عنه، ابي بن کعب رضي الله عنه، کعب بن عمير رضي الله عنه، فضاله بن عبيد رضي الله عنه، او يو بل نامعلوم صحابي رضي الله عنه څخه .... رضوان الله عليهم اجمعين.

الله جل جلاله به پردې ختمې کړي

"وعن صُهيب رضي الله عنه: أنّ رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: إذا دخل أهلُ الجنةِ الجنةَ يقولُ اللهُ تبارك وتعالى: تُريدُون شيئاً أزيدُكُم؟" د صهيب رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې جنتيان جنت ته داخل شي، نو الله جل جلاله به ورته وفرمايي: که تاسو د څه شي اراده لرئ چې در يې کړم؟ "فيقُولُون: ألم تُبيِّض وُجوهنا؟ ألم تُدخِلنا الجنةَ وتُنجِّنا من النّارِ؟ فيكشِفُ الحِجابَ" نو ټول به ورته ووايي: اې الله! ايا تا زمونږ مخونه سپين نه کړل او مونږ دې جنت ته داخل کړو او د جهنم څخه دې خلاص کړو، نور څه غواړو؟ دغه وخت به پردې لرې شي، "فما أعطوا شيئاً أحبّ إليهم من النّظرِ إلى ربِّهم" نو دوى ته چې څه ورکړى شوي وو، د هغې ټولو په مقابل کې به ورته د الله جل جلاله ليدل ډېر ښه لګېږي. رواه مسلم

تشريح: فيكشف الحجاب: پردې به پورته کړى شي، جنتيان به حيران شي چې اې الله! هغه به کوم نعمت وي چې تا مونږ ته نه دى راکړى، الله جل جلاله به پردې ختمې کړي، الله جل جلاله به دوى ته خپل ديدن ورکړي، کله چې دوى دا حالت وويني، نو ددې په مقابل کې چې کوم نعمتونه ورکړل شوي وو، هغه ټول به سپک وګڼي، د الله جل جلاله ديدن د الله جل جلاله له لوري ستر فضل او احسان دى چې په حقيقت کې انسان ددې مستحق نه دى، ليکن الله جل جلاله به يې په خپل فضل او کرم سره ورکړي.

د پردې پورته کولو مطلب

پردې به پورته کړي، ددې مطلب څه دى؟ اصل مسئله خو دا ده چې الله جل جلاله د پردو څخه پاک او منزه ذات دى، دا مطلب نه دى چې الله جل جلاله معاذ الله په پردو کې پټ دى، پردې به ترې پورته کړى شي او ښکاره به شي، الله جل جلاله محجوب ذات دى محجوب نه دى، الله جل جلاله مطلق غالب ذات دى نه دا چې زير حجاب دى، نو بيا د پردو پورته کولو مطلب څه دى؟ جواب دا دى چې د خلکو د سترګو نه به پردې لرې کړى شي او د دوى په سترګو کې به هغه طاقت واچول شي چې د هغې په واسطه به د خپل رب ديدن وکړي.

په ايمان باندې خاتمه او د جنت طمع

"قَالَ اللّٰـهُ تعالىٰ: إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُمْ بِإِيمَانِهِمْ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ" الله ﷻ فرمايي: بې شکه هغه کسان چې ايمان راوړي او نېک عمل وکړي، دوی ته به د دوی رب سيده لار وښيي، د دوی د ايمان په وجه به الله ﷻ دوی ته داسې باغونه ورکړي چې د هغې لاندې به نهرونه بهيږي، د جنت په نعمتونو کې به وي، "دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰـهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ" د دوی دعاګانې به هلته دا وي چې پاکي ده خدايه تا لره او د دوی سلام به يو بل ته دا وي چې (السلام عليکم) او اخري دعا به يې دا وي چې ټول صفتونه الله ﷻ لره دي چې د ټولې نړۍ پالونکی دی. [يونس:۹-۱۰].

تشريح: علامه نووي رحمه الله تر ټولو آخري باب د جنت راوړی دی، بيا يې په آخر کې پورتنی آيت راوړو، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې د مؤمنانو سره د الله ﷻ له لورې د جنت وعده ده، ليکن د ايمان نه پس نېک اعمال شرط دي، په دې باندې د جنت وعده ده، دلته مصنف رحمه الله حسن خاتمې ته هم اشاره کړې ده، يعنې موږ غواړو چې اې الله زموږ آخري خاتمه په ايمان وکړې، "إن الذين آمنوا وعملوا الصالحات يهديهم ربهم بإيمانهم" د ايمان او نيك عمل په برکت سرهبه دوی ته الله ﷻ جنت په برخه کړي، مجاهد رحمه الله فرمايي: مطلب دا چې په پل صراط به دوی ته د جنت لاره وښيي، د دوی سره به د ايمان رڼا وي چې ددې په واسطه به جنت ته داخل شي

"دعواهم فيها سبحانك اللهم" د جنتيانو دعاګانې به په جنت کې دغه شان وي "سبحانك الخ" يعنې جنت ته چې داخل شي، نو د الله ﷻ پاکي به بيانوي، ابن جرير رحمه الله فرمايي: جنتيانو ته چې د کوم شي ضرورت شي، نو هغوی به صرف يو ځل سبحان الله ووايي، هغه مطلوب شی به ورته سمدستي مخې ته پروت وي، "تحيتهم فيها سلام" د جنتيانو استقبال به په سلام سره کيږي، دا سلام به کله د الله ﷻ له لورې وي، لکه: "سلام قولاً من رب رحيم" او کله به د پرښتو له لورې وي، لکه: "وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ" {سورة الرعد: ۲۳} "په دنيا کې د سلام لفظ د دعا لپاره استعماليږي چې الله ﷻ دې د هر شر څخه محفوظ وساته، ليکن په جنت کې به د مبارکۍ او زيرې لپاره استعماليږي

"وآخر دعواهم أن الحمد لله رب العالمين" علامه آلوسي رحمه الله فرمايي: جنتيان چې کله په جنت کې سبحان الله ووايي، نو ددې په جواب کې به د الله ﷻ له لورې سلام راشي، جنتيان به دا جمله بيا ووايي چې: (الحمد لله رب العالمين)

آخريني دعا د درود شريف سره

﴿الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي هَدَانَا لِهٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللّٰهُ﴾ ټول تعريفونه هغه ذات لره دي چې مونږ ته
سيده لار ښي، مونږ ددې لائق نه وو چې مونږ خپله سيده لار موندلې واى، كه چيرته الله ﷻ مونږ ته
سيده لار نه واى ښودلې، ﴿اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ، وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ﴾ اې الله درود
او سلام ولېږه په محمد ﷺ باندې كوم چې ستا بنده او رسول دى، كوم چې نبي او امي دى او په آل د
باندې او په ازواج مطهراتو باندې او د هغوى په اولاد باندې، ﴿كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ﴾ لكه
څنګه چې تا درود ولېږلو په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې او په آل د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې، ﴿وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ
النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ، وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ، كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ فِي الْعَالَمِيْنَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ﴾ او اې الله بركت
رالېږې په محمد ﷺ باندې كوم چې نبي او امي دى او په آل د محمد ﷺ باندې او په ازواج مطهراتو
باندې او په اولاد د هغه ﷺ باندې، لكه څنګه چې تاسو بركت نازل كړى وو، په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې
او په آل د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې، بې شكه اې خدايه! ته بزرګ او د لويو صفتونو څښتن يې.

"قَالَ مُؤَلِّفُهٗ: فَرَغْتُ مِنْهُ يَوْمَ الْاِثْنَيْنِ رَابِعَ شَهْرِ رَمَضَانَ سَنَةَ سَبْعِيْنَ وَسِتِّ مِئَةٍ بِدِمَشْقَ" مؤلف (علامه نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ)
فرمايي: زه ددې كتاب څخه د دوشنبې په ورځ د رمضان مياشتې په څلورم تاريخ شپږ سوه اويايم كال
باندې په دمشق كې فارغ شوم.

تمت بالخير